ځلورم جلد

# حکمة الباریٔ

## د بخاري ترجمه او شرح

حکمتیار

څلورم جلد

# حکمة الباري

## د بخاري ترجمه او شرح

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: حکمة الباریٔ څلورم جلد

لیکوال: حکمتیار

لومړی طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱۹۰ افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

# حكمة البارئ

## د بخاري ترجمه او مختصر شرح

## څلورم جلد

حکمتيار

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## مقدمه

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَكَفَى وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۖ و بعد:

یقیناً چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حدیث لوستل، په هغه کې تحقیق، نورو ته ئې رسول او خپل عملي ژوند د رسول الله سنت مطابق عیارول؛ هغه ستر سعادت دئ چې په واقعي ارزښت ئې؛ یوازې د مؤمن زړه خاوندان پوهېدی شي.

زه او په دعوت او جهاد کې زما همسنګران؛ د الله تعالی د دې سترې پېرزوینې او خاص عنایت؛ د زړه له تل؛ مشکور او ممنون یو چې په تنکۍ ځوانۍ کې ئې موږ ته لومړی په دین د پوهېدا او په خپلې ټولنې کې د اسلام د بشپړ حاکمولو ژوندۍ او فعاله جذبه او عزم او بیا د الحاد، کمونیزم او شوروي اتحاد خلاف د فکري او عملي مبارزې او جهاد؛ توفیق او سعادت راپه برخه کړ؛ په دې سختې مبارزې او جهاد کې ئې موږ په سترې او تاریخي بریا ونازولو؛ شوروي له ماتې او زوال سره مخامخ شو او کمونیزم د تاریخ په هدیره کې دفن شو؛ همدا جهاد او په هغه کې ځلانده بریا؛ د دې باعث شوه چې خوبولې اسلامي امت راویښ شي، د جهاد هېره شوې فریضه احیاء شي، د امت ځوان نسل چې د دښمنانو تر سخت فکري او اخلاقي هجوم لاندې وو؛ اسلام ته مخه کړي، د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې هیلې د ټولو هغو متعهدو او دردمنو مؤمنانو په زړونو کې راوټوکېږي چې د اسلامي نړۍ دردناک وضعیت مأیوس کړي او هیلې ئې ورمړاوې کړې وې. زموږ او د هر افغان او حتی

د هر هغه خداپیال او آزادي غوښتونکي انتظار دا وو چي د شوروي له ماتي او زوال وروسته به په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس واقعي اسلامي نظام رامنځته شي او دا تاريخي تجربه به نورو هېوادونو کي هم تکرار شي؛ خو ځيني پټ او څرګند؛ کورني او بهرني عوامل د دې باعث شو چي دا هيله تر سره نه شي؛ ښايي په کورنيو عواملو کي ئې له يوې خوا له اسلام، قرآن او حديث؛ د افغانانو ژوره بې خبري او موږ ته په ميراث پاته خور او پراخ جهل او له بلي خوا د دښمنانو په توطئو کي د مرضي او غرضي ډلو سقوط وي؛ او بهرنی ستر عامل ئې هغه ګډه جبهه وي چي د امريکا او روسيې په مشرۍ او په سيمي کي د دوی له اقمارو هېوادونو، لاس پوڅو حکومتونو او ايمان پلورو او وطنپلورو افغاني ډلو رامنځته شوه؛ دا جبهه په دې موخه رامنځته شوه چي د شوروي نيمګړي جنګ ته تر هغه دوام ورکړي چي افغانان خلع سلاح شي او په افغانستان کي د اسلامي حکومت د جوړيدو امکانات له منځه ولاړ شي.

د مظلومو افغانانو او جنګ ځپلي افغانستان پرهارونه لا نه وو روغ شوي چي د نړۍ بل زبرځواك؛ امريکا او تر زعامت لاندي ئې ناټو؛ پر افغانستان بريد وکړ؛ څوك څه پوهېږي؛ ښايي الله تعالی دا اراده کړې وه چي امريکا هم؛ دلته د هغو مجاهدينو په لاس د شوروي په تور برخليك اخته او نړۍ د هغې له شر وژغورل شي چي مخکينی جهاد؛ له فکري او عملي پلوه د دوی له لوري پيل او بريا ته رسېدلی وو.

الحمد لله د ناټو په خلاف جهاد؛ په هري عرصې او ډګر کي؛ او په داسي حال او شرائطو کي چي له الله تعالی پرته مو؛ په ټولي نړۍ کي هيڅ حامي او مرستندوی نه درلود؛ د ايران او پاکستان په څېر ګاونډيانو مو هم له امريکا سره د افغانستان په اشغال کي مرسته وکړه او په سيمي او نړۍ کي د روسيې او چين په څېر د امريکا سيالانو هم د ناټو او امريکا ملا تړ کولو؛ هر يوه د اسلامي حکومت له جوړېدو سره خپل حساسيتونه او ستونزې درلودې؛ خو د دې ستري نړۍ والي جبهې له

ګواښونو او مخالفتونو سره سره؛ الله تعالی مؤمنو مجاهدینو ته د جهاد د پیل او دوام توفیق ورکړ؛ او د ناټو په شرمناکې ماتې سره هغه څه وشول چې هیچا ئې تصور نه شو کولی. د دې جهاد په پیل کې؛ له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰٤ پورې موږ یوازې وو، طالبان له داسې وضعیت سره مخامخ شول چې ډېر ژر؛ لومړی له شمال، بیا له کابل او ورپسې له کندهار ووتل؛ دا ټول په ۳۵ ورځو کې؛ څوك چې پاکستان ته ولاړل ډېری ئې د پرویز مشرف حکومت؛ امریکا ته وسپارل او څوك چې ایران ته ولاړل؛ د خاتمي حکومت دې ته ورته معامله ورسره وکړه؛ ډېر وخت ته ئې ضرورت وو چې د دې سریع او ناڅاپي تحول؛ له ذهني او عملي ستونزو او اغېز؛ ووځي او په جهاد کې برخي اخستو ته چمتو شي؛ د حزب اسلامي مجاهدین؛ چې د جنګ پراخه تجربه ئې درلوده؛ د الله تعالی په فضل او کرم؛ وتوانېدل چې د ناټو خلاف جهاد پیل کړي.

په فکري او تبلیغاتي میدان کې هم؛ دوی کافي تجربه درلوده او ډېر پوه او روزل شوي مستعد افراد؛ د امریکا د برید له پیل؛ بیا تر نن پوري؛ په تېرو ۲۳ کلونو کې؛ د حزب اسلامي له لیکوالانو؛ یوازي ما نژدې شپېته کتابونه ولیکل؛ د امریکا ضد اسلامي جهاد، بایبل د قرآن په رڼا کې، د قرآن تفسیر په ۸ جلدونو کې، حکمة الباریٔ د بخاري ژباړه او شرح ئې په ٤ جلدونو کې چې مزید کار لا پرې روان دیٔ؛ سلفي شم که مذهبي پاته شم په ۲ جلدونو کې؛ ساینس او د قرآن علمي اعجاز، دین او سیاست، د ملتونو د عروج او زوال عوامل... په دې کې شامل دي. د دې کتابونو نژدې لس ئې داسي دي چې په درسي ناستو کې تشریح شوي، هر کتاب؛ له ۱۵ تر ٤۰ درسي حلقو کې تشریح شوی، د بریا تلویزیون نشر کړي او بیا چاپ او توزیع شوي؛ الله تعالی دې ټولو ورونو او خوېندو ته اجر ورکړي چې په دې درسي ناستو کې ئې شرکت کړی او د دې کتابونو په تصحیح، چاپ او توزیع کې ئې برخه درلوده.

دا دیٔ د حکمة الباریٔ څلورم جلد هم بشپړ شو، د بریا تلویزیون

ئې ټولي درسي حلقې نشر کړې او د چاپ لپاره تيار شوی. حكمة البارئ د صحيح بخاري پښتو ژباړه او شرح ده؛ له ډېرو سره به دا پوښتنه راولاړېږي چي ما ولي په داسي حال کي د دې کتاب د ليکلو لړۍ پيل کړه چي د امريکايانو تر سخت تعقيب لاندي وم؛ زما پر سر ئې جائزې ټاکلې وې، له ډرون لومړی راکټي بريد پر ما شوی، له جهازونو به ئې زما د نيولو، وژلو او آدرس ښودلو په بدل کي د مليونونو ډالرو جائزو تر لاسه کولو اعلامېې ښندلې؛ خو ما په همداسي حالت کي د دې کتابونو ليکلو ته ملا وتړله؛ دا ولي؟

بايد ووايم چي ما صحيح بخاری؛ په حديث د پوهېدو او په هغه کي د ژور تحقيق لپاره غوره کړ؛ د تفسير په دوهم جلد کي دا احساس راسره پيدا شو چي له حديث پرته به زما تفسير؛ نيمگړی او ناقص وي؛ او صحيح بخاري مي له دې کبله د تحقيق لپاره غوره کړ چي ډېر زيات او مکرر مي اورېدلي وو چي صحيح بخاری؛ د الله تعالی له کتاب (قرآن) وروسته؛ تر ټولو کتابونو زيات صحيح کتاب دئ؛ دا تبليغات مي تر نورو زيات؛ له هغو اورېدل چي ځان ته اهل حديث وايي؛ خو په عمل کي مي دوی داسي موندلي چي د حديث له ټولو کتابونو يوازي بخاري مني؛ او هغه هم داسي چي د بخاري ضعيف روايت ته د نورو کتابونو تر صحيح حديث ترجيح ورکوي؛ او حتی هغه روايات ئې هم ترې غوره او ارجح گڼي چي د سند له پلوه مطلق غريب دي او د متن له پلوه داسي چي په قرآن کي هيڅ شاهد ورته نه مومي؛ که څه هم دا راته ډېره بعيده معلومېده چي ټول اسلامي امت او علماء ئې؛ له قرآن پرته؛ د بل کتاب په بشپړ صحت اجماع کړې وي؛ په امت کي موجود پراخ اختلافات؛ هغه هم شديد مذهبي اختلافات؛ د دې ادعاء پر عدم صحت شهادت ورکولو؛ خو گمان مي نه کولو او په خيال کي مي هم نه گرځېده چي يو مؤمن انسان؛ په عباء او قباء ملبس؛ د مذهبي تعصب له مخي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث د کوم کتاب په اړه؛ مبالغه وکړي او

دروغ ووايي!! ما د بخاري په اړه همدا ستايني اورېدلې او منلې وې؛ او له همدې امله مي د دقيقي مطالعې او تحقيق لپاره همدا كتاب انتخاب كړ؛ غوښتل مي تر ټولو زيات صحيح كتاب غوره كړم؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث له سم او ښه درك او زده كړې پرته مي بله موخه او هدف نه درلود؛ ما قرآن او حديث؛ نه د كوم سند تر لاسه كولو لپاره لوستلي او نه د امامت او قضاء منصب تر لاسه كولو په پار؛ لومړی د خپلي عقيدې او ايمان په حكم او له خپل دين د دفاع لپاره مبارزې ته اړ شوی يم؛ او بيا مي د همدې مبارزې په بهير كې د قرآن او حديث په لارښوونو د ښه پوهېدا لپاره ملا تړلې؛ د قرآن حفظ مي په زندان كې پيل كړی؛ الحمد لله دوه ثلثه مي حفظ كړی؛ تفسير لوستل مي په زندان كې پيل كړ؛ او د امريكا په خلاف جهاد په دوران كې مي په اتو جلدونو كې د قرآن پلوشې تفسير وليكلو؛ اوس په دې پوه شوی يم چي د قرآن د فهم او په اسرارو او رموزو ئې د پوهېدا دړه د هغه چا په وړاندې پرانيستل كېږي او په سمه توگه پرې پوهېدی شي چي د حقيقت په لټه كې؛ له شفاف ذهن سره هغه ته رجوع وكړي؛ نه هغه چا ته چي د سند تر لاسه كولو لپاره مدرسې ته درومي او د رزق او روزي وسيله ترې جوړوي؛ همغسي چي قرآن فرمايي:

ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴿٢﴾ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ﴿٣﴾ البقرة

دا همغه كتاب دئ، شك په كې نه شته، د متقيانو لپاره لارښود. هغه چي په غيب ايمان لري، لمونځ اقامه كوي او له هغه څه چي موږ وررروزي كړي انفاق كوي.

هو؛ دا كتاب گام په گام قربانۍ ته بلنه وركوي، هغه څوك ئې منلی شي چي قربانۍ ته چمتو وي، طماع، حريص او بخيل نه وي، له دين د روزي تر لاسه كولو وسيله نه جوړوي؛ بلكي خپل سر او مال د الله تعالى

په لار کې قرباني کوي؛ دې ته تيار وي چې خپل هر څه؛ وخت، مال او ځان؛ د الله په لار کې او د قرآن د پلي کولو؛ د سپېڅلو او مقدسو آرمانونو او اهدافو د تحقق لپاره وقف کړي. ما عملاً او د مبارزې په لوړو ژورو کې وليدل چې د الهي دين د پلي کولو په ورانديې تر ټولو ستر خنډ؛ هغه وو چې له دين ئې دام او دکان جوړ کړی؛ همغسې چې قرآن فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ .... ﴿٣٤﴾ التوبة

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لارې مخنيوی کوي...

همدا راز ما د حکمة البارئ لومړی جلد؛ په همدې موده کې ليکلی؛ تر دې وړاندې چې بخارې د دقيق لوستلو او شرحې لپاره انتخاب کړم؛ د صحاح سته هغه نوې نسخې مې په سطحي او سريع توګه له نظره تېرې کړې چې مرحوم الباني پرې تحقيق کړی؛ صحيح او ضعيف ئې په نښه کړي او په سعودي کې چاپ شوې؛ مشکوة مې هم لوستلی وو. په حديث کې د تحقيق ضرورت مې هغه مهال احساس کړ چې د تفسير کار مې دوهم جلد ته رسولی وو؛ په تفاسيرو کې له داسې رواياتو سره مخ شوم چې هم له قرآن سره متعارض وو او هم په خپلو منځونو کې؛ له دې پرته مې بله چاره ونه موندله چې لومړی بايد په حديث کې تحقيق وکړم او بيا د تفسير کار ته ادامه ورکړم.

په بخارې کې مې تحقيق پيل کړ؛ د الشامله هغه جامع او ډېره ګټوره مجموعه مې په واك او په کمپيوټر کې راسره وه چې د تفسير، قرآني علومو، حديث، فقه، تاريخ، صرف او نحو، او نورو علومو په زرګونو مهم کتابونه ئې راغونډ کړي؛ په څو ثانيو کې د هرې موضوع اړوند آيت، حديث، د فقهاءو او علماءو رأی؛ د تحقيق کوونکي او پلټونکي مخې ته ږدي؛ د کتاب نوم مې حکمة البارئ کښېښود؛ لومړی جلد مې په نژدې

۹ میاشتو کې بشپړ کړ؛ همدا راز د تفسیر په دوران کې؛ له دې ستونزې سره مخ شوم چې ځینو درنو مفسرینو؛ په ډېرو مواردو کې د اهل کتاب پر مذهبي کتابونو حوالې ورکړې او استناد ئې پرې کړی؛ دغو استنادونو او حوالو دې ته اړ کړم چې په بایبل کې تحقیق وکړم؛ نژدې همدومره میاشتې په دې تحقیق مصروف شوم؛ وتوانېدم (بایبل د قرآن په رڼا کې)؛ ضخیم کتاب؛ نژدې ۹۰۰ صفحو کې ولیکم؛ په بایبل کې تحقیق؛ راته جوته کړه او په دې حقیقت ئې پوه کړم چې قرآن په اکثرو مواردو کې د بایبل ناسمې او غلطې ادعاء ګانې تردید کړې دي؛ داسې موارد به ونه ګورئ چې د بایبل د ادعاء ګانو د تصدیق او تأیید په معنی وي؛ او په بخاري کې له تحقیق وروسته او د حدیث په نورو کتابونو کې د بخاري د هر روایت لټون او مقایسې؛ څو مطالب راته عجیب او زما له انتظار او تصور آخوا وو:

- ما د بخاري د شارحینو په کتابونو کې دا ولیدل چې ځینو صحیح بخاري ډېر ستایلی او هغه ئې د الله تعالی له کتاب وروسته تر ټولو زیات صحیح کتاب ګڼلی؛ خو نه مې په دې اړه د محدثینو اجماع تر سترګو شوه او نه د امت اجماع؛ داسې محدث مې ونه موندو چې د حدیث بېل کتاب ئې لیکلی وي او بخاري ئې په همدې نامه ستایلی وي؛ نور محدثین خو پرېږدئ؛ حتی د امام بخاري شاګرد او نژدې ملګری؛ امام مسلم هم د بخاري یوازې په ۱۵۱۹ روایاتو کې ورسره موافق دئ؛ چې متفق علیه (بخاری او مسلم پرې متفق)؛ نومول شوي؛ او په پاته نژدې ۶۰۰۰ روایاتو کې؛ د سند یا متن له پلوه ورسره موافق نه دئ؛ له همدې کبله ئې د (صحیح مسلم) په نامه بېل کتاب لیکلی؛ ما نه د امام بخاري په همدوره محدثینو کې چې بېل کتاب ئې لیکلی؛ داسې محدث وموندو چې صحیح بخاري ئې د اصح کتاب په نامه ستایلی وي او نه تر ده وروسته محدثینو کې!!
- اما دا ادعاء چې ټول امت د بخاري په صحت اجماع کړې؛ د حیرت

وړ ده؛ دا نن د امت وضعيت عملاً داسي دئ چي د اهل سنت و جماعت په مذاهبو کي ۹۰ سلنه عملاً د دې ادعاء خلاف مومو؛ که پاته مذاهب او اهل تشيع هم ورسره وګڼو نو دا عدم اجماع؛ له ۹٦% اوړي!! د خليج له څو شتمنو هېوادو پرته؛ ټوله اسلامي نړۍ؛ له اندونيزيا، ماليزيا؛ هند، بنګله ديش، پاکستان، د مرکزي آسيا هېوادونه؛ له تاجکستان تر آذربايجان او قفقاز پوري؛ افغانستان، ترکيه، عراق، سوريه، مصر، ليبيا، مراکش، سودان او يمن پوري؛ يا ټول هستوګن ئې يا غوڅ اکثريت ئې؛ په ډېرو مواردو کي؛ د امام بخاري له رأی او ډېرو رواياتو سره موافق نه دي؛ او صحيح بخاري د الله تعالی له کتاب وروسته؛ اصح کتاب نه ګڼي؛ امام بخاري په نيشاپور کي د خپل استاد محمد بن يحيی الذهلی؛ له مخالفت سره مواجه شو؛ د اختلاف وجه ئې د قرآن د خلق په اړه د ده رأی وه؛ استاد ئې دا باور مردود او د قرآن او حديث خلاف ګڼلو چي څوك قرآن ته د مخلوق نسبت وکړي؛ د دې موضوع تفصيل؛ د (فتنه تکفير و انتحار ...) کتاب تر دې عنوان لاندي وګورئ (فتنه خلق و عدم خلق قرآن). له امام ذهلي سره د امام بخاري اختلاف باعث شو چي نيشاپور پرېږدي او خپل وطن بخارا ته ولاړ شي؛ هلته هم د خپلو وطنوالو له جدي مخالفت سره مخ شو؛ د بخارا اکثر خلك حنفی مذهب ول؛ د بخارا پرېښودو ته اړ او سمرقند ته ولاړ؛ او هملته وفات شو؛ رحمة الله عليه؛ له کوم سخت او پرېشان حالت سره چي دا مهال مخامخ وو؛ له دې دعاء ئې اټکل کولی شو چي وئې ويل: خدايه! زمکه سره له پراخي ئې راباندي تنګه شوې؛ ما خپل لوري ته دروبله.

که تاسو د دغو هېوادونو جوماتونو ته د لمانځه په وخت کي ننوځئ؛ د لمونځ کونکو د لمانځه ډېري برخي به د امام بخاري د رأی او د صحيح بخاري د رواياتو خلاف ومومئ؛ نه به په جهري لمونځونو کي په امام پسي د مقتديانو قرائت واورئ، نه آمين بالجهر (په لوړ غږ آمين)، نه د رکوع په تکبيراتو کي رفع اليدين (د لاسونو لوړول)، نه يو رکعت وتر، نه اته

رکعته تراويح او نه تر طاق رکعت وروسته لنډه ناسته وگورئ!! آيا ډېره عجيبه نه ده چي سره له دې پراخو اختلافاتو بيا هم څوك د بخاري په اړه د اجماع ادعاء کوي؟!

• ما په بخاري کې ډېر داسي روايات وليدل چي يو له بل سره متعارض دي؛ له سلگونو مثالونو ئې يو دا دئ چي له يوه بل ته د مرض سرايت شته که نه شته؛ په بخاري کې به دواړه روايات ومومئ؛ پرته له دې چي امام بخاري ويلي وي چي له دغو متعارضو رواياتو کوم يو ئې صحيح او د منلو وړ دئ!! د دې تفصيل؛ په ۲۰ باب: د رنځور اوښ اخستل کې وگورئ.

که همدا روايات د يوه داسي ډاکټر مخي ته راشي چي د حق دين په لټه کې دئ؛ په نړۍ کې د داسي ډاکټرانو شمېر هم ډېر زيات دئ او هره ورځ ئې شمېر زياتېږي؛ دوی د مطالعې په نتيجه کې نور اديان او مذاهب رد کړي؛ اسلام ته ئې مخه کړې؛ که هغه له کوم روايت څېلي دغه روايات واوري؛ او تر منځ ئې دا تعارضات؛ او له همدې کبله له ځان سره ووايي: اسلام هم هغه دين نه دئ چي زه ئې په لټه کې يم؛ مسئوليت به ئې د چا پر غاړه وي؟! موږ غواړو دغو ته عملاً وښيو چي دا د ضعيفو راويانو ستونزه ده؛ نه د اسلام ستونزه؛ غواړو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په صحيح حديث خپله هم پوه شو او نورو ته ئې ورسوو؛ دا تر نيمي پېړۍ زياته مبارزه مو د همدې لپاره وه. هغه مهال چي د ځوان نسل او مخکينيو مذهبي مشرانو او علماءو تر منځ ژور واټن وو؛ ځوان نسل د خطيب منبر خوا ته نه يوازي د خپلو پوښتنو ځواب نه موندلو؛ بلکي يو د بل په ژبه نه پوهېدل؛ د دوی د جذبولو لپاره ئې هيڅ څه نه درلودل؛ هغه په يوه دنيا کې او دا په بلې کې؛ د دې پېړۍ اسلامي نهضتونه وتوانېدل؛ د اسلام او نوي نسل تر منځ؛ مخکينی واټن ختم کړي؛ د ځوان نسل پوښتنو ته ځواب ووايي؛ په ډاکټرانو او انجنيرانو کې ستر او معروف دعوتگران، په اسلام پوه او دين ته ژمن

سياسي او اجتماعي شخصيتونه او زعماء راوټوكېدل؛ زموږ د درسونو، بحثونو او ليكنو موخه او هدف همدا دئ؛ نه د كوم كتاب نقد او نه پر كوم شخصيت اعتراض؛ هغو ته د زړه له كومي دعاء كوو چي په دې مبارزې او دعوت كي ئې يوه شېبه تېره كړې او يو ګام اوچت كړی؛ دعوتګرانو، مبارزينو، فقهاءو او محدثينو ته دعاء كوو او ځان د هغوی د هڅو مرهون او پوروړي ګڼو؛ او له الله تعالی ورته اجر غواړو؛ تكفيريانو او د دعوتګرانو په خلاف فتوی وركوونكو ته وايو: كه همت لرئ، د مثبت كار توان او ظرفيت لرئ؛ د ځوان نسل پوښتنو ته قانع كوونكی ځواب ووايئ؛ په تكفيري فتوی ګانو او د منكر حديث په ټاپو سره؛ يوازي خپل شيطان راضي كولی شئ؛ نه ستاسو سلف له دې څه تر لاسه كړي او نه ئې تاسو تر لاسه كولی شئ. د متعارضو رواياتو ستونزه؛ يو څرګند واقعيت دئ؛ جاهل او ناپوه به ترې انكار كوي؛ دا ستونزه بايد حل كړو.

په ځينو ناپوه متعصبينو دا خبري ښه نه لګېږي؛ په ناپوهېتو سر شي؛ داسي بده دفاع كوي چي د مخالفينو تر بد اعتراض هم ډېره بده وي؛ د ځينو دفاع فقط دا وي: صحيح البخاري د الله تعالی تر كتاب وروسته اصح كتاب دئ او ټول امت پرې اجماع كړې!!؛ يعني په بخاري كي چي څه راغلي؛ دا به له دليل پرته منې؛ كه څه هم له قرآن سره تعارض ولري او يا روايات په خپلو منځونو كي متعارض وي!! څنګه به دا دواړه خبري هممهاله منو چي د مرضونو سرايت هم شته او هم نه شته؟! دا به څنګه توجيه كوو چي د بخاري يو روايت وايي: مړي په قبرونو كي د خپلوانو د كپيو ځپا هم اوري او قرآن وايي: مړي هيڅ څه نه اوري؛ حتی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته فرمايي: ته نه شې كولی مړو ته څه واوروې!! په داسي حال كي چي محققين د قرآن او سنت په رڼا كي وايي: يوازي د الله كتاب كامل او له عيب منزه دئ؛ هر انسان خطأ كار دئ؛ په شخصي آراء او افكارو كي ئې هم او په ليكنو كي ئې هم؛ خطأ او

اشتباه د ده د فطرت جزء ده؛ د الله تعالی له کتاب پرته؛ نه بل سپېڅلی کتاب شته او نه بشپړ او له اشتباه او خطأ عاري کتاب؛ ځیني فیسبوکي ښاغلي وايي: مسلم، ابو داؤد، نسائي، ترمذي، ابن ماجه، نووي، ابن منده... ویلي چي بخاري د الله تعالی له کتاب وروسته تر ټولو اصح کتاب دئ!! خو ما ته د تحقیق په نتیجه کي معلومه شوه چي دا دومره ښکرور دروغ دي چي یوازي لوی دروغجن، سخت جاهل، بد متعصب او له حقائقو ډېر بې خبره انسان ئې د ویلو جسارت کولی شي؛ راشئ وګورو چي دا ادعاء څومره سمه ده او حقیقت لري که نه؟

د فیسبوکي ښاغلیو د غلطي ادعاء خلاف؛ باید ووایو: امام نووي د هغو ډېرشو مشهورو علماءو او ائمه وو له ډلي دئ چي پر صحیح بخاري ډېر اعتراضات او نیوکي لري؛ هغه د صحیح مسلم د شرحي په مقدمه کي لیکي: (ما تحت أدیم السماء کتاب أصح من کتاب مسلم): تر آسمان لاندي هیڅ کتاب د مسلم تر کتاب زیات صحیح نه دئ؛ إبن منده او أبو علي النیشاپوري؛ همدا خبره کړې. شوکاني د سنن الترمذي په ستاینې کي لیکي: د ترمذي کتاب تر ټولو نورو کتابونو غوره، تر ټولو زیات مفید؛ تر ټولو په ښه او مضبوط ترتیب کي، او تر ټولو د لږ تکراري روایاتو کتاب دئ؛ په ترمذي کي هغه څه شته چي په نورو مذاهبو او استدلالي وجوهاتو کي نه شته: یقول الشوکاني مثنیًا علی سنن الترمذي: کتاب الترمذي أحسن الکتب وأکثرها فائدة وأحکمها ترتیبًا، وأقلها تکرارًا، وفیه ما لیس في غیره من المذاهب ووجوه الاستدلال.

امام مسلم تر نورو ټولو محدثینو امام بخاري ته نژدې دئ؛ خو په بخاري ئې اکتفاء ونه کړه او بېل کتاب ئې ولیکلو؛ که ئې بخاري د اصح کتاب په توګه منلی وی نو هیڅکله به ئې صحیح مسلم نه وو لیکلی؛ انسان هغه مهال د یوې موضوع په اړه نوې لیکنه کوي چي مخکینۍ لیکنه کافي ونه ګڼي؛ ځیني روایات په صحیح بخاري کي مومو خو په صحیح مسلم کي نه؛ او ځیني د دې عکس؛ د هغو روایاتو شمېر چي

بخاري راوړي خو مسلم نه دي راوړي ٤١٤ دي او د مسلم دا ډول روايات ٥٧٤. ټول هغه محدثین چي له امام بخاري وروسته ئې د احادیثو کتابونه لیکلي؛ د مُسْنَد، سُنَن، جامع، مُصَنَّف او په نورو نومونو؛ صحیح بخاري ئې کافي نه دئ موندلی او په ځینو روایاتو کي ورسره موافق نه وو؛ عدم توافق ئې هم تر امام مسلم ډېر زیات؛ له همدې امله هر محدث د بېل کتاب لیکلو پرېکړه کړې؛ له صحیح بخاري سره د دوی د کتابونو د عدم توافق کچه؛ تر صحیح مسلم ډېره لوړه او پراخه ده.

ځيني معروف ائمه او علماء چي پر صحيح بخاري اعتراضات لري دا دي: ١- إمام الدارقطنى ملقب په أمير المؤمنين فى الحديث؛ چي پر بخاري ئې د نقد دا درې کتابونه لیکلي: «التتبع»، «بيان أحاديث أودعها البخارى رحمه الله في كتابه الصحيح» او «العلل الواردة فى الأحاديث النبوية»؛ ابن حجر عسقلاني وايي چي امام الدارقطني د بخاري ٢١٠ روايات معلول ګڼي؛ ما ته د تحقيق په دوران کي معلومه شوې چي د معلول رواياتو شمېر ئې تر دې څو برابره زيات دئ. د دار قطني په اړه خطيب بغدادي په خپل کتاب (تاريخ بغداد) کي ليکلي: د خپلي پېړۍ فريد او بې جوړې شخصيت، سالار او بر لاسی، امام، د يووالي مزی، په دې برخو کي پوهه او علم پر ده ختم شوی: د حديث او آثارو علم، د احاديثو د عللو درك، د رجالو په پېژندا او د راويانو په حال معرفت کي؛ له صدق، امانت، ثقه والي او عادلانه قضاوت سره؛ (قال فيه الخطيب البغدادى فى «تاريخ بغداد» كان فريد عصره، وقريع دهره، ونسيج وحده، وإمام وقته، انتهى إليه علم الأثر والمعرفة بعلل الحديث وأسماء الرجال وأحوال الرواة، مع الصدق والأمانة والثقة والعدالة).

٢- امام محمد بن يحيى الذهلي د امام بخاري استاد چي د نيشاپور خلكو ته ئې وويل: نور د بخاري خوا ته مه ورځئ او په غونډو او درس کي ئې مه کښېنئ؛ له دې وروسته خلکو ورسره مقاطعه وکړه؛ د اختلاف وجه د قرآن په اړه دا رأی وه چي قرآن مخلوق دئ که نه؟

٣- أبو زرعة الرازي؛ چي مشهور محقق الذهبي په خپل معروف كتاب؛ سير أعلام النبلاء کي د امام، سيد الحفاظ او لوی محدث په نامه ستايلی.

٤- ستر او معروف محقق امام نووي د صحيح مسلم شارح.

٥- ابن حجر عسقلاني؛ نوميالی محدث، فقيه او مورخ.

٦- أبو بكر الباقلانی، د خپل وخت له سترو علماءو، ملقب په شيخ السنة او لسان الأمة، د اشعري او مالکي مذهب رئيس، د څلورمي پېړۍ د مجدد په نامه ستايل شوی شخصيت.

٧- الكمال بن الهمام؛ د «فتح القدير» مؤلف؛ چي په تفسير، فقه او نورو مروجه علومو کي د امام په سترګه ورته کتل شوي: (وكان إمامًا فى الأصول والتفسير والفقه والفرائض والحساب والتصوف والنحو والصرف والمعانى والبيان والبديع والمنطق)

٨- ابن برهان؛ د خپل وخت منلی عالم؛ د «الوصول إلى الأصول» كتاب مولف؛ په همدې کتاب کي او پر بخاري د اعتراض په ضمن کي ئې ليکلي: آحاد روايات (خبر واحد) د يقيني علم او پوهي لپاره کافي نه دي. (يقول فى كتابه «الوصول إلى الأصول» الجزء الثانى «خبر الواحد لا يفيد العلم، خلافًا لبعض أصحاب الحديث فإنهم زعموا أن ما رواه مسلم والبخارى مقطوع بصحته)؛

٩- تاج الدين السبكى؛ د شافعي مذهب منلی فقيه، مؤرخ، د دمشق قاضى القضاة؛ (فقيه شافعى، ومؤرخ عربي وقاضى القضاة فى دمشق، كان طلق اللسان، قوى الحجة).

١٠- بدر الدين الزركشى؛ د ډېرو کتابونو مؤلف، تر ټولو مشهور ئې: البرهان فى علوم القرآن، البحر المحيط فى أصول الفقه او التذكرة فى الأحاديث المشتهرة.

١١- محى الدين الكافيجي؛ چي اصلي نوم ئې محمد بن سليمان او د معروف عالم سيوطي استاد او مشهور کتاب ئې (التيسير فى قواعد علم

التفسير) دئ.

دا له لسګونو معروفو علماءو او محققینو یو شمېر دي چي له بخاري سره موافق نه دي، په ډېرو روایاتو ئې اعتراضات لري او کتابونه ئې پرې لیکلي؛ حتی ابن تیمیه د بخاري دا روایت ورسره نه مني چي وايي: «أن النار لا تمتلئ حتى ینشئ الله لها خلقًا آخر»: دوزخ تر هغه نه ډکېږي چي الله تعالی بل مخلوق ورته پیدا کړي!! (ابن تيمية؛ يقول فی کتابه «مجموع الفتاوی» الجزء الثالث عشر «إن ما وقع فی بعض طرق البخاری «أن النار لا تمتلئ حتى ینشئ الله لها خلقًا آخر»، مما وقع فيه الغلط، وهذا كثير)؛ د ابن تیمیه پلویانو او اهل حدیث ته وایو: که د بخاري په اړه د معروفو حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي ائمه وو او محققینو علمي او دقیق قضاوتونه نه منئ؛ د ابن تیمیه اعتراض ته څه وايي؟! دا په داسي حال کې چي قرآن د الله تعالی دا قاطع او صریح پرېکړه زموږ مخي ته ږدي چي شیطان ته ئې وفرمایل:

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَدْحُورًا لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ أَجْمَعِينَ﴿١٨﴾ الأعراف

وئې فرمایل: له دې د رټل شوي او شړل شوي په توګه ووځه؛ چا چي ستا متابعت وکړ نو هرومرو به جهنم له تاسو ټولو ډک کړم.

یعني الله تعالی به دوزخ د شیطان له دوو تابعینو ډکوي: انسانان او پېریان؛ آیا د دې قاطع او صریح آیت په شتون کې دا خبره کول او منل چي (دوزخ تر هغه نه ډکېږي چي الله تعالی بل مخلوق ورته پیدا کړي)؛ یا (الله تعالی خپل قدم ورباندي کښېږدي)؛ ډېره ډېره حیرانوونکې نه ده؟! مګر دغه یو روایت چي په ځرګنده توګه له قرآن سره مغایرت لري؛ د یوه مؤمن او عقلمن انسان لپاره کافي نه دئ چي له داسي مبالغې ډډه وکړي؟! آیا سره له دې چي دومره ستر ستر شخصیتونه پر بخاري اعتراضات لري او کتابونه ئې پرې لیکلي؛ بیا هم دا ادعاء کول چي ټول

امت او ټولو علماءو په دې اجماع کړې چې بخاري اصح الكتب بعد كتاب الله دئ؛ ډېره غلطه او له مبالغې ډکه ادعاء نه ده؟!

دې ته بايد متوجه وو چې دا د (صحيح) نوم؛ دغو درنو محدثينو خپل کتاب ته په خپله نه دئ غوره کړی؛ وروستنيو په دې نامه ستايلي او يوازي په شپږو کې نه دي خلاصه شوي؛ د صحيح ابن حبان، صحيح إبن خزيمه په شمول نور هم په دې نامه ياد شوي؛ دا ټولي نومَوَني او توصيفونه د منفردو اشخاصو له لوري شوي؛ نه د کومي ثابتي او منل شوې مجمع او هيئت له لوري؛ هر چا د خپلي خوښي، سليقې، فهم او مذهب له مخي يوه ته پر بل ترجيح ورکړې؛ له قرآن پرته د بل کتاب د بشپړ صحت په اړه د امت اجماع؛ هسي تبليغاتي او د امت د عملي وضعيت خلاف غلطه ادعاء ده؛ د امت عملي وضعيت داسي دئ چي نژدې اويا سلنه ئې احناف دي؛ چي په ډېرو مواردو کې له امام بخاري سره موافق نه دي؛ که د نورو مذاهبو پلويان هم ورسره يو ځای کړو نو په يقين سره ويلی شو چي د ټول اسلامي امت نژدې ٩٦٪ د صحيح بخاري له ډېرو رواياتو؛ مخصوصاً د لمانځه اړوند رواياتو سره موافق نه دي؛ د لمانځه د ځرنګوالي په اړه دا ٩٦٪ سلنه؛ په جهري لمونځونو کې په امام پسي قرائت (قراءة خلف الإمام)، د رکوع تکبيراتو کې لاسونه لوړول (رفع اليدين)، په قيام کې لاس پر سينه او پښې ډېري ارت ايښودل، له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته، ... دې ټولو کې په هغو رواياتو عمل کوي چي په بخاري کې نه دي راوړل شوي.

دغو جنابانو ته وايو: له غلو او مبالغو ډډه وکړئ؛ هم د خپل محبوب په اړه او هم د معتوب په اړه؛ په پټو سترګو نښي مه ولئ او تيرې مه شړئ؛ په هري اوربدل شوې خبري پسي له تحقيق پرته مه ځغلئ؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا لارښوونه خپلي مخي ته ونيسئ چي فرمايي: د يوه سړي لپاره دا درواغ کافي دي چي هر څه واوري وئې وايي.

راشئ د دې لپاره ملا وتړو چې د حديث په اړه واقعي اجماع رامنځته کړو؛ اجماع يعني دا چې په دغه مجلس کې ټول په يوې قضيې کې د توافق لاسونه اوچت کړي او هيڅوك مخالفت ونه کړي؛ خو که دوه درې مخالف وي؛ دې ته شبه اجماع وايي؛ موږ داسي اجماع رامنځته کول غواړو چې د حديث موجود ٤٣٥ کتابونه په يوه جامع، صحيح او ټول امت ته مقبول کتاب کې راغونډ شي؛ چې په هغه کې به ضعيف، غريب، له قرآن سره متصادم او متعارض، د علم او عقل خلاف هيڅ روايت نه وي؛ او له تکراري رواياتو به هم منزه وي.

د احاديثو د کتابونو د توحيد او امت ته د صحيح احاديثو يوه متفق عليها مجموعه وړاندي کول؛ د هر هغه مؤمن داعي هيله ده چې پوهېږي د امت د اختلافاتو يو ستر عامل متعارض روايات دي؛ لکه چې امت يو قرآن لري بايد د صحيح احاديثو يو کتاب ولري؛ داسي کتاب چې په هغه کې نه تکراري روايات وي؛ او نه د سند له پلوه ضعيف او غريب روايات او نه د متن له پلوه له قرآن سره متعارض روايات؛ د امت د متقي او په قرآن او حديث پوه علماءو يو دروند هيئت بايد دا کتابونه توحيد کړي؛ ما دا مطلب په درسي حلقو کې هم مکرر ويلی او له ډېرو لوريو سره مي هم شريك کړی؛ د ترکيې جمهور رئيس اردوغان ته مي هم په دې اړه يو مفصل ليك لېږلی؛ او ورته ليکلي مي دي چې راشه د دې ستر سعادت تر لاسه کولو لپاره يوه اغېزمن او تاريخي اقدام ته ملا وتړه.

ښايي د ډېرو له نظره به دا کار مستحيل برېښي؛ خو زما باور دا دئ چې دا هم ممکن دئ او هم د امت د يووالي لپاره ډېر زيات ضروري؛ آبله ورځ ما ته درې جلده کتابونه په لاس راغلل چې د دې کار يوه لويه برخه ئې سر ته رسولې؛ نوم ئې مَعَالِمُ السنةِ النبويه دئ؛ د حديث پنځلسو مهمو او معروفو کتابونو غير تکراري روايات ئې په دريو جلدونو کې تنظيم کړي؛ لومړی ئې د دوی ټول روايات په ١٤ جلدونو کې راغونډ

کړي؛ د ټولو کتابونو د رواياتو مجموعي شمېر ۱۱٤۱۹٤ شوي؛ بيا ئې مکرر روايات حذف کړي؛ چي په دې سره ئې شمېر ۲۸٤۳۰ شوی؛ بيا ئې هغه روايات توحيد کړي چي د معنی له پلوه سره ورته وو؛ او بيا ئې هغه توحيد کړي چي د سند له پلوه متفاوت خو د متن له پلوه سره ورته وو؛ او په دې توګه له ټولو ۳۹۲۱ روايات جوړ شوي. زما تخمين او حدس همدا وو؛ تاسو ته مي ويلي وو چي ښايي د ټولو رواياتو شمېر به دومره وي چي د مصحف په اندازه کتاب به ترې جوړ شي. له دغو ۳۹۲۱ رواياتو همدمره کتاب جوړېږي. چا چي دا کتاب تصنيف کړی؛ صالح احمد الشامي نومېږي؛ په دې کتاب کې ئې د رواياتو د صحت په اړه د هغو محققينو رأی ته اعتبار ورکړی چي د سند او راويانو له مخي ئې د صحت پرېکړه کړې؛ اوس په دې ارتباط يوه بل مهم او اساسي کار ته اړ يو؛ داسي چي همدا ۳۹۲۱ غوره شوي روايات د يوه دروند هيئت له لوري د متن له پلوه وڅېړل شي او د قرآن په رڼا کې تنقيح شي؛ په دې کې هيڅ شك نه شته چي د هر صحيح حديث لپاره به حتماً په قرآن کې څرګنده منشأ ومومو.

د دې کتاب دا ۳۹۲۱ روايات د دغو کتابونو له ټولو رواياتو غوره شوي: ۱- مُوَطَّأ، ۲- مُسْنَد احمد، ۳- بخاري، ٤- مسلم، ۵- سنن ابي داؤد، ٦- سنن الترمذي، ۷- سنن النسائي، ۸- سنن ابن ماجه، ۹- سنن الدارمي، ۱۰- سنن الکبری للبيهقي، ۱۲- صحيح ابن خزيمه، ۱۳- صحيح ابن حبان، ۱٤- مستدرك الحاکم او ۱۵- الاحاديث المختاره للإمام المَقْدِسِي.

ما ګمان نه کولو چي د حديث په کتابونو کې به داسي روايات هم راغلي وي چي فقط يو او دوه راويان به لري؛ او له دوی پرته به بل هيچا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته دغه روايت نه وي منسوب کړی؛ دا ګمان مي هم نه کولو چي يوه راوي ته منسوب رواياتو کې به په الفاظو، د الفاظو ترکيب؛ مخصوصاً متن او محتوی کې توپير، تعارض او حتی تضاد وي؛ او همدا متعارض روايات به کوم محدث؛ سره له دې

ژورو توپيرونو او تعارضاتو؛ ټول صحيح ګڼلي وي!! او محدث دي دا هم نه وي ويلي چي په دغو رواياتو کي کوم يو ئې اصح او ارجح دئ؛ او په کومو دلائلو!!

ما د بخاري لومړی روايت؛ داسي وموند چي اته ځلي ئې په تکرار سره راوړی؛ مطلق غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى بْنِ سَعِيد له محمد بن ابراهيم؛ هغه له عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاص او هغه له عمر رضي الله عنه روايت کړی؛ په دې توګه د بخاري دا روايت د محدثينو له نظره مطلق غريب دئ چي د صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو له دور يوازي يوه يوه کس روايت کړی، له يحيى وروسته راويان بېل بېل او زيات دي، د بخاري له ۷۵۰۰ رواياتو؛ ۵۳۰۰ ئې تکراري او پاته ۲۲۰۰ ئې غير مکرر دي؛ غوڅ اکثريت ئې آحاد دي؛ په دې کي قاطع اکثريت غريب او پاته ئې عزيز او مشهور دي. لکه چي لومړی روايت ئې مطلق غريب دئ، وروستی ۷۵٦۲ روايت ئې هم مطلق غريب دئ.

که لومړي روايت او ۷ ځله تکرار ته ځير شئ نو وبه ګورئ چي په الفاظو کي ئې توپيرونه شته؛ ځيني ئې لنډ او ځيني ئې اوږده دي، ځيني الفاظ په يوه کي راغلي او په بل کي نه؛ په يوه کي (الاعمال) او په بل کي (العمل)، په يوه کي (النية) او په بل کي (النيات)، په يوه کي (لامرئٍ) او په بل کي (لکل امرئٍ)، په يوه کي إِلَى دُنْيَا او په بل کي لِدُنْيَا او همداسي نور توپيرونه. دغو توپيرونو ته په پام سره ويلی شو چي امام بخاري د خپلو معيارونو له مخي د ثقه راويانو فهرست لري؛ له دوی چي ئې په هره صيغه کوم روايت تر لاسه کړی؛ هغه ئې صحيح ګڼلی؛ لکه دلته چي ئې ټول اړوند روايات؛ سره له ټولو ژورو توپيرونو راوړي او قضاوت ئې لوستونکو ته پرېښی؛ دا حکم ئې نه دئ کړی چي کوم روايت له کومو الفاظو او ترکيب سره ارجح ورته برېښي!! حال دا چي دا ډېره مهمه او ضروري مسئله ده؛ که نه نو لوستونکی په شك کي لوېږي چي په يوې موضوع پوري اړوند رواياتو کي د کوم راوي خبره ومني، په کوم

یوه عمل وکړي، په یوې جملې کې د یوه لفظ تغییر په معنی کې ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روایت کې لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نیت پوري تړلي دي او که کوم خاص عمل؟ (ځکه، په یوه کې العمل او په بل کې الاعمال) راغلي، پیغمبر علیه السلام د (نیة) صیغه کارولې که د (نیات)؟، دا د کوم خاص سړي (لامرئٍ) په اړه صدق کوي که د هر انسان (لکل امرئٍ) په اړه؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلي وینا اصلي بڼه کوم روایت منعکس کړې؟

همدا راز که دغو روایاتو ته ځیر شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پیدا کېږي چي پیغمبر علیه السلام تر دې د مخه څه ویل؟ آیا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چي د عمل تعلق له نیت سره څنگه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه یوازي په دې خبري له پوهېدو وروسته ویلی شو چي د نیت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ که خاص؟ یوازي د هجرت په څېر نیك عمل احتواء کوي که هر عمل؟ د روایت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چي پیغمبر علیه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترځ کې ئې ویلي چي هجرت هغه عمل دئ چي د انسان نیت ئې څرنگوالی ټاکي. دا ځکه چي د نیت او عمل تړاو په لاندي صورتونو کې وي:

۱. نېك نیت او نېك عمل
۲. بد نیت او نېك عمل
۳. نېك نیت او بد عمل
٤. بد نیت او بد عمل
۵. یوازي نېك نیت له عمل کولو پرته
٦. یوازي بد نیت له عمل کولو پرته

په دغو شپږو صورتونو کې د نیت او عمل تړاو یو شانته نه دئ، په ټولو کې دا خبره صدق نه کوي چي نیت د عمل څرنگوالی ټاکي، یوازي په

نېك عمل كې نيت اعتبار لري، په بد عمل كې نيت اعتبار نه لري، نېك نيت له عمل كولو پرته هم معتبر ګڼل كېږي او انسان پر بد نيت له عمل پرته نه نيول كېږي. بد عمل په هر صورت كې بد دئ، كه ئې تر شا نېك نيت وي يا بد نيت، دلته نيت هيڅ اعتبار نه لري.

په قرآن كې دا مطالب (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ) او (وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى)؛ نه لفظاً او صراحتاً مومو او نه تلويحاً او معناً؛ د دې خلاف دا مومو: (وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى) النجم ۳۹: او دا چې انسان ته له خپلې سعي پرته بل څه نه شته. يعني قرآن د انسان برخليك او عاقبت د ده د عمل په څرنګوالي پورې مشروط او منوط ګڼلى؛ او همدا د ټولو الهي كتابونو محوري مطلب ښيي؛ اما دا روايت د دې اصل خلاف وايي: هر انسان به همغه څه تر لاسه كوي چې ده ئې نيت كړى!!

دغو خبرو ته په پام؛ په بشپړ اطمئنان سره ويلى شو چې دا روايت د پيغمبر عليه السلام د هغې وينا يوه برخه زموږ مخې ته ږدي چې د هجرت په اړه ئې كړې. نو په دغو رواياتو كې هغه راجح دئ چې د (الاعمال) پر ځاى (العمل) او د (النيات) په ځاى (النية) په كې راغلى.

د بخاري د لوستلو په دوران كې به تاسو ته يوه بله مسئله هم مخې ته راشي، هغه دا چې وبه ګورئ د روايت سياق او سباق ته له اشارې پرته د كلام يوه برخه رااخيستل شوې، لوستونكى په دې نه پوهېږي چې دا حديث كله ويل شوى؟ په څنګه حالت كې ويل شوى؟ تر دې مخكې څه ويل شوي؟ دا د يوې بشپړې وينا كومه برخه ده كه يوه مستقله وينا؟ د قرآن او حديث يو ژور توپير په دې كې دئ چې د قرآن هره سوره يوه مستقله موضوع ده، د سورې آيتونه يو له بل سره تړلي دي او په ګډه ئې يو مشخص مضمون جوړ كړى، هر آيت په خپله په ځانګړې توګه هم يو بشپړ مطلب افاده كوي او له مخكې او وروسته آيت سره په ګډه هم، د آيت سياق او سباق ته په پام سره د هغه مطلب په واضح او بشپړه توګه د لوستونكي مخې ته راځي، خو د احاديثو كتابونه

داسي نه دي، د پيغمبر عليه السلام هره وينا او خطبه په بشپړه توګه نه ده رااخيستل شوې، بلکې هر راوي د وينا يوه ځانګړې برخه حفظ کړې او هغه ئې نورو ته انتقال کړې، داسي نه دي شوي چي چا مثلاً د پيغمبر عليه السلام يوه بشپړه خطبه ليکلې وي او نورو ترې اقتباس کړې وي، پيغمبر عليه السلام دا اجازه نه وه ورکړې، د هغه تأکيد پر دې وو چي د خلکو توجه له قرآن بل لوري ته وانه وړي، يوازي قرآن وليکل شي، حفظ شي او نورو ته انتقال شي. طبيعي ده چي د يوې خطبې ټول مطالب په بشپړه توګه حفظ کول که محال نه وي نو ډېر ګران کار دئ، هر چا د خطبې يوه برخه حفظ کړې او نورو ته ئې ويلې، دا هم ډېره طبيعي ده چي په الفاظو کې تبديلي راشي او د ځينو الفاظو پر ځای مترادف الفاظ راشي، د همدې لپاره محتاط کسان د پيغمبر عليه السلام د هر حديث په پای کې وايي: او کما قال رسول الله صلی الله عليه و سلم: او يا لکه څنګه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي!

د تحقيق په دوران کې ما ته جوته شوې چي امام بخاري له خپلو معتمدو راويانو قولي روايات تر لاسه کړي نه نقلي؛ ځکه د رواياتو تدوين د عمر بن عبد العزيز په خلافت کې او د ده په امر د ابن شهاب زهري له لوري تر سره شوی؛ زهري د امام بخاري له ډېرو مهمو راويانو دئ؛ شايي د ده ځيني روايات به ئې په ليکلې بڼه هم تر لاسه کړي وي؛ نور محققين د ده په اړه خپل ملاحظات لري؛ د اموي حکامو په حمايت او د امويانو د مخالفينو په ناسم مخالفت ئې تورنوي؛ ما د ده په ډېرو رواياتو کې هغه څه ليدلي چي ښيي د ده په اړه د دغو محققينو رأی او قضاوت صحيح دئ.

ما ته دا هم معلوم شوي چي د امام بخاري په شمول ځينو نورو محدثينو هم دا اسلوب غوره کړی چي د راوي په خپلو الفاظو د روايت معنی انتقالول (روايت بالمعنی) ئې د منلو وړ ګڼلي؛ که څه هم په قولي او غير مکتوب بڼې کې د رواياتو انتقال؛ د يو چا وينا؛ په بشپړه توګه او

په امانت او دقت سره؛ د هغه د وينا ټول الفاظ؛ او د الفاظو په ترتيب او ترکيب کې له هيڅ تغيير پرته انتقالول؛ که مستحيل نه وي نو ډېر ډېر ګران خو حتماً دئ؛ که دا بالمعنى روايت د عادي خلکو په اړه د يوه مجبوريت له امله ومنل شي؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه ئې منل د توجيه وړ نه دي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د قرآن د تفسير، تشريح او بيان لپاره؛ د بلاغت او فصاحت لوړ استعداد او مَلَکَه ورکړى شوې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: اوتيت جوامع الکلم؛ ما ته جوامع الکلم؛ (جامع او بليغ کلام) راکړى شوى؛ که څه هم ابن حجر وايي چې له دې په خپله قرآن مراد دئ؛ خو المناوي په فيض القدير کې ليکلي: جوامع الکلم هغه مَلَکَة او استعداد دئ چې په مرسته ئې انسان کولى شي په لنډو الفاظو سره پراخ مطالب داسي بيان کړي چې نه په کې تعقيد او ابهام وي او نه ئې اورېدونکى په مفهوم ژر پوهېدو کې له ستونزي سره مخ شي. هيڅ انسان؛ که څه هم ډېر اديب او فصيح وي؛ نه شي کولى د رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ مراد د ده له خپل کلام پرته په نورو الفاظو سره په سمه او کامله توګه بيان کړى شي. قطعاً د منلو وړ نه ده چې يو راوي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مراد؛ په خپلو الفاظو بيان کړي؛ داسي لکه د بخاري لومړى روايت؛ ګڼ شمېر راويانو د يوې موضوع په اړه؛ يوه لومړني راوي ته منسوب روايت په بېلو بېلو الفاظو بيان کړى؛ پرته له دې چې وويل شي؛ کوم راوي توانېدلى د رسول الله صلى الله عليه و سلم اصلي کلام؛ په اصلي الفاظو او ترتيب او ترکيب سره بيان کړى؛ ولې بايد يو روايت؛ اته ځلي په اتو مختلفو صيغو راوړل شي؟!

دغو خبرو ته په پام سره ګورو چې له مختلفو رواياتو د يوه غوره کول نه يوازي دې ته ضرورت لري چې د راويانو په اړه دقت او تحقيق وشي بلکې په الفاظو او ترکيب کې ئې هم بايد له درايت او دقت کار واخيستل شي، دا ځکه چې په رواياتو کې د الفاظو او د هغوى د ترکيب

له پلوه پراخ او ژور توپیرونه تر ستړګو کېږي؛ او دا یوه طبیعي خبره ده ځکه چې روایات تر هغو محدثینو پوري په لیکلې بڼه نه دي رسېدلي چې د کتاب بڼه ئې ورکړې، خوله په خوله انتقال شوي، په ټولو کې به وګورئ چې د (حدثنا)، (اخبرنا) او (قال) الفاظ راغلي؛ داسي مورد به ډېر لږ په نظر درشي چې په لیکلې بڼه کې کوم روایت له یوه بل ته رسېدلی وي.

د امت فقهاءو دغو خبرو ته په پام سره مختلف، متعارض او حتی متضاد روایات چڼلي، یو ئې ترې غوره کړی او هغه ئې د یوه حکم بنسټ ګرځولی؛ او اختلاف رأی ئې پای ته رسولی؛ خو د حدیث هغه کتابونه چې له ائمه وو وروسته لیکل شوي دا کار ئې نه دئ کړی، دا دئ ګورئ چې بخاري یو روایت اته ځلي نقل کړی، داسي چې په الفاظو کې ئې ډېر توپیرونه دي، له دوی د یوه انتخاب ئې لوستونکو ته پرېښی!! د بخاري ټول هغه روایات به دې ته ورته ومومئ چې په مکرره توګه ئې نقل کړي، په ځینو کې خو به دومره شدید تعارض وګورئ چې تلفیق ئې قطعاً امکان نه لري او له دې پرته بله هیڅ چاره به په نظر درنه شي چې له ټولو یوازي یو غوره کړئ.

د داسي روایاتو له سلګونو مثالونو؛ دا یو ئې ستاسو مخي ته ږدم؛ چې له مخي ئې نور پرې قیاس کولی شئ: د بخاري ۷٤ روایت ۱۲ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۷۸، ۱۲۲، ۲۲٦۷، ۲۷۲۸، ۳۲۷۸، ۳٤۰۰، ۳٤۰۱، ٤۷۲۵، ٤۷۲٦، ٤۷۲۷، ٦٦۷۲، ۷٤۷۸؛ په څلورو کې ئې ویل شوي چې موسی علیه السلام ته د خضر هستوګنځی (مجمع البحرین) موندلو لپاره؛ دا نښه ټاکل شوې وه چې په ژوندي او په اوبو کې روان ماهي پسي به درومي؛ او ورته ویل شوي وو: په هر ځای کې چې دا ماهي؛ یا دا نوع ماهیان؛ خپل مسیر بدل کړي؛ په بل لوري ولاړ شي او ستاسو له نظره پټ شي؛ هملته مجمع البحرین دئ؛ په څلورو نورو کې د دې خلاف ویل شوي: وریت ماهي په ټوکرۍ کې درسره واخله؛ کله چې ژوندی شو،

اوبو ته ئې ټوپ کړل او ستاسو له سترګو پټ شو؛ هملته به خضر ومومئ!! ولي په بخاري کې دا دواړه متضاد روايات راغلي؟ او ولي دواړه صحيح ګڼل شوي؟ آيا دوه متضادي خبري هممهاله صحيح ګڼل؛ عقلي توجيه لري؟! آيا له دې پرته بله چاره لرو چي دا روايات د قرآن په تله وتلو او صحيح له ناسم تفکيك کړو؟! ولي امام بخاري؛ له دغو ديارلسو رواياتو؛ تر ټولو اصح ئې نه دیٔ راښودلی؟ او ولي ئې يوازي په اصح روايت اکتفاء نه ده کړې؟! د دې تفصيل د حکمة الباریٔ په لومړي جلد: ۹ باب: د علم په لټه کې وتل؛ عنوان لاندي لوستلی شئ.

د دغو حقائقو په رڼا کې ويلی شو: څوك چي ځان ته اهل حديث وايي او ګمان کوي چي هر څوك کولی شي له بخاري احکام راوباسي او عمل پرې وکړي؛ نه د فقهاءو آراءو ته په مراجعې اړ کېږي، نه د رواياتو چڼلو او تنقيح ته او نه د قرآن په تله او ميزان؛ تللو ته اړ کېږي؛ سخته اشتباه کوي او دا وينا ئې له جهل او ړانده تعصب راولاړه شوې. يقيناً چي صحيح مسلك فقط دا دیٔ چي هر روايت هغه مهال صحيح وګڼو چي له قرآن سره مطابقت ولري.

دا بايد په پام کې ولرو چي له روايت انکار او له صحيح حديث انکار؛ ژور توپير لري؛ جاهلان ئې له توپير بې خبره دي؛ هر روايت ورته سپېڅلی او د رسول الله صلی الله عليه و سلم صحيح حديث برېښي؛ روايت ته يوازي هغه مهال د صحيح حديث نوم ورکولی شو چي د صحت په شرائطو برابر وي.

## آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث د ليکلو اجازه ورکړې وه؟

تاسو به ډېر اورېدلي وي؛ مخصوصاً له يوې خاصي ډلي؛ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په سر کې د حديث له ليکلو ممانعت کړی وو؛ خو وروسته ئې بيا اجازه ورکړه؛ خو دا ئې نه دي ويلي چي دا نهي تر

کله پر خپل حال وه او کله پای ته ورسېدله؛ او کله د حدیث د لیکلو اجازه ورکړی شوه؛ ما ته له تحقیق وروسته معلومه شوه چې دا ادعاء حقیقت نه لري؛ ستاسو مخې ته به هغه روایات هم کښېږدم چې په تأکید او قاطعیت سره وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د ژوند تر پایه د حدیث د لیکلو اجازه نه ده ورکړې؛ او هغه روایات هم چې ځینو د حدیث د لیکلو جواز ترې رااېستلی؛ خو په ډېر تکلف او ضعیف استدلال سره؛ او هغه هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت په یوه دوه وروستي کلونو کې.

د حدیث د لیکلو جواز ورکول دوه صورتونه درلودی شي:

اول: دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یو یا څو کسان توظیف کړي وي چې د ده احادیث ولیکي؛ حقیقت دا دئ چې د دې لپاره هیڅ سند او مدرك نه شته؛ که داسې وی نو د دوی نومونه به اخستل شوي وو او ټول صحابه به ترې خبر وو؛ همغسې لکه د وحې کاتبان او لیکونکې چې ټولو ته معلوم وو او رسول الله صلی الله علیه و سلم به د هرې وحې له نزول سره سم رابلل؛ نوې وحې به ئې هغوی ته اوروله، هغوی به لیکله او نسخې به ئې خپرېدې.

دوهم: دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم عامه اجازه ورکړې وي او هر څوک چا کولی شو؛ احادیث ولیکي؛ د دې لپاره هم نه یوازې شواهد نه مومو؛ بلکې ګڼ شمېر روایات لرو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې ممانعت کړی؛ او یقیناً چې د عام جواز خبره کول هم بې دلیله ده او هم بدې پایلې لري؛ هغه څوك به دا خبره کوي چې د داسې کار له بدو پایلو خبر نه وي؛ یو عادي انسان دا نه خوښوي چې د ده خبرې دې څوك په خپل سر ولیکي او هغه دې خپرې کړي؛ هیڅوك نشي کولی د بل خبرې په بشپړ دقت او امانت سره انتقال کړي؛ هم به د الفاظو په انتقال کې اشتباه کوي او هم د معنی او محتوی په انتقال کې؛ موږ په مطبوعاتي ناستو کې خپل مطالب په لیکلې بڼه خبریالانو ته

ورکوو؛ له دې وېرې چې عمداً یا سهواً ئې په غلطه توګه انتقال نه کړي؛ نه غواړو هغوی په خپل سر او په خپلو الفاظو او ادبیاتو زموږ مطالب انتقال کړي؛ خو سره له دې ګورو چې هر ځل مطالب په سمه توګه نه وي انتقال شوي؛ که ئې له یوې ژبې بلې ته ژباړي ډېر مطالب ترې ګډ وډ او غلط شي او که غواړي هغه مختصر کړي نو ګورو چې اصلي او مهم مطالب ترې پاته شوي وي. د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري د حدیث له لیکلو ممانعت؛ هم د حکمت مطابق وو او هم له روایاتو په څرګنده توګه معلومېږي چې همداسي شوي. دې روایاتو ته لږ ځیر شئ:

١٢٨٨ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَكْتُبُوا عَنِّي شَيْئًا غَيرَ الْقُرْآنِ، فَمَنْ كَتَبَ عَنِّي شَيْئًا غَيرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ» سنن الدارمی

له ابو سعید خدري روایت دئ چې نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: له قرآن پرته بل څه له ما مه لیکئ؛ او چا چې له قرآن پرته بل څه له ما لیکلي وي؛ هغه دې له منځه یوسي.

حسین سلیم اسد وایي: دا د سند له پلوه صحیح حدیث دئ. په دغو معروفو کتابونو کې راوړل شوی: مسلم، مسند البزار، مسند احمد، صحیح ابن حبان، سنن الدارمي، سنن النسائي الکبری، سنن الکبری للبیهقي او مسند أبي یعلی.

باید متوجه وو چې ابو سعید خدري د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رحلت په وخت کې شل کلن وو؛ یعني چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت لږ وړاندې به ئې دا خبره اورېدلې وي.

په دې اړه بل روایت دا دئ:

١١٠٩٢ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا قُعُودًا نَكْتُبُ مَا نَسْمَعُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: «مَا هَذَا تَكْتُبُونَ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ مِنْكَ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ مَعَ كِتَابِ اللَّهِ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ غَيْرُ كِتَابَ اللَّهِ؟ امْحِضُوا كِتَابَ اللَّهِ وَأَخْلِصُوهُ» قَالَ: فَجَمَعْنَا مَا كَتَبْنَا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ؛ ثُمَّ أَحْرَقْنَاهُ بِالنَّارِ.... مسند احمد

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: ناست وو او هغه څه مو ليکل چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مو اورېدل؛ وئې فرمايل: دا څه دي چي ليکئ ئې؟ ومو ويل: هغه څه چي له تا ئې اورو؛ وئې فرمايل: آيا د الله د کتاب خوا ته بل کتاب؟ ومو ويل: فقط هغه څه چي موږ ئې اورو (هيڅ څه له ځانه نه پرې زياتوو)؛ وئې فرمايل: مگر د الله له کتاب پرته بل کتاب؟ د الله کتاب خالص او منفرد ونيسئ. ابو هريره وويل: څه چي مو ليکلي وو ټول مو راغونډ کړل او په اور کې مو وسوزول.

بايد متوجه وو چي ابو هريره د اوم هجرى کال په لومړيو کې؛ د خيبر جنگ په کال ايمان راوړی؛ له دې روايت چي راوي ئې ابو هريره دئ معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د رسالت په ۲۰ کلونو کې؛ د بعثت له ورځي بيا تر اُوَم هجري کال؛ هيڅا ته د احاديثو د ليکلو اجازه نه وه ورکړې؛ او چا چي د ده له اجازې پرته څه ليکلي وو؛ ټول ئې وسوزول؛ معلومه نه ده چي ابو هريره به د رسالت په پاته دريو کلونو کې کله او له اجازې پرته دا کار کړی وي؛ خو رسول الله صلى الله عليه و سلم ترې منع کړ؛ نو د حديث د ليکلو لپاره څه مجال پاته شوی وو؟ يعنى دا ادعاء هيڅ وزن نه لري چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د خپل ژوند په پاته يو يا دوه کلونو کې د حديث د ليکلو اجازه ورکړې وي؛ له دې روايت دا هم معلومېږي چي هغه روايت قطعاً صحيح نه دئ چي گواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ما ته قرآن راکړی شوی او مثل ئې ورسره؛ که ابو هريره؛ د رسالت يو ويشتم

كال كي له رسول الله صلى الله عليه و سلم اوربدلي چي د تعجب او حيرت په توگه ئې فرمايلي: أَكِتَابٌ مَعَ كِتَابِ اللَّهِ؟» أَكِتَابٌ غَيْرُ كِتَابَ اللَّهِ؟ امْحِضُوا كِتَابَ اللَّهِ وَأَخْلِصُوهُ: آيا د الله د كتاب په څنگ كي بل كتاب؟ مگر د الله له كتاب پرته بل كتاب؟ د الله كتاب خالص او منفرد وساتئ (بل كتاب ئې په خوا كي مه جوړوئ). آيا ايمان او عقل اجازه راكوي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا مؤكده لاربښوونه او سپاربښتنه له پام وغورځوو او داسي څه ووايو چي د دې سپاربښتني خلاف وي؟! ولي به دا اشتباه كوو؛ ضرورت او گټه ئې څه ده؟

كه دا روايت د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حجة الوداع خطبې په رڼا كي وڅېړو؛ هغه خطبه چي په كي ويلي ئې وو: هغه څه په تاسو كي پرېږدم چي كه منگولي پرې ټينگي وساتئ؛ هيڅكله به بې لاري نه شئ؛ د الله تعالى كتاب. په قطعي توگه دې نتيجې ته رسو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم نه د حديث د ليكلو اجازه وركړې؛ او نه له قرآن پرته بل كتاب وو؛ په بشپړ يقين سره ويلى شو چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم لومړۍ او وروستۍ سپاربښتنه همدا وه: كه په (قرآن) منگولي ولگوئ؛ هيڅكله به بې لاري نه شئ؛ هره بله رأى او ادعاء؛ ناسمه او د حقيقت خلاف ده.

راشئ وگورو چي د دې څرگندو حقائقو نه منونكي د خپلي رأى لپاره څه دليل لري؛ دوى د سنن ابي داؤد دا روايت په دليل كي وړاندي كوي:

٣٦٤٦ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: كُنْتُ أَكْتُبُ كُلَّ شَيْءٍ أَسْمَعُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيدُ حِفْظَهُ، فَنَهَتْنِي قُرَيْشٌ وَقَالُوا: أَتَكْتُبُ كُلَّ شَيْءٍ تَسْمَعُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَرٌ يَتَكَلَّمُ فِي الْغَضَبِ، وَالرِّضَا، فَأَمْسَكْتُ عَنِ الْكِتَابِ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَوْمَأَ بِأُصْبُعِهِ إِلَى فِيهِ، فَقَالَ: «اكْتُبْ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا يَخْرُجُ

مِنْهُ إِلَّا حَقٌّ» سنن ابی داؤد
له عَبْد اللَّه بْنِ عَمْرو روایت دئ چي وايي: ما به هر هغه څه لیکل چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم به مي اورېدل؛ غوښتل مي هغه حفظ کړم؛ قریشو ترې منع کړم او وئې ویل: آیا هر هغه څه لیکې چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اورې؟ په داسي حال کې چي هغه بشر دئ؛ کله د غضب حالت کې څه وايي او کله د رضاء حالت کې؛ نو ما له لیکلو ډډه وکړه؛ بیا مي دا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یاده کړه؛ نو هغه په خپلي ګوتي سره خپلي خولې ته اشاره وکړه او وئې فرمایل: ولیکه؛ په هغه ذات قسم چي زما نفس ئې په لاس کې دئ؛ له دې یوازې حق خبره وځي.

دا روایت چي راویان ئې دا دي: مُسَدَّد، أَبُو بَكْرِ بْن أَبِي شَيْبَةَ، يَحْيَى، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَخْنَسِ، الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُغِيثٍ، يُوسُفَ بْنِ مَاهَك او عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو او په شپږمه کې دوه راویان لري؛ له صحاح سته یوازې سنن ابو داؤد کې راغلی؛ له روایت په واضح توګه معلومېږي چي ده په خپله خوښه احادیث لیکل؛ نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په امر؛ که داسي نه وی نو قریشو ته به ئې ویلي وو چي زه رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې ګمارلی یم؛ لیکل به ئې نه متوقف کولو؛ دې ته مو هم پام وي چي عبد الله بن عمرو په مکه کې او تر هجرت ۲۷ کاله وړاندي زېږېدلی؛ په ۷ هجري کال ئې ایمان راوړی؛ د بعثت درې وروستي کلونه ئې موندلي؛ نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رحلت په مهال ۳۷ کلن وو؛ څنګه ومنو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د هغو مشرانو صحابه وو پر ځای ده ته د حدیث لیکلو امر کړی وي؛ چي تر ده ډېر وړاندي ئې ایمان راوړی او د رسول الله صلی الله علیه و سلم اوږده ملګرتیا ئې کړې؟ که داسي وی نو کوم راوي خو به له ده دا اورېدلي وو چي له ما سره دومره لیکلي احادیث دي؛ یوه محدث خو به ویلي وو چي له عبد الله بن عمرو

مي دومره ليكلي احاديث تر لاسه کړي!! ده ته منسوب روايت له يوې خوا د ابو هريره له روايت سره تعارض لري؛ او له بلي خوا ويلى شو چي كه ئې څه ليكلي وو نو له نورو سره يو ځاى ئې سوزولي.

اهل ظاهر په داسي حال کي په دې روايت استناد كوي چي امام بخاري او امام مسلم هم نه دئ راوړى؛ په صحيح بخاري کي دا باب مومو: باب كتابة العلم؛ چي مقصد ئې د حديث ليكل دي؛ ترې لاندي ئې هغه روايات راوړي چي له هغوى اصلاً د احاديثو د ليكلو خبره نه ثابتېږي؛ نور خو پرېږدئ؛ حتى د امام بخاري شاګرد؛ امام مسلم هم ورسره موافق نه دئ. روايات دا دي:

١١١ - عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ؟ قَالَ: " لاَ، إِلَّا كِتَابُ اللَّهِ، أَوْ فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ، أَوْ مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قَالَ: قُلْتُ: فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ؟ قَالَ: العَقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ " بخارى

له ابو جُحَيفه روايت دئ چي وايي: علي بن ابي طالب ته مي وويل: آيا كوم خاص كتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مگر د الله تعالى كتاب؛ او هغه فهم چي مؤمن انسان ته ئې ورکړى؛ او هغه څه چي په دې پاڼي کي دي؛ ومي ويل: نو په دې پاڼي کي څه دي؟ وئې ويل: د قاتل د خپلوانو له لوري ديت ورکول، د اسير آزادول او دا چي مسلمان د كافر په بدل کي نه وژل کېږي.

له دې روايت نه يوازي د حديث د ليكلو جواز نه معلومېږي؛ بلکي نه ليكل ئې ثابتېږي؛ دا ځكه چي: له علي رضي الله عنه سره فقط يو ليكلى حديث وو؛ كه رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث ليكلو اجازه ورکړې وى او دا ئې ضروري ګڼلى نو له شك پرته چي علي رضي الله عنه به د حديث ضخيم او ستر كتاب درلود؛ ځكه دئ د بعثت له لومړۍ ورځي بيا د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر رحلت پوري تل

ورسره وو؛ او په ليك لوست هم پوهېدو؛ خو دا روايت وايي: له ده سره يوازي يو ليكلی حديث وو!!

أبو جحيفه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رحلت په وخت کې نوی ځوانۍ ته رسېدلی وو؛ نو د ده دا روايت به حتماً د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت وروسته وو؛ او دا ښيي چې تر دې مهال له علي رضي الله عنه سره فقط يو ليکلی حديث وو او هغه هم دومره (العَقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ)؛ يعني نيم سطر.

په روايت کې ويل شوي چې علي رضي الله عنه؛ له قرآن وروسته د هغه فهم يادونه کړې چې الله تعالى ئې هر مسلمان ته ورکوي؛ دا د اسلام او صحابه وو له نظره د فهم اهميت او مقام په گوته کوي؛ که څه هم موږ د قرآن په حقانيت د عقل او فهم په مرسته پوهېږو؛ د انسان مکلفيتونه له بلوغ او د عقل له پوخوالي وروسته پيل کېږي؛ مجنون مکلف نه دئ؛ خو له قرآن وروسته د فهم يادونه ښيي چې هم رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن له لارښونو د خپل فهم مطابق موږ ته لارښووني کړې او هم هر بل مسلمان ته الله تعالى د قرآن مناسب فهم ورپه برخه کوي.

په روايت کې دا وضاحت نه مومو چې د محارب كافر او معاهد او ذمي كافر تر منځ توپير دئ؛ په داسي حال کې چې د محارب كافر په وژلو سره ديت نه شته؛ خو د معاهد او ذمي كافر په وژلو کې قصاص او ديت شته.

د بخاري بل روايت دا دئ:

۱۱۲ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: ... فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ اليَمَنِ فَقَالَ: اكْتُبْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: «اكْتُبُوا لِأَبِي فُلاَنٍ». .... فَقِيلَ لِأَبِي عَبْدِ اللَّهِ أَيُّ شَيْءٍ كَتَبَ لَهُ؟ قَالَ: كَتَبَ لَهُ هَذِهِ الخُطْبَةَ. بخارى

له ابو هريره روايت دئ چې .... د يمن يو سړی راغی او وئې ويل: يا

رسول الله! ما ته (دا خطبه) وليكه؛ وئې فرمايل: د فلاني پلار ته ئې وليکئ؛ بيا ابو عبد الله ته وويل شول: څه شی ئې ورته وليکل؟ وئې ويل: همدا خطبه ئې ورته وليكله.

دا د مكې د فتحي د كال خبره ده؛ د دوو قبيلو تر منځ د قتل پېښه رامنځته شوې وه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطلاع ورسېده؛ هغوی ته ورغی؛ هلته ئې يوه خطبه درلوده؛ يوه يمني (ابو شاه) ترې وغوښتل چي دا خطبه په ليكلې بڼه ده ته وسپارل شي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم امر وكړ چي ورته وليكل شي. عجيبه ده كه څوك له دې دا خبره راباسي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث د ليكلو اجازه وركړې وه؛ دا يوه معينه خطبه د خاصي قضيې په اړه وه؛ او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سپارښتنه او حضور کي ليكل شوې؛ نه دا چي هر چا ته ئې د حديث د ليكلو اجازه وركړې!! او دا هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم د عمر په پای کي او د مكې له فتحي وروسته وو. د بخاري بل روايت دا دئ:

۱۱۳ - عن وَهْب بْن مُنَبِّهٍ، عَنْ أَخِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: «مَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدٌ أَكْثَرَ حَدِيثًا عَنْهُ مِنِّي، إِلَّا مَا كَانَ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، فَإِنَّهُ كَانَ يَكْتُبُ وَلاَ أَكْتُبُ» بخارى

د وَهْب بْن مُنَبِّه ورور ويلي چي له ابو هريره مي اورېدلي چي ويل ئې: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په صحابه وو کي هيچا تر ما زيات احاديث؛ له ده؛ نه دي روايت كړي؛ مگر هغه چي د عبد الله بن عمرو له لوري دي؛ ځكه هغه به ليكل.

د دې روايت معنی دا ده چي ابن عمرو به ليكل خو ابو هريره به نه ليكل؛ تر دې وړاندي د عبد الله بن عمرو په اړه روايت ستاسو له نظره تېر شو چي ده په خپله ويلي زه صحابه وو ترې منع كوم؛ نو ما ليكل بند كړل! د صحابه وو منع كول ښيي چي له دې كار سره موافق

نه وو؛ د فرد په مقابل کې د صحابه وو اجماع او اکثریت معتبر ګڼل کېږي. دا هم باید په پام کې ولرو چې عبد الله بن عمرو رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رحلت په وخت کې ۳۷ کلن وو؛ او په ۷ هجري کال ئې ایمان راوړی؛ څنګه ومنو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به ده ته د حدیث لیکلو امر کړی وي؛ که ئې امر کړی وو صحابه وو به څنګه د ده ممانعت کولو؟! او که فرضاً دا هم ومنو نو ابو هریره او ابو سعید خدري وایي چې موږ ټولو خپل لیکلي احادیث وسوزول او زید بن ثابت معاویه ته ویلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ د حدیث له لیکلو منع کړي وو؛ معاویه خپل لیکونکي ته امر وکړ چې لیکلی روایت حذف کړي.

د بخاري بل روایت داسي دئ:

١١٤ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا اشْتَدَّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ قَالَ: «ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لاَ تَضِلُّوا بَعْدَهُ» قَالَ عُمَرُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَلَبَهُ الوَجَعُ، وَعِنْدَنَا كِتَابُ اللَّهِ حَسْبُنَا. فَاخْتَلَفُوا وَكَثُرَ اللَّغَطُ، قَالَ: «قُومُوا عَنِّي، وَلاَ يَنْبَغِي عِنْدِي التَّنَازُعُ» فَخَرَجَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ: «إِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ، مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ كِتَابِهِ»

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: کله چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم درد او رنځ زیات او سخت شو؛ (تر رحلت لږ وړاندي)؛ وئې فرمایل: (یو کتاب راته راوړئ چې هغه څه درته ولیکم چې تر هغه وروسته بې لاري نشئ). عمر رضي الله عنه وویل: پر رسول الله صلی الله علیه و سلم باندي خپل درد او رنځ غلبه کړې ده، له موږ سره د الله تعالی کتاب شته؛ همغه راته کافي دئ. په موجودو صحابه وو کې اختلاف راولاړ شو او شور او ځوږ ډېر شو؛ نو (رسول الله صلی الله

علیه و سلم) وفرمایل: (له ما پورته شئ؛ زما په وړاندي نزاع او اختلاف مناسب نه دي.)؛ ابن عباس ووتلو او ویل ئې: یقیناً بشپړ مصیبت وو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د څه لیکلو تر منځ خنډ شو.

تکرار: دا روایت په بخاري کې شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٣٠٥٣، ٣١٦٨، ٤٤٣١، ٤٤٣٢، ٥٦٦٩، ٧٣٦٦

توپیر: په ځینو کې ائْتُونِي بِكَتِفٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا په ځینو کې هَلُمُّوا أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا او په ځینو کې ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبْ لكم كتاباً ویل شوي، په ځینو کې وَعِنْدَنَا كِتَابُ الله حَسْبُنَا او په ځینو کې وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ، په ځینو کې دعُونِي فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ او په بل کې ذَرُونِي، فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ په ځینو کې دا هم ویل شوي چي وَأَوْصَى عِنْدَ مَوْتِهِ بِثَلَاث "أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ". وَنَسِيتُ الثَّالِثَةَ: له وفات مخکې ئې د دریو خبرو سپارښتنه وکړه: مشرکین له جزیرة العرب وباسئ، هغه ډله همغه لوري ته ولېږئ (او جوائز ئې ورکړئ) چي ما ئې لېږل غوښتل؛ او درېیمه مي هېره شوې؛ او ځیني نور توپیرونه.

دا روایت د سند له مخي داسي دئ چي په دریو طبقو کې یو یو راوي لري، د متن له پلوه له نورو روایاتو سره تعارض لري، دغه مطلب (ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لاَ تَضِلُّوا بَعْدَهُ)؛ له بخاري پرته په بل هیڅ مهم کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ د صحاح سته د پاته پنځو کتابونو په شمول؛ د دې روایاتو په اړه څو خبري کولی شو:

- په دغو متعارضو روایاتو کې یوازي یو غوره کولی شو، همغه چي وايي رسول الله صلی الله علیه و سلم له وفات مخکې د دریو خبرو سپارښتنه وکړه...، د روایاتو متن او محتوی ته په پام سره هر عاقل انسان دې نتیجې ته رسي چي دا روایت دقیق بررسي، همدا له هغه حالت سره مناسبي سپارښتني دي. او د پاته روایاتو په اړه څو پوښتني راولاړېږي:

- آيا دا منلی شو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي مهمه خبره له ځان سره ساتلې وه او د ژوند تر پایه ئې چا ته نه کوله؟ او په پای کي ئې هم د ځینو د شور او ځوږ په وجه پرېښوده؟ له غلاتو پرته هیڅوك د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه داسي خبره نشي کولی!
- رسول الله صلی الله علیه و سلم خو لیك او لوست نه کولو؛ څنګه دلته ویل شوي چي کتاب یا د اوږې هډوکی راوړئ چي څه درته ولیکم؟ دا څنګه تر دې د مخه هیڅکله رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي نه وو کړي، نه ئې د قرآن په اړه ویلي چي راشئ نوې وحي راغلې درته وئې لیکم او نه ئې د خپلي وینا په اړه داسي خبره کړې؛ څنګه ومنو چي په لومړي ځل او هغه هم له رحلت لږ مخکي ئې دا خبره وکړه؟!
- صحابه وو خو د ده د صحت او روغتیا په ورځو کي هم د ده په وړاندي له شور او ځوږ ډډه کوله؛ د ده د شدید مرض په حالت کي به ئې څنګه دا کار کولو؟
- نور روایات خو وایي چي په دغو شپو ورځو کي د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا ته یوازي د ده مېرمني او ډېر نژدې خپلوان راتلل، د نورو صحابه وو د راغونډېدو خبره په کوم بل روایت کي نه مومو!! دا ځکه چي د ده وړوکي کور او خوني ته د زیاتو صحابه وو ننوتل؛ د عقل منافي خبره ده؛ که نور څوك راغلي وی نو ولي د دوی نومونه نه دي اخیستل شوي. له روایت دا نه معلومېږي چي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما هلته حاضر وو؛ او دا هم نه دي ویل شوي چي ده دا خبره له چا اورېدلې؟ او هغه کس ولي له ده پرته بل چا ته دا خبره نه ده کړې؟!

اوس نو تاسو او هغه څوك چي د بریا تلویزیون له لاري دا درس اوري؛ په سړه سینه او شفاف ذهن؛ له ړوند تعصب او افراطي حب او بغض پرته ووایئ؛ آیا له دغو روایاتو دا خبره راایستل چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ د حدیث لیکلو اجازه ورکړې وه؛ عجیبه او

حيرانوونكې نه ده؟!

اجازه راكړئ د دې درسي ناستي له برخه والو يوه پوښتنه وكړم: آيا په دې مو كله فكر كړى چي تاسو به هره ورځ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څومره حديثونو عمل كوئ؟ كه غور وكړئ او وئې شمېرئ نو ښايي هره ورځ په سلگونو حديثونو عمل كوئ؛ له خوب پاڅېدو سره سم اودس كوئ؛ د اودس فرائض، سنن او مستحبات؛ لمونځ؛ فرائض، واجبات، سنن او مستحبات ئې، ناشتا ته لاسونه مينځل، په بسم الله ئې پيلول او په الحمد لله ئې ختمول؛ پنځه وختونه لمونځونه، جامه او څرنگوالى ئې، له هر چا سره مخامخېدو كې سلام اچول او مصافحه او معانقه، په خوراك كې د حلال، حرام، مكروه او مباح مراعات؛ په خبرو كې ټول اسلامي آداب مراعاتول؛ او ډېر نور؛ په دې ټولو كې تاسو د قرآن په آيتونو او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په احاديثو عمل كوئ؛ خو زموږ ډېرى داسي دي چي نه ئې له اړوند آيتونو خبر دي او نه ئې له احاديثو او رواياتو؛ او نه د دې رواياتو د اعتبار او صحت له څرنگوالي؛ په يوه مؤمن او ثقه عالم، فقيه او محدث مو باور كړى او په هغه پسي مو اقتداء كړې؛ دا اقتداء نه يوازي جائزه ده او د انسانو ډېرى پرې عمل كوي؛ بلكي د الهي لارښووني مطابق ده؛ چي فرمايي:

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ... ﴿١٥﴾ لقمان

او كه دوى دواړو (مور او پلار) ستا په اړه دا هڅه كوله چي له ما سره داسي څه شريك كړې چي د هغه په اړه علم نه لرې؛ نو اطاعت ئې مه كوه؛ او په دنيايي چارو كې په ښه توگه مصاحبت ورسره كوه؛ او د هغه چا متابعت كوه چي زما لوري ته ئې انابت كړى...

ځيني نه يوازي دا نه مني؛ بلكي د شرك په سترگه ورته گوري؛ د مذاهبو پلويان هم مشرك گڼي او ائمه ئې هم د حديث منكر!! په داسي

حال کې چې دوی تر نورو زیات په شخصیتونو پسې درومي؛ دومره چې د یوه فرد داسې غریب روایات به هم مني او متابعت به ئې کوي چې نه په قرآن کې ورته شاهد لري او نه راوي په خپلې طبقې کې شاهد. د سند له پلوه غریب او د متن له پلوه له قرآن سره متعارض؛ د دوی هنر تکفیرول دي؛ نه مسلمانول؛ د چا د مسلمانولو وړتیا او ظرفیت نه لري؛ خو د مسلمان په تکفیرولو کې جرئ او جسور دي؛ د کفر او انکار حدیث ټاپې ئې په جیب کې او د هر هغه چا په تندي ئې وهي چې د ده غلط مذهب او مسلك ورسره نه مني؛ اما موږ خپل اهل قبله نه تکفیروو؛ ځوك چې له موږ سره په قبلې کې شریك وي له تکفیر ئې ډډه کوو؛ زموږ احنافو مذهب؛ د کوم شخص او امام مذهب نه دئ؛ د خاصو اصولو مذهب دئ؛ په دې اصولي او پر قرآن او سنت ولاړ مسلك کې؛ آحاد روایات؛ هغه چې راویان ئې لږ وي او د تواتر حد ته نه وي رسېدلي؛ یوازي په هغه صورت کې معتبر ګڼي چې له قرآن سره مطابقت ولري؛ که نه نو په قرآن اکتفاء کوي؛ له قرآن سره متعارض روایات؛ د اعتبار او استناد وړ نه ګڼي. دا د غوڅ اکثریت فقهاءو، محدثینو، ائمه وو او محققینو رأی ده؛ توافق ئې د شبه اجماع په حد کې دئ؛ د امت په علماءو کې یو وړوکی ټولی؛ د دې خلاف شاذ رأی لري؛ هغوی د روایت د صحت لپاره یوازي د راوي اعتبار او ثقه والی کافي ګڼي؛ د صحت لپاره ئې نه له قرآن سره مطابقت شرط بولي او نه د راوي تر څنګ شاهد!! او دا ناقص او غیر صحیح اسلوب؛ له شك پرته چې د قرآن له لارښوونو سره قطعاً اړخ نه لګوي؛ قرآن د یوه مدعي ادعاء په هغه صورت کې د منلو وړ بولي چې دوه، درې او څلور شاهدان وړاندي کړي؛ د یوه صحابي ادعاء د خپلې مېرمني په اړه هم له څلورو شاهدانو پرته؛ نه یوازي د اعتبار وړ نه ګڼي بلکې وایي: که ئې څلور شاهدان وړاندي نه کړل؛ نو د الله په نزد کې او د اسلام له نظره دروغجن او فاسق دئ؛ اتیا درې به وهل کېږي او له دې وروسته به ئې هیڅ شهادت نه منل کېږي. که څه

هم دئ په خپلي ادعاء کي رښتينی وي؛ او پر خپلي مېرمني ئې دروغجن تور نه وي لگولی؛ له دې سزا په دې شرط ژغورل کېږي چي څلور ځلي لوړه وکړي چي رښتينی دئ او پنځم ځل ووايي: پر ما دي لعنت وي که دروغجن وم.

څوك چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته کومه وينا او کلام منسوبوي؛ که اعتبار ئې د يوه صحابي په څېر هم وي؛ د قرآن د دې لارښووني له مخي به ئې ادعاء په هغه صورت کي منو چي تر دې زيات شاهدان وړاندي کړي.

دې ته هم بايد متوجه وئ چي تاسو د خپل ورځني ژوند په ډېرو مواردو کي په هغو رواياتو عمل کوئ چي د احنافو له نظره د دقيقو معيارونو له مخي صحيح او معتبر دي؛ اما په صحيح بخاري کي ئې نه مومو؛ ما چي کله په بخاري کي تحقيق پيل کړ او متوجه شوم چي په صحيح بخاري کي هغه روايات نه دي راوړل شوي چي د احنافو له نظره صحيح او معتبر دي؛ نو حيران شوم؛ نن د امت نژدې اويا سلنه احناف او پاته نژدې تر ۲۶٪ زيات د نورو مذاهبو پلويان؛ داسي دي چي په صحيح بخاري کي د لمانځه په ډېرو برخو کي هغه روايات نه مومي چي دوی پرې عمل کوي!!

آيا د روايت د صحت لپاره يوازي د راوي اعتبار او عدالت کافي دئ؟

محدثين او فقهاء د رواياتو د سند په ارتباط په مجموع کي په دوو ډلو وېشل شوي: ۱- هغه چي وايي يوازي متواتر روايات تبيين ته ضرورت نه لري اما آحاد؛ که غريب دئ، که عزيز او که مشهور؛ تبيين ته ضرورت لري؛ او له دليل او شاهد پرته به نه منل کېږي. امام ابو حنيفه، امام شافعي او ډېری محدثين په همدې رأی دي. ۲- هغه ډله چي وايي د راوي عدالت او اعتبار کافي دئ چي آحاد روايات معتبر وګڼل شي. امام بخاري او ابن تيميه، اهل ظاهر او هغه چي ځان ته اهل حديث وايي؛ په دې ډلي کي دي؛ دوی د خپلي ادعاء د ثابتولو لپاره په

دې آيت استناد کوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ۝٦ الحجرات

اې هغو چې ايمان ئې راوړى! کله چې کوم فاسق کوم خبر درته راوړي نو ښه څېړنه وکړئ؛ داسي نه چې کوم قوم ته په ناپوهۍ سره تاوان ورسوئ او بيا پر هغه څه پښېمان شئ چې ومو کړل.

يعني د هر چا په خبري باور مه کوئ، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د خبر راوړونکی د اعتماد وړ نه وي، له سوابقو ئې معلومېږي چې ديني ضوابطو ته ملتزم انسان نه دئ، له اخلاقي پلوه کمزوری دئ، مخصوصاً چې د ده خبر د يوه قوم او ډلي په اړه وي، داسي نه چې کوم قوم ته په ناپوهۍ سره تاوان ورسوئ او بيا پر هغه څه پښېمان شئ چې ومو کړل.

د دې آيت د شأن نزول او يوه مصداق په اړه په رواياتو کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وليد بن عقبه رضى الله عنه د بني المصطلق قبيلې ته ولېږو چې د دوی د زکات مالونه مدينې ته راانتقال کړي، کله چې سيمي ته ورسېدو د کومي غلطي اطلاع يا هسي اندېښني له کبله ووېرېدو او له خلکو سره له ليدو پرته مدينې ته ستون شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل: د زکات له ورکړي ئې ډډه وکړه او غوښتل ئې ما ووژني!! رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې خبري په اورېدو سره غوښتل د دې قوم د تأديب لپاره يوه ډله ولېږي، خو همدا مهال د دې قبيلې مشر حارث بن ضِرار د ام المؤمنين جويريه رضى الله عنها پلار د يوه پلاوي په مشرۍ مدينې ته راغی او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل: موږ وليد بن عقبه ليدلی نه دئ څه دا چې د زکات له ورکړي مو انکار کړی وي يا د ده د وژلو اراده مو کړې وي، موږ پر خپل ايمان او تعهد ولاړ يو او د زکات له ورکړي انکار نه

کوو!! په دې آیتونو کې دغې ښېښې ته اشاره شوې او په دې سره مؤمنانو ته یوه مهمه لارښوونه شوې چې په داسې حساسو او مهمو قضایاوو کې باید له ډېر احتیاط او تأمل کار واخلي، دغې الهي لارښوونې ته په پام سره فقهاءو ویلي چې په داسې قضایاوو کې چې کوم شرعي حکم یا پر چا کوم حق ترې ثابتېږي؛ د فاسق شهادت د اعتبار وړ نه دئ، د همدې الهي لارښوونې له مخې محدثین د راویانو جرح و تعدیل ضروري ګڼي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د احادیثو په اړه یوازې پر داسې راویانو اعتماد وشي چې ثقه او د اعتبار وړ وي، د راویانو دیني، اخلاقي، علمي او ذهني حالت څېړل او د دې له مخې دا حکم کول چې د ده روایت د اعتماد وړ دئ که نه؛ د همدې جرح او تعدیل بنسټ دئ. د دې لارښوونې له مخې حکومت ته جائز نه دي چې د یوه فرد یا جماعت په خلاف د داسې مخبر او اطلاع ورکوونکي په وینا کوم اقدام وکړي چې د سیرت او سلوك له پلوه د اعتبار او اعتماد وړ نه وي.

دوهمه ډله له دې آیت دا مطلب اخلي چې که راوي او خبر راوړونکی فاسق نه وي؛ نو بیا ئې خبر تبیین ته ضرورت نه لري؛ راشئ وګورو چې دا تفسیر او تعبیر څومره دقیق او سم دئ؟؛ د آیتونو د تفسیر لپاره به تر هر څه وړاندې قرآن ته رجوع کوو؛ ځکه قرآن په خپله داسې دئ چې یوه برخه ئې بله تشریح او توضیح کوي؛ په قرآن کې د دې واضح او څرګند تفسیر مومو؛ هلته چې فرمایي:

لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ﴿١٣﴾ النور

ولې ئې پر دې (ادعاء) څلور شاهدان رانه وستل، نو کله چې ئې شاهدان رانه وستل نو همدا دوی د الله په وړاندې دروغجن دي.

دا آیت د هغو په اړه دئ چې پر عائشې رضي الله عنها ئې تور لګولی وو؛ او الله تعالی د هغې د برائت لپاره د النور سوره نازله کړه؛ او د تور

لګوونکو په اړه ئې وفرمایل: ولې ئې پر خپلې ادعاء څلور شاهدان وړاندې نه کړل؟؛ د الهي لارښوونو له مخې خو هغه څوك دروغجن ګڼل کېږي چې د داسې ادعاء تر څنګ څلور شاهدان وړاندې نه کړي، د الهي لارښوونو په اړه د التزام او تعهد غوښتنه دا ده چې هغه تور لګوونکي دروغجن وګڼئ چې څلور شاهدان ونه لري.

د النور سورې له ۱۳ آیت په واضح توګه معلومېږي چې دا آیت د النساء سورې تر ۱۵ آیت؛ چې د زنا د اثبات لپاره ئې د ٤ شاهدانو شهادت شرط ګڼلی؛ وروسته نازل شوی؛ او د النور سورې ۱۳ آیت د الحجرات سورې تر ٦ آیت وړاندې نازل شوی؛ او له دې معلومېږي چې هغه خبرلوڅ د قرآن له نظره فاسق او کاذب دئ چې له شاهد پرته داسې خبرونه انتقالوي چې که له غور او دقت پرته او د خبر له مخې اقدام وشي؛ نو نتیجه به ئې ندامت وي؛ که څه هم دی په دې خبر کې رښتینی او صادق وي؛ همداسې لکه چې قرآن هغه څوك د فاسق په نامه یاد کړی چې له شاهد پرته پر چا د زنا تور ولګوي؛ که څه هم په خپلې وینا او ادعاء کې رښتینی وي.

د زنا د اثبات لپاره د څلورو شاهدانو شرط؛ د نورو مهمو قضیاوو لپاره یوه بېلګه او مثال دئ؛ د هغوی د تصدیق او منلو لپاره به هم؛ لږ تر لږه د دومره شاهدانو شهادت ضروري ګڼو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د کومې وینا نسبت؛ هغه هم د احکامو او عقائدو په ارتباط؛ تر دې زیات شواهد او ګواهان ایجابوي؛ که په بیع او قرض کې؛ د دوه او درې شاهدانو حضور شرط وي؛ څنګه به رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوه راوي له لورې منسوب روایت د منلو وړ ګڼو؟ د دې قرآني لارښوونې له مخې خو د راویانو په هره طبقه کې هر راوي باید دوه شاهدان وړاندې کړي چې روایت او ادعاء ئې د منلو وړ شي. متأسفانه ځینې د فرد واحد روایت په دې دلیل او له شاهد پرته؛ د اعتبار وړ ګڼي چې راوي ئې ثقه دئ؛ دا په داسې حال کې چې د شاهدانو دا شرائط؛ تر

موږ وړاندي صادقو او ثقه صحابه وو ته راجع وو؛ د هغوی ادعاء په هغه صورت کي منل کېده چي شاهدان ولري؛ مگر د قرآن دا لارښوونه ئې له نظره نه ده تېره شوې چي وايي:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴿٤﴾ النور

او هغه چي پاك لمني ښځي تورنوي، بيا څلور شاهدان نشي راوړی، اتيا درې ئې ووهئ او هيڅکله ئې گواهي مه قبلوئ؛ او همدا دوی فاسقان دي.

صحابه وو ته ويل شوي: که له تاسو څوك پاك لمني ښځي تورني کړي، خو څلور شاهدان وړاندي نه کړی شي؛ اتيا درې به وهل کېږي او له دې وروسته به ئې هيڅکله گواهي نه منل کېږي؛ د الهي معيارونو له مخي دا خلك فاسقان دي؛ نه ئې صداقت او رښتين والی له سزا ژغورلی شي او نه روښانه ماضي او نه اعتبار او ثقه والی.

په دې آيت کي د هغه تور په اړه دا حکم راغلی چي په زنا پوري اړه لري، نه هر تور، د نورو غلطو تورونو سزا د قاضي رأيي ته پرېښودل شوې.

که څه هم په دې آيت کي د نارينه له لوري پر پاك لمني ښځي د تور خبره شوې، خو په دې حکم کي هغه ښځه هم شامله ده چي په کوم پاك لمني نارينه يا ښځي د زنا تور لگوي او هغه نارينه هم چي په کوم نارينه دا تور لگوي.

له صحابه وو هم څلور شاهدان غوښتل شوي او له شاهدانو پرته ئې سزا همغه ده چي په پورتني آيت کي بيان شوې. او هغه چي پر خپلي مېرمني د زنا تور پوري کړي؛ په اړه ئې دا لارښوونه شوې:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ

أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ۝٦ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ۝٧ النور

او هغه چي خپلي مېرمني تورنوي په داسي حال کي چي له ځان پرته (نور) شاهدان نه لري نو د يوه ئې گواهي دا ده: څلور ځلي الله شاهد نيول چي دی يقيناً له رښتينو دئ او پنځم ئې دا چي که دی له دروغجنو وي نو پر ده دي د الله لعنت وي.

څوك چي خپله مېرمن په زنا تورنوي په داسي حال کي چي له ځان پرته بل شاهد نه لري؛ نو د قاضي په وړاندي به د ده گواهي داسي وي چي څلور ځلي به الله تعالی پر دې خبري شاهد نيسي چي دی په خپلي ادعاء کي رښتينی دئ او پنځم ځل به وايي: که دی له دروغجنو وي نو پر ده دي د الله لعنت وي.

دلته څلور ځلي الله تعالی شاهد نيول د څلورو شاهدانو د شهادت پر ځای او د هغوی د بدل او عوض په توگه راغلي، او دا خبره کول چي که دی دروغجن وي نو پر ده دي د الله تعالی لعنت وي؛ د تأکيد په توگه راغلي.

دا آيت چي حکم ئې عام دئ؛ لومړی صحابه وو ته او بيا نورو ته راجع دئ؛ صحابي که هر څومره ثقه وي؛ له شاهدانو پرته ئې ادعاء نه منل کېږي؛ نو دا استدلال کاملاً ضعيف او د الهي لارښووني خلاف دئ چي وايي: د ثقه راوي ادعاء له شاهد پرته هم منل کېدی شي.

هغه چي يوازي د سند صحت او د راوي اعتبار؛ د روايت د صحت لپاره کافي گڼي او بيا د شاهد ضرورت هم منتفي بولي؛ يقيناً چي مضاعفه اشتباه کوي؛ اساساً بايد د روايت متن ته په پام سره؛ هم د راوي په اړه قضاوت وشي او هم د روايت په اړه؛ موږ د قرآن په څېر دقيق، مبين او مفصل؛ (تفصيلاً لکل شيء) لارښود او ملاك په واك کي لرو؛ له مخي ئې په آسانۍ او لږ دقت سره د روايت په اړه قضاوت کولی شو؛ که ئې له

قرآن سره مطابقت درلود؛ صحيح دئ او كه تعارض لري نو له شك پرته ناصحيح دئ. يو مثال ئې د بخاري لومړی روايت دئ چې عمر رضي الله عنه ته منسوب دئ؛ داسې چې په يوې خطبې کې ئې وړاندې کړی؛ واضح ده چې ډېرو به اورېدلی وي؛ امام بخاري د راويانو له شپږو سلسلو دولس ځلې راوړی؛ تر منځ ئې ډېر توپيرونه دي؛ لوستونکی نه پوهېږي چې په دغو ۱۲ رواياتو کې؛ کوم يوه د رسول الله صلی الله عليه و سلم اصلي کلام او وينا له هيڅ تغيير پرته منعکس کړې؛ کوم الفاظ ئې په کوم ترتيب کارولي؛ د حديث په اصلي مطلب د سم او دقيق پوهېدو لپاره ضروري او لابدي ده چې الفاظ په بشپړ امانت سره انتقال او د لوستونکي مخې ته کښېښودل شي. كه د محدث تركيز پر متن وي نو ځان به مجبور ګڼي چې يوازې يو روايت زموږ مخې ته کښېږدي؛ نه لس دولس؛ او كه ئې تركيز او بسنه پر راوي وي نو نتيجه به ئې همدا وي چې له بېلو بېلو راويانو بېل بېل روايات راوړل شي؛ په رواياتو کې د تعارض او اختلاف لويه او اساسي وجه همدا ده؛ دغې ستونزې امت له اوسني تفرق او اختلاف سره مخامخ کړی.

دا خبره هم بحث ايجابوي چې د احاديثو د نه ليكلو په اړه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د جدي او مكرري لارښوونې سره سره نن د احاديثو ډېر كتابونه لرو؛ له دې كتابونو سره به څه كوو؟! ځواب دا دئ: كاش د قرآن او حديث په اړه د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لارښوونې سره سم عمل شوی وی؛ ټول اهتمام او توجه قرآن ته مبذول شوې وی او حديث د قرآن د شرح او تفسير په ضمن کې راغلی وی؛ نه په بېلو بېلو كتابونو کې؛ او يوازې هغه روايات راوړل شوي وی چې له قرآن سره مطابقت لري؛ نه هغه روايات چې په قرآن کې هيڅ شاهد ورته نه مومو؛ او نه هغه روايات چې يا له قرآن سره تعارض لري يا له نورو رواياتو سره؛ په امت کې د تفرق او ژور اختلاف يوه لويه وجه همدغه روايات دي. د حديث اوسنی كتابونه مجدد تنقيح او توحيد ته ضرورت

لري؛ بايد د قرآن په تله وتلل شي؛ او صحيح روايات په يوه داسي كتاب كي راغونډ شي چي په هغه كي نه غير ضروري تكرار وي او نه متعارض روايات.

اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَأَلْهِمْنَا اتِّبَاعَهُ، وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا، وَأَلْهِمْنَا اجْتِنَابَهُ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# ۳۳ كتاب: البيوع (پېر پلور)

## ۱ باب: د الله تعالى دا قول: ((فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ. . . ))

تر دې وړاندي چي د باب اړوند روايت وڅېړو؛ ښه به وي چي دا آيت او يو ترې وړاندي له نظره تېر کړو؛ آيتونه دا دي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝٩ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝١٠ الجمعة

اې هغو چي ايمان ئې راوړی! کله چي د جمعې د ورځي د لمانځه أذان وشي نو د الله د ذکر لوري ته تلوار وکړئ او پېر پلور پرېږدئ؛ همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ؛ او کله چي لمونځ پای ته ورسېږي په ځمکي کي خواره شئ او د الله د فضل لټه وکړئ او الله زيات ياد کړئ چي بريالي شئ.

په دې مبارکو آيتونو کي الله تعالى د څو کارونو امر کړی او همدا ئې د انسان د فلاح او سعادت ضامن ګڼلي:

- کله چي د جمعې د ورځي د لمانځه أذان وشي نو د الله د ذکر لوري ته تلوار وکړئ.
- د أذان له اورېدو سره سم پېر پلور او نور ورځني کارونه پرېږدئ؛ همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ.

- كله چي لمونځ پای ته ورسېږي په زمكي کې خواره شئ او د الله د فضل تر لاسه کولو لټه وکړئ.
- او الله زيات ياد كړئ چي بريالي شئ.

لکه چي گورئ دلته كه له يوې خوا مؤمنانو ته د لمانځه او د الله د زيات يادولو لوري ته د تلوار او اهتمام سپارښتنه شوې او د جمعې د أذان له اورېدو بيا د لمانځه تر پای له تجارت او نورو کارونو لاس اخيستلو او جومات ته د تگ امر ورته شوی؛ له بلې خوا ورته امر شوی چي له لمانځه وروسته خواره شئ او د حلال رزق تر لاسه کولو په لټه کې شئ؛ دا ښيي چي حلال رزق لټول د لمانځه په څېر يو عبادت دئ او الله تعالى موږ پرې مكلف كړي يو؛ الله تعالى هغه عابد بنده خوښوي چي د حلال رزق لټه كوي، بل ته ئې د احتياج لاس اوږد نه وي، د نورو د اوږو پېټی نه وي، له حلالو لارو روزي تر لاسه كوي، له هغه څه چي تر لاسه كوي ئې يوه برخه د الله په لار کې لگوي او د مسکینانو لاس نيوی كوي.

د جمعې د لمانځه په اړه دا خبري هم په پام کې ولرئ: د جمعې لمونځ په همدې ورځ د ماسپښين د لمانځه ځای ناستی دئ، پر هغو فرض دئ چي ورته حاضرېدی شي، مېرمني تري معافې دي، وخت ئې همغه د ماسپښين د لمانځه وخت دئ، د ډېر پلور حرمت د لومړي أذان له اورېدو سره سم پيل كېږي او د لمانځه تر پای پوري دوام کوي، که چا په دې وخت کې ډېر پلور وكړ د گناه مرتكب شوی؛ خو مبايعه ئې باطله او فاسده نه گڼل كېږي، د جمعې لمونځ د هر كلي په جومات کې نه بلکې د ښار په لوی او جامع جومات کې کېدی شي؛ د دې لمانځه يو حكمت دا دئ چي ډېر خلك په يوه ځای کې راغونډ شي، البته د لمونځ كوونكو د شمېر زياتوالی ئې شرط نه دئ؛ د امنيت شتون ئې يو شرط دئ؛ د مسلمانانو امير يا د هغه نائب يا هغه چي د اسلامي حكومت له لوري ټاكل كېږي؛ بايد د دې لمانځه امامت وكړي، په هر هغه چا دا لمونځ

فرض ګرځي چي أذان ئې اوري که څه هم له ښار بهر اوسي؛ په داسي ځای کې تر سره کېدی شي چي هر چا ته د ورتلو اجازه وي، مسافر، بندي، داسي ناروغ او معذور چي جومات ته نه شي تللی، هغه ړوند چي په خپله جومات ته نه شي تللی او لارښود نه مومي، هغه چي د دښمن له لوري د خطر احساس کوي، يا د باران او چکړو له کبله جومات ته تګ ورته ګران وي؛ دوی ټول معذور او معاف ګڼل کېږي، له چا چي د جمعې لمونځ فوت شي په هغي سيمي کې د ماسپښين لمونځ په جمع ورته مکروه دئ چي خلك ئې د جمعې پر لمانځه مکلف وي؛ دوه خطبې ئې د لمانځه د صحت لپاره شرط دئ؛ کله چي امام خطبې ته ودرېږي؛ بيا د خطبې تر پای هر ډول خبري او حتی لمونځ کول ممنوع دي.

٩٨٤ ـ عَنْ عَبْدِالرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ آخَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنِي وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ، فَقَالَ سَعْدُ بْنُ الرَّبِيعِ: إِنِّي أَكْثَرُ الأَنْصَارِ مَالاً فَأَقْسِمُ لَكَ نِصْفَ مَالِي، وَانْظُرْ أَيَّ زَوْجَتَيَّ هَوِيتَ نَزَلْتُ لَكَ عَنْهَا فَإِذَا حَلَّتْ تَزَوَّجْتَهَا، قَالَ: فَقَالَ لَهُ عَبْدُالرَّحْمَنِ: لا حَاجَةَ لِي فِي ذَلِكَ، هَلْ مِنْ سُوقٍ فِيهِ تِجَارَةٌ؟ قَالَ: سُوقُ قَيْنُقَاعٍ، قَالَ: فَغَدَا إِلَيْهِ عَبْدُالرَّحْمَنِ فَأَتَى بِأَقِطٍ وَسَمْنٍ، قَالَ: ثُمَّ تَابَعَ الْغُدُوَّ، فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ عَبْدُالرَّحْمَنِ عَلَيْهِ أَثَرُ صُفْرَةٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَزَوَّجْتَ»؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «وَمَنْ»؟ قَالَ: امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ، قَالَ: «كَمْ سُقْتَ»؟ قَالَ: زِنَةَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ نَوَاةً مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ». (بخاری: ٢٠٤٨)

٩٨٤ - له عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي موږ مديني ته راغلو رسول الله صلى الله عليه و سلم زما او سعد بن رَبيع تر منځ د وروری تړون وکړ؛ بيا سعد بن ربيع وويل: زه د

انصارو تر ټولو شتمن یم؛ اوس خپل نیمایي مال تا ته درکوم او وګوره چي زما له دوو مېرمنو کومه یوه خوښوې؛ ستا لپاره ترې تېرېږم؛ کله چي له عدت ووځي واده ورسره وکړه. راوي وایي: عبدالرحمن بن عوف ورته وویل: دې ته ضرورت نه لرم؛ آیا داسي بازار شته چي سوداګري په کي کېږي؟ وئې ویل: هو؛ د قَيْنُقَاع بازار؛ وایي: سهار عبدالرحمن ورغی؛ او څه کورت او غوړي ئې راوړل؛ بیا ئې همداسي هر سهار تګ ته دوام ورکړ؛ لا لږ وخت نه وو پرې تېر شوی چي عبدالرحمن په داسي حال کې راغی چي د واده عطر زېړ أثر (بوی یا رنګ) پرې ښکارېدو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: «واده دي کړی»؟؛ وئې ویل: هو؛ وئې فرمایل: «له چا سره»؟ وئې ویل: د انصارو له یوې مېرمني سره؛ وئې فرمایل: ((څومره مهر دي ورکړ؟)) وئې ویل: د یوې خرما یا د هغې د زړي په اندازه سره زر؛ یا د سرو زرو یوه دانه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: ((ولیمه برابره کړه که څه هم یو پسه وي)).

## ۲ باب: حلال او حرام څرګند دي او تر منځ ئې شکي شیان دي

٩٨٥ ـ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْحَلالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَةٌ، فَمَنْ تَرَكَ مَا شُبِّهَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ، كَانَ لِمَا اسْتَبَانَ أَتْرَكَ، وَمَنِ اجْتَرَأَ عَلَى مَا يَشُكُّ فِيهِ مِنَ الإِثْمِ أَوْشَكَ أَنْ يُوَاقِعَ مَا اسْتَبَانَ، وَالْمَعَاصِي حِمَى اللَّهِ، مَنْ يَرْتَعْ حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ». (بخاری: ٢٠٥١)

٩٨٥ – له نعمان بن بشیر رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((حلال شیان څرګند دي او حرام شیان څرګند دي؛ او د دواړو تر منځ څه شیان شکي دي؛ که څوک د ګناه هغه څه پرېږدي چي دی ئې شکمن کړی؛ نو د هغه څه به ډېر پرېښودونکی وي چي څرګند وي؛ او که څوک د هغو شیانو په اړه جرأت کوي چي په

هغه کې د ګناه شبهه وي؛ نو کېدی شي په څرګنده ګناه کې ولوېږي؛ ګناهونه د الله تعالی ممنوعه پولې دي؛ څوک چې د دې پولو خوا ته څري؛ کېدی شي په کې ننوځي)).

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۵۲ - ۲۰۵۱ -؛ دوه پنځوسم روایت د حکمة البارئ لومړي جلد کې راغلی او تر دې مفصل او جامع دیٔ؛ د دواړو لومړی راوي نعمان بن بشیر دیٔ؛ روایت دا دیٔ:

۵۲ - عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " الحَلاَلُ بَيِّنٌ، وَالحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لاَ يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى المُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ: كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ، أَلاَ وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلاَ إِنَّ حِمَى اللَّهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ، أَلاَ وَإِنَّ فِي الجَسَدِ مُضْغَةً: إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ، أَلاَ وَهِيَ القَلْبُ "

له نعمان بن بشیر رضي الله عنه روایت دیٔ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې اورېدلي چې فرمایل ئې: (هم حلال څرګند دي او هم حرام څرګند دي؛ او د دواړو تر منځ داسې مشبهات (د شبهې وړ شیان) دي چې ډېر خلک ئې نه پېژني؛ چا چې له شبهاتو ځان وساتو نو هغه د خپل دین او عزت په اړه احتیاط کړی (خپل دین او عزت ئې ساتلی) او څوک چې په شبهاتو کې ولوېد؛ هغه داسې شپانه ته ورته دیٔ چې (خپله رمه) د ساتل شوي (ممنوعه) پټي خوا کې څروي، احتمال لري چې په کې ورګډې ئې کړي، پام چې هر پاچا ممنوعه پولې او حدود لري او پام چې د الله تعالی ممنوعه پولې د ده په زمکې کې د ده محارم (هغه څه چې ده حرام کړي) دي؛ او پوه شئ چې په بدن کې داسې یوه ټوټه غوښه ده چې که روغه وي نو ټول بدن روغ وي؛ او که دا فاسده او خرابه شي

نو ټول بدن خراب او فاسد شي؛ او پوه شئ چي دا ټوټه غوښه زړه دئ.)

دلته حلال، حرام او مشبهات په ډېر ښکلي او جالب انداز سره بيان شوي، حلال او حرام ئې داسي څرګند ګڼلي چي تر منځ ئې واضح او څرګنده پوله ده؛ خو د دوی تر منځ د همدې پولي خوا ته داسي څه دي چي انسان د هغه د حل او حرمت په اړه په شك کي لوېږي؛ انسان ته په کار ده چي له دې پولي ځان لرې لري وساتي، که دا کار ونه کړي نو کېدی شي له پولي واوړي او له حدودو تېری وکړي؛ کوم شپون چي خپله رمه د پټي خوا ته پيايي؛ ډېر ځلي ئې رمه پټي ته ننوځي. په قرآن کي به تاسو وګورئ چي وايي: ګناه ته مه نژدې کېږي؛ يعني تر هغه ځايه مخکي مه درومئ چي که يو ګام بل واخلئ نو په ګناه کي پرېوځئ.

## ۳ باب: د مشبهاتو بيان

٩٨٦ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِى وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ أَبِى وَقَّاصٍ أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّى فَاقْبِضْهُ قَالَتْ: فَلَمَّا كَانَ عَامَ الْفَتْحِ أَخَذَهُ سَعْدُ بْنُ أَبِى وَقَّاصٍ وَقَالَ: ابْنُ أَخِى قَدْ عَهِدَ إِلَىَّ فِيهِ، فَقَامَ عَبْدُ ابْنُ زَمْعَةَ فَقَالَ: أَخِى وَابْنُ وَلِيدَةِ أَبِى وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ، فَتَسَاوَقَا إِلَى النَّبِىِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ابْنُ أَخِى كَانَ قَدْ عَهِدَ إِلَىَّ فِيهِ، فَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِى وَابْنُ وَلِيدَةِ أَبِى وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ» ثُمَّ قَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ». ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ زَوْجِ النَّبِىِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «احْتَجِبِى مِنْهُ»، لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ بِعُتْبَةَ، فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِىَ اللَّهَ. (بخارى: ٢٠٥٣)

٩٨٦ - د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني؛ عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: عُتْبَه بن ابي وقاص خپل ورور سعد بن ابي

وقاص ته وصيت وکړ چي د زَمْعَه د وينځي زوی زما زوی دئ؛ هغه ترې واخله. عائشه رضي الله عنها وايي: د مکې د فتحي په کال سعد بن ابي وقاص هغه هلک راونيو او وئې ويل: دا زما وراره دئ چي ورور مي د هغه په اړه وصيت راته کړی؛ عبد بن زَمْعَه پورته شو او وئې ويل: دا زما ورور دئ؛ دا زما د پلار د وينځي زوی دئ؛ په داسي حال کي ترې زېږېدلی چي زما له پلار سره وه؛ بيا دواړو يو بل رسول الله صلی الله عليه و سلم ته بوت؛ سعد وويل: يا رسول الله! دا زما وراره دئ؛ ورور مي په دې اړه وصيت راته کړی؛ عبد بن زمعه وويل: دا زما ورور او زما د پلار د وينځي زوی دئ؛ د هغه پر بستر پيدا شوی؛ نو نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((اې عبد بن زمعه! دا ستا دئ))؛ ورپسې ئې وفرمايل: ((ماشوم د بستر د خاوند (مېړه يا مالک) وي او د زنا کار لپاره کاڼي (هيڅ څه)؛ وروسته ئې خپلي مېرمني سوده بنت زمعه ته وفرمايل: ((له ده پرده کوه))؛ دا ځکه چي هغه ئې عتبه ته ورته وموند؛ نو تر هغه ورسره مخامخ نه شوه چي وفات شوه.

دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۰۵۳ - ۲۵۳۳ - ۲۷٤۵ - ٤۳۰۳ - ٦٧٤٩ - ٧١٨٢ -

په روايت کي د دې وضاحت نه دئ شوی چي دا د کوم وخت پېښه ده؛ د عتبه بن ابي وقاص تر مسلمانېدو وړاندي که وروسته؛ او دا چي ولي ئې عبد بن زمعه ته ويلي دا ماشوم ستا دئ؛ آيا معنی ئې دا ده چي دا ستا ورور دئ او که دا چي د مرييتوب د دود له مخي د وينځي اولاد د مالك غلامان ګڼل کېږي؛ نو په تا پوري تعلق لري؟

شارحينو د دې وضاحت کړی چي دا د جاهليت د دور پېښه وه؛ ماشوم عتبه ته ورته وو؛ خو رسول الله صلی الله عليه و سلم عبد بن زمعة ته ځکه سپارلی چي د وينځي زوی د مالك ګڼل کېږي؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ سوده رضي الله عنها ته ځکه ويلي ((له ده پرده کوه))؛ چي هغه ئې عتبه ته ورته وموند؛ او سوده تر هغه ورسره

مخامخ نه شوه چي وفات شوه.

د دې روايت په اړه يوازي دغه توجيه معقوله برېښي؛ خو دا پوښتنه بې ځوابه پاته کېږي چي په دې کي د شك او شبهې ځای کوم دئ؟ ولي روايت د شبهاتو تر باب لاندي راغلی؟ مگر دا چي ووايو: د شباهتونو له مخي قضاوت؛ ظني او غیر يقيني وي؛ له همدې امله رسول الله صلی الله عليه و سلم سوده ته ويلي: ((له ده پرده کوه)). متأسفانه په بخاري کي دا وضاحتونه نه مومو.

## ٤ باب: څوک چي وسوسې مشبهات نه بولي

٩٨٧ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ قَوْمًا قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ قَوْمًا يَأْتُونَنَا بِاللَّحْمِ لا نَدْرِي أَذَكَرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ أَمْ لا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَمُّوا اللَّهَ عَلَيْهِ وَكُلُوهُ». (بخاری: ٢٠٥٧)

٩٨٧ -عائشه رضي الله عنها وايي: ځينو خلکو وويل: يا رسول الله! ځيني خلک غوښه راته راوړي او موږ نه پوهېږو چي د حلالولو په وخت ئې د الله تعالی نوم پرې ياد کړی؛ که نه؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((بسم الله پرې ووايئ او وئې خورئ)).

دا روايت په بخاري کي همدا يو ځل راغلی؛ او يوازي په بخاري کي راغلی په بل هيڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ عمدة القاري ليکلي: دا هم يو له هغو رواياتو دئ چي امام بخاري په کي منفرد او يوازي دئ؛ او د دې معنی دا ده چي له امام بخاري پرته بل هيڅ محدث د راوړلو وړ نه دئ گڼلی؛ قرآن په صراحت سره فرمايي:

وَلا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ... ﴿١٢١﴾ الأنعام

هغه مه خورئ چي د ذبح په وخت کي د الله نوم نه وي پرې ياد شوی؛ ...

البته هغه ترې مستثنی ده چي سهواً او په هېره بسم الله نه وي

پرې ويل شوې. ځيني د دې روايت په اړه وايي چي دا د اسلام په ابتداء کې او تر هغه وو چي دا آيت نازل شو؛ او ځيني وايي: د مسلمان په اړه حسن ظن او دا باور چي د ذبح په مهال حتماً د الله نوم يادوي؛ کافي او جائزه ده چي په بسم الله ويلو سره وخوړل شي.

دا هم په پام کې ولرئ چي په بخاري کې ډېر داسي روايات شته چي د دغه روايت په څېر يوازي په بخاري کې راغلي او نورو کتابونو د راوړلو وړ نه دي ګڼلي؛ ٤١٤ ئې داسي دي چي د ده شاګرد امام مسلم هم په خپل کتاب کې نه دي راوړي؛ او د حديث نورو کتابونو تر دې هم زيات شمېر روايات نه دي راوړي؛ هغو ته حيران يو چي مبالغه کوي او وايي: ټولو محدثينو په دې اجماع کړې چي د بخاري ټول روايات صحيح دي؛ په داسي حال کې چي د يوه محدث نوم هم نشي اخيستلی؛ چا چي تر امام بخاري رحمه الله وروسته د حديث کتابونه ليکلي؛ يوه هم دا خبره نه ده کړې او عملاً ئې صحيح بخاري کافي نه ده ګڼلې او بېل کتاب ئې ليکلی؛ امام مسلم همدا کار کړی او ټولو نورو محدثينو همدا کار کړی.

## ٥ باب: څوک چي د دې پروا نه کوي؛ شتمني له کومه مومي

٩٨٨ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ». (بخاری: ٢٠٥٩)

٩٨٨ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((په خلکو به داسي زمانه راشي چي څوك به د دې پروا نه لري چي څه ئې تر لاسه کړي؛ له حلال دي که له حرام)).

دا روايت هم په بخاري کې يو ځل راغلی؛ او د حديث په نورو معروفو کتابونو کې نه دئ راوړل شوی؛ د صحاح سته د نورو کتابونو په شمول.

## ٦ باب: په وچه کي سوداګري

٩٨٩ ـ عَنِ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ وَزَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ قَالا: كُنَّا تَاجِرَيْنِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَسَأَلْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّرْفِ. فَقَالَ: «إِنْ كَانَ يَدًا بِيَدٍ فَلا بَأْسَ، وَإِنْ كَانَ نَسَاءً فَلا يَصْلُحُ». (بخاری: ٢٠٦١)

٩٨٩ - له براء بن عازب او زید بن ارقم روایت دئ چي وايي: موږ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي تاجران وو؛ له رسول الله صلی الله علیه و سلم مو د صرف (سره او سپین زر یو په بل بدلول)؛ په اړه پوښتنه وکړه؛ وئې فرمایل: ((که لاس په لاس وي پروا نه لري؛ خو که نسیه (په ځنډ سره) وي؛ نو سمه نه ده)).

دا روایت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ په ځینو نورو کتابونو کي هم راغلی خو هغوی ټولو په دې صیغه راوړی: «إِنْ كَانَ يَدًا بِيَدٍ فَلَا بَأْسَ بِهِ؛ وَإِنْ كَانَ نَسِيئَةً فَلَا يَصْلُحُ»:

د دې معنی دا ده چي که سکه لاس په لاس بدلېږي؛ د بازار د عام او معمول نرخ مطابق؛ نو اشکال نه لري او سود نه ګڼل کېږي؛ خو که په تبادله کي ئې ځنډ رامنځته کېږي؛ دا ځکه جائز نه دئ چي د هري سکې په بهاء کي د تغییر امکان او احتمال شته؛ یوه ته د ګټي او بل ته د تاوان احتمال؛ نو ځکه شریعت هغه جائز نه ګڼي.

خو دا روایت په وچه کي د تجارت تر باب لاندي راوړل شوی؛ په داسي حال کي چي په روایت کي د وچي تجارت هیڅ یادونه نه ده شوې. د مسلم او ترمذي په څېر کتابونو کي نه دئ راوړل شوی.

## ٧ باب: د تجارت لپاره سفر

٩٩٠ ـ عَنْ أَبِى مُوسَى الأَشْعَرِىَّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أنه اسْتَأْذَنَ عَلَى عُمَرَ بْنِ

الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ، وَكَأَنَّهُ كَانَ مَشْغُولاً فَرَجَعَ أَبُو مُوسَى، فَفَرَغَ عُمَرُ، فَقَالَ: أَلَمْ أَسْمَعْ صَوْتَ عَبْدِاللَّهِ بْنِ قَيْسٍ ائْذَنُوا لَهُ، قِيلَ: قَدْ رَجَعَ، فَدَعَاهُ فَقَالَ: كُنَّا نُؤْمَرُ بِذَلِكَ، فَقَالَ: تَأْتِينِي عَلَى ذَلِكَ بِالْبَيِّنَةِ، فَانْطَلَقَ إِلَى مَجْلِسِ الأَنْصَارِ، فَسَأَلَهُمْ. فَقَالُوا: لا يَشْهَدُ لَكَ عَلَى هَذَا إِلَّا أَصْغَرُنَا أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، فَذَهَبَ بِأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، فَقَالَ عُمَرُ: أَخَفِيَ هَذَا عَلَيَّ مِنْ أَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَلْهَانِي الصَّفْقُ بِالأَسْوَاقِ، يَعْنِي الْخُرُوجَ إِلَى تِجَارَةٍ. (بخاری: ۲۰٦۲)

۹۹۰ – له ابو موسی اشعري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: له عمر رضي الله عنه ئې د لیدو اجازه وغوښته؛ خو اجازه ورنکړل شوه؛ داسي ښکارېده چي هغه مصروف وو؛ نو ابو موسی ستون شو؛ نو عمر فارغ شو او وئې ویل: آیا د عبدالله بن قیس غږ مي نه دئ اورېدلی؛ اجازه ورکړئ؛ وویل شول: هغه ستون شوی؛ نو راوئې غوښت او ابو موسی ورته وویل: موږ په همدې ګمارل کېدو؛ نو ورته وئې ویل: د دې خبري د اثبات لپاره دلیل راوړه. نو ابو موسی روان شو او د انصارو یوه مجلس ته ورغی او ترې وئې پوښتل؛ هغوی وویل: په دې کي به ستا لپاره یوازي زموږ تر ټولو کشر؛ ابو سعید خدري شاهدي وایي، نو ابو سعید خدري ئې له ځان سره بوت؛ عمر وویل: آیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا امر له ما پټ پاته شوی وو! په بازارونو کي پېر پلور مصروف کړی وم!!

دا روایت په بخاري کي دوه ځلي په دغو شمېرو ۲۰٦۲ - ۷۳۵۳ او یو ځل بې شمېرې راغلی. دوو نورو کتابونو سنن ابي داؤد او مسند البزار کي هم راغلی خو په إسنادو کي ئې له ملاحظاتو سره؛ په مسند البزار کي راغلي: وَلَا نَعْلَمُ رَوَى عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ عَنْ أَبِي مُوسَى إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ.

د سنن ابی داؤد په روایت کي د ابن جریج یادونه شوې چي په اړه

ئې ويل شوي: قال البخاري: لا يُتَابَع على حديثه. او معنى ئې دا ده: وصف للراوي يدل على ضعف حفظه، وتفرده برواية أحاديث لا يشاركه فيها غيره من الرواة: د راوي هغه وصف چي ښيي حفظ ئې ضعيف دئ، په روايت کي يوازي دئ او بل راوي ورسره شريك نه دئ.

په إسنادو کي د ضعف تر څنګ؛ په متن کي هم کافي ستونزي لري؛ تر دې وړاندي چي متن ئې وڅېړو؛ د قرآن دا آيت بايد له نظره تېر کړو:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾ النور

اې مؤمنانو! داسي کورونو ته مه ننوځئ چي ستاسو خپل کورونه نه وي؛ تر هغه چي موافقه (اجازه) وغواړئ او پر خاوندانو (هستوګنو) ئې سلام واچوئ؛ همدا درته غوره دئ؛ ښايي پند واخلئ؛ او که په هغه کي هيڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چي اجازه درکړی شي؛ او که درته وويل شي: ستانه شئ؛ نو ستانه شئ؛ همدا درته ښه پاکيزه (طريقه) ده؛ او الله په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ.

په دې آيتونو کي مؤمنانو ته ويل شوي: داسي کورونو ته مه ننوځئ چي ستاسو خپل کورونه نه وي؛ تر هغه چي موافقه (اجازه) وغواړئ؛ او پر هستوګنو ئې سلام واچوئ؛ همدا درته غوره دئ؛ يعني د بل کور ته د ننوتلو لپاره به دوه خبري په پام کي لرئ: لومړی دا چي د کور د خاوند او هستوګن موافقه او اجازه به تر لاسه کوئ؛ دلته د استئذان (اجازه غوښتلو) پر ځای د تستأنسوا صيغه کارول شوې چي رضايت او موافقه افاده کوي او معنی ئې دا ده چي د بل کور ته په هغه صورت کي ننوځئ چي هغه ستاسو له ورتلو سره موافق وي او د اجازې ورکولو

ته اړ شوی نه وي؛ داسي نه چي هغه اجازې ورکولو ته اړ شوی وي، په وار وار او تر هغه دي دروازه ورټکولې وي چي ناچار درته پرائې نیزي او د ننوتلو اجازه درکړي او یا د ده له خوښي او موافقې پرته ورننوځې؛ دوهمه دا چي پر اوسېدونکو به سلام اچوئ؛ دا سلام یوازي د معاشرتي آدابو یوه بېلگه نه ده چي له اخلاقي پلوه ئې مراعات ضروري دئ او یوازي یوه دعاء هم نه ده؛ بلکي دا هستوگن ته د ځان له لوري د سلامتیا پیغام او د تاوان نه رسولو ډاډ ورکول او له هغه سره ژمنه هم ده؛ له همدې پیغام سره به د بل کور ته ننوځئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ، دا د ډېرو ناخوالو مخنیوی کوي، هم له اخلاقي پلوه او هم له معاشرتي پلوه. خو دې ته مو پام وي چي دا نه یوازي د ټولني د افرادو تر منځ معاشرتي دود او ادب دئ بلکي د ټولني په کچه او د دولت او وگړو تر منځ د یوه قانون او الهي لارښووني حیثیت لري؛ نه یوازي اشخاص حق نه لري د بل کور ته ننوځي، د دروازې له چاك او چاود، یا د بام له سر او له کومي لوړي د بل د کور منځ ته وگوري، یا خپل کور داسي جوړ کړي چي د بل پر کور مشرف وي او منځ ئې ترې ولیدی شي؛ بلکي د اسلامي حکومت هیڅ چارواکی حق نه لري د چا کور ته د شرعي محکمې له پرېکړي او د کور خاوند له موافقې پرته داخل شي؛ که دا د پلټني په موخه وي او که د کوم مجرم د نیوني په موخه؛ دا ځکه چي د چا کور ته ننوتل؛ په اجازې او رضایت پوري مشروط شوې.

که په کوم کور کي هیڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ چي اجازه درکړی شي؛ یعني تشو کورونو ته مه ننوځئ؛ که ننوتو ته اړ شوئ نو له اجازې وروسته ورننوځئ.

که د کوم کور دروازې ته ودرېدئ، د ننوتلو اجازه مو وغوښته او د کور له منځه مو د ننوتلو اجازه تر غوږ نه شوه او یا درته وویل شول چي ستانه شئ؛ نو ستانه شئ؛ په دروازې کي له مزید ودرېدا او تر درې واري زیات د دروازې له ټکولو او د اجازې له غوښتلو ډډه وکړئ، په دې

مه ناراضه کېږئ چي د ننوتلو اجازه درنه کړی شي، یا درته وویل شي چي اوس ستون شه او بل وخت راشه؛ همدا درته ښه پاکیزه او د پاکوالي ضامنه طريقه ده؛ الله تعالی ستاسو پر ټولو کړنو او ښو او بدو پایلو او اغېزو ئې ډېر ښه پوهېږي؛ د خپل بشپړ علم له مخي تاسو ته لارښوونه کوي چي همداسي وکړئ او په همدې کي ستاسو خیر مضمر دئ.

که د دې آیتونو په رڼا کي دې روایت ته ځیر شو؛ څو حقائق مو مخي ته راځي:

• د روایت الفاظ او ترکیب ئې ډېر ابهامات لري؛ د څو فقرو له علاوه کولو پرته ئې مطلب کاملاً مبهم دئ؛ په روایت کي دا نه دي ویل شوي چي عمر رضي الله عنه ولي ابو موسی اشعري ته وویل: شاهد وړاندي کړه؟ او د کومي خبري د ثابتولو لپاره؟ دا هم نه دي ویل شوي چي أبو سعید خدري څه وویل او په څه ئې شهادت ورکړ؟

• په ډېر زحمت او تکلف سره دا مطلب اخیستی شو چي ابو موسی اشعري په جګ غږ د عمر رضي الله عنه ځای ته د ننوتلو اجازه غوښتې؛ ځواب ئې نه دئ تر لاسه کړی او ستون شوی؛ عمر رضي الله عنه له فراغت وروسته ویلي: د هغه غږ مي اورېدلی؛ څه شو؟ ورته ویل شوي؛ هغه ستون شو؛ راغوښتی ئې دئ او د نه انتظار وجه ئې ترې پوښتلې؛ هغه د قرآن د دغو پورتنیو لارښوونو په استناد ورته ویلي: د نه ځواب په صورت کي باید تللی وی؛ عمر رضي الله عنه د شاهد او دلیل غوښتنه ترې کړې؛ داسي شاهد چي د ابو موسی دا ادعاء ثابته کړي او ووایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم همداسي لارښوونه کړې؛ کله چي ابو سعید خدری راغلی نو د ابو موسی اشعري خبره ئې تأیید کړې او عمر رضي الله عنه ویلي: آیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا امر له ما پټ پاته شوی وو! په بازارونو کي پېر پلور مصروف کړی وم!!

• څنګه ومنو چي عمر رضي الله عنه؛ د قرآن له دې څرګندو آیتونو او لارښووني خبر نه وو؟ دا په داسي حال کي چي دی له ابو بکر رضي الله

عنه وروسته د امت تر ټولو اعلم او افضل وو؛ نو څكه صحابه وو په اجماع سره هغه د امير المؤمنين په توګه غوره کړ؟ دا روايت وايي چي د انصارو يو ماشوم له دې خبر وو خو عمر رضي الله عنه نه وو خبر؟!

• په روايت کې دا هم يو مهم ټکی دئ چي عمر رضي الله عنه له شاهد پرته د ابو موسى اشعري په څېر ستر او يوه صحابي ادعاء هم نه منله. يعني دا د صحابه وو منهج وو چي د يوه چا انفرادي ادعاء او روايت ئې له شاهد پرته نه منلو.

• دا يوه شخص ته منسوب روايت دئ؛ داسي روايت چي هم د إسنادو له پلوه ستونزي لري او هم د متن له پلوه؛ نه د الله تعالى کلام دئ او نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم حديث؛ د الله تعالى له کلام او د قرآن د يوه آيت له يوه لفظ انکار او د رسول الله صلى الله عليه و سلم صحيح حديث نه منل؛ کفر دئ او له امله ئې انسان د ايمان له دائرې وځي؛ اما له دې آخوا او د کوم انسان خبره منل يا نه منل نه د ايمان جزء دئ او نه د کفر سبب، د هغه خبره، رأى او روايت به د قرآن او حديث په رڼا کې څېړو او په اړه به ئې د صحت او عدم صحت پرېکړه کوو؛ قرآن موږ ته لارښوونه کړې چي د يوه شخص ادعاء هغه مهال ومنو چي شاهد وړاندي کړي؛ کله ئې دوه شاهدان ضروري ګڼلي، کله درې او کله څلور؛ که قرآن په عادي او شخصي قضاياوو کې؛ د شاهدانو حضور د ادعاء د اثبات لپاره شرط ګڼلی وي؛ له صحابه وو ئې دا شاهدان غوښتي؛ د خپلي مېرمني په اړه ئې د يوه صحابي ادعاء په هغه صورت کې د منلو وړ ګڼلې چي يا به څلور شاهدان وړاندي کوي او يا به څلور ځلي د الله په نامه لوړه کوي او پنځم ځل به وايي: که دروغجن وي نو پرده دي د الله لعنت وي؛ که شاهدان وړاندي نه کړي فاسق دئ؛ په درو به وهل کېږي او له دې وروسته به ئې هيڅکله شهادت او ګواهي نه منل کېږي؛ نو د مهمو ديني قضاياوو په اړه به د شهادت اهميت څومره وي؛ څنګه به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د يو کس له

لوري منسوب شوی روایت له شاهد پرته منو؟

د هغو په خبر به نه کېږو چي قرآن ئې په اړه فرمایي:

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لا إِلَهَ إِلا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣١﴾ التوبة

له خپلو ملایانو او پیرانو ئې له الله پرته ارباب او خدایان جوړ کړل؛ او له مسیح د مریمي له زوی هم؛ په داسي حال کي چي یوازي په دې ګمارل شوي وو چي د هغه یوازیني معبود عبادت به کوي چي له ده پرته بل معبود نه شته، له هغه څه منزه دئ چي (دوی ئې ورسره) شریکوي.

په دې مبارك آیت کي د شخصیت پالني په اړه دا لارښوونې شوې: یهودانو خپل علماء او ملایان (احبار) او نصرانیانو خپل مشائخ او پیران (رهبان) او مسیح علیه السلام په ربوبیت ونیول، هغوی ته ئې د رب او معبود په سترګه وکتل، یهودانو د حلال او حرام په اړه د خپلو ملایانو او علماءو خبره وروستۍ خبره وګڼله، چي د الهي معیارونو له مخي همدا شرك او په داسي صفت کي له الله تعالی سره د بل چا شریکول دي چي یوازي له الله تعالی سره ښایي؛ نصرانیانو خپل مشائخ او پیران په غیب پوه او د حاجتونو تر سره کوونکي وګڼل او په الهي معیارونو کي همدا شرك او په هغه صفاتو کي له الله تعالی سره د بل چا شریکول دي چي د الله تعالی لپاره مختص دي. دا په داسي حال کي چي دوی ته امر شوی وو چي له الله تعالی پرته به د هیچا عبادت نه کوئ.

دا مبارك آیت موږ ته د (عبادت) دقیقه معنی راښیي، عبادت یوازي لمانځنه او د چا په وړاندي تندی پر زمکه ایښودل نه دي؛ له قید او شرط پرته د چا اطاعت، د چا په اړه دا عقیده ساتل چي په غیب پوهېږي او د ده حاجتونه تر سره کولی شي، له همدې باور سره له چا طمع او وېره درلودل هم عبادت ګڼل شوی. یهودو او نصرانیانو د خپلو علماءو، پیرانو

او پیغمبرانو په اړه همدا عقیده درلوده نو ځکه قرآن هغوی ته د مشرك خطاب کوي.

کله چې موږ همدا د قرآن حق خبري کوو؛ ځیني ئې نه یوازي نه مني بلکي له همدې کبله له موږ سره دښمني پالي، ناروا او کرکجن تبلیغات کوي او په کچه فتوی گانو لاس پوري کوي؛ دوی دا مخالفتونه او فتوی گاني صادرول نه له دین او حق د دفاع په موخه کوي او نه د خپل ایمان او عقل په حکم؛ بس له خپل غلط مذهب او مسلك ئې دکان جوړ کړی، روزي ئې ورپوري تړلې؛ که خلك په دین سم پوه شي د دوی دکانونه تړل کېږي او خپله گنده او حرامه روزي له لاسه ورکوي. د هر پیغمبر او صادق داعي مقابله او مخالفت د همدغو له لوري او له همدې کبله شوی.

کله چې موږ د کمونستانو خلاف مبارزه پیل کړه؛ د وخت مفسد نظام همدا دین پلورونکي وهڅول چې د جوانان مسلمان په خلاف د جمعیت علماء محمدي په نامه یوه ډله تنظیم او زموږ مخي ته ودروي؛ کله چې موږ د شوروي او بیا ناټو په خلاف جهاد پیل کړ؛ له همدغو زموږ خلاف استفاده وشوه؛ هغه چې د حق په لټه کې دي خو د جهالت او ناپوهي له سببه زموږ مخالفت کوي؛ د هغوی په اړه مو دعاء دا ده چې الله تعالی ئې پوه کړي، له سترگو ئې پردې لري کړي او د زړونو دړي ئې د حق منلو ته پرانیزي؛ همغسي چې په تېرو دوو جهادونو کې ئې همداسي خلك زموږ خوا ته ودرول؛ خو هغه چې په غرض او مرض اخته دي او د ډالر او ریال لپاره له موږ سره دښمني کوي؛ الله تعالی ته دعاء کوو چې د دوی له شر مو وژغوري.

د الله تعالی کتاب او د رسول الله حدیث او سنت زموږ دین او مذهب دئ؛ له هر چا او په هر کتاب کې چې صحیح حدیث ومومو؛ منو ئې او عمل پرې کوو؛ د حدیث د صحت لپاره زموږ شروط او معیارونه همغه دي چې د حدیث او فقه ائمه وو وضع کړي؛ هم د روایت او هم

د راوي په اړه؛

د روایت د صحت په اړه د هغوی شرائط دا دي: له قرآن سره به مطابقت لري، هیڅ برخه به ئې له قرآن سره متعارض نه وي، له بل صحیح حدیث سره به تعارض نه لري، د عقل، علم، فطرت او الهي سننو خلاف خبره به په کې نه وي، داسي شاذ او ناآشنا څه به نه وي په کې ویل شوي چي له یوه شخص او یوه کتاب پرته بل هیچا نه وي ویلي او په بل هیڅ کتاب کې نه وي لیدل شوي.

د راوي د اعتبار په اړه ئې شرائط دا دي: إیمان او عدالت، داسي صداقت چي د سیمي ډېری ئې د صادق په توګه پېژني او په همدې صفت ئې یادوي، داسي بشپړ امانت چي اورېدلی روایت له هر راز تصرف او لاسوهني پرته؛ انتقال کړي؛ نه د روایت په الفاظو او کلماتو او د هغوی په ترتیب کې د تغییر مرتکب شي او نه ئې په معنی کې، داسي نه چي په خپلو الفاظو د روایت معنی انتقالولو هڅه وکړي، د ضبط او حافظې قوت، د قرآن او حدیث علم، درایت او هوښیارتیا، داسي څه ونه وایي چي په ډېرو پوري مربوط وي خو له ده پرته بل چا نه وي ویلي.

د روایاتو او راویانو په اړه زموږ تګلاره همدا وه او وي به؛ د صحیح بخاري په شرح کې مو مراعات کړې او إن شاء الله تر پای به ئې مراعاتوو. که د حدیث هر کتاب مو د تشریح او تدریس لپاره غوره کړی وی نو یقیناً چي همدا کار به مو کولو چي د بخاري په ارتباط ئې کوو.

هر شارح چي د حدیث پر کوم کتاب شرح لیکلې؛ ډېریو ئې د همدغو اصولو په رڼا کې د کتاب روایات څېړلي، چڼلي، ارجح او مرجوح؛ معتبر او غیر معتبر ئې په ګوته کړي، خو متأسفانه ځینو یوازي د روایت إسناد او د راویانو حالت او کیفیت ته په پام سره دا پرېکړه کړې چي روایت ئې د اعتبار وړ دئ که نه؛ ځیني راویان ئې د خپلو معیارونو له مخي ثقه او د اعتبار وړ ګڼلي او دوی ته منسوب هر روایت ئې صحیح ګڼلی؛ د روایت متن او محتوی ته له پام پرته او قرآن ته ئې له راجع

کولو او په رڼا کې ئې د صحت او عدم صحت په اړه له قضاوت کولو پرته؛ دا پرېکړه کوي چې صحیح دئ که ضعیف!! او ځیني په دې ناسم او ناقص اسلوب کې دومره غرق شوي چې که څوك ووايي: د روایت د صحت تر ټولو مهم او اساسي شرط دا دئ چې له قرآن سره مطابقت ولري؛ نو وېښتان ئې ځیږ او تندی ئې تریو شي او د انکار حدیث د فتوی په غشو ئې په نښه کوي!!! دا په داسي حال کې چې دا د الله تعالی او د رسول الله لارښوونه ده چې قرآن به د ټولو قضاوتونو لومړنۍ او وروستنۍ مرجع وي.

په داسي حال کې چې دا د ټولو درنو ائمه او فقهاءو؛ او په سر کې ئې د امام ابو حنیفه او امام شافعي رحمهم الله؛ رأی ده چې آحاد روایات د احکامو او عقائدو په ارتباط یوازي هغه مهال او په دې شرط د منلو او استناد وړ دي چې له قرآن سره مطابقت ولري؛ په دې کې نه هیڅ امام او فقیه اختلاف کولی شي او نه هیڅ مؤمن؛ چا چي بخاري لږ په دقت سره لوستلې وي پوهېږي چې د بخاري غوځ اکثریت روایات آحاد دي؛ له همدې کبله؛ ده د احنافو ائمه وو ته اهل رأی خطاب کړی او تکفیري ډلو د ټولو مذاهبو ائمه او پلویانو ته د منکر حدیث او حتی مرتد خطاب!!!

خو حقیقت دا دئ: هر محدث چې نوی کتاب ئې تصنیف کړی او پر مخکینیو کتابونو ئې بسنه نه ده کړې؛ د هغوی پر روایاتو او راویانو ئې ملاحظات او اعتراضونه درلودل؛ نو ځکه ئې بیل کتاب لیکلی؛ امام مسلم، امام ترمذي، امام ابو داؤد، ابن ماجه او نسائي همدا کار کړی؛ امام بخاري د خپلو استادانو کتابونه کافي نه دي ګڼلي او صحیح بخاري ئې تصنیف کړه؛ امام مسلم د ده شاګرد پاته شوی او تر ټولو نورو محدثینو ده ته ورنږدې دئ؛ د بخاري له نژدې ۷۵۰۰ روایاتو یوازي په ۱۵۱۹ کې له امام بخاري سره متفق دئ او په ۶۰۰۰ کې نه یوازي موافق نه دئ بلکې د بخاري ٤١٤ روایت ئې په خپل کتاب کې د راوړلو وړ نه

دي گڼلي؛ او امام بخاري بيا د صحيح مسلم ٥٧٤ په خپل كتاب كې نه دي راوړي!! د نورو ائمه وو اختلاف له امام بخاري سره تر دې هم ډېر پراخ دئ.

د غريب روايت نه منل د ثواب كار دئ نه د گناه كار؛ وجه ئې دا وي چي نه غواړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسې څه منسوب كړي چي معلومه نه ده هغه ويلي كه نه؛ له شاهد پرته د يو چا ادعاء منل او نورو ته كول د اسلامي لارښوونو او آدابو خلاف عمل دئ؛ قرآن فرمايي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾ الإسراء

او په هغه څه پسې مه ځه چي په اړه ئې علم نه لرې؛ يقيناً چي غوږونه، سترگي او زړونه؛ د هر يوه به پوښتنه كېږي.

يعني تر هغه د چا خبره او ادعاء مه منه او متابعت ئې مه كوه چي د دلائلو او شواهدو له مخې پرې پوه شوی نه وې؛ كه له خپل عقل او درايت پرته د چا خبره ومنې؛ د قيامت په ورځ به حتماً پوښتل كېږې.

د اسلام له نظره هغه څوك لوی دروغجن دئ چي له هر چا څه اوري مني ئې او بل ته ئې كوي؛ امام مسلم په دې ارتباط دا باب ايښی: بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْحَدِيثِ بِكُلِّ مَا سَمِعَ: او دا روايت ئې ترې لاندي راوړی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» مسلم

له أبو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: د يوه سړي لپاره دا دروغ كافي دي چي هر څه واوري وئې وايي.

لاندي ټول روايات همدا خبره كوي:

قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ: «بِحَسْبِ الْمَرْءِ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ

يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» مسلم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» سنن ابی داؤد

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَفَى بِالْمَرْءِ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» مسند الشهاب القضاعی

عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» مسند الشهاب القضاعی

عَنْ عُمَرَ قَالَ: " بِحَسْبِ الْمُؤْمِنُ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ " شعب الإيمان

لکه چي گورئ دا يو له ډېرو مشهورو رواياتو دئ او له ګڼ شمېر صحابه وو روايت شوی؛ ځيني راويان ئې دا دي: عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، أَبو هُرَيْرَةَ، أَبو أُمَامَةَ، حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ.

ستاسو له نظره د بخاري ۲۰۶۲ روايت هم تېر شوی چي وايي: عمر رضي الله عنه د ابو موسی اشعري رضي الله په خبر ستر صحابي هغه وينا قبوله نه کړه چي وئې ويل: موږ ته (د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري دا) امر شوی؛ او ورته وئې ويل: بايد دليل او شاهد وړاندي کړې؛ او هغه مجبور شو ابو سعيد خدري د شاهد په توګه وړاندي او دی قانع کړي. يعني عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه د يوه ژوندي ستر صحابي انفرادي ادعاء؛ له شاهد پرته نه منله؛ موږ به ولي په څلورم او پنځم نسل کي د يوه داسي راوي غريب روايت منو چي څو پېړۍ وړاندي وفات شوی او د دې لپاره هيڅ يقيني دليل او شاهد نه مومو چي ده يا رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره کړې که نه؟

ډېره ډېره عجيبه ده چي د داسي څرګندو لارښوونو په شتون کي څوك غريب روايات نه يوازي مني بلکي د قرآن تر څرګندو آيتونو زيات پرې ټينګار کوي او هغه څوك د حديث منكر ګڼي چي د ده مجروح او مرجوح روايات ورسره نه مني؛ عجيبه لا دا چي له دغه غلط اسلوب څخه ځان ته مذهب جوړوي!

## ٨ باب: د روزي د پراخي هيله

٩٩١ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ؛ او يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ». (بخاری: ٢٠٦٧)

٩٩١ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: ((كه څوک غواړي روزي ئې پراخه او يا ئې عمر اوږد شي؛ نو خپلوي دي پالي)).

دا روايت له دوو اړخونو تفصيلي بحث ايجابوي:

- د رزق د قلت او وفرت په اړه الهي سنن څه دي؛ الله تعالی په څه پوري مربوط كړي؟ آيا د خپلوانو په اړه زړه سوی درلودل هم د انسان پر رزق څه اغېز لري؟
- دې پوښتني ته سم ځواب چي آيا د انسان اجل بدلېدی شي؟ آيا هغه رزق چي الله تعالی ورته مقدر كړی زياتېدی شي؟

ځيني داسي فكر كوي چي فقط په اورادو او اذكارو سره او له زيار زحمت پرته بايد رزق تر لاسه كړي او الله تعالی ئې حاجتونه پوره كړي؛ ځيني بيا د يوې غير اسلامي ټولني ظالمانه اقتصادي حالت او د فقير او غني تر منځ موجود وېش او پراخ توپيرونه؛ داسي تعبيروي چي الله تعالی همدا حالت مسلط كړی او پرې راضي دئ. هغو عواملو او اسبابو ته هيڅ اعتناء او التفات نه لري چي الله تعالی؛ رزق ورپوري تړلی او قلت

او وفرت ئې په هغوی پوري مشروط کړی او دې ته هم چي د الله تعالی وېش بېل دئ او د انسانانو بېل؛ د انسانانو وېش اکثراً په ظلم او بې عدالتۍ ولاړ دئ او د الله تعالی وېش د عدل او فضل له مخي.

په قرآن کي ګڼ شمېر آيتونه مومو چي د رزق زيادت او کمښت په اړه الهي ثابت سنن بيانوي؛ لکه دا:

... وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ۝٢ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ... ۝٣ الطلاق

... او څوك چي له الله تقوی وکړي؛ د نجات لار به ورته پرانيزي؛ او له داسي لاري به رزق او روزي ورکړي چي ګمان ئې هم نه کوي؛ او څوك چي پر الله توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ ...

يعني څوك چي د تقوی لار غوره کړي؛ الله تعالی به هغه ته له ستونزو او کړاوونو د وتلو لار پرانيزي او له هغي لاري به رزق او روزي ورکړي چي ګمان ئې هم نه کوي، په خيال کي ئې نه ګرځي او تصور ئې هم نه شي کولی.

او څوك چي پر الله تعالی توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ.

د دې تقوی او توکل يوه بېلګه په هغه روايت کي زموږ په وړاندي او د عملي مثال په توګه انځور شوه چي عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه د خپل ديني ورور دا وړانديز ونه منلو چي خپل مال ورسره نيمايي کړي؛ له طمعي او له دې ئې ډډه او ځان ساتنه (تقوی) وکړه چي له بل مرسته وغواړي؛ پر الله تعالی ئې توکل وکړ؛ وئې ويل: د بازار لوری راوښيه؛ تجارت ئې له کورت او غوړو پيل کړ او لنډه موده وروسته لوی شتمن ترې جوړ شو؛ حتماً پوهېږئ چي دی د عشره مبشره له لسو تنو يو دئ.

په دې ارتباط د قرآن دغو آيتونو ته هم ځير شئ:

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي

لَشَدِيدٌ ۝٧ إبراهيم

او هغه مهال چې ستاسو رب اعلان کړه چې که شکر وکړئ درته زيات به ئې کړم او که ناشکري وکړئ نو يقيناً چې زما عذاب ډېر کلك او سخت دئ.

شکر دې ته وايي چې څوك د نعمت قدر وکړي، په همغه توګه ئې وکاروي چې منعم ئې خوښوي او د داسي موخو لپاره ئې وکاروي چې منعم پرې راضي کېږي؛ که نعمتونو ته ارزښت ورکړی شي او په سمه استفاده ترې وشي نو الله تعالی ئې زياتوي او که ئې څوك په غلطه او ناسمه توګه وکاروي؛ نه يوازي ګټه به ورونه رسوي بلکې همدا نعمت به ئې د الله تعالی له شديد عذاب سره مخ کړي.

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝٩٦ الأعراف

که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د زمکې د برکاتو (دروازې د دوی مخې ته) پرانيستې وې؛ خو دوی دروغ وګڼلو؛ نو په هغه څه مو ونيول چې دوی کول.

يعني دا هم يو بل ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت چې:

- که خلك ايمان راوړي، د تقوی لار غوره کړي نو الله تعالی به د آسمانونو او زمکې د برکاتو دروازې د دوی پر مخ پرانيزي، دواړه به په سخاوت او پراخ لاس سره خپل برکات د دوی مخې ته ږدي، آسمان به له برکته ډك ورښتونه پرې وروي او زمکه به له برکت ډکې مېوې او دانې ورته راټوکوي.
- خو که دوی د الهي دين د تکذيب لار اختيار کړي، د ايمان پر ځای د کفر او د تقوی پر ځای د ظلم، فسق او فساد لار؛ نو د خپلو کړنو په وجه به په الهي عذاب اخته کېږي.

وَلا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلا مَعْرُوفًا ۝٥ النساء

او کمعقلو ته خپل هغه مالونه مه سپارئ چي الله ستاسو لپاره د قیام ذریعه گرځولې؛ نه؛ په هغه کي ئې د رزق، روزي او جامو انتظام وکړئ او غوره وینا ورته وکړئ.

یعني دا مالونه چي په حقیقت کي د ټولو گډ مال دئ؛ که څه هم ځیني په یوه پوري او ځیني په بل پوري مربوط دي؛ ستاسو د ژوندانه د قیام او سمبالولو ذریعه ده، کمعقلو ته ئې مه سپارئ، تر هغه ئې یتیم ته له سپارلو ډډه وکړئ چي هغه بلوغ او د عقل پوخوالي ته ورسېږي، تر هغه د دوی اموال په داسي غوره طریقه په کار واچوئ چي له گټي ئې د یتیمانو د خرڅ، خوراك او جامو انتظام وکړئ. په دې دوران کي د دوی روزني ته خاصه توجه وکړئ، نېکي خبري او نېك کارونه ورښيئ، که هغوی د خپل مال تر لاسه کول غوښتل او تاسو ئې تنگولئ؛ نو په ښه توگه ئې پوه کړئ، زور زیاتی ورسره مه کوئ؛ د نامناسبو خبرو له کولو ځان وساتئ.

په آیت کي د یتیمانو پر ځای د سفهاءو له راوړو معلومېږي چي نه یوازي ماشوم یتیم ته به د دوی مال نه سپارئ بلکي هغو ته به ئې هم نه سپارئ چي د کمعقلۍ له کبله مال ترې ضائع کېږي، یا مبذر دئ او په غلطو لارو ئې مصرفوي.

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾ النحل

او الله د هغه کلي مثال بیان کړی چي خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځای تازه او پرېمانه ورته راتو؛ خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه؛ نو الله د لوږي او وېري په جامو د پټېدو خوند وروڅاکو؛ د هغه څه په سبب چي دوی کول.

دلته الله تعالی د یوه ښکلي مثال په ترڅ کي یو ستر حقیقت انځور

کړی او یوه جامع لارښوونه ئې زموږ په وړاندي ایښې؛ دا حقیقت چي کله یو قوم د الله تعالی د نعمتونو ناسپاسي وکړي، د نعمتونو د شکر اداء کولو پر ځای د منعم په وړاندي د بغاوت لار غوره کړي؛ نو له دوو سترو مصیبتونو سره مخامخ شي او دوه ستر نعمتونه ترې واخیستل شي: ۱- د (پراخ رزق) نعمت او ۲- د (امن نعمت). په بدل کې ئې (لوږه) او (وېره) خپل تور وزر پرې وغوړوي. په پورتني مثال کې داسي کلی او کلیوال ئې انځور شوي چي په هغه کې امنیت او اطمئنان وو او رزق ئې له هر لوري ورته راروان؛ خو دوی کفران او ناسپاسي وکړه؛ چي د دې له کبله لوږی (فقر) پرې مسلط شو او بیا (خوف او وېري) خپل تور وزر پرې وغوړاوو.

په دې مبارك آیت کې د انساني ټولني دوو سترو سترو آفتونو ته اشاره شوې: (لوږه او وېره) چي دواړه ئې ځنګ په ځنګ او یو وخت راځي. کله ئې یو مخکې راشي او لاره بل ته پرانیزي او کله ئې بل؛ کله یو وځي او بل له ځان سره بیايي او کله ئې بل؛ کله ګورو چي وېره او بې امني پر ټولني خپل تور وزر وغوړوي او له دې سره سم؛ اقتصادي فعالیتونه متوقف شي، اقتصادي تأسیسات له منځه ولاړ شي، د تجارت بازار سوړ شي، تاجر او بډای له هېواد ووځي، خپلي شتمنۍ نورو ملکونو ته انتقال کړي، بندونه وران شي، نهرونه وچ شي، زراعتي زمکې شاړي او بائر پاته شي، فابریکې تخریب شي، بزګر خپل بېل لري واچوي او کارګر خپل څټك؛ توري او ټوپك ته لاس کړي، جګړه ئې کسب او پېشه شي او په دې ترتیب فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي او خپل سیوری پرې وغوړوي؛ او کله بیا ګورو چي لوږی فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي، غیرعادلانه او ظالمانه اقتصادي نظام پر ټولني مسلط شي، د ټولني ثروت او شتمنۍ د محدود شمېر بډایانو او واکمنو په لاس کې پرېوځي، د ټولني اکثریت له فقر او محرومیت سره مخامخ شي؛ کله چي د ټولني اکثریت دا ګوري چي پر ټولني د مسلط ظالمانه نظام تر سیوري لاندي هیڅکله آرام او

سوکاله ژوند نه شي تر لاسه کولی، له اقتصادي ستونزو نه شي وتلی او که دا نظام وي نو دوی به تل په محرومیت کې ژوند کوي؛ ناچار د نورو لارو په لټه کې شي، د خپلې بقاء لار، د دې نظام د نسکورولو لار، د هغو زندانونو د ړنګولو او د هغو زنځیرونو د شلولو لار چې د دې نظام بقاء تضمینوي، د جنګ او مسلحانه قیام لار. همدا راز په ټولنې کې فقر هغو داخلي او خارجي ځواکونو ته په ارزانه بیع د جنګیالیو د استخدام موقع په لاس ورکوي چې غواړي د جګړو له لارې خپل اهداف تر لاسه کړي او خپله لویې او برلاسي پر نورو ومني؛ دغسې حالت چې افغانان نن ورسره مخامخ دي. قرآن په دې آیت کې امن او اطمئنان د رزق او روزي تر وفرت او کثرت مخکې یادوي؛ د قریش په سوره کې لومړی له لوږې ژغورنه یادوي او ورپسې له وېرې او خوف نجات. تفصیل ئې د قریش د سورې په تفسیر کې ولولئ.

چېرې چې عدالت وي، ترحم او عاطفه وي، نه پر چا ظلم او تېری کېږي، نه ئې حق تر پښو لاندې کېږي؛ واك ئې د داسې حکامو په لاس کې وي چې له خدای وېرېږي او پر خلکو زړه سوی او ترحم لري؛ هلته به د شتمنیو او نعمتونو وېش عادلانه وي او د رزق او روزي پراخوالی او وفرت؛ او هلته چې ظلم دې پړاو ته رسېدلی وي چې حتی څوك پر خپلو نژدې خپلوانو هم زړه سوی نه لري؛ دا له نفرتونو او ظلمونو ډکه ټولنه به لومړی له شخړو او جګړو سره مخامخ کېږي او متصل ئې له فقر او لوږې سره؛ خونړۍ جګړې له همدې راټوکېږي او فقر او لوږه له همدې زېږي.

په دې آیتونو کې د رزق او روزي د وفرت او قلت په اړه د الله تعالی ثابت او دائمي سنن بیان شوي؛ مقدرات د دغو ثابتو سننو مطابق ټاکل شوي؛ که کوم ولس د ایمان او تقوی لار غوره کړي، په خپلې ټولنې کې عدالت پلي کړي، اقتدار مؤمن، صالح او متقي اشخاصو ته وسپاري؛ الله تعالی به ئې په رزق کې برکت واچوي او که د إیمان او تقوی له لارې کاږه

شول، اقتدار ئې د ظالمانو او مفسدينو په لاس كې پرېوت؛ نو له فقر او لوږې سره به مخامخ كېږي او د زمكې او آسمان د بركتونو دروازې به د دوى په وړاندې تړل كېږي.

اما دا چې صله رحم د عمر پر زياتوالي څه اغېز لري؛ او آيا اجل بدلېږي که نه؟ د قرآن دا آيتونه زموږ لارښوونه کوي:

قُلْ لا أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلا نَفْعًا إِلا مَا شَاءَ اللَّهُ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾ يونس

ووايه (اې پيغمبره!): خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو اختيار)؛ پرته له هغه څه چې الله غوښتي؛ د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې؛ کله چې د دوى اجل (نېټه) راورسېږي؛ نه يوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي.

دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: خپلو مخاطبينو ته څو خبرې وکړه:

- نه يوازې د عذاب پرېکړه زما په واك کې نه ده؛ بلکې زه نه له خپل ځان د ضرر دفع کولو واك لرم او نه د ګټې رسولو واك، د ګټې او زيان واکمن الله تعالى دئ، پرېکړه ئې د هغه له لوري کېږي، زه يوازې هغه څه کولى شم چې الله تعالى غوښتي.
- د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، همداسې لکه چې د هر انسان او حتى د هر مخلوق لپاره ټاکل شوې؛ کله چې د دوى اجل راورسېږي؛ نه يوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي، د يوه ولس د زوال نېټه نه د چا په خوښه او هيله وروسته کېدى شي او نه ئې څوك رامخکې کولى شي.

بايد متوجه وو چې امت په فکري بنسټونو جوړ شوي ولس ته ويل کېږي؛ نه په قومي او ژبني بنسټ جوړ شوي ولس ته؛ هر امت؛ که دا د ايمان پر بنسټ جوړ شوى وي او که د شرك او كفر پر بنسټ؛ په خپل

خپل وخت؛ د خاصو الهي سننو مطابق راپیدا کېږي، عروج ته رسي او زوال مومي.

لکه څنګه چي هر انسان د پیدایښت او مرګ ثابته نېټه لري؛ همداسي هر امت د پیدایښت او زوال ثابته نېټه لري، په خپل وخت راپیدا کېږي او په خپل وخت درومي، نه ئې د پیدایښت نېټه وروسته کېدی شي او نه ئې د زوال نېټه رامخکي کېدی شي. دا نېټې د چا د هوی او هوس په حکم مخکي یا وروسته کېږي نه؛ د الهي ثابتو سننو مطابق په خپل خپل وخت تر سره کېږي.

ګورئ چي قرآن پیغمبر علیه السلام ته وایي: په خپله خوله خلکو ته ووایه چي د تاوان او ګټي پرېکړه زما په واك کي نه ده، ثابتي الهي نېټې نه شم بدلولی، د ګټي او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي او د هر چا نه بدلېدونکی اجل هغه ټاکلی!!

دا مطلب په قرآن کي په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو بیان شوی او دا د دې لپاره چي د ټولو هغو ټګمارانو او دوکه مارانو مخه ونیسي چي خلکو ته وایي: راشئ په یوه تعویذ، دم او دعاء سره ستاسو تقدیر بدلولی شو، مرګ مو ځنډولی شو، عمر مو زیاتولی شو، تاوانونه او مصیبتونه دفع کولی شو، مرادونو ته د رسېدلو لارې درته پرانیستلی شو!! حاجتونه مو پوره کولی شو؛ فقط د یوې شکرانې او نذرانې په بدل کي!! په همدې سره کمعقله خلك غولوي او خپل جیبونه ډکوي!!

قرآن همدا راز فرمایي: الهي سنن ثابت او نه بدلېدونکي دي، هیڅوك نه شي کولی د الله تعالی هغه ثابت سنن بدل کړي چي په دې عالم کي ئې وضع کړي؛ هر څه د دغو سننو په وړاندي منقاد او تسلیم دي او هر څه د هغوی مطابق تر سره کېږي، عادي انسانان خو پرېږده؛ د محمد علیه السلام په څېر د الله تعالی جلیل القدر پیغمبران علیهم السلام هم د الله تعالی ثابت سنن نشي بدلولی، نه د الله تعالی پرېکړې ځنډولی شي او نه ئې رامخکي کولی شي. د انسان د پیدایښت او مرګ

نېټه، عمر او رزق هم د دغو سننو مطابق ټاکل کېږي؛ او دا هر څه په لوح محفوظ کې لیکل شوي؛ الله تعالی چې زما او ستا د پیدایښت او عمر په اړه دا نن څومره پوهېږي؛ تر پیدایښت وړاندې او حتی د آدم علیه السلام تر پیدایښت وړاندې؛ همدومره پوهېدو؛ او په لوح محفوظ کې ئې لیکلي؛ د الله تعالی او انسان په علم کې توپیر همدا دئ؛ د انسان علم کسبي دئ؛ ورو ورو ئې کسبوي او زیاتېږي؛ خو د الله تعالی علم ذاتي، ازلي او ابدي دئ؛ په ماضي، حال او مستقبل پوهېږي؛ نه په زمان پوري محدود دئ او نه مکان پوري.

اما په دې او دې ته ورته نورو روایاتو کې دا مومو چې عمر او رزق زیاتېدی شي؛ دا به څنګه توجیه کوو؟ ځیني داسي توجیهات وړاندې کوي چې موضوع مزید پیچلې کړې؛ صحیح او څرګند ځواب دا دئ: الله تعالی په دې عالم کې ثابت او نه بدلېدونکي سنن ایښي؛ هر څه د همدغو ثابتو سننو مطابق تر سره کېږي؛ او الله تعالی د همدې سننو مطابق له هر چا سره مناسبه او عادلانه معامله کوي؛ د انسان پیدایښت او مرګ هم د همدغو سننو مطابق دئ؛ پیدایښت ئې له مور او پلار دئ؛ الله تعالی پوهېږي چې د ده مور او پلار به څوك وي، کله به واده کوي، کله به دی ترې پیدا کېږي، په څنګه شرائطو کې به پیدا کېږي، روغ که بېمار، په شتمني کورنۍ کې که غریبې کې، که په بېماري اخته شي دواء به ئې په لاس ورشي که نه؛ ... دا هر څه د ده پر ژوند او مرګ کې خپل اغېز لري؛ دا خو پرېږدئ حتی د ده اخلاق او افکار، عادتونه او خصلتونه، قساوت او ترحم، غم او خوشحالي، ژر او زیات غصه کېدل او صبر او زغم درلودل؛ د ژمي او دوبي تودې او سړې جامې هم د ده په عمر؛ لنډوالي او اوږدوالي اغېز لري؛ د ده اجل دغو ټولو عواملو او اسبابو ته په پام سره ټاکل شوی؛ لکه چې دواء او غذاء د ده پر صحت او مرض، قوت او ضعف؛ اغېز لري؛ همدا راز نېك او بد عمل، فساد او تقوی، د خپل انساني فطرت مطابق او خلاف کړني ئې؛ هم د ده پر اجل اغېز لري

او هم پر رزق او روزي؛ او عالم الغیب رب ئې د ده اجل او رزق د همدغو ټولو له مخي ټاکلی؛ نو څکه هیڅ تغییر او تبدیلي نه شي په کې راتلی. د تغییر احتمال خو به هغه مهال متصور وو چې د یوه عالم الغیب ذات له لوری نه وی ټاکل شوي.

په کومي انساني ټولني کې چې صِله رَحِم پای ته رسېدلی وي؛ همدا د دې نښه ده چې په هغې کې قساوت، بې رحمۍ او ستم انتهاء ته رسېدلي؛ د صله رحم نه شتون په حقیقت کې د قساوت او بې رحمۍ انتهاء ده؛ که په یوه هېواد کې عدالت او ترحم پای ته ورسېږي؛ ځای ئې ظلم او تېری ونیسي، انساني روابط وشلېږي؛ عداوتونه او نفرتونه خواره شي؛ په نتیجه کې ئې ناامني او جګړي رامنځته شي؛ نو همدا د ډېرو د مرګ ژوبلي باعث شي؛ که وبا، طاعون او کرونا خوره شي؛ ډېر په کې ومري؛ د دغو ټولو د مرګ نېټه همدغو عواملو ته په پام سره ټاکل شوې؛ داسي علیم ذات ټاکلې چې په غیب پوه دئ؛ الله تعالی ته د کمونیزم د پیدایښت او زوال نېټه معلومه وه، د پیدایښت او زوال عوامل او اسباب ئې هم؛ د همدغو ثابت او نه بدلېدونکو سننو له مخي ئې د هغه د پیدایښت او زوال ثابته نېټه ټاکلې وه؛ د شوروي زور او ځواك دا نېټه بدله نه کړی شوه.

## ٩ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم له خوا په قرض پېرل

٩٩٢ ـ عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ مَشَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزِ شَعِيرٍ، وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ، وَلَقَدْ «رَهَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِرْعًا لَهُ بِالْمَدِينَةِ عِنْدَ يَهُودِيٍّ، وَأَخَذَ مِنْهُ شَعِيرًا لِأَهْلِهِ» وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «مَا أَمْسَى عِنْدَ آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاعُ بُرٍّ، وَلاَ صَاعُ حَبٍّ، وَإِنَّ عِنْدَهُ لَتِسْعَ نِسْوَةٍ» (بخاری: ٢٠٦٩)

٩٩٢ – له قتاده روایت دئ چي له انس رضي الله عنه ئې اوربدلي: رسول

الله صلی الله علیه و سلم ته مي وربشینه ډوډۍ او ویلي شوي څنډمن غوړي؛ وروړل؛ او یقیناً چې رسول الله صلی الله علیه و سلم خپله زغره له یوه یهودي سره ګرو ایښې وه او د خپل اهل لپاره ئې وربشي ترې اخیستې وې؛ قتاده وایي: له انس مي واورېدل چې ویل ئې: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په کورنۍ کې؛ نه یوه پیمانه غنم، نه وربشي یا بلې غلې شپه تېره کړې؛ په داسي حال کي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم نه مېرمني وې.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: هِشَام، قَتَادَة او أَنَس رضي الله عنه. په نورو کتابونو کې یوازې صحیح ابن حبان کې راغلی.

## ۱۰ باب: د لاس ګټه او کار کول

۹۹۳ ـ عَنِ الْمِقْدَامِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ علیه السلام، كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ». (بخاری: ۲۰۷۲)

۹۹۳ – له مقدام رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((هیڅا تر هغه غوره طعام هیڅکله نه دئ خوړلی چې د خپل لاس له کار او کسب ئې وخوري؛ او د الله تعالی نبي داؤد (علیه السلام) داسي وو چې د خپل لاس له کار ئې خوړل)).

دا روایت په همدې صیغه په بخاري کې یو ځل راغلی او له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دئ راغلی. په سند کې ئې خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ دئ چې الذهبي د ده په اړه وایي: مرسل روایات ئې ویل او د تدلیس مرتکب کېدو(کان یرسل ویُدَلِّس): پرته له دې چې د کوم صحابي نوم یاد کړي مخامخ به ئې خپل روایت رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبولو او د روایت او إسناد عیبونه به ئې پټول.

همدا راز بدر الدين عيني د عمدة القاري مصنف ليكلي: وَفِيه انْقِطَاعًا بَين خَالِد والمقدام، وَبَينهمَا جُبَير ابْن نفير يحْتَاج إِلَى تَحْرِير. وَفِيه: أَن الْمِقْدَام لَيْسَ لَهُ فِي البُخَارِيّ غير هَذَا الحَدِيث.... وَفِيه: أَن ثَوْر بن يزِيد الْمَذْكُور من أَفْرَاد البُخَارِيّ. والْحَدِيث أَيْضا من أَفْرَاده.

يعني د روايت په إسناد کې د خالد او مقداد تر منځ؛ انقطاع ده؛ د دوی تر منځ جبير بن نفير دیٔ چې بايد ليکل شوی وی؛ او په دې کې بله ملاحظه دا ده چې په بخاري کې له دې روايت پرته بل روايت له مقداد نه دیٔ نقل شوی؛ او بله دا چې ثور بن يزيد هغه راوي دیٔ چې له بخاري پرته بل چا ترې روايت نه دیٔ راوړی او دا حديث هم له بخاري پرته بل چا نه دیٔ راوړی!! دا د بدر الدين عيني وينا ده؛ حنفي دیٔ خو د بخاري کلك مدافع دیٔ؛ د روايت پر سند ملاحظات لري؛ سره له دې چې د روايت متن او محتوی ډېره ښکلې او کاملاً صحيح ده؛ د داسې رواياتو راوړل او منل؛ د سند له ضعف سره سره؛ هيڅ مانع او اشکال نه لري.

دا يوه جدي ستونزه ده چې ځيني همداسې شاذ روايات له همداسې معلول او مجروح اسنادو سره نه يوازې راوړي بلکې منل ئې فرض ګڼې او نه منل ئې له صحيح حديث انکار؛ دا په داسې حال کې چې بل هيڅ محدث؛ نه له ده سره دا روايت مني او نه ئې راويان!! ولې به داسې روايات منو چې هيڅ بل محدث د اعتبار وړ نه دیٔ ګڼلې؟! يوازې داؤد عليه السلام نه بلکې ټول پيغمبران همداسې وو چې هر يوه خپل کسب او کار درلود او همدا ئې د خپل معيشت د تأمين وسيله وه او قرآن د ټولو په اړه فرمايي چې خپلو مخاطبينو ته به ئې ويل:

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٩﴾ الشعراء

او له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم؛ زما اجر يوازې پر رب العالمين دیٔ.

او همدا د يوه ټګمار او صادق داعي د پېژندو دقيق معيار او ملاك دیٔ؛ هغه چې له دين دکان جوړوي او له خلکو اجوره او شکرانه پرې

تر لاسه کوي؛ نه یوازي د پیغمبرانو علیهم السلام په لار نه دئ روان؛ بلکي دوکه مار او ټګمار دئ. مګر الله تعالی موږ ته دا لارښوونه نه ده کړې چي فرمایي:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ الشورى

او په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف کړی؛ نو حکم ئې د الله لوري ته (راجع) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مي توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

دا مبارك آیت د توحید یو ستر او مهم اصل زموږ مخي ته ږدي او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چي خپلو مخاطبینو ته ووایي:

- په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف وکړئ؛ نو پرېکړه به ئې د الله تعالی کتاب (قرآن) ته راجع کوئ، یعني هر اختلاف؛ که دا فکري او اعتقادي وي، که حقوقي او اجتماعي، که کوم روایت او رأی وي؛ د حل و فصل لپاره به (قرآن) ته مراجعه کوئ او پرېکړه به ئې وروستۍ پرېکړه ګڼئ. د دې الهي ارشاد او حکم معنی او تقاضی دا ده چي د ژوند په ټولو برخو کي هر ډول اختلاف او نزاع باید قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه نهائي او وروستۍ پرېکړه وګڼل شي؛ یعني د انسان په ټول ژوند کي داسي اختلاف او نزاع نشو موندلی چي په قرآن کي ئې د حل و فصل حکم نه وي؛ مسلمانان باید قرآن وروستی ملاك او معیار وګڼي او د هري قضیې په اړه د هغه حکم او پرېکړي ته غاړه کښېږدي؛ په هر څه کي روایات هم راځي؛ اهل حدیث ته وایو: له تاسو سره زموږ او ټولو حقپالو علماءو اختلاف په همدې کي دئ؛ موږ په دې آیت عمل کوو او تاسو له پامه غورځولی.
- همدا زما رب دئ، همدا د اختلافاتو د حل وروستۍ مرجع ګڼم، پر

هغه مي توکل کړی، هغه ته مي ځان سپارلی، په هر څه کې د هغه لوري ته انابت او رجوع کوم.

یعني د یوه راوي روایت او د یوه انسان رأی به هغه مهال منو چې په قرآن کې شاهد ورته ومومو او لږ تر لږه له قرآن سره تعارض او مغایرت ونه لري؛ همدا روایت که د قرآن په تله وتلو نو دواړه برخې ئې صحیح دي: یقیناً چې تر ټولو غوره طعام هغه دئ چې انسان ئې له حلالي لاري او د خپل کار او کسب په نتیجه کې تر لاسه کوي؛ داؤد علیه السلام همداسي وو او ټول پیغمبران همداسي ول.

رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته همدا لارښوونه کړې:

... أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ ترکت فيکم ما إن اعْتَصَمْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا: كِتَابَ اللَّهِ:

اې خلکو! په تاسو کې مي هغه څه پرېښود چې که منګولې پرې ټینګې کړئ هیڅکله به بې لاري نه شئ: د الله کتاب.

حتماً پوهېږئ چې دا ئې په هغې خطبې کې ویلي چې تر یو لك زیات خلك په حج کې راغونډ شوي وو؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم آخري خطبه ئې اورېدله؛ او لنډه موده وروسته ئې له دې نړۍ رحلت وکړ. او دا هغه روایت دئ چې د إسناد له پلوه دومره دروند او معتبر دئ چې لږ روایات ورسره برابري کولی شي او له بخاري پرته د حدیث ټولو کتابونو بلا استثناء راوړی. آیا عجیبه نه ده چې په بخاري کې دومره معتبر او مهم روایت نه دئ راوړل شوی؟! په داسي حال کې چې له بخاري پرته ټولو محدثینو بلا استثناء په خپلو کتابونو کې راوړی!!! د امام بخاري رحمه الله استادانو هم راوړی او شاګردانو ئې هم؛ هغو چې تر ده وړاندي ئې د حدیث کتابونه تصنیف کړي یا تر ده وروسته ټولو راوړی؛ حتماً به ده ته هم رسېدلی وي؛ باور مو دا ده چې ښایي ده هم په صحیح بخاري کې راوړی وي؛ خو هغو ترې حذف کړی چې وروسته ئې صحیح بخاري تنظیم کړې؛ دا ځکه چې دا روایت د هغو مسلك او اسلوب په بشپړه توګه نفي او ردوي چې قرآن کافي نه ګڼي، د وروستۍ

او نهائي مرجع په توګه ئې نه مني او تر څنګ ئې د روایت یادونه حتمي بولي!!! کله چې ما دا روایت وموندو او د متن او سند له صحت او درونډ اعتبار ئې خبر شوم؛ تعجب مې وکړ چې ولې ځینو د دې په مقابل کې هغه دوه روایات منلي او په خپلو کتابونو کې ئې راوړي چې هم ئې سند ډېر ضعیف دئ او هم ئې متن له دې صحیح حدیث سره تعارض لري او هم په قرآن کې هیڅ شاهد ورته نه مومو؛ هغه دوه روایات چې د الله تعالی د کتاب تر څنګ؛ د سنتي، عترتي، اهل بیتي یادونه هم په کې شوې؛ دا له هره پلوه نه د منلو دي او نه د حدیث په کتابونو کې د راوړلو وړ.

موږ چې کوم صحیح روایت موندلی د هغه لپاره مو په قرآن کې ځرګند او واضح شاهد هم موندلی؛ او له کوم ضعیف روایت سره چې مخ شوي یو نو هغه مو له قرآن سره متعارض موندلی؛ موږ د لمانځه ټولې مهمې برخې؛ له اودس او تیمم نیولې؛ تر پنځو وختونو ئې، د لمانځه ترتیب او ځرنګوالی؛ حتی دا هم چې هره ورځ د فرض لمونځونو د رکعتونو شمېر څومره دئ؛ په قرآن کې ۱۷ ځلي د سجدې امر شوی؛ او موږ هره ورځ ۱۷ رکعته فرض لمونځ کوو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د همدې په رڼا کې موږ ته ویلي چې د فرض لمونځونو رکعتونه څو دي؛ باور مو دا دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دا هم په قرآن کې موندلي چې دا اولس رکعتونه په پنځو وختونو څنګه ووېشل شي؛۲، ٤،٤، ۳ او ٤؛ لکه چې ټولې نورې برخې ئې له قرآن فهمولې دي؛ دا ئې هم په قرآن کې موندلي؛ که موږ دا ظرافتونه درك نه کړی شو نو خپل عیب ئې وګڼو نه د قرآن عیب؛ او په داسې حال کې چې الله تعالی د قرآن په اړه فرمایي: (... وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ): د هر څه لپاره تفصیل دئ؛ او مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت)؛ که موږ د خپل قصور له کبله یو څه په کې ونه مومو؛ ولې به قرآن ته د دې الهي توصیف خلاف؛ څه منسوبوو؟!؛ د قرآن په ټولو ظرافتونو او اسرارو پوهېدا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر شخصیت ایجابوي؛

هغه چي څه ويلي له همدې قرآن ئې تر لاسه کړي.

## ۱۱ باب: په پېر پلور کي آساني

۹۹٤ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى». (بخارى: ۲۰۷٦)

۹۹٤ - له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((الله تعالی دي پر هغه سړي رحم وکړي چي په پلورلو، پېرلو او د خپل حق په غوښتلو کي نرمي او آساني کوي)).

دا روايت په بخاري کي همدا يو ځل راغلی؛ او په نورو کتابونو کي له مسند احمد پرته په بل هيڅ کتاب کي نه دئ راغلی؛ د سند په اړه ئې عمدة القارئ کي داسي راغلي: وَعلي بن عَيَّاش؛ هُوَ من أَفْرَاده: او په راويانو کي ئې علي بن عياش دئ چي يوازي بخاري ترې دا روايت تر لاسه کړی؛ نورو محدثينو له هغه کوم روايت نه دئ نقل کړی. په سند کي له اشکال سره سره د روايت متن مقبول دئ.

## ۱۲ باب: د وس خاوند ته مهلت

۹۹۵ ـ عن حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَلَقَّتِ الْمَلائِكَةُ رُوحَ رَجُلٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ قَالُوا: أَعَمِلْتَ مِنَ الْخَيْرِ شَيْئًا؟ قَالَ: كُنْتُ آمُرُ فِتْيَانِي أَنْ يُنْظِرُوا وَيَتَجَاوَزُوا عَنِ الْمُوسِرِ، قَالَ: قَالَ: فَتَجَاوَزُوا عَنْهُ». (بخارى: ۲۰۷۷)

۹۹۵ - له حذيفه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((ملائکو له هغو چي تر تاسو وړاندي وو؛ د يوه سړي روح وليده او ورته وئې ويل: آيا د خير کوم کار دي کړی؟ هغه وويل: ما به خپلو خادمانو ته امر کاوو چي له شتمنو (وس لرونکو) قرضدارانو

سره نرمي وکړي او مهلت ورکړي؛ راوي وايي: وئې فرمايل: نو ترې تېرې شوې)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ په صحابه او تابعينو کې يو يو راوي لري چې رِبْعِي بْنَ حِرَاشٍ او حُذَيْفَةَ دي؛ يعني تر غريب اوښتی او اغرب دئ؛ په صحيح مسلم کې له همدې راويانو په دې صيغه راوړل شوی:

٣٩٩٥- عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَلَقَّتِ الْمَلاَئِكَةُ رُوحَ رَجُلٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَقَالُوا: أَعَمِلْتَ مِنَ الْخَيْرِ شَيْئًا؟ قَالَ: لاَ، قَالُوا: تَذَكَّرْ، قَالَ: كُنْتُ أُدَايِنُ النَّاسَ فَآمُرُ فِتْيَانِي أَنْ يُنْظِرُوا الْمُعْسِرَ، وَيَتَجَوَّزُوا عَنِ الْمُوسِرِ، قَالَ: قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: تَجَوَّزُوا عَنْهُ.

له حذيفه روايت دئ چې وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((ملائکو له هغو چې تر تاسو وړاندې وو؛ د يوه سړي روح وليده او ورته وئې ويل: آيا د خير کوم کار دې کړی؟ هغه وويل: نه؛ هغوی وويل: درياد ئې کړه؛ وئې ويل: ما به خلکو ته پور ورکولو او خپلو زلمکيو ته به مې ويل: په ستونزو کې اخته ته مهلت ورکوئ او سوکاله ته له يوه څه ورتېرېږئ؛ الله تعالی ملائکو ته وفرمايل: تاسو له ده تېر شئ.

## ١٣ باب: د مال عيب دې ښکاروي

٩٩٦ ـ عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا». أَوْ قَالَ: «حَتَّى يَتَفَرَّقَا، فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا». (بخارى: ٢٠٧٩)

٩٩٦ – له حکيم بن حزام رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله

صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((پېرونکی او پلورونکی تر هغه اختيار لري چي سره بېل شوي نه وي؛ که دواړو رښتيا وويل او د مال کيفيت ئې بيان کړ؛ نو په سودا کي به ئې برکت واچول شي؛ خو که دروغ ئې ويلي وو او د مال عيب ئې پټ کړی وو؛ نو د بيعي برکت به ئې له منځه ځي)).

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٠٧٩ - ٢٠٨٢ - ٢١٠٨ - ٢١٠٩ - ٢١١٠ - ٢١١٤ – نژدې ټولو کتابونو کي راوړل شوی.

توپير: په يوه کي أَوْ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ اخْتَرْ «أَوْ يَكُونُ بَيْعَ خِيَارٍ» راغلي په نورو کي نه؛ همدا راز په يوه کي دا راغلي وَإِنْ كَذَبَا وَكَتَمَا فَعَسَى أَنْ يَرْبَحَا رِبْحًا، وَيُمْحَقَا بَرَكَةَ بَيْعِهِمَا او په نورو کي نه.

د احتياط غوښتنه دا ده چي پېرونکی دا شرط وضع کړي چي يوه دوه ورځي ئې امتحانوم که ئې کوم عيب نه درلود زما شو؛ که نه نو بېرته ئې درسپارم؛ قرآن دا سپارښتنه هم کوي:

﴿... وَلا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلا تَرْتَابُوا إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ... ﴿٢٨٢﴾﴾ البقرة

... او په دې کي اهمال مه کوئ چي تر خپلي خاصي نېټې يو پور وليکئ، لږ وي که ډېر؛ دا (ليکل) مو د الله په نزد کي ډېر عادلانه دئ او د شهادت مضبوطوونکی او دې ته ډېر نژدې چي په خپلو کي شك ونه کړئ؛ مگر دا چي هغه حضوري او مخامخ تجارت وي چي په خپلو کي ئې لاس په لاس کوئ؛ نو بيا پر تاسو د دې گناه نه شته چي وئې نه ليکئ او کله چي مو په خپلو کي بيع کوله نو شاهدان ونيسئ...

يعني د پور معامله كې؛ لږ وي يا ډېر؛ هم ئې وليكئ او هم شاهدان ونيسئ؛ خو لاس په لاس پېر پلور كې ليكل حتمي نه دي خو شاهدان ونيسئ.

## ١٤- باب: د ګډو كجورو بيع

٩٩٧ ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا نُرْزَقُ تَمْرَ الْجَمْعِ، وَهُوَ الْخِلْطُ مِنَ التَّمْرِ، وَكُنَّا نَبِيعُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا صَاعَيْنِ بِصَاعٍ وَلا دِرْهَمَيْنِ بِدِرْهَمٍ». (بخارى: ٢٠٨٠)

٩٩٧ – له ابو سعيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ ته به ګډي شوې كجوري راكول كېدې؛ او موږ به بيا دوه صاع په يوه صاع پلورلې؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((دوه صاع په يوه صاع مه پلورئ او مه دوه درهمه په يوه درهم)).

امام مسلم دا موضوع تر دې باب لاندي راوړې چي مناسبت ئې څرګند دئ: بَابُ بَيْعِ الطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ او د بخاري باب دا دئ: د مال عيب دي ښكاروي؛ د روايت او باب تر منځ هيڅ مناسبت نه شته؛ په روايت كې دا نه مومو چي د مال عيب بايد ښكاره كړى شي؛ د روايت مطلب دا دئ چي خرما به له خرما سره برابر بدلېږي؛ نه يوه پيمانه د دوه پيمانو په مقابل كې او لږ په ډېر؛ كه څوك دې ته اړ شي نو ګډې كجوري دي سره بېلي كړي او بيا دې برابر تبادله كړي؛ د مسلم روايت دا مطلب په واضح توګه بيان كړى:

عَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّهُ أَرْسَلَ غُلَامَهُ بِصَاعِ قَمْحٍ، فَقَالَ: بِعْهُ، ثُمَّ اشْتَرِ بِهِ شَعِيرًا، فَذَهَبَ الْغُلَامُ، فَأَخَذَ صَاعًا وَزِيَادَةَ بَعْضِ صَاعٍ، فَلَمَّا جَاءَ مَعْمَرًا أَخْبَرَهُ بِذَلِكَ، فَقَالَ لَهُ مَعْمَرٌ: لِمَ فَعَلْتَ ذَلِكَ؟ انْطَلِقْ فَرُدَّهُ، وَلَا تَأْخُذَنَّ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، فَإِنِّي كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ:

«الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ»، قَالَ: «وَكَانَ طَعَامُنَا يَوْمَئِذٍ الشَّعِيرَ»

له مَعْمَر بن عبد الله روايت دئ چي خپل غلام ئې له يوې پيمانې غنمو سره ولېږو او وئې ويل: وئې پلوره بيا وربشي پرې واخله؛ غلام ولاړ او يوه پيمانه او د پيمانې يوه برخه پرې اضافه ئې تر لاسه کړه؛ کله چي معمر ته ورغی پرې خبر ئې کړ؛ معمر ورته وويل: ولې دي دا کار وکړ؟ ولاړ شه او ورمسترد ئې کړه؛ له دې پرته ئې په بله توگه مه اخله چي سره ورته وي؛ ما له رسول الله صلی الله عليه و سلم اورېدلي چي فرمايل ئې: خوراکي توکي به په برابره توگه سره بدلېږي. راوي وايي: هغه مهال زموږ خوراك وربشي وې.

که څه هم ځيني د وربشو او غنمو تبادله له زيادت سره جائز گڼي خو د احتياط تقاضی دا ده چي د معمر رضي الله عنه له سپارښتني سره سم عمل وشي.

## ١٥ باب: سود ورکوونکی

٩٩٨ ـ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: رَأَيْتُ أَبِي اشْتَرَى عَبْدًا حَجَّامًا فَأَمَرَ بِمَحَاجِمِهِ فَكُسِرَت، فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَثَمَنِ الدَّمِ، وَنَهَى عَنِ الْوَاشِمَةِ، وَالْمَوْشُومَةِ، وَآكِلِ الرِّبَا وَمُوكِلِهِ، وَلَعَنَ الْمُصَوِّرَ. (بخارى: ٢٠٨٦)

٩٩٨ - له عَون بن ابي جُحَيفه روايت دئ چي وايي: پلار مي وليد چي يو حَجَّام (وينه ايستونکی) غلام ئې وپېرو او امر ئې وکړ چي د حَجامت (ويني ايستلو) وسائل ئې مات شي، نو مات شول، پوښتنه مي ترې وکړه؛ وئې ويل: (رسول الله صلی الله عليه و سلم د سپي له بيې، د ويني له بيې (په حجامت مزدورۍ)، له خال وهونکو او خال وهل شوو او سود خوړلو او سود ورکولو؛ نهي کړې ده او پر مصور (تصوير جوړوونکي) ئې لعنت ويلی دئ.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۵ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۰۸٦ - ۲۲۳۷ - ٥٣٤٦ - ٥٣٤٧ - ٥٧٦١ -

توپیرونه: په یوه کې دا راغلي فَأَمَرَ بِمَحَاجِمِهِ فَكُسِرَت په نورو کې نه دي راغلي؛ په یوه کې ثَمَنِ الكَلْبِ وَثَمَنِ الدَّمِ، وَنَهَى عَنِ الوَاشِمَةِ وَالمَوْشُومَةِ، وَآكِلِ الرِّبَا وَمُوكِلِهِ، وَلَعَنَ المُصَوِّرَ په بل کې نَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَمَهْرِ البَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الكَاهِنِ او په بل کې الوَاشِمَةَ وَالمُسْتَوْشِمَةَ، وَآكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ، وَنَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَكَسْبِ البَغِيِّ، وَلَعَنَ المُصَوِّرِينَ

په صحيح مسلم کې دا روایت په دې صیغه راغلی:

٤٠١٤- عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ.

٤٠٢٠- عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرًا، عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ؟ قَالَ: زَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ.

له ابو زبیر روایت دئ چې وایي: له جابر مې وپوښتل: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د سپي او پشۍ له بهاء مخنیوی کړی؟ وئې ویل: له دې ئې رټل کړي.

د فقهاءو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې د سپي او پشۍ پېر پلور جائز دئ که نه؛ ځیني د تعلیمي سپي پېرل جائز ګڼي؛ ځیني وایي: په سر کې ئې ممانعت شوی او وروسته اجازه ورکړی شوې؛ د فاحشو ساتل او پیسې پرې تر لاسه کول، کاهن ته اجوره او شکرانه ورکول، پر بل خالونه وهل او پر ځان ئې وهل، سود خوړل، سود ورکول، لیکل او شاهد کیدل ئې او په لاس د انسان او ژوو تصویر (رسامي) کول تحریم شوي؛ او په اړه ئې د فقهاءو تر منځ شبه اجماع ده؛ خو په دې اړه اختلاف دئ چې آیا دا اوسنۍ عکاسي او له کامرې په استفادې سره د چا تصویر اخیستل جائز دي که نه؛ ځیني د دې دواړو تر منځ په توپیر قائل دي او ځیني نه؛ خو حقیقت دا دئ چې په کامرې تصویر اخیستل

نوې قضيه ده او نوې فتوی ايجابوي؛ رسامي د لاس کار دئ او عکاسي د کامرې؛ د کامرې په عکس کې انسان او لاس ئې هيڅ اغېز نه لري؛ د کامرې عکس دقيقاً داسي دئ لکه چي ته خپل تصوير په هنداري او اوبو کې ګورې؛ تفاوت ئې يوازي په دې کې دئ چي کامره ستا تصوير ثبتوي؛ خو هنداره او اوبه ئې نه شي ثبتولی؛ رسامي تصوير د واقعيت يوه لړه سلنه انتقالولی شي او عکس د واقعيت پراخه او دقيقه برخه؛ عکس او تصوير که د تعظيم لپاره وي په حرمت کې ئې اختلاف نه شته. د روايت دا برخه هم وضاحت ايجابوي چي له (مَهْرِ الْبَغِيِّ) مراد فاحشې ته څه ورکول دي که د فاحشو ساتل او پيسې پرې تر لاسَه کول؟ دې ته په پام سره چي تر دې وړاندي د سپي او پشۍ د بيې نهي راغلې؛ نو دلته به هم په فاحشو څه تر لاسه کول مراد وي. د انځور او تمثال په اړه د قرآن دې آيت ته ځیر شئ چي د سليمان عليه السلام په ارتباط فرمايي:

يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَٱلْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَٰتٍ ۚ .... ﴿١٣﴾ سبأ

هغه څه به ئې ورته جوړول چي ده غوښتل؛ لکه لوړي جنګي کلاګاني، تماثيل (انځورونه)، د حوضونو په څېر طشتونه او تم شوي ثابت دېګونه...،

يعني الله تعالی هغه پېريان ورته مسخر کړي ول چي د الله په حکم به د سليمان عليه السلام په وړاندي؛ په ډول ډول کارونو لګيا ول، سرغړاوی ئې نشو کولی، که د دوی کوم چا به سرغړاوی او کوږوالی وکړ نو سزا به ئې لمبه ناك عذاب وو، هغه څه به ئې جوړول چي ده غوښتل، لکه جنګي کلاګاني، تماثيل او انځورونه، د حوضونو په څېر ستر ستر طشتونه او ځای پر ځای ولاړ ستر ستر دېګونه.

دلته د هغو کارونو په ضمن کې چي پېريانو به سليمان عليه السلام ته کول د (تماثيل) جوړول هم راغلي؛ تمثال هغه تصوير او انځور ته ويل

کېږي چې انسان، حیوان، بوټی، یا کوم بل څه تمثیلوي، لسان العرب د تمثال په اړه لیکي: التمثال اسم للشیء المصنوع مُشَبَّهاً بخلق من خلق الله: تمثال د هغه مصنوع نوم دئ چې د الله تعالی له مخلوقاتو کوم مخلوق ته ورته وي، د کشاف تفسیر وایي: کل ما صور علی صورة غیره من حیوان و غیر حیوان: تمثال هر هغه تصویر ته ویل کېږي چې د کوم حیوان یا غیر حیوان په بڼې کې انځور شوی وي. متأسفانه ځیني دا د مجسمې په معنی تعبیروي او وایي: په مخکینیو ادیانو کې د مجسمې جوړول جائز وو؛ او ګواکې پېریانو سلیمان علیه السلام ته مجسمې جوړولې، دا رأیه ئې د بایبل د غلطو ویناوو تر اغېز لاندې وړاندې کړې؛ خو دا یوه ستره اشتباه او غلطه رأیه ده، د مجسمې جوړول په ټولو الهي ادیانو کې تحریم شوي، سلیمان علیه السلام ته د مجسمو درلودلو غلطه خبره منسوبول د هغه چا کار دئ چې د بایبل خبره ئې په پټو سترګو منلې او دا په داسې حال کې چې د بایبل په ګڼ شمېر نورو ځایونو کې د مجسمو له جوړولو جدي ممانعت تر سترګو کېږي، بایبل وایي: خدای د هر ډول مجسمو له جوړولو او د دوی په وړاندې د عبادت له کولو ممانعت کړی او فرمایلي ئې دي: بُت مه جوړوئ او بُتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلې ډبرې د لمانځنې لپاره مه جوړوئ... همدا راز وایي: نو بیا خدای له موسی وغوښتل چې بني اسرائیلو ته ووایه: تاسو ولیدل چې څنګه مې له آسمانه له تاسو سره خبرې وکړې!!! نو له دې وروسته له سرو او سپینو زرو ځان ته بتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ...

مجسمې جوړول او ساتل یا د هغه چا دود دئ چې مشرك شوی او د الله تعالی تر څنګ د بل چا او بل څه لمانځنه کوي، یا د هغه ذلیل انسان چې د شخصیتونو او د ځان په څېر یوه انسان په لمانځنې او ستاینې کې مبالغه کوي؛ او دا هم اکثراً د مادي اغراضو په طمع؛ یا د هغه چا چې په خرافاتو کې غرق دئ، په بېهوده کارونو او مشغولتیاوو

کې ښکېل شوی او خپل وخت او امکانات په بېهوده، عبث او بې ګټې شيانو او امورو کې ضائع کوي. د سپېڅلو توکيو په نامه داسي مجسمې او هغوی ته ورته شيان ساتل او هغوی ته په درواغو کرامات منسوبول په ټولو جاهلو قومونو کې شته، له چا سره سپېڅلې ډبري، له چا سره سپېڅلې جنډې، له چا سره سپېڅلې جامې، له چا سره سپېڅلې مجسمې، له چا سره سپېڅلي هډوکي؛ په تارونو کې پېيل شوي هم او په قبرونو کې وراسته شوي هم او ... هر يو يا خلك پرې غولوي، يا خپل ځواکمن دښمن پرې ماتوي او يا خپل غرض او مراد پرې تر لاسه کوي!! د احد په جنګ کې د قريشو فوځ درې زره او د مسلمانانو شمېر اوه سوه وو؛ خو دوی خپله بريا د هُبَل او عُزَّى په طفيل ګڼله او د هبل او عُزَّى مجاورانو دا بريا د دغو بتانو کرامت ته منسوبوله!!

ځينو درنو مفسرينو د دې آيت په تفسير کې د تصوير او انځور په اړه هم تفصيلي بحثونه کړي؛ چا ليکلي چي تصوير په مطلقه توګه حرام دئ، چا ليکلي چي يوازي د ژوو انځورونه جوړول حرام دي، چا ليکلي چي د تعظيم او درناوي په توګه د انځورونو ساتل حرام دي؛ له تعظيم پرته ئې ساتل شرعي مانع نه لري؛ دا اختلاف هم له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړ شوی. په قرآن کې نه يوازي د عکس او انځور د حرمت په اړه کوم واضح او صريح حکم نه مومو بلکې ځيني فقهاء د دې آيت په استناد وايي چي که سليمان عليه السلام د پېريانو په لاس تماثيل جوړ کړي نو داسي تماثيل جوړول څه مانع نه لري؛ ممکنه نه ده چي يو څه دي په الهي شريعت کې د يوه پيغمبر په دوران کې حلال وي او په بل دور کې حرام؛ په داسي مواردو کې د ټولو پېغمبرانو شريعت په بشپړه توګه سره ورته دئ.

زه د تحقيق په ترڅ کې د تصوير او انځور په اړه دې نتيجې ته رسېدلی يم چي:

- نانځکي ساتل هيڅ مانع نه لري، که څه هم مجسمو ته ورته وي.

نور خو پرېږده حتی عائشې رضی الله عنها نانځکي درلودې؛ نه ابو بکر رضی الله عنه ترې منع کړې او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم.

- د غیر ذي روح شیانو انځورونه جوړول او ساتل څه مانع نه لري؛ دې ته مو پام وي چي نن د صنعت یوه اساسي او ضروري برخه انځور دئ، هره فابریکه چي څه جوړوي که دا موټر وي، یا طیاره یا رېل، یا موټر سیکل، یا کمپیوټر یا بل هر څه؛ نو انجنیران ئې لومړی تصویر جوړوي او بیا د همدې تصویر له مخي هغه شی، یوه انجنیر ته له مخکیني انځور پرته د یوه شي جوړول تقریباً شبه محال دئ.
- د تعظیم او درناوي په توګه د انسان انځورونه جوړول او ساتل حرام دي.
- په خپل لاس د داسي انځورونو جوړول او دا ځان ته یوه حرفه، کسب او دنده ګرځول ناجائز دي.
- په خپل لاس او د رسامي له لاري انځورنه له اوسنۍ عکاسي او فیلم سره ژور توپیرونه لري، روایات ټول د رسامي په اړه دي، پر اوسنۍ عکاسي او فیلم ئې اطلاق نه شي کېدی. هغه چي د دغو روایاتو په استناد عکاسي حرام ګڼي؛ دوی اوسنۍ عکاسي په مخکینۍ رسامي قیاسوي، خو دا په بشپړه توګه قیاس مع الفارق دئ، د دې او هغه تر منځ ژور توپیر دئ، هغه د انسان د لاس او ذهن زېږنده رسم او تصویر وو، اکثراً د واقع خلاف؛ او په دې کي نه د انسان ذهن څه اغېز لري او نه لاس، دا داسي دئ لکه په هنداري او اوبو کي د چا انځور، کامره له دې پرته بل څه نه کوي چي دغه د هنداري انځور کاغذ او فیلم ته انتقالوي. دې ته باید متوجه وو چي په دې اړه علماء په دوو ډلو وېشل شوي: هغه چي عکاسي په رسامي قیاسوي؛ او هغه چي له دې قیاس سره موافق نه دي. د یوه څه د حل و حرمت په اړه حکم صریح نص ته ضرورت لري، د رسامي په اړه روایات د عکاسي په اړه صریح نص نشو ګڼلی، ځکه د دې دواړو تر منځ ژور توپیرونه شته؛ دې ته مو هم باید

پام وي چي د هر حرمت تر شا يو حكمت مضمر وي؛ مجسمې او د تعظيم لپاره انځورونه؛ د دې لپاره تحريم شوي چي په شرك او بُتپالني منتج كېږي، كه داسي نه وی نو هم به د نانځكو جوړول او ساتل تحريم شوي وو او هم داسي انځورونه چي پر فرش وي.

- د ضرورت په صورت كي او د پېژندگلوۍ په موخه د تصوير ساتل او د روا مقاصدو لپاره او په گټورو چارو كي له فيلم استفاده مانع نه لري؛ د تبليغ، روزني، تربيت او لارښووني په ډگر كي فيلم داسي مهمه او ارزښتناكه وسيله ده چي هيڅ خبير داعي او مصلح ترې انكار نشي كولی، متأسفانه اوس دا وسيله د شريرو او مفسدو ځواكونو په لاس كي پربوتې او د خلكو د بې لاري كولو په اړه ترې پراخه استفاده كېږي. د نانځكو په بڼې كي هم دين دښمنه ځواكونه ماشومانو ته د بې عفتۍ او بربنډتوب تلقين كوي.
- هغو ته حيران يو چي له يوې خوا سليمان عليه السلام ته د پېريانو په لاس د مجسمو جوړولو ادعاء كوي او گواكي په مخكيني شريعت كي مجسمې جوړول او ساتل جائز وو؛ له بلي خوا د عكس په اړه داسي فتوى وركوي چي گواكي په بشپړه توگه حرام دي، فتوى ئې هم د هغو رواياتو په استناد چي د رسم په اړه دي؛ حال دا چي عكس په رسامي انځور قياسول غلط قياس دئ.

## ١٦ باب: قسم بركت له منځه وړي

٩٩٩ ـ عَن أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْحَلِفُ مُنفِقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ». (بخارى: ٢٠٨٧)

٩٩٩ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: ((لوړه د مال رواجېدو او خرڅلاو سبب دئ؛ خو د بركت له منځه وړونكى دئ)).

د بخاري باب اصلاً داسي دئ: باب: يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ

وَاللَّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ [البقرة: ٢٧٦]؛ دا آیت د سود په اړه دئ؛ نه د لوړي؛ او وایي: الله تعالی سود له منځه وړي او صدقاتو ته وده ورکوي. ابو داؤد دا باب ورته غوره کړی: بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْيَمِينِ فِي الْبَيْعِ؛ او مسلم دا باب: بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ؛ د دواړو باب د بخاري تر باب له روایت سره ډېرَ مناسبت لري. په مسند احمد کې دا روایت په دې صیغه راغلی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْيَمِينُ الْكَاذِبَةُ مَنْفَقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مَمْحَقَةٌ لِلْكَسْبِ

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((دروغجنه لوړه د مال رواجېدو (خرڅلاو) سبب دئ؛ د کسب له منځه وړونکی دئ)).

که لږ ځیر شو نو د مسند احمد روایت نسبت نورو ته جامع او واضح دئ؛ دروغجنه لوړه ئې د کسب له منځه وړونکې شودلې؛ یعني که څه هم دا قسم خور سوداګر موقتاً مشتریان پیدا کړي؛ خو ډېر ژر ئې درواغ خلکو ته څرګند شي، خپل اعتبار له لاسه ورکړي او کسب ئې له کساد سره مخ شي.

## ١٧ باب: د آهنګرۍ کسب

١٠٠٠ ـ عَنْ خَبَّابٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ قَيْنًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ لِى عَلَى الْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ دَيْنٌ، فَأَتَيْتُهُ أَتَقَاضَاهُ، قَالَ: لا أُعْطِيكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُلْتُ: لا أَكْفُرُ حَتَّى يُمِيتَكَ اللَّهُ، ثُمَّ تُبْعَثَ، قَالَ: دَعْنِي حَتَّى أَمُوتَ وَأُبْعَثَ فَسَأُوتَى مَالاً وَوَلَدًا، فَأَقْضِيكَ فَنَزَلَتْ: أَفَرَأَيْتَ الَّذِى كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لأُوتَيَنَّ مَالاً وَوَلَدًا أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا. (بخاری: ٢٠٩١)

١٠٠٠ - له خَبَّاب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د جاهليت په زمانه کي پښ (آهنگر) وم او پر عاص بن وائل مي پور وو؛ ورغلم چي ترې وئې غواړم؛ وئې ويل: تر هغه ئې نه درکوم چي په محمد صلی الله عليه و سلم کافر شې؛ ومي ويل: کافر به نشم؛ حتى که الله تعالى تا مړ او بېرته را ژوندی هم کړي؛ وئې ويل: نو تر هغه مي پرېږده چي مړ او بېرته را ژوندی شم؛ نو مال او اولاد به راکړل شوی وي او بيا به ستا پور پرې کړم؛ همغه وه چي دا آيتونه رانازل شول

أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لأُوتَيَنَّ مَالاً وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ مريم

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٠٩١ - ٤٧٣٢ - ٤٧٣٣ -٤٧٣٤ -

توپيرونه: په يوه کي كُنْتُ قَيْنًا فِي الجَاهِلِيَّةِ په بل کي كُنْتُ قَيْنًا بِمَكَّةَ، په يوه کي وَكَانَ لِي عَلَى العَاصِ بْنِ وَائِلٍ دَيْنٌ فَأَتَيْتُهُ أَتَقَاضَاهُ، په بل کي جِئْتُ العَاصَ بْنَ وَائِلٍ السَّهْمِيَّ أَتَقَاضَاهُ حَقًّا لِي عِنْدَهُ په بل کي فَعَمِلْتُ لِلْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ السَّهْمِيّ سَيْفًا فَجِئْتُ أَتَقَاضَاهُ په يوه کي قَالَ: قَال دَعْنِي حَتَّى أَمُوتَ وَأُبْعَثَ په بَل کي قَالَ: وَإِنِّي لَمَيِّتٌ ثُمَّ مَبْعُوثٌ؟ او په بل کي قَالَ: إِذَا أَمَاتَنِي اللَّهُ ثُمَّ بَعَثَنِي وَلِي مَالٌ وَوَلَدٌ راغلي.

دا روايت په صحيح مسلم کي تر دې باب لاندي راغلی: باب في نزول (أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا)؛ امام بخاري يو ځل تر دې باب لاندي (بَاب ذِكْرِ الْقَيْنِ وَالْحَدَّادِ) راوړی او درې ځلي ئې تر داسي بابونو لاندي راوړی چي د هر يوه خوا ته ئې د مريم د سورې يو يو آيت هم راوړی.

هغه آيتونه چي دلته راوړل شوي؛ دا دي:

أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِي كَفَرَ بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾

آیا هغه دي ولید چي زما له آیتونو ئې انکار وکړ او وئې ویل: حتماً به مال او اولاد راپه برخه شي!؛ آیا له غیبو خبر شوی او که له رحمن رب ئې کومه ژمنه تر لاسه کړې؟!

په دې مبارکو آیتونو کې د هغو وګړو خوشې او بې بنسټه هیلي او طمعي انځور شوې چي ګمان کوي د کفر او کافرانو غېږ ته په پناه وړلو سره به د مال خاوند شي او اجتماعي وجاهت او اعتبار به ئې په برخه شي!! وايي: آیا هغه چا ته دي پام کړی چي د الله تعالی له آیتونو ئې انکار وکړ او وئې ویل: حتماً به مال او اولاد راپه برخه شي!؛ آیا دا انګېرنه ئې له دې امله ده چي له غیبو خبر شوی؟! او که له دې امله چي له الله تعالی ئې کومه ژمنه تر لاسه کړې؟! څنګه ګمان کوي چي د کفر او کافرانو په غېږ کې به د ده هیلي تر سره او مال، وجاهت او اقتدار به ئې په برخه شي؟ چا له غیبو خبر کړی او په کوم الهي کتاب کې ئې دا لوستلي؟! داسي نه ده؛ حتماً به هغه څه ولیکو چي دی ئې وايي؛ او د مال پراخوالي او د وجاهت زیاتوالي پر ځای به له ځانګړي پراخ عذاب سره مخامخ شي. همدغه غلطه وینا او کچه انګېرنه به په میراث ترې پاته شي او الله تعالی ته به تش لاس، یوازې او ګوښی وړاندي شي.

لکه چي ګورئ په دې آیتونو کې د داسي چا یادونه شوې چي د کفر په غېږ کې د مال او وجاهت تر لاسه کولو قطعي طمع لري؛ د قرآن په ځینو نورو آیتونو کې هم ویل شوي چي د مال او ثروت خاوندان وايي: قیامت نه شته او که وي نو هلته به هم زما برخه او نصیب د خدای خوا ته همداسي وي لکه په دنیا کې؛ ((... وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُجِعْتُ إِلَى رَبِّي إِنَّ لِي عِنْدَهُ لَلْحُسْنَى ....) فصلت ۵۰؛ اما په روایت کې دا خبري د عَاصِ بْنِ وَائِل ګڼل شوې او ګواکې هغه پر خَبَّاب رضي الله عنه یا د ملنډو په توګه ویلي (فَسَأُوتَى مَالاً وَوَلَدًا،)؛ او یا د پوښتني په توګه (وَإِنِّي لَمَيِّتٌ ثُمَّ مَبْعُوثٌ؟) او له دې په څرګنده توګه دوه خبري معلومېږي: ۱- د آیتونو شأن نزول قطعاً دا نه دئ؛ ۲- که عاص بن وائل

دا خبري کړې وي نو د دغو آيتونو له نزول وروسته ئې کړې؛ نه وړاندي؛ د آيت همدا الفاظ ئې د ملندېو په توګه کارولي.

## ١٨ باب: د خياطۍ کسب

١٠٠١ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قال: إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ، قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ذَلِكَ الطَّعَامِ، فَقَرَّبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزًا وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ قَالَ: فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ مِنْ يَوْمِئِذٍ. (بخارى: ٢٠٩٢)

١٠٠١ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه خياط رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي خوړو ته دعوت کړ چي په خپله ئې جوړ کړی وو؛ انس وايي: زه هم له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره دې خوړو ته ولاړم؛ خياط رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ډوډۍ او داسي شوروا وړاندي کړه چي لاندی (وچه غوښه) او کدو په کي وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم مي وليد چي د کاسې په ژيو کي ئې کدو لټولو؛ انس رضي الله عنه وايي: له همغي ورځي مي کدو ډېر خوښېږي.

دا روايت په بخاري کي ٣ ځلي په دغو شمېرو: ٢٠٩٢ - ٥٣٧٩ - ٥٤٣٦ او تر دغو بابونو لاندي راغلی: بَابُ ذِكْرِ الخَيَّاطِ، بَابُ مَنْ تَتَبَّعَ حَوَالَيْ القَصْعَةِ مَعَ صَاحِبِهِ، إِذَا لَمْ يَعْرِفْ مِنْهُ كَرَاهِيَةً او بَابُ المَرَقِ؛ خو په بخاري کي دا روايت هم راوړل شوی:

وَقَالَ أَنَسٌ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيهِ»

او انس ویلي: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د الله نوم یاد کړئ او هر سړی باید له هغه لوري وخوري چي ورنژدې دئ.

په دغو روایاتو کي تعارض تر سترګو کېږي؛ يو وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم امر کړی چي هر سړی باید د لوښي له هغه لوري وخوري چي ورنژدې دئ او بل وايي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله په لوښي کي کدو لټولو!! امام بخاري دا توجيه وړاندي کړې چي: كه هم كاسه ئې بد ونه ګڼي نو پروا نه لري؛ ځینو دا توجیه وړاندي کړې چي ګواکي رسول الله صلی الله علیه و سلم کاسې ته یوازي ناست وو؛ خو دا توجیه ځکه نه ده منل شوې چي انس ویلي: کله چي ما له کدو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم علاقه ولیدله نو په خپله مي د هغه مخي ته کښېښودل؛ ناچار به له دغو روایاتو يو ترې غوره کوو؛ او همغه چي هر څوك باید د لوښي له هغه لوري خوراك وکړي چي ده ته نژدې دئ؛ د بل روایت په اړه به ناچار وایو چي مطلب په سمه توګه نه دئ انتقال شوی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلي خوا ته د غوښي په ځای کدو لټولو؛ نه په ټول لوښي کي.

دا روایت په صحیح مسلم کي؛ تر دې باب لاندي راوړل شوی: بَابُ جَوَازِ أَكْلِ الْمَرَقِ، وَاسْتِحْبَابِ أَكْلِ الْيَقْطِينِ، وَإِيثَارِ أَهْلِ الْمَائِدَةِ بَعْضِهِمْ بَعْضًا وَإِنْ كَانُوا ضِيفَانًا إِذَا لَمْ يَكْرَهْ ذَلِكَ صَاحِبُ الطَّعَامِ؛ روایت دا دئ:

(۲۰٤۱) عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، «إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ»، قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: «فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ذَلِكَ الطَّعَامِ، فَقَرَّبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزًا مِنْ شَعِيرٍ وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ»، قَالَ أَنَسٌ: «فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَيِ الصَّحْفَةِ»، قَالَ: «فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ مُنْذُ يَوْمَئِذٍ»

راشئ دا هم وګورو چي قرآن په دې ارتباط څه لارښوونه لري:

... لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ... ﴿٦١﴾ النور

.... پر تاسو په دې کي څه ګناه نه شته چي په ګډه خوراك وکړئ یا بېل بېل ...

له ګډ او بېل بېل دوه تعبیرونه کېدی شي: ۱- پر یوه دسترخان یو ځایي یا بېل بېل؛ ۲- په ګډه له یوه لوښي یا په بېل بېل لوښي کي؛ په دې روایت کي په ګډه له یوه لوښي؛ خوراك بیان شوی؛ شرعي ادب ئې دا ښودلی چي هر څوك به د لوښي له هغي برخي خوري چي ده ته نژدې وي.

په بسم الله سره خوراك پیلول، لاسونه تر خوراك وړاندي او وروسته مینځل، په ښي لاس خوراك کول، د تکیې حالت کي خوراك نه کول، لاس په لوښي کي نه څنډل، په پای کي الحمد لله ویل او دا هم چي د ګډ خوراك په وخت کي د سکوت په ځای خبري کول؛ د آدابو په ضمن کي دي.

## ۱۹ باب: د څارویو اخستل

۱۰۰۲ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ، فَأَبْطَأَ بِي جَمَلِي وَأَعْيَا، فَأَتَى عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «جَابِرٌ»؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «مَا شَأْنُكَ»؟ قُلْتُ: أَبْطَأَ عَلَيَّ جَمَلِي وَأَعْيَا فَتَخَلَّفْتُ، فَنَزَلَ يَحْجُنُهُ بِمِحْجَنِهِ، ثُمَّ قَالَ: «ارْكَبْ» فَرَكِبْتُ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ أَكُفُّهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَزَوَّجْتَ»؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: «بِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا»؟ قُلْتُ: بَلْ ثَيِّبًا، قَالَ: «أَفَلا جَارِيَةً تُلاعِبُهَا وَتُلاعِبُكَ»؟ قُلْتُ: إِنَّ لِي أَخَوَاتٍ، فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَتَزَوَّجَ امْرَأَةً تَجْمَعُهُنَّ، وَتَمْشُطُهُنَّ، وَتَقُومُ عَلَيْهِنَّ، قَالَ: «أَمَّا إِنَّكَ قَادِمٌ فَإِذَا قَدِمْتَ فَالْكَيْسَ

الْكَيْسَ» ثُمَّ قَالَ: «أَتَبِيعُ جَمَلَكَ»؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فَاشْتَرَاهُ مِنِّي بِأُوقِيَّةٍ، ثُمَّ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلِي، وَقَدِمْتُ بِالْغَدَاةِ، فَجِئْنَا إِلَى الْمَسْجِدِ، فَوَجَدْتُهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ، قَالَ: «أَالآنَ قَدِمْتَ»؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: «فَدَعْ جَمَلَكَ، فَادْخُلْ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ». فَدَخَلْتُ فَصَلَّيْتُ، فَأَمَرَ بِلالاً أَنْ يَزِنَ لَهُ أُوقِيَّةً، فَوَزَنَ لِي بِلالٌ فَأَرْجَحَ لِي فِي الْمِيزَانِ، فَانْطَلَقْتُ حَتَّى وَلَّيْتُ، فَقَالَ: «ادْعُ لِي جَابِرًا» قُلْتُ: الآنَ يَرُدُّ عَلَيَّ الْجَمَلَ، وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْهُ، قَالَ: «خُذْ جَمَلَكَ، وَلَكَ ثَمَنُهُ». (بخارى: ٢٠٩٧)

١٠٠٢ – له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په يوه غزا كي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملگرى وم؛ اوښ مي له تگ ولوېد او وروسته پاته شوم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم راورسېد او وئې فرمايل: ((جابر يې؟)) ومې ويل: هو؛ وئې فرمايل: ((څه درباندي شوي؟)) ومي ويل: اوښ مي راته سست شوى او له پښو لوېدلى؛ نو وروسته پاته شوم؛ نو راكوز شو او زما اوښ ئې په خپلي لکڼي چي يو سر ئې كوږ وو؛ چوخولو؛ بيا ئې وفرمايل: ((سپور شه))؛ نو سپور شوم؛ نو ليدو مي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم به مي راټمولو؛ (چي خوا ته ئې ونه رسېږي يا ترې وړاندي نه شي)؛ وئې فرمايل: ((واده دي كړئ؟))؛ ومي ويل: هو؛ وئې فرمايل: ((كونډه كه پېغله؟)) ومي ويل: كونډه؛ وئې فرمايل: ((ولي پېغله نه؛ چي تا له هغې او هغې له تا سره لوبي كولې؟)) ومي ويل: زما څو خوېندي دي؛ دا مي خوښه كړه چي له داسي مېرمني سره واده وكړم چي غونډي ئې وساتي، سرونه ئې ږمنځوي او پالنه ئې كوي؛ وئې فرمايل: ښه؛ اوس ته ستنېدونكى يې؛ كله چي ستون شوې نو هوښيار هوښيار اوسه)) بيا ئې وفرمايل: آيا اوښ دي پلورې؟)) ومي ويل: هو؛ نو له ما ئې په يوه اُوقِيَه (٤٠ درهمه) واخيست؛ بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم تر ما وړاندي مدينې ته

ورسېد؛ او زه سبا ورسېدم؛ جومات ته راغلو؛ نو د جومات له دروازې سره مي وليد؛ وئې فرمايل: ((اوس راورسېدې؟)) ومي ويل: هو؛ وئې فرمايل: ((اوښ دي خوشی کړه، جومات ته ننوځه او دوه رکعته لمونځ وکړه))؛ نو ننوتلم او لمونځ مي وکړ؛ نو بلال ته ئې امر وکړ چي ده ته يوه أُوقيه وتله؛ نو بلال راته وتلله؛ لږ ئې درنه راته وتلله، بيا زه روان شوم تر هغه چي شا مي واړوله؛ وئې فرمايل: ((جابر راوغواړه))؛ له ځان سره مي وويل: اوس به مي اوښ بېرته راکوي او تر دې زيات مي هيڅ څه بد نه ايسېدو؛ وئې فرمايل: ((اوښ دي واخله او بيه ئې ستا)).

د روايت يوه برخه لږ مزيد دقت ايجابوي؛ دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم جابر ته ويلي: ((فَإِذَا قَدِمْتَ فَالْكَيْسَ الْكَيْسَ)): نو کله چي ستون شوې هوښيار هوښيار اوسه؛ په دې اړه عجيب عجيب تعبيرونه شوي؛ چي ځيني ئې اصلاً په يادولو نه ارزي؛ ساده او له تکلف پرته تعبير دا دئ: هم خپلو وړو خوېندو او له هغوی سره چلن کي او هم له خپلي مېرمني سره تعامل کي دقت کوه.

دا هم بايد وويل شي چي دا روايت يوازي په بخاري او مسند احمد کي راغلی؛ د مسند احمد مفصل او مشرح دئ؛ ډېر مطالب ئې د بخاري په روايت کي نه مومو.

## ٢٠ باب: د رنځور اوښ اخستل

١٠٠٣ ـ عن عَمْرٍو: كَانَ هَا هُنَا رَجُلٌ اسْمُهُ نَوَّاسٌ وَكَانَتْ عِنْدَهُ إِبِلٌ هِيمٌ، فَذَهَبَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَاشْتَرَى تِلْكَ الإِبِلَ مِنْ شَرِيكٍ لَهُ، فَجَاءَ إِلَيْهِ شَرِيكُهُ، فَقَالَ: بِعْنَا تِلْكَ الإِبِلَ فَقَالَ: مِمَّنْ بِعْتَهَا؟ قَالَ: مِنْ شَيْخٍ كَذَا وَكَذَا، فَقَالَ: وَيْحَكَ، ذَاكَ وَاللَّهِ ابْنُ عُمَرَ، فَجَاءَهُ فَقَالَ: إِنَّ شَرِيكِي بَاعَكَ إِبِلًا هِيمًا، وَلَمْ يَعْرِفْكَ قَالَ: فَاسْتَقْهَا، قَالَ: فَلَمَّا ذَهَبَ يَسْتَاقُهَا، فَقَالَ: دَعْهَا، رَضِينَا بِقَضَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ عَدْوَى»، (بخاری:

٢٠٩٩)

١٠٠٣ – له عمرو روايت دئ چي دلته يو سړی وو؛ نوم ئې نَوَّاس؛ تندي وهلي بېمار اوښان ئې ول؛ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ولاړ او د ده له شريك ئې دا اوښان وپېرل؛ شريك ئې ورته راغی او وئې ويل: اوښان مو وپلورل؛ وئې ويل: په چا دي وپلورل؟ وئې ويل: په داسي داسي سپين ږيري؛ وئې ويل: افسوس پر تا؛ دا خو والله چي ابن عمر دئ؛ نو راغی او وئې ويل:: شريک مي په تا باندي رنځور اوښان پلورلي او له عيب ئې نه يې خبر کړی. ابن عمر ورته وويل: نو اوښان دي بوځه؛ خو كله چي هغه د اوښانو بېرته بېولو ته ورغی؛ ابن عمر وويل: پرېږده ئې؛ موږ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په فيصله راضي يو: ((له يوه بل ته د مرض سرايت نه شته))

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی او دوه برخي لري: ١- د مال عيب بايد پېرونکي ته وښودل شي؛ او ٢- له يوه بل ته د مرض سرايت نه شته.

دوهمه برخه ئې د سلفي شم که مذهبي پاته شم کتاب دوهم جلد کي په تفصيل سره څېړل شوې چي خلاصه ئې داسي ده:

دا هم يوه بله لانجمنه اختلافي مسئله ده چي عامل ئې متعارض روايات دي؛ ځيني باور لري چي مرض له يوه بل ته سرايت نه کوي؛ په مقابل کي ئې ځيني نور په دې باور دي چي ساري امراض شته او ځان ترې ساتل واجب دي؛ دواړه لوري په ځانګړو رواياتو استناد کوي؛ اهل حديث هم له هغي ډلي دي چي د ساري مرضونو په عدم سرايت باور لري؛ مُستَمسَك ئې د بخاري ځيني روايات دي؛ که څه هم د بخاري روايات متعارض دي؛ له ځينو ئې د امراضو عدم سرايت او له ځينو له ساري امراضو ځان ساتنه معلومېږي؛ خو يوې ډلي يوازي هغه روايات منلي چي د امراضو عدم سرايت ترې معلومېږي؛ روايات دا دي:

عن أَبِی سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ عَدْوَى وَلاَ صَفَرَ وَلاَ هَامَةَ» فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: يَا رَسُولَ اللهِ، فَمَا بَالُ إِبِلِی، تَكُونُ فِی الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ، فَيَأْتِی البَعِيرُ الأَجْرَبُ فَيَدْخُلُ بَيْنَهَا فَيُجْرِبُهَا؟ فَقَالَ: «فَمَنْ أَعْدَى الأَوَّلَ؟» البخارى

له أبو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوى (له يوه بل ته د مرض سرايت) شته، نه هامة (د شپې مرغه يا كونګ سپېره ګڼل) شته او نه صفر (د نس ناخاپي درد سپېره او سبب ئې كوم وهمي چنجى يا مار ګڼل؛ يا د صفر مياشت سپېره ګڼل) شته؛ يو صحرائي عرب پاڅېد او وئې ويل: يا رسول الله! نو زما د اوښانو ولي دا حال وي چي په شګلني صحراء كي به داسي ځغلي لكه غرڅه؛ خو ناخاپي به اجرب (پمن) اوښ ورته راشي (اجرب د اوښانو په يو ډول ښمارۍ اخته)؛ او په دوى كي به داخل شي او ټول به ښمار كړي. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نو دا لومړى چا ښمار كړ؟

همدې ابو هريره رضي الله عنه ته داسي بل روايت منسوب شوى چي لومړۍ برخه ئې له وروستۍ سره تعارض لري؛ روايت دا دئ:

عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا عَدْوَى، وَلَا هَامَةَ، وَلَا صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ فِرَارَكَ مِنَ الْأَسَدِ "، أَوْ قَالَ: " مِنَ الْأُسُودِ " أَخْرَجَهُ الْبُخَارِيُّ فِی الصَّحِيحِ

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوى شته، نه هامه او نه صفر؛ او له مجذوم داسي تښته لكه له زمري ستا تېښته او يا ئې ووېل: "له زمريو"

ګورئ چي د روايت لومړۍ برخه ئې وايي: له يوه بل ته د مرضونو

سرايت او انتقال نه شته؛ اما وروستۍ برخه ئې وايي: له مجذوم (په جذام اخته بېمار) داسي تښته لکه چي له زمري تښتې. دا تېښته ښيي چي د مرضونو انتقال شته.

د بخاري نور روايات بيا له مخکينيو سره تعارض لري؛ او تأکيد کوي چي په بيمارۍ اخته دي په روغو کې نه ننيستل کېږي. لکه دا:

وعَن أَبِي سَلَمَةَ سَمعَ أَبا هُرَيْرَةَ بَعْدُ يقُولُ: قالَ النبيُّ صلى الله عليه وسلم: "لا يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ على مُصحٍّ". وَأَنْكَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ حَدِيثَ الأَوَّلِ، قُلْنَا: أَلَمْ تُحَدِّثْ أَنَّهُ لَا عَدْوَى؟ فَرَطَنَ بِالْحَبَشِيَّةِ. قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: فَمَا رَأَيْتُهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ. بخاری

له أَبو سَلَمة روايت دئ چي له ابو هريره ئې اورېدلي چي وروسته ئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د بيمارو پالونکی دي خپل بېماران د روغو منځ ته نه ننباسي؛ او ابو هريره له لومړي حديث انکار وکړ؛ ومو ويل: آيا تا نه وو ويلي چي له يوه بل ته د مرض سرايت نه شته؟ په غير واضح خبرو سر شو؛ (له ډېري غوصي ئې داسي څه وويل چي څوك نه پرې پوهېدو)؛ أبو سلمه وويل: ابو هريره مي تر دې وړاندي نه دئ ليدلی چي له دې پرته ئې بل حديث هېر کړی وي.

دا مطلب په نورو رواياتو کې هم راغلی او دا نتيجه ترې اخيستل شوې چي ابو هريره رضي الله عنه دا ادعاء نه ده منلې چي ده د (لا عدوی) حديث ويلی؛ تر پايه په بل حديث "لا يُورِدُ مُمرِضٌ على مُصِحٍّ" ثابت پاته شوی.

آيا عجيبه نه ده چي د روايت اصلي راوي؛ ابو هريره؛ وايي: ما دا خبره نه ده کړې؛ او سخت غصه کېږي چي څوك دا خبره ده ته منسوبوي؛ اما بل راپاڅي او ټينګار کوي چي نه؛ تا اشتباه کړې او خپله خبره دي هېره کړې؟! په دې دواړو کې به اصولاً د چا خبره منو؛ د اصلي راوي که د اورېدونکي مدعي؟! د عقل او شريعت حکم دا دئ چي د

راوي وينا معتبره وګڼل شي نه د مدعي؛ حتیٰ که احياناً راوي داسي خبره کړې هم وي؛ زړه خبره ئې اعتبار نه لري دوهمه ئې بايد معتبره وګڼل شي. ولې بايد يو محدث؛ راوي ته داسي خبره په زور منسوب کړي چي دی ترې انکار کوي او په مقابل کې خپله بله او د هغي خلاف وينا سمه ګڼي؟!

په بخاري کې دغه روايات سره له دې ټولو ستونزو؛ په مکرره توګه دولس ځلي په دغو شمېرو تکراراً راغلي: ٥٧٠٧، ٥٧١٧، ٥٧٥٣، ٥٧٥٦، ٥٧٥٧، ٥٧٧٠، ٥٧٧١، ٥٧٧٢، ٥٧٧٣، ٥٧٧٤، ٥٧٧٥، ٥٧٧٦؛

آيا څوك دا حق لري چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي وينا منسوب کړي چي يو شاهد لري او دې شاهد په خپله ويلي چي ما دا وينا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته نه ده منسوب کړې؟!

رسول الله صلى الله عليه و سلم به يا دا ويلي وي چي عدوی (له يوه بل ته د مرض سرايت نه شته) او يا دا چي له جذامي بېمار داسي تښته لکه چي له زمري تښتې او طاعون ځپلې سيمي ته مه ننوځئ او مه ترې وځئ؛ دواړه هممهاله پيغمبر عليه السلام ته منسوبول؛ هم جسارت دئ او هم جهالت؛ او خپل پيغمبر ته د متضاد او متعارضو ويناوو منسوبول دي!! کله چي ګورو دين، قرآن او حديث ته دوه متضادي خبري منسوب شوې دي، د دې په وړاندي بايد غصه وښيو؛ ځکه دا يو تور او اتهام دئ؛ د هر دين، مذهب او مفکوري لوی عيب دا دئ چي په هغه کي متعارضي خبري وي، قرآن وايي: که دا کتاب (قرآن) له الله تعالى پرته د بل چا له لوري وی نو حتماً به په هغه کي ډېر اختلاف ليدل کېدی؛ په قرآن کي داسي اختلاف نه شته، په کوم کتاب کې چي اختلاف وی نو معنی ئې دا ده چي د الله تعالى له لوري نه دئ راغلی، قرآن موږ ته همدا وايي؛ پيغمبر عليه السلام د رسالت په ٢٣ کلونو کي متعارضي خبري نه دي کړې، يوه خبره ئې هم د بلې ضد نه وه؛ او که چېري تاسو داسي څه ومونډل چي د يوې قضيې په اړه دوه

متضادي ویناوي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبوي؛ نو پوه شئ چي یا به دواړه ویناوي دروغ وي او یا ئې یوه؛ د پیغمبر علیه السلام شأن له دې ډېر ډېر لوړ دئ چي په ویناوو کې ئې تضاد او تناقض وي.

د صحابه وو یوه لوی لښکر د عمر رضي الله عنه په شمول؛ په دې اجماع کړې چي عدوی (له یوه بل ته د مرض سرایت) شته؛ نو ځکه ئې عملاً شام ته له ننوتلو ډډه وکړه، شام قرنطین شو او هستوګنو ئې له وتلو ډډه وکړه.

داسي متعارض روایات رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبول؛ دښمنانو ته تبلیغاتي حربه او وسله په لاس ورکول دي؛ موږ باید خلکو ته ثابته کړو چي نه په قرآن کې تعارض شته، نه په صحیح احادیثو کې او نه د قرآن او صحیح حدیث تر منځ؛ هغه حدیث صحیح نه دئ چي له قرآن سره تعارض ولري؛ دا د یوه شخص خبره کېدی شي نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث؛ ستونزه له هغو راویانو راولاړه شوې چي غیر صحیح روایات ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب کړي؛ او هغو راولاړه کړې چي د إسنادو او راویانو له مخي ئې د روایت د صحت او عدم صحت په اړه پرېکړه کړې؛ نه د روایت د متن او محتوی له مخي؛ دا چي د یوې موضوع په اړه؛ یوه راوي ته بېل بېل او یو له بل خلاف روایات منسوب شوي؛ وجه ئې همدا ده چي ځینو له هغو راویانو چي دوی ته ثقه او معتبر برېښي؛ هر څه چي اورېدلي؛ که څه هم په الفاظو کې ئې توپیرونه وو او که په محتوی کې ئې؛ په خپل کتاب کې ئې راوړي؛ لکه چي تاسو د مرضونو د سرایت او عدم سرایت په اړه متعارض روایات ولیدل.

که نن یو ډاکټر؛ چي د حق دین په لټه کې دئ؛ د داسي ډاکټرانو شمېر هم ډېر زیات دئ او هره ورځ ئې شمېر زیاتېږي؛ د مطالعې په نتیجه کې نور ادیان او مذاهب رد کړي؛ اسلام ته ئې مخه کړې؛ هغه له

کوم روایت ځپلي دغه روایات واوري؛ او تر منځ ئې دا تعارضات؛ او له همدې کبله له ځان سره ووايي: اسلام هم هغه دين نه دئ چي زه ئې په لټه کې یم؛ مسئولیت به ئې د چا پر غاړه وي؟! موږ غواړو دغو ته عملاً وښیو چي دا د ضعیفو راویانو ستونزه ده نه د اسلام ستونزه؛ غواړو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په صحیح حدیث خپله هم پوه شو او نورو ته ئې هم ورسوو؛ دا تر نیمي پیړۍ زیاته مبارزه مو د همدې لپاره وه. هغه مهال چي د ځوان نسل او مخکینیو مذهبي مشرانو او علماءو تر منځ ژور واټن وو؛ ځوان نسل د خطیب منبر خوا ته نه یوازي د خپلو پوښتنو ځواب نه موندلو؛ بلکي یو د بل په ژبه نه پوهېدل؛ د دوی د جذبولو لپاره ئې هیڅ څه نه درلودل؛ هغه په یوه دنیا کې او دا په بلې کې؛ د دې پیړۍ اسلامي نهضتونه وتوانېدل؛ د اسلام او نوي نسل تر منځ؛ مخکینی واټن ختم کړي؛ د ځوان نسل پوښتنو ته ځواب ووايي؛ په ډاکټرانو او انجنیرانو کې ستر او معروف دعوتگران، په اسلام پوه او دین ته ژمن سیاسي او اجتماعي شخصیتونه او زعماء راوټوکېدل؛ زموږ د درسونو، بحثونو او لیکنو موخه او هدف همدا دئ؛ نه د کوم کتاب نقد او نه پر کوم شخصیت اعتراض؛ هغو ته د زړه له کومي دعاء کوو چي په دې مبارزې او دعوت کې ئې یوه شېبه تېره کړې او یو گام اوچت کړی؛ دعوتگرانو، مبارزینو، فقهاءو او محدثینو ته دعاء کوو او ځان د هغوی د هڅو مرهون او پوروړي گڼو؛ او له الله تعالی ورته اجر غواړو؛ تکفیریانو او د دعوتگرانو په خلاف فتوی ورکوونکو ته وایو: که همت لرئ، د مثبت کار توان او ظرفیت لرئ؛ د ځوان نسل پوښتنو ته قانع کوونکی ځواب ووایئ؛ په تکفیري فتوی گانو او د منکر حدیث په ټاپو سره؛ یوازي خپل شیطان راضي کولی شئ؛ نه ستاسو سلف له دې څه تر لاسه کړي او نه ئې تاسو تر لاسه کولی شئ. د متعارضو روایاتو ستونزه؛ یو څرگند واقعیت دئ؛ جاهل او ناپوه به ترې انکار کوي؛ دا ستونزه باید حل کړو.

د دې روايت پيل او پای هم متعارض او متناقض دي چې وايي:

٥٧٧٢ - حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَحَمْزَةُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، إِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي ثَلاَثٍ: فِي الفَرَسِ، وَالمَرْأَةِ، وَالدَّارِ " بخاری

٥٧٥٣ - حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَالشُّؤْمُ فِي ثَلاَثٍ: فِي المَرْأَةِ، وَالدَّارِ، وَالدَّابَّةِ " بخاری

د دواړو رواياتو په سر کې راغلي: نه د مرض سرايت شته او نه بدفالي؛ خو د يوه په پای کې ويل شوي: شئوم او بد فالي (سپېره توب)په دريو شيانو کې شته: په ښځي، کور او ځاروي کې.

او د بل په پای کې راغلي: شئوم او بد فالي (سپېره توب) په دريو شيانو کې شته: په آس، ښځي او کور کې.

په مقابل کې ئې عائشې رضي الله عنها ته منسوب روايت داسي دئ:

أَنَّ رَجُلَيْنِ دَخَلا على عائِشةَ فقالا: إنَّ أبا هُرَيرةَ يُحدِّثُ أنَّ نَبيَّ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ كان يقولُ: إنَّما الطِّيَرةُ فى المَرأةِ، والدَّابَّةِ، والدارِ، قال: فطارَتْ شِقَّةٌ منها فى السماءِ، وشِقَّةٌ فى الأرضِ، فقالَتْ: والذى أنْزَلَ القُرآنَ على أبى القاسِمِ ما هكذا كان يقولُ، ولكِنَّ نَبيَّ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ كان يقولُ: كان أهلُ الجاهِليَّةِ يقولون: الطِّيَرةُ فى المَرأةِ والدارِ والدَّابَّةِ، ثم قَرَأتْ عائِشةُ: {مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ} [الحديد:

٢٢] إِلى آخِرِ الآيةِ. مسند احمد

دوه سړي عائشې رضي الله عنها ته راغلل او وئې ويل: ابو هريره دا خبره کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: يقيناً چي بدفالي يوازي په دريو شيانو کي ده: په مېرمني، څاروي او کور کي؛ راوي وويل: له ډېري غصې داسي شوه چي د مخ يو لوری ئې آسمان او بل زمکي ته شو او وئې ويل: پر هغه ذات لوړه چي قرآن ئې پر ابو القاسم صلى الله عليه و سلم نازل کړی؛ داسي ئې نه دي ويلي؛ بلکي رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: د جاهليت په دوران کي به خلکو ويل: بدفالي او سپېره توب په مېرمني، کور او څاروي کي وي. بيا هغې د الحديد سورې دا آيت ولوستلو: "نه په زمکي کي کوم مصيبت رامنځته کېږي او نه ستاسو په ځان کي؛ مگر دا چي په کتاب کي ئې يادونه شوې؛ تر هغه وړاندي چي دا مصيبت پيدا کړي" يعني مصيبت د کوم څه د سپېره توب له کبله نه وي بلکي د هغو سننو او عواملو له کبله وي چي په الهي کتاب کي راغلي؛ عوامل او اسباب ئې لا د مصيبت تر راتلو ډېر وړاندي د الله تعالى په کتاب کي ذکر شوي؛ قرآن د انسان خپل اعمال د مصيبتونو سبب گڼي؛ او وايي:

وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴿٣٠﴾

الشورى

او په کوم مصيبت چي تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو کړنو او کسب له کبله دئ او له ډېرو ئې (الله ) تېرېږي.

دا مبارك آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چي مصيبتونه ستاسو د کړنو په سبب راځي او دا چي دا ستاسو د گناهونو يوازي د يوې برخي سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوې پر ځای د عدل له مخي معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه دربانديي نازل کړي وو.

بخاري د آس په اړه دا روايات هم راوړي چي له مخکينيو سره تضاد لري:

عن عبد الله بن عُمَرَ رضى الله عنهما قالَ: قالَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: "الخيلُ فى نَواصِيها الخيرُ إلى يومِ القيامَةِ". بخارى

١٢٦٥ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «البَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الخَيْلِ» ، (وفى روايةٍ: الخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الخَيْرُ ". بخارى

٤٤ - بابٌ الجهادُ ماض مع البَر والفاجِرِ؛ لقولِ النبيِّ - صلى الله عليه وسلم -: " الخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الخَيْرُ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ " بخارى

١٢٦٦ - عن عُروةَ [بنِ الجعدِ] البارِقى أن النبى - صلى الله عليه وسلم - قالَ: "الخيلُ مَعقود فى نواصيها الخيرُ إلى يومِ القيامةِ؛ الأجْرُ والمَغْنَمُ ".

دا روايات وايي: د آسونو له تندي سره خير او بركت غوټه شوى؛ خو د بخاري نور روايات بيا د دې عكس وايي چي آس سپېره دئ!!!

او ابن ماجه بيا وايي:

١٩٩٣ - عَنْ مِخْمَرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " لَا شُؤْمَ، وَقَدْ يَكُونُ الْيُمْنُ فِي ثَلَاثَةٍ: فِي الْمَرْأَةِ، وَالْفَرَسِ، وَالدَّارِ " ابن ماجه

له مِخْمَرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي ويل ئې: شئوم (سپېره والى) نه شته؛ او كېدى شي چي ستانه توب او بركت په دريو شيانو کي وي: په ښځي، آس او كور کي.

ابن ماجه دا روايت نه مني چي وايي:

لا عَدْوَى ولا طِيَرَةَ وإنَّما الشُّؤْمُ فى ثَلاثَةٍ: المَرْأَةِ، والْفَرَسِ، والدَّارِ.

په مقابل کې ئې وايي: اسلام راغلی چې د شئوم باورونه نفي کړي.

که د بد فالي په اړه قرآن ته رجوع وکړو او اړوند متعارض او متضاد روايات ئې د قرآني لارښوونو په رڼا کې وڅېړو؛ نو په ټول يقين سره ويلی شو چې د بد فالي او شؤم (سپېره والي) غلط باورونه د جاهليت پاته شوني دي او قرآن کافرانو ته منسوب کړي؛ لکه چې فرمايي:

قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ قَالَ طَائِرُكُمْ عِنْدَ اللَّهِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾ النمل

وئې ويل: موږ پر تا او پر هغو چې له تا سره دي؛ بدفالي نېولې (د بدمرغۍ سبب مو ګڼو)، وئې ويل: بدمرغي مو له الله سره ده، بلکې تاسو داسي وګړي يئ چې آزمويل کېږئ.

يعني ثموديانو صالح عليه السلام ته وويل: موږ پر تا او پر هغو چې له تا سره دي بدفالي نېولې، تاسو (سپېره او د بدمرغيو سبب ګڼو؛ له کله چې تاسو رامنځته شوي يئ؛ له بدو ورځو سره مخ يو). صالح عليه السلام ورته وويل: موږ ستاسو د بدمرغيو سبب نه يو، د بدمرغيو اسباب مو له الله تعالی سره دي، ستاسو د کړنو له کبله ئې له دغو بدمرغيو سره مخامخ کړي يئ، تاسو داسي وګړي يئ چې آزمويل کېږئ، کوم فرصت چې درکړی شوی دا ستاسو د مزيد آزموينې لپاره دئ.

قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ ﴿١٩﴾ يس

وئې ويل: يقيناً چې تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که ډډه ونه کړئ حتماً مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب دررسېږي، وئې ويل: بدمرغي مو په خپله له تاسو سره ده، آيا سره له دې چې پند درکړی شي؟! نه؛ بلکې تاسو مسرف وګړي يئ.

يعني كافرانو پيغمبرانو ته ويلي: تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب درورسېږي، پيغمبرانو په ځواب کې ورته وويل: د بدمرغۍ اسباب مو په خپله له تاسو سره دي، يعني ستاسو کفر، شرك، ظلم، فساد او ګناهونه د بدمرغۍ اصلي اسباب دي، آيا موږ له دې کبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چي نصيحت درته کوو؟ آيا سمه ده چي هغه کسان په دردناك عذاب وګواښئ چي تاسو ته پند درکوي؟ اصلي خبره دا ده چي تاسو په خپل چلن کي تل تېرى او اسراف کوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوکېدلي.

په ټول قرآن کي داسي څه نه مومو چي ښيي د الله تعالی کوم مخلوق ذاتاً سپېره دئ؛ يا داسي کومه اشاره چي د سپېره والي خرافي باور؛ سم والی ترې معلوم شي. الله تعالی احسن الخالقين دئ هيڅ سپېره شیء ئې نه دئ پيدا کړی؛ شيطان هم په اصل کي سپېره نه دئ په خپله بد شوی؛ څکه د ده په قبيله کي مؤمنان شته؛ ده هم کولی شو له بغاوت ډډه وکړي.

که څوك موږ ته ووايي: آيا ستاسو قرآن هم ستاسو د رواياتو کتابونو په څېر دئ چي له تعارضاتو ډك دي؛ يو روايت وايي: ساري مرض نه شته او بل ئې وايي: له مجذوم داسي تښته لکه له زمري تېښته؛ او په بل روايت کي دا دواړه متعارض خبري يوه په بلي پسي راغلې؛ په بل روايت کي ويل شوي طاعون ځپلې سيمي ته مه ننوځه او مه ترې وځه؛ يو وايي: سپېره شیء نه شته او بل ئې وايي: مېرمن، آس او کور کي سپېره والی شته!! او بل ئې وايي: په څه کي چي سپېره توب نه شته؛ هغه مېرمن، کور او آس دئ. د آس له تندي سره تل خير تړلی دئ!! بل وايي: عائشې رضي الله عنها لوړه وکړه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: دا د مشرکينو وينا وه چي ويل به ئې: په مېرمن، آس او کور کي سپېره توب شته؛ دې معترض ته به څه ځواب ورکوو؟! مجبور يو هغه

ته ووايو او ثابته کړو چي نه په قرآن کي تعارض شته او نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په صحيح حديث کي؛ ستونزه په راويانو کي ده چي نه دي توانېدلي د رسول الله صلى الله عليه و سلم احاديث په امانت سره انتقال کړي؛ دا يوازي د اسلام نه؛ بلکي د ټولو الهي اديانو او د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت ګډه ستونزه وه او ده چي امتونه ئې ورو ورو له الهي کتابونو لري شوي، شا ته ئې غورځولي او په رواياتو پوري نښتي؛ د قيامت په ورځ به د پيغمبر عليه السلام شکوه او شکايت له خپل امت دا وي: دوى قرآن شا ته ورغورځولو او مهجور او متروك ئې کړ. تورات او انجيل له همدې برخليك سره مخامخ شو؛ تاسو که بايبل ولولى نو درته جوته به شي چي په دې کتاب کي که څه نه شته نو هغه تورات، انجيل او زبور دي؛ له رواياتو او قصو جوړ شوى کتاب دئ؛ ګڼ شمېر اناجيل به په بايبل کي ومومئ؛ هر يو د عيسى عليه السلام يوه حواري ته منسوب انجيل چي په هغه کي فقط د عيسى عليه السلام په اړه د همدې حواري خپله قصه راغلې؛ د مَرقُس او متٰى انجيلونه، د لوقا انجيل (د عيسى مسيح قصه)، د يوحنا انجيل؛ د يوحنا ليکونه، د يعقوب ليك، د پطرس ليکونه؛ د يهودا ليك او د پولس ګڼ شمېر ليکونه، پولس د مسيحيانو سخت دښمن وو، ډېر ئې وژلي او سخت ځورولي؛ او په پاى کي د مسيحيانو په جامه کي د دوى ليکو ته ننوت؛ د (پولس رسول) په نامه مشهور شو؛ د بايبل لويه برخه د ده په غلطو او شرکي ليکونو توره شوې؛ د مسيحيت په تحريف کي چي ده څه کړي؛ د موسى عليه السلام سامري نه دي کړي. دا اوسنى بايبل د پولس په څېر د مسيحيت دښمنانو ليکلى؛ او د يهودانو د پيغمبرانو په اړه ئې هغه څه ويلي؛ ظلمونه او اخلاقي فسادونه ئې هغوى ته منسوب کړي؛ چي د يوه عادي مجرم انسان له شأن هم ډېر لري.

په دې وينا کي چي وايي (له جذامي بېمار داسي تښته لکه چي له زمري تښتې)؛ يو مهم او لارښود مطلب پروت دئ؛ او هغه دا چي: له

مجذوم تېښته داسي ده لکه له زمري تېښته، لکه له هر بل ضرري او خطري شي تېښته او ځان ساتنه، لکه له پړانګ او ښامار، له اور، طوفان، سېلاب او زلزلې؛ او له نورو خطرناکو شيانو، پېښو او ځايونو؛ که له دغو ځان ساتنه او حذر جائز او واجب وي؛ او دا نه د توکل او نه پر تقدير او مقدراتو د باور خلاف وي؛ له ساري مرض ځان ساتنه هم واجب ده؛ دا احتياط نه د توکل خلاف ده او نه پر تقدير د باور خلاف؛ که د څرګند دښمن له لوري تا ته کوم خطر متوجه وي؛ نو ته مکلف يې چي خپل احتياطي تدابير ونيسې. دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي:

وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلا تَهْبِطُوا وَإِذَا كَانَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلا تَفِرُّوا مِنْهُ" مسند احمد

او کله چي مو واورېدل په يوې سيمي کې طاعون (وبا) خور شوی؛ نو هغې ته مه کوزېږئ او که په داسي سيمي کې خور شوی وي چي تاسو پکې اوسئ نو مه ترې تښتئ.

او دا همغه کار دئ چي نن ئې ټول ډاکټران د کرونا او وبا په اړه سپارښتنه کوي او حکومتونه سيمي او ښارونه قرنطين کوي؛ قرنطين يعني د رسول الله صلی الله عليه و سلم په هغي سپارښتني عمل چي څوارلس نيمي پېړۍ وړاندي ئې کړې وه.

ولې د زهر له خوړلو ډډه کوو؟ دا ځکه چي حرام دي، مضر او وژونکي دي، آيا د زهر له خوراك ډډه کول د توکل خلاف عمل دئ او که له حرام ځان ساتل؟!

اسلام هر هغه څه حرام کړي چي مضر وي، که خواړه وي، که وينا او که کړنه، هر مضر خواړه، هره مضره وينا او هر مضر کار حرام دئ.

مجذوم ته لاس ورکول حرام دي؛ دا ځکه چي ضرر لري او د دې مرض د سرايت باعث کېږي، له صحي احتياطي تدابيرو پرته؛ هغه چا ته لاس ورکول حرام دي چي د کرونا په مرض اخته شوی؛ له دې امله چي

دا کار د مرض د سرایت باعث دئ؛ دقیقاً همغسي چي اسلام هر مضر کار حرام کړی.

عمر رضي الله عنه هغه مهال چي په شام کي وبا شائع شوې وه؛ سیمي ته له ننوتلو ډډه وکړه؛ او د هغه چا په ځواب کي چي وئې پوښتل: اې امیر المؤمنین! آیا له تقدیر تښتو؟ وئې فرمایل: نه؛ بلکي له یوه تقدیر بل ته درومو.

د تقدیر حقیقي معنی دغه ده؛ خو که تاسو ځان اور ته واچولو نو د الهي ثابتو مقدراتو او سننو مطابق به سوزئ؛ په دې صورت کي دي تقدیر همدا دئ؛ نه بل څه؛ او که دي ځان وساتو، ونه سوزېدې او خوندي پاته شوې، نو د الله تعالی پر بل سنت دي عمل کړی او تقدیر به دي له مخکیني حالت متفاوت وي، موږ د الهي مقدراتو او سننو د بدلولو توان او طاقت نه لرو؛ خو الله تعالی د خپلو سننو په وړاندي محکوم او مقید نه دئ، که وغواړي نو د خپلو مشهودو او موږ ته قابل درك سننو خلاف؛ څه چي وغواړي کوي ئې؛ همغسي لکه چي د ابراهیم علیه السلام په اړه ئې اور ته امر وکړ چي د خپل طبیعت او عادت خلاف دي؛ نه یوازي ابراهیم علیه السلام نه سوزوي بلکي روغ او سالم دې وساتي.

زموږ رب د احتمالي خطر په وخت کي؛ په لمانځه کي د قصر، تأخیر، د جماعت لمونځ پر ځای انفرادي لمونځ اجازه ورکړې، مسلمانان ئې په دې مکلف کړي چي د خطر په وخت کي به په لمانځه کي هم خپله وسله له ځان سره ساتي؛ مګر دا چي د مریضي یا باران له کبله د وسلې لري کولو ته اړ شي، که څه هم له زغري، توري، ټوپك او نورو جنګي وسائلو سره لمونځ کول هم ستونزمن وي او هم د دې باعث چي صفونه نامنظم شي او یو له بل لري ودرېږي.

او د خوف په حالت کي ئې داسي لمونځ هم جائز ګڼلی او د أداء کولو امر ئې کړی چي په هغه کي هم د صفونو نظم نه مراعات کېږي، هم

لمونځ كوونكي په دوو ډلو وېشل كېږي، داسي چي هره مجموعه به يو ركعت په امام پسي كوي او بل به بېل او يوازي، يوه ډله به حراست كوي او بله به جمع لمونځ، په لمانځه كي ئې دا ټوله خوځېدا او د اصلي لمانځه له هيئت مغاير لمونځ نه يوازي جائز ګڼلی بلكي د همداسي كولو امر ئې كړی او همداسي كول ئې د حذر او احتياطي تدبير په نامه ياد كړی.

كه دا ټول كارونه په لمانځه كي او له دښمن د خوف او وېري په حالت كي جائز او لازم وي؛ نو تر دې د لازيات خطري دښمن (لكه د كرونا او وبا ويروس او ميكروب)؛ نامرئي دښمن؛ چي د مليونو په شمېر لښكر په توګه پر موږ بريد كوي؛ څنګه به د هغه په وړاندي حذر كول او لازم تدابير نيول جائز او لازم نه وي؟! رسول الله صلى الله عليه و سلم خو فرمايي: له جذامي بېمار داسي وتښته لكه له زمري چي تښتې او هغي سيمي ته مه ننوځه چي وبا پكي خوره شوې وي. دا دواړه څرګندي لارښووني ښيي چي د هر ساري مرض په وړاندي به مسلمانان همداسي كوي لكه چي د جذام او طاعون په ارتباط ئې بايد وكړي.

د پورتني مبحث خلاصه او نتيجه دا ده:

- د جُذام، طاعون او نورو ساري امراضو په اړه د اسلام لارښوونه دا ده چي ځان ترې وساتو او لازم احتياطي تدابير غوره كړو. د لا عدوى (له يوه بل ته د مرض عدم سرايت) روايت غير موثق دئ او له قرآن او صحيح احاديثو سره اړخ نه لګوي او اصلي راوي ترې انكار كوي.
- له هر دښمن؛ كه دا انسان وي يا حيوان، ساري مرض وي يا مضر شی، تاواني كار وي يا خطرناك ځای؛ د ځان ساتني لپاره تدابير نيول نه يوازي د توكل او پر قضاء او قدر د باور او ايمان منافي نه دي بلكي فرض او واجب دي.
- په أوهام او خرافات باور، د اونۍ ځيني ورځي او د كال ځيني مياشتي سپېرې ګڼل، په حيواناتو، مرغانو او نورو شيانو بدفالي كول، دا

او دې ته ورته کارونه او باورونه د اسلامي لارښوونو منافي دي.

علماءو د حديث په اړه ويلي له صحيح حديث انکار کفر دئ؛ خو د قرآن په اړه ئې دا شرط نه دئ وضع کړی؛ ځکه په قرآن کې غير صحيح آيت نه شته؛ اما په احاديثو کې د صحيح تر څنگ هم جعلي او موضوعي شته او هم متواتر، مشهور، عزيز او غريب؛ صحيح حديث هغه دئ چې: نه ئې په متن کې د قرآن، عقل، علم او فطرت خلاف خبره وي؛ او نه ئې په سند کې ضعف او عيب.

د قرآن د کوم آيت په اړه د يوه چا تفسير او تعبير نه منل هم د کفر مترادف نه دئ؛ د ډېرو آيتونو په تفسير کې د مفسرينو تر منځ د رأی اختلاف مومو؛ د ځينو تفسير او تعبير نه منلو سره څوك نه کافر کېږي؛ همدا اوس موږ د ذي الحجې په لومړۍ لسيزې کې يو؛ ځينو مفسرينو ويلي چې په قرآن کې د دې لسيزې يادونه شوې او پر دې آيت استناد کوي: (وَلَيَالٍ عَشْرٍ): او په هرو لسو شپو قسم؛ خو نور مفسرين په دې رأی کې ورسره موافق نه دي؛ او وايي: دلته د خاصو لسو شپو يادونه هم نه ده شوې؛ بلکې د هرو لسو شپو صيغه کارول شوې او د ذي الحجي مياشت هم نه ده ياده شوې؛ اطلاق ئې د ذي الحجي په کومي لسيزې؛ صحيح نه ده.

وَٱلْفَجْرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۝٢ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ ۝٣ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ۝٤ هَلْ فِى ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِى حِجْرٍ ۝٥

۱- قسم په سباوون. ۲- او په هرو لسو شپو. ۳- او په دغه جفت او طاق. ٤- او په شپې چې شي روانه. ٥- آيا دې کې به قسم وي پوهيالیو ته؟

په دې آيتونو کې په لاندي شيانو لوړه شوې: په سباوون، په هرو لسو شپو، په جفت او طاق او په شپې چې روانه شي.

له قسمونو وروسته دا خبره شوې: هَلْ فِى ذَلِك قَسَمٌ لِّذِى حِجْرٍ: آيا

پوهیالیو ته به په دې کې څه قسم وي؟

د قسمونو په سر کې د الفجر (سباوون) ذکر او ورپسې لیال عشر (لسګونې شپې) او په پای کې ئې واللیل اذا یسر (او په شپې چې شي روانه) دا ښيي چې په منځنیو قسمونو کې هم باید د شپې په اړه خبره شوې وي او له (الشفع و الوتر) هم باید جفت او طاق شپه مراد وي نه بل څه، د بیان له فحوی په ټول صراحت سره معلومېږي چې له سباوون هر سباوون، له لسګونو شپو د هرې میاشتې لسګونې شپې او له جفت او طاق هره جفت او طاق شپه مراد ده. او د قسم له جواب سره ئې مناسبت دا چې هره شپه، هر ډول ئې، پای لري؛ درومي او ځای ئې فجر نیسي.

د الهي بلیغ کلام دقیق نظم او یووالی همدا ایجابوي، په بل څه د هغوی اطلاق؛ بې بنسټه او بې ځایه تعبیر دئ چې هیڅ دلیل ورته نه شو وړاندې کولی. شرح ئې د قرآن پلوشې؛ د الفجر سورې په تفسیر کې وګورئ.

هغه چې د حدیث کتابونه ئې لوستلي او یو ئې له بل سره مقایسه کړی؛ د بخاري او مسلم په اړه ئې قضاوت دا دئ: صحیح مسلم پر صحیح بخاري دوه امتیازات لري: د روایاتو تنظیم او ترتیب ئې تر بخاري غوره دئ او د روایاتو متن ئې تر بخاري جامع او واضح؛ او د صحیح بخاري امتیاز پر صحیح مسلم په دې کې دئ چې په راویانو کې ئې اکثر ثقه دي او لږ ئې ضعیف. دا د بخاري د هغو شارحینو رأی ده چې بخاري ته پر صحیح مسلم ترجیح ورکوي. اما هغه چې صحیح مسلم ته ترجیح ورکوي؛ لکه امام نووي؛ هغه وايي: تر آسمان لاندې تر صحیح مسلم غوره او صحیح کتاب نه شته.

دا باید تل په پام کې ولرو چې د حدیث د هر کتاب په اړه؛ یوه او بل د خپلې پوهې، علم، سلیقې او مذهب له مخې قضاوت کړی او یوه ته ئې پر بل ترجیح ورکړې؛ یوه لږ او بل ډېره مبالغه کړې؛ د حدیث د

هيڅ کتاب په ارتباط نه ټولو محدثينو په ګډه کومه پرېکړه کړې او نه د دوی کومې مجموعې او هيئت؛ حتی داسې محدث هم نه مومو چې بېل کتاب ئې ليکلی وي او د خپل استاد کتاب ته ئې د اصح کتاب نوم ورکړی وي؛ امام مسلم د صحيح بخاري له نژدې ٦٠٠٠ رواياتو سره توافق نه دئ کړی؛ يا ئې له متن سره او يا له سند سره؛ اختلاف کړی. يعني د خپل استاد له ٦٠٠٠ رواياتو سره د اختلاف په صورت کې هم څوک د حديث منکر نه شي ګڼل کېدی؛ له روايت انکار او له صحيح حديث انکار؛ ژور توپير لري؛ جاهلان ئې له توپير بې خبره دي؛ هر روايت ورته سپېڅلی او د رسول الله صلی الله عليه و سلم صحيح حديث برېښي.

## ٢١ باب: د ويني ايستونکي يادونه

١٠٠٤ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا مِنْ خَرَاجِهِ. (بخارى: ٢١٠٢)

١٠٠٤ – له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: ابو طيبه پر رسول الله صلی الله عليه و سلم (د ويني ايستلو) ښکر ولګولو؛ نو امر ئې وکړ چې يوه صاع خرما ورکړل شي او د هغه مالک ته ئې حکم وکړ چې په خراج کې ئې هم تخفيف وکړي.

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ٢١٠٢ - ٢٢٧٧ -

دوهم ځل تر دې باب لاندې راغلی:

بَابُ ضَرِيبَةِ العَبْدِ، وَتَعَاهُدِ ضَرَائِبِ الإِمَاءِ: د مريي خراج او د وينځو د خراج ژمنه

٢٢٧٧ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ النَّبِيَّ صَلَّى

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ - أَوْ صَاعَيْنِ - مِنْ طَعَامٍ، وَكَلَّمَ مَوَالِيَهُ فَخَفَّفَ عَنْ غَلَّتِهِ أَوْ ضَرِيبَتِهِ»

له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: ابو طيبه پر رسول الله صلى الله عليه و سلم (د ويني ايستلو) ښکر ولگولو؛ نو امر ئې وکړ چي يوه صاع يا دوه پيمانه خوراکي توکي ورکړل شي او د هغه له مالک سره ئې خبري وکړې؛ نو د هغه په خراج او اجوره کي ئې تخفيف وکړ.

دلته له خراج مراد هغه مبلغ دئ چي مالک به ئې هره ورځ له خپل غلام اخستل.

١٠٠٥ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَعْطَى الَّذِى حَجَمَهُ، وَلَوْ كَانَ حَرَامًا لَمْ يُعْطِهِ. (بخارى: ٢١٠٣)

١٠٠٥ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ښکر ولگاوو او ښکر لگوونکي ته ئې اجوره هم ورکړه؛ که د ښکر لگولو اجوره حرامه وی؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به نه ورکوله.

دا متعارض روايات تلفيق ته ضرورت لري؛ ښايي غوره تطبيق او توجيه ئې دا وي چي له دې دندي ځان ته د معاش وسيله جوړول؛ سم کار نه دئ؛ خو هغه ته اجوره ورکول مانع نه لري.

## ٢٢ باب: د هغو شيانو تجارت چي اغوستل ئې د نارينه او ښځو لپاره ناروا وي

١٠٠٦ ـ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ، فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْهُ، فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَاذَا أَذْنَبْتُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ: «مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ؟» قُلْتُ: اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعَذَّبُونَ، فَيُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ» وَقَالَ: «إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِى فِيهِ الصُّوَرُ لا تَدْخُلُهُ الْمَلائِكَةُ». **(بخاری: ۲۱۰۵)**

**١٠٠٦ – له ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي داسي يو بالښت ئې اخستی وو چي تصويرونه په کي وو؛ کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وليدو نو په دروازه کي ودرېد او داخل نه شو؛ نو د ده څېرې کي مي د خفگان آثار وليدل او ومي ويل: يا رسول الله! الله تعالی او د ده رسول صلی الله عليه و سلم ته مي توبه ده؛ څه گناه مي کړې؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((د دې بالښت څه حال دئ؟)) ومي ويل: دا مي ستا لپاره اخستی چي پرې کښېنې او تکيه پرې کوې؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((د دې تصويرونو خاوندان به د قيامت په ورځ تعذيبېږي او ورته ويل کېږي به: دا څه چي مو جوړ کړي؛ ژوندي ئې کړئ)) او بيا ئې وفرمايل: ((په کوم کور کي چي عکسونه وي هلته ملائکي نه ننوځي)).**

**تکرار: دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٠٥ - ٥١٨١ - ٥٩٥٧ - ٥٩٦١ – ٧٥٥٧ - ٧٥٥٨ – ځيني ئې په دريو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: نَافِعٍ، قَاسِمِ بْنِ مُحَمَّد او عَائِشَةَ رضي الله عنها او په څلورمي طبقې کي دوه راويان لري؛ مالك او جُوَيْرِيَةَ؛ يو ئې له ابن عمر رضي الله عنه راوړی چي راويان ئې دا دي: حَمَّاد بْن زَيْد، أَيُّوب، نَافِع، ابْنِ عُمَرَ؛ او دا ښيي چي نافع په يوه سلسله کي له قاسم او بل کي له ابن عمر روايت کړی.**

**توپيرونه: په يوه کي أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مِمَّا أَذْنَبْتُ او په دريو کي أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ، وَإِلَى رَسُولِهِ؛ مَاذَا أَذْنَبْتُ؟ راغلي.**

**په روايت کي ويل شوي چي داسي کور او خوني ته ملائکي نه ننوځي**

چې په هغه کې تصویر وي؛ د دې روایت له هر اورېدونکي او لوستونکي سره دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا کراما کاتبین هم داسې کور ته نه داخلېږي؟ دا وضاحت ایجابوي؛ ځکه ځیني ملائکې داسې دي چې تل له انسان سره وي؛ هغه چې اعمال ئې لیکي؛ شارحینو کراما کاتبین ترې مستثنی کړي؛ خو د روایت په متن کې دا استثناء نه مومو؛ د دې معنی دا ده چې کوم راوي نه دئ توانېدلی مطلب په سمه او دقیقه توګه انتقال کړي؛ دا وضاحت ځکه ضروري دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د ناقص کلام منسوبول؛ د ایمان او ادب خلاف کار دئ.

د لاس رسم او تصویر او د کامرې عکس؛ توپیرونه لري؛ یو په بل قیاسول سم او معتبر قیاس نه دئ؛ نوې فتوی ایجابوي؛ په دې اړه مو مفصل بحث کړی.

## ۲۳ باب: اخستل شوی څیز بل ته هدیه کول

۱۰۰۷ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَكُنْتُ عَلَى بَكْرٍ صَعْبٍ لِعُمَرَ، فَكَانَ يَغْلِبُنِي، فَيَتَقَدَّمُ أَمَامَ الْقَوْمِ، فَيَزْجُرُهُ عُمَرُ وَيَرُدُّهُ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ، فَيَزْجُرُهُ عُمَرُ وَيَرُدُّهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُمَرَ: «بِعْنِيهِ» قَالَ: هُوَ لَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: «بِعْنِيهِ». فَبَاعَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ لَكَ يَا عَبْدَاللَّهِ بْنَ عُمَرَ تَصْنَعُ بِهِ مَا شِئْتَ». (بخاری: ۲۱۱۵)

۱۰۰۷ - له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وايي: په یوه سفر کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ملګري وو؛ او زه د عمر رضي الله عنه پر یوه نوي (سپرلۍ ته رسېدلي) سر غړاوي اوښ سپور وم، زما له واکه به ووت او له ټولو به مخکې شو، عمر به وواهو او وروسته به ئې کړ؛ خو اوښ به بیا مخکې شو، عمر به بیا وواهو او وروسته به ئې کړ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم عمر رضي الله عنه ته وویل:

((پر ما ئې وپلوره))؛ عمر رضي الله عنه وويل: هغه ستا شو يا رسول الله! وئې فرمايل: ((پر ما ئې وپلوره))؛ او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې وپلورلو؛ نو نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((دا اوښ دي ستا وي؛ اې د عمر زويه! خوښه دي چي هر څه پرې کوې)).

## ٢٤ باب: هغه څه چي په پېر پلور کي کرکجن دي

١٠٠٨ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَجُلاً ذَكَرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ، فَقَالَ: «إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: لا خِلابَةَ». (بخارى: ٢١١٧)

١٠٠٨ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: يوه سړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: په پېر پلور کي غولول کېږي؛ وئې فرمايل: ((کله چي د پېر پلور معامله کوې نو وايه: دوکه به نه وي)).

ځينو ويلي چي دا سړی په سترګو ړوند وو او ځينو ويلي سمي خبري ئې نه شوی کولې؛ نوم ئې حَبَّان بن مُنقِذ وو. روايت کي دا وضاحت نه مومو چي د دې وينا (لاَ خِلاَبَةَ: دوکه او خدعه به نه وي) ګټه او پر بيعي ئې تأثير څه دئ؛ ځينو ويلي: که غبن او دوکه شوې وي نو مبايعه باطله ده؛ مال مسترد کېدی شي؛ ځيني وايي: ړوندوالی د بطلان وجه نه شي کېدی؛ ځينی نور بيا د بيعي بطلان؛ د غبن حد او مقدار پوري مشروطوي؛ چا ثلث او چا سدس ټاکلی. په بخاري کي د دې ټولو ابهاماتو وضاحت نه مومو.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٥ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١١٧ - ٢٤٠٧ - ٢٤١٤ - ٦٩٦٤ -

توپيرونه: په يوه کي أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي البُيُوعِ په بل کي إِنِّي أُخْدَعُ فِي البُيُوعِ؛ د يوه پای کي دا هم ويل شوي فَكَانَ يَقُولُهُ په نورو کي نه دي ويل شوي.

باید ووایو چې په تجارت او بیعې کې د جانبینو رضایت شرط دئ؛ قرآن فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿۲۹﴾ النساء

اې مؤمنانو! مالونه مو په خپل منځ کې په ناروا مه خورئ، مګر دا چې ستاسو د رضامندۍ تجارت وي؛ او ځان وژنه مه کوئ؛ یقیناً چې الله درباندې مهربان دئ.

یعنې په ناروا به یو د بل مال نه خورئ؛ په دې کې ټولو هغو نارواو لارو ته اشاره شوې چې اسلام حرامې کړې: ربا، قمار، احتکار، دوکه، رشوت، د حرامو شیانو تجارت او نور.

تجارت درته جائز دئ؛ په دې سره کولی شئ یو له بل جائزه ګټه تر لاسه کړئ؛ خو په تجارت کې به د طرفینو رضایت په پام کې نیسئ، یو به د بل له مجبوریتونو ناروا ګټه نه اوچتوي؛ د معاملې د دواړو لوریو له توافق او رضایت پرته معامله باطله ده؛ که پلورونکی د خپل مال عیب پټ کړی وي؛ که پېرونکی ړوند وي؛ ده یو شیء غوښتی او پلورونکي بل شيء ورکړی؛ ده جاپانې مال غوښتې خو هغه چینایې ورکړی؛ نو دا مبایعه باطله ده او پېرونکی حق لري هغه مسترد کړي؛ همدا راز که پېرونکې په ماته ګوډه ژبه یو څه ویلي وي؛ یوه خپله خبره سمه نه شوی کولی یا ئې د دواړو د ژبو تر منځ تفاوت وو؛ او پلورونکي د هغه د قصد او مطلب خلاف کار کړی؛ دا معامله باطله ده. دا ځکه چې د رضایت شرط فوت شوی. نو په حدیث کې د (لا خِلابَةَ: دوکه به نه وي)؛ معنی همدا ده چې د دې کلام ویونکي ته د معاملې د فسخې اختیار ورکوي.

په آیت کې دا فقره: له ځان وژلو ډډه وکړئ؛ که څه هم په عامه توګه ئې معنی دا ده چې مبادا د فقر له وجهې او یا د فقر له وېرې

ځان یا خپل اولاد ووژنئ؛ د الله له رحمت مه مأیوس کېږئ؛ خو دلته او د تجارت په ارتباط ئې معنی دا ده چې که دا انسان وژنه له ظلم او تېري راولاړه شوې وي او د انسانانو د مرگ او وژل کېدو عامل ظلم، تېری او په تجارتي معاملاتو کې غبن او دوکه وي، نو دا ظالمان او تېری کوونکي دي د الله عذاب ته انتظار وکړي. د دې معنی دا ده چې مبادا کوم انسان په ظلم او تېري سره ووژنئ او یا داسي اقتصادي نظام رائج کړئ چې د نېستمنو د مزید نېستمن کېدو باعث شي او د دوی په تدریجي مرگ منتج شي. دا اوس چې غربي استعمار پر نړۍ کوم اقتصادي نظام مسلط کړی؛ نړۍ ئې په بډایو او فقیرو هېوادو وېشلې، یو له ډېرو خوړو چوي او بل د یوې گولې وچې ډوډۍ له نه موندلو مري، یو د پړسوب او پرېړتوب بیماریو لپاره دواگاني او علاجونه لټوي او بل سِل او ملاریا وهلی، د هډوکو له پاسه ئې له پوستکي پرته بل څه نه شته، یو په سترو سترو مجللو افسانوي بنگلو کې هم قانع نه وي او بل یا له زړوکو جوړي شوې خېمې کې یا له ټیم جوړي شوې گوډلي کې د ژمي سړې شپې یا د دوبي تودې ورځې تېروي؛ د غرب ظالمانه پانگوال نظام د ژوري په څېر د وروسته پاته هېوادونو د مظلومو ولسونو ویني زبېښلې، ظالم او بې رحم حکومتونه، جنرالان او پاچایان ئې پرې مسلط کړي، د دوی شتمنۍ ئې غارت کړې، یوه ټوټه اوسپنه او پلاسټیك د سرو زرو په بیع پرې پلوري، جنرالان ئې شتمنۍ په وسلو مصرفوي؛ خو دا وسلې د دې پر ځای چې د دښمن په ضد استعمال شي په خپله د ولس د ځپلو لپاره کارول کېږي، په تېري پېړۍ کې به استعماري ځواکونو د خپل فوځ په زور ملکونه نیول او خپلو کمپنیو ته به ئې سپارل؛ خو اوس د دغو هېوادونو خپل فوځونه دا کار ورته کوي. څو جنرالان په ارزانه بیع واخلي؛ هم فوځ د دوی په ولکه کې راشي او د قیامونو د ځپلو لپاره ترې کار اخلي او هم د کودتاگانو له لاري نظامونه او چارواکي ئې یو په بل بدلوي. د قرآن په دغه وینا کې دا ټول حقائق توضیح شوي، واقعاً چې

په ناروا سره د خلکو مال خوړل؛ د انسانانو د مرگ او هلاکت لوی عامل دئ.

## ۲۵ باب: د بازارونو په اړه

۱۰۰۹ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَغْزُو جَيْشٌ الْكَعْبَةَ، فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ». قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ، وَفِيهِمْ أَسْوَاقُهُمْ، وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ؟ قَالَ: «يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ ثُمَّ يُبْعَثُونَ عَلَى نِيَّاتِهِمْ». (بخاری: ۲۱۱۸)

۱۰۰۹ – له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((یو لښکر به پر مکه برید کوي؛ خو کله چي بیداء (بېدیا) ته ورسېږي؛ ټول به له اول تر آخر په زمکه کي ښخ شي)) وايي: ومي ویل: یا رسول الله! څنگه به ټول له اول تر آخر؛ په زمکي کي ښخېږي؛ په داسي حال کي چي په دوی کي به د بازارونو اهل وي (د پېر پلور لپاره به ورسره ملگري شوي وي)؛ او هغه هم چي د برید کوونکو له ډلي به نه وي؟ نو وئې فرمایل: ((دوی به ټول له اول تر آخر په زمکي کي ښخ شي؛ بیا به د خپل نیت مطابق راپاڅول کېږي)).

دا روایت په همدې صیغه له بخاري پرته د صحاح سته په هیڅ کتاب کي نه دئ راغلی؛ له باب سره ئې تړاو هم غیر واضح دئ؛ د روایت اصلي موضوع پر مکې برید دئ؛ نه د بازار په اړه بحث.

دا پوښتنه هم راولاړېږي چي قرآن په ډېر تأکید او تکرار سره او ډېرو آیتونو او مثالونو کي وايي: په زمکي او آسمان کي له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ دا هم غیب دئ چي سبا او په لري او نژدې مستقبل کي به څه کېږي؛ خو دا روایت وايي: پر مکې به یو لښکر برید کوي؛ ټول به خسف شي؛ دا نه دي ویل شوي چي دا برید به کله

وي؛ له كوم لوري به وي؛ دا موضوع هم د قرآن له ګڼ شمېر آيتونو سره تعارض لري او هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغي وينا سره چي زما په امت کي به خسف او مسخ نه وي؛ ځواب به مو څه وي؟! ځواب به مو دا وي چي نه په داسي مواردو کي غريب روايات د اعتبار وړ دي او نه له قرآن سره متعارض روايات.

١٠١٠ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوقِ، فَقَالَ: رَجُلٌ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّمَا دَعَوْتُ هَذَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَمُّوا بِاسْمِي وَلا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي». (بخارى: ٢١٢٠)

١٠١٠ – له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يو ځل رسول الله صلى الله عليه و سلم په بازار کي وو چي يوه سړي وويل: يا ابا القاسم! نو نبي صلى الله عليه و سلم ورته متوجه شو؛ هغه سړي وويل: ما خو دغه بل ته چيغه وکړه؛ نو نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: «زما په نوم ځانونه نوموئ؛ خو زما کُنْيَه نوم (ابو القاسم) پر ځانونو مه ږدئ)).

دا روايت په بخاري کي ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٢٠ - ٣١١٤ - ٣١١٥ – له دې توپيرونو سره: په يوه کي فَإِنِّي إِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ يا «بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ»، راغلي، په بل کي نه دي راغلي؛ په يوه کي وَلاَ تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي په بل کي وَلاَ تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي راغلي. د روايت دا فقره (بُعِثْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ) هم له موضوع سره اړخ نه لګوي؛ ځکه کنية (ابوالقاسم: د قاسم پلار) ده؛ نه قاسم؛ او دا د دې لپاره چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم زوی قاسم نومېدو؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم نه نوم قاسم وو او نه د قاسم په صفت ياد شوی؛ له همدې کبله امام مسلم دا روايت په دې صيغه راوړی:

(٢١٣١) عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: نَادَى رَجُلٌ رَجُلًا بِالْبَقِيعِ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ

رَسُولُ اللهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي لَمْ أَعْنِكَ إِنَّمَا دَعَوْتُ فُلَانًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَسَمَّوْا بِاسْمِي وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي "

له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په بقيع کې يوه سړي بل سړي ته نارې کړې: اې ابو القاسمه! رسول الله صلی الله علیه و سلم مخ ورواړولو؛ هغه وويل: يا رسول الله! مقصد مي ته نه وې فلانی وو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: «زما په نوم ځانونه نوموئ؛ خو زما کُنْيَه نوم (ابوالقاسم) پر ځانونو مه بردئ)).

امام مسلم د بخاري له باب سره هم توافق نه دئ کړی او دا روايت ئې تر دې باب لاندي راوړی: بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّكَنِّي بِأَبِي الْقَاسِمِ ... بخاري د بَابُ مَا ذُكِرَ فِي الأَسْوَاقِ لاندي راوړی؛ چي له روايت سره هيڅ مناسبت نه لري؛ ځکه د روايت اصلي موضوع دا ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: زما نوم (محمد) پر ځان او اولاد کښېښودی شئ خو زما کنيه مه کاروئ.

۱۰۱۱ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ الدَّوْسِيِّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةِ النَّهَارِ، لا يُكَلِّمُنِي وَلا أُكَلِّمُهُ، حَتَّى أَتَى سُوقَ بَنِي قَيْنُقَاعَ، فَجَلَسَ بِفِنَاءِ بَيْتِ فَاطِمَةَ، فَقَالَ: «أَثَمَّ لُكَعُ أَثَمَّ لُكَعُ؟» فَحَبَسَتْهُ شَيْئًا، فَظَنَنْتُ أَنَّهَا تُلْبِسُهُ سِخَابًا أَوْ تُغَسِّلُهُ، فَجَاءَ يَشْتَدُّ حَتَّى عَانَقَهُ وَقَبَّلَهُ، وَقَالَ: «اللَّهُمَّ أَحْبِبْهُ وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُ». (بخاری: ۲۱۲۲)

۱۰۱۱ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د ورځې په يوه برخه کي ووت؛ نه ئې له ما سره خبري کولې او نه ما ورسره خبري کولې؛ تر هغه چي د بني قينقاع بازار ته ورسېد؛ او هلته د فاطمې رضي الله عنها د کور مخي ته ميدان کې کښېناست او وئې فرمايل: ((وړوکی چېري دئ؛ وړوکی چېري دئ؟))؛ هغې لږ وځنډولو؛ گمان مي وکړ چي ښايي د معطرو بوټو کوم امېل

وراغوندي او یا ئې لمبوي؛ نو په منډه راغی؛ غاړه ئې ورکړه او ښکول ئې کړ؛ وئې فرمایل: ((خدایه! محبت ورسره ولره؛ او له هغه چا سره هم محبت وکړه چې له ده سره محبت کوي)).

دا روایت په همدې صیغه او له همدې راوي؛ یوازې په بخاري کې یو ځل راغلی؛ له صحیح مسلم پرته په بل کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ د مسلم روایت داسې دئ:

٥٦ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ لِحَسَنٍ: «اللهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ وَأَحْبِبْ مَنْ يُحِبُّهُ»

له ابو هریره روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم حسن ته وویل: خدایه! زه ورسره محبت لرم؛ ته ورسره محبت کوه او له هغه سره هم محبت کوه چې له ده سره محبت کوي.

د بخاري په روایت کې څو ابهامات دي: د حسن رضي الله عنه نوم نه دئ اخستل شوی؛ نه دي ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له کوم ځای ووت؟؛ د مسلم په روایت کې د حسن رضي الله عنه نوم اخستل شوی او ویل شوي: اللهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ وَأَحْبِبْ مَنْ يُحِبُّهُ؛ په دې وینا کې رسول الله صلی الله علیه و سلم هم حسن رضي الله عنه ته دعاء کړې، هم ځان ته او هم د هغه مور او پلار ته؛ ځکه په دې دعاء کې تر ټولو وړاندې دوی درې شامل دي: له هغه سره هم محبت کوه چې له ده سره محبت کوي.

۱۰۱۲ ـ عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّهُمْ كَانُوا يَشْتَرُونَ الطَّعَامَ مِنَ الرُّكْبَانِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَبْعَثُ عَلَيْهِمْ مَنْ يَمْنَعُهُمْ أَنْ يَبِيعُوهُ حَيْثُ اشْتَرَوْهُ، حَتَّى يَنْقُلُوهُ حَيْثُ يُبَاعُ الطَّعَامُ. وقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبَاعَ الطَّعَامُ إِذَا اشْتَرَاهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ. (بخاری: ۲۱۲٤)

١٠١٢ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: دوی به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي د لاري پر سر له کاروانیانو خوراکي توکي اخستل؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم به څوک لېږل چي هغوی له دې منع کړي چي د پېرلو ځای کي ئې وپلوري؛ تر هغه چي د خوراکي شیانو د خرڅولو ځای (منډیي) ته ئې ورسوي؛ او ابن عمر رضي الله عنهما وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې منع کړې چي خوراکي شیان له اخستلو سره متصل وپلورل شي؛ تر دې وړاندي چي تر لاسه ئې کړي.

مسلم تر دې باب لاندي راوړی: بَابُ بُطْلَانِ بَيْعِ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ:

(١٥٢٥) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ»، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَأَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلَهُ،

له ابن عباس روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: څوك چي خوراکي شیان واخلي تر هغه دې نه پلوري چي تر لاسه ئې کړي. او ابن عباس وویل: ګمان کوم چي هر څه همداسي دي.

یعني دا نهي مختص په خوراکي توکیو پوري نه ده؛ هر څه پرې قیاس کېدی شي.

لکه چي ګورئ: د مسلم باب له روایت سره مناسبت لري؛ مسلم دا روایت له ابن عباس راوړی او بخاري له ابن عمر؛ د مسلم په روایت کي دا وضاحت هم شته چي نور شیان هم باید د طعام په څېر وګڼل شي او پېر پلور ئې له هغه وروسته وشي چي مخکینۍ سودا عملي شوې او مال تر لاسه شوی وي.

دا موضوع هم وضاحت ایجابوي چي ولې به څوك حق نه لري چي جنس مارکیت او بازار ته تر رارسېدو وړاندي؛ په نیمه لار کي وپېري او همـلته ئې وپلوري؟ په دې کي کوم مصلحت مضمر دئ؟ په بخاري کي دا وضاحت نه مومو؛ شارحینو ئې خپل خپل دلائل او توجیهات وړاندي

کړي؛ غوره توجيه دا ده: اسلام احتکار او انحصار او هر هغه کار چې د غريبانو په زيان او د شتمنو په ګټه وي او د نرخو د غير عادلانه لوړېدو باعث کېږي؛ تحريم کړي؛ بايد پر مارکيټ د شتمنو د تسلط مخنيوی وشي او دا موقع او فرصت په لاس ورنه شي چې مارکيټ ته د اجناسو آزادانه راتګ کنټرول کړي؛ دا د اجناسو غير واقعي او تحميلي نرخ رامنځته کوي؛ صدمه ئې عام ولس او محتاجو پېرونکو ته رسي؛ همدا راز هر څومره چې اجناس له خپل لومړي محل تر مارکيټ پورې زيات لاس په لاس شي؛ او د شتمنو تر سلطې لاندې مارکيټ ته ورسېږي يا له مارکيټ بهر په نيمې لارې کې وپېرل شي او هملته وپلورل شي؛ قيمت ئې لوړېږي. د دې حديث له مخې دا د اسلامي حکومت دنده ده چې د قيمتونو د لوړېدو مخنيوی وکړي؛ داسې تدابير ونيسي چې اجناس د توليد له لومړي محل مخامخ مارکيټ ته ورسېږي.

## ۲۶ باب: په بازار کې د غالمغال کراهيت

۱۰۱۳ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضى الله عنه: أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ صِفَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي التَّوْرَاةِ، قَالَ: أَجَلْ، وَاللَّهِ إِنَّهُ لَمَوْصُوفٌ فِي التَّوْرَاةِ بِبَعْضِ صِفَتِهِ فِي الْقُرْآنِ: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا وَحِرْزًا لِلأُمِّيِّينَ، أَنْتَ عَبْدِى وَرَسُولِى، سَمَّيْتُكَ: المتَوَكِّلَ، لَيْسَ بِفَظٍّ، وَلا غَلِيظٍ، وَلا سَخَّابٍ فِي الأَسْوَاقِ، وَلا يَدْفَعُ بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ، وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَغْفِرُ، وَلَنْ يَقْبِضَهُ اللَّهُ حَتَّى يُقِيمَ بِهِ الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ، بِأَنْ يَقُولُوا: لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَيَفْتَحُ بِهَا أَعْيُنًا عُمْيًا، وَآذَانًا صُمًّا، وَقُلُوبًا غُلْفًا. (بخارى: ۲۱۲۵)

۱۰۱۳ – له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت دئ چې په تورات کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د صفت په اړه پوښتنه ترې وشوه؛ وئې ويل: هو؛ قسم په خدای چې په تورات کې په ځينو هغو صفتونو ستايل شوی چې په قرآن کې دي؛ لکه: اې نبي! ته مو

شاهد، زیری ورکوونکی، گواښونکی، د امي ولس لپاره حِرز او ساتونکی لیږلی یې؛ ته زما بنده او رسول یې، ما په دې نومونو او صفتونو نوملی یې: متوکل، نه بد خوی، نه سخت او توند، نه په بازارونو کې چیغې وهوونکی، نه بدي په بدي دفع کوونکی، بلکې عفو کوونکی او بخښونکی؛ او الله تعالی به ئې تر هغه روح نه قبضوي چې کوږ شوی او بې لارې شوی ولس پرې سم او سیده لارې ته برابر کړي؛ داسې چې لا اله الا الله ووایي او په همدې سره هم ړندې سترګې پرانیستل شي، هم کاڼه غوږونه او هم بند زړونه.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ له بخاري پرته د صحاح سته په بل کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ وایي رسول الله صلی الله علیه و سلم په تورات کې په داسې صفاتو یاد شوی چې په قرآن کې راغلي؛ خو نه ئې الفاظ په قرآن کې مومو او نه ئې معنی؛ لکه حِرْزًا لِلأُمِّيِّينَ، وَلا سَخَّابٍ فِي الأَسْوَاقِ؛ دا الفاظ هم په قرآن کې نه شته: سَمَّيْتُكَ: المتَوَكِّلَ؛ هیڅوك دا نشي ثابتولی چې په تورات کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه دا وړاندوینه له همدومره صفاتو سره شوې؛ قرآن وایي چې په تورات او انجیل کې ئې نوم احمد دئ؛ (... يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ ... ٦) الصف؛ محققین وایي: په تورات کې داسې عبري لفظ راغلی چې معنی ئې احمد دئ؛ قرآن وایي: په تورات او انجیل کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې یادونه شوې:

﴿الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝١٥٧ الأعراف

هغه چي د امي رسول او پیغمبر متابعت کوي، هغه چي دوی ئې نوم په تورات او انجیل کي له ځان سره لیکلی مومي، هغه چي دوی په نېکي ګماري او له بدي ئي منع کوي او پاك شیان ورته حلال او ناولي ورته حرام ګرځوي او بارونه ئي د دوی له اوږو راکوزوي او هغه زنځیرونه (شلوي) چي د دوی په لاسونو او پښو کي لوېدلي وو، نو چا چي پر هغه ایمان راوړ، د ده مرسته ئې وکړه او په هغي رڼا پسي ولاړل چي پر ده نازله شوې، همدا کسان برلاسي او بریالي دي.

تر دې آیت وړاندي الله تعالی د موسی علیه السلام د دعاء په ځواب کي فرمایلي: خپل عذاب به د هغه چا په برخه کوم چي زه ئې غواړم او رحمت مي پراخ او هر څه ته شامل دئ، هغه خلك به حتماً له خپلو پېرزوینو او رحمت برخمن کوم چي تقوی کوي، زکات ورکوي او زما پر آیتونو ایمان راوړي او د هغه امی پیغمبر متابعت کوي چي ځانګړتیاوي ئې دا دي: دوی ئې نوم په تورات او انجیل کي له ځان سره لیکلی مومي، خلك په نېکي ګماري او له بدي ئي منع کوي او پاك شیان ورته حلال او ناولي ورته حرام ګرځوي او بارونه ئي ترې کوزوي او هغه زنځیرونه شلوي چي د دوی په لاسونو او پښو کي لویدلي. چا چي پر دې پیغمبر ایمان راوړ، د ده ملګرتیا ئې وکړه، د ده مرسته ئې وکړه او په هغي رڼا پسي ولاړل چي په ده باندي نازله شوې؛ همدا کسان برلاسي او بریالي دي.

ګورئ چي پیغمبر د خلکو بارونه سپکوي، زنځیرونه شلوي، انسانان آزادوي، ټول پاك شیان چي پخوا د دوی ټګمارو مذهبي مشرانو یوه برخه ورته حرام کړي وو؛ حلال ګرځوي او ټول ناولي شیان حراموي، خلکو ته داسي نور او څراغ ورکوي چي له تیارو او خرافاتو وړباندي ووځي او د حقیقت روښانه دنیا ته لاړ شي. د قرآن له دې وینا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي د مخکینیو امتونو مذهبي مشرانو په دین کي زیادت کړی، له خپل لوري ئې مذهبي مراسم رااېستلي، ډېر حلال شیان ئې پر خلکو حرام کړي، د خلکو آزادي ئې محدوده کړې، نوي قیود

ئې وضع کړي او دا ئې د الله تعالی د دين برخه معرفي کړې؛ د بايبل ډېري خبري د قرآن د دغي وينا مصداق دئ.

دا آيت موږ ته د دې لارښوونه کوي چي پر پيغمبر د ايمان څو غوښتني دي: د ده ملګرتيا، د ده مرسته، د ده متابعت او هغه مشعل او رڼا لارښود نيول چي ده راوړې، يوازي دغه کسان به برلاسي او بريا به ئې په برخه وي.

خو دا چي په تورات او انجيل کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم نوم ذکر شوی که نه؟ او آيا دا نوم په بايبل کې چي د تورات او انجيل مجموعه ئې ګڼي شته که نه؟ په دې اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

- د دې آيت له الفاظو په صراحت سره دا نه معلومېږي چي په تورات او انجيل کې د محمد صلی الله عليه و سلم نوم ذکر شوی، البته د الصف د سورې په پنځم آيت کې داسي راغلي:

وَإِذۡ قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُم مُّصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُۖ:

او کله چي عيسی د مريمي زوی وويل: اې بني اسرائيلو! يقيناً چي زه تاسو ته د الله رسول يم، د هغه تورات تصديقوونکی چي تر ما مخکي وو او د داسي يوه پيغمبر زېری ورکوونکی چي تر ما به وروسته وي او نوم ئې احمد دئ.

- په رواياتو کې راغلي چي دا هم د پيغمبر عليه السلام نوم وو؛ د احمد معنی هم ډېر ستايونکی ده او هم ډېر ستايل شوی. د عربو تاريخ په دې شهادت ورکوي چي د محمد نوم تر پيغمبر عليه السلام مخکي په هيچا نه دئ ايښودل شوی.

- تورات او انجيل په عبري او سرياني ژبو وو، نه په عربي ژبه چي د (احمد) يا (محمد) دا عربي الفاظ په کې راغلي وی.

- يهودان تر نن پوري د يوه ناجي پيغمبر راتلو ته منتظر دي.

- که تاسو بایبل ته په دقت سره ځیر شئ نو دا حقیقت به درته جوت شي چي د مسیح منتظر په اړه د بحث لړۍ د اشعیا له کتابه پیل شوې، د بایبل په مخکینیو کتابونو کي په دې اړه هیڅ نه دي ویل شوي، په یهودانو کي د (انتظار) عقیده هغه وخت راپیدا شوه چي دوی د ذلت او اسارت په ډېر دردناك حالت کي ژوند کاوو، هېواد ئې د پلازمېنې په شمول د دښمنانو په لاس کي پرېوتی وو، دوی له خپل کور کلي شړل شوي وو، ځیني ئې په اسارت ونیول شول او ځیني ئې تبعید شول، د غلامۍ او خوارۍ په دې بد حالت کي او د دې حالت د فطري غوښتنې په توګه؛ په دوی کي یوه ناجي او ژغورونکي ته د (انتظار) عقیده راولاړه شوه؛ په ظلم ځپلو او جهل وهلو قومونو کي د داسي یوې عقیدې راپیدا کېدل او یوه داسي چا ته انتظار کول چي راشي؛ د یوې ګوتي په خوځولو سره او د سترګو په رپ کي؛ د دوی حالت بدل کړي، له ذلت او سپکاوي ئې وژغوري او د عزت لوړو ځوکو ته ئې ورسوي؛ یوه فطري طمع او انتظار دئ؛ په ډېرو قومونو کي د انتظار عقیده د دې پر ځای چي مذهبي بنسټ ولري؛ ذهني بنسټ لري؛ د دې پر ځای چي بې وزلو قومونو دا عقیده له خپلو مذهبي کتابونو اخیستې وي؛ برعکس همدا د مظلومیت او بې وزلۍ حالت د هغو کتابونو د رامنځ ته کېدو سبب شوی چي د (انتظار) عقیده ئې وړاندي کړې!! هیڅ الهي کتاب چا ته نه وایي چي د یوه ناجي راتلو ته انتظار وکړه، برعکس ورته وایي: ستا نجات په دې کي دئ چي په الله ایمان راوړې، له الله پرته بل ته سر ټیټ نه کړې، له الله پرته نه له بله طمع ولرې او نه وېره، ظلم ته تسلیم نه شې، د ظالمانو په ضد جهاد ته ملا وتړې او د مظلومانو ملګرتیا وکړې. قرآن پیغمبران علیهم السلام داسي معرفي کوي چي هر یوه ئې د تر ځان د مخکیني پیغمبر تصدیق کړی او تر ځان د وروستني تأیید؛ خو دا تأیید هیڅکله د انتظار په معنی نه ده، قرآن په دې بیان سره د پیغمبرانو علیهم السلام یوه مهمه ځانګړتیا او له نورو مشرانو د دوی یو اساسي

توپیر په ګوته کوي، نور زعماء او مشران داسي وي چي مخکیني محکوموي او په خپل څنګ کي د بل قیادت او زعامت د راولاړېدا ټول امکانات له منځه وړي؛ د چا په اړه چي ګمان وکړي د دوی ځای به ونیسي او د دوی قیادت به له ګواښ سره مخامخ کړي؛ د هغوی د ختمولو او وژلو لپاره له هیڅ جنایت دریغ نه کوي؛ هغوی هر د استعداد خاوند ځان ته رقیب او حریف ګڼي او د ختمولو هڅه ئې کوي؛ خو پیغمبرانو او د دوی له لاري د دوی امتونو ته ویل شوي چي تاسو به د هر هغه چا ملا تړ کوئ چي له تاسو وروسته راځي او په هغه لار درومي چي تاسو پرې روان یئ.

دا مو په پام کي وي چي د یهودانو هیڅ مذهبي کتاب؛ د تورات، زبور او انجیل په شمول؛ روغ نه دئ پاته شوی؛ ټول په بشپړه توګه له منځه تللي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي نه اصلي تورات پاته وو او نه انجیل او نور کتابونه؛ پر بني اسرائیلو داسي سختي ورغ راغلې؛ کله د رومیانو له لوري او کله د ساسانیانو له لوري؛ چي ټول معابد ئې وران شوي؛ ټول کتابونه ئې سوزول شوي، له خپلو کورونو تش لاس او د اسیرانو په توګه ایستل شوي؛ په نړۍ کي خواره شوي؛ بایبل د دوی د دښمنانو په لاس په یوناني ژبه لیکل شوی او بیا عبري ته ژباړل شوی؛ او دا ټول د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثت وړاندي؛ هیڅوك نشي کولی د تورات اصلي عبراني نسخه وړاندي کړي؛ په دې روایت کي د عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرٍو خبري د ده خپلي خبري دي؛ نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث؛ د داسي خبرو لپاره له قرآن پرته بله مرجع نه مومو؛ یوازي هغه برخي ئې صحیح ګڼلی شو چي په قرآن کي ورته اشاره شوې.

## ۲۷ باب: د تللو (وزن کولو) مزدوري په خرڅونکي ده

۱۰۱٤ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: تُوُفِّيَ عَبْدُاللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ حَرَامٍ وَعَلَيْهِ

دَيْنٌ، فَاسْتَعَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى غُرَمَائِهِ أَنْ يَضَعُوا مِنْ دَيْنِهِ، فَطَلَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَلَمْ يَفْعَلُوا، فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اذْهَبْ فَصَنِّفْ تَمْرَكَ أَصْنَافًا، الْعَجْوَةَ عَلَى حِدَةٍ، وَعَذْقَ زَيْدٍ عَلَى حِدَةٍ، ثُمَّ أَرْسِلْ إِلَيَّ» فَفَعَلْتُ، ثُمَّ أَرْسَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ فَجَلَسَ عَلَى أَعْلاهُ أَوْ فِي وَسَطِهِ ثُمَّ قَالَ: «كِلْ لِلْقَوْمِ» فَكِلْتُهُمْ حَتَّى أَوْفَيْتُهُمِ الَّذِي لَهُمْ، وَبَقِيَ تَمْرِي كَأَنَّهُ لَمْ يَنْقُصْ مِنْهُ شَيْءٌ». (بخاری: ٢١٢٧)

١٠١٤ - له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: كله چي زما پلار عبدالله بن عمرو بن حرام وفات شو؛ څه قرض ورباندي وو؛ له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي په دې اړه مرسته وغوښته چي د قرض خاوندان څه برخه وبخښي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم دا غوښتنه ترې وکړه؛ خو هغوی ونه منله؛ نو نبي صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: ((ولاړ شه؛ خرما دي سره بېلي کړه؛ عَجْوَةَ جلا او عَذْقَ زَيْد جلا؛ بيا خوك راولېږه؛ همداسي مي وکړل؛ بيا مي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته خبر ولېږو؛ راغی او له پاسه ئې يا منځ کې ئې کښېناست؛ بيا ئې وفرمايل: ((دوی ته ئې وتله)) ما وروتلل؛ تر هغه چي د دوی حق مي ورپوره کړ؛ خو کجوري مي همغسي پاته وي لکه چي هيڅ څه نه وي ترې کم شوي.

دا روايت له بخاري او نسائي پرته د صحاح سته په نورو کتابونو کې؛ د صحيح مسلم په شمول؛ نه دئ راغلی؛ غريب دئ؛ په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري او دا دي: جَرِير، مُغِيرَة، الشَّعْبِيّ او جَابِر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ هيڅ راوي ئې په خپلي طبقې کې شاهد نه لري!!

ويل شوي چي دا قرض لرونکي يهودان وو؛ ځکه ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم سپارښتنه نه ده منلې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب شوي چي معجزه ده؛ په خپله او د يهودانو

له مطالبې پرته ئې ښودلې؛ څو پوښتنې راولاړېږي؛ چې ځواب ايجابوي:

- دا خو يوه ستره حيرانوونکې پېښه وه؛ په ليدو سره به ئې ټولو يهودانو يا لږ تر لږه ځينو خو حتماً ايمان راوړی وی؛ ولې دا کار نه دئ شوی؟
- له دې پېښې خو به ټوله مدينه خبره شوې وه؛ ولې په څلورو نسلونو کې يوازې يوه يوه تن دا خبره کړې؟
- قرآن خو په مکرره توګه او په ګڼ شمېر آيتونو کې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هغه معجزې نه وې ورکړی شوې چې مخکينيو پيغمبرانو ته ورکړی شوې؛ د ده معجزه قرآن دئ؛ آيا کولی شو او صحيح ده چې د قرآن له ډېرو آيتونو سره يو متعارض غريب روايت ومنو؟! ټول معروف او منلي ائمه او فقهاء وايي: غريب او آحاد روايات په عقائدو، احکامو، حلال او حرام کې د استناد او منلو وړ نه دي؛ او په دې کې شبه اجماع ده چې له قرآن سره متعارض روايت قطعاً د منلو وړ نه دئ؛ په امت کې يوازې يوه وړه ډله دا شاذ رأی لري چې وايي: کله چې راوي ثقه او د اعتبار وړ وي؛ نه ئې قرآن ته راجع کول او د قرآن له لارښوونو سره مطابقت؛ د صحت شرط دئ او نه د شاهد حضور او شتون؛ نو د دې روايت په اړه به موږ څه کوو؟ دا روايت به منو که د قرآن ګڼ شمېر څرګند او مکرر آيتونه؟!

راشئ د قرآن ځيني آيتونه له نظره تېر کړو:

وَمَا مَنَعَنَا أَنْ نُرْسِلَ بِالآيَاتِ إِلا أَنْ كَذَّبَ بِهَا الأَوَّلُونَ ... ﴿٥٩﴾ الإسراء

او له دې پرته بل څه موږ د څرګندو نښو (معجزو) له لېږلو منع نه کړو چې مخکينيو هغه تکذيب کړې؛ ...

له دې آيت په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې الله تعالی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر معجزې نه وې ورکړې. قريشو له رسول الله صلى الله عليه و سلم د

داسي معجزو وړاندي كول غوښتل چي مخكينيو پيغمبرانو ته وركړى شوې وې، ويل ئې: څنگه ومنو چي ته د الله تعالى پيغمبر يې حال دا چي يوه داسي معجزه دي وړاندي نه كړه چي مخكينيو پيغمبرانو لرلې!؟ د دې مبارك آيت په ترڅ كې دوى ته ويل شوي: معجزې د الله تعالى له لوري ښودل كېږي، د معجزې ښودل د پيغمبر ذاتي كار نه وي؛ الله تعالى له دې كبله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هغه معجزې نه دي وركړې چي مخكينيو پيغمبرانو ته ئې وركړې وې؛ چي مخكينيو قومونو هغه تكذيب كړې؛ كه مخالفينو د معجزو په ليدو سره ايمان راوړلى نو پر مخكينيو پيغمبرانو به ئې ايمان راوړى وو او د دوى معجزې به ئې نه تكذيبولې.

وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَى لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنكبوت

او وئې ويل: ولې د ده د رب له لوري ښرگندي نښي (معجزې) نه دي پرې نازلي شوې؟ ووايه: يقيناً چي نښي (معجزې) خو له الله سره دي؛ او زه يوازي يو ښرگند نذير يم؛ آيا دا ورته كفايت نه كوي چي موږ پر تا هغه كتاب نازل كړى چي پر دوى لوستل كېږي؟! يقيناً چي په دې كې د ايمان راوړونكو لپاره حتماً رحمت او ذكر دئ.

يعني قريشو دا اعتراض درلود چي ولې محمد عليه السلام ته معجزې نه دي وركړى شوې؟ الله تعالى د دوى په ځواب كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه كوي چي ورته ووايي: يقيناً چي معجزې له الله تعالى سره دي؛ او زه يوازي يو ښرگند نذير يم؛ له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واك؛ زه فقط يو نذير يم چي د كفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو تاسو ته خبرداری دركوم. همدا راز الله تعالى فرمايي: آيا د دوى د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك كتاب چي ته ئې پرې لولې؛

كفايت نه كوي؟! يقيناً چي په دې کې د ايمان راوړونكو لپاره حتماً (رحمت) او (ذكر) دئ؛ هغه چي د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې؛ هغوی به هرومرو دا كتاب د الله تعالی يوه ستره معجزه او لويه پېرزوينه گڼي او له هغه به پند اخلي؛ خو چا چي له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي، نه په دلائلو قانع كېږي او نه په معجزو؛ دا دئ گورئ چي د قريشو په وړاندي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په څېر ستر شخصيت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه وركوي، د قرآن په څېر له معجزو ډك كتاب ورته وړاندي شوی؛ خو هغوی نه يوازي له ايمان راوړو ډډه كوي بلكي د داسي خارق العاده معجزو غوښتنه كوي چي شيطان ئې پرې قانع شي.

هو؛ په چا کې چي د ايمان راوړلو استعداد وي؛ هغه ته دا كتاب په خپله د معجزې او دليل په توگه كافي دئ؛ تر دې لويه او ستره معجزه نه شته. كه څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره؛ قرآن ته رجوع وكړي؛ نو يقيناً چي د قرآن هره وينا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه ومومي چي ورته ثابتوي دا كتاب هغه چا نازل کړی چي د دې ټول عالم او د عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا كتاب د هغه چا له لوري راغلی چي علم ئې په زمان او مكان پوري محدود نه دئ، هيڅ شی او حقيقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندي داسي حجاب نه شته چي د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې كتاب کې گورو چي د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ؛ دا دقيق او سل په سلو کې صحيح او علمي قضاوتونه او پرېکړي موږ ته ثابتوي چي د دې كتاب لېږونكی د هر څه په اړه جامع او كامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت وركوي.

پوښتنه كوو: ولي په ټول قرآن کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه معجزه هم نه مومو؛ په داسي حال کې چي د ابراهيم، صالح، موسی

او عیسی علیهم السلام ګڼ شمېر معجزې په تفصیل سره یادي شوې؟!
قرآن ئې ځواب ویلی: د مخکینیو پیغمبرانو د معجزو له امله منکرینو ایمان رانه وړ؛ ځکه نو الله تعالی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هغو معجزو د تکرار په ځای قرآن ورکړ؛ چې تر قیامت پوري د ټولو انسانانو لپاره دائمي معجزه وي. دا آیت ئې بشپړ وضاحت کوي:

فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا لَوْلَا أُوتِيَ مِثْلَ مَا أُوتِيَ مُوسَى أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَا أُوتِيَ مُوسَى مِنْ قَبْلُ قَالُوا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ كَافِرُونَ ﴿٤٨﴾ القصص

نو کله چې زموږ له لوري حق ورغی وئې ویل: ولې ده ته هم د هغو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې چې موسی ته ورکړی شوي وې؟! آیا تر دې د مخه په هغه څه کافران نه شول چې موسی ته ورکړی شوي وو؟ وئې ویل: دوه کوډې (سحر) چې یو د بل ملاتړ کوي؛ او وئې ویل: موږ له هر یوه انکار کوونکي یو.

دا آیت د هغو په اړه نازل شوی چې ویل به ئې: که پیغمبر راشي؛ نو ایمان راوړو؛ خو چې د الله تعالی له لوري پیغمبر ورغی؛ وئې ویل: ولې ده ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چې موسی علیه السلام ته ورکړی شوې وې؟! دوی ته ویل شوي چې آیا د موسی علیه السلام له ټولو معجزو سره سره له ده او معجزو ئې انکار ونه شو؟ ستاسو پلرونو د هغه معجزو ته د سحر په سترګه وکتل او تاسو د محمد علیه السلام دعوت ته؛ دواړه مو کوډې او سحر او یو د بل مؤید وګڼل.

آیا دا څرګند آیتونه کافي نه دي چې باور ولرو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چې مخکینیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې؟! عجیبه ده چې څوك له دې آیتونو سره سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د وړو وړو معجزو ثابتولو هڅه کوي او هغه هم د غریبو روایاتو په مټ؟!

## ٢٨ باب: تلل مستحب دي

١٠١٥ ـ عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِى كَرِبَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كِيلُوا طَعَامَكُمْ يُبَارَكْ لَكُمْ». (بخاری: ٢١٢٨)

١٠١٥ - له مِقدام بن مَعْدِي كَرِب رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((خپل خوراکي توکي تلئ؛ درته برکتي کېږي)).

تلل هم په پېر پلور کي ضروري او مفيد دي؛ د غبن او شك مانع کېږي او هم په کور کي د مصرف لپاره ضروري دي؛ په اونۍ، میاشت او کال کي څومره مقدار خوراکي توکیو او مصرفي شیانو ته ضرورت لرې؛ هغه مهال ئې وپېره چي قیمت ئې ټیټ وي؛ د مبلغ په ځای جنس وساته؛ په ځانګړې توګه هغه اجناس چي د خرابېدو احتمال ئې نه وي؛ او بیه ئې له یوه وخت تر بل بدلېږي.

## ٢٩ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د (صاع) او (مد) برکت

١٠١٦ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَدَعَا لَهَا، وَحَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ كَمَا حَرَّمَ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ وَدَعَوْتُ لَهَا فِي مُدِّهَا وَصَاعِهَا، مِثْلَ مَا دَعَا إِبْرَاهِيمُ عليه السلام لِمَكَّةَ». (بخاری: ٢١٢٩)

١٠١٦ - له عبدالله بن زيد رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((ابراهیم علیه السلام د مکې حرمت وټاکلو او د برکت دعاء ئې ورته وکړه؛ او ما د مدینې حرمت وټاکلو؛ همغسي چي ابراهیم علیه السلام د مکې حرمت ټاکلی؛ د مدینې د صاع او مد؛ (پیمانو) لپاره مي د برکت داسي دعاء کړې لکه چي ابراهیم علیه السلام

د مکې لپاره دعاء کړې وه)).

دا روايت غريب دئ؛ په دريو طبقو کې يو يو راوي لري؛ چې دا دي: عَمْرو بْنِ يَحْيَى، عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ او عَبْدُ اللهِ بْنِ زَيْدٍ؛ په صحيح مسلم کې له همدې راويانو په دې صيغه راغلی:

٤٥٤ - (١٣٦٠) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَدَعَا لِأَهْلِهَا، وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ كَمَا حَرَّمَ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ، وَإِنِّي دَعَوْتُ فِي صَاعِهَا وَمُدِّهَا بِمِثْلَيْ مَا دَعَا بِهِ إِبْرَاهِيمُ لِأَهْلِ مَكَّةَ»،

د بخاري له روايت سره ئې دا توپيرونه دي: په بخاري کې أَنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَدَعَا لَهَا او په مسلم کې إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَدَعَا لِأَهْلِهَا؛ په بخاري کې وَدَعَوْتُ لَهَا فِي مُدِّهَا وَصَاعِهَا، مِثْلَ مَا دَعَا إِبْرَاهِيمُ عليه السلام لِمَكَّةَ او په مسلم کې وَإِنِّي دَعَوْتُ فِي صَاعِهَا وَمُدِّهَا بِمِثْلَيْ مَا دَعَا بِهِ إِبْرَاهِيمُ لِأَهْلِ مَكَّةَ راغلي.

## ٣٠ باب: د غلې دانې د پلورلو او احتکار يادونه

١٠١٧ ـ عَنْ ابن عمر رضى الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ الطَّعَامَ مُجَازَفَةً، يُضْرَبُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعُوهُ حَتَّى يُؤْوُوهُ إِلَى رِحَالِهِمْ. (بخارى: ٢١٣١)

١٠١٧ - له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: هغه مې ليدلي چې خوراکي توکي به ئې د تخمين له مخې پېرل او خپلو مېنو ته تر انتقال وړاندې به ئې پلورل؛ دوی به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کې له همدې کبله وهل کېدل.

دا روايت په همدې الفاظو؛ په بخاري کې يو ځل راغلی؛ له بخاري پرته د صحاح سته په بل کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ غريب دئ؛ په

شپږو طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: إِسْحَاق بْن إِبْرَاهِيمَ، وَلِيد بْن مُسْلِم، اَوْزَاعِيّ، زُهْرِيِّ، سَالِم او پلار ئې ابن عمر رضي الله عنه. آخري راوي؛ إِسْحَاق َبْن إِبْرَاهِيمَ (إِسْحَاق بن رَاهَوَيْه) د امام بخاري استاد دئ.

دا صحيح ده چې د شتمنو په لاس د مارکيټ له مديريت او کنټرول او له هر ډول غير مشروع پېر پلور مخنيوی وشي؛ د تخمين او چانس ځای دقيق وزن او تلل ونيسي؛ د نرخونو د مصنوعي زياتېدو ټول عوامل له منځه ولاړ شي؛ اما دا چې له متخلفينو سره څه چلن وشي؛ دا د غريبو رواياتو له مخي نشي ټاکل کېدی؛ د (يُضْرَبُونَ) صيغه غير واضح ده؛ نه په بخاري کې د دې وضاحت شوی او نه ئې په شرحي؛ فتح الباریٔ او عمدة القاري کې. که د داسي خلکو سزا وهل وي؛ نو د وهلو څرنګوالی، اندازه، هغه چې د وهلو پرېکړه کوي او هغه چې دا پرېکړه عملي کوي؛ ټول بايد په ګوته شي؛ خو که همداسي مبهم پرېښودی شي او داسي روايات؛ د جاهلو واکمنو لاس ته ورشي؛ نو د ډېرو پوستکي به په وهلو وهلو وباسي؛ په کونداغونو، سوټيو او کيبل وهل به هم جائز ګڼي.

١٠١٨ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «نَهَى أَنْ يَبِيعَ الرَّجُلُ طَعَامًا حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ» قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: كَيْفَ ذَاكَ؟ قَالَ: ذَاكَ دَرَاهِمُ بِدَرَاهِمَ وَالطَّعَامُ مُرْجَأٌ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ " (مُرْجَئُونَ): مُؤَخَّرُونَ ". (بخاری: ٢١٣٢)

١٠١٨ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې ممانعت کړی چې يو سړی د خوراکي توکو له قبض کولو او تر لاسه کولو وړاندي؛ هغه بېرته وپلوري. ابن عباس ته مي وويل: دا څنګه وي؟ وئې ويل: دا درهم په درهم پلورل دي؛ او سودا د خوراکي توکو په نشتون کې. ابو عبد الله د مُرْجَأٌ په ځای مرجئُون صيغه ياده کړه؛ معنی ئې وروسته کړی شوی.

مقصد ئې دا دئ چې پېر پلور به د جنس په شتون کې وي؛ پېرونکی

ئې بايد عملاً تر لاسه کړي؛ له دې وروسته ئې پر بل د پلورلو حق لري؛ نه د مال په غياب کې سودا سمه ده او نه له قبضولو وړاندي ئې پر بل پلورل جائز دي.

١٠١٩ ـ عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: يُخْبِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ». (بخاری: ٢١٣٤)

١٠١٩ - له عمر بن الخَطَّاب رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((سره زر په سرو زرو پلورل سود دئ؛ مگر دا چي لاس په لاس او برابر وي، غنم په غنمو، خرما په خرما، وربشی په وربشو سود دئ مگر دا چي برابر او لاس په لاس وي)).

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٣٤ - ٢١٧٤ په متن کې له توپیر پرته؛ مطلب ئې دا دئ: جنس بايد لاس په لاس تبادله شي؛ د هاء و هاء معنی دا ده چي يو ووايي دا واخله او بل ووايي دا واخله؛ لاس په لاس معامله.

پوښتنه راولاړېږي چي سره زر په سره زر که سره زر په سپينو زرو بدلول؟! ولي به څوك سره زر په سرو زرو بدلوي؛ مگر دا چي عيار او خالص والی ئې فرق ولري؛ غواړو د ټيټ عيار سره زر په لوړ عيار سرو زرو بدل کړو؛ په ارزښت کې ئې توپير وي؛ څه به کوو؟ سمه طريقه دا ده چي خپل زر په مناسبه بيه وپلورو او بيا بل وپېرو؛ همدا راز غنم او نور اجناس؛ د جنس په جنس بدلولو پر ځای؛ يو وپلورو او بل پرې وپېرو؛ له دې پرته ئې مخامخ لړ په ډېر تبادله؛ سود ته ورته گڼل شوې.

دا هم بايد واضح شي چي د سرو زرو تر منځ توپير په خالص والي کې وي؛ سره زر په اصل کې نرم وي؛ د کلکوالي لپاره ئې له بل فلز سره يو ځای کوي؛ تناسب ئې مثلاً په ١٠٠٠ گرام کې ٧٥٠ سره زر وي؛ يا تر دې

ډېر يا لږ؛ د قراط په حساب ١٨ او ٢٤.

په صحيح مسلم كې دا روايت په دې صيغه راغلی:

٤٠٦٤- [٧٩-١٥٨٦] عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، أَنَّهُ قَالَ: أَقْبَلْتُ أَقُولُ مَنْ يَصْطَرِفُ الدَّرَاهِمَ؟ فَقَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ، وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: أَرِنَا ذَهَبَكَ، ثُمَّ ائْتِنَا، إِذَا جَاءَ خَادِمُنَا، نُعْطِكَ وَرِقَكَ، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: كَلاَّ، وَاللَّهِ لَتُعْطِيَنَّهُ وَرِقَهُ، أَوْ لَتَرُدَّنَّ إِلَيْهِ ذَهَبَهُ، فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا، إِلاَّ هَاءَ وَهَاءَ.

له مالك بن أوس روايت دئ چې وئې ويل: راغلم او ويل مې: څوك دراهم (د سرو زرو سكې) پېري؟ طلحه بن عبيد الله چې د عمر رضي الله عنه خوا كې وو وويل: سره زر دې راوښيه؛ بيا هغه مهال راشه چې خادم مو راغلی وي؛ سپين زر به دې دركړو؛ عمر رضي الله عنه وويل: نه؛ قسم په الله چې يا به ئې حتماً سپين زر وركوې او يا به ئې سره زر بېرته وركوې؛ ځكه رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: سپين زر په سرو زرو بدلول سود دئ؛ مگر دا چې لاس په لاس وي؛ غنم په غنمو، وربشي په وربشو، خرما په خرما بدلول سود دئ مگر دا چې لاس په لاس وي.

يعني سكې په سكو او جنس په جنس بدلولو كې د صحت شرط دا دئ چې سره برابر او لاس په لاس وي؛ كه نه نو سود گڼل كېږي. كه څوك سره زر په سپينو زرو بدلوي يا ١٨ قيراطه سره زر په ٢٤ قيراطه پلوري؛ نو لومړی دې خپل جنس وپلوري او بيا دې بل جنس لاس په لاس وپېري.

## ۳۱ باب: د مسلمان په بيع داو لګول جواز نه لري

۱۰۳۰ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلا تَنَاجَشُوا وَلا يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلا يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلا تَسْأَلُ الْمَرْأَةُ طَلاقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا. (بخاری: ۲۱٤۰)

۱۰۲۰ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې نهي کړې چي يو ښاري سړی د کليوال لپاره پېرل وکړي؛ (داسي چي يو کليوال خپل مال بازار ته يوسي؛ هلته ئې يو ښاري دلال دوکه کړي او ورته ووايي: مال دي له ما سره پرېږده؛ زه به ئې هغه مهال درته وپلورم چي بيه ئې لوړه شوې وي)؛ فرمايلي ئې دي: تناجُش مه کوئ (تناجش په دروغو او د يوه جنس د بيي لوړولو لپاره له اصلي بيي په زياتي د اخستلو وينا کول) او نه دي څوک د خپل ورور پر بيع (سودا)؛ بيع (او داوطلبي) کوي؛ او نه دي د خپل ورور په خِطبه (کوزدې) داوطلبي کوي او نه دي کومه مېرمن د خپلي خورلڼي د طلاق تلوسه په دې موخه کوي چي د هغې د لوښي خواړه د دې په لوښي کي توی شي.

يعني د بل چا د برخي او قسمت تر لاسه کولو هڅه او تلوسه دي نه کوي؛ په خپل نصيب او د بل په نصيب دي قانع وي.

دا روايت په بخاري کي ٥ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۱٤۰ - ۲۱٥۰ - ۲۱٦۰ - ۲۷۲۳ - ٦۰٦٦ ؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کي يو راوي لري چي ابو هريره دئ؛ په تابعينو کي ئې راويان بېل بېل دي؛ امام بخاري له بېلو بېلو راويانو په بېلو بېلو صيغو تر لاسه کړی؛ نو ځکه ئې د الفاظو او محتوی تر منځ توپيرونه ګورو. د ۲۱٤۰ روايت د لومړۍ او دوهمي فقرې تر منځ د ارتباط له پلوه ضعف ليدل کېږي؛ په لومړۍ کي نهی او په دوهمي او نورو کي وَلَا تَنَاجَشُوا او دې ته ورته صيغې راغلې، په ځينو

کې وَلا تَنَاجَشُوا راغلي او په ځينو کې نه؛ په يوه کې نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ په نورو کې نه دي راغلي؛ په يوه کې وَلاَ تَسْأَلُ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا په نورو کې نه شته؛ په يوه کې إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ راغلي؛ او د قرآن له وينا سره مغايرت لري چې وايي: ... اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ ...) الحجرات ۱۲؛ هر ظن ګناه نه ده؛ او هر ظن کذب هم نه دئ؛ قرآن د مؤمنانو په اړه فرمايي: (الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلاقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ) البقرة ٤٦؛ په يوه کې لاَ تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ راغلي په نورو کې نه شته؛ په يوه کې وَلاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ په بل کې لاَ يَبْتَاعُ المَرْءُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ په يوه کې وَلاَ يَزِيدَنَّ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ په يوه کې وَلاَ تُصَرُّوا الغَنَمَ وَمَنِ ابْتَاعَهَا فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا، إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ» په نورو کې نه شته؛ او مطلب ئې دا دئ چې مېږه په دې موخه بې لوشلو مه پرېږدئ چې تې ئې ډك شي او بيا ئې په لوړه بيه وپلورئ. او دې ته ورته توپيرونه.

د ټولو اصلي راوي ابو هريره رضي الله عنه دئ؛ خو له ده وروسته دوه راويان لري چې سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّب او الأَعْرَج دي؛ د توپيرونو وجه هم وروستي راويان دي؛ په بخاري کې دا نه مومو چې په دغو کې تر نورو ارجح، اصح او جامع ئې کوم يو دئ؛ له قرآن سره د يوه روايت د يوې فقرې څرګند تعارض او عدم توافق خو عادي خبره هم نه ده. ستاسو د اطمئنان لپاره؛ روايات هم ستاسو مخې ته ږدم:

۲۱٤۰ - حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلاَ تَسْأَلُ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا»

٢١٥٠ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ، وَلاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تُصَرُّوا الغَنَمَ، وَمَنِ ابْتَاعَهَا فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا، إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ»

٢١٦٠ - حَدَّثَنَا المَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «لاَ يَبْتَاعُ المَرْءُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ»

٢٧٢٣ - حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَزِيدَنَّ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ يَخْطُبَنَّ عَلَى خِطْبَتِهِ، وَلاَ تَسْأَلِ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَكْفِئَ إِنَاءَهَا»

٦٠٦٦ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ، وَلاَ تَحَسَّسُوا، وَلاَ تَجَسَّسُوا، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ تَحَاسَدُوا، وَلاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا»

## ٣٢ باب: د مزايده بيع

١٠٢١ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما: أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ غُلاَمًا لَهُ عَنْ

دُبُرٍ فَاحْتَاجَ، فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي»؟ فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ بِكَذَا وَكَذَا فَدَفَعَهُ إِلَيْهِ. (بخاری: ٢١٤١)

١٠٢١ – له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روایت دئ: یوه سړي خپل غلام د خپل مرگ په شرط آزاد کړ (چي زه مړ شم نو ته آزاد یې)؛ بیا محتاج شو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه غلام ونیو او وئې فرمایل: ((څوک ئې له ما پېري؟)) نو نعیم بن عبدالله په دومره او دومره و پېرو؛ او هغه ته ئې وسپارو.

په دې روایت کې ځیني ابهامات شته چي باید رفع شي؛ د راوي مطلب دا دئ چي یوه سړي خپل غلام ته ویلي وو: زما له مرگ وروسته؛ ته آزاد یې؛ خو دا سړی دې ته اړ شو چي دا غلام تر مرگ وړاندي وپلوري؛ قضیه تر رسول الله صلی الله علیه و سلم رسېدلې؛ هغه دا غلام د پلورلو لپاره اخستونکو ته وړاندي کړ؛ داسي چي څوك ئې تر نورو په لوړي بیي پېري؛ دې ته په تجارت او پېر پلور کې (مزایده) ویل کېږي؛ نُعَیم بن عبدالله تر نورو په لوړي بیعي اخستلو ته چمتو شو او رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه ته وسپارو. د روایت له الفاظو دا مطلب په واضح توگه نه شي تر لاسه کېدی.

دا روایت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٤١ - ٢٤٠٣ - ٦٧١٦ – ٦٩٤٧؛ لومړی راوي ئې جابر بن عبد الله دئ؛ خو په دوهمه طبقه کې ئې راویان دا دي: عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ او عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ؛ تر منځ ئې دوه صریح توپیرونه گورو: په دوو کې ویل شوي چي دا غلام نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّه وپېرو خو په دوو نورو کې ویل شوي چي نُعَيْمُ بْنُ النَّحَّامِ وپېرو؛ عمدة القاري وایي: دا اشتباه ده؛ سمه وینا دا ده چي نُعَیم بن عبد الله پېرلی؛ النحام د عبد الله صفت دئ نه د پلار ئې؛ دوهمه اشتباه دا بولي چي غلام یو کال وروسته وفات شو؛ حال دا چي د غلام مالك وفات شوی نه غلام.

لومړۍ ملاحظه ئې دقیقه ده؛ ځکه نعیم په دې نامه مشهور شوی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د ده په اړه فرمایلي چي جنت ته داخل شوم او د نعیم د ستوني صافولو غږ مي واورېدو؛ ویل کېږي دی لسم صحابي دئ چي ایمان ئې راوړی؛ خو دوهمه ملاحظه ئې نه یوازي سمه نه ده بلکي ستونزه لري؛ که مالك مړ شوی وي نو د ده د ژمني له مخي غلام آزاد وو او چا ئې د پلورلو او پېرلو حق نه درلود؛ څنګه ومنو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به هغه پېرلی یا پلورلی وي؟!

د روایت مقصد دا دئ چي په پېر پلور کي مزایده جائزه ده؛ خو دا باید ویل شوي وی؛ په دې شرط چي دوکه په منځ کي نه وي؛ داسي چي پلورونکی خپل خلك وګماري او هغوی د نورو د غولولو لپاره په لوړي بیي د پېرلو دروغجنه وینا کوي؛ په روایت کي دا شرط نه دئ راغلی.

## ۳۳ باب: د غرر او حَبَلِ الحَبَلَة بیع (د جنس نه شتون کي او د حیوان نه زېږېدلي بچي بیع)

۱۰۲۲ ـ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الحَبَلَةِ»، وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الجَاهِلِيَّةِ، كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الجَزُورَ إِلَى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ، ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا (بخاری: ۲۱٤۳)

۱۰۲۲ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د حَبَلِ الحَبَلَة له بیعي نهي کړې؛ او دا هغه سودا او معامله وه چي د جاهلیت زمانې خلکو به تر سره کوله؛ داسي چي یوه سړي به د اوښي (یا بل حیوان) بچی (یا د بچي بچی) تر زېږېدو وړاندي اخستلو.

په پېر پلور کي د مجهول او غیر موجود جنس معامله جائزه نه ده؛ لاس په لاس معامله او د طرفینو رضایت شرط دئ؛ بایع په مبلغ او

پېرونکی په جنس راضي شي؛ اما د داسي معاملې چي د حیوان مجهول او نه زېږېدلی بچی وپېرل شي؛ او مبلغ په سر کي یا له زېږېدو وروسته ورکړی شي؛ ممانعت شوی.

## ۳٤ باب: د خرڅلاو په خاطر د څارويو په غولانځه کي شيدې جمع کول جواز نه لري

۱۰۲۳ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالْغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدُ، فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا، إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعَ تَمْرٍ». (بخاری: ۲۱٤۸)

۱۰۲۳ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((اوښه او مېږه له لوشلو مه تم کوئ؛ او چا چي وپېرلې؛ له لوشلو وروسته له دوو رأیو ښه ئې غوره کولی شي: که ئې غوښتل وئې ساتي او که ئې غوښتل مسترد ئې کړي له يوې پيمانې خرما سره.

د خرڅلاو په موخه د اوښي او مېږي په غولانځه کي شيدې مه ټولوئ، که څوک وغولول شو او داسي مېږه يا اوښه ئې واخیستله چي شيدې ئې په غولانځه کي غونډې شوې وې (څه موده نه وه لوشل شوې)؛ هغه له لوشلو وروسته اختیار لري؛ که ئې خوښه وه ساتلی ئې شي او که ئې خوښه وه (د لوشل شويو شيدو په بدل کي) له یوه صاع خرما سره دې بېرته مسترده کړي.

۱۰۲۳ – عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ اشْتَرَى غَنَمًا مُصَرَّاةً، فَاحْتَلَبَهَا، فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا فَفِي حَلْبَتِهَا صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ» بخاری ۲۱۵۱

۱۰۲۳ - له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چا چي هغه مېږه وپېرله چي په غولانځه

کې ئې شيدې ټولې شوې وي؛ له لوشلو وروسته اختيار لري چې ساتي ئې او كه ئې مستردوي؛ خو د مستردولو په صورت کې به د شيدو په بدله کې يوه پيمانه خرما ورکوي.

بايد متوجه وو چې دا نبوي لارښووني؛ د ورته مواردو لپاره د ملاك او معيار حيثيت لري؛ کولی شو مشابه موارد پرې قياس کړو؛ د مثال په توګه يوه برقي وسيله مو په دې شرط وپېرله چې دا کارونه کولی شي؛ خو کور ته له وړلو وروسته مو وآزمويله چې دا کارونه نه شي کولی؛ نو د دې روايت له مخې حق لرو بېرته ئې پلورنکي ته مسترد کړو.

## ۳۵ باب: د زنا کار غلام خرڅول

۱۰۲٤ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا زَنَتِ الأَمَةُ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا وَلا يُثَرِّبْ، ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا وَلا يُثَرِّبْ، ثُمَّ إِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعَرٍ». (بخاری: ۲۱۵۲)

۱۰۲٤ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((كه وينځې زنا وكړه او زنا ئې ثابته شوه؛ نو مالک دې هغه په دورو ووهي؛ (حد دې پرې جاري کړي)؛ او ملامتول او سپكول دې نه كوي؛ بيا كه ئې زنا وكړه او زنا ئې ثابته شوه؛ نو مالک دې په دورو وهلو سره حد پرې جاري كړي؛ او ملامتول او سپكول دې نه كوي؛ او كه ئې درېيم ځل زنا وكړه؛ نو بيا دې وپلوري كه څه هم د وړيو په يوې رسۍ وي))

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۱۵۲ - ٦٨٣٩؛ متن او راويان ئې سره ورته دي؛ تبيين ئې يا شاهدان دي، يا اقرار يا حمل.

## ٣٦ باب: آيا ښاري د کليوال مال پلورلی شي؟

١٠٢٥ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ وَلا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ» قَالَ الراوى لابْنِ عَبَّاسٍ: مَـا قَوْلُهُ: «لا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ» قَالَ: لا يَكُونُ لَهُ سِمْسَارًا. (بخارى: ٢١٥٨)

١٠٢٥ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((د کاروانيانو مخي ته مه ورځئ؛ (ښار ته تر رسېدو وړاندي)؛ او د ښار اوسيدونکی دي د کليوال مال نه ورته پلوري))؛ راوي ابن عباس رضي الله عنه ته وويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا قول چي فرمايي: ((ښاري دي د کليوال مال نه ورته پلوري)) څه معنى لري؟ وئې ويل: د هغه لپاره دي دلال نه شي.

دا دلالي په هغه صورت کي ممنوع ده چي څوك له دې ځان ته حرفه جوړه او له کليوالو ګټه تر لاسه کړي؛ ښاري د کليوال له سادګي او ناپوهي د غلطي استفادې اراده ولري؛ اما که په ښه نيت او هغه ته د ګټي رسولو په موخه ئې کوي مانع نه لري.

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٥٠ - ٢١٥٨ - يو همدا دئ او بل مو مخکي تشريح کړی.

## ٣٧ باب: د تجارتي کاروانونو مخي ته نه ورتګ

١٠٢٦ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَبِيعُ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلا تَلَقَّوُا السِّلَعَ حَتَّى يُهْبَطَ بِهَا إِلَى السُّوقِ». (بخارى: ٢١٦٥)

١٠٢٦ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((يو د بل پر بيعي سودا مه کوئ او تر هغه د خرڅلاو متاع مه پيرئ چي بازار ته ورسېږي)).

دا موضوع مخکې څېړل شوې ده.

## ٣٨ باب: ممیز په ممیز او خواږه په خوړو پلورل

١٠٢٧ ـ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ المُزَابَنَةِ، وَالمُزَابَنَةُ: بَيْعُ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا، وَبَيْعُ الزَّبِيبِ بِالكَرْمِ كَيْلًا ". (بخارى: ٢١٧١)

١٠٢٧ – له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له مُزَابَنه بیعي نهي کړې؛ او مزابنه دې ته ویل کېږي چي وچه خرما د تازه خرما په بدل کي په پیمانه وپلورل شي او یا ممیز په انګورو په پیمانه خرڅ شي.

مزابنه داسي وي چي مېوه په وني کي د تخمیني وزن په توګه وپلورل شي او له دې شرط سره چي که مقدار زیات شو زما به وي او که کم شو پوره کول به ئې زما پر غاړه وي.

دا روایت په بخاري کي ٥ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢١٧١ - ٢١٧٢ - ٢١٨٥ - ٢١٨٦ - ٢٣٨٣ – له ځینو توپیرونو سره؛ په یوه کي وَالمُزَابَنَةُ: بَيْعُ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا، وَبَيْعُ الزَّبِيبِ بِالكَرْمِ كَيْلًا " په بل کي وَالمُزَابَنَةُ: أَنْ يَبِيعَ الثَّمَرَ بِكَيْلٍ: إِنْ زَادَ فَلِي، وَإِنْ نَقَصَ فَعَلَيَّ په بل کي وَالمُزَابَنَةُ: اشْتِرَاءُ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا، وَبَيْعُ الكَرْمِ بِالزَّبِيبِ كَيْلًا؛ په بل کي وَالمُزَابَنَةُ اشْتِرَاءُ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ فِي رُءُوسِ النَّخْلِ» په بل کي المُزَابَنَةِ بَيْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ؛ خو د دې رخصت ورکړی شوی چي محتاج کس؛ په وني کي پخېدو ته نژدې شوې خرما او مېوه له وچي سره تبادله کړي.

## ٣٩ باب: وربشي په وربشو پلورل

١٠٢٨ ـ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ الْتَمَسَ صَرْفًا بِمِائَةِ دِينَارٍ، فَدَعَانِي طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِاللَّهِ فَتَرَاوَضْنَا حَتَّى اصْطَرَفَ مِنِّي فَأَخَذَ الذَّهَبَ

يُقَلِّبُهَا فِي يَدِهِ ثُمَّ قَالَ: حَتَّى يَأْتِيَ خَازِنِي مِنَ الْغَابَةِ وَعُمَرُ يَسْمَعُ ذَلِكَ فَقَالَ: وَاللَّهِ لا تُفَارِقُهُ حَتَّى تَأْخُذَ مِنْهُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ» وذكر باقى الحديث وقد تقدم. (بخارى: ٢١٧٤)

١٠٢٨ - له مالک بن اوس رضي الله عنه روايت دئ چي اړ شو سل ديناره په دراهمو بدل کړي؛ (وايي): نو طلحه بن عبيد الله وروغوښتلم او دواړه په دې راضي شوو؛ چي له ما ئې واخلي؛ دينارونه ئې واخستل او په خپل لاس کي ئې اړول؛ بيا ئې وويل: انتظار وکړه چي زما خازن له ځنگله راشي؛ عمر رضي الله عنه دا خبري اورېدلې؛ وئې ويل: قسم په الله چي تر هغه به نه ترې بېلېږي چي نه دي وي ترې اخستلي؛ ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((طلا په طلا سود دئ؛ مگر دا چي برابر او لاس په لاس وي)) او پاته حديث ئې بيان کړ چي مخکي تېر شوی.

## ٤٠ باب: سره زر په سرو زرو پلورل

١٠٢٩ - عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ وَالْفِضَّةَ بِالْفِضَّةِ إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ وَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ وَالْفِضَّةَ بِالذَّهَبِ كَيْفَ شِئْتُمْ». (بخارى: ٢١٧٥)

١٠٢٩ - له ابو بکره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((سره زر په سرو زرو مه خرڅوئ مگر برابر برابر؛ سپين زر په سپينو زرو مه خرڅوئ مگر برابر برابر؛ او سره زر په سپينو زرو او سپين زر په سرو زرو؛ په هر ډول چي ستاسو خوښه وي خرڅولئ شئ)).

## ٤١ باب: سپین زر په سپینو زرو پلورل

١٠٣٠ ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلاً بِمِثْلٍ، وَلا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، وَلا تَبِيعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلاً بِمِثْلٍ، وَلا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، وَلا تَبِيعُوا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ». (بخارى: ٢١٧٧)

١٠٣٠ - له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((سره زر په سرو زرو مه خرڅوئ مگر دا چي برابر وي؛ يو په بل مه زياتوئ؛ او سپين زر په سپينو زرو مه خرڅوئ مگر دا چي برابر وي؛ او يو په بل مه زياتوئ؛ يو په نقد او بل په نسيه مه خرڅوئ))

د دې وضاحت په مخکينيو رواياتو کې شوی.

## ٤٢ باب: دينار په دينار په قرض خرڅول

١٠٣١ ـ عَنْ أَبَى سَعِيدٍ الْخُدْرِىَّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: الدِّينَارُ بِالدِّينَارِ وَالدِّرْهَمُ بِالدِّرْهَمِ، فَقِيلَ لَهُ: فَإِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ لا يَقُولُهُ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: سَأَلْتُهُ؟ فَقُلْتُ: سَمِعْتَهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ وَجَدْتَهُ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟ قَالَ: كُلَّ ذَلِكَ لا أَقُولُ وَأَنْتُمْ أَعْلَمُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِّي وَلَكِنَّنِي أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا رِبًا إِلَّا فِي النَّسِيئَةِ». (بخارى: ٢١٧٨ ـ ٢١٧٩)

١٠٣١ - له ابو سعيد رضي الله عنه روايت دئ چي ويل ئې: دينار په دينار او درهم په درهم به وي؛ ورته وويل شول: ابن عباس دا خبره نه کوي؛ نو ابو سعيد وويل: ترې ومي پوښتل او ومي ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم دي اورېدلي او که د الله کتاب کې دي موندلي؟

وئې ويل: له دې دواړو يوه خبره هم نه کوم؛ او تاسو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه تر ما ښه پوهېږئ؛ خو اسامه دا خبره راته کړې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((سود يوازي په قرض کي وي))

لکه چي ګورئ دلته د ابو سعيد خدري او ابن عباس رضي الله عنهما تر منځ د رأى اختلاف ليدل کېږي؛ يو ئې د دينار په دينار او درهم په درهم داسي تبادله ناجائز ګڼي چي له تفاضل او زياتوالي سره وي؛ اما بل ئې يوازي په نسيه کي ناجائز ګڼي؛ که څه هم ويل شوي چي ابن عباس رضي الله عنه له خپلي رأيي تېر شوی؛ خو دا وضاحت ايجابوي:

سره زر د کيفيت له پلوه يو له بل ډول ډېر توپير لري؛ هم ئې په قيمت کي او هم جنسيت کي؛ برابر ئې پلورل او تبادله؛ نه عادلانه ده او نه عملي؛ نور اجناس او خوراکي توکي هم دې ته ورته دي؛ هيڅوك چمتو نه دئ چي ښه خرما، ښه غنم، ښې وريځي په ادنی بدل کړي؛ نو څه به کوو؟ او دا هم د واقعيت خلاف ده چي څوك به له هره پلوه برابر او ورته جنس په بل بدلوي؛ ولي به دا کار کوي؛ او ګټه ئې څه ده؟ واضح ده چي يا به يو جنس په بل جنس بدلوي؛ سره زر په سپينو زرو؛ وربشي په غنمو؛ او يا به ادنی جنس په اعلی بدلوي؛ عادلانه او مناسبه معامله دا ده چي يو جنس د بازار په بيه لاس په لاس وپلورل شي او بل جنس وپېرل شي.

د ستونزي حل دا دئ چي يا خو به سَوَاءً بِسَوَاءٍ او مِثْلاً بِمِثْلٍ؛ يوازي په وزن کي محدود ونه ګڼو؛ بلکي جنسيت او کيفيت به ئې هم په کي شامل ګڼو او يا دا چي يو به د بازار په نرخ لاس په لاس پلورل کېږي او بل به پېرل کېږي.

## ٤٣ باب: سپين زر په سرو زرو په قرض پلورل

۱۰۳۲ ـ عن الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ وَزَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ رضى الله عنهما أَنَّهُمَا سُئِلا عَنِ

الصَّرْفِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَقُولُ: هَذَا خَيْرٌ مِنِّي، فَكِلاهُمَا يَقُولُ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالْوَرِقِ دَيْنًا. (بخارى: ٢١٨١)

١٠٣٢ -له براء بن عازب او زيد بن ارقم رضي الله عنهما روايت دئ چي دواړه د اسعارو د تبادلې په اړه وپوښتل شول؛ نو هر يوه به ويل: دی تر ما غوره دئ؛ او دواړو ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې نهي کړې چي په قرض سره په سپينو زرو؛ سره زر وپېرل شي.

## ٤٤ باب: د مزابنه بيع

١٠٣٣ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا تَبِيعُوا الثَّمَرَ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاحُهُ وَلا تَبِيعُوا الثَّمَرَ بِالتَّمْرِ». و عن زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ بَعْدَ ذَلِكَ فِي بَيْعِ الْعَرِيَّةِ بِالرُّطَبِ أَوْ بِالتَّمْرِ، وَلَمْ يُرَخِّصْ فِي غَيْرِهِ. (بخارى: ٢١٨٣ ـ ٢١٨٤)

١٠٣٣ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((مېوه تر هغه مه خرڅوئ چي پخه شوې نه وي؛ او په ونې کي خرما (تازه) په وچه خرما مه پلورئ))؛ او له زيد بن ثابت رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وروسته په تازه او وچي خرما کې د (بَيْعِ الْعَرِيَّةِ) اجازه ورکړه؛ خو له دې پرته ئې په نورو کې اجازه نه ده ورکړې.

(بيع عَرِيَّه) دې ته ويل کېږي چي د کومي ونې مېوه؛ کوم فقير ته په صدقه کې يا چا ته د خوراک لپاره ورکړل شي؛ خو د دې لپاره چي هغه تل اړ نه شي د مېوې خوړلو او ټولولو په موخه هلته ولاړ شي؛ نو د ونې خاوند کولی شي د ونې تازه مېوه ترې وپېري او په عوض کې ئې وچه مېوه پرې وپلوري.

## ٤٥ باب: مېوه په ونو کي په سرو او سپينو زرو خرڅول

١٠٣٤ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَطِيبَ وَلا يُبَاعُ شَيْءٌ مِنْهُ إِلَّا بِالدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ إِلَّا الْعَرَايَا. (بخارى: ٢١٨٩)

١٠٣٤ - له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له پخوالي مخکي د مېوې له خرڅولو نهي کړې او هيڅ ډول مېوه بايد له دينار او درهم پرته په بل څه خرڅه نه شي؛ مگر (عرايا) چي په وچي او يا لمدې مېوې ئې هم خرڅول روا دي.

١٠٣٥ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ أَوْ دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ. (بخارى: ٢١٩٠)

١٠٣٥ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د (عرايا) د خرڅولو اجازه ورکړې ده؛ خو په دې شرط چي دغه مېوه پنځه وسقه او يا ترې لږ وي.

يادونه: يو وسق شپېته صاع دئ.

## ٤٦ باب: مېوه تر پخېدو مخکي پلورل

١٠٣٦ ـ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّاسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَايَعُونَ الثِّمَارَ فَإِذَا جَذَّ النَّاسُ وَحَضَرَ تَقَاضِيهِمْ، قَالَ: الْمُبْتَاعُ إِنَّهُ أَصَابَ الثَّمَرَ الدُّمَانُ، أَصَابَهُ مُرَاضٌ أَصَابَهُ قُشَامٌ، عَاهَاتٌ يَحْتَجُّونَ بِهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا كَثُرَتْ عِنْدَهُ الْخُصُومَةُ فِي ذَلِكَ: «فَإِمَّا لا فَلا تَتَبَايَعُوا حَتَّى يَبْدُوَ صَلاحُ الثَّمَرِ» كَالْمَشُورَةِ يُشِيرُ بِهَا لِكَثْرَةِ خُصُومَتِهِمْ. (بخارى: ٢١٩٣)

١٠٣٦ - له زيد بن ثابت رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: خلکو به

د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي مېوې (تر پخېدو مخکي) پلورلې؛ نو کله به چي اخستونکي د مېوې د راټولولو او خرڅوونکي به د بيي غوښتنه وکړه؛ نو اخستونکي به ويل: په مېوه خو د (الدُّمَانُ) مرض لګېدلی (څانګه به خرابه او متعفنه شوه)؛ مُرَاضٌ (ډول ډول مرضونه) پرې لګېدلي؛ قُشَامٌ پرې لګېدلی؛ داسي چي نه پرېږدي پخه شي؛ او آفتونو وهلې دي؛ کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا ډول ډېري دعواء ګاني وړاندي شوې؛ نو د دعوو ډېروالي ته په پام سره ئې د مشورې په دود ورته وفرمايل: ((که دا دعواوي نه پرېږدئ؛ نو مېوې تر هغه مه خرڅوئ چي پخې شوې نه وي)).

دلته بايد لږ توقف وکړو؛ دا خبره بايد وڅېړو چي د مشورې په توګه دوی ته ويلې: ((که دا دعواوي نه پرېږدئ؛ نو مېوې تر هغه مه خرڅوئ چي پخې شوې نه وي))؛ دا د امام بخاري رحمه الله د اسلوب او د يوې تکفيري ډلي د مذهب او مسلك خلاف خبره ده؛ هغه چي وايي د رسول الله صلى الله عليه و سلم هره خبره وحي ده؛ خو دلته په دې روايت کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د يوې موضوع په ارتباط دوه خبري منسوب شوې: يوه ئې د امر په بڼې کي او بله ئې د مشورې په بڼه کي؛ يوه د بلې منافي؛ يوه امر او بله مشوره او رخصت؛ يعني چي دوی يوه خبره وحي ګڼي او بله د رسول الله صلى الله عليه و سلم شخصي مشوره!! او دا د دوی د مسلك او مذهب منافي او مغاير خبره ده؛ دوی د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژوند کي هيڅ خبره د ده شخصي وينا نه ګڼي!! او دا هم د قرآن خلاف ادعاء ده او هم د واقعيتونو خلاف ادعاء. رسول الله صلى الله عليه و سلم د احد او خندق په جګړو کي له خپلي رأی تېر شوی او د نورو رأی ئې منلې؛ د ورځني ژوند ډېري خبري او کارونه ئې د خپلي رأی مطابق وو؛ لکه دا چي څه وخوري، کله ئې وخوري، څه واغوندي، له چا سره وګوري او څه ورته ووايي، چېري ولاړ شي او کله ولاړ شي...

١٠٣٧ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُبَاعَ الثَّمَرَةُ حَتَّى تُشَقِّحَ، فَقِيلَ: وَمَا تُشَقِّحُ؟ قَالَ: تَحْمَارُّ وَتَصْفَارُّ وَيُؤْكَلُ مِنْهَا. (بخارى: ٢١٩٦)

١٠٣٧ - له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم تر رسېدو (پخېدو) وړاندي د مېوې له خرڅولو نهي کړې ده؛ پوښتنه ترې وشوه د مېوې رسېدل يعني څه؟ وئې ويل: کله چي سره شي يا زيړه او د خوړو وړ وګرځي.

## ٤٧ باب: که مېوه له رسېدو مخکي وپلورل شوه

١٠٣٨ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و نهى عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى تُزْهِىَ فَقِيلَ لَهُ: وَمَا تُزْهِى؟ قَالَ: حَتَّى تَحْمَرَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرَأَيْتَ إِذَا مَنَعَ اللَّهُ الثَّمَرَةَ بِمَ يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ»؟.(بخارى: ٢١٩٩)

١٠٣٨ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د مېوو له رسېدو مخکي د هغوی له پلورلو نهي کړې ده. ورته وويل شول: او دا رسېدل ئې څه دي؟ وئې ويل: کله چي سره شي. بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((آيا پام دي کړی؛ که الله تعالى د مېوې راټوکېدو مخنيوی وکړي؛ نو پلورونکی به د څه په بدل کي د خپل ورور مال او پيسې اخلي؟)).

## ٤٨ باب: که څوک وغواړي خرما په غوره خرما وپلوري

١٠٣٩ ـ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَعَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلاً عَلَى خَيْبَرَ، فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيبٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هَكَذَا؟» قَالَ: لا وَاللَّهِ

يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هَذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ بِالثَّلاثَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا تَفْعَلْ، بِعِ الجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا». (بخارى: ٢٢٠٢)

١٠٣٩ - له ابو سعيد خدري او ابو هريره رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يو سړى د خيبر په اړه وگمارلو؛ نو هغه غوره خرما ورته راوړه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((آيا د خيبر ټولى كجوري همداسي دي؟)) وئې ويل: نه؛ يا رسول الله! قسم په الله چي موږ د دې خرما يوه پيمانه په دوو پيمانو؛ او دوه ئې په دريو پيمانو اخلو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((دا مه كوه؛ هغه ادنى او گډه خرما په دراهمو وپلوره بيا په دغو سكو غوره خرما وپيره.

دا روايت په بخاري كي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ٢٢٠١ - ٤٢٤٤ - په څلورو طبقو كي ئې راويان سره ورته دي؛ په پنځمي طبقې كي بېل بېل دي؛ او له همدې كبله په رواياتو كي دا توپير مومو: په يوه كي إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هَذَا بِالصَّاعَيْنِ، وَالصَّاعَيْنِ بِالثَّلاَثَةِ، او په بل كي إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هَذَا بِالصَّاعَيْنِ، بِالثَّلاَثَةِ، راغلي؛ يو وايي: يوه پيمانه په دوو او دوه په دريو؛ او بل وايي: يوه په دوو په دريو؛ دواړو كي ستونزي دي: كه يوه په دوه وي نو دوه به په څلورو وي نه په دريو؛ يوه په دوه او دريو هم ستونزه لري؛ وضاحت ئې نه دئ شوى.

صحيح مسلم كي د بخاري ٢٢٠١ روايت راغلى خو بل ئې نه دئ راوړل شوى؛ د دواړو راويان سره ورته دي او دا ښيي چي امام مسلم د بخاري د پنځمي طبقې له راوي او د هغه له روايت سره توافق نه دئ كړى.

## ٤٩ باب: د خامي مېوې خرڅول

١٠٤٠ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُخَاضَرَةِ وَالْمُلامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ وَالْمُزَابَنَةِ. (بخاری: ٢٢٠٧)

١٠٤٠ – له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلی الله علیه و سلم له څو ډوله پېر پلور نهي کړې: الْمُحَاقَلَةِ (غله په وږيو کي پېرل؛ او د صافي غلې په بدله کي ئې په پيمانه ترلاسه کول) وَالْمُخَاضَرَةِ (تر پخېدو وړاندي د خامي مېوې او دانې اخيستل) وَالْمُلامَسَةِ (متاع پر مشتري يوازي لمسولو سره او په جنسيت ئې له پوهېدو پرته پلورل؛ لکه د ټوټې تان په نيمه رڼا کي او يوازي لمسولو سره پلورل) وَالْمُنَابَذَةِ (دا چي مشتري پلورونکي ته ووايي: څه چي دي زما لوري ته راواچولو همغه په دې قيمت زما شو) وَالْمُزَابَنَةِ (په تخمين سره؛ په وني کي مېوه تر ټولولو وړاندي؛ پر زمکي پرتې خرما سره پېرل؛ او انگور په تاك کي په مميزو پېرل).

## ٥٠ باب: په پېر او پلور کي د خلکو عادات

١٠٤١ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: قَالَتْ هِنْدٌ أُمُّ مُعَاوِيَةَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ، فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ آخُذَ مِنْ مَالِهِ سِرًّا؟ قَالَ: «خُذِى أَنْتِ وَبَنُوكِ مَا يَكْفِيكِ بِالْمَعْرُوفِ». (بخاری: ٢٢١١)

١٠٤١ – له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي د معاويه رضي الله عنه مور هند؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وويل: ابو سفيان بخيل او حريص سړی دئ؛ آيا په دې کي به زما لپاره کومه گناه وي چي په پټه څه واخلم؟ وئې فرمايل: ((ته او اولادونه دي دومره په معروفه توگه (د معمول او رواج مطابق) واخلئ چي درته کفايت کوي))

دا روايت په بخاري کې ٤ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۱۱ - ٥٣٦٤ - ٥٣٧٠ - ٧١٨٠ – له دغو توپيرونو سره: په يوه کې فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ آخُذَ مِنْ مَالِهِ سِرًّا په بل کې وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي، إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لاَ يَعْلَمُ، په بل کې فَأَحْتَاجُ أَنْ آخُذَ مِنْ مَالِهِ راغلي.

دا روايت غريب دئ؛ په څلور طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: سُفْيَانُ، هِشَامِ، پلار ئې عُرْوَةَ، او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

## ٥١ باب: له شريک سره سودا

١٠٤٢ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ فِى كُلِّ مَالٍ لَمْ يُقْسَمْ، فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلا شُفْعَةَ.

(بخارى: ٢٢١٣)

١٠٤٢ – له جابر رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په هر هغه مال کې چې ويشل شوی نه وي؛ شفعه لازم گرځولې ده؛ خو که حدود وټاکل شي او د مالکانو لاري سره جلا شي؛ بيا شفعه نه شته.

يعني په هغې زمکې يا تعمير کې چې څو تنه شريکان دي او تر منځ ئې وېش نه دئ شوی؛ د شُفعې حق ټاکل شوی؛ خو که وېش تر سره شي؛ د هر چا برخه وټاکل شي او پولې څرگندې شي؛ بيا د شفعې حق نه شته؛ شفعه د شريکانو تر منځ مشترکې برخې ته ويل کېږي؛ د فقهاءو تر منځ په دې اړه بېلې بېلې رأيي دي؛ د احنافو ائمه او فقهاء أَبُو حنيفَة، أَبُو يُوسُف او مُحَمّد رحمهم الله؛ د هغو فقهاءو له جملې دي چې وايي: د شفعې حق په زمکې، حويلۍ، او دې ته ورته شيانو کې هغه شريك ته حاصل دئ چې په وېش کې ئې برخه نه ده ټاکل شوې؛ بيا د هغه شريك لپاره چې برخه ئې ټاکل شوې؛ په لار او اوبو کې ئې حق په خپل حال پاته کېږي؛ او تر دوی وروسته د هغه گاونډ لپاره چې کور ئې د بل کور له پاسه وي؛ او دروازه ئې په بل لوري.

تجب الشُّفْعَة فِي الْأَرَاضِي والرباع والحوائط للشَّرِيك الَّذِى لم يقاسم ثمَّ للشَّرِيك الَّذِى قَاسم وَقد بَقِي حق طَرِيقه أَو شربه، ثمَّ من بعدهمَا للْجَار الملازق وَهُوَ الَّذِى دَاره على ظهر الدَّار المشفوعة، وبابه فِي سكَّة أُخْرَى،

## ٥٢ باب: له حربي كافر د غلام پېرل

١٠٤٣ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَاجَرَ إِبْرَاهِيمُ عليه السلام بِسَارَةَ فَدَخَلَ بِهَا قَرْيَةً فِيهَا مَلِكٌ مِنَ الْمُلُوكِ أَوْ جَبَّارٌ مِنَ الْجَبَابِرَةِ، فَقِيلَ: دَخَلَ إِبْرَاهِيمُ بِامْرَأَةٍ هِيَ مِنْ أَحْسَنِ النِّسَاءِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ مَنْ هَذِهِ الَّتِي مَعَكَ قَالَ: أُخْتِي، ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهَا فَقَالَ: لا تُكَذِّبِي حَدِيثِي فَإِنِّي أَخْبَرْتُهُمْ أَنَّكِ أُخْتِي، وَاللَّهِ إِنْ عَلَى الأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرُكِ، فَأَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ، فَقَامَ إِلَيْهَا فَقَامَتْ تَوَضَّأُ وَتُصَلِّي، فَقَالَتِ: اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ آمَنْتُ بِكَ وَبِرَسُولِكَ وَأَحْصَنْتُ فَرْجِي إِلَّا عَلَى زَوْجِي فَلا تُسَلِّطْ عَلَيَّ الْكَافِرَ، فَغُطَّ حَتَّى رَكَضَ بِرِجْلِهِ ـ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: قَالَتِ: اللَّهُمَّ إِنْ يَمُتْ يُقَالُ هِيَ قَتَلَتْهُ ـ فَأُرْسِلَ ثُمَّ قَامَ إِلَيْهَا، فَقَامَتْ تَوَضَّأُ تُصَلِّي وَتَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ آمَنْتُ بِكَ وَبِرَسُولِكَ وَأَحْصَنْتُ فَرْجِي إِلَّا عَلَى زَوْجِي فَلا تُسَلِّطْ عَلَيَّ هَذَا الْكَافِرَ، فَغُطَّ حَتَّى رَكَضَ بِرِجْلِهِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَقَالَتِ: اللَّهُمَّ إِنْ يَمُتْ فَيُقَالُ: هِيَ قَتَلَتْهُ فَأُرْسِلَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الثَّالِثَةِ فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا أَرْسَلْتُمْ إِلَيَّ إِلَّا شَيْطَانًا ارْجِعُوهَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَأَعْطُوهَا آجَرَ فَرَجَعَتْ إِلَى إِبْرَاهِيمَ عليه السلام فَقَالَتْ أَشَعَرْتَ أَنَّ اللَّهَ كَبَتَ الْكَافِرَ وَأَخْدَمَ وَلِيدَةً».

(بخارى: ٢٢١٧)

١٠٤٣ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: ((ابراهيم (عليه السلام) له خپلي مېرمني ساره رضي الله عنها سره هجرت وکړ، داسي يوې سيمي ته ورسېدل چي له پاچايانو يو پاچا يا له جابرانو يو جابر په کي وو؛ وويل شول: ابراهيم له داسي مېرمني سره راغلی چي تر ټولو مېرمنو ښايسته ده؛ پاچا څوك ورولېږو چي وپوښتي: اې ابراهيم! دا مېرمن چي له تا سره ده څوك ده؟ وئې ويل: خور مي ده؛ بيا خپلي مېرمني ته ستون شو او وئې ويل: زما وينا مه تکذيبوه؛ ما ورته ويلي چي ته مي خور يې؛ په الله قسم چي په نړۍ کي له ما او تا پرته بل مؤمن نه شته؛ دا ئې هغه ته ورولېږله؛ هغه د دې لوري ته پاڅېد؛ او ساره د اوداسه او لمانځه لپاره پاڅېده؛ او وئې ويل: الهي! که مي پر تا او ستا پر پيغمبر ايمان راوړی وي او له بد لمنې او له خپل مېړه پرته له بل مي خپل عفت ساتلی وي؛ نو دا کافر مه راباندي مسلط کوه؛ نو سا ئې په بندېدو شوه؛ پښه ئې پر زمکي وهله؛ أَبُو هُرَيْرَةَ وايي: ساره وويل: الهي! که دا ومري نو دا به ويل کېږي چي دې مېرمني ووژلو؛ دا کار دوه درې ځله تکرار شو؛ نو پاچا وويل: والله چي ما ته مو فقط يو شيطان رالېږلی؛ ابراهيم ته ئې ستنه کړئ؛ او آجر (هاجر) ئې ورکړه؛ نو ابراهيم عليه السلام ته ستنه شوه؛ او وئې ويل: آيا پوه شوې چي دا کافر نسکور شو او يوه وړه وينځه ئې د خدمت لپاره راکړه)).

دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٢١٧ - ٦٩٥٠؛ غريب دئ او په دريو طبقو کي يو يو راوي لري؛ راويان ئې دا دي: أَبُو الْيَمَانِ، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَادِ، الأَعْرَجِ او أَبِو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ ځيني برخي ئې له بخاري پرته په نورو کتابونو کي نه شته.

روايت تر دې باب لاندي راوړل شوی: له حربي کافر د غلام پېرل؛ خو په روايت کي د غلام پېرل نه شته. امام مسلم تر دې باب لاندي راوړی: د إبراهيم خليل عليه السلام فضائل؛ د مسلم باب غوره دئ.

د دې روايت په وړاندي بايد لږ توقف وکړو؛ چي وګورو آيا په رښتيا

دا پېښه رامنځته شوې؟ آيا الله تعالى خپل خليل ابراهيم عليه السلام او مېرمن ئې ساره رضي الله عنها په داسي سختي آزمويني آزمويلي؟ آيا په قرآن کي کوم شاهد لري؟ او که رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې قصې په ارتباط د اهل کتاب خبره کوله او راوي داسي ګڼلې چي دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم خپله وينا ده؟؛ همغسي لکه چي په مخکيني بحث کي مو وليدل: يوه راوي ادعاء کړې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: سپيره توب نه شته مګر په دريو کي: مېرمن، کور او آس کي؛ کله چي عائشې رضي الله عنها ته دا خبره ورسېده؛ سخته په غصه شوه او وئې ويل: په الله قسم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي نه دي ويلي؛ بلکي ويلي ئې دي چي د جاهليت زمانه کي به خلکو ويل: سپيره توب په دريو کي دي: مېرمن، کور او آس.

له ما سره همدا اندېښنه هغه مهال راپيدا شوه چي د بايبل د تحقيق په دوران کي مي وليدل چي دا قصه په ډېر تفصيل او تکرار سره په بايبل کي راغلې؛ تفصيلات به ئې وروسته ستاسو مخي ته کښېږدم؛ لومړی بايد وګورو چي په قرآن او رواياتو کي په دې ارتباط څه راغلي.

په بخاري کي دا روايت هم لرو چي وايي: ابراهيم عليه السلام له دريو درواغو پرته هيڅ درواغ نه دي ويلي؛ يو ئې دا وو چي ساره ئې خپله خور ګڼلې!! او دا هغه څه دي چي په بايبل کي راغلي؛ نه په قرآن کي؛ روايت داسي دئ:

٣٣٥٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: " لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَّا ثَلاَثَ كَذَبَاتٍ، ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، قَوْلُهُ {إِنِّي سَقِيمٌ} [الصافات: ٨٩]. وَقَوْلُهُ: {بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا} [الأنبياء: ٦٣].

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ابراهيم عليه السلام له دريو درواغو پرته هيڅ درواغ نه دي ويلي؛ دوه ئې د الله تعالى د ذات په اړه وو؛ چي يو ئې د ده دا وينا

وه چي وئې ويل: زه ناروغ يم او بل ئې دا وينا چي وئې ويل: د دوی دغه لوی بت دا کار کړی؛ دربېيم ئې په دې روايت کي نه دئ راغلی؛ خو په نورو کي ويل شوي چي د خپلي مېرمني ساره په اړه ئې ويلي: دا مي خور ده...

دا روايت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٣٣٥٧ - ٣٣٥٨ - ٤٧١٢ - ٥٠٨٤ – روايت غريب دئ؛ په دوو طبقو کي يو يو راوي لري چي مُحَمَّد بْنِ سِيرِين او أَبو هُرَيْرَةَ دي؛ له دغو توپيرونو سره: په يوه کي لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثًا په بل کي لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ، ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، قَوْلُهُ {إِنِّي سَقِيمٌ} [الصافات: ٨٩]. وَقَوْلُهُ: {بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا} [الأنبياء: ٦٣]. په بل کي لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ كُلُّهُنَّ فِي اللَّهِ؛ يعني ځيني روايات وايي چي ابراهيم عليه السلام درې درواغ ويلي چي ټول ئې د الله تعالی په اړه دي؛ بل ئې وايي: دوه ئې د الله تعالی په اړه او دربېيم ئې دا چي ساره ئې خپله خور ګڼلې؛ په روايت کي چي په کومو آيتونو استناد شوی؛ يو ئې هم د الله تعالی په اړه نه دئ؛ يو ئې دا دئ چي زه بېمار يم (إِنِّي سَقِيمٌ) او بل ئې دا چي بتان لوی بت مات کړي؛ په قرآن کي دا نه شته چي ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن د خور په نامه معرفي کړې؛ دا قصه ټوله د بايبل ده؛ په قرآن کي ئې هيڅ يادونه نه ده شوې. بايبل يو ځای وايي چي له ابراهيم عليه السلام سره دا معامله په مصر کي شوې او بل ځای په فلسطين کي؛ خو د قرآن له وينا معلومېږي چي ابراهيم عليه السلام له عراق وتلو وروسته؛ هغي سيمي ته څېرمه اوسېدلی چي خپل وراره؛ لوط عليه السلام ئې هلته د خلکو د لارښووني او دعوت لپاره پرېښود؛ چي بيا دا سيمه ټوله نسکوره او په زمکي کي خسف شوه؛ او په جزيرې بدله شوه؛ د بحر الميت په نامه يادېږي چي د اردن او فلسطين تر منځ پرته سيمه ده.

په روايت کي ابراهيم عليه السلام ته درې درواغ منسوب شوي چي

وايي دوه ئې د الله تعالى په اړه دي؛ او په بل روايت کې راغلي چې ټول درې درواغ؛ د الله تعالى په اړه وو؛ ابراهيم عليه السلام او د الله تعالى په اړه دروغ؛ داسي څه دي چې نه ئې د مؤمن ايمان مني او نه عقل؛ قرآن د ابراهيم عليه السلام په اړه ويلي:

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا ﴿٤١﴾ مريم

او په کتاب کې ابراهيم درياد کړه؛ يقيناً چې هغه رښتينى نبي وو.

د دې صريح آيت او دې عجيب روايت په ارتباط به څه کوو؟ آيا عجيبه نه ده چې څوك؛ له صحابه وو وروسته په پنځم او شپږم نسل کې د يوه راوي داسي روايت مني چې د الله تعالى يوه ستر او رښتني پيغمبر ته درې ستر درواغ او هغه هم د الله تعالى په اړه منسوبوي؛ هغه پيغمبر چې د الله تعالى لپاره هم د نمرود زندان ومنلو او هم په اور کې لوېدل؛ او هم ئې د خپل بت ماتځونکي پلار دا گواښ چې که لاس وانه خلې رجم کوم دي!! په بخاري کې د دې ځواب نه مومو چې له دغو متعارضو رواياتو به کوم يو صحيح گڼو؛ قضاوت او انتخاب ئې موږ ته پرېښى؛ دا قضيه او اړوند اختلاف ئې بايد قرآن ته راجع کړو او وگورو چې قرآن په دې اړه څه ويلي؛ الله تعالى موږ په دې گمارلي يو چې هر اختلاف به قرآن ته راجع کوو؛ دې آيتونو ته چې د ابراهيم عليه السلام قصه ئې څېړلې؛ ځير شئ:

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ﴿٧٦﴾ الانعام

کله چې د شپې تياره پرې راغله او يو ستورى ئې وليد؛ وئې ويل: دا مي رب دئ؟ خو کله چې پرېوت وئې ويل: پرېوتونکي نه خوښوم.

ولې ئې د يوه ستوري خبره کړې؛ ښايي دا هغه ستورى وو چې د عراق ډېريو د خداى په توگه ماڼلو.

فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ۝٧٧ الانعام

کله چې ئې سپوږمۍ د راختو په حال کې ولیدله وئې ویل: دا مې رب دئ؟ خو چې پرېوته وئې ویل: که مې خپل رب لارښوونه ونه کړي له لار ورکې قوم به وم.

فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ۝٧٨ الانعام

کله چې ئې لمر د راختو په حال کې ولید وئې ویل: دا مې رب دئ؟ دا خو تر ټولو ستر دئ؛ خو چې پرېوت؛ وئې ویل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زار یم چې تاسو ئې (له خدای سره) شریکوئ.

د دې آیت له دغې فقرې (قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ): اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زار یم چې تاسو ئې (له خدای سره) شریکوئ؛ په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې ابراهیم علیه السلام دا ټولې خبرې د قوم په وړاندې کړې؛ د دوی ځینو ستوري پالل، ځینو سپوږمۍ، ځینو لمر او ځینو بتان؛ د ستورو، سپوږمۍ او لمر په اړه ئې ویلې: دا پرېوتونکي دي؛ پرېوتونکي نه خوښوم، د دې وړ نه دي چې په خدایي کې شریك وګڼل شي او ولمانځل شي؛ دا د قوم په وړاندې د ابراهیم علیه السلام استدلال دئ؛ (هَٰذَا رَبِّي) توریه او پوښتنه ده؛ نه د ابراهیم علیه السلام ظن او ګمان؛ د استدلال په توګه ویل شوي؛ نه داسې چې دی د الله تعالی په لټه کې وو؛ کله ئې پر ستورو دا ګمان کړی چې همدا به خدای وي؛ کله پر سپوږمۍ او کله پر لمر؛ له ځان سره ئې دا خبره نه ده کړې؛ د قوم په وړاندې ئې کړې؛ باید متوجه وو چې الله تعالی د انسانانو له منځ او د هغوی د لارښوونې لپاره داسې عقلمن شخصیتونه غوره کوي چې هم د عقل له پلوه ممتاز شخصیت وي او هم د سالم او روغ فطرت له پلوه؛ د عقل او روغ فطرت خاوند؛ لږ تر لږه په عالم کې

له خورو نښو او آیتونو دا درك کولی شي چي رب به ئې کوم ذات او د کومو صفاتو خاوند وي؛ ابراهيم عليه السلام تر قوم وړاندي خپل پلار ته ويلي وو:

وَٱذْكُرْ فِي ٱلْكِتَٰبِ إِبْرَٰهِيمَ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لا يَسْمَعُ وَلا يُبْصِرُ وَلا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا ﴿٤٢﴾ يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَا أَبَتِ لا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ مريم

او په کتاب کې د ابراهیم یادونه وکړه؛ یقیناً چي هغه رښتینی نبي وو؛ هغه مهال چي خپل پلار ته ئې وویل: گرانه پلاره! ولې د هغه څه عبادت کوې چي نه اوري او نه ویني او نه کوم څه (ضرر) درنه دفع کولی شي. اې گرانه پلاره! یقیناً چي ما ته داسي علم راپه برخه شوی چي تا ته نه دئ درکړی شوی؛ نو زما متابعت وکړه چي سمه لار دروښیم. اې زما گرانه پلاره! د شیطان عبادت مه کوه؛ یقیناً چي شیطان د رحمن رب په وړاندي سرغړوونکی دئ. اې زما گرانه پلاره! یقیناً چي زه له دې ویریږم چي د رحمن رب له لوري په عذاب اخته شې او د شیطان ملگری شې.

گورئ چي ابراهیم علیه السلام په څومره عطوفت، مهربانۍ او زړه سوي سره خپل پلار ته بلنه ورکوي او ورته وايي: ولې د هغه څه عبادت کوې چي نه اوري او نه ویني او نه کوم څه (ضرر) درنه دفع کولی شي؟ دا یو مضبوط عقلي دلیل دئ چي د پلار په وړاندي ئې ایښی. د قوم په وړاندي ئې هم دې ته ورته مضبوط دلیل ایښی؛ د عالم رب او خالق به نه بدلېدونکی وي او نه پرېوتونکی. دا چي قرآن وايي: ابراهیم علیه السلام؛ خپل والد ته په وار وار د گران پلار خطاب کوي؛ په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چي له مخاطب سره ستاسو چلن باید ډېر ښکلی او له

مهربانۍ او عطوفت ډك وي، د يوه زړه سواند او مهربان داعي په توګه خلکو ته بلنه ورکړئ. ځيني د کمعلمۍ له کبله مفاهيم سره خلط کړي، ګمان کوي چي قرآن موږ ته د کافرانو په اړه د تشدد، سخت چلن او عدم نرمښت سپارښتنه کړې ده او الله تعالى دا خوښوي چي تندي مو کافر ته تريو وي او وينا مو تونده!! خو حقيقت دا دئ چي له کافرانو سره چلن له يوه حالت تر بل توپير لري؛ قرآن موږ ته له محارب کافر سره د يوه ډول چلن سپارښتنه کوي، له هغه کافر سره چي زموږ مخاطب دئ او اسلام ته بلنه ورکوو؛ د بل ډول چلن؛ او له هغه کافر سره چي له موږ سره مناقشه او بحث کوي خو د دې لپاره چي په حق پوه او پوښتني ئې ځواب شي؛ د بل ډول معاملې توصيه کوي. په يوه حالت کې به زموږ چلن داسي وي لکه د ابراهيم عليه السلام چلن له خپل پلار سره، په بل ځای کې به د قرآن د دې لارښوونې مصداق وي چي فرمايي:

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ النحل

د خپل رب لاري ته په حکمت او نېکي موعظې سره بلنه ورکړه؛ او په داسي توګه مجادله ورسره کوه چي تر ټولو غوره وي. يقيناً چي ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چي د ده له لاري تېروتي؛ او دی پر هدايت شوو هم ښه پوه دئ.

او له محارب دښمن سره د دې لارښوونې مطابق:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾ التوبه

اې مؤمنانو! له هغو کافرانو سره وجنګېږئ چي درنږدې دي او حتماً دي په تاسو کې زيږوالی ومومي او په دې پوه شئ چي الله له داسي متقيانو

سره (مل) دئ.

دې ته هم باید متوجه وو چې له مور پلار سره زمونږ چلن باید همداسې وي لکه د ابراهیم علیه السلام چلن له خپل پلار سره. پلار ئې ورته ویلي وو:

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ مريم

وئې ویل: اې ابراهیمه! آیا زما له معبودانو تېر شوی (ځنګ ته شوی) یې؟ که ډډه ونه کړې نو حتماً به دې رجم (سنګسار) کړم؛ او د تل لپاره له ما لرې شه؛ او ده په ځواب کې ورته ویلي وو:

قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدْعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ مريم

سلام پر تا! حتماً به له خپل رب تا ته بخښنه وغواړم؛ یقیناً چې هغه ډېر راباندې مهربان دئ، زه له تاسو او له هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ؛ لرې کېږم؛ او خپل رب ته دعاء کوم؛ هیله ده چې خپل رب ته په دعاء کې کمبخت نه وم.

غوښتل ئې په هغه ورځ چې خلك د مېلې او عید لپاره له ښار بهر وځي؛ دی د بتانو ماتولو لپاره په ښار کې پاته شي؛ خلکو ته ئې وویل: (إِنِّي سَقِيمٌ) الصافات ٨٩: زه ناروغ یم (مېلې ته نه ځم).

متأسفانه له دې آیت هم ځینو غلطه انتباه اخستې؛ داسې ئې انګېرلي چې ګواکې ابراهیم علیه السلام ستورو ته کتلي او له همدې پوه شوی چې دی مریض دئ؛ آیت داسې دئ:

وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذْ جَاءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ

وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِٱلْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوٓا۟ إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ الصافات

او يقيناً چي ابراهيم حتماً د ده (نوح) د تابعانو له ډلي وو؛ هغه مهال چي خپل رب ته له روغ زړه سره راغی؛ هغه مهال چي خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چي تاسو ئې لمانځئ؟ آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟ بيا ئې په ستورو کې په يوه نظر سره وکتل؛ بيا ئې وويل: يقيناً چي زه ناروغ يم. نو په داسي حال کې ئې مخونه ترې واړول چي تر شا کېدونکي ول، نو د دوی معبودانو ته پټ پټ ورغی او (ورته) وئې ويل: آيا (څه) نه خورئ؟! څه درباندي شوي چي خبري نه کوئ؟! نو د ښي لاس په گوزار سره ئې مضبوط گوزار پرې وکړ؛ نو په منډه منډه ئې د ده لوري ته مخه کړه؛ وئې ويل: آيا هغه څه لمانځئ چي په خپله مو تراشلي؟ په داسي حال کې چي الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ.

دغه موارد چي په بېل رنگ سره په نښه شوي؛ هر يو ئې د ابراهيم عليه السلام بېل بېل کارونه او ويناوي دي؛ ستورو ته کتل ئې استدلال وو او زه مريض يم ئې په ښار کې د پاته کېدو لپاره عذر؛ نه دا چي ستورو ته په کتلو سره پوه شوی چي دی مريض دئ.

په فال او نجوم باور؛ او د نجومي او فال ليدونکي داسي خبري منل؛ په قرآن د ايمان منافي باور دئ؛ پيامبر عليه السلام فرمايي: څوك چي نجومي او فال ليدونکي ته ورشي او خبره ئې تصديق کړي؛ په هغه قرآن

كافر شو چې پر محمد عليه السلام نازل شوی. ابراهيم عليه السلام به څنګه دا کار کوي؛ اصلاً له دغه آيت دا انتباه او تعبير؛ سل په سلو کې غلط تعبير دئ.

د آخري آيت (وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ)؛ په اړه هم په تفاسيرو کې د ښه ډېر اختلاف شاهد يو؛ حتی له دې ئې د جبريه مذهب بنسټ جوړ کړی؛ خو نه له اصل آيت او حقيقي معنی ئې؛ بلکې له ناسم تعبير او تفسير ئې؛ دوی داسې تعبير کړی چې الله تعالی هم زموږ خالق دئ او هم زموږ د عملونو خالق؛ يعني زموږ د عملونو د څرنګوالي پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي؛ هغه ئې خالق دئ؛ او موږ ئې يوه وسيله؛ په داسې حال کې چې دا په بشپړه توګه غلط تعبير او د دې آيت ناسم تفسير دئ؛ دلته له (ما تعملون) هغه بتان مراد دي چې انسان په خپل لاس جوړ کړي او د انسان د عمل محصول دي؛ تر دې وړاندې د بتانو په ارتباط ويل شوي: (أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ)؛ آيا هغه څه لمانځئ چې تاسو تراشلې؟ همدا ما تنحتون په بعدي آيت کې د ما تعملون په نامه ياد شوي. لکه چې په دې آيت کې ئې بل مثال مومو: (أَوَلَمۡ يَرَوۡا أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُمۡ مِمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَا أَنۡعَامًا فَهُمۡ لَهَا مَالِكُونَ) يس ۷۱: آيا دې ته ئې نه دي کتلي چې موږ هغه څاروي دوی ته پيدا کړي چې په خپلو لاسونو مو جوړ کړي؛ او دوی ئې مالکان دي؛ دلته (ما عملت ايدينا) د (ما خلقنا بايدينا) په معنی راغلې؛ تفصيل ئې د پلوشې تفسير الصافات سوره کې وګورئ.

## د وحي په اړه وضاحت

تر ننني بحث وړاندې د يوې موضوع لړ تفصيلي څېړل راته ضروري برېښي؛ دا چې آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د الهي احکامو او لارښوونو اړوند وحي په قرآن کې خلاصه شوې که نه د ده هره وينا بېله وحي ده او هيڅ خبره ئې شخصي نه ده؟ له پيغمبرانو عليهم السلام

سره په دښمنۍ کې ځيني له ټولو پولو اوښتي او ځينو په دوستي او محبت کې غلو کړې؛ په داسي صفاتو ئې ستايلي چي الله تعالی نه دي ستايلي؛ چا خپل پيغمبر د الله تعالی په څنګ کې پر عرش کښېنولی، چا بېل مخلوق ګڼلی چي له نور پيدا شوی، چا د حکم صادرولو او حلال او حرام ټاکلو کې د خدای برابر شريك ګڼلی، چا الله تعالی او د هغه کتاب ته شا کړې؛ له پيغمبر سره افراطي محبت او د هغه وينا او حديث ته د الله په کتاب ترجيح ورکول ئې مذهب شوی؛ دا نن اسلامي امت د همداسي ډلو له آفت سره مخامخ دیٔ؛ يوه ډله چي له ټول امت بېله تګلاره او شاذ رأی لري؛ ادعاء کوي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم هره خبره وحي ده؛ او حتی دومره غلو کوي چي که روايت د قرآن له آيت سره تعارض ولري؛ وايي: روايت د آيت ناسخ دیٔ؛ په مخکيني درس کې مو يو روايت درلود چي په ونو کې د مېوې د نه پلورلو په ارتباط وو؛ او بيا وروسته رسول الله صلی الله عليه و سلم د مخکيني دستور خلاف بېله مشوره ورکړه؛ په ګڼ شمېر آيتونو کې دې ته ورته مطالب ګورو چي د دې ډلي رأی له بنسټه ردوي؛ دا څو آيتونه ئې بېلګي دي چي لاربښووني ئې په صراحت سره د دې ډلي رأی تکذيبوي:

عَفَا اللَّهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ ﴿٤٣﴾ التوبة

الله دي درته عفوه وکړي (اې محمده)! ولي دي اجازه ورکړه؟! چي هغه درته څرګند شوي وی چي رښتيني دي او دروغجن دي پېژندلي وی.

دلته څو خبري زموږ مخي ته راځي:

پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي الله دي د دې کار عفوه درته وکړي چي دغو کسانو ته دي رخصت ورکړ؛ دوی درغلي وو چي درته ووايي: د څه عذر په وجه په دې جنګ کې برخه نشو اخيستی؛ تا ورسره موافقه وکړه او اجازه دي ورکړه؛ غوره دا وه چي دا اجازه دي نه وی

ورکړې؛ چې صادق او کاذب درته معلوم شوي وی.

په دې آیت کې که له یوې خوا جهاد د هغه معیار په توګه معرفي شوی چې د خلکو ایمان پرې تلل کېږي؛ په ایمان کې صادق هغه دئ چې د الله تعالی په لار کې جهاد کوي او دروغجن هغه دئ چې له جهاد ډډه کوي!! تاسو به د ټول قرآن په هیڅ آیت کې صراحتاً یا اشارتاً ونه مومئ چې بل عبادت د معیار په توګه معرفي شوی وي او داسي ویل شوي وي چې په هغه سره په ایمان کې صادق له کاذب بېلولی شئ.

له بلې خوا له دې آیت دا هم معلومېږي چې که د رسول الله صلی الله علیه و سلم ځیني کارونه او ویناوی د وحی مطابق دي، ځیني ئې د وحي شرح او عملي تعبیر او تفسیر دي؛ خو ځیني ئې د ده شخصي خبري دي؛ ټول کارونه او ویناوي ئې وحي نه دي؛ د احکامو او لارښوونو وحی په قرآن کې خلاصه شوې؛ دلته په څرګنده توګه ګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوې ډلې ته په خپله خوښه اجازه ورکړې؛ او الله تعالی پرې نارضایتي ښودلې. آیا کېدی شي د دې آیت په شتون کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه هم د الله تعالی له لوري وحي وګڼو؟! شاذ مذهبي روایت پال او شخصیت پال همدا خبره کوي!!! همدا راز قرآن فرمایي:

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ۝٢ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ۝٣ أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ۝٤ عبس

تندی ئې تریو کړ او مخ ئې واړاوو؛ کله چې هغه ړوند ورته راغی؛ څه شي ته خبر کړې؛ ښايي (غوښتل ئې) ځان تزکیه کړي؛ یا پند واخلي او پند ئې ګټور کړي.

چا تندی تریو کړ او مخ ئې واړاوو؟ څوك د یوه ړانده په راتلو ناراض شو او هغه ته ئې شا کړه؟ ولې خطاب مخامخ پیغمبر علیه السلام ته متوجه نه دئ او داسي نه دي ویل شوي چې تا تندی تریو کړ او له هغه

ړانده دي مخ واړاوو؟ ولي په سر کې له هغه چلن د غائب په صيغه يادونه شوې او بيا لهجه بدلېږي او د وينا مخ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اوړي؟

مفسرين په دې اړه بېل بېل تعبيرونه لري چي تر ټولو غوره او دقيق ئې دا دئ: کله چي د خپل يوه دوست کوم کار خوښ نه کړو او د ده له شأن ئې لري وګڼو او ده ته دا ويل وغواړو چي له تا مو دا انتظار نه وو او ورته ووايو چي ته او دا کار؛ ښايي د هغه کار د کولو په وخت کې به دا ته؛ له هغه اوچت شأن او له داسي کار ډېر لوړ شخصيت؛ په خپله نه وې!! معمولاً په دغسي يوې صيغې سره هغه ته خطاب کوو او خپله ناخوښي څرګندوو. پيغمبر عليه السلام له دغو آيتونو همدا انتباه اخيستې؛ چي الله تعالى ناراض شوی او په دې آيتونو سره ئې ده ته عتاب کړی؛ د دې آيتونو له نزول وروسته به ئې کله چي عبد الله بن ام مکتوم وليدو نو ورته ويل به ئې: أهلا بمن عاتبنى فيه ربى: هغه ته ښه راغلى چي رب مي د ده له کبله عتاب راته کړی؛ دوه ځلي ئې په خپل غياب کې د مدينې لپاره خپل ځای ناستی وټاکلو. د عبس ( تندی ئې تريو کړ) او تولىٰ (مخ ئې واړاوو) په الفاظو کې د عتاب او نارضايتي نښي له ورايه څرګندي دي. دا سوره چي د عبس په نامه ياده شوې له پيل تر پای همدې موضوع ته مختص شوې او ټول مطالب ئې په همدې ارتباط دي. آيا دا سوره کافي نه ده چي باور ولرو د رسول الله صلى الله عليه و سلم ځيني کارونه داسي وو چي د خپلي رأی مطابق ئې تر سره کړي. شاذ مذهبي څه ځواب لري؟!

وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِى أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذًا لاتَّخَذُوكَ خَلِيلا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلا ﴿٧٤﴾ إِذًا لأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الإسراء

او نژدې وه په فتنه کې دې واچوي او له هغه څه دې واړوي چې تا ته مو دروحي کړي؛ په دې توګه چې د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې. او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې؛ چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دې زموږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

په دې آیتونو کې داسې له عتابه ډکې صیغې مومو چې نظیر ئې په ټول قرآن کې نشو موندلی!! رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دې منلې وی چې په الهي وحي کې د لږ قدري تغییر مطالبه ئې کوله او له ځانه دې څه ویلي وی نو هم به مو په دنیا کې تا ته دوه برابره عذاب درڅکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د پېرزوینې له امله پر خپل دریځ ثابت او ټینګ پاته شوې او د دوی غلطې غوښتنې ته تسلیم نشوې!! دا آیت د قریشو هغو مسلسلو غوښتنو ته اشاره کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو ویل: زموږ د معبودانو په ضد له څه ویلو ډډه وکړه، داسې څه ووایه چې ټول پرې راغونډ شو، د تلفیق او روغې جوړې کوم مناسب صورت راپیدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ او په دې سره به د دښمنیو او مخالفتونو دا لړۍ پای ته ورسوو!! او رسول الله صلی الله علیه و سلم هم غوښتل داسې کوم څه وکړي؛ خو ګورئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې اړه الهي لارښوونه څنګه وه او په کومو الفاظو ئې له داسې روغې جوړې منع کړی!! ګورئ چې د پیغمبرانو علیهم السلام دنده څومره حساسه ده او په دې دروند الهي مأموریت کې د معمولي اشتباه پایله څومره جدي او هیبتناکه!! ګورئ چې د دښمن د خوشحالولو او ارضاء لپاره معمولي تنازل څنګه د الله تعالی د سخت غضب سبب ګرځي!! همدا راز ګورئ چې که د دښمن

لوري ته ډېر لږ تمايل دومره جدي نيول کېږي او د داسي سختي مؤاخذې وړ ګڼل کېږي؛ له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟! او دا هم په څرګنده توګه ګورئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له وحي پرته هم داسي څه کولی شو؛ او دا استقلال ئې درلود؛ خو الله تعالی ترې وساتلو؛ له دې معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم غوښتل څه وکړي؛ او يو ډول تفاهم رامنځته شي؛ او دا کار ئې کولی شو؛ خو الله تعالی ترې منع کړ.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۝١ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ وَاللَّهُ مَوْلَاكُمْ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ۝٢ التحريم

اې نبي! ولې هغه څه حراموې چي الله درته حلال کړي؟ په داسي حال کې چي د خپلو مېرمنو رضاء لټوې؛ او الله مهربان بخښونکی دئ. يقيناً چي الله تاسو ته د قسمونو پرانيستل مقرر کړي؛ او الله ستاسو مولا دئ او هغه باحکمت پوه دئ.

لکه چي ګورئ په دې آيت کې ويل شوي: اې نبي! ولې هغه څه حراموې چي الله درته حلال کړي؟ هغه هم د دې لپاره چي د خپلو مېرمنو رضاء تر لاسه کړې!! الله تعالی د دې کار بخښنه درته کړې؛ دا ځکه چي الله مهربان بخښونکی دئ.

د دې آيت له فحوی څو خبري معلومېږي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم له داسي کار د امتناع کولو لوړه کړې چي ورته حلال وو.
- دا کار ئې د خپلو مېرمنو د خوشحالولو په موخه کړی.
- دا داسي کار وو چي الله تعالی نه دئ خوښ کړی؛ خو ده او د ده مېرمنو ته ئې بخښنه کړې.

- الله تعالی ورته لارښوونه کړې چي دا لوړه د کفارې په ورکولو سره ماته کړي.

له دې آیت دا هم معلومېږي چي الله تعالی هیچا ته د حل او حرمت په اړه د پرېکړي حق نه دئ ورکړی؛ حتی پیغمبر علیه السلام هم دا حق نه لري چي حلال حرام کړي او حرام حلال. الله تعالی فرمایي: (... إِنِ الْحُكْمُ إِلا لِلَّهِ أَمَرَ أَلا تَعْبُدُوا إِلا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ... ) يوسف ٤٠: حکم او پرېکړه الله ته مختص ده؛ امر ئې کړی چي له ده پرته د بل چا عبادت مه کوئ؛ همدا سم دین دئ.

همدا راز له آیتونو دا هم معلومېږي چي یو حلال شی پر ځان حرامول داسي دي لکه د یوه جائز کار د نه کولو لوړه کول؛ او حکم ئې دا دئ چي کفاره ورکړی شي او امتناع منتفي کړی شي.

آیا اهل ظاهر او هغه چي ادعاء کوي د رسول الله صلی الله علیه و سلم هره وینا او فعل د وحي مطابق وو او په خپل ژوند کي ئې نه له وحي پرته څه ویلي او نه څه کړې؛ په خپل ناسم مسلك کي د دې آیتونو لپاره څه تأویل مومي؟!

**وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ۝٣ التحريم**

او کله چي پیغمبر له خپلو ځینو مېرمنو سره یوه خبره په سري توګه یاده کړه؛ نو کله چي هغې دا خبره (نورو ته) بیان کړه او الله دی پرې پوه کړ؛ یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلي ئې ډډه وکړه؛ نو کله چي ئې هغه پرې خبره کړه وئې ویل: چا دا خبره درته وکړه؟ وئې ویل: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

د دې مبارك آیت مطالب دا دي:

رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلو ځینو مېرمنو سره یوه خبره

په سري توګه یاده کړي؛ له ځینو مراد یوه یا تر یوې زیاتي کېدی شي؛ خو آیت ته په پام سره یوې مېرمني ته ئې سري خبره کړې؛ د شریعت له نظره سري خبره امانت ګڼل کېږي او افشاء ئې خیانت؛ حتی که څوك له چا سره په داسي حال کي کومه خبره کوي چي یوې خوا بلي خوا ته ګوري او له وضعي ئې معلومېږي چي نه غواړي بل څوك دا خبره واوري؛ دا هم امانت دئ؛ که څه هم هغه اورېدونکي ته نه وي ویلي چي دا سري او امانت خبره ده:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ «إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ » الترمذى

کله چي هغې دا خبره نورو ته بیان کړه او الله تعالی خپل پیغمبر پرې خبر کړ؛ نو له هغې ئې په داسي توګه پوښتلي چي یوه برخه ئې څرګنده کړې او له بلي ئې ډډه کړې؛ یعني یوازي دا ئې ورته ویلي چي دا خبره تا نورو ته کړې؟! دا ئې نه دي ورته ویلي چي چا ده ته اطلاع ورکړې؛ هغې ویلي: چا دا خبره درته وکړه؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ویلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

دلته څو حساس مطالب زموږ توجه جلبوي:

- د آیت له الفاظو او له اړوند روایت معلومېږي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغو مېرمنو پر دوو خبرو نیوکه شوې: حسادت او د رسول الله صلى الله عليه و سلم سري خبره افشاء کول.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه چا نوم نه دئ افشاء کړی چي ده ته ئې دا خبره رسولې وه؛ په عامه صیغه ئې ویلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم؛ په همدې کي د مؤمنانو لپاره یوه مهمه لارښوونه مضمره ده او هغه دا چي په داسي مواردو کي باید د اطلاع رسوونکي د نوم له افشاء ډډه وشي؛ دا ځکه چي له افشاء ئې ستونزي او اختلافات راولاړېږي.

دې ته مو هم پام وي چې ځيني پر دې آيت استناد کوي او وايي: د احکامو منشأ په قرآن کې نه ده خلاصه شوې؛ داسي احکام هم شته چې په قرآن کې ئې منشأ نه شو موندلی او ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هغوی په اړه داسي مستقله وحي شوې چې په قرآن کې نه ده ذکر شوې!! دوی د ځینو نورو آیتونو په شمول د دې آیت پر دغي فقرې (قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ) استناد کوي او وايي: په قرآن کې دا مطلب نه دئ راغلی چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا خبر ورکړ چې هغي مېرمني ئې نورو ته هغه سري خبره افشاء کړې؛ او ګواکې له دې معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې اړه بېله وحي شوې!!

دوی ته وايو: ستاسو دا استدلال هم د نورو په څېر په بشپړه توګه غلط دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دي ويلي چې ما ته الله تعالی مخامخ او بلا واسطه وويل؛ که داسي وی نو هغه به فرمايلي وو: قال لي ربي: زما رب راته وويل؛ دا ئې هم نه دي ويلي چې ما ته ئې په خپله يا د فرشتې په واسطه وحي وکړه؛ که داسي وی نو هغه به فرمايلي وو: اوحی إلي: ما ته ئې وحي وکړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم؛ د دې معنی قطعاً دا نه ده چې الله تعالی ما ته بلاواسطه او مخامخ يا د فرشتې له لاري اطلاع راکړه؛ په حقيقي معنی ئې هر هغه څوك پوهېږي چې د آيت نوري فقرې هم په پام کې ونيسي؛ مخصوصاً دا فقره چې وايي: وَ أَظْهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ: او الله دی پرې پوه کړ؛ يعني الله تعالی داسي انتظام وکړ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له موضوع خبر شي؛ په قوي احتمال سره دا اطلاع د هغه چا له لوري ورکړی شوې چې دا خبره ئې اورېدلې وه؛ داسي بالواسطه خبرېدا الله تعالی ته منسوبول؛ نه د حقيقت خلاف انتساب دئ او نه دروغ ګڼل کېدی شي؛ د کوم انسان په واسطه له کومي خبري خبرېدل په حقيقت کې د الله تعالی په اراده او توفيق تر سره کېږي؛ د

(أَظهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ) معنى همدا ده. په آيت کې ويل شوي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له اړوند مېرمني پوښتنه وکړه چې ولې دې هغه سري خبره افشاء کړې؛ خو دا ئې ترې پټ کړل چې چا اطلاع ورکړې؛ د آيت دا فقره چې وايي: عَرَّف بَعْضهُ وَ أَعْرَض عَن بَعْضٍ: يوه برخه ئې ځرګنده کړه او له بلې ئې ډډه وکړه؛ په يقيني توګه همدا مطلب افاده کوي؛ او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې په داسي مواردو کې د هغه چا د نامه له افشاء کولو ډډه وکړئ چې که ئې نوم افشاء شي په فتنې او د دوو تر منځ په زړه بداوي او نزاع منتج کېږي. عجيبه ده چې دوی د دې مبارك آيت له ځرګندو الفاظو داسي غلطه انتباه اخلي!! د خپل غلط دريځ او منهج لپاره هيڅ معقول دليل نه مومي؛ نو په تکلف سره هڅه کوي؛ يو کچه او کمزوری دليل له ځانه اختراع کړي؛ حقيقت دا دئ چې حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، د ټولو هغو احکامو اصلي منشأ قرآن دئ چې په احاديثو کې ئې مومو، د ځينو منشأ دومره ځرګنده ده چې هر څوك پرې پوهېږي او د ځينو داسي چې يوازي رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوه شوی او هغه موږ ته بيان کړي.

کله چې ابراهيم عليه السلام بتان مات کړل او تبر ئې د لوی بت په غاړې کې وځړاوو؛ خلکو ترې وپوښتل چې دا کار تا کړی؟ ځواب ئې دا وو:

قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ ﴿٦٣﴾ الأنبياء

وئې ويل: ما نه بلکې د دوی دغه ستر بت دا کار کړی؛ ترې وپوښتئ که خبري کولی شي.

د آيت دوهمه فقره (فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ): نو ترې وپوښتي که خبري کولی شي؛ په ډېر وضاحت سره ښيي چې دا د لومړۍ فقرې (بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا): ما نه؛ بلکې د دوی دغه ستر بت دا کار کړی؛ تتمه ده؛ او په ګډه ئې معنى دا ده: تبر د لوی بت غاړه کې دئ؛ تور خو بايد ده ته متوجه وي؛ ظاهر خو همدا شهادت ورکوي چې ماتوونکی

هغه دئ چي تبر ورسره دئ؛ ما ولي تورنوئ؟ كه هغوی خبري كولی شي ترې وپوښتئ؛ له مات شوو وپوښتئ چي چا مات كړئ؛ له لوی بت وپوښتئ چي تور مني كه انكار كوي؟ او متصل ئې ورته وويل: آيا د هغه څه عبادت كوئ چي نه ګټه دررسولی شي او نه تاوان درنه دفع كولی شي؟!

قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ الأنبياء

وئې ويل: آيا له الله پرته د هغه څه عبادت كوئ چي نه څه ګټه دررسولی شي او نه تاوان.

څوك نه پوهېږي چي په دې آيتونو كي د كذب او درواغو هيڅ شائبه هم نه تر سترګو كېږي؟!

په حقيقت كي د ابراهيم عليه السلام دا پنځه پورتنۍ خبري دروغ نه وې؛ د درواغو اطلاق نه شي پرې كېدی؛ خو كه د دغه روايت له مخي په هغوی د درواغو اطلاق كېږي؛ نو بيا خو دا دروغ (كذب)؛ درې نه؛ بلكي شپږ دي او د الله تعالی په اړه خو دوه نه بلكي درې دي؛ د خپلي مېرمني په اړه دا خبره ده ته منسوبول چي ويلي ئې وو دا مي خور ده؛ په دې اړه نه يوازي په قرآن كي كومه اشاره نه مومو؛ بلكي د دې خبري په كولو سره د قرآن د وينا مخالفت كېږي؛ ځكه قرآن هغه پنځه خبري يادوي او دا روايت دغه درې ترې حذفوي او په ځای ئې هغه خبره راوړي چي قرآن نه ده كړې!! د قرآن له مخي خو د الله تعالی په اړه درې ځلي درواغو ته ورته خبره شوې؛ درې ځلي ئې ويلي: هذا ربي؟ هذا ربي؟ هذا ربي؟ دا ولي په روايت كي نه دي راغلې؟ ولي هغه خبري د الله تعالی په اړه دروغ ګڼل شوې چي له الله تعالی سره هيڅ تعلق نه لري؟ د (إِنِّي سَقِيمٌ) او (بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ) له الله تعالی سره څه تړاو دئ؟! دا خو يوه توريه او پوښتنه ده؛ نه د ابراهيم عليه السلام تصديقي وينا؛ كه

په تکلف سره دا درې یو وګڼو نو دوهم ئې کوم دئ؟ دا دواړه خو في ذات الله نه دي!! یو ئې د بت په اړه دئ او بل ئې د ځان په اړه؛ په روایت کې خو ویل شوي چي: لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ إِلَّا ثَلاَثَ كَذَبَاتٍ، ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ؛ او دا دواړه ئې في ذات الله ګڼي: قَوْلُهُ (إِنِّي سَقِيمٌ) وَقَوْلُهُ: (بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا)؛ حال دا چي دا دواړه (في ذات الله) نه دي؛ د الله تعالی د ذات په اړه خو یوازي هغه درې ځلي (هذا ربي) ویل دي؛ د ساره د قصې لپاره خو په دې روایت کي هم مجال نه پاته کېږي!!

ټول ائمه، فقهاء او محدثین په دې متفق دي چي محمد علیه السلام د الله تعالی رسول دئ؛ دنده ئې د الله تعالی پیغام (قرآن) رسول دي؛ حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ؛ شرح او تفسیر هیڅکله له متن سره تعارض نه شي درلودی؛ کوم روایت چي له قرآن سره اړخ نه لګوي؛ نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث دئ او نه د منلو وړ؛ حق په قرآن کي خلاصه شوی؛ همغسي چي قرآن فرمايي:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَى مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿٢﴾ محمد

او هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او پر هغه څه ئې ایمان راوړی چي پر محمد نازل شوی او هغه د دوی د رب له لوري حق (رښتینی پیغام) دئ؛ د دوی بدغوني خصلتونه ئې ترې وپوښل او د دوی حالت ئې غوره او سم کړ.

لکه چي ګورئ دلته قرآن ته (هو الحق) ویل شوي؛ یعني ټول حق؛ نه یو حق.

او قرآن وايي:

فَذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلا الضَّلالُ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ

﴿٣٢﴾ يونس

نو همدا الله ستاسو حقيقي رب دئ؛ نو له حق وروسته له ضلالت پرته بل څه دي؟ نو په كوم لوري گرځول كېږئ؟؟!

دا پوښتنه چي آيا د قرآن او حديث تر منځ اختلاف او تعارض ممكن او جائز دئ؟؛ كه روايت له قرآن سره تعارض ولري؛ څه به كوو؟ ځواب ئې دا دئ: د صحيح حديث او قرآن تر منځ تعارض محال دئ؛ د مسلمان باور بايد دا وي چي له قرآن سره متعارض روايت د رسول الله صلى الله عليه و سلم حديث نشي كېدى؛ دا روايت به يا جعلي او موضوعي وي؛ يا ئې راوي ضعيف او په سمه توگه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وينا له انتقال عاجز؛ هيڅ امكان نه لري چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د قرآن خلاف خبره كړې وي؛ متأسفانه دا روايت ځيلې ډله؛ د آيت او روايت تر منځ د توپير او تعارض په صورت كي؛ په روايت اكتفاء او آيت ته شا كوي او له پامه ئې غورځوي!!! لكه چي دلته گورو د بايبل يوه دروغجنه خبره ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث په توگه وړاندې كړې؛ په داسي حال كي چي د هغې لپاره په قرآن كي هيڅ شاهد نه مومي؛ دا خبره ئې له كومه رايستلې چي ابراهيم خپله مېرمن د خور په نامه ياده كړې؟ څنگه مني چي ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن فرعون ته ورلېږلې وه؟ څنگه دا جسارت كوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم الله تعالى ته داسي څه منسوب كړي چي په قرآن كي نه شته؟

راشئ وگورو قرآن په دې اړه څه وايي چي كه رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله تعالى او د هغه د لارښوونو په ارتباط څه له ځانه كم او زيات كړي وى نو له هغه سره به څه كېدل؛ دې آيتونو ته لږ ځير شئ:

تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لأَخَذْنَا

مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ ﴿٤٧﴾ الحاقة

(دا قرآن) د رب العالمين له لوري رالېږنه ده؛ او كه ئې ځيني خبري راباندي تړلی؛ حتماً به مو په ښي لاس ترې اخيستلی؛ بيا به مو د غاړې رگ ترې پرې كولی؛ نو ستاسو هيڅوك به ترې دفع كوونكی نه وی.

يعني قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی كتاب دئ؛ نه د محمد عليه السلام د ويناوو مجموعه؛ الله تعالی د ده په واسطه موږ ته رالېږلی؛ د ده لپاره ئې د رسول نوم غوره كړی؛ رسول يعني پيغام رسوونكی؛ او د ده او د ټولو پيغمبرانو دنده ئې هم داسي راښودلې: مَا عَلَى الرَّسُولِ إِلا الْبَلاغُ: او پر پيغمبر فقط د پيغام رسول دي؛ او قرآن له پيغمبرانو حكايت كوي او فرمايي: وَمَا عَلَيْنَا إِلا الْبَلاغُ الْمُبِينُ: او پر موږ له څرگند رسولو پرته بل څه نه شته؛ او د دې معنی دا ده چي د رسول دنده فقط او فقط د الله تعالی پيغام؛ په بشپړ امانت او په بشپړه توگه رسول دي.

گورئ چي الله تعالی پيغمبرانو ته د رسول نوم غوره كړی؛ نه د وكيل نوم؛ وكيل هغه استازي ته وايي چي له بل وكالت كوي؛ خو رسول هغه دئ چي فقط پيغام په بشپړ امانت سره رسوي؛ قرآن فرمايي:

وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ قُلْ لَسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ الأنعام

او ستا قوم (دا قرآن) تكذيب كړ؛ په داسي حال كي چي هغه حق دئ؛ ووايه: زه پر تاسو وكيل نه يم.

رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِنْ يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِنْ يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلا ﴿٥٤﴾ الإسراء

ستاسو رب ډېر ښه درباندي پوه دئ؛ كه وغواړي پېرزوينه به درباندي وكړي او كه وغواړي په عذاب به مو اخته كړي؛ او ته مو پر دوی وكيل نه يې لېږلی.

وكيل هغه چا ته وايي چي د بل وكالت او استازيتوب كوي؛ دا اختيار وركړی شوی وي چي د موكل په استازيتوب څه ووايي او څه وكړي؛ خو رسول له پيغام رسولو پرته بل حق نه لري.

قرآن فرمايي: كه د الله رسول؛ كوم قول او وينا له ځانه الله تعالی ته منسوب كړي؛ نو سخته سزا به وركوي: آيا گمان كوئ چي كه څوك له ځانه خبري جوړي او الله تعالی ته ئې منسوب كړي؛ نو الله تعالی به دې كار ته هيڅ التفات نه كوي؛ جدي به ئې نه نيسي او داسي كس ته به سزا نه وركوي؟! كه پيغمبر داسي كار كړی وی؛ الله تعالی به هيڅكله فرصت او مجال نه وو وركړی؛ حتماً به داسي بې باكي جدي نيسي؛ دومره چي د زړه رگونه به ئې ور پرې كړي او ژوند ته به ئې خاتمه وركړي!! او دا مورد ته په ډېر قاطعيت او صراحت سره وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم هيڅ څه پر قرآن نه اضافه كړي او نه ئې ترې كم كړي؛ د الله تعالی په كتاب او لارښوونو كي ئې هيڅ لاسوهنه نه ده كړې؛ په بشپړ امانت او له زيادت او نقصان پرته ئې د الله تعالی پيغام خلكو ته رسولی.

متأسفانه په امت كي يوه داسي ډله هم راټوكېدلې چي روايت ته پر آيت ترجيح وركوي؛ د قرآن له آيت سره متعارض روايت؛ د آيت ناسخ گڼي!! وايي: پيغمبر ته هم قرآن وركړی شوی او هم د قرآن مثل؛ ادعاء كوي چي په قرآن كي داسي تشي شته چي يوازي په رواياتو ډكي شوې؛ حتى وايي: قرآن حديث ته اړ دئ نه حديث قرآن ته!! دا له ټول اسلامي امت منزوي؛ خوارجي او تكفيري ډله؛ چي شاذ مذهب او رأى لري؛ هم د قرآن په اړه او هم د الله تعالی د ذات او صفاتو په اړه؛ نه يوازي د روايت د صحت لپاره؛ له قرآن سره مطابقت او عدم تعارض ئې شرط نه گڼي؛ بلكي وايي: د تعارض په صورت كي حديث د آيت ناسخ دئ!!! خو حقيقت بيا دا دئ نه بل څه؛ چي روايت د صحت لپاره تر هر څه وړاندي د قرآن شهادت او تأييد ته اړ دئ او د تعارض په صورت كي به

قطعاً نه منل کېږي. دا خو پرېږدئ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي: که ما ته منسوب روايت د يوه مؤمن زړه تأييد نه کړ؛ زه ترې بېزار يم.

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ، وأَبِي أُسَيْدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ، وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ قَرِيبٌ، فَأَنَا أَوْلَاكُمْ بِهِ، وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَنْفِرُ أَشْعَارُكُمْ، وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ» مسند احمد

له ابو حُميد او ابو اُسيد روايت دئ چې نبي صلی الله علیه و سلم وفرمايل: که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چې ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي؛ او داسي ئې مومئ چې تاسو ته نژدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولی يم؛ او که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چې ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ترې نفرت کوي؛ (ورته ځيږ شي) او داسي ئې مومئ چې له تاسو لري دئ؛ نو زه تر تاسو زيات له هغه لري يم.

که يوه خبره يو مؤمن انسان ته منسوب شي او هغه پرې خفه شي او ځان ته ئې سپکاوی وګڼي؛ آيا ډېره عجيبه نه ده چې څوك همدا خبره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب کړي؟!

هغه روايت چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ما ته قرآن راکړی شوی او مثل ئې؛ دا دئ:

٢٤٤ - عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِى كَرِبَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ

وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا يُوشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانُ عَلَى أَرِيكَتِهِ يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِالْقُرْآنِ فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوهُ، وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ أَلَا لَا يَحِلُّ لَكُمْ لَحْمُ الْحِمَارِ الْأَهْلِيِّ وَلَا كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبُعِ " السنة للبروزی

له مقدام بن معدي كَرِب رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: پام چي ما ته دا کتاب راکړی شوی او ورسره مثل ئې؛ پام چي ما ته دا قرآن راکړی شوی او ورسره مثل ئې؛ پام چي ښايي يو موړ سړی پر کوچ ناست به وايي: قرآن پر ځان لازم کړئ څه چي مو په هغه کي حلال وموندل حلال ئې وګڼئ او څه چي مو په هغه کي حرام وموندل حرام ئې وګڼئ؛ پام چي نه د کورني خره غوښه درته حلاله ده او نه هر داړي لرونکي ځناور.

دا روایت غریب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري؛ له معروفو کتابونو یوازي مسند احمد او سنن ابي داؤد کي راوړل شوی؛ د پاته صحاح سته په شمول د حديث هيڅ معروف کتاب د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی.

په توجیه کي ئې ځينو ويلي: قرآن ورکړی شوی او د قرآن فهم؛ او ځينو ويلي: لکه چي متلو وحی ورته شوې همداسي غير متلو وحی هم ورته شوې؛ او دې ته ورته توجيهات؛ خو هيڅ يوه ئې زړه ته لار نه مومي؛ ځکه په روايت کي کتاب او مثل ئې او قرآن او مثل ئې ويل شوي؛ خو له دې کبله چي نه عملاً بل کتاب شته او نه بل قرآن؛ نو چا چي همدا غریب روايت معتبر ګڼلی؛ مجبور دئ ناکامه توجيه به ورته لټوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن فهم؛ داسي څه ئې نه دي حرام کړي چي منشأ ئې په قرآن کي نه وي؛ په قرآن کي د ځينو حلال او حرام ځارويو يادونه په ډېره څرګنده توګه شوې؛ چي دا د نورو لپاره مثال او بېلګه ده؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم همدغو ته په پام سره د نورو ورته ځارويو او حيواناتو د حل او حرمت

په اړه لارښووني کړې؛ نه دا چې بېله وحي ورته شوې؛ د داسي بېلي وحي هیڅ مثال څوك نشي وړاندي کولی او داسي روایت نشي په ګوته کولی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي وي: ما ته د دې حیوان د حل او حرمت په اړه بېله وحي شوې!! قرآن د څارویو په اړه فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ۚ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴿١﴾ مائده

اې مؤمنانو! په تړونونو وفا وکړئ، څرېدونکي بوده درته حلال کړی شوي، مګر هغه چې درباندي ولوستی شي؛ خو حلال نه ګڼونکي د ښکار کله چې په احرام کې وئ؛ بې شکه چې الله همغسي حکم کوي چې غواړي ئې.

په دې مبارك آیت کې درې اساسي خبري راغلې:

- په خپلو ژمنو او تړونونو وفا وکړئ؛ که دا له الله تعالی سره وي او که په خپلو منځونو کې، که د مسلمان او مسلمان تر منځ وي او که د مسلمان او نامسلمان تر منځ. په لږ دقت سره په دې پوهېدی شو چې دیانت په دوو خبرو کې راخلاصه کېږي: خپلو تعهداتو او ژمنو ته التزام او د حلال او حرام مراعات؛ دا مبارك آیت دغو دوو اساسي خبرو ته ګوته نیسي؛ په خپلو تعهداتو وفا کول په حقیقت کې د دیانت بل نوم دئ؛ څوك چې خپلو ژمنو ته وفا نه لري هغه هیڅ دین نه لري؛ لکه چې پیغمبر علیه السلام فرمایي: "لَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ": څوك چې په خپل عهد نه وي ولاړ؛ هیڅ دین نه لري.
- ټول څرېدونکي حیوانات؛ که دا د کور څاروي وي او که د صحراء څرېدونکي حیوانات؛ درته حلال دي؛ مګر هغه چې الله تعالی له دې حکم مستثنی کړي. د آیت دغه برخه څو لارښووني لري:

د هغو حیواناتو غوښه انسان ته حلاله کړی شوې چې څارویو ته ورته وي؛ واښه او دانه خوري. په آیت کې د (صید: ښکار) له ذکر

معلومېږي چي په بهيمة الانعام کي ټول هغه حيوانات شامل دي چي ځارويو ته ورته وي؛ يعني د هغو حيواناتو غوښه هم حلاله ده چي صحرائي دي؛ په کور کي د ځارويو په څېر نه ساتل کېږي؛ خو ځارويو ته ورته وي.

په دغه مبارك آيت کي د هغو صحرائي حيواناتو په اړه وضاحت نه دئ شوی چي ځارويو ته ورته نه وي او د واښو پر ځای غوښه خوري. د همدې لپاره ځينو فقهاءو دا حيوانات ترې مستثنی کړي، دوی په هغه روايت هم استناد کوي چي وايي پيغمبر عليه السلام د هر داړي لرونکي ځناور او د هر منګولي لرونکي ښکاري مرغه له غوښي ممانعت کړی:

عن ابنِ عباسٍ رَضِىَ االلَّهُ عَنْهُمَا قال: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن أَكْلِ كُلِّ ذِى نابٍ مِنَ السِّباعِ، وعن كُلِّ ذِى مِخلَبٍ مِنَ الطَّيرِ. رواه ابو داؤد

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له هر داړي لرونکي ځناور او له هر منګولي لرونکي مارغه نهي کړې.

له روايت داسي معلومېږي چي ګواکي د کورني خره او داړي او منګولي لرونکو ځناورو او مرغانو غوښه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د حکم له مخي حرام شوې؛ نه د قرآن د لارښووني له مخي!! حال دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د مائدې سورې له همدې آيت فهمولې چي ځارويو ته ورته حيوانات او مرغان جائز دي؛ هغه چي غوښه نه خوري او داړي او منګولي نه لري. د کورني خره په اړه ډېری علماء وايي چي د خيبر په جګړي کي رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغوی له حلالولو او د غوښي له خوړلو ممانعت وکړ؛ دا ځکه چي هغه مهال خره د حمل و نقل مهمه وسيله وه؛ که نه نو دا صحرايي خره او آس ته ورته دئ.

د ثلاث کذبات روایاتو ته راګرځو چې بخاري تر بېلو بېلو بابونو لاندې راوړي؛ ځیني ئې مرفوع دي؛ سند ئې تر رسول الله صلی الله علیه و سلم پورې رسېدلی او ځیني ئې موقوف؛ سند ئې تر صحابي پورې رسېدلی؛ ټول ئې غریب او راویان ئې په درېو طبقو کې دا دي: حماد بْن زَيْد، أَيُّوب، مُحَمَّد بن سيرين او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په دغو کې یو روایت هغه دئ چې وایي: د قیامت په ورځ به خلك د شفیع په لټه کې شي؛ د آدم، نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او محمد علیهم السلام خوا ته به ورشي؛ نور به عذر وړاندې کړي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم به شفاعت وکړي؛ ابراهیم علیه السلام به ووایي: ما درې دروغ ویلي؛ نو ځکه به شفاعت ونه کړي؛ د دې روایت لومړی راوي هم ابو هریره دئ خو پاته راویان ئې له نورو روایاتو سره فرق لري.

په ځینو کې د کذباتو یادونه شوې او په ځینو کې نه؛ په ځینو کې دوه کذبات د الله تعالی په اړه ګنل شوي او په ځینو کې درې؛ په ځینو کې دا درې د کذباتو په توګه معرفي شوي: إني سقيم، بل فعله كبيرهم او دا چې خپله مېرمن ئې د خور په نامه یاده کړې؛ که دا روایات د قرآن په رڼا کې وڅېړو نو څو څرګندې خبرې مو مخې ته راځي:

- د ساره رضي الله عنها مربوط خبره په قرآن کې نه شته؛ منشأ ئې فقط بایبل کېدی شي؛ شایي رسول الله صلی الله علیه و سلم د بایبل د غلطو خبرو په ضمن کې دا یاده کړې وي؛ خو راوي داسې انګېرلې وي چې دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم خبره ده؛ نه د بایبل غلطه خبره؛ او شایي د راویانو په لړ کې کوم راوي همدا خبره کړې وي او بل غلط شوی وي او دا ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم خبره ګڼلې وي.
- قرآن چې د ابراهیم علیه السلام کومې خبرې زموږ مخې ته ایښې دي؛ په هغوی کې هیڅ داسې خبره نه مومو چې دروغو ته ورته وي؛ یوازې په یوې کې ئې انسان ته دا شك پیدا کېږي چې شایي دا به رښتیا

نه وه؛ او هغه دا چي خلکو ورته ویلي: راځه چي مېله ځای ته ولاړ شو او هغه ویلي: زه مریض یم؛ د ابراهیم علیه السلام لوړ شخصیت او دې ته په پام سره چي الله تعالی د صادق په صفت ستایلی؛ ویلی شو چي حتماً به ئې هغه ورځ داسي مریضي درلوده چي خلکو د عذر په توګه منلې.

• ولي به د یوه ستر پیغمبر؛ ستر موحد، په ځوانۍ کي د بتانو ماتوونکی، د ډېرو پیغمبرانو پلار او جد؛ د کعبې معمار، د خدای خلیل، هغه چي الله تعالی ئې عصمت تضمین کړی؛ الله تعالی ورته د صادق لقب ورکړی؛ د داسي عظیم او ستایل شوي شخصیت په اړه به ولي یو داسي غریب روایت معتبر ګڼو چي له قرآن سره په بشپړه توګه منافات او تعارض لري؟! یوازي هغه چي غریب روایت تر قرآن ورته مهم برېښي؛ دا جسارت به کوي؛ یوه عادي انسان ته مربوط ادعاء مني خو د الله تعالی شهادت او ګواهی نه مني!! د مذهب او مسلك بنسټ ئې په غریبو او مرجوح روایاتو ولاړ دئ؛ نه د قرآن په مضبوطي ستني؛ د روایت صحت او ضعف په اړه فقط د راوي له مخي قضاوت کوي نه د روایت د متن او محتوی له مخي؛ دې ته تیار دئ چي یوه ستر او معصوم پیغمبر ته د داسي سترو دریو درواغو نسبت وکړي چي دوه او حتی ټول ئې د الله تعالی په اړه دروغ دي؛ خو دې ته چمتو نه دئ چي ووایي: دا روایت ځکه د منلو وړ نه دئ چي راوي ئې شاهد نه لري، متن ئې له قرآن سره مغایرت او مخالفت لري؛ او ستر پیغمبر ته د دروغ ویلو نسبت شوی!! دا خبره ځکه نه شي ویلی چي په دې اعتراف سره د ده د کچه مذهب سسته ماڼۍ نسکورېږي؛ مذهب ئې په ړندو سترګو او کڼو غوږونو شخصیت پالنه ده.

راشئ وګورو چي بایبل په دې اړه څه ویلي؛ ښایي ځیني به داسي انګېري چي اوس د بایبل په اړه بحث؛ نه ضروري دئ او نه مفید؛ خو واقعیت دا دئ چي موږ دې بحث ته سخت ضرورت لرو؛ ناڅو او په سر

کې ئې امريکا د مسيحي هېوادو نظامي ترون؛ پر افغانستان د اشغال په جريان کې؛ غوښتل زموږ ځوان نسل مسيحيت ته واړوي؛ ګمان ئې کولو له اسلام سيکولرزم ته اړول وخت غواړي خو مسحيت ته ئې اړول نسبتاً آسان کار دئ؛ زموږ د جمهور رئيس مېرمن مسيحي وه، دوی به هيڅکله په اشغال شوي هېواد کې داسي څوك جمهور رئيس ونه ټاکي چې د پاپ لاسونه ئې نه وي ښکل کړي؛ د بايبل په اړه څه ليکل يو مهم ضرورت وو؛ الحمد لله ما ته الله تعالی داسي مناسب شرائط برابر کړل چې بايبل ولولم او د قرآن په رڼا کې ئې وڅېړم.

د بايبل ليکوال؛ د ملتونو د شجرو باب لاندي؛ د ابراهيم عليه السلام او د ده د پاك ملني مېرمني سارا په اړه داسي ناپاکه ژبه کاروي چې انسان ورته حيران شي، دوی د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه همداسي غلط او کافرانه اظهارات لري؛ د ابراهيم عليه السلام په اړه ليکي:

"خدای ابرام ته وفرمايل: خپل ولايت، پلرنی کور او خپلوان پرېږده او هغه ځای ته ولاړ شه چې زه به ئې درته لارښوونه وکړم؛ ابرام وخوځېدو؛ لومړی کنعان، بيا د کنعان جنوب او په پای کې مصر ته ولاړ؛ کله چې مصر ته ورسېدو؛ خپلي مېرمني ته ئې وويل: ته ښکلې يې، که د مصر خلك پوه شي چې ته زما مېرمن يې نو ستا د تصاحب او ترلاسه کولو لپاره به ما ووژني؛ خو که ووايې چې زما خور يې نو ستا لپاره به خلك له ما سره ښه چلن کوي او سر به مي خوندي وي!! فرعون ته ځينو درباريانو اطلاع ورکړه چې سارا ډېره ښکلې ده؛ د دې د ښايست ډېره ستاينه ئې وکړه؛ فرعون امر وکړ چې زما قصر ته ئې راولئ؛ بيا فرعون د سارا په خاطر ابرام ته ډېري هداياوي لکه پسونه، غوايي، اوښان، خره، غلامان او وينځي ورکړې؛ خو خدای فرعون او د ده په قصر کې اوسېدونکي په سخت مصيبت اخته کړل؛ دا ځکه چې د ابرام مېرمن ئې قصر ته بېولې وه؛ فرعون ابرام وروغوښت او ورته وئې ويل: دا څه کار

وو چي تا له ما سره وکړ؛ ولې دي ما ته ونه ویل چي سارا ستا مېرمن ده؟ ولې دي هغه خپله خور وښووده چي ځان ته ئې په نکاح کړم؟ اوس ئې درسره بوځه او له دې ځایه ولاړ شه"!!

د ابراهیم علیه السلام او د ده د پاك ملني مېرمني په شأن کي د بایبل دا سپکه ژبه او د داسي عظیم الشأن شخصیتونو په اړه د داسي تورونو په اوربېدو سره د انسان وېښتان ځېږ شي؛ دا هغه ابراهیم علیه السلام دئ چي قرآن ئې د مؤمنانو جد، د الله خلیل، ستر بت ماتوونکی، ستر موحد او د کعبې معمار معرفي کوي او وايي چي د عراق د ستر ظالم حاکم په وړاندي ئې سر ټیټ نه کړ، له ګواښونو ئې ونه وېرېدو، په اور کي له لوېدو ئې پروا نه وه، په منجنیق کي د کښېنولو په وخت کي ئې ویل حسبنا الله و نعم الوکیل، نمرود په مرګ تهدید کړ؛ ده په ځواب کي ورته وویل: د مرګ ژوند پرېکړه زما رب کوي؛ نه ته؛ همغسي لکه چي لمر د ده په اراده له ختیځ طلوع کوي او په مغرب کي پرېوځي؛ نه ئې ته وخت او مسیر بدلولی شې او نه بل څوك. ابراهیم علیه السلام هغه وخت هم دروغ ونه ویل او ونه وېرېدو چي په یوازي سر معبد ته ننوت، ټول بتان ئې مات مات کړل، کله چي خلك معبد ته راغلل او خپل بتان ئې نسکور وموندل او ژر پوه شول چي دا کار له ابراهیم پرته د بل چا نه دئ؛ نو دی ئې راحاضر کړ او وئې پوښتو: دا کار تا کړی؟ هغه د انکار په ځای وویل: تېر خو د ستر بت په غاړه کي دئ؛ ترې وپوښتئ که خبري کولی شي؟ هغوی وویل: ته پوهېږې چي دوی خبري نه شي کولی؛ نو ورته وئې ویل: افسوس پر تاسو او ستاسو پر دغو معبودانو؛ نه خبري کولی شي، نه له ځانه دفاع کولی شي او نه د ځان په خلاف اتهام ردولی شي؛ څنګه د هغه څه عبادت کوئ چي نه ګټه رسولی شي او نه تاوان دفع کولی شي؟! داسي یو ستر، زړه ور او پر خپل رب متوکل پیغمبر به څنګه له وېري دروغ وايي؟! خپله مېرمن به د دې لپاره خپله خور معرفي کوي چي هر څوك ئې په دې موخه درناوی وکړي چي

د نكاح كولو چانس تر لاسه كړي؛ بايبل نه يوازې د ابراهيم عليه السلام د قصې دا مهمې برخې نه رااخلي او له نمرود سره د ده د مبارزې په اړه هيڅ نه وايي؛ بلکې د نمرود ستاينه کوي؛ هلته چې وايي: د نوح يو لمسی (د کوش زوی) نمرود نومېدو؛ چې يو زړه ور او نوميالی اتل وو؛ د هغه قدرت په سبب چې خدای ورکړی وو؛ ډېر ماهر غشي ويشتونکی شو؛ د همدې لپاره ده چې که نن څوك وغواړي د غشو په ويشتو کې د چا مهارت وستايي نو وايي: خدای دې تا د نمبي په ويشتو کې د نمرود په څېر کړي!! د نمرود له ستاينې د بايبل ماهيت درك کولی شئ؛ اشغالگرانو چې چا ته د اتل لقب ورکولو؛ له همدې هم د دغو اتلانو ماهيت پېژندی شو او هم د اشغالگرانو ماهيت.

بايبل وايي چې کنعان ته د تلو په وخت کې ابرام (ابراهيم عليه السلام) پنځه اويا کلن وو، طبيعي ده چې مېرمن به ئې هم همدومره عمر درلود؛ په داسې زړښت کې د دې د ښايست خبره کول او دا بې بنسټه ادعاء او دروغجنه دعوی کول چې فرعون هغه ځان ته په دې خاطر په نکاح کړه چې ابراهيم عليه السلام ويلي وو دا زما خور ده؛ ډېره مسخره خبره ده؛ مگر فرعون ته د مصر ښايسته او ښکلې پېغلې کمې وې چې يوه پنځه اويا کلنه بوډۍ په نکاح کړي؟ بايبل دلته ليکي چې له ابراهيم عليه السلام سره دا معامله په مصر کې او د مصر د فرعون له لوري شوې، خو څو پاڼې وروسته ليکي چې دا پېښه د فلسطين په جرار نومي ښار کې واقع شوې او دا کار د فلسطين د پاچا ابيملك له لوري شوی؛ هلته ليکي چې په دې وخت کې ابراهيم پنځه نوي کلن وو!! د بايبل ليکوال؛ د اسحاق او ابيملك تر عنوان لاندې؛ همدا قصه د ابراهيم عليه السلام زوی اسحاق ته منسوبوي؛ څه چې ئې د ابراهيم او سارا په اړه ليکلي؛ همدا ئې د اسحاق او مېرمن ئې ربکا په اړه ليکلي. درې واړه قصې دروغ دي؛ بايبل له داسې درواغو او تناقضاتو ډك دئ؛ وجه ئې دا ده چې دا د دروغجنو رواياتو کتاب دئ؛ هر مذهب چې د راويانو لاس

ته لوېدلی؛ له همداسي برخليك سره مخامخ شوی.

بايبل ليکي: ابرام ډېر شتمن وو؛ ډېري رمې ئې درلودې؛ پوښتنه کوو چي د رمو خاوند خو په صحرا او غرونو کي اوسېږي؛ هغه په مصر کي څه کول؟ مصر خو هغه وخت هم لوی ښار وو او د همدې لپاره د مصر (ښار) په نامه يادېدو؟! که بايبل ليکلي وی چي ابراهيم عليه السلام د دعوت په ارتباط مصر ته تللی وو؛ چا پرې اعتراض نه کاوو؛ خو هغه ليکي چي ابرام له خپلو څارويو او رمو سره د مصر په لوري وخوځېدو!!

قرآن چي د ابراهيم عليه السلام په اړه څه ويلي د بايبل ټولي خبري حرف حرف ردوي. بايبل په دې اړه هيڅ نه دي ويلي چي ابراهيم عليه السلام د خپل پلار او قوم پر غلط دين اعتراض وکړ، د خپل پلار او قوم له مخالفت سره مخامخ شو، خپل پلار له کوره په شړلو وګواښو، بتان ئې مات کړل، زنداني شو، نمرود په مرګ تهديد کړ، په اور کي واچول شو او له عراق ئې هجرت وکړ؛ بايبل د دې ټولو خبرو په اړه ساکت دئ او حتی له عراق د ابراهيم عليه السلام د وتلو په اړه ليکي چي تارح (د ابرام پلار) له خپل زوی ابرام، له خپلي نږور سارای او له خپل لمسي لوط سره يو ځای له اورکلدانيان؛ د کنعان په لوري وکوچيدو او په حران کي ځای په ځای شول!! قرآن د ابراهيم عليه السلام د پلار د نوم په اړه هم د بايبل ادعاء غلطه ګڼي او هغه د تارح پر ځای د آزر په نامه يادوي؛ متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هومره د دغه جعلي بايبل تر اغيز لاندي تللي چي د قرآن د دغي صريح وينا په خلاف وايي چي د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم تارح وو او آزر د ده تره او يا د بت نوم وو!! وجه ئې دا ده چي ګمان کوي بايبل به همغه تورات او انجيل وي؛ نو ځکه د قرآن او بايبل د تلفيق او تطبيق هڅه ئې کړې؛ په داسي حال کي چي بايبل د دروغجنو رواياتو مجموعه ده او قرآن په ټولو مواردو کي د بايبل د قصو او ويناوو ترديد، تکذيب او تصحيح کړې؛ نه تأييد او تصديق؛ قرآن د آزر نوم ځکه ياد کړی چي موږ ته وښيي د بايبل دا ادعاء هم

دروغجنه ده؛ قرآن د ډېرو پيغمبرانو نومونه ياد کړی خو د هغوی د پلرونو نومونه ئې نه دي ياد کړي؛ مگر د هغو چي پلرونه ئې پيغمبران ول؛ د نوح، موسی، ايوب، صالح، هود او نورو د پلرونو نومونه نه دي ياد شوي؛ دا ځکه چي قرآن د شجرو کتاب نه دئ.

## ابراهيم او ابيملك

بايبل تر دې عنوان لاندي يو ځل بيا د ابراهيم عليه السلام هغه قصه تکراراً ليکي چي يوه ظالم واکمن د ده مېرمن ساره ترې بوتله؛ خو دا ځل په داسي بڼې کي چي له مخکينۍ سره سل په سلو کي تناقض او توپير لري؛ دومره لکه چي دا کاملاً بله قصه وي؛ دا ځل داسي ليکي: کله چي ابراهيم د جرار په ښار کي وو؛ ساره ئې خپله خور معرفي کړه؛ نو ابيملك د جرار پاچا؛ ځيني کسان ولېږل چي ساره د ده قصر ته راولي؛ خو په همدې شپې خدای په خوب کي ابيملك ته ورڅرگند شو او ورته وئې ويل: ته به خامخا ومرې؛ ځکه مېړوښه ښځه دي په نکاح کړې!! ابيملك لا تر هغه مهاله له دې سره نه وو څملاستلی؛ نو عرض ئې وکړ: خدايه! زه بې تقصيره يم؛ آيا ته به ما او زما قوم وژنې؟ په خپله ابراهيم ما ته وويل چي دا مي خور ده او ساره هم د ده خبره تأييد کړه او وئې ويل چي دی مي ورور دئ؛ ما هيڅ بد نيت نه درلود؛ خدای وويل: هو؛ ستا خبره صحيح ده؛ د همدې لپاره مي پرې نښودې چي گناه وکړې او هغې ته لاس وروړې اوس نو دا ښځه خپل خاوند ته وسپاره، هغه به دعاء درته وکړي او ته به ژوندی پاته شې!! پاچا سبا سحر وختي پاڅېدو، په تلوار ئې خپل درباريان راوغوښتل، خپل خوب ئې ورته تېر کړ او ټول سخت ووېرېدل؛ نو دغه وخت پاچا ابراهيم خپل دربار ته راوغوښت او ورته وئې ويل: دا څه کار وو چي تا له موږ سره وکړ؟ ما له تا سره څه بد کړي وو چي زه او زما ملك دي په داسي لويي گناه اخته کړو؟... ابراهيم ځواب ورکړ: گمان مي دا وو چي د دې ملك خلك به له خدای؛ نه وېرېږي او د دې لپاره چي زما مېرمن تصاحب کړي ما به ووژني؛ پر

دې سربېره دا زما ناسکه خور هم ده؛ له یوه پلاره یو او ما دا ځان ته په نکاح کړه؛ کله چې زما خدای زه له خپل ټاټوبي نورو ملکونو ته ولېږلم؛ له ساره مي وغوښتل چې دا ښېگڼه له ما سره وکړي چې په هر ځای کې ځان زما خور معرفي کړي!! نو ابیملك ډېر پسونه، غواوي، غلامان او وینځې ورکړې، د ده مېرمن ساره ئې وروسپارله او ورته وئې ویل: زما په ټول ملك کې وگرځه د اوسېدو لپاره چې دې کوم ځای خوښ شو هملته مېشت شه!!

د بایبل په دې دواړو قصو کې دومره ژور اختلاف او توپیر شته چې هیڅوك ئې نه شي توجیه کولی؛ په مخکینۍ کې ویل شوي چې دا د مصر فرعون وو او دلته ویل شوې چې دا د جرار پاچا ابیملك وو او ورپسې ویل شوي چې ابیملك د فلسطین پاچا وو؛ هلته ویل شوي چې ساره ئې په نکاح کړه او ډېر وروسته ورته معلومه شوه چې دا د ابراهیم خور نه بلکې مېرمن ده؛ خو دلته ویل شوي چې خدای پاچا ته د نکاح په همغې لومړۍ شپه په خوب کې وویل چې دا د ابراهیم مېرمن ده؛ هلته ویل شوي چې فرعون؛ ابراهیم او مېرمن ئې د همدې غلطۍ په سبب له خپل ملك د فوځیانو په لاس وشړل او دلته ویل شوي چې ابیملك ورته وویل: زما د ملك په هر ځای کې چې خوښ دې وي مېشت شه!! په همغې قصې کې د مصر واکمن د فرعون په نامه یاد شوی؛ چې دا بایبل بل ښکرور تاریخي درواغ دي؛ د ابراهیم علیه السلام په زمانه کې د مصر واکمنان د فرعون په نامه نه یادېدل؛ حتی د ابراهیم علیه السلام د کړوسي؛ یوسف علیه السلام په زمانه کې هم د ملك په نامه یادېدل نه د فرعون په نامه؛ دا نوم د موسی علیه السلام په زمانه کې کاورل کېدو.

علاوه پر دې د بایبل له وینا خو داسې معلومېږي چې ابیملك هیڅ تقصیر نه درلود؛ تقصیر د ابراهیم او د ساره وو چې ده ته ئې حقیقت نه وو ویلی او دا نکاح د ساره په خوښه تر سره شوې!! که داسې وي نو ابیملك څه گناه درلوده؟ ولې خدای ورته ویلي چې ته حتماً مرې؟ او که

ده كومه گناه کړې وي؛ ولې به خدای د ده په گناه د ده قوم هم هلاکوي؟ دا ضد او نقيض خبري او الله تعالى ته د داسي غير عادلانه پرېکړو نسبت به د بايبل ليکونکی او منونکي څنگه توجيه کوي؟؟ څنگه ومنو چي ساره د ابراهيم عليه السلام ناسکه خور وه او ده ورسره نکاح کړې وه!! قرآن خو موږ ته وايي چي ستاسو دين همغه د ابراهيم دين دئ؛ څه چي په هغه دين کي حلال وو درته حلال دي او څه چي حرام وو حرام دي؛ قرآن خو له خور سره نکاح تحريم کړې ده؛ آيا دا کېدی شي چي د ابراهيم عليه السلام په دين کي داسي نکاح جائز وي؟ نن خو علم په قاطع الفاظو د قرآن خبره تأييدوي او له داسي نژدې خپلوانو سره نکاح سخته مضره گڼي؛ عليم خدای به څنگه داسي مضره او تاواني نکاح جائز شمېري؟!

په قرآن کي د بايبل دغه غلطه، پرېوتې او بې محتوی قصه نه مومو؛ خو په رواياتو کي ځيني داسي روايات شته چي دا قصه په کي راغلې؛ خو هغه هم د بايبل له وينا سره ژور توپير لري او هم له قرآن سره؛ هم د الفاظو له مخي او هم د محتوی له مخي؛ احتمالاً دا روايات له اسرائيلي منابعو اخيستل شوي او يا راوي د بايبل خبره کوله خو اورېدونکي گمان کړی چي دا د ده خبره ده!!

دا بايد ووايم چي په بايبل کي له تحقيق مخکي ما څو ځلي د دې حديث په اورېدو سره ژړلي او ويلي مي دي: يا الله! آيا تا ابراهيم عليه السلام؛ خپل خليل؛ په دې سره هم ابتلاء کړی؟! خو د بايبل له مطالعې وروسته چي کله ما په دې روايت کي غور وکړ او د قرآن په رڼا کي ورته ځير شوم؛ راته معلومه شوه چي دا روايت له قرآن سره تعارض لري او د بايبل خبره يو دروغجن او بې بنسټه تور دئ.

بايبل د دې قصې په پای کي ليکي: (دغه مهال ابراهيم خدای ته دعاء وکړه او خدای پاچا، د ده مېرمنو او وينځو ته شفا ورکړه؛ چي وکولی شي د اولاد خاوند شي؛ دا ځکه چي خدای له دې کبله د ده ټولي مېرمني

شنډي کړې وې چې ابيملك د ابراهيم مېرمن ساره ځان ته نکاح کړې وه!!)

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: د دې خبري معنى خو دا ده چې ساره دومره اوږده موده د ابيملك په نکاح کې پاته شوې چې ده او مېرمنو ته ئې معلومه شوې چې ټولي شنډي شوې دي؛ د ښځو شنډېدل خو په يوه شپه کې نه ښځو ته معلومېږي او نه ئې خاوندانو ته!! د پاچا مېرمنو څه ګناه کړې وه چې د مېړه په جرم مجازات کېږي؟ وينځو څه ګناه کړې وه چې هغوی هم د پاچا په جرم ناروغه کړی شوې؟! آيا دا خبره له انساني عقل سره اړخ لګوي چې د يوې شپې په څو ساعتونو کې هم د پاچا مېرمني شنډي شي او هم بېرته روغي؛ د ښځي په شنډېدو خو ډېر حاذق ډاکټر هم؛ له ډېرو پرمخ تللو وسائلو سره؛ داسي ژر نه شي پوهېدی!! تر ټولو لويه پوښتنه دا ده چې آيا د بايبل ليکونکي خپله هغه خبره هېره کړې چې ويل ئې د ابراهيم عليه السلام خيمې ته د خدای او دوو فرشتو د راتلو په مهال د ده مېرمن ساره هومره عمر خوړلې بوډۍ وه چې د اولاد درلودو طمع ئې ختمه شوې وه او حتى د فرشتو او حتى د خدای په دې خبري ئې باور نه شو کولی چې په راتلونکي کال کې به د اولاد خاونده شي؛ د ابيملك په څېر پاچا چې ګڼ شمېر نوري مېرمني ئې درلودې او حتماً به ټولي ډېري ښايسته او پېغلي وې؛ ولي به يوه بوډۍ ځان ته نکاح کوي؟ د بايبل د وينا مطابق دا مهال ابراهيم عليه السلام نه نوي کلن او د ساره عمر به تر نوي زيات وو، کوم عقل به دا خبره ومني چې يوه داسي پاچا دا په زور ځان ته نکاح کړه چې ګڼ شمېر نوري مېرمني ئې هم درلودې؟!

له دغي بې بنسټه قصې وروسته بايبل ليکي: (خدای په خپلي وعدې وفا وکړه او ساره همغه مهال حامله شوه چې خدای ټاکلی وو او په زوړوالي کې ئې ابراهيم ته زوی وزېږاوو او ابراهيم پر هغه د اسحاق (خندا) نوم کېښود،... په اتمه ورځ ئې سنت کړ،... د اسحاق د تولد په

مهال ابراهيم نه نوي كلن وو!! ... او ساره وويل: چا دا گمان كاوو چي زه به يوه ورځ د ابراهيم زوی ته تی ورکوم؟! خو دا دئ ما په زړښت کې هغه ته زوی وزېږاوو؟!)

بايبل د ټولو تاريخي شواهدو خلاف او د ابراهيم عليه السلام په اړه د يوه ناروا او ظالمانه تور په توګه ليکي چي ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر د ساره په وينا له کوره وشړله او هغه په بئر شبع کې ځای په ځای شوه: (يوه ورځ ساره متوجه شوه چي د مصري هاجر زوی اسمعيل؛ اسحاق ځوروي؛ نو ابراهيم ته ئې وويل: دا وينځه او زوی ئې له کوره وباسه؛ ځکه اسمعيل به زما د زوی اسحاق ترڅنګ ستا وارث نه وي!! دې خبري ابراهيم سخت وځوراوو؛ ځکه چي اسمعيل هم د ده زوی وو؛ خو خدای ورته وفرمايل: د خپل زوی او وينځي په اړه اندېښنه مه کوه؛ څه چي ساره ويلي همغسي وکړه!! نو ابراهيم سحر وختي پاڅېدو، ډوډۍ او د اوبو ډك ژی ئې د هاجر پر اوږو کېښود او له زوی سره ئې يو ځای له کوره وايسته؛ هاجر په بئر شبع کې لالهانده ګرځېده... کله چي د مشك اوبه تمامي شوې؛ خپل زوی ئې د بوټو لاندي پرېښود او دا سل ګزه لري کښېناسته او له ځان سره ئې وويل: نه غواړم د خپل زوی مرګ په خپلو سترګو وګورم او په زوره زوره ئې وژړل؛ دغه وخت خدای د ماشوم چيغو ته متوجه شو او د خدای فرشتې هاجر ته غږ کړ: اې هاجر! څه شوې؟ مه ژاړه! ځکه خدای ستا د ماشوم چيغي اورېدلې دي، ورشه هغه دراخله او په خپلي غېږي کې ئې ونيسه... بيا خدای د هاجر سترګي پرانيستلې او هغې په خپلي خوا کې چينه وليده، مشك ئې ترې ډك کړ او خپل زوی ته ئې اوبه ورکړې؛ خدای له اسمعيل سره وو؛ هغه د فاران په دشتي کې ستر شو او مور ئې يوه مصرۍ نجلۍ ورته وکړه...)

دلته څو داسي خبري ترسترګو کېږي چي د حقيقت خلاف او د يوه ستر پيغمبر په اړه ستر تور او اتهام ګڼل کېږي:

• بايبل له يوې خوا ليكي چې دغه مهال اسمعيل عليه السلام دومره وړوکی ماشوم وو چې مور په غېږ کې گرځاوو، د يوه بوټي سيوري لاندې ئې څملاوو؛ خو له بلې خوا ليكي چې ساره متوجه شوه چې اسمعيل اسحاق ځوروي!! پوښتنه کوو: آيا يو تی خور وړوکی ماشوم هم کولی شي بل ماشوم هومره وځوروي چې د ساره په څېر صبرناکه مور ئې ونه شي زغملی او له ابراهيم عليه السلام وغواړي چې دا او مور ئې له دې کوره وشړه؟!

• ټول تاريخي شواهد په دې شهادت ورکوي چې ابراهيم عليه السلام؛ د الله تعالی په حکم؛ خپله مېرمن هاجر رضي الله عنها او خپل زوی اسمعيل عليه السلام د مکې په وادي کې پرېښي؛ دلته د اسمعيل عليه السلام تر پښو لاندې د زمزم چينه راخوټېدلې او همدلته د ده له نسله د بني اسمعيل لويه قبيله جوړه شوې. دا يوه مهمه موضوع ده؛ مستشرقين هڅه کوي د بايبل غلطه ادعاء سمه وښيي؛ څه موده وړاندې ئې يو فيلم جوړ او په پراخه پيمانه نشر کړ؛ چې محوري موضوع ئې همدا وه؛ غوښتل ئې ثابته کړي چې نه کعبه هغه کعبه ده چې د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې او نه زمزم همغه ځاه چې د هاجر خوا ته په مکه کې راخوټېدلې. تفصيل ئې (د قرآن پلوشې) تفسير کې د دې آيت لاندې وگورئ: (إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ) آل عمران ۹۶

• نه ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن له کوره شړلې ده او نه دا په بئر شبع کې ځای په ځای شوې او نه هغه چينه په بئر شبع کې راخوټېدلې؛ په دې اړه د بايبل ادعاء بې بنسټه او د تاريخي حقائقو خلاف ده. که دا کار شوی وی نو اوس به خلکو د زمزم د چينې په ځای د بئر شبع چينې ته مخه کوله او هغې ته به ئې دومره په درنه سترگه کتل چې زمزم ته گوري!!

• څنگه به د ابراهيم عليه السلام په څېر يو ستر شخصيت؛ د گڼ شمېر پيغمبرانو پلار او نيکه؛ داسې د عدالت او عاطفې خلاف کار کوي چې خپله

یوه مېرمن د بلې د خوشحالولو لپاره په داسې حال کې له کوره وشړې چې تی خور ماشوم ئې په غېږ کې دئ؟!

• قرآن دا خبره له بنسټه ردوي او وايي چې ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې په مکه کې پرېښودل او دا دعاء ئې وکړه:

رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ۝٣٧ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٣٨ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ۝٣٩ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ۝٤٠ ابراهیم

اې زموږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځیني؛ ستا د محترم کور خوا ته په داسې بېدیا کې مېشت کړل چې بې بوټې ده؛ اې زموږ ربه! د دې لپاره چې لمونځ اقامه کړی شي؛ د خلکو زړونه د دوی لوري ته رامات کړه او له مېوو روزي ورکړه چې شکر وکړي. اې زموږ ربه! یقیناً چې ته په هر هغه څه پوهېږې چې موږ ئې پټوو یا ئې ښکاره کوو؛ او پر الله خو نه څه په آسمان کې پټ پاته کېږي او نه په زمکې کې؛ ستایني هغه الله ته دي چې ما ته ئې په زړښت کې اسمعیل او اسحاق راپه برخه کړل؛ بې شکه چې زما رب د دعاءګانو اورېدونکی دئ؛ اې زما ربه! لمونځ کوونکی مې کړې او اولاد مې هم؛ اې زموږ ربه! او دعاء مې قبوله کړې!!

د قرآن له دغو آیتونو چې د ابراهیم علیه السلام دعاء ئې په ډېرې اغېزمنې بڼې کې بیان کړې؛ څو خبرې په صراحت سره معلومېږي:

• ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعیل علیه السلام د مکې په بېدیا کې هغه مهال پرېښودل چې هغه ناو سپېره ډاګ وو او هیڅ بوټی په کې نه راټوکېدو.

- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چې دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بيت الله) جوړوي.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء ئې وکړه. دا ځکه چې په هغي وچې بېديا کي نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.
- مطمئن وو چې الله تعالی به دا دعاء داسي قبلوي لکه ده ته چې ئې په زړښت کي اولاد ورکړ. د دعاء له الفاظو معلومېږي چې اسمعيل تر اسحق مشر وو.
- د دعاء په الفاظو کي د ده قوي عاطفه او د مېرمني او زوی په نسبت د ده ژور زړه سوی او قوي مينه د څپانده سيند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار له سترگو اوښکي بهېږي.

له تاسو پوښتنه کوم: د هاجر رضي الله عنها او د سارا له کور د دې ایستل کېدو په اړه مو تر ننه څه اورېدلي؟ اناگانو مو څه درته ويلي؟ او له منبرونو مو څه اورېدلي؟ آيا د بايبل دا وينا او تبصره مو اورېدلې ده او که د قرآن وينا؟! آيا په عوامو کي مشهوره قصه دا نه ده چې سارا له ابراهيم عليه السلام وغوښتل هاجر له کوره وباسي؟ خو دا د بايبل خبره او په بشپړه توگه د قرآن خلاف خبره ده؛ حقيقت دا دئ چې د مسيحيانو او يهودانو ستونزي هم له جعلي رواياتو رامنځته شوې او د اسلامي امت ستونزي هم؛ که د رواياتو مجدده تنقيح ونشي او د متن او سند له پلوه د صحيح احاديثو اجماعي او ټول امت ته منلې مجموعه رامنځته نه شي؛ نو موږ به له همغه برخليك سره مخامخ کېږو چې هغوی مخامخ شول؛ د الله تعالی کتاب شا ته غورځول او په غريبو رواياتو پوري نښتل.

## اسحاق او ابيملك

بايبل تر دې عنوان لاندي خپله ليکنه داسي پيل کوي: (يوه ورځ د کنعان په سيمي کي داسي قحطي راغله لکه د ابراهيم په وخت کي چي

راغلې وه، نو د همدې لپاره اسحاق د فلسطين پاچا ابيملك خوا ته د جرار ښار ته ولاړ، دلته خدای ورته راښکاره شو او ورته وئې ويل: مصر ته مه ځه، دلته پاته شه، که زما خبره دې ومنله نو زه به درسره وم، ډېر برکت به درپه برخه کړم، دا ټوله سيمه به تا او ستا اولاد ته وسپارم، دا ځکه چې ما له ابراهيم سره دا ژمنه کړې وه!! ستا نسل به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... )

دلته څو خبرو ته ځير شئ:

۱. له دې وينا معلومېږي چې جرار د فلسطين مربوط ښار وو نه د مصر کوم ښار او ابيملك د فلسطين پاچا وو او د بايبل د ادعاء له مخي له ابراهيم او ساره سره هغه جفا ده کړې وه، نو پوښتنه کوو چې بايبل ولې په بل ځای کې ويلي چې هغه جفا د مصر فرعون ورسره کړې وه؟! دا فاحش تناقض څنګه توجيه کوي؟!

۲. ګورئ چې يو ځل بيا خدای ته د حقيقت خلاف او يوه ستره مبالغه منسوب شوې؛ ستا نسل به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! او ګورئ چې يو ځل بيا بايبل د دې سيمي قباله د خدای له لوري بني اسرائيلو ته ورکوي او د خدای له قوله ليکي: دا ټوله سيمه به تا او ستا اولاد ته وسپارم،!!

ورپسې ليکي: اسحاق په جرار کې پاته شو؛ چې کله به خلکو د ربکا په اړه پوښتنه ترې کوله ورته ويل به ئې دا مي خور ده!! دا ځکه چې ربکا ډېره ښايسته وه؛ له دې وېرېدو چې که ووايي دا مي ښځه ده د هغې د تصاحب لپاره به ئې څوك ووژني؛ څه موده وروسته ابيملك له کړکۍ وليدل چې اسحاق له ربکا سره لوبې کوي؛ نو اسحاق ئې راوغوښت او ورته وئې ويل: ولې دې ويلي وو چې دا مي خور ده حال دا چې مېرمن دې ده؟! اسحاق په ځواب کې ورته وويل: وېرېدم چې څوك به مي د دې د تصاحب لپاره ووژني!!

دا همغه قصه ده چې بايبل د ابراهيم عليه السلام او د ده د مېرمني

ساره په اړه هم مخکې دوه ځلې ليکلې ده؛ هلته ئې هم له اتيا نوي کلنې بوډۍ ښکلې پېغله جوړه کړې او دلته هم؛ د بايبل ليکوال دې ته پام نه دئ کړی چې تر دې څو کرښې مخکې ئې ليکلي چې اسحاق ته په څلوېښت کلنۍ کې خدای دوه زامن ورکړل، دواړه تکړه او مضبوط زلميان شول، د ښکار کولو جوگه شول، له دې وروسته قحطي راغله او اسحاق جرار ته په کډه شو؛ د دې معنی خو دا ده چې په دې وخت کې بايد د اسحاق عمر نژدې شپېته کاله او د ربکا عمر به هم د دې شاوخوا کې وو!! نو اسحاق عليه السلام به ولې له دې وېرې خپله سپين سرې مېرمن خپله خور معرفي کوله چې څوك ئې د تصاحب لپاره دی ونه وژني؟! نه پوهېږو چې د بايبل ليکوال له داسي ښکرورو دروغو څه هدف او مقصد لري او دې ته هم حيران يو چې د بايبل منونکي څنگه دغو ښکرورو دروغو ته نه متوجه کېږي او همدا له درواغو ډك کتاب؛ سپېڅلی گڼي؟!

که تاسو د دې عنوان ټولې برخې له نظره تېرې کړئ متوجه به شئ چې ټول مطالب او الفاظ ئې تکراري دي؛ توپیر يوازې په دې کې دئ چې مخکې د ابراهيم او ساره نوم اخيستل شوی او دلته د اسحاق او ربکا؛ د ابراهيم عليه السلام او ابيملك ترمنځ چې څه تېر شوي او څه د يوه او بل له خولې ليکل شوي؛ دلته ئې هم ليکلي چې د اسحاق او ابيملك تر منځ همدا له معمولي تغيير سره تېر شوي او ويل شوي!! هلته هم ابيملك پاچا وو او اوس چې ابراهيم عليه السلام وفات شوی او اسحاق هم نژدې شپېته کلن دئ همغه ابيملك پاچا دئ!! هلته هم ابيملك د خپل فوځ له مشر فيکول سره د ابراهيم ليدو ته ورغی او دلته هم له هماغه فيکول سره د اسحاق ليدو ته ورغلی، هلته د ابراهيم له لوري هداياوي ورکړی شوې او دلته د اسحاق له لوري!! د (ابيملك او ابراهيم تر منځ عهد) تر عنوان لاندې چې بايبل څه ليکلي، د (اسحاق او ابيملك) تر عنوان لاندې همغه خبرې بيا تکرار شوې!! د عقل تقاضی خو دا ده چې دا مهال به د فلسطين پاچا يا د ابيملك کوم زوی او يا کوم لمسی

وو!!

آیا دا خبره هم کوم عقل منلی شي چې اسحاق به د ابیملك قصر ته دومره نژدې اوسېدو چې هغه د خپل قصر له کړکۍ د دوی د لوبو تماشا کوله!!

د بایبل لیکوال دلته لیکي چې د اسحاق غلامانو د یوه کوهي د کېندلو او په هغه کې د اوبو د راوتلو خبره کوي او وایي چې اسحاق د بئر شبع نوم پرې کښېښود؛ خو همدا خبره ئې څو صفحې مخکې د ابراهیم علیه السلام په ارتباط کړې او بئر شبع ئې هغه ته منسوب کړی؛ داسي معلومېږي چې لیکوال د دې عنوان مطالب ښایي له مخکیني څه موده وروسته لیکلي وي او دا ترې هېر وو چې تر دې مخکې ئې د ابراهیم علیه السلام په ارتباط لیکلي!! هلته ئې داسي لیکلي دي: ابراهیم ابیملك ته د هغه کوهي په اړه شکایت وکړ چې د ابیملك نوکرانو ترې غصب کړی وو؛ ابیملك ورته وویل: ولې دي مخکې دا خبره نه وه راته کړې... له دې وروسته ئې دا کوهی د بئر شبع په نامه یاد کړ؛ دا ځکه چې دوی دلته ژمنه او لوړه وکړه!! خو دلته لیکي: اسحاق هغه د شبع (قسم) په نامه ونوماوو او کوم ښار چې هلته جوړ شو هغه ئې د بئر شبع په نامه یاد کړ چې تراوسه په همدې نامه پاته دیٔ!!

یعني چې بایبل د روایاتو کتاب دیٔ؛ راویانو ته منسوب روایات ئې سره له جدي او ژورو اختلافاتو او تعارضاتو راوړي؛ د تورات او انجیل ځای روایاتو نیولی؛ متأسفانه ځیني غواړي له قرآن سره همدا معامله وکړي.

## ۵۳ باب: د خنزیر وژل

۱۰۴۴ ـ وَعَنهُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِی نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا فَيَكْسِرَ

الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ». (بخارى: ٢٢٢٢)

١٠٤٤ - او له همده (ابو هريره رضي الله عنه) روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((قسم په هغه ذات چي زما نفس ئې په لاس کي دئ؛ ډېر ژر به عيسى بن مريم؛ د عادل واکمن په توگه ستاسو منځ ته راکوز شي؛ صليب به مات کړي، خنزير به ووژني، جزيه به پاى ته ورسوي او مال به دومره زيات شي چي څوک به ئې نه اخلي))

دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ٢٢٢٢ - ٣٤٤٨ -

د بخاري د ٢٢٢٢ روايت راويان دا دي: قُتَيْبَةَ بْن سَعِيد، اللَّيْث بْن سَعْد، ابْنِ شِهَاب الزُّهْرِيّ، سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، أَبو هُرَيْرَةَ، او د بل ئې دا: إِسْحَاق، يَعْقُوب بْن إِبْرَاهِيمَ، پلار ئې ابراهيم، صَالِح، ابْنِ شِهَاب، سَعِيد بْن المُسَيِّب، أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. يعني په دريو طبقو کي يو يو راوي لري؛ په نورو کتابونو کي هم له همدغو راويانو سره راغلى؛ يعني چي دا روايت د سند له مخي ډېر غريب دئ؛ اما متن ئې دا پوښتني رامنځته کوي:

په روايت کي په دې آيت استناد شوى:

وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾ النساء

او د اهل کتاب به هيڅوك نه وي مگر داسي چي له خپل مرگ مخکي به هرومرو پر ده ايمان راوړي او د قيامت په ورځ به پرې شاهد وي.

د دې آيت دوه ترجمې شوې:

١- له اهل کتاب به هيڅوك داسي پاته نه شي چي له خپل مرگ مخکي د

عیسی علیه السلام حقیقت ورته معلوم نه شي او په دې پوه نه شي چې هغه نه خدای وو او نه د خدای زوی؛ بلکې د خدای بنده او د هغه پیغمبر وو.

۲- د عیسی علیه السلام له راکوزېدو وروسته به ټول موجود اهل کتاب د ده له مرګ مخکې پر ده ایمان راوړي.

په دغې دوهمې ترجمې او تفسیر کې دوه فقرې او مطالب مقدر ګڼل شوي: (د عیسی علیه السلام بیا راتګ) او (هغه وخت موجود اهل کتاب)؛ خو نه دا مطالب په آیت کې شته او نه داسې الفاظ چې دا مطالب ترې راووځي؛ له دې تقدیرونو پرته هیڅوك له آیت دا مطلب نه شي اخیستلی. خو په لومړۍ ترجمې کې د آیت له خپلو الفاظو پرته هیڅ لفظ او مطلب نه دئ علاوه شوی، لومړۍ ترجمه په دې دلیل هم غوره بریښي چې په آیت کې ټولو اهل کتاب ته اشاره شوې، حصر او استثناء په کې نه شته؛ خو په دوهمې ترجمې کې یوازې د عیسی علیه السلام د راکوزېدو په وخت کې موجود اهل کتاب اخیستل شوي او نور مستثنی شوي. دوهمه ترجمه ستونزې لرې او غیر دقیقه ده.

د قرآن له بیاناتو معلومېږي چې د مرګ په وخت کې ډېر حقائق انسان ته څرګند شي، په خپلو غلطیو او اشتباهاتو پوه شي؛ لکه چې د همدې سورې په ۹۷ آیت کې د هغو کسانو په اړه ویل شوي چې په دار الکفر کې پاته شوي وو، د ملائکو له وینا به پوه شي چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، هسې ئې د الله پراخه زمکه تنګه ګڼلې وه او له هجرت ئې ډډه کړې وه، په کار وه چې د خپل دین او ایمان د حفاظت لپاره ئې هجرت کړی وی او د کفر له سلطې ئې ځان آزاد کړی وی؟!

هغه اهل کتاب چې عیسی علیه السلام د خدای زوی ګڼي او ګمان کوي چې د ده په وجه به له عذاب او الهي مؤاخذې خوندي وي؛ د خپل مرګ په وخت کې به پوه شي چې دا هسې بې بنیاده هیلې وې، نه هغه خدای وو او نه د خدای زوی او نه له عذاب زموږ د ژغورنې ذمه وار.

د قیامت په ورځ به هم وګوري چې عیسی علیه السلام د دوی خلاف

شهادت ورکوي.

د دې روايت دا برخه (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ)؛ هم وضاحت ايجابوي؛ اهل ظاهر د دې او دې ته ورته نصوصو په اړه ډېر شاذ او ناسم تعبير لري؛ (الَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ) يوه استعاره ده؛ مقصد ئې دا دئ: هغه چي زما نفس ئې په واك کي دئ؛ يعني هغه چي زما د ژوند مالك دئ؛ نه نفس کوم جسم او جسد دئ چي تمليك ئې د لاس په څېر عضو ايجابوي او نه دلته د الله تعالی د ذات په اړه څه ويل شوي؛ که بحث د الله تعالی د ذات په اړه وی نو داسي به ويل کېدل: لله اليد؛ د قرآن په هيڅ آيت کي به دا ونه مومئ چي د الله تعالی د ذات څرنګوالي په اړه صراحتاً يا اشارتاً څه ويل شوي؛ حتی دا هم نه مومو چي د الله تعالی د ذات په اړه د تفکر سپارښتنه په کي شوې وي؛ له همدې امله رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: لا تفكروا في الله: د الله تعالی د ذات په اړه فکر مه کوئ؛ تاسو پرې احاطه نه شئ کولی.

دا شاذ مسلك د ابن تيميه او د هغه د يارانو له لوري رامنځته شوی؛ په خير القرون؛ صحابه، تابعين، تبع تابعين او ورپسې نسلونو کي ئې هيڅ بېلګه او مثال نه مومو؛ په خير القرون کي؛ نه يوازي هيچا الله تعالی ته د عضو او غړي ثابتولو هڅه نه ده کړې او حتی له څه ويلو ئې ډډه کړې؛ خو اهل ظاهر؛ په استعارو او متشابه آيتونو د استناد په مټ؛ ناکامه او قبيح هڅه کړې؛ او وايي: خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړی، دوه لاسونه، دوه پښې، هر لاس او پښه ئې پنځه پنځه ګوتي، ساق، دوه سترګي، دوه غوږونه، څادر، لونګ، د سرو زرو نعلين، د ناستي لپاره عرش او کرسي ... لري، د قيامت په ورځ به ئې ساق بربنډ شي، له عرش د زمکي آسمان ته راکوزېږي، خاندي، .... يعني له هره پلوه انسان ته ورته؛ خو په پای کي وايي: بلا تشبيه او بلا تكييف؛ او دا هم ځکه وايي چي الله تعالی فرمايلي: (... لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ...)؛ د دې آيت معنی دا ده چي په ټول عالم کي هيڅ شی په خپل ذات او صفاتو کي الله تعالی ته

ورته نه دئ؛ اهل ظاهر د دې لپاره چې وښيي؛ دوی الله تعالی له انسان سره نه دئ تشبيه کړی؛ وايي: الله تعالی دوه لاسونه لري خو لاسونه ئې د انسان په څېر نه دي!! يعني چې الله تعالی هم انسان ته ورته دئ او هم نه دئ ورته؛ دا يقيناً چې مغالطه ده؛ هم له ځان سره او هم له نورو سره؛ الله تعالی هغه ذات دئ چې په ټولو مخلوقاتو کې هيڅ يو ئې په هيڅ څه کې الله تعالی ته ورته نه دئ؛ مخلوق جسم لري، اجزاء او اعضاء لري، نه وي، پيدا شي، له منځه ولاړ شي، حالت ئې بدلېږي، ووړ وي؛ ځوان شي، زوړ شي، مړ شي، مکان ته اړ دئ، په يوه وخت کې يوازي يو ځای وي، له يوه ځای بل ته د تګ لپاره وخت ته ضرورت لري، .... او په سلګونو نور مشخصات؛ خو الله تعالی له دې ټولو منزه دئ؛ څوك چې په دغو کې هر څه الله تعالی ته منسوب کړي؛ د قرآن د دې آيت مخالفت ئې کړی:

فَلا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الأَمْثَالَ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ ﴿٧٤﴾ النحل

نو الله ته مثالونه مه بيانوئ؛ يقيناً چې الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

د دې ځلاندي او څرګندي الهي لارښوونې معنی دا ده چې انسان د الله تعالی د ذات په څرنګوالي د پوهېدو لپاره نه لازم درك او فهم لري او نه علم؛ د ادراك او فهم داسي ملکه او استعداد نه لري چې په مرسته ئې د الله تعالی د ذات څرنګوالی درك کړی شي؛ د عقل وزرونه ئې دلته د الوت توان نه لري؛ او د بيان لپاره ئې په خپل قاموس کې لازم الفاظ او اسماء نه مومي؛ د ده ټول اسماء او صفات د هغه څه په اړه دي چې په خپلو سترګو ئې ګوري؛ لمر، سپوږمۍ، آسمان، زمکه، غر، ونه، بوټی، سپين، تور، سور، تود، سوړ، ښوی، ځيږ، ... خو د غيب عالم لپاره نه اسماء لري او نه صفات. د عالم شهود او عالم غيب تر منځ چې کومه کرښه ده؛ همدلته به توقف کوي؛ يوازي په هغه څه به اکتفاء کوي چې عليم رب، په غيب او مشهود پوه ذات ئې موږ ته معرفي کوي. هو؛ په دې ډګر کې له قرآن پرته بله داسي مرجع نه شي موندلی چې مرسته ئې وکړي.

## ۵۴ باب: د هغو شیانو د تصویرونو خرڅول چي روح نه لري

۱۰۴۵ ـ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّهُ أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا ابنَ عَبَّاسٍ إِنِّي إِنْسَانٌ إِنَّمَا مَعِيشَتِي مِنْ صَنْعَةِ يَدِي وَإِنِّي أَصْنَعُ هَذِهِ التَّصَاوِيرَ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فَإِنَّ اللَّهَ مُعَذِّبُهُ حَتَّى يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ، وَلَيْسَ بِنَافِخٍ فِيهَا أَبَدًا» فَرَبَا الرَّجُلُ رَبْوَةً شَدِيدَةً وَاصْفَرَّ وَجْهُهُ فَقَالَ: وَيْحَكَ إِنْ أَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تَصْنَعَ فَعَلَيْكَ بِهَذَا الشَّجَرِ كُلِّ شَيْءٍ لَيْسَ فِيهِ رُوحٌ. (بخاری: ۲۲۲۵)

۱۰۴۵ - له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي یو سړی ورته راغی او وئې ویل: اې ابن عباس! زه داسي انسان یم چي د معاش او ژوند وسیله مي د خپل لاس صنعت او کسب دئ؛ زه تصویرونه جوړوم؛ نو ابن عباس وویل: له هغه څه پرته بل څه نه درته وایم چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي؛ له هغه مي اورېدلي چي فرمایل ئې: ((څوک چي کوم تصویر جوړ کړي؛ نو الله تعالی به ئې تر هغه عذابوونکی وي چي روح په کي پو کړي او هیڅکله پو کوونکی نشي کېدی))؛ سخت ووېرېدو، رنګ ئې زېړ شو؛ نو ابن عباس وویل: افسوس ستا په حال؛ که ئې له کولو لاس نه اخلې؛ نو د دغو ونو او نورو هغو شیانو تصویرونه جوړوه چي روح نه لري.

دا روایت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۲۵ - ۵۹۶۳ - ۷۰۴۲ - دوه ئې سره ورته دي؛ په (۷۰۴۲) کي دا مطالب هم راغلي: مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ، وَلَنْ يَفْعَلَ، وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ، وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، أَوْ يَفِرُّونَ مِنْهُ، صُبَّ فِي أُذُنِهِ الآنُكُ يَوْمَ القِيَامَةِ: چا چي د کوم داسي خوب جوړولو هڅه وکړه چي لیدلی ئې نه دئ؛ په دې به ګمارل کېږي چي د وربشو د دوو دانو د سر نري تارونه سره وتړي؛ چي نه ئې شي کولی؛ او څوك چي د نورو خبرو

ته غوږ نیسي؛ په داسي حال کې چي هغوی ترې کرکه لري؛ یا ترې تښتي؛ نو د قیامت په ورځ به ئې په غوږونو کې ویلې سرب توی شي.

## ٥٥ باب: د آزاد انسان خرڅولو گناه

١٠٤٦ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «قَالَ اللَّهُ: ثَلاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ، وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ».(بخارى: ٢٢٢٧)

١٠٤٦ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي نبي صلى الله علیه و سلم فرمایلي: ((الله تعالی فرمایي: درې کسان داسي دي چي د قیامت په ورځ به ئې زه په خلاف مدعي وم: هغه چي زما په نامه عهد وکړي خو مات ئې کړي او غدر وکړي، هغه چي آزاد انسان خرڅ کړي او بیه ئې وخوري او هغه چي څوک په مزدورۍ ونیسي؛ پوره کار ترې واخلي خو اجوره ئې بشپړه ورنه کړي)).

دا روایت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٢٢٧ - ٢٢٧٠ - غریب دئ؛ په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى بْن سُلَيْمٍ، إِسْمَاعِيل بْن أُمَيَّة، سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په متن کې ئې دا اشکال دئ چي وايي: قَالَ اللَّهُ: ثَلَاَثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ؛ الله تعالی ویلي چي زه به د قیامت په ورځ د دریو کسانو خلاف مدعي وم: په داسي حال کې چي دا مطلب په قرآن کې نه مومو؛ الباني ویلي چي دا روایت ضعیف دئ؛ خو په دې کې یحیی بن سلیم دئ؛ حافظ بن حجر د ده په اړه وايي: صادق دئ خو حافظه ئې کمزورې ده. حکم الألباني: ضعيف؛ لكن فيه يحيى بن سليم قال الحافظ ابن حجر صدوق سيء الحفظ.

له صحاح سته؛ په دریو صحیح مسلم، سنن ترمذي او سنن ابي داؤد

کې نه دئ راوړل شوي؛ په سنن ابن ماجه کې همدا روایت له همدې راویانو په دې صیغه راغلی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: زه به د قیامت په ورځ د دریو کسانو خلاف مدعي وم؛ په صحیح ابن حبان او شرح مشکل الآثار کې؛ د ابن ماجه په څېر راغلی. روایت دا دئ:

۲٤٤۲ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ كُنْتُ خَصْمَهُ خَصَمْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: رَجُلٌ أَعْطَى بِي، ثُمَّ غَدَرَ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ، وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا، فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُوفِهِ أَجْرَهُ " سنن ابن ماجه

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((درې کسان داسې دي چې زه به ئې په خلاف د قیامت په ورځ مدعي وم: هغه چې زما (د رب) په نامه عهد وکړي خو مات ئې کړي او غدر وکړي، هغه چې آزاد انسان خرڅ کړي او بیه ئې وخوري او هغه چې څوک په مزدورۍ ونیسي؛ پوره کار ترې واخلي خو اجوره ئې بشپړه ورنه کړي)).

په ټول یقین سره ویلی شو چې د ابن ماجه او همفکرو روایت څکه غوره او ارجح دئ چې د قیامت په ورځ به الله تعالی مدعي نه بلکې قاضي وي.

## ٥٦ باب: د مردار شوي څارویو او بتانو خرڅول

۱۰٤۷ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ: «إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ» فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ؟ فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ، فَقَالَ: «لا، هُوَ حَرَامٌ» ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: «قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ

إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ». (بخاری: ۲۲۳۶)

۱۰۴۷ - له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د فتحي په کال؛ په مکه کي اورېدلي چي وئې فرمايل: ((الله تعالی د شرابو، مردار شوي حيوان، خنزير او بتانو پېر پلور حرام کړي)) ورته وويل شول: يا رسول الله! د مردار شوي حيوان د وازگي (وازدي) په اړه څه وايئ؟ ځکه په هغې سره کښتۍ غوړېږي، پوستکي پري غوړېږي او خلک د رڼا لپاره کار ترې اخلي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: ((نه؛ دا حرام دي)) بيا رسول الله صلی الله علیه و سلم دلته وفرمايل: ((الله تعالی دي يهودان هلاک کړي؛ کله چي الله تعالی د حيواناتو وازگي پرې حرامي کړې؛ نو دوی به دا وازگي ويلي کولې او پلورلې؛ او بيه به ئې خوړله)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ په پنځو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: قُتَيْبَة، لَيْث، يَزِيد بْنِ أَبِي حَبِيب، عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاح، جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَ؛ خو د صحاح سته په شمول اکثرو مهمو کتابونو له همدې متن او راويانو سره راوړی.

## ۵۷ باب: د سپي بيه

۱۰۴۸ ـ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ. (بخاری: ۲۲۳۷)

۱۰۴۸ - له ابي مسعود انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د سپي له بيي، د زناکاري له اجورې او د کاهن (فال نيوونکي او جادوگر) له حلوان (شکرانې) نهي کړې ده.

حُلْوَان له حُلْو او خوږ اخستل شوی؛ او د کاهن شکرانه او اجوره ځکه په دې نامه ياده شوې چي مفت او بې زحمته ئې تر لاسه کوي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٠٨٦ - ٢٢٣٧ - ٢٢٨٢ - ٥٣٤٦ - ٥٣٤٧ - ٥٧٦١ -

توپیر: په ځینو کې نَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ وَثَمَنِ الدَّمِ، وَنَهَى عَنِ الوَاشِمَةِ وَالمَوْشُومَةِ، وَآكِلِ الرِّبَا وَمُوكِلِهِ، وَلَعَنَ المُصَوِّرَ (د سپي له بیې، د وینې ایستلو له اجورې، بل ته له خال وهلو او پر ځان خال وهونکې، د سود له خوړلو او ورکولو؛ نهي کړې او پر مصور ئې لعنت ویلی)؛ په ځینو کې نَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَمَهْرِ البَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الكَاهِنِ(د سپي له بیې، د زناکارې له اجورې او د کاهن له َشکرانې ئې نهي کړې) او په ځینو کې لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الوَاشِمَةَ وَالمُسْتَوْشِمَةَ، وَآكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ، وَنَهَى عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ، وَكَسْبِ البَغِيِّ، وَلَعَنَ المُصَوِّرِينَ (پر خال وهونکې او خال وهونکې، پر سود خوړونکي او سود ورکوونکي لعنت ویلی، د سپي له بیې او د زناکارې فاحشې له کسب ئې نهي کړې او پر تصویر ایستونکو ئې لعنت ویلی)؛ راغلي.

په دې اړه مو مخکینیو درسونو کې وضاحت کړی چې ځینو فقهاء د تعلیمي سپي د پېر پلور په جواز قائل دي.

## ٣٤ کتاب: سَلَم

سَلَم هغې سودا ته وایي چې پېرونکی؛ یو جنس او توکی؛ په نه شتون کې ئې پېري؛ نوع، مقدار او موده ئې ټاکې؛ مبلغ اوس ورکوي او متاع وروسته په خپلې نېټې تر لاسه کوي.

### ١ باب: د ټاکلې پیمانې سلم

١٠٤٩ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَالنَّاسُ يُسْلِفُونَ فِي الثَّمَرِ الْعَامَ وَالْعَامَيْنِ، فَقَالَ: «مَنْ سَلَّفَ

فِي تَمْرٍ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ». وفی روایة: «إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ». (بخاری: ۲۲۳۹ ـ ۲۲۴۱)

۱۰۴۹ – له ابن عباس رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کې مدينې ته راغی چي خلکو به په مېوو کې یو کال او دوه کاله وړاندي سودا کوله؛ نو وئې فرمایل: ((څوک چي په مېوې کي د سلم سودا کوي؛ نو د معلومي پيمانې او معلوم وزن له مخي دي د سلم سودا وکړي)). او په بل روایت کي دا هم ویل شوي: ((تر معلومي مودې پوري)).

## ۲ باب: له هغه چا سره سلم چي اصل مال نه وي ورسره

۱۰۵۰ ـ عَنْ ابْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّا كُنَّا نُسْلِفُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ.

۱۰۵۰ – له ابن ابي اوفی رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: موږ به د رسول الله صلی الله علیه و سلم، ابو بکر او عمر (رضي الله عنهما) په زمانه کي په غنمو، وربشو، مميزو او خرما کي د سلم معامله کوله.

۱۰۵۱ - وفی روایة: قَالَ: كُنَّا نُسْلِفُ نَبِيطَ أَهْلِ الشَّأْمِ فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّيْتِ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ فقیل له: إِلَى مَنْ كَانَ أَصْلُهُ عِنْدَهُ قَالَ: مَا كُنَّا نَسْأَلُهُمْ عَنْ ذَلِكَ. (بخاری: ۲۲۴۲ ـ ۲۲۴۵)

۱۰۵۱ – او په بل روایت کي وايي: موږ به د شام له انباطیانو(بزگرانو) سره په غنمو، وربشو او غوړیو کي؛ په معلومه پیمانه تر ټاکلې مودې د سلم سودا کوله؛ ورته وویل شول: آیا له هغو سره چي اصل مال (مېوه یا غله) به ورسره وو؟ وئې ویل: موږ به د دې پوښتنه نه ترې کوله.

دا روایت هم غریب دئ او هم له بخاري پرته په بل کتاب کې نه

دئ راوړل شوی.

# ۳۵کتاب: شُفْعَه

## ۱ باب: له بیعي مخکي د شفعې حق

۱۰۵۲ ـ عَنْ أَبِى رَافِعٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ جَاء إِلى سعد بن أبى وقاص رضى الله عنه، فَقَالَ لَهُ: ابْتَعْ مِنِّي بَيْتَيَّ فِي دَارِكَ، فَقَالَ سَعْدٌ: وَاللَّهِ لا أَزِيدُكَ عَلَى أَرْبَعَةِ آلافٍ مُنَجَّمَةً أَوْ مُقَطَّعَةً قَالَ أَبُو رَافِعٍ: لَقَدْ أُعْطِيتُ بِهَا خَمْسَ مِائَةِ دِينَارٍ وَلَوْلا أَنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ مَا أَعْطَيْتُكَهَا بِأَرْبَعَةِ آلافٍ، وَأَنَا أُعْطَى بِهَا خَمْسَ مِائَةِ دِينَارٍ فَأَعْطَاهَا إِيَّاهُ». (بخاری: ۲۲۵۸)

۱۰۵۲ - له ابو رافع رضي الله عنه؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم آزاد شوی غلام؛ روایت دئ چي سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته ورغی او ورته وئې ویل: زما دا دوې کوټې چي ستا په مېنه کي دي؛ رانه واخله؛ نو سعد وویل: والله چي تر څلور زره په زیاته بیه ئې نه اخلم او هغه هم په قسط سره؛ ابو رافع وویل: ما ته خو پنځه سوه دیناره راکول کېږي؛ که مي له رسول الله صلی الله علیه و سلم نه وی اورېدلی چي فرمایي: ((گاونډی د قرب (نژدېوالي) په اساس له نورو زیات مستحق دئ؛ نو په څلور زره مي نه درکولې؛ په داسي حال کي چي ما ته پرې پنځه سوه دینار راکول کېږي؛ نو هغه ته ئې ورکړې.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی. ځیني ابهامات په کي تر سترگو کېږي؛ له تعدیل پرته ئې په

معنی سم نه شو پوهېدی؛ د څلور زره څنګ کې د درهم یادونه نه ده شوې؛ دا وضاحت هم نه دئ شوی چې پنځه سوه دینار ولې تر څلور زره درهم زیات ګڼل شوي؟ یو دینار ۱۲ درهمه وو؛ ابو رافع د دینار خبره کوله او سعد د درهم؛ پنځه سوه دینار شپږ زره درهم کېږي؛ خو له دې کبله ئې په څلور زره درهم وپلورل چې دی ئې ګاونډ او تر بل مستحق وو.

## ۲ باب: کوم ګاونډی ډېر نژدې بلل کېږي؟

۱۰۵۳ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي جَارَيْنِ فَإِلَى أَيِّهِمَا أُهْدِي؟ قَالَ: «إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا». (بخاری: ۲۲۵۹)

۱۰۵۳ – له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چې ومې ویل: یا رسول الله! زه دوه ګاونډیان لرم؛ کوم یوه ته ئې هدیه ورکړم؟ وئې فرمایل: ((هغه ته چې دروازه ئې ډېره درته لنډه ده)).

دا روایت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۵۹ - ۲۵۹۵ - ۶۰۲۰ – غریب دئ او په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري. له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

# ۳۵کتاب: اجاره

## ۱ باب: د صالح سړي مزدورول

۱۰۵۴ ـ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَقْبَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِي رَجُلانِ مِنَ الأَشْعَرِيِّينَ فَقُلْتُ: مَا عَمِلْتُ أَنَّهُمَا يَطْلُبَانِ الْعَمَلَ، فَقَالَ: «لَنْ أَوْ لا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ». (بخاری: ۲۲۶۱)

۱۰۵۴ – له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: له دو اشعریانو

سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلم او ومي ویل: دا کار مي د دې لپاره نه دئ کړی چې دوی په کوم عمل او دندې گمارل غواړي؛ نو وئې فرمایل: ((موږ هغه څوك په کومې دندې نه گمارو چې په خپله ئې غواړي)).

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۶۱ - ۶۹۲۳ -

د سند له پلوه غریب دئ او د متن له پلوه دا ستونزه لري چې د (علمت) په ځای (عملت) راغلی چې ابهام ئې رامنځته کړی؛ له بخاري پرته په نورو کتابونو کې؛ د صحیح مسلم په شمول په دې صیغه راغلی:

قَالَ أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ: أَقْبَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِي رَجُلَانِ مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ: أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِي، وَالْآخَرُ عَنْ يَسَارِي فَكِلَاهُمَا سَأَلَ الْعَمَلَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ قَالَ: «مَا تَقُولُ يَا أَبَا مُوسَى أَوْ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ؟» قَالَ: قُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أَطْلَعَانِي عَلَى مَا فِي أَنْفُسِهِمَا، وَمَا شَعُرْتُ أَنَّهُمَا يَطْلُبَانِ الْعَمَلَ؛ .... فَقَالَ لِي: «لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمِلْنَا مَنْ أَرَادَهُ،...

ابو موسی رضي الله عنه وویل: له دو اشعریانو سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلم؛ یو مي ښي لاس ته او بل کیڼ لاس ته؛ دواړو په دندو گمارل وغوښتل؛ ... وئې فرمایل: ته څه وایې؛ اې ابو موسی؛ ومي ویل: یا رسول الله! په هغه ذات قسم چې ته ئې په حقه رالېږلی یې؛ زه ئې په هغه څه نه یم خبر کړی چې په زړه کې ئې درلودل؛ نه پوهېدم چې دوی په دندو د گمارلو مطالبه لري؛ .... نو ما ته ئې وفرمایل: ((موږ هغه څوك په کومې دندې نه گمارو چې په خپله ئې غواړي)).

له دې په څرگنده توگه معلومېږي چې د بخاري روایت په سمه توگه نه دئ نقل شوی.

## ۲ باب: د رمې پوول

۱۰۵۵ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الْغَنَمَ» فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟ فَقَالَ: «نَعَمْ كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لأَهْلِ مَكَّةَ». (بخاری: ۲۲٦۲)

۱۰۵۵ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((الله تعالی داسي نبي نه دئ لېږلی چي مېږي ئې نه وي پوولې)) اصحابو وویل: آیا تا هم؟ وئې فرمایل: ((هو؛ ما هم د څو قیراطو په بدل کي؛ د مکې د خلکو رمه پووله)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَحْمَد بْن مُحَمَّدٍ الْمَكِّيّ، عَمْرو بْن يَحْيَى، د عمرو نیکه او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري پرته په بل هیڅ مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

## ۳ باب: له مازدیگره تر شپې مزدوري

۱۰۵٦ ـ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَثَلُ الْمُسْلِمِينَ وَالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَأْجَرَ قَوْمًا يَعْمَلُونَ لَهُ عَمَلاً يَوْمًا إِلَى اللَّيْلِ عَلَى أَجْرٍ مَعْلُومٍ، فَعَمِلُوا لَهُ إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ، فَقَالُوا: لا حَاجَةَ لَنَا إِلَى أَجْرِكَ الَّذِى شَرَطْتَ لَنَا وَمَا عَمِلْنَا بَاطِلٌ، فَقَالَ لَهُمْ: لا تَفْعَلُوا أَكْمِلُوا بَقِيَّةَ عَمَلِكُمْ وَخُذُوا أَجْرَكُمْ كَامِلاً، فَأَبَوْا وَتَرَكُوا، وَاسْتَأْجَرَ أَجِيرَيْنِ بَعْدَهُمْ، فَقَالَ لَهُمَا: أَكْمِلا بَقِيَّةَ يَوْمِكُمَا هَذَا وَلَكُمَا الَّذِى شَرَطْتُ لَهُمْ مِنَ الأَجْرِ، فَعَمِلُوا حَتَّى إِذَا كَانَ حِينُ صَلاةِ الْعَصْرِ قَالا: لَكَ مَا عَمِلْنَا بَاطِلٌ وَلَكَ الأَجْرُ الَّذِى جَعَلْتَ لَنَا فِيهِ، فَقَالَ لَهُمَا: أَكْمِلا بَقِيَّةَ عَمَلِكُمَا مَا بَقِيَ مِنَ النَّهَارِ شَيْءٌ يَسِيرٌ، فَأَبَيَا، وَاسْتَأْجَرَ قَوْمًا أَنْ يَعْمَلُوا لَهُ بَقِيَّةَ يَوْمِهِمْ، فَعَمِلُوا

بَقِيَّةَ يَوْمِهِمْ حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ، وَاسْتَكْمَلُوا أَجْرَ الْفَرِيقَيْنِ كِلَيْهِمَا، فَذَلِكَ مَثَلُهُمْ وَمَثَلُ مَا قَبِلُوا مِنْ هَذَا النُّورِ». (بخاری: ۲۲۷۱)

۱۰۵۶ - له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: د مسلمانانو او یهودو او نصرانیانو مثال هغه چا ته ورته دئ چي یوه ډله ئې د معلومي اجورې په بدل کي استخدام کړه چي د ده لپاره یو کار یوه ورځ تر شپې پوري وکړي؛ نو هغوی تر نیمي ورځي کار وکړ او وئې ویل: ستا هغي بدلې ته ضرورت نه لرو چي موږ ته دي ټاکلې؛ او څه چي موږ کړي؛ باطل دي؛ ورته وئې ویل: داسي مه کوئ؛ پاته کار مو بشپړ کړئ؛ او بشپړه اجوره مو واخلئ؛ ډډه ئې وکړه او کار ئې پرېښود؛ له دوی وروسته ئې دوه نور اجیران استخدام کړل؛ او ورته وئې ویل: دا کار په خپلي پاته ورځي کي بشپړ کړئ او تاسو ته به همغه بدله درکوم چي ټاکلې مي وه؛ دوی تر هغه کار وکړ چي د مازدیگر د لمانځه وخت شو؛ نو وئې ویل: ستا لپاره همدا کار دئ چي خوشي مو وکړ؛ او هغه اجوره هم ستا شوه چي موږ ته دي ټاکلې وه؛ ورته وئې ویل: خپل پاته کار بشپړ کړئ؛ د ورځي کومه برخه چي پاته ده؛ لږ ده؛ ډډه ئې وکړه؛ نو بله ډله ئې استخدام کړه چي د ده لپاره؛ په خپلي پاته ورځ کي کار وکړي؛ نو هغوی په خپلي پاته ورځ کي تر هغه کار وکړ چي لمر ولوېد او په دې توگه ئې د دواړو مخکینیو ډلو بشپړ اجر او بدله تر لاسه کړه. نو همدا د یهودانو او نصرانیانو؛ او د هغو (مسلمانانو) مثال دئ چي دا نور (اسلام) ئې قبول کړی.

دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۵۵۸ - ۲۲۷۱ – غریب دئ؛ په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو أُسَامَةَ، بُرَيْد، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى؛ له بخاري پرته یوازي په یوه بل مهم کتاب؛ سنن الکبری للبیهقي کي راوړل شوی.

## ٤ باب: كه مزدور خپله اجوره وانخلي

١٠٥٧ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «انْطَلَقَ ثَلاثَةُ رَهْطٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَتَّى أَوَوُا الْمَبِيتَ إِلَى غَارٍ فَدَخَلُوهُ فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الْغَارَ، فَقَالُوا: إِنَّهُ لا يُنْجِيكُمْ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللَّهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ: اللَّهُمَّ كَانَ لِى أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ، وَكُنْتُ لا أَغْبِقُ قَبْلَهُمَا أَهْلاً وَلا مَالاً، فَنَأَى بِى فِى طَلَبِ شَىْءٍ يَوْمًا، فَلَمْ أُرِحْ عَلَيْهِمَا حَتَّى نَامَا، فَحَلَبْتُ لَهُمَا غَبُوقَهُمَا، فَوَجَدْتُهُمَا نَائِمَيْنِ، وَكَرِهْتُ أَنْ أَغْبِقَ قَبْلَهُمَا أَهْلاً أَوْ مَالاً، فَلَبِثْتُ وَالْقَدَحُ عَلَى يَدَىَّ أَنْتَظِرُ اسْتِيقَاظَهُمَا حَتَّى بَرَقَ الْفَجْرُ، فَاسْتَيْقَظَا فَشَرِبَا غَبُوقَهُمَا، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ، فَانْفَرَجَتْ شَيْئًا لا يَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ»، قَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَقَالَ الآخَرُ: اللَّهُمَّ كَانَتْ لِى بِنْتُ عَمٍّ كَانَتْ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَىَّ، فَأَرَدْتُهَا عَنْ نَفْسِهَا فَامْتَنَعَتْ مِنِّى، حَتَّى أَلَمَّتْ بِهَا سَنَةٌ مِنَ السِّنِينَ، فَجَاءَتْنِى فَأَعْطَيْتُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ دِينَارٍ عَلَى أَنْ تُخَلِّىَ بَيْنِى وَبَيْنَ نَفْسِهَا فَفَعَلَتْ، حَتَّى إِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهَا، قَالَتْ: لا أُحِلُّ لَكَ أَنْ تَفُضَّ الْخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ، فَتَحَرَّجْتُ مِنَ الْوُقُوعِ عَلَيْهَا، فَانْصَرَفْتُ عَنْهَا وَهِىَ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَىَّ، وَتَرَكْتُ الذَّهَبَ الَّذِى أَعْطَيْتُهَا، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ، فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ، غَيْرَ أَنَّهُمْ لا يَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ مِنْهَا» قَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَقَالَ الثَّالِثُ: اللَّهُمَّ إِنِّى اسْتَأْجَرْتُ أُجَرَاءَ فَأَعْطَيْتُهُمْ أَجْرَهُمْ غَيْرَ رَجُلٍ وَاحِدٍ تَرَكَ الَّذِى لَهُ وَذَهَبَ،

فَثَمَّرْتُ أَجْرَهُ حَتَّى كَثُرَتْ مِنْهُ الأَمْوَالُ فَجَاءَنِي بَعْدَ حِينٍ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ أَدِّ إِلَيَّ أَجْرِى، فَقُلْتُ لَهُ: كُلُّ مَا تَرَى مِنْ أَجْرِكَ مِنَ الإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيقِ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ لا تَسْتَهْزِئُ بِى، فَقُلْتُ: إِنِّي لا أَسْتَهْزِئُ بِكَ، فَأَخَذَهُ كُلَّهُ فَاسْتَاقَهُ فَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا، اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ، فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ فَخَرَجُوا يَمْشُونَ». (بخاری: ۲۲۷۲)

۱۰۵۷ – له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي واورېدل چي فرمایل ئې: ((له هغو چي تر تاسو وړاندي وو؛ درې تنه په ګډه وخوځېدل؛ تر هغه چي د شپې تېرولو لپاره یوه غار ته ننوتل؛ نو له غره یوه لویه ډبره راورغړېده او د غار خوله ئې پرې بنده کړه؛ دوی سره وویل: له دې ډبري مو بل څه نه شي ژغورلی مګر دا چي الله تعالی ته د خپلو صالح اعمالو په وړاندي کولو سره دعاء وکړئ؛ نو د دوی له منځه یوه سړي وویل: خدایه! عمر خوړلي مور او پلار مي درلودل؛ او ما به تر دوی وړاندي نه خپل اهل ته خواړه ورکول او نه غلامانو ته؛ یوه ورځ د یوه کار له وجهي وځنډېدم، نو په داسي حال کي دوی ته ورسېدم چي ویده شوي وو؛ نو شیدې مي د دوی په لوښو کي ورته ولوشلې؛ خو دواړه مي ویده وموندل؛ او دا مي ښه ونه ایسېده چي تر دوی مخکي خپلو اولادونو او غلامانو ته ماښامنی ورکړم، نو همداسي ولاړ پاته شوم چي جام مي په لاسو کي وو؛ تر هغه د دوی راویښېدو ته منتظر پاته شوم؛ چي سهار شو؛ دوی (مور، پلار) راویښ شول او خپلي شیدې ئې وڅښلې؛ خدایه! که دا کار مي صرف ستا د رضاء لپاره کړی وي؛ نو له دغه کړاو مو وژغوره چي د دې تیږي له کبله ورسره مخامخ یو!! نو دومره وښوېده چي څه چاود راپیدا شو؛ خو په وتلو نه توانېدل؛ نبي صلی الله علیه و سلم فرمايي: ((بیا دوهم وویل: خدایه! زما یوه د تره لور وه چي تر هر

چا ډېره راباندي گرانه وه؛ هوسي او نفسي غوښتنه مي ترې وکړه؛ خو هغې له ما ډډه وکړه؛ تر هغه چي د وچکاليو يوه کال ځورولې وه؛ ما ته راغله؛ يو سل شل دينار مي په دې شرط ورکړل چي زما او دې تر منځ خلوت ته چمتو شي؛ نو همداسي ئې وکړل؛ تر هغه چي زه پرې مسلط شوم؛ وئې ويل: له الله ووېرېږه؛ درته حلال نه دي چي مُهر له حق ئې پرته له منځه يوسې؛ نو له دې زړه تنگی شوم چي په اړه ئې گناه کې پرېوځم؛ نو په داسي حال کې ترې منصرف شوم چي تر ټولو خلکو مي زياته مينه ورسره وه؛ او هغه سره زر مي پرېښودل چي ورکړي مي وو؛ خدايه! که مي دا کار ستا د رضاء لپاره کړی وي؛ له هغه څه مو وژغوره چي په کې واقع يو؛ نو ډېره وخوځېده؛ خو پرته له دې چي دوی ترې وتلی شي؛ نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((او درېيم وويل: خدايه! ما مزدوران نيولي وو؛ له يوه سړي پرته مي ټولو ته اجوره ورکړه؛ هغه خپله اجوره پرېښوده او ولاړ؛ ما ئې دا اجوره په کار واچوله چي ښه ډېر مال ترې جوړ شو؛ څه موده وروسته راته راغی؛ او وئې ويل: اې د خدای بنده! زما اجوره راکړه؛ ما ورته وويل: دا ټول څه چي ته ئې گورې؛ اوښان، غوايي، مېږي او غلامان؛ ستا د اجورې دي؛ وئې ويل: اې د خدای بنده! ملنډي مه راباندي وهه؛ ومي ويل: ملنډي نه درباندي وهم؛ نو هغه دا ټول شيان تر لاسه او روان ئې کړل او هيڅ څه ئې پرېنښودل؛ خدايه! که دا کار مي ستا د رضاء لپاره کړی وي؛ نو له دې کړاو چي په کې لوېدلي يو؛ موږ وباسه! په دې سره تيږه ايسته شوه او دوی ووتل او روان شول)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دیٔ؛ په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري؛ راويان ئې دا دي: أَبُو اليَمَان، شُعَيْب، الزُّهْرِيّ، سَالِم بْن عَبْدِ اللَّهِ پلار ئې عَبْد اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَ؛ له مهمو کتابونو يوازي په بخاري او مسلم کې راوړل شوی.

## ۵ باب: هغه څه چي د دم، دعاء په بدل کي ورکول کېږي

۱۰۵۸ ـ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: انْطَلَقَ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا حَتَّى نَزَلُوا عَلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَاسْتَضَافُوهُمْ، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ، فَلُدِغَ سَيِّدُ ذَلِكَ الْحَيِّ، فَسَعَوْا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لا يَنْفَعُهُ شَيْءٌ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَوْ أَتَيْتُمْ هَؤُلاءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ نَزَلُوا لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيْءٌ، فَأَتَوْهُمْ فَقَالُوا: يَا أَيُّهَا الرَّهْطُ إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ وَسَعَيْنَا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لا يَنْفَعُهُ، فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ مِنْ شَيْءٍ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: نَعَمْ وَاللَّهِ إِنِّي لأَرْقِي، وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَلَمْ تُضَيِّفُونَا، فَمَا أَنَا بِرَاقٍ لَكُمْ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلاً، فَصَالَحُوهُمْ عَلَى قَطِيعٍ مِنَ الْغَنَمِ، فَانْطَلَقَ يَتْفِلُ عَلَيْهِ وَيَقْرَأُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ فَكَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَالٍ، فَانْطَلَقَ يَمْشِي وَمَا بِهِ قَلَبَةٌ، قَالَ: فَأَوْفَوْهُمْ جُعْلَهُمِ الَّذِى صَالَحُوهُمْ عَلَيْهِ، فَقَالَ بَعْضُهُمُ: اقْسِمُوا، فَقَالَ الَّذِى رَقَى لا تَفْعَلُوا حَتَّى نَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَذْكُرَ لَهُ الَّذِى كَانَ فَنَنْظُرَ مَا يَأْمُرُنَا، فَقَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ فَقَالَ: «وَمَا يُدْرِيكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ؟» ثُمَّ قَالَ: «قَدْ أَصَبْتُمُ اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا» فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ۲۲۷۶)

۱۰۵۸ – له ابو سعید رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم له اصحابو یوه ډله په سفر ووتل؛ تر هغه چي د عربو یوه کلي ته ورسېدل؛ د مېلمه پالني غوښتنه ئې تري وکړه؛ خو مېلمانه ئې نه کړل؛ بیا د کلي مشر وچیچل شو؛ په ټول توان ئې د هغه لپاره هڅه وکړه؛ خو ګټه ئې ورونه رسېده؛ ځینو ئې وویل: که دغي ډلي

ته ورشئ چي دلته کوز شوي؛ ښايي له دوی سره به څه چاره وي؛ ورته ورغلل او وئي ويل: اې ټوليه! زموږ مشر چيچل شوی؛ ټوله هڅه مو وکړه خو گټه ئې ونه کړه؛ آيا ستاسو له کوم يوه سره څه شته؟ يوه ئې وويل: هو؛ والله چي زه دم کوم؛ خو والله چي له تاسو مو د مېلمستيا غوښتنه وکړه خو تاسو مېلمانه نه کړو؛ نو تر هغه دم نه کوم چي څه بدله راته ونه ټاکئ؛ پر څو مېږو سره جوړ شول؛ نو وخوځېدو، په داسي حال کې ئې چوف کول چي فاتحه (الحمد لله رب العالمين)؛ به ئې ويله؛ داسي شو لکه چي له تړلي پړي آزاد شوی وي؛ داسي روان شو لکه چي هيڅ مرض ئې نه وي؛ نو هغه څه ئې بشپړ ورکړل چي پرې سلا شوي وو؛ نو ځينو ئې وويل: وئې وېشئ؛ چا چي دم کړی وو هغه وويل: تر هغه څه مه کوئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورشو؛ او د هغه څه يادونه وکړو چي وشول؛ بيا وگورو چي څه امر راته کوي؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلل او هغه ته ئې کيسه وکړه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((څه شي پوه کړې چي په دې سره دم کېدی شي؟)) بيا ئې وفرمايل: ((سم کار مو کړئ؛ وئې وېشئ او ما ته هم په خپلو کې يوه برخه وټاکئ)) بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم وخندل.

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۷۶ - ۵۷۴۹؛ غريب دئ؛ په ټولو طبقو کې يو يو راوي لري، لومړی راوي ئې ابو سعيد خدري دئ؛ نور راويان ئې د بصرې اوسېدونکي دي؛ ټول راويان ئې په کنيه سره ياد شوي نه په خپلو اصلي نومونو، په روايت کې دا نه دي ويل شوي چي ابو سعيد په خپله په دې ډلې کې حاضر وو او دا دم هم د ده له لوري شوی؛ پوښتنه راولاړېږي چي ولې دا کار شوی؟ همد راز ابو سعيد د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رحلت په وخت کې ۲۰ کلن وو؛ نو دی به همدا کال يا لږ وړاندي؛ د سريې د مشر په توگه لېږل شوی وي؛ يعني تر دې وخت ده او نورو ته معلومه نه وه چي په دم

اجوره اخيستل جائز دي که نه؛ دا کار ئې په خپله رأی کړی؛ دا ولي؟ آيا دا شکرانه تر لاسه کول خو به يو استثنايي کار او له دې کبله نه وي شوی چي کليوالو دوی ته يوه گوله ډوډۍ هم ورنه کړه؛ په مقابل کي ئې دوی همدا کار ورسره کړی؟ او که رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی دا کار سم گڼلی وي؛ نو له همدې کبله به ئې کړی وي؛ نه دا چي په دم شکرانه تر لاسه کول؛ په هر صورت کي جائز وي؛ دا خبره په هغه صورت کي کېدی شي چي په مدينه کي چا دم کړی وي او په دم ئې اجوره تر لاسه کړې وي؛ که دا کار شوی وی نو دې ډلي به خبره تر رسول الله صلی الله عليه و سلم پوري نه معطله کوله.

دا روايت په شُعَبُ الإيمان کي له مزيد وضاحتونو سره په دې صيغه راغلی:

۱۱٤۷۲ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا فَكُنْتُ فِيهِمْ، فَأَتَيْنَا عَلَى قَرْيَةٍ، فَاسْتَطْعَمْنَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُطْعِمُونَا شَيْئًا، فَجَاءَنَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْقَرْيَةِ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْعَرَبِ فِيكُمْ رَجُلٌ يَرْقِي؟ فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: قُلْتُ: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ: مَلِكُ الْقَرْيَةِ يَمُوتُ. قَالَ: فَانْطَلَقْنَا مَعَهُ فَرَقَيْتُهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَرَدَّدْتُهَا عَلَيْهِ مِرَارًا، فَعُوفِيَ، فَبَعَثَ إِلَيْنَا بِطَعَامٍ، وَبِغَنَمٍ تُسَاقُ، فَقَالَ أَصْحَابِي: لَمْ يَعْهَدْ إِلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا بِشَيْءٍ، لَا نَأْخُذُ مِنْهُ شَيْئًا حَتَّى نَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسُقْنَا الْغَنَمَ حَتَّى أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَدَّثْنَاهُ، فَقَالَ: «كُلْ وَأَطْعِمْنَا مَعَكَ، وَمَا يُدْرِيكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ» قَالَ: قُلْتُ: أُلْقِيَ فِي رَوْعِي

- له ابو سعيد خدري روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه ډله ولېږله چي زه هم په کي وم؛ يوه کلي ته ورسېدو؛ خواړه مو له کليوالو وغوښتل خو له دې ئې ډډه وکړه چي کوم څه راباندي

وخوري؛ بيا د كليوالو يو تن راته راغی او وئې ويل: اې د عربانو ډلې! آيا په تاسو کې داسي سړی شته چي دم کوي؟ ومي ويل: څه دي؟ وئې ويل: د كلي ملك مري؛ ابو سعيد وويل: له ده سره وخوځېدو؛ نو هغه مي په فاتحة الكتاب؛ دم كړ؛ څو ځلي مي پرې تكرار كړه؛ نو روغ شو؛ بيا ئې موږ ته خواړه راولېږل او څه مېږي چي پوول كېږي؛ نو زما يارانو وويل: رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته په دې اړه هيڅ امر نه دئ كړی؛ هيڅ څه نه ترې اخلو؛ تر هغه چي نبي صلی الله علیه و سلم ته ورشو؛ نو مېږي مو رواني كړې؛ تر هغه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلو؛ نو ورته ومو ويل: وئې فرمايل: وئې خورئ او په خوراك کې مو درسره ګډ كړئ؛ څه شي خبر كړې چي په دې سره دمول كېدی شي؟ ومي ويل: همداسي مي په زړه کې واچول شوه.

دا روايت چي د بخاري تر روايت له هره پلوه غوره بريښي؛ هم د ځينو وضاحتونو له پلوه او هم د اجورې د نه غوښتلو له پلوه؛ دا مطلب هم زموږ مخي ته ږدي چي الله تعالی مؤمن ته فهم او بصيرت وركوي؛ او كه د خپل مؤمنانه فهم له مخي په څه پوه شي؛ دا يو محمود او مقبول كار دئ نه ممنوع او مقبوح؛ دا دئ ګورئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ابو سعيد رضي الله عنه په دې نه دئ ملامت كړی.

د بخاري له روايت په دم؛ شكرانه اخيستل معلومېږې خو د شعب الإيمان له روايت نه غوښتل او نه اخيستل؛ هغه روايت له هره پلوه ستونزي لري؛ صحيح بڼه ئې د شعب الإيمان روايت دئ؛ په دم، دعاء، دعوت، أذان، امامت، د قرآن تلاوت؛ اجوره او شكرانه اخستل ناروا دي؛ رقيه په اصل کې دعاء ده؛ تأثير په دعاء کې دئ نه پو كولو کې؛ فاتحه تر ټولو جامع او اغېزمنه دعاء ده؛ د قرآن د ټولو دعاګانو خلاصه ده؛ ابو سعيد خدري د دعاء په توګه ويلي؛ د اجورې او شكرانې غوښتنه ئې نه ده كړې؛ له ستنېدو وروسته كليوالو په خپل خوښه د خوراك تر څنګ څو مېږي هم وروړې؛ ده او ياران ئې په اخستلو کې متردد وو؛ موضوع

ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم پرېکړي ته محول کړه؛ د عربو د عام دود له مخې دوی پر کلیوالو دا حق درلود چې د مېلمنو په توګه ئې وپالي؛ درناوی او خوراك ورکول؛ د عربو عام او منل شوی دود او رواج وو؛ دا د مېلمه حق ګڼل کېدو؛ خو دوی نه په خپل کلي کې دا مېلمانه ومنل او نه ئې وپالل؛ د بیمار مشر له ژغورنې وروسته ئې په خپله خوښه دا شیان ورلېږلي وو؛ په روایت کې د کلیوالو له دې وینا (اې د عربو ټولیه!!) په ځرګنده توګه معلومېږي چې دا کلیوال غیر عرب او غالباً یهودان وو؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لارښوونې دا نه معلومېږي چې د دم شکرانه اخستل ئې جائز ګڼلې؛ د کلیوالو د بد چلن په وړاندې ئې د ابو سعید خدري رضي الله عنه او د ده د ملګرو کار سم ګڼلی؛ له دې په دم د شکرانې تر لاسه کولو جواز رااېستل؛ مغالطه ده.

هغه چې په دم او تعویذ شکرانې تر لاسه کوي او همدا ئې د دکان متاع او د روزي وسیله ده؛ داسې روایات خوښوي چې د دې کار جواز ترې ثابت شي؛ که څه هم نه د سند له پلوه صحیح وي او نه د متن له پلوه.

## ٦ باب: د مینده ځاروي د پرېښودو اجوره

۱۰۵۹ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: نَهَی النَّبِیُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ. (بخاری: ۲۲۸٤)

۱۰۵۹ - له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ښځینه ځاروي ته د نر (مینده) د پرېښودو په بدل کې د اجورې یا کرایې له اخستلو نهي کړې ده.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په شپږو طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُسَدَّد، عَبْدُ الوَارِث، إِسْمَاعِيل بْن إِبْرَاهِيم، عَلِيّ بْنِ الحَكَمِ، نَافِعٍ او ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. دا موضوع اوس په

يوې مهمي تجارتي معاملې بدله شوې؛ څوك چې د غواوو او نورو څارويو فارمونه لري؛ نه يوازې دې كار ته اړ وي؛ بلكې د پيچكارۍ له لارې د څارويو تلقيح كوي؛ همدا راز د نورو حيواناتو؛ په بخاري كې نه د دې وضاحت ومو چې د نهي وجه عامه ده كه خاصه؛ دا كار په هر صورت كې ناجائز دئ كه په خاص حالت او بنې كې؟ دا هم نه دي ويل شوي چې په دې اړه نور روايات هم شته چې له دې سره اختلاف لري كه نه؛ دا اوس كه تاسو د دې روايت له مخې قضاوت كوئ نو پرېكړه به مو فقط دا وي چې دا كار حرام او ناجائز دئ؛ خو راشئ وگورو حقيقت څه دئ؛ بخاري يوازې د ممانعت روايت راوړى؛ هغه روايت ئې نه دئ راوړى چې په هغه كې له اجورې پرته د دې كار جواز مومو؛ د سنن ابي داؤد دې روايت ته ځير شئ:

١٢٧٤ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِلَابٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الفَحْلِ؟ «فَنَهَاهُ»، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا نُطْرِقُ الفَحْلَ فَنُكْرَمُ، «فَرَخَّصَ لَهُ فِي الكَرَامَةِ»: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ،

له انس بن مالك روايت دئ چې وايي: د كِلاب قبيلې يوه تن له رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل: موږ د څارويو تلقيح كوو؛ نو ترې منع ئې كړ؛ بيا هغه سړي وويل: يا رسول الله! موږ نر څاروى چا ته امانت وركوو؛ چې تلقيح پرې وكړي؛ او په بدل كې ئې څه هديه راكول كېږي؛ نو په دې هديې كې ئې هغه ته رخصت وركړ.

دا روايت له ترمذي علاوه په نسائي او طبراني كې هم له معمولي توپير سره راغلى. او معنى ئې دا ده چې دا كار اصولاً مانع نه لري؛ او د هديې په توگه څه پرې اخيستل هم جائز دي؛ نو اوس به له دې دواړو په ظاهر كې متعارضو رواياتو كوم يو په كوم دليل غوره كوو؟ فقهاء همدا كار كوي؛ محدثين او د احاديثو شارحين بايد همدا كار وكړي؛ كه نه نو متعارض روايات به ئې په امت كې اختلاف رامنځته كوي. دومره ويلى

شو چي دا کار په اصل کې ناجائز نه دئ؛ اجوره پرې اخیستل ناجائز ګڼل شوې؛ یعني که دا په کلیوالو کې تر سره کېږي؛ څه پرې اخیستل صحیح نه دي؛ دا همداسې ده لکه له ماعون امتناع ناروا ګڼل شوې؛ (وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ) او له ورکړې د ماعون (د مرستې عام اسباب) مخنیوی کا؛ دا د هغو خصلت ګڼل شوی چې د قیامت په ورځې باور نه لري؛ ماعون هغه ته وایي چې معمولاً ئې یو بل ته موقتاً ورکوي؛ لکه بېل، تبر، تله، او نور؛ خو که د یوې مهمې تجارتي معاملې په توګه تر سره کېږي او دواړه لورې ترې ګټه اخلي؛ نو مانع نه لري؛ آخري فتوی باید د مفتیانو یو هیئت ورکړي.

## ۳۷کتاب: حواله

### ۱ باب: که قرض شتمن ته حواله شي؛ باید رد ئې نه کړي

۱۰۶۰ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَطْلُ الغَنِيِّ ظُلْمٌ، وَمَنْ أُتْبِعَ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتَّبِعْ». (بخارى: ۲۲۸۸)

۱۰۶۰ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((د غني له لوري ځنډول ظلم دئ او که د چا قرض کوم شتمن ته حواله شي؛ باید دا حواله ومني)).

د روایت لومړی برخه (د غني له لوري ځنډول ظلم دئ)؛ له شرحې او تصرف پرته واضح مطلب نه افاده کوي؛ واضح نه ده چې د غني له لوري د څه شي ځنډول ظلم دئ؟ په دوهمې برخې کې ئې هم ابهام شته؛ د نورو روایاتو په مرسته پوهېدی شو چې مطلب ئې څه دئ. اصلي مقصد دا دئ چې که کوم پوروړي غني وي او کولی شي خپل قرض اداء

کړي؛ په دې کې څنډ کول ظلم دئ؛ خو که پوروړی کوم شتمن ته خپل پور حواله کړي؛ نو د پور خاوند دې دا حواله ومني.

دا روایت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۸۷ - ۲۲۸۸ - ۲٤۰۰ - غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن يُوسُف، مَالِك، أَبو الزِّنَادِ، الأَعْرَج او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ حسين سليم أسد وايي: إسناده ضعيف

## ۲ باب: د مړي قرض که ژوندي ته حواله شي

۱۰٦۱ ـ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ فَقَالُوا: صَلِّ عَلَيْهَا فَقَالَ: «هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ؟» قَالُوا: لا. قَالَ: «فَهَلْ تَرَكَ شَيْئًا؟» قَالُوا: لا، فَصَلَّى عَلَيْهِ ثُمَّ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ أُخْرَى فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلِّ عَلَيْهَا، قَالَ: «هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ؟» قِيلَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَهَلْ تَرَكَ شَيْئًا؟» قَالُوا: ثَلاثَةَ دَنَانِيرَ فَصَلَّى عَلَيْهَا، ثُمَّ أُتِيَ بِالثَّالِثَةِ، فَقَالُوا: صَلِّ عَلَيْهَا، قَالَ: «هَلْ تَرَكَ شَيْئًا؟» قَالُوا: لا، قَالَ: «فَهَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ؟» قَالُوا: ثَلاثَةُ دَنَانِيرَ قَالَ: «صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ» قَالَ أَبُو قَتَادَةَ: صَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَعَلَيَّ دَيْنُهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ. (بخارى: ۲۲۹۹)

۱۰٦۱ - له سَلَمَه بن اکوع رضي الله عنه روایت دئ چې وايي: موږ له رسول الله صلى الله علیه و سلم سره ناست وو چې یوه جنازه راوړل شوه؛ وئې ویل: (یا رسول الله!)؛ د جنازې لمونځ ئې وکړه؛ وئې فرمایل: آیا پور پرې شته؟ وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: «څه ئې تر شا پرېښي؟» وئې ویل: نه؛ نو لمونځ ئې پرې وکړ؛ بیا بله جنازه راوړل شوه؛ خلکو وویل: یا رسول الله! د جنازې لمونځ ئې وکړه! وئې فرمایل: ((آیا کوم پور پرې شته؟)) وویل شول: هو؛ وئې فرمایل: ((آیا څه ئې تر شا پرېښي؟)) وئې ویل: درې دیناره؛ نو د جنازې لمونځ ئې وکړ؛ بیا درېیمه جنازه

راوړل شوه؛ خلکو وویل: د جنازې لمونځ ئې وکړه؛ وئې فرمایل: «آیا څه ئې تر شا پرېښي؟» وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: ((آیا کوم پور پرې شته؟))؛ وئې ویل: هو؛ وئې فرمایل: د خپل ملګري د جنازې لمونځ وکړئ؛ أبو قتاده وویل: یا رسول الله! د جنازې لمونځ ئې وکړه؛ پور ئې پر ما؛ نو لمونځ ئې وکړ.

دا روایت په سنن نسائي کې له لږ توپیر سره راغلی؛ په پای کې ئې ویل شوي: چا چې پور تر شا پرېښود؛ پرې کول ئې پر ما دي؛ او چا چې مال تر شا پرېښود؛ نو هغه د ده د ورثه وو دئ.

٢١٠٠ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ... فَلَمَّا فَتَحَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ مَنْ تَرَكَ دَيْنًا فَعَلَيَّ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ» السنن الكبرى للنسائى

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روایت دئ.... کله چې الله تعالی پر خپل پیغمبر صلی الله علیه و سلم د بریاوو او نعمتونو دروازې پرانیستلې؛ وئې فرمایل: زه پر هر مؤمن تر ده زیات؛ د پاملرنې له پلوه وړ یم؛ چا چې پور تر شا پرېښود؛ پرې کول ئې پر ما دي؛ او چا چې مال تر شا پرېښود؛ نو هغه د ده د ورثه وو دئ.

په قرآن کې دا مومو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغو پر جنازې له لمونځ کولو او پر قبر ئې د دعاء لپاره له ودرېدو منع شوی چې په جهاد کې ئې له شرکت ډډه کړې؛ هلته چې فرمايي:

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾ التوبة

او چې ومرې پر هیڅ یوه ئې (د جنازې) لمونځ مه کوه او پر قبر ئې مه ودرېږه؛ یقیناً چې دوی پر الله او پیغمبر ئې کفر کړی او په داسې حال کې مړه شوي چې فاسقان ول.

که څه هم دا حکم پیغمبر علیه السلام ته متوجه دئ؛ خو هر مسلمان ته په کار ده چې د هغه چا په جنازه کې له برخې اخیستو ډډه وکړي چې نفاق او فسق ئې ورته څرګند وي؛ مسلمان ته په کار ده چې نه په ژوند کې د فاسق او منافق درناوی وکړي او نه ئې له مړيني وروسته؛ د کافر او منافق لپاره د مغفرت او بخښنې له دعاء هم باید ډډه وکړي.

ښايي رسول الله صلى الله علیه و سلم دغې الهي لارښوونې ته په پام سره؛ د پوروړي د جنازې له لمانځه ډډه کړې؛ په دې کار کې یو مصلحت هم مضمر دئ؛ دا د دې باعث کېږي چې خلك د پور اداء کولو ته خاص اهتمام وکړي؛ که ده مال تر شا نه وي پرېښی نو خپلوان ئې دا کار وکړي.

## ۳ باب: د الله تعالى دا قول: (وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ) النساء ۳۳

**۱۰۶۲ ـ عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: أَبَلَغَكَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا حِلْفَ فِي الإِسْلامِ»؟ فَقَالَ: قَدْ حَالَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ قُرَيْشٍ وَالأَنْصَارِ فِي دَارِي. (بخارى: ۲۲۹٤)**

۱۰۶۲ - له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چې ورته وویل شول: آیا تا ته دا خبر دررسېدلی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((په اسلام کي حِلْف (تړون) نه شته))؟ وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله زما په کور کي د قریشو او انصارو تر منځ د دوستۍ تړون کړی دئ.

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۹٤ - ۶۰۸۳ - متن او راویان ئې سره ورته دي؛ د بخاري روایات له یوې خوا وایي په اسلام کې تړون نه شته؛ همهاله وايي انس رضي الله عنه دا ادعاء نه مني او وايي: زما په کور کې د مهاجرینو او انصارو تر منځ تړون شوی؛ همدا راز په صحیح مسلم او سنن ابي داؤد کې لولو:

۲۰۶ - (۲۵۳۰) عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ، وَأَيُّمَا حِلْفٍ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ لَمْ يَزِدْهُ الْإِسْلَامُ إِلَّا شِدَّةً» مسلم

له جبیر بن مطعم روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: په اسلام کي تړون نه شته؛ او هر تړون چي په جاهلیت کي وو؛ اسلام ئې لا مضبوطوي.

۱۱۸۰ - عَنْ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحِلْفِ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ: «لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ وَتَمَسَّكُوا بِحِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ» مسند ابی داؤد

له قیس بن عاصم روایت دئ چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د تړون په اړه وپوښتل؛ وئې فرمایل: په اسلام کي تړون نه شته؛ او د جاهلیت د زماني تړون مضبوط ونیسئ.

دا به څنګه توجیه کوو؟ یو وايي تړون نه شته؛ بل وايي شته؛ بل وايي د جاهلیت تړون هم مضبوط وساتئ؟! یوه توجیه دا ده: په اسلام کي قومي تړونونه نه شته؛ داسي چي یوه قبیله به له بلي دفاع کوي؛ په اسلام کي ټول قومونه او قبائل په واحد امت کي راغونډ شوي؛ دوست او دښمن ئې شریك دئ؛ ټول به په ګډه له حق او له مظلوم دفاع کوي؛ که د جاهلیت په زمانه کي کوم روغ تړون شوی؛ مسلمانان به دا تړون مزید کلك او مضبوطوي.

## ٤ باب: څوک که د مړي د قرض ذمه واخلي

۱۰۶۳ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ قَدْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ قَدْ أَعْطَيْتُكَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا» فَلَمْ يَجِئْ مَالُ الْبَحْرَيْنِ حَتَّى قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا جَاءَ مَالُ

الْبَحْرَيْنِ أَمَرَ أَبُو بَكْرٍ فَنَادَى: مَنْ كَانَ لَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ أَوْ دَيْنٌ فَلْيَأْتِنَا فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لِي كَذَا وَكَذَا فَحَثَى لِي حَثْيَةً فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُ مِائَةٍ وَقَالَ خُذْ مِثْلَيْهَا. (بخاری: ۲۲۹٦)

۱۰٦۳ – له جابر بن عبدالله رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: يو ځل نبي صلی الله علیه و سلم راته وفرمایل: ((که د بحرین مالونه راورسېدل دومره او دومره به درکړم))؛ خو د بحرین د مالونو له رارسېدو مخکي رسول الله صلی الله علیه و سلم رحلت وکړ او کله چي هغه مالونه را ورسېدل؛ د ابو بكر رضي الله عنه په امر غږ وشو: له چا سره چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه ژمنه او پور وي؛ موږ ته دي راشي؛ نو ورغلم؛ او ومي ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم دا او دا راته فرمايلي وو: نو يوه لپه ئې راکړه؛ ومي شمېرلې؛ نو هغه پنځه سوه درهمه وو؛ بیا ئې راته وویل: دوه برابره نوري ئې هم واخله.

دا روایت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۹۷ - ۲۵۹۸ - ۳۱۳۷ - ٤۳۸۳ – له بخاري پرته په بل هيڅ كتاب كي نه دئ راغلی؛ غريب دئ؛ په څو طبقو کي يو يو راوي لري؛ راويان ئې دا دي: عَلِي بْن عَبْدِ اللَّهِ، سُفْيَان، عَمْرو، مُحَمَّدَ بْن عَلِي او جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما.

په متن کي ئې څو ابهامات دي: دا نه دي ويل شوي چي له بحرين د زکات مال راغلی وو که بل څه؟ د زکات د مال د مصرف موارد مشخص دي؛ هيڅوك ئې په خپله خوښه نه وېشلی شي او نه ئې غير مستحق ته ورکولی شي؛ دا مطلب هم نه دئ واضح شوی چي ولي جابر ته دومره مبلغ ورکړی شوی؟ دا عدم وضاحت؛ امراءو ته دا فرصت ورکوي چي په دې روایت استناد وکړي او په بيت المال کي هر ډول تصرف ځان ته جائز وګڼي؛ ښايي همدې ته په پام سره هیڅ بل محدث دا روايت په خپل

كتاب کې د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی.

هیڅ امیر حق نه لري په بیت المال کې د عدالت او اصولو خلاف، له مسلمانانو سره له مشورې او د دوی له موافقې پرته؛ د خپلې خوښې او مرضي مطابق تصرف وکړي؛ صحابه وو د عمر رضي الله عنه کمیس تر نورو اوږد لیدلی؛ په جومات کې ورته ویل شوي: اول د دې سپیناوی وکړه؛ بیا به دې اطاعت کوو.

دا هم په پام کې ولرئ؛ د هغه راوي د روایت په منلو کې تر نورو زیات احتیاط کوئ چې د امویانو او عباسیانو د مستبدو حکامو خوا کې پاته شوي او دربارونو ته منلي او مقبول وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: څوك چې داسې حکامو ته نژدې کیږي؛ که څه هم په ظاهر کې ئې استدلال دا وي چې د هغوی د اصلاح لپاره دا کار کوي؛ خو په حقیقت کې ئې مثال هغه چا ته ورته دئ چې پر اغزني ونې لاس راکاږي؛ نتیجه به ئې دا وي چې لاسونه ئې زخمي شي؛ یعني له دې نژدېوالي فقط خپل ایمان او شخصیت ته صدمه رسوي.

# ۳۸ کتاب: وکالت

## ۱ باب: د شریک وکالت

۱۰۶٤ ـ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهُ غَنَمًا يَقْسِمُهَا عَلَى صَحَابَتِهِ فَبَقِيَ عَتُودٌ فَذَكَرَهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «ضَحِّ بِهِ أَنْتَ». (بخاری: ۲۳۰۰)

۱۰٦٤ - له عُقْبَه بن عامر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم څو پسونه ورکړل چې په صحابه وو ئې وویشي؛

نو يو وزګړى پاته شو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې ياده كړه؛ وئې فرمايل: ((ته ئې قرباني كړه)).

دا روايت په بخاري كې ٣ ځلې په دغو شمېرو راغلى: ٢٣٠٠ - ٢٥٠٠ - ٥٥٥٥ – غريب دئ؛ په څلورو طبقو كې يو يو راوي لري چې دا دي: لَيْث، يَزِيد، أَبو الخَيْرِ او عُقْبَة بْنِ عَامِر او په پنځمه طبقه كې دوه راويان لري چې دا دي: عَمْرو بْن خَالِد او قُتَيْبَة بْن سَعِيد.

د روايت مقصد دا دئ چې په وكالت سره قرباني جائزه ده؛ يعني دا چې د قرباني خاوند څوك وكيل وټاكي او هغه د ده په وكالت قرباني وكړي.

## ٣ باب: د قرض اداء كولو لپاره وكيل نيول

١٠٦٦ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِىَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَاضَاهُ فَأَغْلَظَ، فَهَمَّ بِهِ أَصْحَابُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَعُوهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالاً» ثُمَّ قَالَ: «أَعْطُوهُ سِنًّا مِثْلَ سِنِّهِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِلَّا أَمْثَلَ مِنْ سِنِّهِ فَقَالَ: «أَعْطُوهُ فَإِنَّ مِنْ خَيْرِكُمْ أَحْسَنَكُمْ قَضَاءً». (بخارى: ٢٣٠٦)

١٠٦٦ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې يو سړى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى؛ خپل قرض ئې ترې غوښت او تونديي يا بې ادبي ئې وكړه؛ اصحابو د هغه په اړه د څه كولو قصد وكړ؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((هغه پرېږدئ؛ د حق خاوند وينا همداسي وي)) بيا ئې وفرمايل: ((د ده د اوښ په څېر اوښ وركړئ؛ وئې ويل: يا رسول الله! فقط د ده تر اوښ غوره شته؛ وئې فرمايل: ((همغه وركړئ؛ ځكه ستاسو غوره هغه دئ چې د قرض اداء كولو كې تر ټولو ښه وي)).

دا روايت په بخاري كې ٢ ځلې په دغو شمېرو راغلى: ٢٣٠٦ – ٢٦٠٦؛

كه څه هم د دواړو لومړی راوي ابو هريره ده او موضوع ئې يوه ده؛ خو يو ئې ابهامات لري او په ۲٦٠٦ کې دا ابهامات رفع شوي؛ په دې کې دا اضافه مطالب گورو: وَقَالَ: «اشْتَرُوا لَهُ سِنًّا، فَأَعْطُوهَا إِيَّاهُ» فَقَالُوا: إِنَّا لاَ نَجِدُ سِنًّا إِلَّا سِنًّا هِيَ أَفْضَلُ مِنْ سِنِّهِ، قَالَ: «فَاشْتَرُوهَا، فَأَعْطُوهَا إِيَّاهُ، فَإِنَّ مِنْ خَيْرِكُمْ أَحْسَنَكُمْ قَضَاءً»: رسول الله وفرمايل: ده ته يو اوښ واخلئ او ورئې کړئ؛ وئې ويل: داسي اوښ نه شو موندلی چي د ده تر اوښ غوره نه وي؛ وئې فرمايل: ((همدغه واخلئ او ورئې کړئ؛ ځکه ستاسو غوره هغه دئ چي د قرض اداء کولو کې تر ټولو ښه وي.

تاسو به حتماً ووايئ: غوره دا وه چي يوازي په بشپړ روايت اکتفاء شوې وی؛ دې ته څه ضرورت وو چي يو ناقص او مبهم روايت د واضح او نسبتاً مشرح روايت په څنگ کې راوړل شي؛ يقيناً ښه صورت همدا دئ؛ خو امام بخاري ځان ته اسلوب لري؛ راوي ته اعتبار ورکوي؛ نه د روايت متن ته؛ له وروستيو راويانو په بېله صيغه وررسېدلی؛ نو ځکه ئې هغه له نقص سره سره راوړی. له مشهورو کتابونو يوازي مسند احمد کې هم راوړل شوي؛ نورو د پاته صحاح سته په شمول هيچا نه دئ راوړی؛ امام مسلم د امام بخاري شاگرد هم نه دئ راوړی.

دا هم په يادولو ارزي چي آيا په قرآن کې د دې لپاره هم څه شاهد او منشأ مومو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرض خاوند د بې ادبي په اړه فرمايلي: (هغه پرېږدئ؛ د حق خاوند وينا همداسي وي)؟ ځواب دا دئ: هو؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هر صحيح حديث لپاره په قرآن کې حتماً منشأ او بنسټ شته؛ په ډېرو ئې موږ هم پوهېږو؛ او که د ځينو په منشأ پوه نه شو؛ نو دا بايد خپل عيب وگڼو؛ نه دا چي خپل عيب قرآن ته منسوب کړو؛ قرآن بشپړ او تفصيلاً لکل شيء دئ؛ ما داسي صحيح حديث نه دئ ليدلی چي بنسټ مي په قرآن کې نه وي موندلی؛ دا د ځينو علماءو وينا ده او زه په خپله دې نتيجې ته رسېدلی يم. يو مورد ئې د دغه روايت دا برخه ده؛ چي قرآن ئې په

اړه فرمايي: (لا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلا مَنْ ظُلِمَ...) النساء ١٤٨: په بدي خبري خوله پرانيستل؛ د الله نه خوښېږي؛ مگر د هغه چا چي ظلم پرې شوی؛ ... د آيت الفاظ دا راښيي چي الله تعالی نه يوازې د مظلوم چيغه اوري او هغه ته ئې د خپل مظلوميت ثرگندولو او د ظالم په خلاف د غږ اوچتولو اجازه ورکړې بلکي د ده دا خبري ئې خوښېږي، حتی د ده هغه خبري هم چي په عادي حالت کي بدي برېښي او له مظلوميت پرته په بل حالت کي د الله تعالی نه خوښېږي، خو د مظلوميت په وخت کي ئې له يوه مظلوم انسان خوښوي. نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغه الهي لارښووني له مخي صحابه وو ته د قرض لرونکي د بې ادبي په وړاندي د زغم او څه نه کولو سپارښتنه وکړه. له هغه سره به حتماً دا ژمنه شوې وه چي په فلان وخت به داسي اوښ ورسپاري؛ په سپارلو کي ځنډ راغلی؛ نوځکه غصه شوی؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم دا غصه کېدا د ده حق گڼلی.

## ٢ باب: که شپون يا وکيل پوه شي چي کوم پسه مري

١٠٦٥ ـ عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَتْ لَهُمْ غَنَمٌ تَرْعَى بِسَلْعٍ فَأَبْصَرَتْ جَارِيَةٌ لَنَا بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا مَوْتًا فَكَسَرَتْ حَجَرًا فَذَبَحَتْهَا بِهِ، فَقَالَ لَهُمْ: لا تَأْكُلُوا حَتَّى أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أُرْسِلَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَسْأَلُهُ، وَأَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَاكَ أَوْ أَرْسَلَ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا. (بخاری: ٢٣٠٤)

١٠٦٥ - له کعب بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: زموږ مېږي وې چي په سَلْع غره کي به څرېدلې؛ يوې وينځې له دې مېږو يوه د مړه کېدو حالت کي ليدلې وه؛ نو تيږه ئې ماته کړې او هغه ئې پرې ذبح کړې وه؛ نو ده د کور خلکو ته وويل: تر هغه ئې مه خورئ چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه وکړم او يا داسي څوک ولېږم

چي ترې وپوښتي؛ او دا چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې په دې اړه وپوښتل؛ یا دا چي څوك ئې ولېږو؛ چي رسول الله د هغي غوښي د خوړلو امر وکړ.

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٣٠٤ - ٥٥٠٢ - دا ترې معلومېږي چي د ښځي په لاس ذبیحه هم جائزه ده او په تېرې تیږي ذبح کول هم او دا هم چي شپون کولی شي د مړه کېدو له وېرې ځاروی ذبح کړي. امام بخاري د وروستۍ وجهي له مخي تر دې باب لاندي راوړی: که شپون یا وکیل پوه شي چي کوم پسه مري.

## ٣ باب: وکیل یا استازي ته هِبَه جواز لري

١٠٦٧ ـ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَبُّ الْحَدِيثِ إِلَيَّ أَصْدَقُهُ، فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ، إِمَّا السَّبْىَ، وَإِمَّا الْمَالَ، وَقَدْ كُنْتُ اسْتَأْنَيْتُ بِكُمْ» وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتَظَرَهُمْ بِضْعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً حِينَ قَفَلَ مِنَ الطَّائِفِ، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ رَادٍّ إِلَيْهِمْ إِلَّا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ قَالُوا: فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُسْلِمِينَ فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ: «أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ هَؤُلَاءِ قَدْ جَاءُونَا تَائِبِينَ، وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ، فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ بِذَلِكَ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللَّهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ» فَقَالَ النَّاسُ: قَدْ طَيَّبْنَا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ فِي

ذَلِكَ، مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعُوا إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ» فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا. (بخاری: ٢٣٠٧ ـ ٢٣٠٨)

١٠٦٧ - له مِسْوَر بن مَخْرَمَه رضي الله عنه روايت دئ: کله چي د هوازن قبیلې پلاوی له اسلام راوړو وروسته؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی؛ نو ورته پاڅېد؛ هغوی ترې وغوښتل چي مالونه او اسیران ئې وروسپارل شي؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ما ته تر ټولو محبوبه وینا هغه ده چي تر نورو زیاته رښتینې وي؛ تاسو له دوو شیانو یو غوره کړئ، یا مو اسیران او یا مو مالونه؛ او ما تاسو ته انتظار کوو؛ راوي وایي: یقیناً چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ څه باندي لس ورځي؛ له طائف تر راستنېدو وروسته دوی ته انتظار کړی وو؛ کله چي د پلاوي غړو ته معلومه شوه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له یوه شي پرته بل څه نه ورکوي؛ نو وئې ویل: موږ خپل اسیران غواړو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د مسلمانانو منځ کي پاڅېد؛ د الله تعالی داسي ثناء ئې وویله چي ورسره ښایي؛ بیا ئې وفرمایل: ((اما بعد؛ ستاسو وروڼو توبه کړې او راغلي؛ او ما دا مناسبه وموندله چي اسیران ئې ورکړو؛ له تاسو چي څوک دا خوښوي نو دا کار دي وکړي؛ او که څوک دا خوښوي چي پر خپلې برخي تر هغه ولاړ وي چي په بدل کي ئې له لومړني فئ؛ چي الله تعالی ئې زموږ په برخه کړي؛ عوض ورکړم؛ نو همداسي دي وکړي؛))؛ خلکو وویل: د رسول الله صلی الله علیه و سلم لپاره پر دې راضي شوو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: موږ پوه نه شو چي له تاسو چا موافقه وکړه؛ چا موافقه ونه کړه؛ نو ستانه شئ تر هغه چي ستاسو عرفاء موږ ته ستاسو کار وړاندي کړي؛ نو خلك ستانه شول؛ عرفاءو ئې ورسره خبري وکړې؛ بیا همغه استازي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلل او خبر ئې کړ چي راضي دي

او موافقه ئې وکړه.

دا روايت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۰۷ - ۳۱۳۱ - ٤۳۱۸؛ غريب دئ؛ په شپږو طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: سَعِيد بْن عُفَيْر، لَيْث، عُقَيْل، ابْنِ شِهَاب، عُرْوَة، مَرْوَان بْن الحَکَم او مِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ.

دلته د ولس استازي د عرفاء په نامه ياد شوي؛ عرفاء په وزن د علماء؛ د عارف جمع؛ هغه چې خپل خلك او د هغوی غوښتني پېژني؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم دلته له خلکو همدا غوښتي؛ چې د عرفاءو له لاري ده ته خپله موافقه او رضايت ورسوي؛ او هغه مهال چې د مسلمانانو شمېر زيات شو؛ نو قبېلو ته به ئې ويل چې د مشورو لپاره خپل عرفاء معرفي کړي؛ په ټولو هغو مسائلو کې چې په عام ولس پوري تړاو لري؛ که دا جنگ يا سوله ده؛ يا نور ملي مسائل؛ همدا عرفاء راغوښتل او د دوی له موافقې وروسته به ئې اقدام کولو. يعني چې همدا د اسلامي حکومت يوه اساسي فريضه او دنده ده؛ په ملي مسائلو کې د مسلمانانو له مشورې او موافقې پرته هيڅ فيصله نشي کولی. که رسول الله صلی الله عليه و سلم ځان په مشوره مکلف گڼلو؛ دا ځکه چې الله تعالی ورته امر کړی؛ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ؛ بل څوك به څنگه دا حق لري چې په ملي مسائلو کې؛ په يوازي سر او له مشورې پرته تصميم ونيسي. قرآن په دې آيت کې مشوره تر تصميم او عزم وړاندي ياده کړې؛ او عزم ئې د مشورې نتيجه ښودلې او وايي: (... وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ...) آل عمران ۱۵۹: او په کار کې ورسره مشوره کوه؛ او کله چې له مشورې راوتلی عزم او پرېکړه وکړې؛ پر الله توکل کوه.

## ٤ باب: موکل د وکيل د خبري منظوري ورکولی شي

۱۰٦۸ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: وَكَّلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ، فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ: وَاللَّهِ لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنِّي مُحْتَاجٌ، وَعَلَيَّ عِيَالٌ، وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ، قَالَ: فَخَلَّيْتُ عَنْهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ؟» قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالاً فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ» فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهُ سَيَعُودُ» فَرَصَدْتُهُ، فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ: لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ، وَعَلَيَّ عِيَالٌ، لا أَعُودُ فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ؟» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالاً، فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ، وَسَيَعُودُ» فَرَصَدْتُهُ الثَّالِثَةَ، فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ: لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ، وَهَذَا آخِرُ ثَلاثِ مَرَّاتٍ، أَنَّكَ تَزْعُمُ لا تَعُودُ ثُمَّ تَعُودُ، قَالَ: دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهَا، قُلْتُ: مَا هُوَ؟ قَالَ: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ(اللَّهُ لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ)؛ حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلا يَقْرَبَنَّكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ؟» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللَّهُ بِهَا فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: «مَا هِيَ؟» قُلْتُ: قَالَ لِي: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ(اللَّهُ لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) وَقَالَ

لِي: لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلا يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، وَكَانُوا أَحْرَصَ شَيْءٍ عَلَى الخَيْرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ، تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلاثِ لَيَالٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟» قَالَ: لا قَالَ: «ذَاكَ شَيْطَانٌ». (بخاری: ۲۳۱۱)

۱۰٦۸ - ابن خُزَيمه وايي: هلال بن بِشر يو ناآشنا او ډېر غريب حديث رااورولی چي له عثمان بن هيثم د جامع جومات مؤذن؛ هغه له عوف؛ هغه له محمد بن سيرين او هغه له ابو هريره رضي الله عنه روايت کړی چي ويلي ئې دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژې د صدقاتو په ساتني وګمارلم، يو راتلونکی راته راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپړل، نو ومي نيولو او ورته ومي ويل: قسم دئ چي حتماً دي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړاندي کوم، وئې ويل: زه محتاج يم، بچيان راپه غاړه دي او سخت اړ شوی يم؛ (ابو هريره) وايي: نو هغه مي پرېښود؛ سبا رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وويل: اې ابو هريره! تېره شپه ستا اسير څه وکړل؟ وايي ورته ومي ويل: يا رسول الله! د شديد حاجت او بچيانو شکايت ئې راته وکړ، زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود؛ وئې فرمايل: يقيناً چي هغه درواغ درته ويلي او حتماً به بيا راشي؛ نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا ته په پام سره چي حتماً به بيا راشي؛ پوه شوم چي هغه به حتماً بيا راشي؛ نو څارنه مې کوله؛ نو راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپړل؛ نو ومي نيولو او ورته ومي ويل: قسم دئ چي حتماً دي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وړاندي کوم؛ وئې ويل: ما پرېږده، زه محتاج يم او بچيان راپه غاړه دي؛ بيا نه راځم؛ نو زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود؛ سبا رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وويل: اې ابو هريره! تېره شپه ستا اسير څه وکړل؟ وايي ورته ومي ويل: يا رسول الله! د شديد حاجت او بچيانو شکايت ئې راته وکړ، زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي

پرېښود؛ وئې فرمايل: يقيناً چي هغه درواغ درته ويلي او حتماً به بيا راشي؛ نو درېيم ځل ورته په څار کي شوم؛ نو راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپړل؛ نو ومي نيولو او ورته ومي ويل: قسم دیٔ چي حتماً دي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کوم او دا درېیم ځل دیٔ چي ته د بيا نه راتلو ژمنه کوې خو بيا راځې؛ وئې ويل: ما پرېږده؛ داسي کلمات به دروښيم چي الله تعالی ګټه پرې دروررسوي؛ ورته ومي ويل: هغه څه دي؟ وئې ويل: کله چي څملې نو آية الكرسي (اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ...) د آيت تر پایه لوله؛ چي په دې سره به تر سحره پر تا د الله تعالی له لوري يو ساتونکی ګمارل شوی وي او شيطان به نشي درنژدې کېدی؛ نو هغه مي پرېښود؛ سبا رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وويل: اې ابو هريره! تېره شپه ستا اسير څه وکړل؟ ومي ويل: يا رسول الله! ژمنه ئې وکړه چي داسي کلمات به دروښيم چي الله تعالی ګټه پرې دروررسوي؛ نو پرې مي ښود؛ وئې فرمايل: دا څه دي؟ ومي ويل: راته وئې ويل: کله چي څملې نو آية الكرسي (اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ...) د آيت تر پایه لوله؛ چي په دې سره به تر سحره پر تا د الله تعالی له لوري يو ساتونکی ګمارل شوی وي او شيطان به نشي درنژدې کېدی؛ (راوي وايي) او دوی د خير په چارو کي ډېر حريص ول؛ (نو ځکه ئې د شيطان دا خبره منلې ده)؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: خو هغه يقيناً رښتيا درته ويلي په داسي حال کي چي ډېر دروغجن دیٔ. اې ابو هريره! آيا پوهېږې په دغو دريو شپو کي له چا سره مخاطب وې؟ وئې ويل نه؛ وئې فرمايل: دا شيطان وو.

دا روايت په بخاري کي درې ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۱۱ - ۳۲۷۵ - ۵۰۱۰؛ په لنډه توګه او له دې توپير سره چي په دې کي وَاللهِ لأَرْفَعَنَّكَ راغلي او په هغوی کي يوازي لأَرْفَعَنَّكَ. د سند له مخي غريب دیٔ؛ په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عُثْمَان بْن الهَيْثَم، عَوْف، مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِين او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه؛ د متن له پلوه؛ په

دغو برخو کې له قرآن سره تعارض لري:

۱. قرآن وايي چې پېریان نه لیدل کېږي او دا روایت وايي چې ابو هریره درې شپې سر په سر شیطان ولید او ټینګ ئې ونیولو!

۲. قرآن وايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب نه پوهېدو او دا روایت وايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم درې شپې سر په سر په غیاب کې لیدل چې د ابو هریره رضي الله عنه او شیطان تر منځ څه تېرېدل!

۳. قرآن وايي چې شیطان انسان ته یوازې د فحشاء او منکر سپارښتنه کوي او غلطو کارونو او ناسمو باورونو ته ئې هڅوي؛ خو دا روایت وايي چې شیطان؛ ابو هریره رضي الله عنه ته د آیة الکرسي فضائل وروښودل! دا په داسې حال کې چې قرآن په ټول تأکید او د حصر په صیغه وايي چې شیطان ستاسو دښمن دئ او یوازې په دغو دريو کارونو تاسو ګماري: سوء، فحشاء او د الله په اړه هغه څه ویل چې نه پرې پوهېږئ.

إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾ البقره

یقیني خبره دا ده بله نه ده چې هغه تاسو په کرکجنو او قبیح کارونو ګماري او په دې چې د الله په اړه هغه څه ووایئ چې نه پرې پوهېږئ.

٤. قرآن وايي چې د پېریانو خوراك اوبه دي؛ (وَ أَلَّوِ استَقَمُوا عَلى الطرِيقَةِ لأَسقَيْنَهُم مَّاءً غَدَقاً * الجن: ١٦: او دا چې که (پېریان) په سمه لار استقامت وکړي نو په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو)؛ خو دا روایت وايي چې شیطان د کجورو د غلا لپاره راغلی وو!!

۵. عقل وايي چې غل د غلا په وخت کې ځان پټوي او دا روایت وايي چې شیطان د غلا په وخت کې خپل اصلي شکل بدل کړی وو او د انسان په بڼه کې په څرګنده توګه د ابو هریره خوا ته ورغلی وو او هغه هم د غلا لپاره!

٦. د دې روايت لپاره په قرآن کې هيڅ شاهد نه مومو.

٧. قرآن وايي الهي سنت او الهي فطرت (فطرت الله) ثابت او نه بلېدونکی دئ؛ داسي چي هيڅ مخلوق نشي کولی خپل اصلي شکل بدل کړي او د بل مخلوق بڼه غوره کړي؛ عقل همدا خبره کوي؛ خو دا روايت وايي چي شيطان ابو هريره ته د انسان په بڼي کې ځرګند شوی وو!

٨. دا روايت وايي چي ابو هريره رضي الله عنه درې ځلي په ډېر تأکيد سره لوړه کړې وه چي شيطان به تر لاس نيولی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورولي؛ خو هر ځل ئې خپله لوړه ماته کړې!!

په دې روايت کې چي کومي خبري راغلې دي دا له ځينو جدي تونپيرونو سره په نورو کتابونو کې بريدة او أبو أيوب الأنصاري ته منسوب شوې دي. خو هلته ويل شوي چي دوی په ناڅاپي توګه متوجه شوي چي له خوراکي توکو څه کم شوي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې دا خبره کړې او ګواکي هغه ورته فرمايلي چي دا کار شيطان کوي او بيا د شيطان راتلو ته مترصد پاته شوي...

داسي روايت مي هم له نظره تېر شوی چي وايي: ابو هريره په خپله د تېري شپې جريان رسول الله صلی الله عليه و سلم ته بيان کړی؛ نه دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه ته ويلي چي تېره شپه دې اسير څه وکړل!!

دغو خبرو ته په پام سره په بشپړ ډاډ او يقين سره ويلی شو چي نه انسان کولی شي پېريان وګوري او نه پېريان کولی شي خپل شکل بدل کړي.

دلته د قرآن درې ځرګند او محکم آيتونه زموږ په وړاندي ځلېږي چي وايي: نه موږ پېريان ليدلی شو او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم هغوی ليدلي؛ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم نه پېريان ليدلي او نه ئې قرآن وراورولی. پر قرآن د ايمان تقاضی دا ده چي که د نړۍ ټول خلك راغونډ شي او د قرآن د

دغو صريحو آيتونو خلاف خبره وکړي؛ نو د يوه مؤمن په توګه به د قرآن د وينا په اړه شك نه کوو او د خلکو خبرو ته به اهميت نه ورکوو.

قرآن په صريح او قاطع توګه وايي چې هيڅ مخلوق نشي کولی په بل مخلوق ځان بدل کړي؛ الهي فطرت او د خلقت په اړه د الله تعالی سنن تغيير نه منونکي دي. دا د قرآن قاطع وينا ده؛ که انسان نشي کولی له ځانه پېری او فرشته جوړ کړي؛ په داسي حال کې چې هغه اشرف المخلوقات دئ؛ او علم ئې تر فرشتو هم زيات او جامع؛ نو پېريان به څنګه دا کار وکړی شي؛ پېريان له اور پيدا شوي، په داسي مخلوق نشي بدلېدی چې هغه له خاوري پيدا شوی. هغه فرشتې چې د انسان په بڼه کې مريمې عليها السلام او ځينو پيغمبرانو عليهم السلام ته لېږل شوې؛ دا د دوی ذاتي کار نه وو؛ هره فرشته دا کار نشي کولی؛ همدغه خاصي فرشتې د الله تعالی په حکم او د دې لپاره د انسان په بڼه کې لېږل شوې چي انسان يوازي د انسان په وينا او خبري پوهېدی شي.

په دې اړه روايات متعارض دي؛ تر منځ ئې شديد تعارض او حتی تضاد تر سترګو کېږي؛ د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه روايات او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت ټول د يوې پېښي په اړه دي؛ خو تر منځ ئې شديد تعارض دئ؛ څوك چې وايي د عبدالله بن مسعود روايات د دوو بېلو بېلو پېښو په اړه دي هغوی د تعارض رفع کولو لپاره دا خبره کوي.

د ابو هريره رضي الله عنه بل روايت د همدې پېښي په اړه داسي دئ چې سحر ده په خپله رسول الله صلی الله عليه و سلم ته پېښه بيان کړې او هغه ورته ويلي چې دا شيطان وو!! هغه روايت دا خبره نه کوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته ويلي: اسير دې تېره شپه څه وکړل؟! دوه نور روايات چې نورو ته منسوب شوي داسي دي چې وايي له غلې څه کمېدل، پرته له دې چې کموونکی ئې ليدلی وي؛ پېښه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوې او ګواکې رسول الله صلی الله

علیه و سلم فرمایلي چي دا کار شیطان کوي!! دا ټول روایات د سند له مخي غریب دي او په څو طبقو کې یو یو راوي لري. په داسي مهمي اعتقادي موضوع کې داسي غریب روایات منل او هغه هم په داسي حال کې چي له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري؛ ډېره عجیبه ده!! د داسي روایاتو په اړه احتیاط کول د إیمان تقاضی ده؛ په تلوار سره او له تحقیق پرته ئې منل د قرآن او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لارښوونو خلاف کار دئ؛ روایت هغه مهال باید ومنل شي چي په قرآن کې ورته شاهد وموموو او په راویانو کې ثقه شاهدان؛ نه له قرآن سره تعارض ولري، نه له نورو صحیح روایاتو سره او نه له عقل سره. له همدې کبله له بخاري پرته په بل هیڅ مهم او معتبر کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ حتی د امام بخاري شاګرد امام مسلم هم د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی.

## ٥ باب: د وکیل فاسده بیع مردوده ده

١٠٦٩ ـ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: جَاءَ بِلالٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ أَيْنَ هَذَا»؟ قَالَ بِلالٌ: كَانَ عِنْدَنَا تَمْرٌ رَدِيٌّ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ، لِنُطْعِمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: «أَوَّهْ أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا، لا تَفْعَلْ وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِىَ فَبِعِ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِهِ». (بخاری: ٢٣١٢)

١٠٦٩ – له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: بلال؛ نبي صلی الله علیه و سلم ته بَرْنِي خرما (یو ډول اعلی خرما) راوړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((دا دي له کومه کړه؟)) بلال وویل: له موږ سره ناغوره خرما وه؛ هغه مي دوه پیمانې په یوه پیمانه وپلورله؛ چي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې وخورو؛ نو دلته رسول الله

صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((وای، وای؛ دا خو عین سود دئ؛ دا عین سود دئ؛ داسي مه کوه؛ او که غوښتل دي چي (ښه خرما) وپیرې؛ نو خپله خرما په بلي بیعي وپلوره او بیا هغه (ښه خرما) وپیره)).

دا روایت غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: إِسْحَاق، يَحْيَى بْن صَالِح، مُعَاوِيَة هُوَ ابْنُ سَلَّام، يَحْيَى، عُقْبَة بْن عَبْدِ الغَافِرِ او أَبو سَعِيد الخُدْرِي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري پرته په بل هیڅ مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

## ٦ باب: په حدودو کي وکالت

١٠٧٠ ـ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: جِىءَ بِالنُّعَيْمَانِ أَوِ: ابْنِ النُّعَيْمَانِ شَارِبًا فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ فِي الْبَيْتِ أَنْ يَضْرِبُوه قَالَ: فَكُنْتُ أَنَا فِيمَنْ ضَرَبَهُ فَضَرَبْنَاهُ بِالنِّعَالِ وَالْجَرِيدِ. (بخاری: ٢٣١٦)

١٠٧٠ – له عقبه بن حارث رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: نعیمان یا ابن نعیمان پداسي حال کي راوستل شو چي شراب ئې څښلي وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم په خونه کي موجودو کسانو ته امر وکړ چي هغه ووهي؛ عقبه رضي الله عنه وایي: زه هم په هغو کسانو کي وم چي نعیمان مو وواهه، په څپلیو او لښتو سره مو وواهه.

دا روایت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٣١٦ - ٦٧٧٤ - غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: ابْن سَلَّام، عَبْدُ الوَهَّابِ الثَّقَفِي، أَيُّوب، ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عُقْبَةَ بْنِ الحَارِث. له بخاري او سنن الکبری للبیهقي پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

د شرابي د سزا په اندازه کي اختلاف دئ؛ احناف؛ حنابله او مالکیان ئې د آزاد لپاره ٨٠ او د غلام لپاره ٤٠ درې گڼي؛ امام شافعي ئې د آزاد لپاره ٤٠ او د غلام لپاره ٢٠ درې بولي. په څپلیو او لښتو وهل؛ چي په

روایت کې راغلي؛ یا د حد له ټاکلو وړاندي خبره ده او یا د اعتبار وړ نه ده.

## ۳۹کتاب: مزارعت

### ۱ باب: د کښت او ونو ایښودلو فضیلت

۱۰۷۱ ـ عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا؛ او يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ». (بخاری: ۲۳۲۰)

۱۰۷۱ – له انس رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((هیڅ مسلمان به داسي نه وي چي کومه ونه ولګوي یا کوم کر وکري؛ او له هغه؛ کوم مرغه، انسان او حیوان څه وخوري؛ مګر دا چي هغه به د ده لپاره صدقه وي)).

صحیح مسلم کي په دې صیغه راغلی:

۷ - (۱۵۵۲) عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةً، وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ، وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ، وَمَا أَكَلَتِ الطَّيْرُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ، وَلَا يَرْزَؤُهُ أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ»

له جابر رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((هیڅ مسلمان به داسي نه وي چي کومه ونه ولګوي؛ مګر دا چي څه ترې وخوړل شي د ده لپاره به صدقه وي؛ او چي ترې غلا شي ده ته به صدقه ګڼل کېږي؛ او چي څه ترې ځناور وخوري؛ د ده لپاره به صدقه وي؛

چې څه مرغان ترې وخوري؛ د ده لپاره به صدقه وي يا کوم څوك څه ترې کم کړي؛ د ده لپاره به صدقه وي.

## ۲ باب: په زراعتي وسائلو له حده زيات مشغولتيا

۱۰۷۲ ـ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ رَأَى سِكَّةً وَشَيْئًا مِنْ آلَةِ الْحَرْثِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لا يَدْخُلُ هَذَا بَيْتَ قَوْمٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ الذُّلَّ». (بخارى: ۲۳۲۱)

۱۰۷۲ – له ابو اُمَامَه باهلي رضي الله عنه روايت دئ چې ده کومه يوې، سپاره يا کومه بله زراعتي آله وليده؛ نو وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چې فرمايل ئې: ((دا وسيله د هيچا کور ته نه ننوځي؛ مګر دا چې الله تعالى به په هغه کې ذلت او خواري ننباسي)).

لکه چې ګورئ په دې روايت کې دا مطلب نه مومو چې په زراعتي چارو کې زياته مشغولتيا ترې معلومه شي؛ يوازې دومره ويل شوي چې په کور کې ئې د زراعت کومه وسيله ليدلې؛ او بيا ئې ويلي: کوم کور ته چې دا وسيله ننوځي؛ هلته به هرو مرو ذلت ننوځي! روايت او باب خاص مناسبت سره نه لري؛ بايد وګورو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د دې خبرې منسوبول صحيح دي؟ آيا دا روايت د سند او متن له پلوه د اعتبار وړ دئ؟ تر دې وړاندې روايت خو د څه کرلو ستاينه کړې؛ او مسلمانان ئې کرنې او زراعت ته هڅولي؛ دا تعارض به څنګه له منځه وړو؟

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلى؛ هم له دې پلوه غريب دئ چې له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راغلى او هم له دې پلوه چې په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عَبْدُ اللَّهِ بْن يُوسُف، عَبْد اللَّهِ بْن سَالِمٍ الحِمْصِي، مُحَمَّد بْن زِيَاد الأَلْهَانِي، أَبو أُمَامَةَ البَاهِلِي؛ له هغو رواياتو سره هم تعارض لري چې خلك زراعت ته هڅوي او د ثواب کار ئې ګڼي. که څه هم ځينو ويلي چې د روايت مقصد په زراعت کې دومره

اشتغال دئ چي فرائض او نور مهم كارونه له انسان پاته شي. او نورو ويلي چي دا د هغو خلكو په اړه دئ چي دښمن ته نږدې اوسي او په زراعت كي د دوى اشتغال او بوختيا د دې باعث كېږي چي له مورچلو غافل شي؛ خو دا دواړه توجيهات ناسم او د روايت له هيڅ برخي دا مطلب نشي تر لاسه كېدى؛ هسي له ځانه او په تكلف او زحمت سره له روايت بل څه جوړول او توجيه كول دي؛ له تاسو پوښتنه كوم آيا د باب او روايت تر منځ كوم مناسبت مومئ؟ آيا په روايت كي داسي الفاظ شته چي وښيي د زراعت وسائل په هر صورت كي سپېره او د ذلت باعث نه دي؛ بلكي په هغه صورت كي سپېره دي چي د فرائضو په وړاندي خنډ شي او مسلمان له دښمن غافل كړي؟ د يوه مبتدئ طالب انتباه به د روايت له خپلو الفاظو څه وي؟ او د هغه چا تعبير به څه وي چي غواړي له جنگ تغذيه شي او د عوائدو مدرك ئې فقط جنگ وي؛ نو له همدې كبله د نورو هر جائز كسب ته په سپكه سترگه گوري؟

داسي كمزورو توجيهاتو ته ضرورت څه دئ؛ ولي په داسي څه ويلو ځان مجبور گڼو چي د يوي ناسمي خبري د سم ثابتولو لپاره به دروغ وايو؟ ولي به زه خپل گران پيغمبر ته د داسي كلام منسوبول منم چي كه ئې څوك ما ته منسوب كړي پرې ناراضه كېږم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم د جامع كلام خاوند وو او ويناوي ئې جوامع الكلم وې؛ د هر مؤمن بنده خبره بايد دا وي: زه د هيچا له لوري رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ناقصه وينا منسوبول نه منم؛ كله چي ناقص روايت اورو نو ولي نه وايو چي راوي اشتباه كړې او خبره ئې په سمه توگه نه ده انتقال كړې؟ يقيناً چي هر څوك پوهېږي أَبو أُمَامَة البَاهِلِيّ ته منسوب روايت ناقص او مبهم دئ؛ بخاري په همدې روايت اكتفاء كړې او هغه روايات ئې نه دي راوړي چي واضح دي او مطلب په سمه توگه بيانوي؛ لكه دا روايت:

٣٤٦٢ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

«إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ» سنن ابی داؤد

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي وئې ویل: که په پېر پلور مشغول شوئ، د غويي لکۍ مو ونیوله، په زراعت راضي شوئ او جهاد مو پرېښود؛ الله به داسي ذلت درباندي مسلط کړي چي تر هغه به ئې ونه باسي چي تاسو خپل دین ته ستانه شئ.

دلته د (العينة)؛ یادونه شوې چي مقصد ئې داسي تجارت دئ چي څوك يوه متاع په مؤجله بیه په گرانه وپلوري او بیا ئې په نقدو بېرته وړیا او ارزانه وپېري؛ خو په اصل کي د روایت مراد دا دئ چي که مسلمانان په تجارت، مالداري او زراعت داسي مشغول شول چي جهاد ترې پاته شي نو له دائمي ذلت سره به مخامخ شي. او دا همغه مطلب دئ چي په دې آیت کي راغلی:

قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٢٤﴾ التوبة

ورته وو‌ایه: که مو پلرونه، زامن، وروڼه، مېرمني، خپلوان، راغونډ کړي مالونه مو، هغه تجارت چي د بازار له سوړوالي ئې وېرېږئ او هغه کورونه مو چي خوښوئ ئې، تاسو ته تر الله، د هغه تر پېغمبر او د ده په لار کي تر جهاد زیات محبوب وي، نو د الله پرېکړي ته انتظار وکړئ چي الله داسي فاسق قوم نه هدایتوي.

دا د انسان د ایمان د تللو لپاره ستر او دقیق معیار او ملاك دئ، په دې سره هره لحظه انسان خپل ایمان سنجولی شي، هره لحظه د دې سؤال راپیدا کېږي چي آیا ته ایمان ته ترجیح ورکوې، الله ته، د هغه

پیغمبر ته؛ او د الله په لار کې جهاد ته او که پلار، زامنو، وروڼو، خپلوانو، ښځې، مال، تجارت او بنګلو ته ترجیح ورکوې؟ انسان هره شېبه د خپل ایمان په اړه د همدغه معیار او ملاك او تلې په اساس قضاوت کولی شي، د چا چې تر الله، پیغمبر او جهاد له دې شیانو سره محبت زیات وي؛ هغوی فاسقان دي، د الله له هدایت محروم دي، د هغوی پر مخ د هدایت دروازې تړل شوې دي.

له دې آیت په څرګنده توګه معلومېږي چې هغه څوك باید د لارښود په توګه غوره نه کړو او د فتوی لپاره هغه ته رجوع ونه کړو چې د الله تعالی په لار کې ئې جهاد نه وي کړی، جهاد ئې تر هر څه غوره نه وي ګڼلی، د الله په لار کې ئې قرباني نه وي ورکړې او له کافرانو سره ئې د خپلوۍ او دوستۍ اړیکې نه وي شلولې. دا آیت تا ته وایي: پام کوه هغه څوك د امام، پیر، مرشد، لارښود، مشر او مفتي په توګه مه نیسه چې الله تعالی، د هغه پیغمبر او د الله په لار کې جهاد د خپل ژوند تر هر څه غوره نه ګڼي او قرباني کولو ته ئې چمتو نه وي. چا چې جهاد نه دئ کړی هغه نه یوازې عالِم او مرشد نه دئ بلکې د هدایت دروازې ئې پر مخ تړل شوې؛ وَاللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ: الله داسې فاسق قوم نه هدایتوي.

## ٣ باب: د کښت او زراعت د ساتلو لپاره د سپي ساتل

١٠٧٣ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَمْسَكَ كَلْبًا فَإِنَّهُ يَنْقُصُ كُلَّ يَوْمٍ مِنْ عَمَلِهِ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ مَاشِيَةٍ». بخاری ٢٣٢٢

١٠٧٣ - له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((څوک چې سپی ساتي؛ هره ورځ ئې له نېکیو د یوه قیراط په اندازه کمېږي؛ مګر هغه سپی چې د زراعت او څارویو د ساتني لپاره وي)).

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۲۲ - ۳۳۲٤ - د دواړو لومړی راوي ابو هريره دئ خو امام بخاري له دوو لارو تر لاسه کړی؛ او په داسي حال کې ئې دوه ځلي راوړی چي متن ئې کاملاً سره ورته دئ. له درېيمي لاري ئې بيا داسي تر لاسه کړی چي ځيني مطالب په کې زيات شوي؛ او داسي دئ:

قَالَ ابْنُ سِيرِينَ، وَأَبُو صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِلَّا كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ حَرْثٍ أَوْ صَيْدٍ»: مگر د مېږو او کښت ساتلو او ښکار سپی.

۱۰۷٤ - وعـنه رضى الله عنه فى رواية: «إِلَّا كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ حَرْثٍ أَوْ صَيْدٍ». (بخارى: ۲۳۲۲)

۱۰۷٤ - ابو هريره رضي الله عنه په بل روايت کي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((مگر د مېږو (رمې) او کښت ساتلو او د ښکار سپی)).

يعني د دغو موخو لپاره د سپي ساتل د اجر کمېدو لامل نه کېږي: د کښت او رمې ساتلو او ښکار لپاره.

۱۰۷٥ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ مَاشِيَةٍ».

۱۰۷٥ - له ابو هريرة په بل روايت کي راغلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: مگر د ښکار او يا رمې (د څارويو ساتني) سپی.

دا وضاحت هم ضروري دئ چي د دې روايت منشأ د قرآن هغه لاورښوونه ده چي د روزل شوي سپي په اړه کړې ده:

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤﴾

المائدة

٤- له تا پوښتي چي څه ورته حلال دي؟ ورته ووايه: پاك او ستره شيان درته حلال شوي او د ښكار كوونكو حيواناتو چي كوم يو تاسو روزلی وي او په ښكار پسي ئې لېږئ او هغه څه ورښيئ چي الله تاسو ته درښودلي، نو څه چي درته وساتي هغه خورئ او د الله نوم پرې يادوئ او له الله ووېرېږئ. بې شكه چي الله ژر حساب كوونكى دئ.

## ٤ باب: په كركيله كي د غويي استعمال

١٠٧٦ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَمَا رَجُلٌ رَاكِبٌ عَلَى بَقَرَةٍ التَفَتَتْ إِلَيْهِ، فَقَالَتْ: لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا، خُلِقْتُ لِلْحِرَاثَةِ "، قَالَ: " آمَنْتُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَأَخَذَ الذِّئْبُ شَاةً فَتَبِعَهَا الرَّاعِى، فَقَالَ لَهُ الذِّئْبُ: مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ، يَوْمَ لاَ رَاعِىَ لَهَا غَيْرِى "، قَالَ: «آمَنْتُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ» قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: وَمَا هُمَا يَوْمَئِذٍ فِي القَوْمِ (بخارى: ٢٣٢٤)

١٠٧٦ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((په داسي حال کي چي يو سړی پر يوې غوا سپور وو؛ غوا ورته وكتل او وئې ويل: زه د دې (سپرلۍ) لپاره نه يم پيدا شوې؛ د كركيلي لپاره پيدا شوې يم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((زه، ابو بكر او عمر پرې باور لرو؛ او يوه لېوه يو پسه ونيو؛ شپون ورپسې شو، لېوه ورته وويل: د ځناورو په ورځ به ئې څوك ساتونكى وي؛ هغه ورځ چي له ما پرته به ئې بل شپون نه وي؟! وئې فرمايل: زه، ابو بكر او عمر پرې ايمان لرو))؛ ابو سلمه وويل: په داسي حال كې چي دوى دواړه په دغه ورځ په خلكو كي حاضر نه وو.

دا روايت په بخاري کې دوه ځلې راغلی؛ غريب دئ؛ د يوه راويان ئې دا دي: مُحَمَّد بْن بَشَّار، غُنْدَر، شُعْبَة، سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، أَبو سَلَمَة او أَبو هُرَيْرَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْه؛ او د بل ئې دا دي: عَلِي بْن عَبْدِ اللَّهِ، سُفْيَان، أَبُو الزِّنَاد، الأَعْرَج، أَبو سَلَمَة او أَبو هُرَيْرَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ يعني چې د دواړو لومړني دوه راويان سره ورته دي او وروسته ئې بېل بېل.

په مهمو کتابونو کې يوازې مسند احمد، صحيح ابن حبان او صحيح مسلم کې راوړل شوی؛ په صحيح مسلم کې داسې راغلی:

١٣ - (٢٣٨٨) حَدَّثَنِي أَبُو الطَّاهِرِ أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ سَرْحٍ، وَحَرْمَلَةُ بْنُ يَحْيَى، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ، وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُمَا سَمِعَا أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً لَهُ، قَدْ حَمَلَ عَلَيْهَا، الْتَفَتَتْ إِلَيْهِ الْبَقَرَةُ فَقَالَتْ: إِنِّي لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا، وَلَكِنِّي إِنَّمَا خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ " فَقَالَ النَّاسُ: سُبْحَانَ اللهِ تَعَجُّبًا وَفَزَعًا، أَبَقَرَةٌ تَكَلَّمُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ». قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَا رَاعٍ فِي غَنَمِهِ، عَدَا عَلَيْهِ الذِّئْبُ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً، فَطَلَبَهُ الرَّاعِي حَتَّى اسْتَنْقَذَهَا مِنْهُ، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ الذِّئْبُ فَقَالَ لَهُ: مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ، يَوْمَ لَيْسَ لَهَا رَاعٍ غَيْرِي؟ " فَقَالَ النَّاسُ: سُبْحَانَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَإِنِّي أُومِنُ بِذَلِكَ، أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ»

لکه چې ګورئ د مسلم د روايت لومړني راويان هم همدا ابو هريره او ابو سلمه دي؛ خو په متن کې ئې څو خبرې اضافه راغلې: يوه دا: فَقَالَ النَّاسُ: سُبْحَانَ اللهِ تَعَجُّبًا وَفَزَعًا، أَبَقَرَةٌ تَكَلَّمُ؟ خلکو وويل: په تعجب او حيرت سره؛ سبحان الله! آيا غوا خبرې کوي؟! بله ئې دا: فَقَالَ النَّاسُ:

سُبْحَانَ اللهِ؛ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خلكو په ځواب كې فرمايلي: زه، ابو بكر او عمر په دې ايمان لرو چي لېوه او غوا دا خبري كړې دي.

د روايت مهم ټكي دا دي:

١. يو سړى پر غوا سپور شوى؛ غوا مخ وراړولى او هغه ته ئې ويلي: زه د سپرلۍ لپاره نه يم پيدا شوې؛ د كركيلي لپاره پيدا شوې يم.

٢. يوه لېوه يو پسه ونيو؛ شپون ورپسې شو، پسه ئې ترې ژغورلى، لېوه ورته ويلي: د ځناورو په ورځ به ئې څوك ساتي؛ هغه ورځ چي له ما پرته به ئې بل شپون نه وي؟!

٣. رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: كه خلك دې خبرو ته حيرانېږي او تعجب كوي؛ نو زه؛ ابو بكر او عمر پرې ايمان لرو.

د يَوْمَ السَّبُعِ په اړه دوه توجيه وړاندي شوې:

• له يَوْمَ السَّبُعِ مراد هغه ورځ ده چي تر لېوه زيات داړونكي ځناور به پر رمو بريد كوي؛ ځيني به وخوري او نوري به لېوه ته پاته شي؛

• دا چي د فتنو په زمانې كې به خلك خپلي رمې بې شپون او ساتونكي پرېږدي او ځناورو ته به په لاس ورشي. امام نووي د مسلم په شرحي كې دې توجيه ته ترجيح وركړې.

څو پوښتني راولاړېږي:

• آيا غوا او لېوه د انسان په ژبه خبري كولى شي؟

• د داسي خبرو كوم بل مثال او ثبوت موندلى شو؟

• له غوا خو څوك په پټي كې كار نه اخلي؛ يوازي د شيدو كار ترې اخلي؛ له غويي په يوې او كركيلي كې كار اخيستل كېږي؛ دلته ولي غوا ويلي: موږ په كركيلي كې د كار لپاره پيدا شوې يو.

• په روايت كې دا نه مومو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په دې اړه وحي شوې، كه د اهل كتاب په كوم كتاب كې د دې قصو د يادېدو

خبره شوې او كه ئې د هغوی د ويناوو له مخې؛ په قرآن كې خو د دې لپاره هيڅ شاهد او منشأ نه مومو؛ له بل هيڅ صحابي هم دا خبري نه دي اورېدل شوې؛ نه راوي ويلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم دا خبري څه مهال كړې او نه ئې دا ويلي چي د ده تر څنگ بل چا ترې اورېدلې!!

• د تاريخي شواهدو له مخې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه كې له مسيحيانو او يهودانو سره له بايبل پرته بل كتاب نه وو؛ په بايبل كې دا قصې نه مومو.

• قرآن وايي: حتی جبرئيل عليه السلام هم په غيب نه پوهېږي؛ خو دا روايت وايي چي لېوه په غيب پوهېدو!! شپون ته ئې ويلي: اوس خو تا زما رزق رانه غصب كړ؛ هغه ورځ به سره گورو چي ستا رمه له ما پرته بل شپون نه لري!!!

دې پوښتنو ته يوازې يو ځواب ويل كېدی شي او هغه دا چي دا روايت نه د سند له مخې د منلو وړ دئ؛ او نه د نقل او نه د عقل له مخې؛ نه په قرآن كې ورته شاهد مومو او نه ئې په څنگ كې بل روايت. راشئ وگورو چي قرآن موږ ته په دې اړه څه لارښوونې لري:

قرآن موږ ته وايي: په زمكې او آسمان كې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي؛ خو متأسفانه زموږ ځيني د يوه غريب روايت په استناد لېوه ته په غيب پوهېدا منسوبوي!!!! د څلور پښو لېوانو ته هم او د دوو پښو لېوانو ته هم؛ حتی ورستو هډوكو او تر لېوانو ډېر بې رحمه انسان ډوله ځناورو ته هم علم غيب ثابتوي!! ځيني پېريانو ته هم د غيب علم ثابتوي؛ په داسي حال كې چي قرآن فرمايي: پېريانو وويل: كه په غيب پوهېدی نو په اسارت او ذلت كې به نه پاته كېدو؛ ځينو مفسرينو د پېريانو دا وينا داسي تعبير كړې چي كه موږ په غيب پوهېدی نو د سليمان عليه السلام له مرگ به خبر شوي وو او ډېره موده به د مځكې په څېر په اسارت كې نه پاته كېدو؛ خو غوره تعبير دا دئ چي

كه په غيب پوهېدلى نو ډېر وړانديې به له اسارت د وتلو په چم پوه شوي وو؛ او په غلامي کې به نه پاته کېدو؛ څوك چې په غيب پوهېږي؛ هيڅکله دښمن پرې برلاسى کېدى نه شي؛ کولى شي د دښمن هره توطئه او بريد شنډ کړي. خو هغه چې د پېريانو په نامه ډېر څه تر لاسه کوي؛ خلکو ته وايي: جادو درباندي شوى؛ د پېريانو په مرسته کولى شو د تعويذ او کوډو د ښځېدو ځاى پيدا کړو او راوئې باسو؛ د خلکو په غولولو کې ښه مهارت لري؛ جادو شوې مېرمن به په خونه کې ناسته وي؛ دى به مراقبه شي؛ څه به له ځان سره زمزمه کړي؛ ناڅاپي به د بخارۍ د نل له سوري زاړه تعويذونه راولوېږي؛ غوټې به ئې پرانېزي؛ د ږمنځې څو ښاخونه، د وېښتانو څو تارونه، زوړ کاغذ چې څو کرښې ورېې کرښې به په کې ليکل شوې وي؛ راوباسي؛ او دوكه شوي بېمار او خپلوانو ته به ئې ووايي: دا پېريانو له يوه وچ کوهي، د يوه دېوال له چاود او ..... رااېستلى.... دوى بايد پېريانو ته په غيب پوهېدا ثابته کړي؛ دا ځکه چې روزي ئې ورپوري تړلې ده!!!

قرآن څاروي د بهيمة الانعام په نامه يادوي؛ هر حيوان چې په څلورو پښو درومي؛ که د وچې وي او که د سمندر؛ د بهائم په نامه يادېږي؛ دا نوم د دې لپاره ورته غوره شوى چې تکلم نشي کولى؛ د تکلم لپاره چې کوم غړي په کار دي؛ بهائم ئې نه لري؛ نه ئې د حنجرې جوړښت او تارونه داسي دي چې بېل بېل غږونه وايستلى شي او نه ئې ژبه داسي چې په دې غږونو کې مرسته وکړى شي؛ نو دا حيوانات په تربيت او روزني سره هم تکلم نشي کولى؛ په مرغانو کې ځيني داسي دي چې کولى شي انسان ته ورته غږ زده کړي؛ لکه طوطي او ښارو (مينا).

قرآن د سليمان عليه السلام د معجزو په ضمن کې دا هم يادوي چې د مېږي په کلام پوهېدو؛ او هد هد ئې داسي روزلى چې د ده ليك د سبإ ملکې ته ورسوي او هغه د سبإ د خلکو په اړه لازم معلومات ورته راوړي. خو دا د سليمان عليه السلام مختص او ځانګړې معجزه وه؛ بل

چا ته نه ده ورکړی شوې؛ او دا هم داسي چي دی د مېږي په وينا او کلام پوه شوی؛ نه دا چي هغه د انسان په څېر تکلم کړی.

## ۵ باب: د کار په بدله کي د مېوې برخه

۱۰۷۷ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَتِ الأَنْصَارُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اقْسِمْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا النَّخِيلَ، قَالَ: «لا». فَقَالُوا: تَكْفُونَا الْمَئُونَةَ وَنَشْرَكْكُمْ فِي الثَّمَرَةِ. قَالُوا: سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا. (بخاری: ۲۳۲۵)

۱۰۷۷ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي: انصارو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: د خرما دا وني زموږ او زموږ وروڼو (مهاجرينو) تر منځ ووېشه؛ وئې فرمايل: ((نه؛)) هغوی وويل: نو تاسو په کار کي زموږ مرسته وکړئ؛ موږ به مو په مېوه کي راسره شريک کړو؛ مهاجرينو وويل: دا خبره مو قبوله ده او عمل پرې کوو.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۲۵ - ۲۷۱۹ - د متن او إسنادو له پلوه کاملاً سره ورته دي؛ غريب دئ او راويان ئې په پنځو طبقو کي يو يو او دا دي: حَكَم بْن نَافِع، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَاد، الأَعْرَج، او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل مهم کتاب کي؛ د پاته صحاح سته په شمول؛ نه تر سترگو کېږي.

۱۰۷۸ ـ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا أَكْثَرَ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مُزْدَرَعًا، كُنَّا نُكْرِي الأَرْضَ بِالنَّاحِيَةِ مِنْهَا مُسَمًّى لِسَيِّدِ الأَرْضِ، قَالَ: فَمِمَّا يُصَابُ ذَلِكَ وَتَسْلَمُ الأَرْضُ وَمِمَّا يُصَابُ الأَرْضُ وَيَسْلَمُ ذَلِكَ، فَنُهِينَا، وَأَمَّا الذَّهَبُ وَالْوَرِقُ فَلَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ. (بخاری: ۲۳۲۷)

۱۰۷۸ – له رافع بن خَدِيج رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ د مديني په اصلي اوسېدونکو کي تر ټولو زيات د زراعتي زمکو خاوندان وو؛ زمکه به مو په اجاره ورکوله؛ داسي چي يوه برخه به ئې د زمکي د

خاوند په نامه یادېده؛ نو کله به همدا برخه په کوم آفت اخته شوه او نوره زمکه به روغه پاته شوه؛ او کله به همغه د مالک برخه روغه وه او نوره به په آفت اخته شوه؛ نو ترې منع شوو؛ او هغه وخت سره یا سپین زر مروج نه وو.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ خو په صحیح مسلم کې په دې اړه ګڼ شمېر روایات راغلي؛ چې ځیني ئې دا دي:

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ» مسلم

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، فَإِنْ لَمْ يَزْرَعْهَا، فَلْيُزْرِعْهَا أَخَاهُ» مسلم

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْخَذَ لِلْأَرْضِ أَجْرٌ، أَوْ حَظٌّ» مسلم

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَزْرَعَهَا وَعَجَزَ عَنْهَا، فَلْيَمْنَحْهَا أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، وَلَا يُؤَاجِرْهَا إِيَّاهُ» مسلم

(١٥٣٦) سَأَلَ سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، عَطَاءً، فَقَالَ: أَحَدَّثَكَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، أَوْ لِيُزْرِعْهَا أَخَاهُ، وَلَا يُكْرِهَا»، قَالَ: نَعَمْ. مسلم

(١٥٣٦) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ، يَقُولُ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ أَرْضٍ فَلْيَزْرَعْهَا، أَوْ لِيُزْرِعْهَا أَخَاهُ، وَلَا تَبِيعُوهَا»، فَقُلْتُ لِسَعِيدٍ: مَا قَوْلُهُ، وَلَا تَبِيعُوهَا يَعْنِي

الْكِرَاءَ؟ قَالَ: «نَعَمْ». مسلم

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنَّا نُخَابِرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنُصِيبُ مِنَ الْقِصْرِيِّ وَمِنْ كَذَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، أَوْ فَلْيُحْرِثْهَا أَخَاهُ، وَإِلَّا فَلْيَدَعْهَا». مسلم

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَهَبْهَا، أَوْ لِيُعِرْهَا». مسلم

(١٥٣٦) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ»، قَالَ بُكَيْرٌ: وَحَدَّثَنِي نَافِعٌ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: كُنَّا نُكْرِي أَرْضَنَا، ثُمَّ تَرَكْنَا ذَلِكَ حِينَ سَمِعْنَا حَدِيثَ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ. مسلم

له دې ټولو رواياتو داسې معلومېږي چې يا به د ځمکې خاوند په خپله ځمکه کرې؛ يا به ئې بل مسلمان ته سپارې او يا به ئې پرېږدي؛ نه به ئې په اجاره ورکوي او نه به څه پرې اخلي.

## ٦ باب: په نيمايي حاصل يا يوې برخې مزارعه

١٠٧٩ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا مِنْ ثَمَرٍ أَوْ زَرْعٍ، فَكَانَ يُعْطِي أَزْوَاجَهُ مِائَةَ وَسْقٍ، ثَمَانُونَ وَسْقَ تَمْرٍ وَعِشْرُونَ وَسْقَ شَعِيرٍ. (بخارى: ٢٣٢٨)

١٠٧٩ – له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم د خيبر ځمکې د حاصلاتو، مېوې يا غلې د يوې برخې په بدل کې په دهقانۍ ورکړې، له همغه حاصلاتو به ئې خپلو مېرمنو ته سل وسقه؛ اتيا وسقه خرما او شل وسقه وربشې ورکولې.

١٠٨٠ ـ عن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ عَنِ الكِرَاءِ وَلَكِنْ قَالَ: «أَنْ يَمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا». (بخارى: ٢٣٣٠)

١٠٨٠ – له ابن عباس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په اجاره د زمکې له ورکولو نهي نه ده کړې؛ خو دا ئې فرمايلي: ((که له تاسو څوک زمکه خپل ورور ته مجاني ورکړي؛ تر دې ورته غوره ده چي څه معلومه اجاره پرې واخلي.

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٣٣٠ - ٢٣٤٢ راويان او متن ئې سره ورته دي.

## ٧ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم اصحابو اوقاف

١٠٨١ ـ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: لَوْلا آخِرُ الْمُسْلِمِينَ مَا فَتَحْتُ قَرْيَةً إِلَّا قَسَمْتُهَا بَيْنَ أَهْلِهَا كَمَا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ. (بخارى: ٢٣٣٤)

١٠٨١ – له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: که د وروستنيو راتلونکو مسلمانانو اندېښنه راسره نه وی؛ نو هر کلی (سيمه) چي ما به فتح کاوو؛ هغه به مي داسي د فاتحينو تر منځ وېشلو؛ لکه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم خيبر په مجاهدينو وويشلو.

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٣٣٤ - ٣١٢٥ – دواړه د متن او سند له پلوه سره ورته دي؛ په سنن ابي داؤد، مسند احمد او السنن الکبری للبيهقي کې هم همدا متن او سند ئې راوړل شوی؛ يعني چي دا روايت غريب دئ او په پنځو طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: صَدَقَة، عَبْدُ الرَّحْمَن، مَالِك، زَيْدِ بْنِ أَسْلَم او پلار ئې اسلم.

دا موضوع دقت او جدي بحث ايجابوي چي آيا ټولې مفتوحه سيمي

په فاتحینو وېشل شوې که نه؟؛ له هغو سیمو سره څه شوي چي له جنګ پرته تسلیم شوي؟ د خیبر فتح کوم استثنائي حالت وو او له هغو یهودانو سره چلن خاص وو؛ که نه؟ آیا د خیبر مثال وروسته تکرار شوی که نه؟ د خیبر یهودان له فتحي وروسته په خپلي سیمي کي پاته شوي؛ خو زمکي ئې په مسلمانانو وېشل شوې؛ نیمايي حاصل به مسلمانانو ته ورکول کېدو او نیمايي د یهودانو زارعینو ته. تفصیلات ئې وروسته په بل روایت کي راغلي.

## ٨ باب: څوک چي شاړه زمکه آباده کړي

١٠٨٢ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَعْمَرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لأَحَدٍ، فَهُوَ أَحَقُّ». (بخاری: ٢٣٣٥)

١٠٨٢ – له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((څوک چي بې مالکه زمکه آباده کړي؛ نو همغه ئې تر نورو زيات مستحق دئ)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی او له بخاري پرته په بل مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

١٠٨٣ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: أَجْلَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلَى خَيْبَرَ أَرَادَ إِخْرَاجَ الْيَهُودِ مِنْهَا وَكَانَتِ الأَرْضُ حِينَ ظَهَرَ عَلَيْهَا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِلْمُسْلِمِينَ، وَأَرَادَ إِخْرَاجَ الْيَهُودِ مِنْهَا، فَسَأَلَتِ الْيَهُودُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُقِرَّهُمْ بِهَا أَنْ يَكْفُوا عَمَلَهَا، وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نُقِرُّكُمْ بِهَا عَلَى ذَلِكَ مَا شِئْنَا» فَقَرُّوا بِهَا حَتَّى أَجْلاهُمْ عُمَرُ إِلَى تَيْمَاءَ

وَأَرِيحَاءَ. (بخاری: ۲۳۳۸)

۱۰۸۳- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: عمر بن خطاب رضي الله عنه؛ يهود او نصرانيان له حجاز وشړل؛ کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم خيبر فتح کړ؛ غوښتل ئې يهود ترې وشړي؛ پر خيبر له تسلط وروسته ئې زمکه د الله تعالی، رسول الله او مسلمانانو ملکيت شوه؛ وئې غوښتل چي يهودان ترې وباسي؛ خو يهودانو له رسول الله صلى الله عليه و سلم وغوښتل چي دوی په کې پرېږدي؛ کار به ئې پر دوی وي؛ او نيمايي مېوه ئې د دوی؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: ((تر هغه مو په کې پرېږدو چي موږ ئې غواړو؛ نو تر هغه ئې په کې پرېښودل چي عمر رضي الله عنه تَيْمَاء او أَرِيحَاء ته تبعيد کړل.

د بخاري د شرحي(فتح الباریٔ) مؤلف ليکلي: د روايت جا برخه (لِيُقِرَّهُمْ بِهَا أَنْ يَكْفُوا عَمَلَهَا)؛ په مسند احمد کې په دې صيغه راغی: (أَنْ يُقِرَّهُمْ بِهَا، عَلَى أَنْ يَكْفُوا عَمَلَهَا)؛ او دا د بخاري تر متن واضح او څرګند دئ؛

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ په ځينو نورو کتابونو کې هم راغلی؛ غريب دئ او په ۳ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: مُوسَى بْن عُقْبَة، نَافِع او ابْن عُمَر رضي الله عنهما.

د خيبر د زمکو په اړه؛ د يهودانو د عمل له مخي چلن شوی؛ هغه چي جنګېدلي او تر پايه ئې مقاومت کړی؛ د دوی زمکي د شريعت مطابق توزيع شوې؛ خمس ئې د الله تعالی او د هغه د رسول الله او څلور برخي ئې د مسلمانانو تر منځ وېشل شوې؛ او هغه يهودان چي له مقاومت پرته تسليم شوي؛ له هغوی سره دا معامله شوې چي زمکي به ورسره پاته وي او نيمايي حاصل به ئې مسلمانانو ته سپارل کېږي.

راشئ وګورو چي په قرآن کې په دې اړه څه راغلي؟ قرآن فرمايي:

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ الأنفال

او په دې پوه شئ چي څه په غنيمت تر لاسه کوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو ده؛ که په الله او هغه څه مو ايمان راوړی وي چي په خپل بنده ئې د فرقان په ورځې نازل کړ؛ هغه ورځ چي دواړه ډلي سره مخامخ شوې؛ او الله په هر څه ښه قادر دئ.

دلته د غنائمو په اړه څو لارښووني شوې:

د غنائمو پنځمه برخه به بېلوئ، دا د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو برخه ده؛ چي تفصيل ئې دا دئ:

- د الله له برخي مراد د جهاد اړوند چاري او عام المنفعه امور دي.
- د پيغمبر او د ده د خپلوانو په برخي کې هغه خلك او د دوی کورنۍ هم راځي چي د اسلامي دولت په چارو کې بوخت دي. که څه هم ځيني فقهاء دا په مشخصه توګه د پيغمبر عليه السلام او د ده د هغو خپلوانو برخه ګڼي چي د زکات او صدقاتو له اخيستلو منع شوي او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت وروسته دا برخه منتفي بولي او يوازي په پاته دريو کې ئې راخلاصه کوي:
- نېستمن يتيمان
- بې وزلي مسکينان
- اړ مسافر

د غنائمو څلور برخي به په ټولو هغو مجاهدينو وېشل کېږي چي په جګړي کې ئې برخه اخيستې وي، سپور ته د پلي په پرتله دوه برابره

برخه.

که په الله تعالی ایمان لرئ او په دې مو باور وي چې د بدر په جګړې کې ستاسو بریا د الله تعالی پېرزوینه وه، نو د غنائمو په اړه به همغه څه کوئ چې ستاسو د رب له لوري درته لارښوونه کېږي.

په دې باید پوه وئ چې الله تعالی په هر څه قادر دئ، داسي نور فتوحات به مو په برخه او نور غنائم به په لاس درکړي.

## ٩ باب: په کرکیله کې د اصحابو خپل منځي مرسته

١٠٨٤ ـ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قال: قال عمى ظُهَيْرُ بْنُ رَافِعٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: لَقَدْ نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَمْرٍ كَانَ بِنَا رَافِقًا، قُلْتُ: مَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ حَقٌّ، قَالَ: دَعَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا تَصْنَعُونَ بِمَحَاقِلِكُمْ»؟ قُلْتُ: نُؤَاجِرُهَا عَلَى الرُّبُعِ، وَعَلَى الأَوْسُقِ مِنَ التَّمْرِ وَالشَّعِيرِ. قَالَ: «لا تَفْعَلُوا، ازْرَعُوهَا؛ او أَزْرِعُوهَا؛ او أَمْسِكُوهَا» قَالَ رَافِعٌ: قُلْتُ: سَمْعًا وَطَاعَةً. (بخارى: ٢٣٣٩)

١٠٨٤ - له رافع بن خديج رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: تره مې ظُهَير بن رافع رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم موږ له هغه کاره منع کړي وو چې موږ ته آسان وو؛ ما وويل: څه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي همغه حق دئ؛ وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وغوښتم او راته وئې فرمايل: ((په خپلو زمکو څه کوئ؟))؛ ومې ويل: ((هغه په څلورمه اجاره ورکوو؛ يا په څو وسقه خرما او وربشو. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((داسي مه کوئ؛ يا ئې په خپله وکرئ يا ئې نورو ته ورکړئ چې وئې کري او يا ئې همداسي پرېږدئ)) رافع وايي: وامو ورېدل او اطاعت کوو.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلى؛ راويان ئې دا دي: مُحَمَّد بْن مُقَاتِل، عَبْدُ اللَّهِ، الأَوْزَاعِي، أَبو النَّجَاشِيِّ، رَافِع بْن خَدِيجٍ، ظُهَيْر بْنِ رَافِعٍ؛

له همدې متن او راويانو سره؛ په سنن نسائي او سنن الكبرى للبيهقي کې هم راوړل شوی. يعني چې غريب دئ او په شپږو طبقو کې يو يو راوي لري.

١٠٨٥ ـ عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: كَانَ يُكْرِي مَزَارِعَهُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَصَدْرًا مِنْ إِمَارَةِ مُعَاوِيَةَ، ثُمَّ حُدِّثَ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْمَزَارِعِ، فَذَهَبَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى رَافِعٍ فَسَأَلَهُ فَقَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كِرَاءِ الْمَزَارِعِ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: قَدْ عَلِمْتَ أَنَّا كُنَّا نُكْرِي مَزَارِعَنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا عَلَى الأَرْبِعَاءِ وَبِشَيْءٍ مِنَ التِّبْنِ. (بخاری: ٢٣٤٣)

١٠٨٥ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې خپله زراعتي زمکه به ئې د نبي صلى الله عليه و سلم، ابو بکر، عمر، عثمان رضي الله عنهم او د معاويه د خلافت په لومړيو کې په اجاره يا کرايه ورکوله؛ بيا له رافع بن خديج رضي الله عنه دا خبره وشوه چې نبي صلى الله عليه و سلم د زمکې له اجارې نهي کړې؛ نو ابن عمر؛ رافع ته ورغی او پوښتنه ئې ترې وکړه؛ رافع ورته وويل: نبي صلى الله عليه و سلم د زراعتي زمکو له اجارې ورکولو نهي کړې ده؛ نو ابن عمر وويل: ته پوهېږې چې موږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کې خپلې زراعتي زمکې په څلورمه او څه اندازه واښو په بدل کې په اجاره ورکولې.

دا روايت په بخاري کې ٣ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ٢٢٨٦ - ٢٣٤٤ - ٤٠١٢؛ له دغو توپيرونو سره: په ټولو کې دا مطلب شريك دئ: (أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَهَى عَنْ كِرَاءِ المَزَارِعِ؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د زمکو په اجاره ورکولو نهي کړې)؛ خو په ځينو کې دا هم راغلي: (قَدْ عَلِمْتَ أَنَّا كُنَّا نُكْرِي مَزَارِعَنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: موږ به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کې خپلې زمکې په اجاره ورکولې)؛

په بخاري کې دا وضاحت نه مومو چې کوم روایت ارجح او اصح دئ او اجاره ورکول جائز دي که نه. که غور وکړو نو د اجارې دوه ډوله مومو: ۱- دا چې د زمکې یوه برخه مالك ته او بله اجاره کوونکې ته مختص شي؛ له دې نزاع رامنځته کېږي؛ یوه حاصل ورکړي او بله په کوم آفت اخته او حاصل ئې نه وي؛ له دې ممانعت شوی. ۲- په معین مبلغ یا حاصل اجاره کړی شي؛ په دې کې مانع نه شته.

۱۰۸۶ ـ وَعَنْهُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: كُنْتُ أَعْلَمُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الأَرْضَ تُكْرَى ثُمَّ خَشِيَ عَبْدُاللَّهِ أَنْ يَكُونَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَحْدَثَ فِي ذَلِكَ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ يَعْلَمُهُ فَتَرَكَ كِرَاءَ الأَرْضِ. (بخاری: ۲۳٤٥)

۱۰۸۶ - له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: زه پوهېدم چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کې به زمکې په اجاره ورکول کېدې؛ بیا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ووېرېدو چې ښایي نبي صلی الله علیه و سلم به په دې اړه داسې څه ویلي وي چې دی به ترې خبر نه وي؛ نو د زمکې اجاره ورکول ئې پرېښودل.

له دې معلومېږي چې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما له دې وېرې د زمکې اجاره ورکول پرېښې چې ښایي رسول الله صلی الله علیه و سلم به په دې اړه نوې خبره کړې وي؛ چې دی ترې خبر نه دئ.

**۱۰ باب:**

د بخاري ځینې بابونه همداسې دي؛ دا وضاحت نه دئ شوي چې موضوع ئې څه ده او ورپسې روایت په څه ارتباط راغلی؛ په کار وه دا کار شوی وی؛ دا له لوستونکو سره مرسته کوي چې اړوند روایت ژر پیدا

کړي او په مطلب ئې پوه شي.

١٠٨٧ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا يُحَدِّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ: «أَنَّ رَجُلاً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ فَقَالَ لَهُ: أَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ؟ قَالَ: بَلَى، وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ، قَالَ: فَبَذَرَ فَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ، فَكَانَ أَمْثَالَ الْجِبَالِ، فَيَقُولُ اللَّهُ: دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ فَإِنَّهُ لا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ»، فَقَالَ الأَعْرَابِيُّ: وَاللَّهِ لا تَجِدُهُ إِلَّا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا، فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ، وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ، فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ٢٣٤٨)

١٠٨٧ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي چي يو بانده وال سړی هم ناست وو؛ وفرمايل: ((يوه جنتي له خپل رب په جنت کي د کرني (زراعت)؛ اجازه وغوښته؛ الله تعالى ورته وفرمايل: آيا په داسي څه کي نه يې چي تا غوښتي؟ وئې ويل: ولي نه؛ خو دا مي خوښېږي چي څه وکرم؛ (نو اجازه ورکړی شوه)؛ نو څه ئې وشيندل؛ نو شين کېدل ئې، په خپلي ستي ودرېدل ئې، حاصل ورکول ئې؛ (کوټه کول ئې)؛ د غرونو په څېر؛ د سترګو په رپ کي وو؛ نو الله تعالى به فرمايي: دا ستا دي اې د آدم زويه! خبره دا ده چي تا هيڅ څه نه شي مړولی؛ نو هغه باندہ وال وويل: والله چي له قريشي او انصاري پرته به ئې بل څوك ونه مومې؛ همدا دوی د زراعت او کرني خاوندان دي؛ موږ زراعت نه کوو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وخندل.

دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٣٤٨ - ٧٥١٩ – غريب دئ او په پنځو طبقو کي يو يو راوي لري؛ چي دا دي: مُحَمَّد بْن سِنَان، فُلَيْح، هِلاَل، عَطَاءِ بْنِ يَسَار او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسند احمد پرته په بل هيڅ مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ د

دواړو متن داسي دئ چي ځيني برخي ئې له څه علاوه کولو پرته واضح مطلب نه افاده کوي؛ په ژباړه کي ئې چي څه په قوس کي نيول شوي؛ دا علاوه شوي دي؛ په مجموع کي؛ د متن په اړه دا پوښتني راولاړېږي:

• جنتيان به جنت ته له محاسبې وروسته ننوځي؛ دروازې ئې هم له محاسبې وروسته پرانيستل کېږي؛ خو دا روايت وايي چي همدا اوس يو تن جنت ته داخل شوی او هلته ئې له الله تعالی غوښتي چي د څه کرلو اجازه ورکړي.

• تر محاسبې وړاندي؛ د انسانانو روح پرته له کالبوت؛ بېله ساتل کېږي؛ د قيامت په ورځ به روح ته کالبوت ورکړی شي او انسان به راژوندي شي؛ له محاسبې وروسته به د جنت په لوري بېول کېږي او همدا مهال به د جنت دروازه د دوی په وړاندي پرانيستل کېږي.

• قرآن مرگ او ژوند يوازي دوه ځلي گڼي؛ (قَالُوا رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ ...) غافر ۱۱؛ دوزخيان به ووايي: اې زموږ ربه! دوه ځلي دي مرگ او ژوند راکړ؛ خو د بخاري له دې او ځينو نورو غريبو رواياتو داسي معلومېږي چي مرگ ژوند څو څو ځله دئ؛ په قبر کي هم ډېر ځلي ژوند او مرگ وي؛ او همدا اوس هم ډېر خلك په جنت کي دي او دا دئ يو خو بزگري هم کوي.

• په قرآن کي نه تر بيا ژوندون وړاندي جنت ته د ننوتلو خبره مومو او نه په جنت کي د څه کرلو په اړه کوم شاهد.

• قرآن د جنت د مېوو په اړه فرمايي چي په رنگ او شکل کي به د دنيا مېوو ته ورته وي: (... كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقًا قَالُوا هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا...) البقرة ۲۵: (...کله چي ئې له مېوې څه ورروزي کړی شي؛ وايي به: دا خو همغه دي چي تر دې د مخه راکړی شوې وې؛ حال دا چي يوې بلي ته ورته مېوې به ورکړی شوې وي...)؛ د دې معنی دا ده چي د جنت مېوې به له رنگ او شکل د دنيا مېوو ته ورته وي خو په خوند، گټې او په بشپړه جذب کېدو کي به توپير

لري؛ د دنيا مېوې داسي دي چي يوه برخه ئې جذب او بله برخه ئې دفع کېږي.

- بانډه وال ته دا خبره د ټوکو خبره معلومه شوې نو ځکه ئې ملنډي وهلي چي دا به نو يا قريشي وي او يا د مدينې له انصارو!!

آيا له دې ټولو ستونزو سره؛ دا غريب او شاذ روايت؛ چي له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ د راوړلو او منلو وړ دئ؟!

## ٤٠ کتاب: مساقات يا خړوبول

او د الله دا قول: (... وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيّ أَفَلا يُؤْمِنُونَ) الأنبياء ٣٠ او دا قول ئې (أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ- أَأَنْتُمْ أَنْزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُونَ- (لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلا تَشْكُرُونَ) الواقعة: ٦٨- ٧٠

تر روايت وړاندي بايد دا وضاحت وشي چي د فتح البارئ مصنف ابن حجر ليکي: وقول الله عز وجل: وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيّ أَفَلا يُؤْمِنُونَ وقوله جل ذكره: (أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ إلى قوله: فَلَوْلا تَشْكُرُونَ؛ د دغو آيتونو او باب تر منځ هيڅ مناسبت نه شته؛ ځکه آيتونه له بيا ژوندون سره تعلق لري: وَلَا وَجْهَ لَهُ فَإِنَّ التَّرَاجِمَ الَّتِي فِيهِ غَالِبُهَا تَتَعَلَّقُ بِإِحْيَاءِ الْمَوَاتِ.

### ١ باب: خړوبول او د اوبو وېش

١٠٨٨ ـ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ غُلَامٌ أَصْغَرُ الْقَوْمِ وَالأَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ، فَقَالَ: «يَا غُلَامُ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَهُ الأَشْيَاخَ»؟ قَالَ: مَا كُنْتُ لأُوثِرَ بِفَضْلِي مِنْكَ أَحَدًا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ. (بخاری: ٢٣٥١)

۱۰۸۸ – له سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یوه پیاله راوړل شوه؛ وئې څښلې؛ ښۍ خوا ته ئې تر ټولو کشر هلک ناست وو؛ مشران ئې کيڼې خوا ته وو؛ وئې فرمایل: ((اې ځوانه! اجازه راکوې چي مشرانو ته ئې ورکړم؟)) هغه وویل: یا رسول الله! له تا په پاته شوني کي هیچا ته پر ځان ترجیح نه ورکوم؛ نو د اوبو جام ئې هغه ته ورکړ.

دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۵۱ - ۲۳۶۶ - غریب دئ؛ په دوو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو حَازِمٍ او سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او المعجم الکبیر للطبراني؛ پرته په بل هیڅ مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

۱۰۸۹ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: حُلِبَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ دَاجِنٌ فِى دَارِى وَشِيبَ لَبَنُهَا بِمَاءٍ مِنَ الْبِئْرِ الَّتِى فِى دَارِى، فَأَعْطَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَدَحَ فَشَرِبَ مِنْهُ حَتَّى إِذَا نَزَعَ الْقَدَحَ مِنْ فِيهِ، وَعَلَى يَسَارِهِ أَبُو بَكْرٍ وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِىٌّ، فَقَالَ عُمَرُ وَخَافَ أَنْ يُعْطِيَهُ الأَعْرَابِىَّ: أَعْطِ أَبَا بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ عِنْدَكَ، فَأَعْطَاهُ الأَعْرَابِىَّ الَّذِى عَلَى يَمِينِهِ، ثُمَّ قَالَ: «الأَيْمَنَ فَالأَيْمَنَ». (بخاری: ۲۳۵۲)

۱۰۸۹ – له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په کور کي د هغي پالل شوې مېږي شیدې ولوشل شوې چي زما په کور کي وه؛ او د هغه څا اوبه ورسره ګډې شوې چي زما کور کي وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مي د شیدو پیاله ورکړه؛ نو ترې وئې څښلې؛ تر هغه چي پیاله ئې له خپلې خولې لري کړه؛ کيڼ لوري ته ئې ابو بکر او ښي لوري ته ئې یو أعرابي وو؛ نو عمر؛ په داسي حال کي چي وېرېدو؛ پیاله بانډه وال ته ورکړي، وویل: یا رسول الله! ابو بکر ته ئې ورکړه؛ ستا خوا ته دئ؛ خو هغه کوچي ته ئې ورکړه

چي ښځې خوا ته ئې وو؛ بیا ئې وفرمایل: ((د ښي لوري وال مستحق وي؛ یا برکتي او بختور وي؛ یا له ښي وړپسې ښي ته ورکول وي)).

دا روایت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۵۲ - ۵۶۱۲ - ۵۶۱۹ – غریب دئ؛ په دوو طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: الزُّهْرِي او أَنَس بْن مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځینو کې ویل شوي چي مېږه ولوشل شوه: حُلِبَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ دَاجِنٌ؛ په بل کې ویل شوي: ما مېږه ولوشله: فَحَلَبْتُ شَاةً او په بل کې ویل شوي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي شیدې راوړل شوې چي اوبه ورسره ګډې شوې وې: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ؛ له بخاري پرته په بل هیڅ مهم کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

## ۲ باب: لومړی حق د اوبو د مالک دئ

۱۰۹۰ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلأُ». (بخاری: ۲۳۵۳)

۱۰۹۰ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((تر اړتیا زیاتو اوبو مخنیوی دي نه کېږي؛ داسي چي له کبله ئې د ورشو ممانعت وشي)).

یعني که څوك د اوبو څاه، چینه یا کاریز لري؛ اوبه ئې د ده تر اړتیاوو زیاتي وي؛ شاوخوا ئې واښه او د څارویو څرځای وي؛ نو دلته څرېدونکي څاروي دي له اوبو نه ایساروي؛ ځکه ایسارول ئې شپانه اړباسي له دې سیمي بل ځای ته خپل څاروي بوځي.

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۵۳ - ۶۹۶۲ - غریب دئ؛ په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: مَالِك، أَبو الزِّنَادِ، الأَعْرَج او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ اما په نورو کتابونو کې له نورو راویانو هم روایت شوی؛ لکه سنن ابي داؤد، سنن ابن ماجه، صحیح مسلم، سنن الترمذي، صحیح ابن حبان، مسند احمد، موطأ، د ځینو د

راويانو سلسله همدا د بخاري سلسله ده او د ځينو په عائشه رضي الله عنها منتهي کېږي.

۱۰۹۱ ـ وَعَنْهُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ لِتَمْنَعُوا بِهِ فَضْلَ الْكَلإِ». (بخارى: ۲۳۵٤)

۱۰۹۱ - او له همده (ابو هريره رضي الله عنه) بل روايت داسي دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((تر ضرورت د زياتو اوبو ممانعت مه کوئ؛ چي په همدې سره تر اړتيا د زياتو ورشو ممانعت وکړئ)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ په پنځو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى بْن بُكَيْر، لَيْث، عُقَيْل، ابْنِ شِهَاب، ابْنِ المُسَيَّبِ، أَبو سَلَمَةَ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په نورو مهمو کتابونو کي نه دئ راوړل شوی.

## ۳ باب: د څاه په سر دعوى او په اړه ئې فيصله

۱۰۹۲ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ هُوَ عَلَيْهَا فَاجِرٌ لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً الآيَةَ، (۷۷ آل عمران)؛ فَجَاءَ الأَشْعَثُ فَقَالَ: مَا حَدَّثَكُمْ أَبُو عَبْدِالرَّحْمَنِ؟ فِيَّ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ، كَانَتْ لِي بِئْرٌ فِي أَرْضِ ابْنِ عَمٍّ لِي فَقَالَ لِي: «شُهُودَكَ» قُلْتُ: مَا لِي شُهُودٌ قَالَ: «فَيَمِينُهُ»، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذًا يَحْلِفَ. فَذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ ذَلِكَ تَصْدِيقًا لَهُ. (بخارى: ۲۳۵۷)

۱۰۹۲ - له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله

صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((څوک چي په یوه قسم لوړه کوي؛ په دې موخه چي د خپل مسلمان ورور مال ترې وشکوي؛ په داسي حال کي چي پرې فاجر وي؛ (په درواغو ئې لوړه کړې وي)؛ نو له الله تعالی سره به په داسي حال کي مخ شي چي پرې غصه به وي))؛ نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: (إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً .... الآيَةَ: یقیناً هغه چي د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بیع پېري، دوی ته به په آخرت کي هیڅ برخه نه وي او د قیامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي، نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي؛ او دوی ته به دردناك عذاب وي). نو اشعث راغی او وئې ویل: ابو عبدالرحمن (ابن مسعود) تاسو ته څه وویل؟ دا آیت زما په باره کي نازل شوی؛ ما د خپل تره د زوی په زمکي کي یو څاه درلود؛ (رسول الله صلی الله علیه و سلم) ما ته وویل: شاهدان دي راوله؛ ومي ویل: شاهدان مي نه شته؛. وئې فرمایل: ((نو د هغه قسم به وي))؛ ومي ویل: یا رسول الله! نو بیا خو به هغه لوړه کوي؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره وکړه او الله تعالی دا آیت د دې خبري د تصدیق لپاره نازل کړ.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په پنځو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: عَبْدَان، أَبو حَمْزَة، الأَعْمَش، شَقِيق، عَبْدِ اللَّه بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْه؛ له بخاري پرته په نورو مهمو کتابونو کي نه دئ راوړل شوی. په متن کي ئې دا ملاحظه ده: کوم آیت چي د شاهد په توګه وړاندي شوی او ویل شوي چي د دې قضیې په اړه نازل شوی؛ په ټول یقین سره ویلی شو چي دا آیت د اهل کتاب د علماءو په اړه نازل شوی؛ دا د آل عمران سورې ۷۷ آیت دئ؛ ویلی شو چي د آل عمران سورې له ۵۵ آیت تر ۱۰۱ آیت پوري ټول د اهل کتاب په اړه دي؛ د روایت قضیه ئې یو مصداق ګڼلی شو خو د آیت شأن نزول ئې قطعاً نه شو نیولی. همدا راز د آیت یوه فقره هم په روایت کي نه ده راوړل شوې؛ (وَلا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ) او الله به ورسره تکلم نه کوي؛ ژباړه ئې هم

په روايت کې هېره شوې؛ دا اشتباه په ورپسې روايت کې هم تکرار شوې.

د آيت مطلب دا دئ: چا چې د الله د کتاب له بيانولو ډډه وکړه، د کومې دنيوي ګټې لپاره ئې د الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرك د خلکو د ژغورنې لپاره ئې جهاد ونکړ، يا د دې لپاره چې ژوند او مال متاع ئې په خطر کې ونه لوېږي او يا د دې لپاره چې په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه تر لاسه کړي، نو د قيامت په ورځ به الله تعالى له ده سره تکلم نه کوي، همغسې لکه چې ده د الله په کتاب تکلم نه وو کړی؛ له ګناه به ئې پاك نه کړي؛ همغسې لکه چې ده له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرك نه وه پاکه کړې؛ ده ته به دردناك عذاب وي؛ همغسې لکه چې ده مظلومان په دردناکو عذابونو کې يوازې پرېښي وو؛ څه چې په دې سکوت او مداهنت تر لاسه کوي په اصل کې د دوزخ اور دئ چې په خپلې ګېډې کې ئې اچوي.

## ٤ باب: له اوبو د مسافر منع کولو ګناه

١٠٩٣ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلاثَةٌ لا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلا يُزَكِّيهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ: رَجُلٌ كَانَ لَهُ فَضْلُ مَاءٍ بِالطَّرِيقِ فَمَنَعَهُ مِنِ ابْنِ السَّبِيلِ، وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا لا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِدُنْيَا، فَإِنْ أَعْطَاهُ مِنْهَا رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ مِنْهَا سَخِطَ، وَرَجُلٌ أَقَامَ سِلْعَتَهُ بَعْدَ الْعَصْرِ، فَقَالَ: وَاللَّهِ الَّذِى لا إِلَهَ غَيْرُهُ لَقَدْ أَعْطَيْتُ بِهَا كَذَا وَكَذَا فَصَدَّقَهُ رَجُلٌ» ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً. (بخاری: ٢٣٥٨)

١٠٩٣ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((درې تنه داسي دي چې الله تعالى به نه

د قیامت په ورځ ورته ګوري؛ او نه به ئې له ګناه پاکوي او د هغوی لپاره به دردناک عذاب وي: يو هغه چي د لارې خوا ته تر اړتیا زیاتې اوبه ولري او مسافر ترې منع کوي؛ بل هغه چي له یوه امام او مشر سره بیعت کوي خو بیعت نه کوي مګر د دنیوي غرض په موخه؛ که له دې څه ورکړي نو راضي شي او که ئې ورنه کړي نو خفه او ناراض شي؛ او هغه سړی چي خپله متاع تر مازدیګر وروسته خرڅلاوه ته وړاندي کړي او وایي: قسم په هغه الله چي له ده پرته بل معبود نه شته چي په دې مي دومره او دومره (روپۍ) ورکړې دي؛ نو بل سړی ئې رښتینی وګڼي))؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم دا آیت تلاوت کړ: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً.... آل عمران: ۷۷).

د دې روایت په اړه څو خبري باید په پام کي ولرو:

په کوم آیت چي استناد شوی؛ د آیت یوه فقره (وَلا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ) په روایت کي نه ده راوړل شوې؛ آیت داسي دئ:

إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلا أُولَئِكَ لا خَلاقَ لَهُمْ فِي الآخِرَةِ وَلا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۷۷﴾ آل عمران

یقیناً هغه چي د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بیع پېري؛ دوی ته به په آخرت کي هیڅ برخه نه وي او د قیامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي، نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي؛ او دوی ته به دردناك عذاب وي.

دا آیت اصلاً د اهل کتاب په اړه دئ؛ خو مصداق ئې هم هغوی دي او هم ټول هغه کسان چي له الله تعالی سره د خپلو ژمنو په ماتولو او د الله په نامه دروغجنو قسمونو سره قلیله متاع تر لاسه کوي. هم ئې کاذب امام مصداق کېدی شي هم غرضي بیعت کوونکی؛ ...... د همدې لپاره به تاسو په ګڼ شمېر روایاتو کي د بېلو بېلو کسانو یادونه وموئ؛

لکه دا:

۹۵۹۲- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ثَلاَثَةٌ لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: الإِمَامُ الْكَذَّابُ، وَالشَّيْخُ الزَّانِي، وَالْعَائِلُ الْمَزْهُوُّ. مسند احمد

له ابو هریره روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: درې تنه داسي دي چي الله تعالی به د قیامت په ورځ نه ورته ګوري: دروغجن امام، زوړ زاني، متکبر مسکین.

۶۱۱۱- عَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ثَلاَثَةٌ لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ : أُشَيْمِطٌ زَانٍ، وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ، وَرَجُلٌ جَعَلَ اللَّهَ بِضَاعَةً، لاَ يَشْتَرِي إِلاَّ بِيَمِينِهِ، وَلاَ يَبِيعُ إِلاَّ بِيَمِينِهِ. المعجم الكبير للطبرانی

له سلمان رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: درې تنه داسي دي چي الله تعالی به د قیامت په ورځ نه ورته ګوري: عمر خوړلی زاني، متکبر مسکین او هغه چي له الله تعالی یوه متاع جوړ کړي؛ نه څه پېري مګر پر ده لوړي سره؛ او نه څه پلوري مګر پر ده لوړي سره.

۱۲۱۱- عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ثَلاَثَةٌ لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ القِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ؛ قُلْنَا: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ! فَقَدْ خَابُوا وَخَسِرُوا؟ فَقَالَ: الْمَنَّانُ وَالمُسْبِلُ إِزَارَهُ، وَالمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالحَلِفِ الكَاذِبِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلى الله عَليه وسَلم قَالَ: ثَلَاثَةٌ لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، قُلْنَا: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَدْ خَابُوا وَخَسِرُوا؟ فَقَالَ: المَنَّانُ، وَالمُسْبِلُ إِزَارَهُ، وَالمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالحَلِفِ

الكَاذِبِ. السنن الترمذی

له ابو ذر روایت دیٔ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: درې تنه داسي دي چي الله تعالی به نه د قیامت په ورځ ورته گوري، نه به ئې تزکیه کوي او دوی ته به دردناك عذاب وي؛ ومو ویل: دوی څوك دي؟ یا رسول الله! یقیناً چي زیاتمن شوي؛ وئې فرمایل: ډېر منت باروونکی، د اوږد لونگ پر زمکي کشوونکی او په دروغجن قسم خپله متاع پلورونکی.

٦٢٢ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثَةٌ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يُزَكِّيهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ: رَجُلٌ عِنْدَهُ فَضْلُ مَاءٍ مَنَعَهُ مِنَ ابْنِ السَّبِيلِ، وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ كَاذِبًا فَصَدَّقَهُ كَاذِبًا وَاشْتَرَاهَا، وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا لَا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِلدُّنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ وَفَى وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ لَمْ يَفِ لَهُ " الإیمان لإبن منده

له ابو هریره روایت دیٔ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: درې تنه داسي دي چي الله تعالی به نه د قیامت په ورځ ورته گوري؛ نه به ئې تزکیه کوي او دوی ته به دردناك عذاب وي: هغه سړی چي تر اړتیا زیاتي اوبه لري خو مسافر ترې منع کوي؛ هغه سړی چي له مازدیگر وروسته؛ په خپلي متاع په دروغو لوړه کوي؛ بل ئې رښتینی وگڼي او ترې وئې پېري؛ او هغه چي له یوه امیر او امام سره یوازي د دنیایي غرض لپاره بیعت کوي؛ که څه ورکړي؛ پر خپل بیعت وفا کوي او که ئې ورنه کړي؛ وفا نه کوي.

په روایت کي یو سړی داسي معرفي شوی چي له یوه امام او مشر سره بیعت کوي؛ خو بیعت ئې د دنیوي غرض لپاره وي؛ که څه ورکړي نو راضي شي او که ئې ورنه کړي نو خفه او ناراض شي؛ راشئ وگورو چي آیا د دې لپاره کوم شاهد او منشأ په قرآن کي مومو که نه؛ موږ په دې

باور یو چي د هر صحیح حدیث لپاره حتماً په قرآن کې ځرګنده منشأ موندلی شو؛ که احیاناً موږ ئې په موندلو ونه توانېږو؛ دا به زموږ قصور وي؛ نه بل څه؛ ځیني داسي فکر او ادعاء کوي چي حدیث مستقله وحي ده او داسي موارد شته چي په روایاتو کې ئې مومو خو په قرآن که نه شته؛ دلته په دې ارتباط یو واضح مورد مومو؛ قرآن فرمایي:

وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِنْ لَمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾ التوبة

او د دوی ځیني هغه دي چي د صدقاتو په اړه پر تا نیوکه کوي؛ نو که څه ترې ورکړی شي؛ راضي کېږي او که ترې ورنه کړی شي نو ناڅاپه غصه کېږي.

دا همغه مطلب دیٔ چي په روایت کې راغلی؛ زه له هغو محققینو سره په بشپړه توګه موافق یم چي وایي: د هر صحیح حدیث لپاره په قرآن کې منشأ مومو؛ ما په خپل کم علم او نامکمل حفظ سره؛ همدا حقیقت درك کړی.

## ۵ باب: د اوبو ورکولو فضیلت

۱۰۹٤ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «بَيْنَا رَجُلٌ يَمْشِي فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَنَزَلَ بِئْرًا فَشَرِبَ مِنْهَا، ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا هُوَ بِكَلْبٍ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ، فَقَالَ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا مِثْلُ الَّذِي بَلَغَ بِي، فَمَلأَ خُفَّهُ، ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ، ثُمَّ رَقِيَ، فَسَقَى الْكَلْبَ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ، فَغَفَرَ لَهُ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا؟ قَالَ: «فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ». (بخاری: ۲۳٦۳)

۱۰۹٤ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دیٔ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((یو سړی پر لاره روان وو چي سخته تنده پرې

راغله؛ یوه کوهي ته کوز شو اوبه ئې وڅښلې؛ کله چي راپورته شو یو سپی ئې ولید چي له تندې ئې ژبه له خولې را ایستلې او له تندي خاوره څټي؛ وئې ویل: دې ته هم داسي حالت ته رسېدلی چي ما ته رسېدلی وو؛ نو خپله موزه ئې له اوبو ډکه کړه؛ بیا ئې په خوله کي ونیوله او راپورته شو او سپي ته ئې اوبه ورکړې؛ الله تعالی ئې د دې عمل ستاینه وکړه او قبول ئې کړ او مغفرت ئې ورته وکړ)). اصحابو وویل: یا رسول الله! آیا موږ ته به په بوده وو کي هم اجر وي؟ وئې فرمایل: ((د هر لامده ځګر (له خاوند) سره په نېکي کي اجر شته)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دیٔ؛ په پنځو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: عَبْدُ اللَّهِ بْن يُوسُف، مَالِك، سُمَيّ، أَبو صَالِح او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او موطأ پرته په بلٍ هیڅ مهم کتاب کي نه دیٔ راوړل شوی.

## ٦ باب: د اوبو مالک پخپلو اوبو کي لومړی حقدار دیٔ

١٠٩٥ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لأَذُودَنَّ رِجَالاً عَنْ حَوْضِى كَمَا تُذَادُ الْغَرِيبَةُ مِنَ الإِبِلِ عَنِ الْحَوْضِ». (بخارى: ٢٣٦٧)

۱۰۹۵ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دیٔ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((قسم په هغه ذات چي زما نفس ئې په لاس کي دیٔ؛ ځیني خلک به داسي له خپل حوض (کوثر) شړم لکه چي پردی اوښ له حوض شړل کېږي)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دیٔ؛ په پنځو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن بَشَّار، غُنْدَر، شُعْبَة، مُحَمَّد بْنِ زِيَاد او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري، مسند اسحاق ابن راهویه او مسند احمد پرته په بل هیڅ معروف او مهم کتاب کي نه دیٔ راوړل شوی؛ اسحاق بن راهویه د امام بخاري استاد دیٔ. په روایت کي دا

وضاحت نه ليدل كېږي چي دا كوم حوض دئ او كله به ځيني خلك ترې منع كوي؛ شارحينو ويلي چي مرادي ئې د كوثر حوض دئ.

د حوض كوثر او نهر كوثر په اړه به مو ډېر څه اورېدلي وي؛ راشئ وگورو چي په دې اړه قرآن څه ويلي كه نه؛ او په رواياتو كي څه راغلي؟ اصلي موضوع ته تر ننوتلو وړاندي بايد عرض كړم: موږ هره ورځ؛ الله تعالى ته په لسگونو ځلي دا دعاء كوو: اهدنا الصراط المستقيم: موږ په دې مستقيمي لار هدايت كړه؛ صراط د زمكي پر سر سړك او لار ته وايي؛ خو زموږ مقصد ترې دا د زمكي د سر سړك نه؛ بلكي د هدايت معنوي لار ده؛ نه مادي او د زمكي سړك او لار؛ دا لار په همدغي فاتحې سوره كي موږ ته ښودل شوې: د انبياءو، صديقينو، شهداءو او صالحينو لار؛ د اياك نعبد و اياك نستعين لار؛ دا چي يوازي د الله تعالى عبادت كوو او يوازي له ده استعانت غواړو؛ (وَأَنِ اعْبُدُونِي هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ: او دا چي يوازي زما عبادت وكړئ؛ همدا مستقيمه لار ده)؛ لكه چي دلته له الصراط مجازي او معنوي لار مراد ده؛ نه مادي او د زمكي سړك؛ همدا راز حوض كوثر په مجازي توگه كارول شوی؛ ټول هغه روايات چي په هغوی كي د (حوضي: زما حوض) يادونه په كي شوې؛ په بخاري كي ۱۳ ځلي په دغو شمېرو راغلي: ۱۱۹٦ - ۱۳٤٤ - ۱۸۸۸ - ۲۳٦۷ - ۳۵۹٦ - ٤۰۸۵ - ٦٤۲٦ - ٦۵۷۹ - ٦۵۸۰ - ٦۵۸۸ - ٦۵۹۰ - ۷۰٤۸ - ۷۳۳۵ – له دغو رواياتو؛ څلور ئې داسي دي چي وايي: وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي: او منبر مي زما پر حوض دئ؛ د دغو رواياتو شمېرې دا دي: ۱۱۹٦ - ۱۸۸۸ - ٦۵۸۸ - ۷۳۳۵؛ او دا ښيي چي دا حوض؛ چي د كوثر حوض په نامه ياد شوی؛ مجازي حوض دئ نه عيني او مادي حوض؛ ځكه د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر منبر لاندي؛ د اوبو كوم مشهود حوض نه شته؛ نو بايد وگورو چي په دې سره كوم حوض ته اشاره شوې؛ څه چي ويل كېدی شي هغه فقط دا دي چي دا د هدايت او ارشاد هغه معنوي چينه ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر منبر لاندي وه؛ له همدې

منبر او چيني د حق او هدايت رڼا او وړانگي ټول عالم ته خورېدې؛ د نړۍ گوټ گوټ ته رسېدې او حقپال ترې خړوبېدل؛ د اهل ظاهر مسلك پلويان ښايي له دې هم د اوبو کوم حوض راوباسي!! خو د روايت الفاظ دومره واضح دي چي هيڅ د عقل خاوند کوم بل مطلب نه شي ترې اخيستلی. په همدې څلورو رواياتو کې دا هم راغلي: مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ: هغه څه چي زما د کور او منبر ترمنځ دي؛ دا د جنت يو بڼگی دئ؛ يعني دا د جنت باغچې ته ورته دئ؛ دلته ته چي ځم راځم؛ داسي احساس کوم لکه چي په جنت کې گرځم.

له دغو ۱۳رواياتو؛ په پنځو کې دغه فقرې مومو: (... وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ: او والله چي زه همدا اوس خپل حوض ته گورم؛ او ما ته د زمکي د خزانو کلياني راکړل شوې دي)؛ دلته حوض او د زمکي د خزانو کلياني په مجازي توگه کارول شوي؛ له حوض يا همغه تر منبر لاندي د هدايت حوض دئ او يا د قيامت په ورځ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د شفاعت حوض؛ او د زمکي د خزانو له کليانو هم مراد؛ د مسلمانانو د فتوحاتو زېري دي؛ نه دا چي کلياني عملاً راوړل شوې وي او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته سپارل شوې وي؛ او که احياناً په واقعي معنی کلياني وي؛ نو دا به رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په خوب کې ښودل شوې وي؛ دا ځکه چي د خوب ژبه انځورونه وي؛ خو حقيقت دا دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ د قرآن له څرگندو بشارتونو پوه شوی چي الله تعالی به دا دين پر ټولو اديانو غالبوي؛ د دغو قرآني بشارتونو مصداق موږ په خپلو سترگو وليد؛ په لنډې مودې کې مسلمانان پر ټول حجاز مسلط شول؛ او بيا د دوی لاس ته نيمايي نړۍ ورغله؛ له فکري، سياسي، علمي او اجتماعي پلوه د نړۍ قيادت او زعامت د دوی په لاس کې پرېوت؛ د دغو رواياتو شمېرې دا دي: ۱۳۴۴- ۳۵۹۶ - ٤۰۸۵ - ٦٤۲٦ - ٦٥۹۰.

په ۷۰٤۸ روايت کې داسي راغلي: أَنَا عَلَى حَوْضِي أَنْتَظِرُ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ،

فَيُؤْخَذُ بِنَاسٍ مِنْ دُونِي، فَأَقُولُ: أُمَّتِي، فَيُقَالُ: لاَ تَدْرِي، مَشَوْا عَلَى القَهْقَرَى: زه به د خپل حوض خوا ته د هغو انتظار كوم چي ما ته به راځي؛ ځيني خلك به زما خوا ته ونيول شي؛ نو زه به ووايم: دا زما امتيان دي؛ وبه ويل شي: ته نه پوهېږې؛ دوی په شا ولاړل)؛ له دې په وضاحت سره معلومېږي چي دا د شفاعت حوض دئ؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم شفاعت به د ځينو په اړه نه منل كېږي.

اما دا چي په قرآن كې د كوثر يادونه شوې؛ آيا دا حوض كوثر دئ، كه نهر كوثر او كه بل څه؟ اړوند سوره دا ده:

إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ۝٣

بې شكه چي تا ته مو كوثر دروبخښو. نو خپل رب ته لمونځ كوه او قرباني؛ يقيناً چي ستا دښمن په خپله ابتر دئ.

د دې مفصل او مشرح تفسير؛ د قرآن پلوشې كې وګورئ؛ دلته د (الكوثر) مراد نه حوض كوثر دئ، نه نهر كوثر او نه زيات اولاد، بلكې مراد ئې له شك پرته هغه مخلص ياران دي چي الله تعالی د دې سورې د نزول په زمانه كې د پيغمبر عليه السلام په برخه كړي وو، په ابتلاءاتو كې استوار او ثابت قدم پاته شول، له ستونزو او كړاوونو ونه وېرېدل، هري قرباني ته چمتو شول، تكليفونه او زحمتونه ئې قبول كړل، هيڅ ګواښ او فشار له خپلې لاري او تصميم په شا نه كړل، هر يو ئې لكه يو مضبوط او پياوړی لښكر وو، هر يو ئې له صف سره د ځان په څېر د زرګونو نورو مجاهدينو د پيوستون وسيله او سبب، د الله دين ئې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو او د دين بيرغ ئې په ټولې نړۍ كې ورپاوو. د دې رأيي د تأييد لپاره لاندي دلائل لرو:

۱- د كوثر حوض به د قيامت په ورځ او د كوثر نهر به په جنت كې پيغمبر عليه السلام ته وركول كېږي، په دې سوره كې ويل شوي چي (الكوثر) مو عملاً او د دې سورې له نزول مخكې تا ته دركړی. إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ.

۲- متأسفانه ځیني دلته هم د نورو مواردو په څېر وايي له کوثر یا حوض کوثر مراد دئ یا نهر کوثر یا ډېر اولاد؛ او هغه هم د فاطمه رضي الله عنها اولاد، دوی تل هڅه کوي چي په داسي مواردو کي په زور او تکلف سره او له کوم معقول او د منلو وړ دلیل پرته د خپلي خوښي تعبیر له ځانه جوړوي؛ نه دلته د حوض یادونه شوې، نه د نهر او نه د اولاد؛ په داسي حال کي چي د دې سورې د نزول په وخت کي پیغمبر علیه السلام ځوان زامن نه درلودل چي د زیات اولاد معنی ترې واخلو. پر لمسیانو ئې په دې دلیل اطلاق نه شي کېدی چي په دې وخت کي ئې هیڅ لمسی نه وو، لمسیان ئې د دې سورې له نزول نژدې شل کاله وروسته زېږېدلي؛ دا سوره وايي چي الله تعالی دا کوثر همغه مهال عملاً رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورکړی وو.

۳- که له (الکوثر) حوض کوثر یا نهر کوثر او یا ډېر اولاد واخلو د آیتونو تر منځ تړاو، ربط او تنسیق له منځه ځي او په بې ربطو جملو بدلېږي، د دې دواړو خبرو تر منځ به څه ربط وي چي تا ته مو حوض کوثر یا نهر کوثر درکړ او دښمنان دي بې اولاد شول!! همدا راز دا خبره نه شو کولی چي تا ته مو ډېر اولاد درکړ او دښمنان دي بې اولاد شول، دا ځکه چي د پیغمبر علیه السلام دښمنان بې اولاد نه ول.

د سورې په دوهم آیت کي پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه شوې چي د الکوثر د نعمت په پاس باید لمونځ وکړې او قرباني وکړې؛ دا داسي ده لکه چي د قریش په سوره کي قریشو ته ویل شوي: د دې نعمتونو په پاس باید د خپل رب عبادت وکړئ چي له وږي وروسته ئې امنیت درپه برخه کړ او له لوږي وروسته ئې په نس ماړه کړئ؛ او همدا راز لکه چي د (الضحی) او (الشرح) په سورتونو کي د نعمتونو له ذکر وروسته ویل شوي: د الله په نعمتونو اعتراف وکړه او د الله په لوري رغبت وکړه. او داسي لکه د النصر په سورې کي چي ګورو د الهي تأیید او نصرت او د خلکو ډله اسلام ته د ننوتو په مقابل کي چي پیغمبر علیه السلام ته

د تسبیح او استغفار سپارښتنه شوې.

په ډېر وضاحت سره ګورو چې دا آیت پر مخکینیو یوه تفریع او د هغوی نتیجه ده او د الکوثر د اعطاء په مقابل کې د لمونځ او قربانۍ غوښتنه کوي او ښيي چې د کوثر نعمت لا د مخه پیغمبر علیه السلام ته ورکړی شوی او د همدې نعمت د شکر په ځای کولو لپاره په لمانځه او قربانۍ مکلف شوی. په دې آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم او مسلمانانو ته ویل شوي چې لمونځ او قرباني به مو د الله تعالی لپاره وي، د الله تعالی رضاء تر لاسه کول او د ده اوامر تر سره کول به مو د لمانځه او قربانۍ موخه او هدف وي.

قرطبي لیکلي چې د الکوثر په اړه شپاړس قوله راغلي؛ د دې معنی دا ده چې مفسرینو ته له پیغمبر علیه السلام داسي موثق روایت په لاس نه دیٔ ورغلی چې د دې آیت لومړی او وروستی تفسیر ئې وګڼي او د بلي رأیي له ورکولو ډډه وکړي؛ که داسي روایت ئې موندلی وی هیڅکله به ئې ببله ببله رأیه نه وړاندي کوله او شپاړس مختلف تفسیرونه به ئې نه کېدل. همدا راز له دغو شپاړسو رأیو یوه ئې صحیح کېدی شي او بس، موږ نه یوازي دا حق لرو چې د درنو مفسرینو د دغو مختلفو آراءو تر منځ قضاوت وکړو او تر ټولو غوره ئې انتخاب کړو بلکي باید او حتماً دا کار وکړو، دا سمه نه ده چې ووایو: ښایي دا صحیح وي او ښایي دا او یا ووایو چې ښایي ټولې صحیح وي او دې ته د جوامع الکلم نوم ورکړو؛ دا خبره خو د یوه مبهم کلام په اړه کېدی شي نه د قرآن په څېر د مبین او بلیغ کلام په اړه. جوامع الکلم دې ته نه وایي چې مخاطب په شك کې واچوي او په دې پوهېدا ورته ګرانه کړي چې د متکلم موخه او هدف څه دیٔ، دا، که دا او که دا؟! جوامع الکلم هغه کلام دیٔ چې په لنډو الفاظو کې خپل مطلب په ښه او بشپړه توګه اداء کړی شي، نه تکلف په کې شوی وي او نه اضافي او غیر ضروري الفاظ په کې راغلي وي، الکوثر هومره جامع کلام دیٔ چې نظیر ئې نه شو موندلی، خو د دې

معنى دا نه ده چي د کوثر ټول هغه معاني دلته مراد دي چي د لغت په کتابونو کې ئې مومو، له الکوثر باید یوازې یوه محدده او مشخصه معنی مراد وي او مخاطب ئې باید د کلام له فحوی درك کړی شي. او دې ته وایي بلیغ کلام.

که څه هم کوثر د کثرت د مبالغې صیغه ده او ډېر شیان ئې مصداق کېدی شي؛ خو دلته کوثر د ابتر په مقابل کې راغلی، د ابتر معنی منزوي شوی او تجرید شوی ده، نو د کوثر معنی به خامخا ناتجرید شوی او نامنزوي شوی وي؛ بل مصداق ورته جوړول اشتباه ده.

دا سوره په مکي دور کې او د الضحی او الشرح له سورتونو وروسته نازله شوې؛ که څه هم په دې اړه چي د الکوثر سوره په مکه کې نازله شوې که مدینه کې؛ دوه روایتونه مخي ته راځي: یو ئې وایي چي کله د پیغمبر علیه السلام دوهم زوی هم وفات شو نو عاص بن وائل یا ابو لهب وویل بتر محمد: محمد (علیه السلام) میرات شو، یعني نارینه وارث ترې پاته نه شو او دا سوره د ده په ځواب کې نازله شوه.

په بل روایت کې راغلي:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ الله -صلى الله عليه وسلم- ذَاتَ يَوْمٍ بَيْنَ أَظْهُرِنَا إِذْ أَغْفَى إِغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا فَقُلْنَا مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُولَ الله قَالَ « أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ ». فَقَرَأَ « بسم الله الرحمن الرحيم (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ) ». ثُمَّ قَالَ « أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ ». فَقُلْنَا الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ .... رواه مسلم

له انس رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: په داسي وخت کې موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوا کې وو چي مختصر بې حاله شو، بیا ئې په موسکا سره سر رااوچت کړ؛ موږ وپوښتو چي یا رسول الله!

ولي په خندا شوې؟ وئې فرمايل: دا اوس يوه سوره راباندي نازله شوه؛ نو داسي ئې قرائت کړه: « بسم الله الرحمٰن الرحيم (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ)؛ بيا ئې وفرمايل: پوهېږئ چي کوثر څه دئ؟ موږ وويل: الله او رسول ئې ښه پوهېږي؛ وئې فرمايل: دا يو نهر دئ چي الله تعالى ئې له ما سره وعده کړې ده،...

دا روايت په بخاري کي نه دئ راغلى؛ په صحيح مسلم کي يو ځل راغلى؛ په ځينو نورو کتابونو کي هم راوړل شوى؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عَلِي بْن حُجْر السَّعْدِي، عَلِي بْن مُسْهِر، الْمُخْتَار بْن فُلْفُل او أَنَس بْنِ مَالِك رضي الله عنه.

د دې سورې د نزول په اړه څو متعارض روايات زموږ مخي ته راځي؛ څرګنده ده چي په دوى کي به يوازي يو صحيح وي؛ يا به سوره مکي وي يا مدني؛ يا به د مکي دور په پيل کي نازله شوې وي او يا وروسته؛ د دغو رواياتو د صحت او عدم صحت په اړه د سورې د مطالبو په رڼا کي قضاوت کولى شو؛ د سورې له متن او محتوى او د الفاظو له ترکيب ئې په واضح توګه معلومېږي چي دا سوره په مکه کي او هغه مهال نازله شوې چي قريشو د ګواښونو او فشارونو کړۍ پر رسول الله صلى الله عليه و سلم او مؤمنانو دومره تنګه کړې وه چي ګمان ئې کولو؛ له ټولني تجريد شوي؛ څوك ئې خوا ته نه ورځي؛ تياره راتلونکى ئې په برخه دئ؛ د همدې لپاره ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابتر په نامه يادولو؛ ابتر يعنى تجريد شوى او يوازي پاته شوى؛ هغي وني ته ئې ابتر ويل چي په بېديا کي به يوازي ولاړه وه؛ اکثر علماء په دې متفق دي چي دا سوره مکي ده او په همدغسي ظروفو او شرائطو کي نازله شوې؛ د انس رضي الله عنه له روايت سره اتفاق نه کوي؛ د سورې هر څه په دې شهادت ورکوي چي په مکه کي نازله شوې؛ انس رضي الله عنه په مدينه کي پيدا شوى او هغه وخت چي پيغمبر عليه السلام مدينې ته هجرت وکړ اته-نه کلن وو، ښايي د دې سورې د نزول په وخت کي به يا پيدا شوى نه

وو او يا به وړوکی ماشوم وو؛ څنګه ومنو چې دی د دغې سورې د نزول په وخت کې حاضر وو؟!

د لومړي روايت په اړه بايد ووايو چې دا سوره د پيغمبر عليه السلام د زامنو له وفات ډېر کلونه وروسته نازله شوې، د معتبرو رواياتو له مخې د ده زامن له بعثت مخکې وفات شوي؛ د دوی د وفات په وخت کې ابو لهب نه يوازې له پيغمبر عليه السلام سره هيڅ اختلاف نه درلود بلکې پيغمبر عليه السلام خپلې دوه لوڼې د ده دوو زامنو ته په نکاح ورکړې وې.

يوه يادونه:

کله چې ما د دې مختصرې سورې په اړه تحقيق کاوو چې درې لنډ لنډ آيتونه لري، له لسو کلمو جوړه شوې او د قرآن تر ټولو لنډه سوره ده؛ د ډېرو تفسيرونو له مطالعې وروسته او د الله تعالی په کرم او لطف سره مې د دې سورې په تفسير د پوهېدو توفيق په برخه شو، له ليکلو ئې فارغ شوم، قلم مې کښېښود، لاسونه مې د دعاء لپاره اوچت کړل او دا الفاظ مې په ژبه جاري شول: خدايه! ستا د دې پېرزوينې ډېر ډېر شکر کوم، هومره چې که زما د تېرو دېرشو کلونو د مبارزې عوض او بدله يوازې د دغې مبارکې سورې دا فهم وي؛ زه قانع او راضي يم او ستا د دې لطف او کرم مرهون.

د بخاري دا ١٣ روايات سره له ځينو نښو ستاسو مخې ته ږدم؛

١١٩٦ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي»

١٣٤٤ - عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا، فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى المَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى المِنْبَرِ، فَقَالَ: «إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ

مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ - أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ - وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا»

١٨٨٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي»

٢٣٦٧ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَأَذُودَنَّ رِجَالًا عَنْ حَوْضِي، كَمَا تُذَادُ الغَرِيبَةُ مِنَ الإِبِلِ عَنِ الحَوْضِ»

٣٥٩٦ - عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى المَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى المِنْبَرِ فَقَالَ: «إِنِّي فَرَطُكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، إِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي قَدْ أُعْطِيتُ خَزَائِنَ مَفَاتِيحِ الأَرْضِ، وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ بَعْدِي أَنْ تُشْرِكُوا، وَلَكِنْ أَخَافُ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا»

٤٠٨٥ - عَنْ عُقْبَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا، فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى المَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى المِنْبَرِ فَقَالَ: «إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ، أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ، وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا»

٦٤٢٦ - عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا، فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى المَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى المِنْبَرِ، فَقَالَ: «إِنِّي فَرَطُكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي قَدْ

أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ - أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ - وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا»

٦٥٧٩ - عَنِ عَبْد اللَّهِ بْن عَمْرٍو: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ المِسْكِ، وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلاَ يَظْمَأُ أَبَدًا»

٦٥٨٠ - قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ قَدْرَ حَوْضِي كَمَا بَيْنَ أَيْلَةَ وَصَنْعَاءَ مِنَ اليَمَنِ، وَإِنَّ فِيهِ مِنَ الأَبَارِيقِ كَعَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ»

٦٥٨٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي»

٦٥٩٠ - عَنْ عُقْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا، فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى المَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ عَلَى المِنْبَرِ، فَقَالَ: «إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ، أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ، وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا»

٧٠٤٨ - عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: قَالَتْ أَسْمَاءُ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَنَا عَلَى حَوْضِي أَنْتَظِرُ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ، فَيُؤْخَذُ بِنَاسٍ مِنْ دُونِي، فَأَقُولُ: أُمَّتِي، فَيُقَالُ: لاَ تَدْرِي، مَشَوْا عَلَى القَهْقَرَى " قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ أَنْ نَرْجِعَ عَلَى أَعْقَابِنَا، أَوْ نُفْتَنَ»

٧٣٣٥ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَيْنَ

بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ، وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي»

مسند احمد کې د مفاتيح په اړه داسې راغلي:

١٣٦١ – عن عَلِي بْنَ أَبِي طَالِبٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُعْطِيتُ أَرْبَعًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ مِنْ أَنْبِيَاءِ اللَّهِ: أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ الْأَرْضِ، وَسُمِّيتُ أَحْمَدَ، وَجُعِلَ التُّرَابُ لِي طَهُورًا، وَجُعِلَتِ امَّتِي خَيْرَ الْأُمَمِ "

له علي رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: داسې څلور شيان راکړل شوي چې د الله هيڅ نبي ته نه دي ورکړل شوي: د زمکې کلياني راکړل شوې، د احمد په نامه ستايل شوی يم، زمکه راته پاکه ګڼل شوې او امت مې تر ټولو امتونو غوره ګرځول شوی.

له دې روايت په څرګنده توګه معلومېږي چې له مفاتيح څو د اوسپنې کلياني نه دي؛ بلکې د فتوحاتو او برياوو مفاتيح دي.

١٠٩٦ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «ثَلاثَةٌ لا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ: رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ لَقَدْ أَعْطَى بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَى وَهُوَ كَاذِبٌ، وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ، وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ، فَيَقُولُ اللَّهُ: الْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ». (بخاری: ٢٣٦٩)

١٠٩٦ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې نبي صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((درې کسان داسې دي چې الله تعالی به د قيامت په ورځ نه خبرې ورسره کوي او نه به ورته ګوري: هغه سړی چې په خپل مال او متاع لوړه کوي چې دومره ئې پرې ورکړې دي؛ تر هغه مقدار ډېر چې پرې ورکړې ئې دي؛ په داسې حال کې چې دی به دروغجن وي؛ او هغه سړی چې تر مازديګر وروسته به په دروغجن قسم لوړه کوي

چي د خپل مسلمان ورور مال د ځان ثابت کړي؛ او هغه چي تر خپلي اړتيا زياتي اوبه له نورو منع کوي؛ الله تعالى به فرمايي: نن به تا له خپل فضل او کرم داسي منع کوم لکه چي تا به له هغه فضل (اوبو) مخنيوى کولو چي تا په خپل لاس نه وې پيدا کړې)).

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۶۹ - ۷۴۴۶ - غريب دئ؛ په پنځو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عَبْدُ اللَّهِ بْن مُحَمَّد، سُفْيَان بْن عُيَينة، عَمْرو بْنِ دينار، أَبو صَالِح السَّمَّان او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري او السنن الكبرى للبيهقي پرته بل هيڅ مهم کتاب نه دئ راوړی. په روايت کي د اړوند آيت دا دوه نوري برخي نه دي راوړل شوې: (... وَلا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ).

## ۷ باب: هيڅ حِمَى (ايسار شوى ځاى) نه شته مگر الله او د هغه رسول ته.

۱۰۹۷ ـ عَنِ الصَّعْب بْنِ جَثَّامَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا حِمَى إِلَّا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ». (بخاری: ۲۳۷۰)

۱۰۹۷ - له صعب بن جَثَّامَه رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((هيڅ حِمى (ايساره شوې سيمه) نه شته؛ مگر د الله تعالى او د هغه د رسول))

يعني هيڅوك حق نه لري؛ کوم عامه ملکي زمکه او څړ ځاى؛ ځان ته مختص او نور ترې منع کړي؛ د خپلو څارويو يا ښکار لپاره.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۷۰ - ۳۰۱۲ - د دواړو متن او راويان سره ورته دي؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کي دوه راويان لري: ابْنِ عَبَّاس او صَعْب بْن جَثَّامَةَ او په پنځو وروسته طبقو کي يو يو راوي چي دا دي: يَحْيَى بْن بُكَيْر، لَيْث، يُونُس، ابْنِ شِهَاب، عُبَيْدِ اللَّه بْن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَة. يوازي په دغو کتابونو کي راغلی: بخاري، سنن ابي داؤد او السنن الكبرى للبيهقي.

## ۸ باب: د ویالو اوبه څښل؛ د خلکو او حیواناتو له لوري

۱۰۹۸ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْخَيْلُ لِرَجُلٍ أَجْرٌ، وَلِرَجُلٍ سِتْرٌ، وَعَلَى رَجُلٍ وِزْرٌ، فَأَمَّا الَّذِى لَهُ أَجْرٌ: فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِى سَبِيلِ اللَّهِ، فَأَطَالَ بِهَا فِى مَرْجٍ أَوْ رَوْضَةٍ، فَمَا أَصَابَتْ فِى طِيَلِهَا ذَلِكَ مِنَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ كَانَتْ لَهُ حَسَنَاتٍ، وَلَوْ أَنَّهُ انْقَطَعَ طِيَلُهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ كَانَتْ آثَارُهَا وَأَرْوَاثُهَا حَسَنَاتٍ لَهُ، وَلَوْ أَنَّهَا مَرَّتْ بِنَهَرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَمْ يُرِدْ أَنْ يَسْقِىَ كَانَ ذَلِكَ حَسَنَاتٍ لَهُ، فَهِىَ لِذَلِكَ أَجْرٌ، وَرَجُلٌ رَبَطَهَا تَغَنِّيًا وَتَعَفُّفًا، ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللَّهِ فِى رِقَابِهَا وَلا ظُهُورِهَا فَهِىَ لِذَلِكَ سِتْرٌ، وَرَجُلٌ رَبَطَهَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَنِوَاءً لأَهْلِ الإِسْلَامِ فَهِىَ عَلَى ذَلِكَ وِزْرٌ» وَسُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحُمُرِ فَقَالَ: «مَا أُنْزِلَ عَلَىَّ فِيهَا شَىْءٌ إِلَّا هَذِهِ الآيَةُ الْجَامِعَةُ الْفَاذَّةُ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَه». (بخاری: ۲۳۷۱)

۱۰۹۸ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((آس د يوه سړي لپاره د اجر سبب وي، د يوه سړي لپاره سَتْر او پرده وي (بل ته له احتياج)؛ او پر يوه د گناه پېتی؛ اما هغه چي ورته د اجر سبب وي؛ هغه سړی دئ چي د الله تعالی په لار کي ئې د جهاد لپاره تړي او پالي؛ په چمن يا باغ کي ئې په اوږد پړي تړي؛ په دې رسۍ کي چي د چمن او باغ کومي برخي ته رسي؛ د ده لپاره به په حسناتو کي حسابېږي؛ او که ئې رسۍ وشلېږي او يوه دوه لوړي پلي کړي؛ د گامونو پلونه او خوشايه به ئې ده ته حسنات شمېرل کېږي؛ او که په کومي ويالې تېر شي او اوبه تري وڅښي؛ که څه هم مالک ئې خړوبول نه وي غوښتي؛ دا به هم د ده لپاره نېکي محسوب کېږي؛ نو همدا به د ده لپاره د اجر سبب وي؛ او هغه سړی چي د نورو له احتياج

بې نیازه کېدو او له بل مرستي غوښتلو ځان ساتني لپاره آس ساتي؛ بیا د غاړي او شا په اړه ئې د الله تعالی حق هېر نه کړي؛ نو دا به د هغه لپاره پرده او ستر وي؛ او هغه سړی چي د فخر، ویاړ، ریاء او له مسلمانانو سره د دښمنۍ لپاره آس ساتي؛ نو دا به ورته د گناه پېټی وي))؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د خرو په اړه وپوښتل شو؛ وئې فرمایل: ((په دې اړه پر ما؛ له دې جامع او بې ساري آیت پرته بل څه نه دي نازل شوي: (فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ). (الزلزال: ۷-۸).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په پنځو طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: عَبْدُ الله بْن يُوسُف، مَالِك بْن أَنَس، زَيْدِ بْنِ أَسْلَم، أَبو صَالِح السَّمَّانِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري علاوه یوازي په موطأ او سنن نسائي کې هم راوړل شوی؛ خو متن او راویان ئې همدا دي.

د روایت دا موضوع توجه ایجابوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د آسونو په اړه د اجر خبره کړې او د خرو په اړه ئې ویلي چي فقط دا جامع او بې ساري آیت راغلی؛ د دې معنی دا ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د هري لارښوونې لپاره په قرآن کې منشأ درلوده؛ د آسونو په اړه په قرآن کې راغلي:

وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لا تُظْلَمُونَ ﴿٦٠﴾ الأنفال

او د دوی لپاره له (قوت) او (له تړلو آسونو) چي څومره ستاسو په وس کې وي برابر کړئ؛ چي د الله دښمن او خپل دښمن او له دوی علاوه هغه چي تاسو ئې نه پېژنئ خو الله ئې پېژني؛ پرې ووېروئ او څه چي تاسو د الله په لار کې خرڅ کړئ، تاسو ته به په بشپړه توگه بېرته درکړی

شي او پر تاسو به هيڅ ظلم نه کېږي.

په دې آيت کې مسلمانانو ته د حربي وسائلو او نظامي تجهيزاتو د جوړولو او لاس ته راوړلو او د دښمن په خلاف د کافي نظامي ځواك د تيارولو په اړه ځو لارښووني شوې:

- د دښمن په ضد دومره حربي ځواك، وسائل او تجهيزات د روزل شوو آسونو په شمول تيار کړئ چې ستاسو په وس پوره وي.
- د دښمن په ضد ستاسو نظامي ځواك بايد دومره مضبوط او پياوړی وي چې په ځرگندو او پټو دښمنانو کې وېره او خوف راولاړ کړي.
- تاسو چې د جنگي وسائلو او تجهيزاتو په جوړولو او د آسونو په تيارولو او روزلو او د جنگياليو په روزني او تجهيز کوم مالي مصارف او لگښتونه کوئ؛ دا پر ځای مصرف دئ، الله تعالی به په دې اړه ستاسو مصارف نه ضائع کوي؛ په زړه پوري نتائج به پرې مرتب کوي او په دنيا او آخرت کې به ئې اجر درکوي.

دا همغه مطلب دئ چې تفصيل ئې په روايت کې راغلی؛ اما د آسونو، خرو او کچرو په ارتباط په عامه توگه داسي راغلي:

وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا۟ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾ وَٱلْخَيْلَ وَٱلْبِغَالَ وَٱلْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ النحل

او په هغوی (څارويو) کې؛ تاسو ته ښکلا ده؛ هغه مهال چې بېرته ئې راولئ او هغه مهال چې بهر ئې بيايئ؛ او ستاسو درانه بارونه تر داسي سيمو پر (خپلي) شا وړي چې وررسېدونکي نه يئ مگر د ځان په زحمت (کې اچولو) سره، يقيناً چې ستاسو رب مهربان رؤف دئ؛ او آسونه، کچري او خره ئې پيدا کړل چې پرې سپاره شئ او د ښايست په توگه؛ او هغه

څه پیدا کوي چې تاسو نه پرې پوهېږئ.

آسونه، کچري او خره ئې پیدا کړل چې پرې سپاره شئ، تاسو ته تابع او رام او سپرېدو ته مو چمتو، داسې ئې پیدا کړي چې له ښایست ئې خوند اخلئ، رنګونه ئې ښایسته، جوړښت ئې ښکلی او حرکات ئې په زړه پوري.

ستاسو د سورلۍ لپاره ئې ډېر نور داسې شیان پیدا کړي چې لا تر اوسه ئې تاسو نه پېژنئ، ډېر نور داسې څاروي شته چې ستاسو په سیمې کې نه تر سترګو کېږي او تاسو نه دي لیدلي، همدا راز د داسې وسائلو جوړولو امکانات ئې په دې عالم کې ایښي چې ورو ورو به ئې جوړول زده کړئ، د سورلۍ او حمل و نقل ټول هغه وسائل په دې لړ کې راځي چې انسانانو تر نن پوري جوړ کړي او یا له دې وروسته به ئې جوړ کړي.

## ۹ باب: د لرګیو، خسو او وښو خرڅول

۱۰۹۹ - عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: أَصَبْتُ شَارِفًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَغْنَمٍ يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ: وَأَعْطَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَارِفًا أُخْرَى، فَأَنَخْتُهُمَا يَوْمًا عِنْدَ بَابِ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَحْمِلَ عَلَيْهِمَا إِذْخِرًا لأَبِيعَهُ، وَمَعِي صَائِغٌ مِنْ بَنِي قَيْنُقَاعَ فَأَسْتَعِينَ بِهِ عَلَى وَلِيمَةِ فَاطِمَةَ، وَحَمْزَةُ بْنُ عَبْدِالمُطَّلِبِ يَشْرَبُ فِي ذَلِكَ الْبَيْتِ مَعَهُ قَيْنَةٌ فَقَالَتْ: أَلا يَا حَمْزَ لِلشُّرُفِ النِّوَاءِ، فَثَارَ إِلَيْهِمَا حَمْزَةُ بِالسَّيْفِ فَجَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا ثُمَّ أَخَذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا، قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: فَنَظَرْتُ إِلَى مَنْظَرٍ أَفْظَعَنِي فَأَتَيْتُ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ فَأَخْبَرْتُهُ الْخَبَرَ، فَخَرَجَ وَمَعَهُ زَيْدٌ، فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَدَخَلَ عَلَى حَمْزَةَ

فَتَغَيَّظَ عَلَيْهِ، فَرَفَعَ حَمْزَةُ بَصَرَهُ وَقَالَ: هَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لآبَائِي، فَرَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَهْقِرُ حَتَّى خَرَجَ عَنْهُمْ وَذَلِكَ قَبْلَ تَحْرِيمِ الْخَمْرِ. (بخاری: ٢٣٧٥)

١٠٩٩ - له علي بن ابي طالب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يو زوړ اوښ مي د بدر ورځي له غنائمو؛ له رسول الله صلی الله علیه و سلم په برخه شو؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم یو بل زوړ اوښ هم راکړ؛ یوه ورځ مي دواړه د یوه انصاري د کور مخي ته چو کړل او غوښتل مي د اِذخِر څه بوټي ورباندي بار او خرڅ ئې کړم؛ له ما سره د بني قینقاع قبیلې یو زرګر هم وو؛ زما نیت دا وو چي د دې بوټو په بیه به د فاطمې رضي الله عنها د ولیمې بندوبست وکړم؛ په دې وخت کي چي ما اوښان دلته چو کړي وو؛ حمزه رضي الله عنه د همدې انصاري په کور کي د شرابو په څښلو بوخت وو؛ یوه سندر غاړې (وینځه) هم ورسره وه؛ دې وینځي (په سندري کي ویلي وو)؛ اې حمزه! دا څه چاغ اوښان دي؟ نو حمزه له توري سره هغوی ته ورغی؛ کوهانونه ئې ورپرې کړل، تشي ئې ورڅیري کړل او یني ئې راوایستلې. علي رضي الله عنه وویل: دې منظر ته مي وکتل وئې وېرولم؛ نو نبي صلی الله علیه و سلم ته ورغلم؛ په داسي حال کي چي زید بن حارثه ورسره وو؛ له پېښي مي خبر کړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ووت او زید هم ورسره وو؛ نو زه هم ورسره روان شوم؛ حمزه ته ورغی؛ غصه ئې پرې وکړه؛ حمزه خپلې سترګي پورته واړولې او وئې ویل: آیا تاسو زما د پلار (غلامان) نه یئ؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم په شا شا ترې روان شو؛ تر هغه چي ترې ووت؛ او دا پېښه د شرابو تر تحریم وړاندي وه.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په اوو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: إِبْرَاهِيم بْن مُوسَى، هِشَام، ابْن جُرَيْج، ابْن شِهَاب، عَلِيّ بْنِ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ، حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ او عَلِيّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ

اللَّهُ عَنْهُمْ.

د روايت د متن په اړه بايد ووايو: حمزه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم دروند تره وو؛ د بدر او احد په سترو او تاريخي جګړو کې ئې له نظامي پلوه اغېزمن قيادت کړی؛ په مکه کې ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم او مسلمانانو مرستي ته ملا وتړله او ايمان ئې راوړ؛ د ده په اړه داسي غريب او له هتك حرمت ډك روايت راوړل؛ د تعجب او حيرت وړ دئ؛ د ده له هتك حرمت پرته به د دې روايت د راوړلو ګټه څه وي؟! په راويانو کې ئې د ابن شهاب نوم ګورو؛ هغه په شام کې پاته شوی، له عبدالملک بن مروان تر هشام بن عبدالملک پوري د اموي حکامو حامي وو؛ په دغو حکومتونو کې ئې د قاضي په توګه هم دنده تر سره کړې. د امويانو د مخالفينو په اړه ده ته منسوب روايتونه بايد په ډېر احتياط سره وڅېړل شي. د ابن شهاب نوم به د بخاري په ډېرو رواياتو کې وموئ؛ د ثقه او معتبر راوي په توګه ئې نيولی. په مخکينيو درسونو کې هم تاسو څو روايات ولېدل چي ابن شهاب ئې د راويانو په لړ کې وو؛ وروسته به هم وګورئ چي په هغوی کې د ابوبكر او عمر رضي الله عنهما په څېر شخصيتونو ته نامناسبي ويناوي او کړني منسوب شوې.

د شرابو په اړه دا وضاحت هم ضروري برېښي چي تر اسلام وړاندي؛ په تورات، انجيل او نورو الهي کتابونو کې هم حرام وو؛ د شراب په اړه د قرآن له لومړی تر وروستۍ لارښووني په څرګنده توګه معلومېږي چي کرکجن ګڼل شوي او په پای کې ئې بشپړ حرمت اعلان شوی؛ دا ادعاء ناسمه ده چي ګواکي تر اسلام وړاندي ئې څښل جائز وو؛ د الله دين يو دئ؛ څه چي په اسلام کې حلال يا حرام دي؛ په ټولو مخکينيو کتابونو کې هم حلال يا حرام وو.

## ١٠ باب: نورو ته د زمكو ورکول

١١٠٠ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْطِعَ مِنَ الْبَحْرَيْنِ، فَقَالَتِ الأَنْصَارُ: حَتَّى تُقْطِعَ لِإِخْوَانِنَا مِنَ الْمُهَاجِرِينَ مِثْلَ الَّذِى تُقْطِعُ لَنَا، قَالَ: «سَتَرَوْنَ بَعْدِى أَثَرَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِى». (بخارى: ٢٣٧٧)

١١٠٠ - له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم اراده وکړه چي د بحرین د زمکو (یا زکات او صدقات) څه برخي ووېشي؛ انصارو وویل: خو له هغه وروسته چي زموږ مهاجرو ورونو ته زموږ په شان برخي ورکړی شي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((له ما وروسته به (داسي حالت) وګورئ چي پر تاسو نورو ته ترجیح ورکول کېږي؛ نو تر هغه صبر وکړئ چي له ما سره مخامخ شئ)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ، په پنځو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: سُلَیْمَان بْن حَرْب، حَمَّاد بْن زَیْد، یَحْیَی بْن سَعِید او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ ښایي د نه راوړلو وجوهات ئې دا وي: د روایت دوهمه برخه له لومړۍ سره مناسبت نه لري؛ دوهمه برخه ئې د راتلونکي په اړه یوه وړاندوینه ده؛ په داسي حال کي چي قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا لارښوونه کوي:

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَيَّ وَمَا أَنَا إِلا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٩﴾ الأحقاف

ووایه: زه د پیغمبرانو لومړنی نه یم او نه په دې پوهېږم چي له ما سره به څه کېږي او نه په دې چي له تاسو سره به څه کېږي؛ او زه یوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي، زه له یوه ښرګند نذیر

پرته بل څه نه یم.

د روایت دوهمه برخه له دې آیت سره مغایرت لري؛ ځکه دا آیت په څرګنده او پرېکنده توګه وايي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه په دې پوهېدو چې له ده سره به په مستقبل کې څه کېږي او نه په دې چې له نورو سره به څه کېږي. هغه چې څه ویل فقط د الله تعالی له لوري وحي وه؛ نه په خپله له غیب څه ویل.

## ۱۱ باب: د چا لار او ویاله چې د بل په باغ کې وي

۱۱۰۱ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنِ ابْتَاعَ نَخْلاً بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَايِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ، وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلَّذِى بَاعَهُ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ». (بخارى: ۲۳۷۹)

۱۱۰۱ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې اورېدلي چې فرمایل ئې: ((که چا د خرما وني له پیوندولو وروسته واخستلې؛ نو مېوه ئې د خرڅوونکي ده؛ مګر دا چې اخستونکی ئې ځان ته مشروط کړي؛ او که څوک داسې غلام واخلي چې څه مال لري؛ نو مال ئې د خرڅوونکي دئ؛ مګر دا چې اخستونکی ئې ځان ته مشروط کړي)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ په مسلم، ترمذي، نسائي او سنن الکبری للبیهقي کې هم راوړل شوی؛ د ټولو د راویانو لړۍ سره ورته ده؛ روایت غریب دئ؛ په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: لیْث، ابْن شِهَاب، سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، او پلار ئې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما.

## ٤١ کتاب: قرض (پور)

### ١ باب: قرض اخستل د بېرته اداء کولو او یا تلف کولو په نیت

١١٠٢ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ اداءَهَا أَدَّى اللَّهُ عَنْهُ وَمَنْ أَخَذَ يُرِيدُ إِتْلافَهَا أَتْلَفَهُ اللَّهُ». (بخاری: ٢٣٨٧)

١١٠٢ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((که څوک د خلکو مال په دې نیت واخلي چي بېرته به ئي اداء کوي؛ الله تعالی به ئې ترې اداء کړي؛ او که څوک ئې د تلف کولو په نیت واخلي؛ نو الله به ئې تلف کړي)).

د روایت مراد دا دئ چي که څوك له بل پور اخلي او قصد ئې دا وي چي دا پور به حتماً اداء کوي؛ نو الله تعالی به دا توفیق ورکړي او که څوك ئې د تلف کولو په قصد واخلي نو الله تعالی به د تلف کېدو اسباب ورته برابر کړي.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ په مسند احمد او شُعب الإیمان کي هم راوړل شوی؛ غریب دئ په ٣ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: ثَوْر، أَبو الْغَيْث او أَبو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه.

### ٢ باب: د قرض اداء کول

١١٠٣ ـ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَبْصَرَ يَعْنِي أُحُدًا قَالَ: «مَا أُحِبُّ أَنَّهُ تَحَوَّلَ لِي ذَهَبًا يَمْكُثُ عِنْدِي مِنْهُ دِينَارٌ فَوْقَ ثَلاثٍ إِلَّا دِينَارًا أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ» ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ الأَكْثَرِينَ هُمُ

الأَقَلُّونَ إِلَّا مَنْ قَالَ بِالْمَالِ هَكَذَا وَهَكَذَا وَقَلِيلٌ مَا هُمْ» وَقَالَ: «مَكَانَكَ» وَتَقَدَّمَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَسَمِعْتُ صَوْتًا فَأَرَدْتُ أَنْ آتِيَهُ، ثُمَّ ذَكَرْتُ قَوْلَهُ: «مَكَانَكَ حَتَّى آتِيَكَ» فَلَمَّا جَاءَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الَّذِى سَمِعْتُ أَوْ قَالَ: الصَّوْتُ الَّذِى سَمِعْتُ، قَالَ: «وَهَلْ سَمِعْتَ؟» قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: «أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلام فَقَالَ: مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، قُلْتُ: وَإِنْ فَعَلَ كَذَا وَكَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ». (بخارى: ٢٣٨٨)

١١٠٣ – له ابو ذر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: زه له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وم چي سترګي ئې د احد په غره ولګېدې؛ وئې فرمايل: ((نه ئې خوښوم چي دا راته په سرو زرو بدل شي؛ او له ما سره ئې تر دريو ورځو وروسته؛ يو دينار پاته وي؛ مګر هغه دينار چي د قرض اداء کولو لپاره ئې ساتم)). بيا ئې وفرمايل: «د ډېر مال خاوندان به د لږ څه خاوندان وي؛ مګر هغه چي د مال په اړه دا او دا ووايي؛ او دوی څومره لږ دي»؛ بيا ئې وفرمايل: پر خپل ځای اوسه؛ دی وړاندي ولاړ؛ خو ډېر لري نه؛ ما يو غږ واورېد؛ ومي غوښتل چي ورشم؛ بيا مې هغه وينا رایاد شوه چي وئې ويل: پر خپل ځای اوسه؛ کله چي راغی؛ ومي ويل: يا رسول الله! څه چي مي واورېدل؛ يا ئې وويل: هغه غږ چي وامي ورېدو؛ (څه وو؟)؛ وئې فرمايل: «آيا وادي ورېدو؟» ومي ويل: هو؛ وئې فرمايل: «جبرئيل عليه السلام راته راغی او وئې ويل: ستا له امت چي څوک ومري په داسي حال کي چي له الله تعالى سره څه نه شريکوي؛ جنت ته به داخل شي؛ ومي ويل: او که دا دا ئې کړي وي؟ وئې فرمايل: هو؛».

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په دريو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: الأَعْمَش، زَيْدِ بْنِ وَهْب او أَبو ذَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په مسلم او مسند احمد کي له همدې راويانو په دې صيغه راغلی

چي د بخاري تر روايت نسبتاً واضح او له ځينو ابهاماتو عاري دئ؛ په نښه شوې فقرې د بخاري په روايت کې نه مومو:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرَّةِ الْمَدِينَةِ عِشَاءً، وَنَحْنُ نَنْظُرُ إِلَى أُحُدٍ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ» قَالَ: قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: " مَا أُحِبُّ أَنَّ أُحُدًا ذَاكَ عِنْدِي ذَهَبٌ، أَمْسَى ثَالِثَةً عِنْدِي مِنْهُ دِينَارٌ، إِلَّا دِينَارًا أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ، إِلَّا أَنْ أَقُولَ بِهِ فِي عِبَادِ اللهِ، هَكَذَا - حَثَا بَيْنَ يَدَيْهِ - وَهَكَذَا - عَنْ يَمِينِهِ - وَهَكَذَا - عَنْ شِمَالِهِ - قَالَ: ثُمَّ مَشَيْنَا فَقَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ» قَالَ قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «إِنَّ الْأَكْثَرِينَ هُمُ الْأَقَلُّونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، إِلَّا مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا» مِثْلَ مَا صَنَعَ فِي الْمَرَّةِ الْأُولَى، قَالَ: ثُمَّ مَشَيْنَا؛ قَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ، كَمَا أَنْتَ حَتَّى آتِيَكَ» قَالَ: فَانْطَلَقَ حَتَّى تَوَارَى عَنِّي، قَالَ: سَمِعْتُ لَغَطًا، وَسَمِعْتُ صَوْتًا، قَالَ: فَقُلْتُ: لَعَلَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَ لَهُ، قَالَ: فَهَمَمْتُ أَنْ أَتَّبِعَهُ، قَالَ: ثُمَّ ذَكَرْتُ قَوْلَهُ «لَا تَبْرَحْ حَتَّى آتِيَكَ» قَالَ: فَانْتَظَرْتُهُ، فَلَمَّا جَاءَ ذَكَرْتُ لَهُ الَّذِي سَمِعْتُ، قَالَ فَقَالَ: " ذَاكَ جِبْرِيلُ، أَتَانِي فَقَالَ: مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، قَالَ قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ"

د دې معنى دا ده چي بشپړ روايت دا دئ او د بخاري په روايت کې ډېر څه حذف شوي. مخصوصاً دا برخي چي په بخاري کې په دې صيغه راغلي: قُلْتُ: وَإِنْ فَعَلَ كَذَا وَكَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ او په مسلم او مسند احمد کې داسي دي: قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ": ومې ويل: که څه هم زنا ئې کړې وي او غلا ئې کړې وي؟ وئې فرمايل: هو؛ که څه هم زنا ئې کړې وي او غلا کړې وي.

د دې روايت په اړه دا خبري بايد په پام کې ولرو: ١- دا گناه ته د هڅولو لپاره نه دي ويل شوي؛ بلکې موخه ئې دا ده چې گنهگار ته ووايي: سره له دې گناهونو کولی شي توبه وکړي؛ د خپل مهربان رب لوري ته مخه کړي او جنت دي په برخه شي؛ که گناه کوونکی داسې وانگېري چې د نجات ټولې دړي ورته تړل شوې دي؛ نو همدا يأس او ناهيلي به ئې د گناه په ناولې ډنډ کې د پاته کېدو باعث کېږي. ٢- دا د هغه غلط او ناسم مسلك ترديد کوي چې وايي په گناه سره انسان د ايمان له دائرې وځي.

## ٣ باب: په غوره طريقې سره د قرض اداء کول

١١٠٤ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ ضُحًى فَقَالَ: «صَلِّ رَكْعَتَيْنِ» وَكَانَ لِي عَلَيْهِ دَيْنٌ فَقَضَانِي وَزَادَنِي. (بخارى: ٢٣٩٤)

١١٠٤ - له جابر رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: غرمه مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم؛ هغه په جومات کې وو؛ وئې فرمايل: ((دوه رکعته لمونځ وکړه))؛ دغه وخت زما څه قرض ورباندې وو؛ نو زما قرض ئې اداء کړ او څه ئې زيات راکړل.

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ٤٤٣ - ٢٣٩٤ - غريب دئ؛ په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: خَلَّاد بْن يَحْيَى، مِسْعَر، مُحَارِب بْن دِثَار او جابر بن عبد الله رضي الله عنهما؛ له بخاري پرته بل مهم کتاب نه دئ راوړی.

## ٤ باب: د پوروړي جنازه

١١٠٥ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَأَنَا أَوْلَى بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ النَّبِيُّ أَوْلَى

بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ... فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ مَاتَ وَتَرَكَ مَالاً فَلْيَرِثْهُ عَصَبَتُهُ، مَنْ كَانُوا وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَلْيَأْتِنِي فَأَنَا مَوْلاهُ». (بخاری: ۲۳۹۹)

۱۱۰۵ - له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((هیڅ مؤمن داسي نه دئ چي زه په دنیا او آخرت کي د ده په اړه لومړیتوب ونه لرم؛ (ابوهریره وایي:) که غواړئ نو دا آیت ولولئ: (النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ...)؛ الاحزاب: ٦. ((نو هر مؤمن چي ومري او څه مال تري پاته شي؛ نو د ده عصبه خپلوان؛ هر څوك چي وي؛ هغه دې په میراث یوسي؛ او چا چي کوم قرض او محتاج اهل او عیال تر شا پرېښودل؛ نو هغوی دي ما ته راشي؛ زه ئې مولا او کفیل یم)).

عصبه هغه خپلوان دي چي که یوازي وي او د ټاکل شوي میراث وارثان ورسره نه وي؛ نو ټول میراث ئې په برخه کېږي او د داسي وارثانو په شتون کي پاته برخه د هغوی وي.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی: غریب دئ؛ په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو عَامِر، فُلَيْح، هِلاَلِ بْنِ عَلِي، عَبْد الرَّحْمَن بْنِ أَبِي عَمْرَةَ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري علاوه؛ یوازي مسند احمد او السنن الکبری للبیهقي کي له همدې راویانو او متن سره راغلی.

په کوم آیت چي استناد شوی؛ ترجمه ئې داسي ده: (مؤمنانو ته دا نبي د دوی تر خپلو ځانونو لومړی توب لري؛ او مېرمني ئې د دوی میندي دي...)؛ یعني مؤمنان به رسول الله صلی الله علیه و سلم تر خپل ځان لوړ ګڼي او پر خپل ځان به ده ته ترجیح ورکوي؛ د ده مېرمني به خپلي میندي ګڼي؛ له دې آیت قطعاً دا نه معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د مؤمنانو د قرضونو کفیل وي. له دې موضوع سره د التوبه سورې دا آیت واضح او دقیق مناسبت لري:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ

وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾ التوبة

صدقات خو یوازې د فقیرانو، مسکینانو، پرې (گمارل شوو اړوند مأمورینو)، هغه چې زړونه ئې (پرې) رانژدې کېږي، غلامانو، پوروړو، د الله په لار کې او د مسافرانو لپاره دي؛ د الله له لوري يوه فريضه؛ او الله باحكمت پوه دئ.

په دې آيت کې د بيت المال د مصارفو او لګښتونو موارد ذکر شوي؛ چې يو ئې له پوروړو سره مرسته ده؛ يعني د اسلامي دولت يوه دنده او مکلفيت دا دئ چې له دوی سره به مرسته کوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم همدې ته په پام سره ويلي: كه څوك وفات شو؛ په داسې حال کې چې پوروړی وو؛ زه ئې مولا او كفيل يم؛ د پور اداء كول ئې پر ما دي.

## ۵ باب: د مال ضايع كول منع دي

١١٠٦ ـ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ: عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدَ الْبَنَاتِ، وَمَنَعَ وَهَاتِ، وَكَرِهَ لَكُمْ: قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ». (بخارى: ٢٤٠٨)

١١٠٦ – له مُغِيرَه بن شعبه رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((الله تعالى پر تاسو د مور څورول حرام کړي؛ د لوڼو ژوندۍ ښخول او هغه حق نه اداء کول چې پر تاسو لازم دئ؛ او خوشې خبري، ډېري پوښتني او د مال ضايع كول؛ نه درته خوښوي.

دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٤٠٨ - ٥٩٧٥ - ٧٢٩٢ – غريب دئ او په دوو طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: وَرَّاد او مُغِيرَة بْن شُعْبَة. په صحيح مسلم، مسند احمد او السنن الكبرى

للبيهقي كه هم له همدې راويانو او متن سره راوړل شوی.

په روايت کې چې څه راغلي؛ د ټولو مطالبو لپاره په قرآن کې منشأ مومو؛ که دا د مور څورول، که د نجونو ژوندۍ ښخول، که د حق اداء کول، که له خوشو خبرو ډډه کول، له غیر ضروري ډېرو پوښتنو اجتناب کول او د مال نه ضائع کول دي؛ څوك چې له قرآن لږ هم خبر وي؛ نو پوهېږي چې دا ټول په قرآن کې او د څرګندو آيتونو په ترځ کې راغلي؛ اما له قرآن بې خبر؛ روايات ځيلي داسي انګېري چې دا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د بېلي وحي په ترځ کې ويل شوي؛ راشئ دې آيتونو ته لږ ځير شئ:

وَقَضَى رَبُّكَ أَلا تَعْبُدُوا إِلا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاهُمَا فَلا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلا كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ الإسراء

او ستا رب پرېکړه کړې چې له ده پرته د هيچا عبادت مه کوئ او له والدين (مور او پلار) سره ښېګڼه کوئ، که د دوی يو يا دواړه ستا خوا ته زړښت ته ورسېږي نو اُف هم مه ورته وايه؛ او مه ئې رټه؛ او محترمانه وينا ورته کوه.

وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾ التكوير

او کله چې ژوندۍ ښخه شوې وپوښتی شي. ٩- په کومي ګناه وژل شوې؟

وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ﴿٢٤﴾ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ﴿٢٥﴾ المعارج

او هغه چې په مالونو کې ئې ځانګړی معلوم حق وي؛ د سؤالګرو او بې وزلو لپاره.

وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ المؤمنون

او هغه چي له بېهوده (خوشي کار او خبري) ډډه کوونکي دي،

وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ﴿٥٥﴾ القصص

او کله چي چټي خبره واوري مخ ترې اړوي او وايي: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، پر تاسو دي سلام وي، موږ جاهلان نه غواړو.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا اللَّهُ عَنْهَا وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴿١٠١﴾ المائدة

اې مؤمنانو! د هغو شيانو په اړه پوښتنه مه کوئ چي که درته ښکاره شي نو خفه به مو کړي او که د هغه په اړه هغه وخت پوښتنه وکړئ چي قرآن نازلېږي نو درته ښکاره به شي، الله دي د دې عفو وکړي او الله حليم بخښونکی دئ.

په دې آيتونو کي ټول هغه مطالب راغلي چي په دغه روايت کي راغلي؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ټولو صحيح احاديثو وضعيت همداسي دئ؛ هر يو ئې د قرآن شرح او تفسير دئ.

## ٤٢ کتاب: خصومات (شخړي او منازعات)

### ۱ باب: د مسلمان او يهودي دعوی

۱۱۰۷ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ مَسْعُود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلاً قَرَأَ آيَةً سَمِعْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِلافَهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ، فَأَتَيْتُ بِهِ

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «كِلاكُمَا مُحْسِنٌ» قَالَ شُعْبَةُ: أَظُنُّهُ قَالَ: «لا تَخْتَلِفُوا فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا». (بخارى: ٢٤١٠)

١١٠٧ - له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له يوه سړي مي واورېدل چي يو آيت ئې تلاوت كړ؛ په داسي حال کي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي د هغه خلاف اورېدلى وو؛ نو تر لاس مي ونيولو او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي بوت؛ نو وئې فرمايل: ((دواړه ښه يئ؛ شعبه وايي: گمان كوم چي وئې ويل: اختلاف مه كوئ ځكه هغه چي تر تاسو وړاندي ول؛ اختلاف ئې وكړ او له كبله ئې هلاک شول.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلى؛ له بخاري پرته په بل هيڅ مهم كتاب کي نه دئ راوړل شوى؛ غريب دئ په پنځو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: أَبُو الوَلِيدِ، شُعْبَة، عَبْدُ المَلِكِ بْن مَيْسَرَة، النَّزَّال بْن سَبْرَة او عَبْد اللَّه بن مسعود رضي الله عنه. څو جدي ابهامات او ستونزي لري: ١- تر دې باب لاندي راوړل شوى: د مسلمان او يهودي دعوى؛ خو له روايت دا نه معلومېږي چي دعوى د مسلمان او يهودي تر منځ وه؛ بلكي داسي معلومېږي چي د عبد الله بن مسعود او كوم بل صحابي تر منځ وه؛ او دعوى هم د يوه آيت په ارتباط؛ داسي دعوى يوازي د دوه مسلمانانو تر منځ كېدى شي؛ نه د يهودي او مسلمان تر منځ؛ ٢- دا نه دي ويل شوي چي اختلاف د كوم آيت او لفظ او څه ډول قرائت په اړه وو. ٣- دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دواړو ته ويلي چي ستاسو دواړو قرائت سم دئ؛ د دې معنى څه ده؟! دا وضاحت ايجابوي؛ خو نه په بخاري کي د دې وضاحت مومو او نه د بخاري په كومي شرحي کي. څه به كوو او له دې روايت به زموږ تشخيص او انتباه څه وي؟ په دې ارتباط څو عرائض لرم:

- صحابه وو پر يوه خاص قرائت اجماع كړې او همغه په ليكلي بڼې کي تر موږ پوري په تواتر سره رارسېدلى او نن زموږ په اختيار کي دئ؛

يوازي په همدې قرائت بايد اکتفاء وکړو؛ قطعاً صحيح نه ده چې د صحابه وو اجماع پرېږدو او شاذ قرائتونه، آراء او روايات د اختلاف وسيله کړو.

• دا مختلف او په اصطلاح اوه ګوني قرائتونه؛ په دومره توپير سره د توجيه وړ کېدی شي چې يو لفظ چې معنی ئې يوه وي؛ خو داسي معمولي تغيير په کې راغلی وي چې د آيت په معنی او مراد کې د تغيير باعث نه وي؛ لکه د فاتحې سورې دا آيت (مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ)؛ چې د (مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ) او مَلِيكِ يَوْمِ الدِّينِ) په توګه قرائت شي؛ د مَالِكِ، مَلِكِ او مَلِيكِ معنی کاملاً سره ورته او غږ ئې هم ډېر نژدې او مشابه؛ نه داسي لفظي تغيير چې په معنی کې د تغيير باعث وي. بل مورد ئې دا چې کومي قبيلې به يو حرف سم نه شو تلفظ کولی او بل ته ورته غږ سره به ئې تلفظ کولو؛ لکه بلال رضي الله عنه چې (ش) ئې (س) تلفظ کولو؛ فقط داسي بېل بېل قرائتونه د توجيه وړ ګڼلی شو.

ښه او معقول اسلوب دا دئ چې د صحابه وو پر اجماع اکتفاء وشي او د بېل قرائتونو د رامنځته کېدو او رواجولو مخنيوی وشي. ما هغه قاريان نه خوښېږي چې په قرائت کې ډېره قلقله کوي او هڅه کوي يو آيت په څو مختلفو قرائتونو سره قرائت کړي؛ ګمان کوم دوی به د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه لارښوونې مصداق وي چې فرمايلي ئې دي: داسي زمانه به راشي چې ځيني به قرآن په قلقلې او نغمې سره وايي خو تر ستوني به ئې لاندي نه تېرېږي. ښه قاري هغه دئ چې پر خپل قرائت نه مادي اجوره او شکرانه تر لاسه کوي او نه معنوي؛ تحسين او تمجيد؛ قرائت ئې اغېزمن وي؛ اورېدونکي ته خدای ورپه يادوي؛ په زړه کې ئې د الله تعالی مينه پاروي او له سترګو ئې اوښکي بهوي؛ احساس ئې دا وي چې دا قارئ زما د رب کلام رااوروي؛ په ډېر تمکين او احتياط سره؛ نه هغه چې قرائت ئې د سندرو په څېر وي؛ د سندرو اورېدو شوق پاروي او د اورېد نفس سيالي کوي. او ښه حافظ هغه دئ چې لومړی په

قرآن پوه شي؛ له ترجمې او تفسير وروسته ئې حفظ کړي؛ هم د قرآن عالم وي، هم عامل او هم حافظ؛ هم ئې د الفاظو حافظ او هم د دې آيت مصداق حافظ: (... الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ ...)؛ يعني مجاهد حافظ.

په رواياتو کې دا هم مومو چې دعوی د يوه يهودي او مسلمان تر منځ او د موسی عليه السلام او رسول الله صلی الله عليه و سلم د فضيلت په ارتباط وه؛ يهودي ويل موسی عليه السلام تر ټولو افضل دئ؛ ابو بکر رضي الله عنه ويل محمد عليه السلام تر ټولو افضل دئ؛ لانجه تر رسول الله صلی الله عليه و سلم پورې رسېدلې او هغه فرمايلي: زما په ستاينې کې غلو مه کوئ او تر نورو پيغمبرانو مې غوره مه گڼئ؛ .... د قيامت په ورځ به له ډېر هيبت ټول انسانان بې سده شي؛ زه چې کله راپاځم نو موسی عليه السلام به د عرش خوا ته ولاړ وومم؛ نه به پوهېږم چې هغه به بې سده شوی نه وي او که تر ټولو وړاندې به په سد شوی وي؛ د يوسف عليه السلام په ارتباط فرمايي: که د يوسف عليه السلام په ځای زه وی او له دومره اوږدې مودې وروسته له زندان د وتلو بلنه به مې ښايي منلې وی؛ خو ده د ملك بلنه ونه منله.

۱۱۰۸ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: اسْتَبَّ رَجُلانِ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَرَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ قَالَ الْمُسْلِمُ: وَالَّذِي اصْطَفَى مُحَمَّدًا عَلَى الْعَالَمِينَ، فَقَالَ الْيَهُودِيُّ: وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى الْعَالَمِينَ، فَرَفَعَ الْمُسْلِمُ يَدَهُ عِنْدَ ذَلِكَ فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُودِيِّ، فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ، فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمَ فَسَأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَصْعَقُ مَعَهُمْ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ، فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ جَانِبَ الْعَرْشِ، فَلا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ

قَبْلِي؛ او كَانَ مِمَّنِ اسْتَثْنَى اللَّهُ». (بخاري: ۲٤۱۱)

۱۱۰۸ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي دو سړيو يو بل وښکنځل؛ يو ئې مسلمان او بل ئې يهودي؛ مسلمان وويل: قسم په هغه ذات چي محمد ئې پر ټولو جهانيانو غوره گرځولی؛ يهودي وويل: قسم په هغه ذات چي موسی ئې پر ټولو عالميانو غوره گرځولی؛ دلته نو هغه مسلمان لاس پورته کړ او يهودي ته ئې پر مخ څپېړه ورکړه؛ نو يهودي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغی او له خپل کار او د مسلمان له کار ئې خبر کړ؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه مسلمان راوغوښت او له دې پېښي ئې وپوښت؛ نو هغه ترې خبر کړ؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((ما ته پر موسی ترجيح مه راکوئ؛ دا ځکه چي د قيامت په ورځ به ټول خلک بې سده شي، زه به هم ورسره بې سده شم؛ او زه به لومړی کس وم چي راپه سد به شم؛ وبه گورم چي موسی د عرش څنډه کلکه نيولې؛ نه به پوهېږم چي دی هم په هغو کي وو چي بېهوشه شوي او تر ما وړاندي په هوش راغلی او که له هغو به وي چي الله تعالی له بېهوشه کېدو مستثنی کړي)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى بْن قَزَعَة، إِبْرَاهِيم بْن سَعْد، ابْنِ شِهَاب، أَبو سَلَمَة، عَبْد الرَّحْمَنِ الأَعْرَجِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

په روايت کي دوه ابهامات دي: ۱- دا مسلمان څوك وو؛ ولي ئې نوم نه دئ اخيستل شوی؛ په ځينو رواياتو کي ويل شوي چي دا ابو بکر رضي الله عنه وو. ۲- رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه مسلمان په ارتباط څه وکړل چي يهودي ته ئې پر مخ څپېړه ورکړه؟ آيا د داسي مناقشاتو په دوران کي د چا وهل جائز دي؟ دې ته په پام سره چي قرآن فرمايلي:

وَلا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَأُنْزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَهُنَا وَإِلَهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾ العنكبوت

او له اهل کتاب سره له دې پرته چې تر ټولو غوره وي په بله توګه مجادله مه کوئ، مګر د دوی له هغو سره چې ظلم ئې کړی؛ او ووایئ: پر هغه څه مو ایمان راوړی چې موږ ته نازل شوی او تاسو ته نازل شوی؛ او زموږ معبود او ستاسو معبود یو دئ او موږ ورته تسلیم یو.

د قرآن دې لارښوونې ته په پام سره ویلي شو چې نه ابو بکر رضي الله عنه دا کار کړی او نه بل مسلمان؛ که دا کار شوی وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً په دې اړه څه ویلي وو.

دا موضوع هم وضاحت ایجابوي چې ولې ابو بکر رضي الله عنه ته داسي کار منسوب شوی؟ دا به د کوم راوي کار وي؟ د دې راوي خبره ومنو او که د ابو بکر رضي الله عنه؛ په اړه چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته اعلم او افضل شخصیت وو؛ داسي اتهام رد او له منلو ئې ډډه وکړو؟ د عقل او ایمان غوښتنه دا ده چې په داسي مواردو کې د غریب او مشبوه روایاتو له منلو ډډه وشي؛ د دې روایت په سند که د ابن شهاب نوم راغلی؛ هغه د اموی حکامو حامی تېر شوی؛ په ځینو نورو مواردو کې هم ده ته منسوب روایاتو کې دې ته ورته ستونزي تر سترګو کېږي. په مخکینیو درسونو کې هم تاسو همداسي موارد ولیدل.

۱۱۰۹ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ يَهُودِيًّا رَضَّ رَأْسَ جَارِيَةٍ بَيْنَ حَجَرَيْنِ قِيلَ: مَنْ فَعَلَ هَذَا بِكِ؟ أَفُلانٌ أَفُلانٌ حَتَّى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ، فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا، فَأُخِذَ الْيَهُودِيُّ فَاعْتَرَفَ، فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُضَّ رَأْسُهُ بَيْنَ حَجَرَيْنِ.(بخاری: ۲٤۱۳)

۱۱۰۹ – له انس رضي الله عنه روایت دئ چې یوه یهودي د یوې وینځې

سر ددوو تیږو تر منځ ووهلو؛ وویل شول: چا دا کار درسره کړی؟ آیا فلاني او فلاني؛ تر دې چې د هغه یهودي نوم واخستل شو؛ په خپل سر سره ئې اشاره وکړه (چې هو؛) یهودي ونیول شو او اعتراف ئې وکړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه په اړه امر وکړ؛ نو سر ئې د دوو تیږو تر منځ ووهل شو.

دا روایت په بخاري کې ٤ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ٢٤١٣ - ٢٧٤٦ - ٦٨٧٦ - ٦٨٨٤ – غریب دئ؛ په دریو طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: هَمَّام، قَتَادَة او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هیڅ مهم کتاب کې نه دئ راغلی.

## ٢ باب: د مدعیانو یو د بل خلاف خبري

١١١٠ –حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ، وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ، لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ» قَالَ: فَقَالَ الأَشْعَثُ: فِيَّ وَاللَّهِ كَانَ ذَلِكَ، كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ اليَهُودِ أَرْضٌ فَجَحَدَنِي، فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَكَ بَيِّنَةٌ»، قُلْتُ: لاَ، قَالَ: فَقَالَ لِلْيَهُودِيِّ: «احْلِفْ»، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذًا يَحْلِفَ وَيَذْهَبَ بِمَالِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: (إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا) آل عمران: ٧٧ إِلَى آخِرِ الآيَةِ . بخارى ٢٤١٦

١١١٠ – له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((ځوک چې په یوه قسم لوړه کوي؛ په داسي حال کې چې په خپلي لوړي کې فاجر وي؛ (په درواغو ئې لوړه کړې وي)؛ په دې موخه چې د یوه مسلمان سړي مال ترې وشکوي؛ نو له الله

تعالی سره به په داسي حال کې مخ شي چي پرې غصه به وي))؛ راوي وايي چي اشعث وويل: والله چي دا زما په اړه وو؛ زما او يوه يهودي تر منځ يوه زمکه وه؛ نو زما له حق ئې انکار وکړ؛ نو هغه مي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کړ؛ بيا رسول الله صلی الله علیه و سلم ما ته وويل: آيا شاهد او ثبوت لرې؟ ومي ويل: نه؛ نو يهودي ته ئې وفرمايل: لوړه وکړه؛ ومي ويل: يا رسول الله! هغه به لوړه وکړي او زما مال به تر لاسه کړي؛ نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا} [آل عمران: ٧٧] إِلَى آخِرِ الآيَةِ : يقيناً هغه چي د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بيع پېري؛ دوی ته به په آخرت کې هيڅ برخه نه وي....

دا روايت تر دې وړاندي؛ په دې شمېرې ١٠٩٢په همدې څلورم جلد کې څېړل شوی.

## ٤٣ کتاب: لُقْطَه (موندل شوی شی)

### ١ باب: که د موندل شوی شي خاوند؛ نښه ووايي بايد ورکړی شي

١١١١ ـ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَخَذْتُ صُرَّةً مِائَةَ دِينَارٍ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «عَرِّفْهَا حَوْلاً». فَعَرَّفْتُهَا حَوْلاً، فَلَمْ أَجِدْ مَنْ يَعْرِفُهَا، ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَقَالَ: «عَرِّفْهَا حَوْلاً» فَعَرَّفْتُهَا، فَلَمْ أَجِدْ مَنْ يَعْرِفُهَا ثُمَّ أَتَيْتُهُ ثَلاَثًا فَقَالَ: «احْفَظْ وِعَاءَهَا، وَعَدَدَهَا، وَوِكَاءَهَا، فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا، وَإِلَّا فَاسْتَمْتِعْ بِهَا، فاستمتعت». (بخاری: ٢٤٢٦)

١١١١ – له اُبَي بن كعب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه هميانۍ ((کڅوړه)) مي ومونده چي سل ديناره په کې وو؛ رسول الله صلی الله

عليه و سلم ته مي وروړه؛ وئې فرمايل: ((يو کال ئې اعلانوه))؛ يو کال مي اعلانوله، خو داسي څوک مي ونه موندو چي نښه ئې راته ووايي؛ بيا مي وروړه؛ وئې فرمايل: ((يو کال ئې اعلانوه))؛ يو کال مي اعلانوله؛ خو داسي څوک مي ونه موندلو چي وئې پېژني؛ بيا درېيم ځل ورغلم؛ وئې فرمايل: ((پوښ ئې، شمېره ئې او د خولې بند ئې وساته او په ياد ئې لره؛ که ئې خاوند راغی؛ (وربه ئې کړې) که نه؛ نو ګټه ترې واخله))؛ بيا مي په خپله ګټه ترې واخستله.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲٤۲٦ - ۲٤۳۷ - غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: شُعْبَة، سَلَمَة، سُوَيْد بْن غَفَلَة او أُبَيَّ بْنَ كَعْب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ د مسلم، سنن ابي داؤد، ترمذي او مسند احمد په شمول؛ په نورو کتابونو کي هم؛ له همدې متن او سند سره راغلی.

خو دا چي دا اعلان به تر دريو کالونو پوري کېږي که يو کال؛ دې رأی ته ترجيح ورکړی شوې چي تر يوه کال اعلان وشي؛ بيا ئې نښې حفظ او مقدار ئې په ياد وساتل شي؛ مبلغ مصرف شي؛ که ئې خاوند راغی او ثابته شوه چي مال د ده وو؛ عوض ئې ورکړی شي.

## ۲ باب: په لار کي د خرما موندل

١١١٢ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنِّى لأَنْقَلِبُ إِلَى أَهْلِى فَأَجِدُ التَّمْرَةَ سَاقِطَةً عَلَى فِرَاشِى فَأَرْفَعُهَا لآكُلَهَا ثُمَّ أَخْشَى أَنْ تَكُونَ صَدَقَةً فَأُلْقِيهَا». (بخاری: ۲٤۳۲)

١١١٢ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((زه کله خپل کور ته ستنېږم؛ نو پر خپل بستر کومه خرما پرته ومومم، راپورته ئې کړم چي وئې خورم؛ بيا ويره راسره پيدا شي چي هسي نه دا صدقه وي؛ نو وئې غورځوم)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په پنځو طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن مُقَاتِل، عَبْدُ اللَّه، مَعْمَر، هَمَّام بْن مُنَبِّه او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ تر دې باب لاندې راوړل شوی: په لار کې د خرما موندل؛ چې مناسبت نه سره لري؛ ځکه په روایت کې پر خپل بستر خرما موندل راغلې؛ خو په مسلم کې تر دې باب لاندې راوړل شوی: بَابُ تَحْرِيمِ الزَّكَاةِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى آلِهِ وَهُمْ بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ دُونَ غَيْرِهِمْ؛ مناسبت ئې تر بخاري ځرگند او سم دئ؛ له ابو هریره پرته ئې نور راویان هم له بخاري توپیر لري.

## ٤٤ کتاب: مظالم او غصب

و قول الله تعالى: (وَلا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الأَبْصَارُ) إبراهيم ٤٢

او د الله په اړه دا گمان مه کوه چې له هغه څه به غافل وي چې دا ظالمان ئې کوي؛ یقیناً چې (په دې مهلت سره ئې) یوازې هغې ورځې ته ځنډوي چې سترگې په کې (له ډېره هیبته) ټېغې او رډې شي.

تر دې وړاندې چې اړوند روایت وڅېړو؛ د کتاب نوم او په څنگ کې ئې د ابراهیم سورې هغه آیتونه څېړل ضروري برېښي چې امام بخاري دلته راوړي؛ که لږ غور وکړئ نو درته معلومه به شي چې دا آیتونه له موضوع سره هیڅ مناسبت نه لري؛ عنوان د قیامت په ورځ د مظالمو قصاص دئ؛ خو دا آیت او ورپسې ٤٣ او ٤٤ آیتونه ټول په دنیا کې د کافرانو د عذاب په اړه دي؛ ٤٤ آیت په ټول صراحت سره وایي: او (اې محمد!)؛ خلك له هغې ورځې ووېروه چې عذاب به ورته راشي؛ نو هغه چې ظلم ئې کړی؛ وایي به: اې زموږ ربه! تر یوې ټاکلې نژدې نېټې مو

وځنډوه چې ستا بلنه ومنو او د پیغمبرانو متابعت وکړو؛ آیا تاسو هغه نه یئ چې تر دې وړاندې مو لوړه کړې وه چې هیڅ زوال به مو په برخه نشي؟! دا آیتونه ټول د دنیایي عذاب په اړه دي؛ د کتاب له موضوع سره قطعاً مناسبت نه لري.

د بخاري له هر لوستونکي؛ حتی مبتدئ شاګرد سره هم دا پوښتنه راولاړیږي چې په بخاري کې دا او دې ته ورته ډېر موارد داسې دي چې د راوړل شوو آیتونه او موضوع او باب تر منځ هیڅ مناسبت نه وي؟ په همدې درس کې هم تاسو بل مورد ولیدو؛ له ما سره فقط یو ځواب دئ؛ او هغه دا چې ښايي د صحیح بخاري ترتیب او تبویب؛ د امام بخاري له وفات وروسته؛ د ده کوم شاګرد تر سره کړی او دا کار ئې به ډېر تلوار او عجله سره کړی؛ ځکه وایم په تلوار او عجله سره چې که شاګرد ئې هم په اهتمام او تأني سره دا کار کړی وی نو دا ستونزه به نه رامنځته کېده؛ عملاً ګورو چې امام مسلم د امام بخاري شاګرد؛ خپل کتاب داسې تنظیم او تبویب کړی چې تر بخاري ډېر غوره دئ.

## ۱ باب: د مظالمو سزا

۱۱۱۳ ـ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ، حُبِسُوا بِقَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَيَتَقَاصُّونَ مَظَالِمَ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِى الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا نُقُّوا وَهُذِّبُوا أُذِنَ لَهُمْ بِدُخُولِ الْجَنَّةِ فَوَالَّذِى نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لأَحَدُهُمْ بِمَسْكَنِهِ فِى الْجَنَّةِ أَدَلُّ بِمَنْزِلِهِ كَانَ فِى الدُّنْيَا». (بخاری: ۲٤٤٠)

۱۱۱۳ - له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((د قیامت په ورځ چې مسلمانان له دوزخ وژغورل شي؛ د جنت او دوزخ تر منځ پُل سره به ایسار کړی شي؛ نو د هغو مظالمو په اړه به یو له بل قصاص او بدله اخلي چې په دنیا

کي د دوی تر منځ شوي؛ تر هغه چي پاک او صفا شي؛ اجازه به ورکړی شي چي جنت ته داخل شي؛ قسم په هغه ذات چي د محمد سا ئې په لاس کي ده؛ هر يو به په جنت کي د خپل هستوګنځي لوری تر هغه ډېر ښه پېژني چي په دنيا کي ئې د خپل هستوګنځي لار او لوری پيژندو)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دیٔ؛ په ٦ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: إِسْحَاق بْن إِبْرَاهِيم، مُعَاذ بْن هِشَام، هشام، قَتَادَة، أَبو الْمُتَوَكِّل النَّاجِيّ او أَبو سَعِيد الخُدْرِي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته بل هيڅ مهم کتاب َنه دیٔ راوړی.

## ٢ باب: د الله تعالی دا قول (أَلا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ)

١١١٤ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ، فَيَقُولُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ أَىْ رَبِّ، حَتَّى إِذَا قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ، وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ هَلَكَ، قَالَ: سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ، فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ، وَأَمَّا الْكَافِرُ وَالْمُنَافِقُونَ فَيَقُولُ الأَشْهَادُ: (هَؤُلاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ)؛ هود: ١٨. (بخارى: ٢٤٤١)

١١١٤ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دیٔ چي وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي اوربدلي چي فرمايل ئې: ((الله تعالی به په آخرت کي مؤمن ځان ته نژدې کړي؛ تر خپل اړخ لاندي او پټ به ئې کړي؛ او وبه فرمايي: آيا دا ګناه دي درته معلومه ده؟ آيا دا ګناه دي درته معلومه ده؟ نو وبه وايي: هو؛ اې زما ربه! تر هغه چي پر خپلو ټولو ګناهونو به ئې معترف کړي؛ او په زړه کي به ئې وګرځي چي تباه شو؛ وبه فرمايي: په دنيا کي مي پټي کړې؛ نن ئې درته بخښم؛ نو د

نیکیو کتاب به ئې ورکړل شي؛ او دا کافر او منافقان چي دي؛ شاهدان به (ئې په اړه) وايي: ((دوی همغه دي چي د خپل رب په اړه ئې دروغ ويلي؛ آگاه اوسئ چي پر دغو ظالمانو د الله لعنت دئ)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيل، هَمَّام، قَتَادَة، صَفْوَان بْنِ مُحْرِز المَازِنِيّ او ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ پر بخاري علاوه يوازي صحيح ابن حبان او مُصَنَّف ابن ابي شيبه کې راغلی.

## ٣ باب: مسلمان پر مسلمان ظلم نه کوي

١١١٥ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لا يَظْلِمُهُ، وَلا يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِى حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِى حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (بخارى: ٢٤٤٢)

١١١٥ - له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((مسلمان د مسلمان ورور دئ، ظلم نه پرې کوي، ظلم او ظالم ته ئې نه تسليموي، څوک چي د خپل ورور د اړتياوو رفع کولو په لټه کې وي؛ الله تعالی به د هغه حاجتونه پوره کوي، څوک چي د کوم مسلمان د کړاو غوټه پرانيزي؛ الله تعالی به ئې د قيامت د ورځي يو کړاو ترې لري کړي، څوک چي د مسلمان (پر عيب) پرده واچوي؛ الله تعالی به ئې د قيامت په ورځ پرده وکړي)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: لَيْث، عُقَيْل، ابْنِ شِهَاب، سَالِم او عَبْد اللَّه بْن عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ په نورو کتابونو کې هم له همدې سند او متن سره راغلی. يعني د روايت هيڅ راوي له ځان سره شاهد او گواه نه لري.

## ٤ باب: له خپل ورور سره مرسته کوه؛ که ظالم وي که مظلوم

١١١٦ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَذَا نَنْصُرُهُ مَظْلُومًا، فَكَيْفَ نَنْصُرُهُ ظَالِمًا؟ قَالَ: «تَأْخُذُ فَوْقَ يَدَيْهِ». (بخاری: ٢٤٤٤)

١١١٦ - له انس رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((د خپل ورور مرسته کوه؛ که ظالم وي که مظلوم))؛ حاضرینو وویل: یا رسول الله! د دې مرسته به کوو چي مظلوم وي؛ خو څنګه به ئې مرسته کوو چي ظالم وي؟ وئې فرمایل: ((له پاسه ئې لاسونه ونیسه)).

یعني له ظلم د ظالم مخنیوی؛ په حقیقت کې له هغه سره مرسته ده؛ په دې سره د ظلم له عذاب او بدو پایلو ساتل کېږي.

دا روایت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٤٤٣ - ٢٤٤٤- ٦٩٥٢؛ غریب دئ؛ او په صحابه وو کې یو راوي لري چي انس رضي الله عنه دئ: د ټولو روایاتو موضوع هم یوه ده او لومړی راوي ئې هم یو؛ خو په یوه کې «تَأْخُذُ فَوْقَ يَدَيْهِ» په بل کې «تَحْجُزُهُ، أَوْ تَمْنَعُهُ، مِنَ الظُّلْمِ فَإِنَّ ذَلِكَ نَصْرُهُ»؛ سره له دې چي یو ئې مبهم دئ او بل ئې واضح؛ د لومړي راوي؛ انس رضي الله عنه د روایت اصلي صیغه به له شك پرته یوه وه؛ او همغه چي ابهام په کې نه شته؛ ښه خو دا وه چي همدا بشپړ روایت راوړل شوی وی؛ خو امام بخاري دا اسلوب غوره کړی چي له بېلو بېلو راویانو اوربېدلي روایات؛ سره له توپیرونو او حتی جدي تعارضاتو راوړي؛ پرته له دې چي ووایي: د کوم راوي وینا اصح او ارجح ده.

په سنن الترمذي کې همدا روایت؛ د بخاري له دوو راویانو (حُمَید او انس)؛ په دې صیغه راغلی:

۲۲۵۵ – عَن حُمَيْدِ الطَّوِيل، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا»، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، نَصَرْتُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ أَنْصُرُهُ ظَالِمًا؟ قَالَ: «تَكُفُّهُ عَنِ الظُّلْمِ، فَذَاكَ نَصْرُكَ إِيَّاهُ»

حُمَيد الطويل له انس رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((د خپل ورور مرسته کوه؛ که ظالم وي که مظلوم؛ ومو ويل: يا رسول الله! که مظلوم وي؛ مرسته به ئې وکړم؛ او که ظالم وي نو څنګه به ئې مرسته کوم؟ وئې فرمايل: ((له ظلم ئې مخنيوی وکړه؛ همدا له ده سره مرسته ده)).

په څرګنده توګه معلومېږي چي د روايت سمه او اصلي بڼه همدا د ترمذي روايت دئ.

## ۵ باب: ظلم به د قيامت په ورځ د تيارو سبب کېږي

۱۱۱۷ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (بخاری: ۲٤٤٧)

۱۱۱۷ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((ظلم د قيامت په ورځ د تيارو سبب کېږي)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: أَحْمَد بْن يُونُس، عَبْد العَزِيز المَاجِشُون، عَبْد اللَّه بْن دِينَار او عَبْدِ اللَّه بْنِ عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛

په صحيح مسلم او ځينو نورو کتابونو کي دا موضوع په دې صيغه راغلی:

٥٦ - (۲٥۷۸) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «اتَّقُوا الظُّلْمَ، فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ، فَإِنَّ الشُّحَّ

أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ»

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: له ظلم ځان وساتئ چي ظلم به د قیامت په ورځ تیارې وي؛ له بخل ډډه وکړئ؛ چي بخل هغه هلاك کړل چي تر تاسو وړاندي وو؛ دې ته ئې چمتو کړل چيويني ئې توی کړي او محارم ئې حلال وګڼي.

يعني د قيامت په ورځ او هغه مهال چي مؤمنان به د خپل ایمان په رڼا کي مخکي درومي؛ (يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَى نُورُهُمْ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ) الحديد ١٢؛ دا مهال به ظالمان د ظلم له کبله؛ په تيارو کي وي؛ همغسي لکه چي منافقين به په تيارو کي وي او له مؤمنانو به غواړي؛ دوی ته وګوري چي له رڼا ئې برخمن شي. شح هغه بخل ته وايي چي د مالي واجباتو له اداء کولو انسان منع کوي او د بل پر حق تېري ته ئې هڅوي؛ همدا د جګړو او خونړيو پېښو او يو د بل وينو تویولو او پر محارمو ئې د تېري او تجاوز سبب کېږي.

## ٦ باب: که مظلوم، ظالم وبخښي

١١١٨ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ لأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لا يَكُونَ دِينَارٌ وَلا دِرْهَمٌ، إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ».

(بخاری: ٢٤٤٩)

١١١٨ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((که پر چا د خپل ورور له لوري؛ د خپل عزت يا بل شي؛ له کبله؛ د مظلوميت دعوی وي؛ نو همدا نن دي له

هغه بخښنه وغواړي؛ مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې نه به په کې دینار وي او نه درهم؛ که ئې کوم صالح عمل وي؛ د مظلمت په اندازه به ترې واخستل شي؛ او که ئې حسنات نه وي نو د مظلوم ملګري له ګناهونو به واخستل شي او پر ده به بار کړی شي)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: آدَم بْن أَبِي إِيَاس، ابْن أَبِي ذِئْب، سَعِيد المَقْبُرِي او أَبِو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

## ٧ باب: د هغه چا ګناه چې څه زمکې په اړه ظلم وکړي

١١١٩ ـ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ ظَلَمَ مِنَ الأَرْضِ شَيْئًا طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ». (بخارى: ٢٤٥٢)

١١١٩ – له سعید بن زید رضي الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اورېدلي چې فرمایل ئې: ((څوک چې د څه زمکې په ارتباط ظلم وکړي؛ نو د همغې زمکې اوه طبقې به ئې د غاړې طوق شي)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٦ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: أَبُو اليَمَانِ، شُعَيْب، زُهْرِيّ، طَلْحَة بْن عَبْدِ اللَّهِ، عَبْد الرَّحْمَنِ بْنَ عَمْرو او سَعِيد بْن زَيْد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه مسند احمد او سنن الکبری للبیهقي کې له همدې سند او متن سره راغلی.

١١٢٠ ـ عَنْ ابن عمر رضى الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَخَذَ مِنَ الأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ». (بخارى: ٢٤٥٤)

١١٢٠ – له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله

صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((څوک چي په ناحقه څه زمکه غصب کړي؛ د قيامت په ورځ به تر اوومي طبقې په کي ښخ کړی شي)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په پنځو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: مُسْلِم بْن إِبْرَاهِيم، عَبْدُ اللَّه بْن المُبَارَك، مُوسَى بْن عُقْبَة، سَالِم او پلار ئې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ مهم کتاب کي نه دئ راغلی

## ٨ باب: که يو انسان بل ته د څه اجازه ورکړي؛ نو جائز کېږي

١١٢١ ـ وَعنه رضى الله عنه: أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ يَأْكُلُونَ تَمْرًا فقال: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم نَهَى عَنِ الإِقْرَانِ إِلَّا أَنْ يَسْتَأْذِنَ الرَّجُلُ مِنْكُمْ أَخَاهُ. (بخارى: ٢٤٥٥)

١١٢١ - او له همده (ابن عمر رضي الله عنهما) روايت دئ چي د يوې داسي ډلي خوا ته تېرېدو چي کجوري ئې خوړلې؛ وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم له جوړه جوړه خوړلو نهي کړې؛ مګر دا چي ستاسو کوم يو له خپل ورور اجازه وغواړي.

د روايت مطلب دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د کجورو له جوړه جوړه خوړلو نهي کړې؛ که څه هم په روايت کي دا وضاحت نه دئ شوی چي دا په ګډه او له يوه لوښي او دسترخان د خوراك په صورت کي او که په عامه توګه؛ خو له وروستۍ فقرې (إِلَّا أَنْ يَسْتَأْذِنَ الرَّجُلُ مِنْكُمْ أَخَاهُ) چي شعبه ئې د ابن عمر وينا ګڼي؛ معلومېږي چي دا نهي په هغه حالت پوري ارتباط لري چي څو تنه په ګډه له يوه لوښي خرما خوري. په روايت کي دا هم راغلي چي دا مهال په مدينه کي وچکالي او ګراني رامنځته شوې وه؛ (كُنَّا بِالْمَدِينَةِ، فَأَصَابَتْنَا سَنَةٌ، فَكَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ يَرْزُقُنَا التَّمْرَ: موږ په مدينه کي وو؛ وچکالي راباندي راغلې وه؛ ابن زبير به کجوري راباندي خوړلې).

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۴۵۵- ۲۴۹۰ - غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: أَبُو الوَلِيد، شُعْبَة، جَبَلَة او ابْن عُمَرَ رضي الله عنهما.

## ۹ باب: د الله تعالی دا قول: (وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ) البقرة ۲۰٤

۱۱۲۲ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللَّهِ الأَلَدُّ الخَصِمُ». (بخاری: ۲٤٥۷)

۱۱۲۲ - له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((د الله تعالی په وړاندې تر ټولو مبغوض انسان؛ هغه دئ چې ډېر جګړاوو وي)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: ابْنِ جُرَيْج، ابْنِ أَبِي مُلَيْكَة او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ د مسلم په شمول په ځینو نورو کتابونو کې هم له همدې متن او سند سره راوړل شوی.

په قرآن کې په دې ارتباط دا آیت لرو:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ البقرة

او د خلکو ځیني داسې دي چې د دنیا په اړه د ده وینا دې حیرانوي او په هغه څه الله شاهد نیسي چې په زړه کې ئې دي؛ په داسې حال کې چې دی تر ټولو کلك جګړاوو دئ.

دا هغه دي چې ظاهر ئې د دوست، وینا ئې حیرانوونکې، د دنیوي چارو په اړه وینا ئې ډېره جالبه او جاذبه، خو په حقیقت کې تر بل هر دښمن خطرناك او کینه کښ، له مسلمانانو سره د مخامخ کېدو په وخت کې ځان د دوی له ډلې ښیي، قسمونه خوري چې په زړه کې ئې پوخ ایمان دئ او له مسلمانانو سره کلکه مینه.

## ١٠ باب: د هغه چا گناه چي په پوهي سره باطله دعوی کوي

١١٢٣ ـ عَنِ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ سَمِعَ خُصُومَةً بِبَابِ حُجْرَتِهِ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ: «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنَّهُ يَأْتِينِي الْخَصْمُ فَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَبْلَغَ مِنْ بَعْضٍ، فَأَحْسِبُ أَنَّهُ صَدَقَ فَأَقْضِيَ لَهُ بِذَلِكَ، فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِحَقِّ مُسْلِمٍ فَإِنَّمَا هِيَ قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيَأْخُذْهَا أَوْ فَلْيَتْرُكْهَا». (بخارى: ٢٤٥٨)

١١٢٣ - د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمني ام سلمه رضي الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلي حجرې له دروازې سره د یوې شخړې غږ واورېدو؛ نو ورووت او وئې فرمایل: ((زه انسان یم؛ او ما ته دعوی کوونکي راځي؛ ښایي ستاسو ځیني به تر ځینو نورو ډېر بلیغ او فصیح وي؛ نو زه به داسي وانگېرم چي دده رښتیا ویلي؛ او له همدې کبله به د ده په گټه فیصله وکړم؛ خو که چا ته مي د کوم مسلمان د حق ورکړي فیصله وکړه؛ نو دا به ورته د اور یوه ټوټه وي؛ خوښه ئې چي هغه اخلي او که ئې پرېږدي)).

دا روایت په بخاري کي ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٤٥٨ - ٧١٨١ - ٧١٨٤ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: ابْنِ شِهَاب، عُرْوَة بْن الزُّبَيْر، زَيْنَب بِنْت أُمِّ سَلَمَة، او مور ئې أُم سَلَمَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ له بخاري علاوه؛ صحیح مسلم او ځینو نورو کتابونو کي هم له همدې متن او سند سره راوړل شوی خو په بخاري کي له دې توپیرونو سره چي په یوه کي فَلْيَأْخُذْهَا أَوْ فَلْيَتْرُكْهَا په بل کي فَلْيَأْخُذْهَا أَوْ لِيَتْرُكْهَا او په بل کي فَلْيَأْخُذْهَا أَوْ لِيَدَعْهَا او په مسلم کي فَلْيَحْمِلْهَا، أَوْ يَذَرْهَا راغلي.

لکه چي گورئ دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: زه بشر یم؛ کېدی شي د مدعیانو ویناوو او دلائلو ته په پام سره؛ د یوه په گټه پرېکړه وکړم؛ په داسي حال کي چي هغه به مستحق نه وي؛ نو هغه

دي پوه شي چي دا به ورته د اور يوه ټوټه وي؛ خوښه ئې چي هغه اخلي او که ئې پرېږدي؛ په دې کې موږ ته څو مهمي لارښووني شوې: ١- رسول الله صلى الله عليه و سلم وايي چي په غيب نه پوهېږم؛ ٢- له دې معلومېږي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ځيني خبري د ده خپلي خبري او انګېرني دي؛ د هغو ادعاء بې بنسټه ده چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم هره وينا وحي وه؛ دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله فرمايي: فَأَحْسِبُ أَنَّهُ صَدَقَ فَأَقْضِيَ لَهُ بِذَلِكَ نو زه به داسي وانګېرم چي ده رښتيا ويلي؛ او له همدې کبله به د ده په ګټه فيصله وکړم؛ او فرمايي: کېدی شي د بل حق چا ته ورکړم.

پوښتنه کوو: روايت ځپلي د بخاري د دې روايت په اړه د ويلو لپاره څه لري؟!

## ١١ باب: له ظالم د مظلوم بدله؛ کله چي د هغه مال ومومي

١١٢٤ ـ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قُلْنَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ تَبْعَثُنَا فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ لا يَقْرُونَا، فَمَا تَرَى فِيهِ؟ فَقَالَ لَنَا: «إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَأُمِرَ لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا، فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ». (بخاری: ٢٤٦١)

١١٢٤ – له عُقْبَه بن عامر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم ته مو وويل: ته مو ولېږې او کله په داسي قوم واړوو چي هغوی مو مېلمه پالنه نه کوي؛ په دې اړه څه وايې؟ نو موږ ته ئې وفرمايل: ((کله چي کوم قوم ته ورغلئ؛ که داسي څه درته وټاکل شول چي له مېلمه سره ښايي؛ نو قبول ئې کړئ؛ او که ئې داسي ونه کړل نو د مېلمه حق تري واخلئ)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: لَيْث، يَزِيد، أَبو الخَيْر او عُقْبَة بْنِ عَامِر؛ د مسلم

په شمول په نورو کتابونو کې هم له همدې متن او سند سره راوړل شوی.

دا وضاحت ایجابوي چې د مېلمه حق ترې واخلئ څه معنی لري او څنګه به ئې ترې اخلې؟ په باندېو کې دا کار کېدی شي او که په کلیو کې؟؛ په زور د اخستلو حق لري او که نه؟؛ او که له باغ او پټي یا له مېږو ئې څه تر لاسه کول ورته جائز شوي؟؛ دا حکم ابتدائي وو او وروسته منسوخ شوی که نه؟؛ دا حق مضطر ته ورکړی شوی او که هر مسافر ته؟ په بخاري کې د دې ځواب نه مومو!!

په دې اړه اختلاف دئ ځیني وایي دا په ابتداء کې یو رخصت وو خو وروسته منسوخ شوی، ځیني ئې یوازې مضطر ته جائز ګڼې، ځیني ئې دا صورت جائز ګڼې چې د کلیوالو کوم څه له زور او جنګ پرته تر لاسه کړي او ځان له اضطرار وژغوري؛ ځیني د اضطرار په صورت کې هم د اخستل شوي مال عوض ورکول ضروري ګڼې؛ اکثریت علماء دا یو عام دود او رواج ګڼې او د سنت په سترګه ورته ګوري؛ نه د واجب او فرض په سترګه؛ او دا هم وایي چې وروسته منسوخ شوی.

په همدې اړه مو مخکینیو درسونو کې هغه روایت وڅېړو چې د همداسې قضیې په ارتباط وو او مجاهدینو له کلیوالو څو مېږې تر لاسه کړې وې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: دا درته حلال دي؛ غوره او د منلو وړ صورت ئې همدا دئ.

خو که دا روایت له لازم وضاحت پرته د بې هدف، بې فرهنګ او غیرملتزم جنګیالیو لاس ته ورشي؛ نو د ټوپك په زور به له مظلومو کلیوالو د پسونو حلالول او کبابونه غوړې او مستمسك به ئې همدا روایت وي.

## ۱۲ باب: د ګاونډي په دیوال کې میخ ټکوهل

۱۱۲۵ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِي جِدَارِهِ». ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ:

مَا لِي أَرَاكُمْ عَنْهَا مُعْرِضِينَ وَاللَّهِ لأَرْمِيَنَّ بِهَا بَيْنَ أَكْتَافِكُمْ. (بخاری: ۲٤٦۳)

۱۱۲۵ - له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((يو گاونډی دي خپل گاونډی له دې؛ نه منع کوي چي خپل لرگی د ده په دېوال کي کښېږدي))؛ وروسته ابو هریره وويل: نه پوهېږم ولي تاسو له دې ډډه کوونکي گورم؟ والله چي ستاسو پر شا به ئې وتپم.

دا روایت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن مَسْلَمَةَ، مَالِك، ابْنِ شِهَاب، الأَعْرَج او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په مسلم کي هم له همدې سند او متن سره راغلی؛ په مسند احمد او ځينو نورو کي له بل سند سره راغلی خو شعيب الارنؤوط ئې ضعيف گڼي.

دا روایت لږ وضاحت ايجابوي؛ مراد ئې دا دئ چي که ستا گاونډی دې ته اړ شو چي د خپلي خوني تير ستا پر دېوال کښېږدي، يا کوم بل لرگی او خس؛ په داسي حال کي چي تا ته کوم ضرر نه رسوي؛ نو د دې ممانعت مه کوه؛ او د ابو هریره د وينا او گواښ مراد دا دئ چي که تاسو په خپله خوښه دا کار ونه کړئ؛ نو زه به تاسو دې ته اړ کړم.

## ۱۳ باب: د کورونو په صحن کي او د لارو خوا ته ناسته

۱۱۲٦ ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ». فَقَالُوا: مَا لَنَا بُدٌّ إِنَّمَا هِىَ مَجَالِسُنَا نَتَحَدَّثُ فِيهَا، قَالَ: «فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجَالِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهَا» قَالُوا: وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ؟ قَالَ: «غَضُّ الْبَصَرِ، وَكَفُّ الأَذَى، وَرَدُّ السَّلامِ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ». (بخاری: ۲٤٦۵)

١١٢٦ - له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((پر لارو له ناستي ډډه کوئ))؛ حاضرينو وويل: موږ بله چاره نه لرو؛ دا زموږ د ناستو ځايونه دي؛ په کي خبري کوو؛ وئي فرمايل: ((که له دغو ناستو پرته؛ بل څه کول نه غواړئ؛ نو د لاري حق اداء کوئ))؛ وئي ويل: د لاري حق څه دئ؟ وئي فرمايل: ((د نظر ساتنه، له زيان رسولو ډډه کول، د سلام ځواب، په معروف ګمارنه او له منکر مخنيوی)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: مُعَاذ بْن فَضَالَة، أَبُو عُمَر حَفْص بْن مَيْسَرَة، زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَطَاءِ بْنِ يَسَار او أَبو سَعِيدٍ خُدْرِي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او شُعَب الايمان پرته په بل مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛

په شُعَب الايمان کي؛ له ځينو توپيرونو سره؛ او په داسي حال کي چي په دريو طبقو کي ئې راويان له بخاري سره ورته دي؛ په دې صيغه راغلی:

٨٦٦٥ - عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ، وَإِنْ كُنْتُمْ لَا بُدَّ فَاعِلِينَ فَاهْدُوا السَّبِيلَ، وَأَعِينُوا الْمَظْلُومَ، وَرُدُّوا السَّلَامَ، وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ "

له ابو سعيد خدري روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((پر لارو له ناستي ډډه کوئ؛ او که په ناچارۍ ئې کوونکي يئ؛ نو نورو ته لار ښيئ، د مظلوم مرسته کوئ، د سلام ځواب وايئ، په معروف ګمارنه او له منکر مخنيوی به مو دنده وي)).

## ١٤ باب: که ئې د عمومي لارو په اړه اختلاف وکړ

١١٢٧ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَشَاجَرُوا فِي الطَّرِيقِ بِسَبْعَةِ أَذْرُعٍ. (بخارى: ٢٤٧٣)

١١٢٧ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فيصله کړې ده چي که د لارې په اړه خلکو شخړه وکړه؛ نو اندازه دې اوه گزه وي.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيل، جَرِير بْن حَازِم، الزُّبَيْر بْنِ خِرِّيت، عِكْرِمَة او أَبَو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ مهم کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

د روايت معنی دا ده: که د سړك د پلنوالي او عرض په اړه د گاونډيانو تر منځ شخړه راولاړه شوه؛ نو په ٧ ذراع؛ نژدې درې نيم متره دي په خپلو کې توافق وکړي؛ البته دا د وړو کوڅو د سړکونو په اړه دئ؛ هغه مهال همدومره سړك کفايت کولو؛ چي د بار اوښ هم په کې خوځېدلی شو؛ د لارښوونې هدف دا دئ چي د گاونډيو تر منځ د کوڅو د پراخوالي اندازه بايد د ټولو په توافق او ضرورتونو ته په پام سره وي.

## ١٥ باب: له چور او مُثلې نهي

١١٢٨ ـ عن عَبْدِاللَّهِ بْنِ يَزِيدَ الأَنْصَارِيَّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النُّهْبَى وَالْمُثْلَةِ . (بخارى: ٢٤٧٤)

١١٢٨ - له عبدالله بن يزيد انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم له لوټماريو او د مړو له مثله کولو نهي کړې ده.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: آدَم بْن أَبِي إِيَاس، شُعْبَة، عَدِيّ بْن ثَابِت او عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ الأَنْصَارِي؛ له بخاري او مسند ابي داؤد الطيالسي پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ خو متن ئې له قرآن او سنت سره بشپړ مطابقت لري.

## ١٦ باب: څوك چي له خپل مال د دفاع لپاره جنګېږي

١١٢٩ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضى الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ». (بخاری: ٢٤٨٠)

١١٢٩ - له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي چي فرمایل ئې: ((څوک چي له خپل مال د دفاع په لار کي ووژل شي؛ نو هغه شهيد دئ)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ په ٥ طبقو کي ئې راويان دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن يَزِيد، سَعِيد بْن أَبِي أَيُّوبَ، أَبُو الأَسْوَد، عِكْرِمَة او عَبْد اللَّهِ بْنِ عَمْرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ په سنن ترمذي کي په دې صيغه راغلی:

١٤٢١ - عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ»

له سعيد بن زيد روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي واورېدل چي ويل ئې: ((څوک چي له خپل مال د دفاع له کبله ووژل شي؛ نو هغه شهيد دئ، څوک چي له خپل دين د دفاع له کبله ووژل شي؛ نو هغه شهيد دئ، څوک چي له خپل سر او ويني د دفاع له کبله ووژل شي؛ نو هغه شهيد دئ، څوک چي له خپل عيال د دفاع له کبله ووژل شي؛ نو هغه شهيد دئ)).

لکه چي ګورئ د سنن ترمذي روايت؛ د بخاري تر روايت جامع او مفصل دئ.

## ١٧ باب: څوک چي د بل چا کاسه يا بل څه مات کړي

١١٣٠ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ مَعَ خَادِمٍ بِقَصْعَةٍ فِيهَا طَعَامٌ،

فَضَرَبَتْ بِيَدِهَا فَكَسَرَتِ الْقَصْعَةَ فَضَمَّهَا وَجَعَلَ فِيهَا الطَّعَامَ وَقَالَ: «كُلُوا» وَحَبَسَ الرَّسُولَ وَالْقَصْعَةَ حَتَّى فَرَغُوا فَدَفَعَ الْقَصْعَةَ الصَّحِيحَةَ وَحَبَسَ الْمَكْسُورَةَ. (بخارى: ٢٤٨١)

١١٣٠ - له انس رضي الله عنه روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له خپلي كومي مېرمني سره وو چي بلي ئې د خادم په لاس په يوه كاسه كي خواړه ورولېږل، دې هغه كاسه په لاس ووهله او ماته ئې كړه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د كاسې ټوټې سره يو ځاى كړې او هغه خواړه ئې په كي واچول او وئې فرمايل: ((وخورئ))؛ لېږل شوى خادم او كاسه ئې تر هغه ايسار كړل چي فارغ شول؛ بيا ئې روغه كاسه وركړه او ماته ئې وساتله.

دا روايت په بخاري كي يو ځل راغلى؛ په ٤ طبقو كي يو يو راوي لري چي دا دي: مُسَدَّد، يَحْيَى بْن سَعِيد، حُمَيْد او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په سنن ابن ماجه كي هم د بخاري له دوو لومړنيو راويانو؛ حميد او انس راوړل شوى؛ خو په دې صيغه:

٢٣٣٤ – عن حُمَيْد، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ، فَأَرْسَلَتْ أُخْرَى بِقَصْعَةٍ فِيهَا طَعَامٌ، فَضَرَبَتْ يَدَ الرَّسُولِ، فَسَقَطَتِ الْقَصْعَةُ فَانْكَسَرَتْ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِسْرَتَيْنِ، فَضَمَّ إِحْدَاهُمَا إِلَى الْأُخْرَى، فَجَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ، وَيَقُولُ: «غَارَتْ أُمُّكُمْ، كُلُوا»؛ فَأَكَلُوا، حَتَّى جَاءَتْ بِقَصْعَتِهَا، الَّتِي فِي بَيْتِهَا، فَدَفَعَ الْقَصْعَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الرَّسُولِ، وَتَرَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْهَا.

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ له يوې ام المؤمنين سره وو؛ چي بلي ئې د خادم په لاس په يوه كاسه كي

خواړه ورولېږل، دې د خادم لاس ووهلو؛ نو کاسه ولوېده او ماته شوه، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د کاسې دوه ټوټې واخستلې او یوه ئې له بلې سره یو ځای کړه او هغه خواړه ئې په کي اچول او وئې فرمایل: ((ستاسو د مور سیالي او غیرت پارېدلی؛ وخورئ))؛ نو وئې خوړل؛ بیا ئې د هغې مېرمن روغه کاسه راوړه چې دی ئې په کور کې وو؛ نو روغه کاسه ئې خادم ته ورکړه او ماته ئې د هغې په کور کې پرېښوده؛ چې ماته کړې ئې وه.

د دې روایت په اړه څو وضاحتونه ضروري دي:

۱. د بخاري روایت ابهامات لري او د ابن ماجه روایت واضح دئ.

۲. د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا دواړه مېرمني څوك وې؛ ولې ئې نومونه نه دي اخستل شوي؟

۳. د دې صحنې لیدونکی څوك وو؛ انس رضي الله عنه ته دا خبره چا کړې؟ د روایت له الفاظو معلومېږي چې دی په صحنه کې حاضر نه وو؟

٤. ولې دا خبره بل چا نه ده کړې او له انس پرته بل راوي نه لري؛ په داسي حال کې چې له روایت معلومېږي نور کسان هم دلته حاضر وو؟!

۵. آیا د عائشې رضي الله عنها په څېر له ستر شخصیت د داسي کړنې تصور کولی شو؟! هغه هم د مېلمنو په وړاندې؟

٦. آیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کورنې شخصي ژوند په اړه؛ هغه هم د غریب روایت په استناد؛ داسي څه ویل، منل او په کتابونو کې راوړل؛ څه ګټه لري؛ دا خو یوازې دښمنانو ته د تبلیغاتي موادو په لاس ورکول دي؟!

۷. آیا څوك دا خوښوي چې د ده د سکنۍ مور په اړه په کتابونو کې داسي څه ولیکل شي؟ د خپلې معنوي مور او د خپل پیغمبر د درنې مېرمني په اړه ئې څنګه مني او خپروي؟!

۸. دا او دې ته ورته روایات باید د حدیث له کتابونو حذف شي؛

همداسي لکه چي هر محدث په لسګونو زره روايات حذف کړي او له راوړلو ئې ډډه کړې؛ امام مسلم همدا کار کړی او دا روايت ئې په صحيح مسلم کې نه دئ راوړی؛ سره له دې چي امام بخاري ئې استاد وو.

## ۴۵ کتاب: شراکت

### ۱ باب: په خوړو او نورو شيانو کي شراکت

۱۱۳۱ ـ عَنْ سَلَمَةَ بنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: خَفَّتْ أَزْوَادُ الْقَوْمِ وَأَمْلَقُوا فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَحْرِ إِبِلِهِمْ فَأَذِنَ لَهُمْ فَلَقِيَهُمْ عُمَرُ فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ: مَا بَقَاؤُكُمْ بَعْدَ إِبِلِكُمْ، فَدَخَلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَا بَقَاؤُهُمْ بَعْدَ إِبِلِهِمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَادِ فِي النَّاسِ فَيَأْتُونَ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ» فَبُسِطَ لِذَلِكَ نِطَعٌ وَجَعَلُوهُ عَلَى النِّطَعِ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا وَبَرَّكَ عَلَيْهِ ثُمَّ دَعَاهُمْ بِأَوْعِيَتِهِمْ فَاحْتَثَى النَّاسُ حَتَّى فَرَغُوا، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ». (بخاری: ۲۴۸۴)

۱۱۳۱ – له سَلَمَه بن اکوع رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د خلکو توښې (د سفر خواړه) خلاص او له لوږې سره مخ شول؛ نو د اوښانو د حلالولو په اړه؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورغلل؛ نو اجازه ئې ورکړه؛ نو عمر ورسره مخامخ شو او ترې خبر ئې کړ؛ وئې ويل: له خپلو اوښانو وروسته به ستاسو ژوند څنګه وي؟ بيا د رسول الله صلی الله عليه و سلم خوا ته ورغی او وئې ويل: يا رسول الله! له خپلو اوښانو وروسته به ئې ژوند څنګه وي؟ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم امر

وکړ: ((خلکو ته غږ کړه چي ورسره پاته توښه راوړي))؛ نو د دې لپاره د ځرمني دسترخان وغوړول شو او خواړه ئې پرې واچول؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم پاڅېد؛ دعاء ئې وکړه او برکت ئې ورته وغوښت؛ بیا ئې دوی له خپلو لوښو سره راوغوښتل؛ خلکو خپل لوښي ډکول؛ تر هغه چي فارغ شول؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((شاهدي وایم چي له الله پرته بل معبود نه شته او زه د الله تعالی رسول یم)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: بِشْر بْن مَرْحُوم، حَاتِم بْن إِسْمَاعِيل، يَزِيد بْنِ أَبِي عُبَيْد او سَلَمَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی. یعني چي نورو محدثینو نه د دې روایت سند معتبر ګڼلی او نه ئې متن؛ ځکه چي دا یوه عامه پېښه او مهمه قضیه وه؛ که داسي څه شوي وی نو ډېرو به په خپلو سترګو لیدلې وه او له ډېرو به روایت شوې وه!!

تر دې وروسته به په بل روایت کي وګورئ؛ چي دا د اشعریانو قومي دود وو؛ په وچکالیو او قحطي کي به ئې همداسي کول؛ هر چا به خپل ټول خوراکي توکي راوړل؛ یو ځای به ئې غونډ کړل او بیا به د ټولو تر منځ په برابره توګه ووېشل شول؛ یعني چي دا نه کومه معجزه وه او نه کوم فوق العاده عمل.

١١٣٢ ـ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الأَشْعَرِيِّينَ إِذَا أَرْمَلُوا فِي الْغَزْوِ أَوْ قَلَّ طَعَامُ عِيَالِهِمْ بِالْمَدِينَةِ جَمَعُوا مَا كَانَ عِنْدَهُمْ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، ثُمَّ اقْتَسَمُوهُ بَيْنَهُمْ فِي إِنَاءٍ وَاحِدٍ بِالسَّوِيَّةِ، فَهُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ». (بخاری: ٢٤٨٦)

١١٣٢ – له ابو موسی رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((اشعریان داسي دي چي کله په غزا کي

د دوی توښه خلاصه شي او یا ئې په مدینه کې د عیال نفقه کمه شي؛ نو څه چې ورسره پاته وي؛ په یوې ټوټې کې ئې راغونډ کړي؛ بیا ئې په خپل منځ کې؛ په یوه لوښي سره مساویانه ووېشي؛ نو دوی زما او زه د دوی یم)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: حَمَّاد بْن أُسَامَةَ، بُرَيْد، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى؛ له مهمو کتابونو یوازې بخاري او مسلم راوړی.

له دې روایت دا هم معلومېږي؛ چې که رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ د اشعریانو د دود مطابق کار کړی وي؛ نو دا کوم فوق العاده کار نه بلکې د دې دود مطابق کار وو؛ د روایت په پای کې دا فقره؛ نو دوی زما او زه د دوی یم؛ همدا مطلب افاده کوي؛ یعني زما او د دوی طریقه سره ورته او یوه ده. له روایت دا مطلب هم اخلو چې په همدې خواخوږي، ایثار او عدالت سره؛ الله تعالی پر خپلو بندګانو د برکت لورېینه کوي. لکه چې قرآن فرمایي: (وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ .... ) الأعراف ٩٦: او که کلیوالو ایمان راوړی او تقوی ئې کړې وی؛ نو د آسمان او زمکې د برکت دروازې به مو دوی ته پرانستې وې...

## ٢ باب: د پسونو وېشل

١١٣٣ ـ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ فَأَصَابَ النَّاسَ جُوعٌ فَأَصَابُوا إِبِلاً وَغَنَمًا قَالَ: وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُخْرَيَاتِ الْقَوْمِ، فَعَجِلُوا وَذَبَحُوا وَنَصَبُوا الْقُدُورَ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقُدُورِ فَأُكْفِئَتْ، ثُمَّ قَسَمَ فَعَدَلَ عَشَرَةً مِنَ الْغَنَمِ بِبَعِيرٍ، فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ فَطَلَبُوهُ فَأَعْيَاهُمْ وَكَانَ فِي الْقَوْمِ خَيْلٌ يَسِيرَةٌ، فَأَهْوَى رَجُلٌ مِنْهُمْ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ لِهَذِهِ الْبَهَائِمِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ

الْوَحْشِ، فَمَا غَلَبَكُمْ مِنْهَا فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا» فَقَالَ جَدِّي إِنَّا نَرْجُو أَوْ نَخَافُ الْعَدُوَّ غَدًا وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ؟ قَالَ: «مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ فَكُلُوهُ لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَأُحَدِّثُكُمْ عَنْ ذَلِكَ: أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ». (بخاری: ۲۴۸۸)

۱۱۳۳ - له رافع بن خَدِیج رضي الله عنه روایت دیٔ چي وایي: موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په ذوالحُلَیفه کي وو چي خلک وږي شول؛ نو اوښان او پسونه ئې غنیمت کړل؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د خلکو وروستیو لیکو کي وو؛ نو خلکو تلوار وکړ، ذبح ئې کړل او دیگونه ئې بار کړل؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم د دیگونو په اړه امر وکړ او نسکور کړی شول؛ بیا ئې غنیمتونه ووېشل؛ لس پسونه ئې له یوه اوښ سره برابر وگرځول؛ له دې ډلي یو اوښ وتښتېدو؛ نو په لټه کي ئې شول، دومره چي ستړي ئې کړل، له دوی سره لږ آسونه وو؛ د دوی یوه سړي غشی خوشي کړ چي الله تعالی هغه اوښ راتم کړ؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((دا څاروي داسي ترېدل لري لکه د وحشي ځناورو ترېدل؛ که له دوی کوم یو درباندي غالب شو نو همداسي ورسره وکړئ)). نو زما نیکه وویل: موږ هیله لرو یا وېرېږو؛ چي سبا له دښمن سره مخ شو؛ چړې هم راسره نه شته؛ آیا کولی شو په نی سره ئې ذبح کړو؟ وئې فرمایل: ((هر څه چي وینه جاري کړي او پر حلالولو ئې د الله تعالی نوم یاد شي؛ وئې خورئ؛ خو چي نوک او غاښ نه وي؛ او دا دیٔ زه به د دوی دواړو په اړه درته ووایم: غاښ خو هډوکی دیٔ او نوک د حبشو (کافرانو) د ذبحي آله ده.

یعني په هډوکي سره د څاروي ذبح کول جائز نه دي؛ که دا غاښ وي او که نوك؛ که انسان ئې په خپل غاښ یا نوك ذبح کوي او که ئې د بل حیوان په هډوکي.

دا روایت په بخاري کي ۸ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۴۸۸ - ۲۵۰۷

- ٣٠٧٥ - ٥٤٩٨ - ٥٥٠٣ -٥٥٠٦ - ٥٥٠٩ - ٥٥٤٣ - غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: سَعِیدِ بْنِ مَسْرُوق، عَبَایَة بْنِ رِفَاعَةَ، پلار ئې رفاعه او نیکه ئې رَافِعِ بْنِ خَدِیجٍ؛ د مسلم په شمول ځینو نورو کتابونو کې هم راغلی؛ متن او روایان ئې سره ورته دي؛ په بخاري کې اته ځلې داسي راوړل شوي چې په بېلو بېلو شمېرو کې ئې ځیني ځیني برخي راغلې.

مراد ئې دا دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له صحابه وو سره یو ځای په غزا وتلی؛ معمولاً به رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ د قطار په وروستۍ برخي کې وو؛ په دې موخه چې که څوك د ضعف او ناتوانۍ له کبله شا ته پاته شوی وي؛ ستونزه ئې حل کړي؛ مخکینیو ته د دښمن اوښان او مېږي په لاس ورغلې؛ ځینو تلوار کړی؛ له وېش مخکي ئې څو ذبح کړي او دیگونه ئې بار کړي؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وررسېدلی؛ نو لومړی ئې د دیگونو نسکورولو امر کړی؛ بیا ئې په شرعي توگه وېشلي؛ لس پسونه ئې له یوه اوښ سره برابر گڼلي؛ دا مهال یوه تن پوښتلي: که چړې راسره نه وي؛ آیا کولی شو څاروي په تېره لرگي حلال کړو؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: هر څه چې وینه جاري کړي او پر حلالولو ئې د الله تعالی نوم یاد شي؛ وئې خورئ؛ خو چې نوک او غاښ نه وي؛ یعني په هډوکي ئې مه ذبح کوئ؛ چې په توجیه کې ئې ځینو ویلي: په هر هډوکي له ذبح کولو ممانعت شوی؛ ځینو ویلي چې دا د کافرانو دود وو؛ ځینو ویلي؛ په غاښ سره داسي نه شي ذبح کېدی چې د ویني بهېدو باعث شي؛ په دې اړه هم اختلاف دئ چې ولي دیگونه نسکور کړی شول؛ وجه ئې دا ښودل شوې چې تر وېش وړاندي او د نورو تر رارسېدو وړاندي ذبح شوي؛ تر وېش وړاندي ذبح کول؛ لوټمار او غارت ته ورته ناجائز عمل دئ؛ دا پوښتنه هم ځواب غواړي چې د دیگونو غوښي تلف شوې که نه؛ دا ځواب غوره گڼل شوی چې غوښه په وېش کې نیول شوې؛ بله پوښتنه دا ده چې ولي

لس پسونه له یوه اوښ سره برابر ګڼل شوي؛ په داسي حال کې چي په قرباني کې یو اوښ له اوو پسونو سره برابر نیول کېږي؟ په ځواب کې ئې ویل شوي: د دواړو قیمت ته په پام سره دا پرېکړه شوې؛ او له دې سره تعارض نه لري چي په قرباني کې یو اوښ له اوو پسونو سره برابر نیول کېږي.

د دې روایت څو برخي مزید توجه ایجابوي:

۱. رسول الله صلی الله علیه و سلم خپله پرېکړه بدله کړه؛ او دا ښيي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم ځیني خبري هغه وحی وه چي مجموعه ئې په قرآن کې مومو؛ او ځیني ئې له همدې وحي د ده تفسیر او بیان؛ او ځیني ئې د ده شخصي رأی او ورځنۍ خبري؛ د دې روایت همدا برخه دغه حقیقت زموږ مخي ته ږدي؛ خو هغه چي وايي د رسول الله صلی الله علیه و سلم هره وینا وحي ده!! هغوی دي ووايي: آیا د ده دواړه خبري وحي وې؛ د اوښانو حلالولو اجازه ئې هم او بیا دا بېرته اخستل او بله پرېکړه ئې هم؟!

۲. آیا په قرآن کې دا مومو چي د مسلمانانو مشر او قائد به د قطار په پای کې درومي؟ نو څکه رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې غزوه کې د قطار په پای کې روان وو؟! ځواب دا دیٔ: هو؛ قرآن؛ موسی علیه السلام ته د الله تعالی لارښوونه داسي انځور کړې: (وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ) الشعراء ۵۲: او موسی ته مو وحي وکړه چي زما بندګان په شپه کې روان کړه، (دوی وړاندي او ته ئې تر شا)، یقیناً چي ستاسو تعاقب به کېږي،

موسی علیه السلام ته د هجرت حکم شوی خو په دې توګه چي قوم مخکې او دی تر شا، پیغمبر علیه السلام هم لومړی خپل ټول اصحاب له مکې رخصت کړل او تر ټولو وروسته ده هجرت وکړ. موسی علیه السلام ته هم همداسي وینا شوې وه.

## ۳ باب: د شریک مال مناسبه بیه

۱۱۳٤ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ شَقِيصًا مِنْ مَمْلُوكِهِ فَعَلَيْهِ خَلاصُهُ فِي مَالِهِ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ قُوِّمَ الْمَمْلُوكُ قِيمَةَ عَدْلٍ ثُمَّ اسْتُسْعِيَ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ». (بخاری: ۲٤۹۲)

۱۱۳٤ - له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((که چا په مشترک غلام کي خپله برخه آزاده کړه؛ نو باید پاته برخه ئې هم په خپل مال سره آزاده کړي؛ که غلام مال ونه لري؛ نو باید د هغه غلام عادلانه او مناسب قیمت وټاکل شي او بیا په داسي کار وګمارل شي چي غلام ته سخت نه وي.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۷ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: بِشْر بْن مُحَمَّد، عَبْدُ اللَّه، سَعِيد بْن أَبِي عَرُوبَة، قَتَادَة، النَّضْرِ بْنِ أَنَس، بَشِيرِ بْنِ نَهِيك او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسلم پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

د مسلم روایت داسي دئ:

۳ - (۱۵۰۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ فِي عَبْدٍ، فَخَلَاصُهُ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ، اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ»،

په دواړو کي دا توپیرونه مومو: د سند په پنځو طبقو کي د دواړو روایان سره ورته دي؛ او په متن کي؛ په یوه کي شِقْصًا لَهُ فِي عَبْدٍ په بل کي شَقِيصًا مِنْ مَمْلُوكِهِ په یوه کي فَخَلَاصُهُ فِي مَالِهِ په بل کي فَعَلَيْهِ خَلاَصُهُ فِي مَالِهِ، په یوه کي اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ په بل کي ثُمَّ اسْتُسْعِيَ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ؛ د بخاري په روایت کي دا شته قُوِّمَ المَمْلُوكُ قِيمَةَ عَدْلٍ په مسلم کي نه شته.

په روایت کي دا ابهام شته چي له (في ماله)؛ مراد د غلام مال دئ او

که د شريك مال؛ خو د مسلم د روايت له دې فقرې (إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ)؛ معلومېږي چې مراد ئې د غلام مال دئ؛ د روايت مراد دا دئ: که څوك په مشترک غلام کې خپله برخه آزاده کړه؛ نو بايد پاته برخه ئې هم يا د همغه غلام له مال ورکړي او يا له خپل مال؛ که غلام او شريك مال ونه لري؛ نو بايد د هغه غلام عادلانه او مناسب قيمت وټاکل شي او بيا په داسې کار وګمارل شي چې غلام ته سخت نه وي؛ او په دې توګه آزاد شي.

## ٤ باب: آيا په وېش او د سهم ټاکلو کې پچه اچول کېدی شي؟

١١٣٥ ـ عن النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَثَلُ الْقَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلاهَا وَبَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا، فَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ فَقَالُوا: لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَا خَرْقًا وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا، فَإِنْ يَتْرُكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعًا، وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا وَنَجَوْا جَمِيعًا». (بخارى: ٢٤٩٣)

١١٣٥ - له نعمان بن بَشِير رضي الله عنه روايت دئ چې نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((د الله تعالی د حدودو د ساتونکي او تر پښو لاندې کوونکي مثال؛ د هغو خلکو په څېر دئ چې په کښتۍ کې د سپرېدو لپاره پچه واچوي؛ ځينو ته ئې پورتنۍ او ځينو ته ئې لاندينۍ برخه ورسېږي؛ نو هغه چې په لاندينۍ طبقه کې دي؛ کله چې د اوبو تر لاسه کول وغواړي؛ پر هغو به تېرېږي چې تر دوی بر دي؛ نو په خپل منځ کې سره ووايي: کاش موږ په خپلې برخې کې يو سوری جوړ کړو؛ او هغه اذيت نه کړو چې له موږ پاس دي؛ که دوی او هغه څه چې غواړي ئې؛ همداسې پرېږدي؛ نو ټول به هلاک شي؛ خو که ئې تر لاس ونيسي او مخنيوی ئې وکړي؛ نو هم به دوی وژغورل شي او هم نور ټول)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو

يو راوي لري چي دا دي: أَبُو نُعَيْمٍ، زَكَرِيَّاء، عَامِر، النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

د روايت موضوع ډېره مهمه؛ او دا ده چي معمولاً ټولني په دوو برخو وېشل شوې وي: ۱- برنۍ حاکمه او شتمنه طبقه او ۲- لاندينۍ محکومه او نېستمنه طبقه؛ برنۍ طبقه؛ د دوهمي طبقي او د دوی د رزق او روزي تر منځ حائل وي؛ دوی نه شي کولی خپل حق مخامخ او له خنډ پرته تر لاسه کړي؛ دا وضعيت بالآخره په دې منتج کېږي چي دوهمه طبقه د حاکم نظام د تخريب لپاره ملا وتړي؛ او دا ظالمانه وېش له منځه يوسي؛ که د ټولني واکمن او شتمن؛ دا ستونزه حل نه کړي او عادلانه وېش ته چمتو نه شي؛ نو لومړی به دوی او واکمني او شتمني ئې له منځه ځي او بيا ټولنه په مجموع کې. د دې مهمي اجتماعي موضوع لپاره مناسب عنوان په کار وو؛ نه دا عنوان: آيا په وېش او د سهم ټاکلو کي پچه اچول کېدی شي؟

د روايت دا برخه بحث ايجابوي چي آيا په قرآن کې دا مومو چي غير اسلامي ټولني په لوړي او ټيټي طبقې وېشل شوې وي؟ ځواب ئې دا دئ چي: هو؛ قرآن د فرعون په اړه فرمايي: (إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلا فِي الأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ) القصص ٤: يقيناً چي فرعون په زمکې کې کبر او لويي وکړه او د هغې اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې يوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼي ئې ژوندۍ پرېښودې، يقيناً چي دی له مفسدينو وو.

حقيقت دا دئ چي د هر صحيح حديث لپاره به حتماً په قرآن کې شاهد او منشأ ومو.

## ۵ باب: په خوړو او نورو شيانو کي شراکت

۱۱۳۶ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ هِشَامٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ وَكَانَ قَدْ أَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَهَبَتْ بِهِ أُمُّهُ زَيْنَبُ بِنْتُ حُمَيْدٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، بَايِعْهُ فَقَالَ: «هُوَ صَغِيرٌ». فَمَسَحَ رَأْسَهُ وَدَعَا لَهُ، وكَانَ يَخْرُجُ إِلَى السُّوقِ فَيَشْتَرِى الطَّعَامَ فَيَلْقَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ رَضِى اللَّه عَنهمَ فَيَقُولانِ لَهُ: أَشْرِكْنَا فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ دَعَا لَكَ بِالْبَرَكَةِ، فَيَشْرَكُهُمْ فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ كَمَا هِىَ، فَيَبْعَثُ بِهَا إِلَى الْمَنْزِلِ. (بخارى: ۲۵۰۱ ـ ۲۵۰۲)

۱۱۳٦ – له عبدالله بن هِشام رضي الله عنه روايت دیٔ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې لیدلی وو، مور ئې؛ زينب بنت حُمَيد؛ هغه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وروستلی وو او ويلي ئې وو: يا رسول الله! له ده بيعت واخله؛ فرمايلي ئې وو: ((دی وړوکی دیٔ))؛ بيا ئې پر سر لاس راکش کړی او دعاء ئې ورته کړې وه؛ دی بيا داسي وو چي کله به بازار ته تلو او څه خواړه به ئې اخستل؛ او عبدالله بن عمر او عبدالله بن زبير رضي الله عنهم به ورسره مخ شول؛ دواړو به ورته ويل: موږ درسره شريک کړه؛ ځکه نبي صلی الله علیه و سلم تا ته د برکت دعاء کړې ده؛ نو شريک به ئې کړل؛ نو کله به ئې پر یوه اوښ بار خوړو په اندازه ګټه وکړه او هغه به ئې کور ته وليږله.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دیٔ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: أَصْبَغ بْن الفَرَج، عَبْد اللَّه بْن وَهْب، سَعِيد، زُهْرَةَ بْنِ مَعْبَد او عَبْد اللَّه بْنِ هِشَام؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دیٔ راوړل شوی.

## ٤٦ كتاب: رهن (گروي)

تر دې وړاندې چې د دې كتاب روايات وڅېړو؛ ښه به وي چې د رهن په معنى پوه شو او وګورو چې په قرآن کې په دې اړه څه لارښوونې شوې. دې آيت ته ځير شئ:

وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾ البقرة

او كه په سفر كې وئ او كوم كاتب مو ونه موندو؛ نو بيا مقبوضه رهن (ګرو تر لاسه كول) دي او كه ستاسو ځينو ځيني نور امين وګڼل (او اعتبار ئې پرې وكړ) نو امين ګڼل شوى دې؛ د هغه امانت بېرته وركړي او له خپل رب دې ووېرېږي؛ او شهادتونه مه پټوئ او چا چې پټ كړل نو بې شكه چې زړه ئې ګنهګار دئ او الله په هر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې كوئ.

دلته د رهن صورت بيان شوى، كه په سفر كې، د كاتب د نه شتون په صورت كې؛ چا ته د پور وركولو ضرورت احساس شو؛ قرض وركړئ؛ له پوروړي د تضمين لپاره؛ كوم څه په امانت واخلئ؛ كله چې ئې پور اداء كړ؛ امانت ئې مسترد كړئ.

د آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې دا د رهن سپارښتنه په سفر او د شاهد او كاتب د نه شتون حالت پورې مربوطه ده؛ داسې چې پور وركوونكى بايد په دغه حالت كې له پوروړي ګرو تر لاسه كړي؛ نه په نورو حالتونو او د شاهد او كاتب په شتون كې؛ خو كه هغه د پوروړي

له مجبوریت او اړتیا په استفادې سره؛ داسي څه ترې اخستل غواړي چي کولی شي له هغه ګټه تر لاسه کړي؛ نو بیا دا معامله جواز نه لري.

متأسفانه له دې جواز هم سود خورو د سود لپاره حیله جوړه کړې؛ په داسي حال کي چي رهن یو امانت او ضمانت دیٔ او له هغه ګټه اخیستل جائز نه دي؛ له هغه ګټه اخیستل سود ته ورته کار دیٔ؛ سود خور له دې همغه ګټه تر لاسه کوي چي د نقدو پیسو په ورکولو ئې تر لاسه کوي؛ اوس په ډېرو هېوادونو کي بداپان زمکي اخلي، کورونه پرې جوړوي، په رهن ئې ورکوي، د کور تر اصلي قیمت په کمه بیع ئې هغه چا ته په رهن ورکړي چي په دې کور کي به اوسېږي او له کرایي به خلاص وي؛ د کور مالك دا د رهن په نامه تر لاسه کړی مبلغ د ګټي په نورو مواردو کي په کار واچوي، دوه درې کورونه په رهن ورکړي او د رهن په پیسو ئې درېیم کور جوړ کړي او په دې سره هومره ګټه تر لاسه کړي چي د سود له بلي معاملې ئې نه شي تر لاسه کولی. ډېر خلك له بانکونو په سود پیسې اخلي او بیا کورونه او ښار ګوټي پرې جوړوي او په رهن ئې ورکوي؛ په ځینو هېوادونو کي د کورونو مالکان اکثراً د کرایه پر ځای خپل کورونه په رهن ورکوي؛ او داسي رهن په حقیقت کي حرام کار ته د حلال بڼه ورکول دي.په دې اړه د قرآن لارښوونه داسي ده:

﴿وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾﴾ الروم

او له سود مو چي څه د دې لپاره ورکړي چي د خلکو په مال کي وده وکړي؛ نو د الله په وړاندي وده نه کوي؛ او له زکات مو چي څه د الله د رضاء په تکل ورکړي؛ نو همدا دوی (څو ځلي) زیاتوونکي دي.

دا مبارك آیت د اقتصادي مناسباتو دوه متقابل صورتونه زموږ په وړاندي ږدي: ربا (سود) او زکات، د سود په اړه وایي: هغه (مال) چي

خلكو ته ئې په دې موخه ورکوئ چي د هغوی په مال کي زيات شي، وده وکړي او تر خپل اصلي او لومړني مقدار زيات تاسو ته بېرته راستون شي؛ دا سود دئ او د الله تعالى په وړاندي وده نه کوي او بې برکته دئ؛ وده ئې د الهي لارښوونو مطابق نه ده؛ او کوم څه چي د زکات په توګه او د الله تعالى د رضاء په تکل ورکوئ نو په دې سره نه يوازي د خپل رب رضاء تر لاسه کوئ بلکي مضاعف بدله او اجر درپه برخه کېږي، همدا زکات ورکوونکي د الهي معيارونو له مخي د خپلو نعمتونو څو ځلي زياتوونکي دي.

د دې مبارك آيت الفاظ ډېر صريح او حکم ئې ډېر پرېکنده دئ او هري هغي معاملې ته د سود (ربا) نوم ورکوي چي بنسټ ئې پر داسي تعامل ولاړ وي چي د يوه مال د بل په مال کي زيات شي، يو بل ته خپل مال ورکړي او د مال دا لومړنی خاوند؛ څه موده وروسته؛ هم خپل مال او هم ئې اضافي ګټه تر لاسه کړي، پرته له دې چي څه کار، زيار او څه تاوان ئې ګاللی وي. د (زکات) په مقابل کي د (ربا) راوړل د سود ماهيت او څرنګوالی لا زيات واضح کوي، زکات دا دئ چي څوك په خپل حلال مال کي يوه برخه د فقير او مسکين مسلم حق وګڼي او هغه د الله تعالى د رضاء تر لاسه کولو په موخه ورکړي او سود دې ته وايي چي څوك د خپل نفس راضي کولو په موخه خپل مال بل ته په دې شرط ورکړي چي مزيد مال او ګټه تر لاسه کړي.

دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا دا هم د سود په ضمن کي راځي چي څوك خپله د کر زمکه بل ته ورکړي او هغه ئې وکري او ګټه د دواړو تر منځ په يوه عادلانه او معقول تناسب ووېشل شي؟ يا خپلي پيسې بل ته ورکړي او هغه پرې تجارت وکړي، کور پرې جوړ کړي او په کرايه ئې ورکړي، زمکه پرې واخلي او وئې کري، يا کوم بل ګټور کار پرې وکړي او په ګټې کي ئې دی او د زمکي او مال خاوند شريك وي؟ که دې پوښتني ته د دې مبارك آيت په رڼا کي ځواب ووايو نو يقيناً ځواب به ئې له دې

پرته بل څه نه وي چې د مسکین له خولو د ګټې تر لاسه کولو پر ځای له هغه سره مرسته وکړه، له ګټې پرته حسنه قرض ورکړه، هغه ستا ورور دئ او ستا په مال کې د حق خاوند، که د الله تعالی رضاء لټوې او دا غواړې چې الله تعالی ستا په مال کې برکت واچوي نو یا بلاعوضه مرسته ورسره وکړه او یا له ګټې پرته حسنه پور ورکړه. خو دا چې آیا داسې معامله جائزه ده که نه؛ باید ووایو چې ځینو فقهاءو په دې شرط جائز ګڼلې چې په ګټې کې دواړه لوري په یوه عادلانه تناسب شریك وي او د تاوان په صورت کې د مال خاوند د تاوان پېټی قبول کړي.

دې ته مو باید پام وي چې دا معامله اوس له مخکیني انفرادي حالت وتلې او پراخه نړۍ واله بڼه ئې غوره کړې، ستر ستر بانکونه رامنځته شوي، له یوه د سود په بدل کې پیسې تر لاسه کوي، بل ته ئې د سود په بدل کې ورکوي، هغه پرې یا تجارت کوي، یا کورونه جوړوي او په کرایه ئې ورکوي، یا د حمل و نقل وسائل (لکه کښتۍ، جهازونه او موټري) پېري او ګټه تر لاسه کوي؛ او دې ته ورته کوم بل کار پرې روانوي؛ څه موده وړاندې دې ته د یوه ګټور اقتصادي تعامل په سترګه کتل کېدل، په اسلامي نړۍ کې هم ځینو هڅه وکړه چې دې ته اسلامي رنګ ورکړي، خو په دې وروستیو کې د دې معاملې بدې پایلې راڅرګندې شوې، د امریکا او اروپا ستر ستر بانکونه له افلاس سره مخامخ شول، ستر ستر اقتصادي بحرانونه ئې وزېږول، دولتونه مجبور شول د دې خطرناکو بحرانونو د حل لپاره دغو بانکونو ته په ملیاردونو ډالر پور ورکړي، خو سره له دې ونه توانېدل چې دا ستونزه حل کړي، یوه بېلګه ئې په افغانستان کې رامنځته شوه، د صلیبي ځواکونو له تسلط وروسته ګڼ شمېر بانکونه جوړ شول، ټول ئې د هغو کړیو له لوري چې دغو ځواکونو واك ته رسولي ول، دغو بانکونو په غولوونکو اعلاناتو سره له خلکو پیسې تر لاسه کړې، د اقتدار خاوندانو له دغو بانکونو د پور په نامه په لوی مقدار کې پیسې واخیستې، بهر ته ئې انتقال کړې او په دوبۍ او نورو

هېوادو کې ئې کورونه او هوټلونه جوړ کړل، په پای کې بانکونو ته نه ګټه مسترد شوه او نه د قرض اصلي مبلغ، دا ځکه چې دا مبالغ هم له خلکو په دوکه تر لاسه شوي وو او هم له بانکونو؛ د کابل بانك نژدې یو ملیارد ډالر د څو خائنانو له لوري اختلاس شول، هغه هم د لوړ پوړو چارواکو او د دوی د خپلوانو له لوري!! آیا عجیبه نه ده چې څوك داسي معاملې ته د مضاربت نوم ورکړي او هغه جائز وګڼي؟! له هغو مفتیانو چې دا معامله جائز ګڼي پوښتنه کوم: د مال د خاوند او هغه چا تر منځ چې په دې مال کوم تولیدي کار تر سره کوي او څه ګټه تر لاسه کوي؛ څومره کسان له کوم ګټور او تولیدي کار او زیار پرته مستفید کېږي؟ د بانك له شریکانو نېولې تر مأمورینو پوري او د هغو شرکتونو له مالکانو نېولې چې له دغو بانکونو د سود په بدل کې پیسې تر لاسه کوي د دوی تر اداري پرسونل پوري؟! څنګه داسي معامله جائز ګڼئ چې له سر تر پایه په دوکې، سود، له زیار ګاللو او تاوان منلو پرته ګټې باندي ولاړه ده؟! ولې هغې معاملې ته اسلامي رنګ ورکوئ چې د غرب له ظالمانه پانګوال نظام زېږېدلې او هغوی ته ئې بدې پایلې تحویل کړې؟! نړۍ وال بانکي نظام په بشپړه توګه پر سودي تعامل ولاړ دئ، دا د غربي پانګوال نظام یوه ځانګړتیا ده، غربیانو دا نظام پر نړۍ والو تپلی؛ ولې دا هڅه کوئ چې له کفري نظام زېږېدلی بانکي سیستم ته شرعي او اسلامي رنګ ورکړئ؟ څه دې ته اړ کړي یئ چې له دې کفري نظام راولاړو شوو ستونزو ته داسي نسخه وړاندي کړئ چې نه یوازي د حل لار او ذریعه نه ده بلکې د اسلام په اړه شکوك او شبهات راولاړوي؟ ولې نه وایئ چې دا ستونزي غیر اسلامي تګلارو زېږولې علاج ئې دا دئ چې دا نظام په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، هم ئې فکري بنسټونه نسکور شي او هم ئې کړنلاري او تګلاري؟! اسلام داسي نظام دئ چې ټولې برخي ئې سره تړلې دي، یوه برخه ئې له نورو بېل هیڅکله هغه نتیجه نه ورکوي چې د نورو په څنګ کې او له نورو سره یو ځای ئې ورکوي؛ داسي نشي کېدی

چي د يوې ټولني فكري، سياسي، اجتماعي او اقتصادي مناسبات به په بشپړه توګه پر غير اسلامي بنسټونو ولاړ وي او د اسلامي اقتصاد د يوې برخې په پلي كولو سره به د هغې ټولني ستونزي حل كېږي!! د پانګوال غربي نظام له بانكي سيستم د راولاړو شوو ستونزو د حل لپاره د مضاربت نسخه وركول؛ د هغه ډاكټر نسخې ته ورته ده چي يوه بيمار ته د سرخوږي دوا وركوي؛ خو په دې نه پوهېږي چي دا سرخوږی ئې له څه راولاړ شوی او عامل ئې څه دئ!! يقيناً چي د داسي ډاكټر نسخه به د ګټې پر ځای بيمار ته لا زيات تاوان رسوي.

د قرآن لارښووني ښيي چي هر هغه دَين او قرض؛ چي قرض وركوونكي ته ګټه جلب كړي؛ هغه ربا او سود دئ او الله تعالی حرام كړی. په اسلام كي هره مداينه، مبايعه، معاهده، تجارت، نكاح، مشاوره؛ چي په هغې كي څو كارونه شوي وي؛ ناروا او غير معتبره معامله ده:

١. زور، اكراه او جبر؛ له خپل زور او سلطې په استفادې سره څوك په نكاح كول، څه پېرل، بيعت تر لاسه كول او نور.

٢. د بل له مجبوريت غلطه استفاده؛ لكه دا چي يو څوك تر عمليات لاندي مريض لري؛ پيسو ته اړ دئ؛ څوك دوا په پور وركړي؛ خو په ګرانه بيه.

٣. د طرفينو عدم رضايت؛ په پېر پلور، تجارت، نكاح او بيعت كي؛

٤. دوكه او فريب؛ لكه يو شی د بل شي په نامه وپلورل شي، يا څوك خپله غوا د پلورلو لپاره منډيي ته بيايي؛ خو دوه ورځي ئې نه لوشي؛ چي ټي ئې له شيدو ډك معلوم شي او په لوړه بيه ئې وپلوري؛ يا كوم واكمن؛ د خپلي خوښي خلك راغونډ كړي؛ د خپلي خوښي پرېكړه پرې لاسليك كړي او دې ته د ملت د پرېكړي نوم وركړي؛ په همدی پرېكړي؛ غونډ شوي خلك لاسونه لوړولو ته اړ كړي او ووايي: ملت فيصله وكړه چي دا ښاغلی د خپلو ځلاندو خدماتو له امله؛ دائم العمر جمهور رئيس وټاكل شو!! داؤد، ببرك، نجيب او خلف ئې همدا كارونه كړي؛ او تر دوی وړاندي ټولو پاچايانو.

٥. حيله: لكه دا چي څوك په پور سره ګټه او سود تر لاسه كوي؛ خو محتاج

کس ته د نقدو پیسو په ځای جنس ورکوي؛ مدیون او پوروړی؛ له ده جنس په گرانه بیه اخلي او څو گامه آخوا ئې په بل چا د بازار په نرخ پلوري.

٦. گرو او رهن ته داسي بڼه ورکول چي سود ترې جوړېږي او په حقیقت کې بل ته پور ورکول او پر همدې پور مفته گټه تر لاسه کول وي.

٧. په یوه مال کې چي دوه او تر دوه زیات شریکان ولري؛ که دا د یوې کورنۍ وي او که د یوه ملت بیت المال او عمومي شتمني؛ هیڅوك حق نه لري په خپل سر او د شریکانو له موافقې او رضایت پرته په هغه کې لږ یا ډېر تصرف وکړي؛ هر یو اړخیز تصرف ناروا او حرام دئ.

د رهن په اړه د احنافو په شمول د ټولو فقهاءو او سلف شبه اجماع په دې ده:

١. گرو به د پور ورکوونکي په بشپړ واك کې وي؛ همغسي چي قرآن وایي: (فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ: نو قبض کړی شوی رهن).

٢. د پور خاوند له گرو؛ د گټې او منفعت تر لاسه کولو حق نه لري.

٣. نه د پور خاوند او نه د گرو خاوند؛ د معاملې تر پای او د قرض تر ورکړې پوري؛ په گرو کې نه یو اړخیز تصرف کولی شي او نه ئې پلورلی شي. امام ابو یوسف وایي: رهن اخستونکی حق نه لري چي له گرو گټه تر لاسه کړي؛ حتی که غلام وي باید استخدام ئې نه کړي، که سورلي وي؛ پرې سپور نشي، که جامه وي نه به ئې اغوندي، که کور وي نه به په کې اوسي، ... راهن هم حق نه لري له رهن استفاده وکړي یا ئې وپلوري.

٤. په متأخرینو کې ځینو پور ورکوونکي ته له گرو د استفادې جواز ثابتولو هڅه کړې او دې ته ئې د (بیع وفا)، (بیع جائز) او (بیع امانت) نوم ورکړی؛ امام شافعي د انتفاع جواز نه مني، امام مالك ئې په دې شرط جائز گڼي چي په قرض کې مجرا او د انتفاع مجموعي مبلغ له پور کسر شي. د احنافو متأخرین؛ چي ډېری ئې د سمرقند او مصر اوسېدونکي دي؛ وایي: گرو اخستونکي ته له گرو شوي ملکیت؛ د گرو ورکوونکي په اجازه، انتفاع او گټه اخستل جائز دي. دا توجیه ځکه کمزورې ده چي

که له ګروي مال انتفاع ناجائز وي نو د پور اخستونکي رضايت او موافقه؛ د هغه حرمت نه شي بدلولی؛ بيا خو به څرګند سود هم په دا ډول استدلال جائز ګڼل کېږي؛ همغسي چي قرآن د سود خورو استدلال زموږ مخي ته ايښی او فرمايي:

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لا يَقُومُونَ إِلا كَمَا يَقُومُ الَّذِى يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا... ﴿٢٧٥﴾ البقرة

هغه چي سود خوري نه پاڅي مګر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چي شيطان په مس (لاس راښکلو) سره د ده حواس خراب کړي وي؛ دا له دې کبله چي وايي: بيع خو هم د سود په څېر ده! حال دا چي الله بيع حلاله کړې او سود ئې حرام کړی ....

خو څوك چي سود خوري؛ هغه په حقيقت کي يو مخبوط الحواس انسان دئ چي شيطان ئې حواس ګډ وډ کړي، له مال سره افراطي ميني او د زيات مال د تر لاسه کولو شديد حرص؛ د جنون او لېونتوب حد ته رسولی، د ده له کاره نظره بيع د سود په څېر ده، د ده ذهن د شيطانی القاءاتو تر اغېز لاندي دئ، پر ذهن ئې شيطان سپور دئ، له همدې کبله وايي چي په بيع او تجارت کي هم يو له بل ګټه تر لاسه کېږي، نو که په سود کي همدا کار کېږي ولي بايد حرام وګڼل شي؟! شيطاني استدلال همداسي وي، ژور توپيرونه له پامه غورځول او شکلي ورته والي ته ګوته نيول او په هغه استناد کول؛ د شيطان او د هغه تر اغېز لاندي انسانانو خصلت دئ. هر سليم العقله انسان پوهېږي چي په سود کي د يوه بې وزلي انسان له مجبوريت ګټه اخيستل کېږي، يوې خوا ته ئې د پانګي خاوند دئ چي له کوم کار پرته يقيني او حتمي ګټه تر لاسه کوي او بلې خوا ته ئې يو مجبور بې وسه انسان دئ چي دې معاملې ته د مجبوريتونو په سبب اړ شوی، له تاوان پرته ئې بل څه نه په برخه کېږي،

څه چې په سود تر لاسه کوي یا به ئې په خپلو ضروري اړتیاوو لګوي او یا به ئې په داسې کار چې خولې د ده په کې توی شي او ګټه ئې د سود خور په جیب کې پرېوځي. سود د هغه پانګوال نظام بنیادي اړخ دئ چې خلك په کې په دوو ډلو وېشل شوي وي؛ یوې خوا ته د ټولني د ټولو شتمنیو خاوندان او بلې خوا ته هغه نادار او بې وزلي انسانان چې د دغو شتمنو لپاره باید شپه ورځ کار وکړي او د خپلو تناکو او خولو په بیع تر لاسه کړی عائد د شتمنو مخې ته کښېږدي. په دې نظام کې شتمن حاکم دئ او واکمني د شتمنو په لاس کې او نظام او ټول فردي او اجتماعي قوانین او مناسبات ئې د شتمنو په خدمت کې. پانګوال نظام له سود پرته نه شي چلېدی، د امریکا اوسنی نظام د دې ښه بېلګه ده؛ هلته د سترو سترو شرکتونو او کمپنیو خاوندان او د پراخو زمکو مالکان؛ پر امریکا او پر ټولو زېرمو ئې حکومت کوي، د هېواد په سلو کې نوي شتمنۍ په سلو کې د پنځو شتمنو په لاس کې دي، له دغو شتمنو پرته او د دوی له خوښي پرته نه څوك د هېواد جمهور رئیس کېدی شي، نه د کوم ایالت ګورنر، نه د کانګریس او پارلمان غړی. د ملګرو ملتونو د ۱۳۸۳کال راپور وایي چې د امریکا ٣٤ ملیونه وګړي په فقر کې ژوند کوي، یعني په هرو اوه امریکایانو کې یو په فقر کې ژوند کوي، کار، روزګار او معاش نه لري، دا په داسې حال کې چې امریکا د نړۍ ډېر هېوادونه له اقتصادي پلوه په خپلې استعماري ولکې کې نیولي او هر کال له دغو مستعمراتو په ملیاردونو ډالر تر لاسه کوي؛ کله دلته او کله هلته د جګړو اور بل کړي او په دې سره له یوې خوا د خپلو وسلو لپاره د خرڅلاو بازار پیدا کړي او له بلې خوا په دغو جنګ ځپلو هېوادونو کې د ډار، وېرې او بې امنیۍ داسې حالت راپیدا کړي چې شتمن واکمنان، تاجران او بډایان ئې له خپل هېواد د خپلو شتمنیو ایستلو او د امریکا بانکونو ته په انتقال مجبور شي، د امریکا د ډېرو بانکونو د پانګو یوه لویه برخه په هغو شتمنیو شامله ده چې عربي شیخانو ورانتقال کړې.

دې ته مو باید پام وي چې د پورتني آيت د دې برخي (يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسّ) معنی دا نه ده چې کوم مجسم یا غیر مجسم شیطان پرې لاس راکاږي او یا د عوامو په اصطلاح پیریان ورباندي کښېني او په دې کښېناستو یا لاس راکښو سره ئې پیریاني کوي!! بلکي په دې سره د شیطان تلقین او د انسان په زړه او دماغ د هغه اغېز ته اشاره شوې؛ ځکه قرآن د شیطان هغه اعتراف زموږ مخي ته ایښی چې د قیامت په ورځ به ئې کوي او انسانانو ته به وايي: (وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقّ وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِي عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ....) إبراهيم ٢٢: او کله چې د دې کار د پای ته رسېدو پرېکړه وشي؛ شیطان به ووايي: يقيناً چې الله له تاسو سره رښتيني ژمنه کړې وه او ما چې ژمنه درسره کړې وه درنه په شا شوم؛ او پر تاسو مي هيڅ راز واکمني نه وه؛ مگر دومره چې تاسو ته بلنه درکړم او راسره ومو منله....

همدا راز فرمايي:

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴿٦﴾ الناس

د بيا بيا راتلونکي وسواس له شره؛ هغه چې وسوسې اچوي په سينو کې د خلکو؛ که له پېريانو وي که له خلکو.

يعني چې د شيطان کار فقط د خلکو سينو کې وسوسې اچول دي؛ نه پر خلکو لاس راښکل او مس کول. قرآن په همدې ارتباط او د متقي مؤمنانو په اړه فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ الاعراف

يقيناً هغه چې تقوی ئې کړې؛ کله چې ئې د شيطانانو کوم طائف

(چورلېدونکی)؛ مس کړي (کوم شیطانی تلقین ورته وکړي)؛ سملاسی متوجه شي؛ نو هغه وخت ئې بصیرت په برخه (او د خپلې لارې د پېژندو وړ) شي.

## ۱ باب: د ګرو شوي ځاروي له سپرلۍ او شیدو استفاده

۱۱۳۷ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَشْرَبُ النَّفَقَةُ». (بخاری: ۲۵۱۲)

۱۱۳۷ - له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((پر هغه ګرو شوي ځاروي سپرېدا کېدی شي؛ چې په ګرو تر لاسه شوی وي؛ د خپل لګښت په بدل کې؛ د شیدې ورکوونکي ځاروي شیدې څښل کېدی شي؛ که په ګرو تر لاسه شوی وي؛ د خپل لګښت په بدل کې؛ پر هغه چا ئې لګښت دئ چې پرې سپرېږي او ترې څښي)).

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۱۱ - ۲۵۱۲ - غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: زَكَرِيَّاء، الشَّعْبِي او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له صحیح بخاري او صحیح ابن حبان پرته په بل کتاب کې نه دئ راغلی. که څه هم د دواړو کتابونو راویان په دریو طبقو کې سره ورته دي؛ خو په متن کې لږ توپیر سره لري؛ په یوه کې الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا او په بل کې الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ، إِذَا كَانَ مَرْهُونًا وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ بِنَفَقَتِهِ، إِذَا كَانَ مَرْهُونًا؛ د صحیح ابن حبان روایت داسي دئ:

۵۹۳۵ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الرَّهْنُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ، وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَشْرَبُ نَفَقَتُهُ»

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: پر رهن شوي سپرېدل شته خو د لګښت په بدل کي؛ د څاروي شيدې څښل کېدی شي که رهن وي؛ او پر سپرېدونکي او د شيدو څښونکي ئې لګښت دئ.

ځيني دا روايت په هغه مهال پوري مربوط ګڼي چي د سود حرمت نه وو نازل شوی؛ دا ځکه چي په دې کي له رهن د استفادې جواز راغلی؛ او دا سود ته ورته دئ؛ د عمدة القارئ مصنف امام بدر الدين عيني رأی همدا ده؛ ځيني وايي چي د ګرو شوي څاروي لګښت هم پر خاوند ئې دئ؛ نه پر مرتهن (ګرو اخستونکي)؛

د څارويو د رهن په اړه عادلانه چلن دا دئ: هر څه ئې د راهن (خاوند دي)؛ که دا شيدي وي او که بچي ئې؛ شيدي ئې مرتهن (ګرو اخستونکی) په هغه صورت کي څښلی شي چي بيه به ئې له پور پرې کوي؛ البته په څاروي چي ده کوم لګښت کړی؛ هغه د ده مسلم حق دئ؛ بايد تر لاسه ئې کړي؛ دا به محاسبه کېږي؛ په روايت کي يوازي دا راغلي چي شيدې ئې څښل کېدی شي؛ د لګښت په بدل کي؛ خو فقط دومره څښلی شي چي بيه ئې له مصرف او لګښت سره برابره وي؛ که بيه ئې تر لګښت زياته وي؛ دا زياتي مبلغ د مرتهن لپاره سود ګڼل کېږي؛ دا ځکه چي هر هغه پور سود دئ چي خاوند ته ئې ګټه جلب کړي.

دا وضاحت هم لازم دئ چي که راهن؛ د مودې له بشپړېدو وروسته پور اداء نه کړي؛ آيا پور ورکوونکی؛ کولی شي رهن په بشپړه توګه تمليك کړي؟ ځواب دا دئ چي يوازي د خپل پور تر لاسه کولو حق لري؛ نه د ټول رهن تمليك؛ د جاهليت په دور کي همدا دود وو خو اسلام لغو کړ؛ په دې روايت کي ئې د لغوي اړوند لارښوونه مومو:

٢٠٣٣ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ» السنن الصغير للبيهقى

له ابو هريره روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: رهن (له خاوند ئې) راتم کېدی نه شي؛ گټه ئې هم د ده ده او تاوان ئې هم؛

حافظ احمد بن حجر عسقلاني په بلوغ المرام کي ويلي: راويان ئې ثقه او معتبر دي.

## ٢ باب: د گروي اخستونکي او گروي ورکوونکي اختلاف

١١٣٨ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ. (بخارى: ٢٥١٤)

١١٣٨ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم دا فيصله کړې ده چي قسم پر مدعىٰ عليه دئ.

دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٥١٤ - ٤٥٥٢ - غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري؛ د ٢٥١٤ راويان دا دي: خَلَّاد بْن يَحْيَى، نَافِع بْن عُمَر، ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ او ابْنِ عَبَّاس رضي الله عنهما؛ او د ٤٥٥٢ راويان دا دي: نَصْر بْن عَلِيِّ بْنِ نَصْرٍ، عَبْدُ اللَّهِ بْن دَاوُدَ، ابْنِ جُرَيْجٍ، ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ او ابْنِ عَبَّاس؛ په نورو مهمو کتابونو کي هم له همدې متن او سند سره راغلی. په ٤٥٥٢ روايت کي دا هم ويل شوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: «لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ لَذَهَبَ دِمَاءُ قَوْمٍ وَأَمْوَالُهُمْ»: که خلکو ته د خپلي دعوی او ادعاء له مخي څه ورکړل شي؛ نو د خلکوويني او مال به هدر کېږي.

د روايت مراد دا دئ: که په محکمه کي مدعىٰ عليه انکار وکړي او مدعي شاهد ونه لري؛ نو مدعىٰ عليه به لوړه کوي؛ که داسي نه وي او د هر مدعي ادعاء ومنل شي؛ نو نه به د چا سر خوندي وي او نه مال.

# ٤٧ كتاب: د غلامانو آزادول

## ١-باب: د غلام آزادول او فضيلت ئې

١١٣٩ ـ عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا رَجُلٍ أَعْتَقَ امْرَأً مُسْلِمًا، اسْتَنْقَذَ اللَّهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ». (بخاری: ٢٥١٧)

١١٣٩ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((هر چا چي كوم مسلمان انسان آزاد كړ؛ الله تعالى به ئې د هر غړي په بدل كي د ده يو غړى د دوزخ له اور وژغوري)).

دا روايت په بخاري كي يو ځل راغلى؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو كي يو يو راوي لري چي دا دي: أَحْمَد بْن يُونُس، عَاصِم بْن مُحَمَّد، وَاقِد بْن مُحَمَّد، سَعِيد بْن مَرْجَانَةَ او أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ د روايت په پاى كي د راوي دا وينا هم راغلې: قَالَ سَعِيد بْن مَرْجَانَةَ: «فَانْطَلَقْتُ بِهِ إِلَى عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، فَعَمَدَ عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا إِلَى عَبْدٍ لَهُ قَدْ أَعْطَاهُ بِهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ عَشَرَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ أَوْ أَلْفَ دِينَارٍ، فَأَعْتَقَهُ» مطلب ئې دا دئ چي علي بن حسين داسي غلام آزاد كړ چي عبد الله بن جعفر په زر دينار اخستى وو؛ دا برخه په بل هيڅ كتاب كي نه ده راوړل شوې.

په صحيح مسلم كي په دې صيغه راغلى:

٢١ – (١٥٠٩) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُؤْمِنَةً، أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ إِرْبٍ مِنْهَا إِرْبًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ»

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((چا چي كوم مسلمان انسان آزاد كړ؛ الله تعالى به ئې د هري برخي په

بدل کې د ده يوه برخه د دوزخ له اور وژغوري)).

لکه چې ګورئ امام مسلم نه د بخاري د روايت له متن سره موافقه کړې او نه ئې له سند سره؛ د بخاري روايت او سند ئې په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

## ٢ باب: د کوم ډول غلام آزادول غوره دي؟

١١٤٠ ـ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ العَمَلِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «إِيمَانٌ بِاللَّهِ، وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ»، قُلْتُ: فَأَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «أَعْلاَهَا ثَمَنًا، وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا»، قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟ قَالَ: «تُعِينُ صانعاً او (ضَايِعًا)، أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ»: قَالَ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟ قَالَ: «تَدَعُ النَّاسَ مِنَ الشَّرِّ، فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ تَصَدَّقُ بِهَا عَلَى نَفْسِكَ». (بخارى: ٢٥١٨)

١١٤٠ – له ابو ذر رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې پوښتنه وکړه: کوم عمل غوره دئ؟ وئې فرمايل: ((په الله تعالى ايمان او د الله تعالى په لار کې جهاد))؛ ومې ويل: د مريانو کوم يو آزادول غوره دي؟ وئې فرمايل: ((کوم چې قيمت ئې تر نورو لوړ وي او خاوند ته ئې تر نورو غوره او ارزښتمن وي))؛ ومې ويل: که ئې ونه کړی شم؟ وئې فرمايل: ((له صنعتکار او کاسب سره مرسته؛ راوي وايي: ښايي د صانع په ځای د ضايع لفظ ويل شوی وي؛ يعني له فقير او له پامه غورځول شوي انسان سره مرسته)؛ او هغه کسبګر ته د کسب ښودنه چې سم ئې نشي جوړولی؛ وئې ويل: که ئې ونه کړی شم؟ وئې فرمايل: (( (خپل) شر او ضرر له خلکو لرې ساته؛ او دا داسې صدقه ده چې خپل ځان ته ئې ورکوې)).

دا روايت په بخاري کې ٣ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ٢٦ – ٢٥١٨ – ٢٧٨٢؛ هر يو ئې په صحابه وو کې له دغو دريو راويانو په ترتيب سره

نقل شوي: أَبو هُرَيْرَة، أَبو ذَرّ او عَبْدُ اللَّهِ بْن مَسْعُود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم؛ له دې توپيرونو سره: په لومړي کې «إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ» تر ټولو افضل عمل؛ بيا «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» او بيا «حَجٌّ مَبْرُورٌ» غوره ګڼل شوي؛ په دوهم کې «إِيمَانٌ بِاللَّهِ، وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ» تر ټولو افضل عمل؛ د غلامانو په آزادولو کې د داسې غلام آزادول افضل ګڼل شوي چې «أَعْلاَهَا ثَمَنًا، وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا» او که دا نشي کولی نو سپارښتنه شوې: تُعِينُ صانعاً او ضَايِعًا، أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ»په دريېم کې «الصَّلاَةُ عَلَى مِيقَاتِهَا»؛ تر ټولو افضل او بيا «بِرُّ الوَالِدَيْنِ»، او «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ»

د قرآن له لارښوونو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له ارشاداتو معلومېږي چې تر ايمان وروسته جهاد في سبيل الله تر ټولو افضل عمل دئ؛ له دې کبله هم چې له ايمان وروسته تر ټولو مهم کار د الله تعالی دين قائمول دي او له دې کبله هم چې په جهاد کې انسان د الله تعالی لپاره له خپل مال او سر تېرېږي؛ په جهاد سره نور انسانان له ظلم ژغورل کېږي او د الله تعالی لوري ته بلل کېږي؛ له همدې امله رسول الله صلی الله علیه و سلم جهاد ته د اسلام ذِروة سَنَامِ الاسلام نوم ورکړی:

١٥ – عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «ذِرْوَةُ سَنَامِ الْإِسْلَامِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، لَا يَنَالُهُ إِلَّا أَفْضَلُهُمْ» المعجم الكبير للطبرانى

له ابو ذر روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: د اسلام تر ټولو لوړه څوکه د الله په لار کې جهاد دئ؛ دې ته نه شي رسېدلی مګر د مسلمانانو افضل او غوره ئې.

## ٣ باب: د شریک غلام آزادول

١١٤١ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِى عَبْدٍ، فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ، قُوِّمَ الْعَبْدُ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ، فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ، وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلَّا

فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ». بخاری ۲۵۲۲

۱۱٤۱ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((ثوک چي په (شريک) غلام کي خپله برخه آزاده کړي؛ نو که دومره مال ولري چي د غلام قيمت ته رسېدى شي؛ نو غلام دي په عادلانه توګه قيمت شي؛ نو شريکانو ته د هغوی برخي ورکړي او په دې توګه دي غلام آزاد کړي او که نه نو همغه برخه ئې آزاده شوې چي ده آزاده کړې ده)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۳ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: مَالِك بن أنس، نَافِعٍ او عَبْد اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. په نورو کتابونو کي هم له دغه متن او سند سره راغلی.

## ٤ باب: په هېره طلاق او د غلام آزادول

۱۱٤۲ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ لِي عَنْ أُمَّتِي مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَكَلَّمْ». (بخاری: ۲۵۲۸)

۱۱٤۲ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((الله تعالی زما لپاره؛ زما د امت له هغه څه تېر شوی چي په سينو کي ئې وسوسې راپاروي؛ تر هغه چي عمل او تکلم پرې ونه کړي)).

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ راويان ئې دا دي: الحُمَيْدِي، سُفْيَان، مِسْعَر، قَتَادَةَ، زُرَارَة بْنِ أَوْفَى او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په نورو کتابونو کي له عبد الله بن عباس او ابو ذر غفاري هم روايت شوی.

په صحيح مسلم کي له کافي توپير سره په دې صيغه راغلی:

۲۰۱ – (۱۲۷) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ

اللهَ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ يَتَكَلَّمُوا، أَوْ يَعْمَلُوا بِهِ»

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: يقيناً چي الله تعالى زما امت ته له هغه څه تېر شوی چي په زړه کي ئې ګرځي؛ تر هغه چي تكلم پرې ونه کړي يا عمل پرې ونه کړي)).

لکه چي ګورئ د مسلم په روايت کي د بخاري د روايت دا برخه (تَجَاوَزَ لِي) نه شته؛ د بخاري د روايت دا برخه (مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَكَلَّمْ)؛ په مسلم کي؛ په نسبتاً واضح توګه داسي راغلې: مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ يَتَكَلَّمُوا، أَوْ يَعْمَلُوا بِهِ: هغه څه چي په زړه کي ئې ګرځي؛ تر هغه چي تكلم پرې ونه کړي يا عمل پرې ونه کړي.

## ٥ باب: د غلام آزادولو لپاره د شاهد نيول

١١٤٣ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ لَمَّا أَقْبَلَ يُرِيدُ الإِسْلامَ وَمَعَهُ غُلامُهُ ضَلَّ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ صَاحِبِهِ، فَأَقْبَلَ بَعْدَ ذَلِكَ وَأَبُو هُرَيْرَةَ جَالِسٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ هَذَا غُلامُكَ قَدْ أَتَاكَ». فَقَالَ: أَمَا إِنِّي أُشْهِدُكَ أَنَّهُ حُرٌّ، قَالَ: فَهُوَ حِينَ يَقُولُ: يَا لَيْلَةً مِنْ طُولِهَا وَعَنَائِهَا عَلَى أَنَّهَا مِنْ دَارَةِ الْكُفْرِ نَجَّتِ (بخارى: ٢٥٣٠)

١١٤٣ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي ئې اسلام ته مخه کړه؛ په داسي حال کي چي غوښتل ئې مسلمان شي؛ غلام ئې هم ورسره وو؛ په لاره کي هر يو له خپل ملګري ورک شو؛ له دې وروسته په داسي حال کي راغی چي ابو هريره رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ناست وو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((ابو هريره! دا دي غلام دئ چي درته راغی))؛ نو وئې ويل: زه تا شاهد نيسم چي هغه نور آزاد دئ. راوي (قيس) وايي: نو ده به ويل: وای د هغي شپې له اوږدوالي او کړاو ئې؛ په دې چي له دار الکفر ئې وژغورلم.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ، مُحَمَّد بْنِ بِشْر، إِسْمَاعِيلَ، قَيْسٍ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

ښايي له دې شعر د ابو هريره رضي الله عنه مراد دا وي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته تر راتلو وړاندې شپه ډېره اوږده او سخته پرې تېره شوې؛ خو همدې شپې له دارالکفر وژغورلو. په بل روايت کې راغلي: کله چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم خوا ته روان شوم؛ په لاري کې مي دا وويل؛

يَا لَيْلَةً مِنْ طُولِهَا وَعَنَائِهَا ... عَلَى أَنَّهَا مِنْ دَارَةِ الْكُفْرِ نَجَّتِ

او له دې معلومېږي چې په همدې شپه ئې د ايمان راوړو او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په حضور کې د مشرف کېدو پرېکړه کړې وه او له ډېر شوق؛ دا شپه پرې ډېره اوږده او سخته تمامه شوې؛ خو د بخاري له روايت داسي معلومېږي لکه چې د غلام په ناڅاپي راتګ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې وينا (اې ابو هريره! دا دي غلام دئ چې درته راغی)؛ له اورېدو وروسته ئې هم ايمان راوړی او هم ئې خپل غلام آزاد کړی!! او دا يقيناً چې صحيح نه ده.

## ٦ باب: د مشرک غلام آزادول

١١٤٤ ـ عَنْ حَكِيم بْنَ حِزَامٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ أَعْتَقَ فِى الْجَاهِلِيَّةِ مِائَةَ رَقَبَةٍ وَحَمَلَ عَلَى مِائَةِ بَعِيرٍ، فَلَمَّا أَسْلَمَ حَمَلَ عَلَى مِائَةِ بَعِيرٍ وَأَعْتَقَ مِائَةَ رَقَبَةٍ، قَالَ: فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَصْنَعُهَا فِى الْجَاهِلِيَّةِ، كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا، يَعْنِى أَتَبَرَّرُ بِهَا قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ لَكَ مِنْ خَيْرٍ».
(بخاری: ٢٥٣٨)

١١٤٤ - له حكيم بن حزام رضي الله عنه روايت دئ چي د جاهليت په زمانه كي ئې سل غلامان آزاد كړي او سل اوښان ئې د سپرلۍ لپاره خلكو ته وركړي وو او كله چي مسلمان شو بيا ئې سل اوښان خلكو ته د سپرلۍ لپاره وركړل او سل غلامان ئې آزاد كړل؛ حكيم رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي په دې اړه پوښتنه وكړه: يا رسول الله! زما د هغو اعمالو په اړه دي رأى څه ده چي ما به په جاهليت كي د خداپپالني او نېكي په نيت كول؟ وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د خير هغو كارونو له كبله خو مسلمان شوې چي تر دې وړاندي دي درلودل)

يعني د مخكينيو نيكيو له بركت؛ د مسلمانېدو سعادت او توفيق دي په برخه شوی.

دا روايت په بخاري كې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٣ طبقو كې يو يو راوي لري چي دا دي: هِشَام، پلار ئې عروه او حَكِيم بْن حِزَام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له مهمو كتابونو يوازي په صحيح مسلم كې هم راغلی؛ چي راويان ئې په دريو طبقو كې همغه د بخاري راويان دي.

## ٧ باب: كه څوك د عربي غلام مالک شي

١١٤٥ ـ عن عَبْدِاللَّهِ بْن عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَغَارَ عَلَى بَنِى الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّونَ وَأَنْعَامُهُمْ تُسْقَى عَلَى الْمَاءِ، فَقَتَلَ مُقَاتِلَتَهُمْ وَسَبَى ذَرَارِيَّهُمْ وَأَصَابَ يَوْمَئِذٍ جُوَيْرِيَةَ. (بخارى: ٢٥٤١)

١١٤٥ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د بني مصطلق پر قبيلې ناڅاپه حمله وكړه؛ هغوی بې خبره وو او څاروي ئې په اوبو د خړوبولو په حال كې وو؛ د هغوی جنگيالي ئې ووژل؛ اولادونه ئې په اسارت ونيول او په همدې ورځ جويريه (رضي الله عنها) د ده شوه.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی: غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عَلِي بْن الحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ، عَبْد اللَّهِ، ابْن عَوْن او نَافِع رضي الله عنه. که څه هم دلته د ابن عمر رضي الله عنهما یادونه نه ده شوې خو نافع دا خبره د ده له قوله کړې. په صحیح مسلم او نسائي کې هم له همدې سند سره راغلی؛ خو په متن کې له ځینو توپیرونو سره.

په دې روایت کې ډېر ابهامات دي؛ لکه: دا غزوه کله رامنځته شوې او ولې؟ د دښمن لوري څومره جنګيالي وژل شوي؟ څومره اسیران شوي؛ او له اسیرانو سره په پیل او پای کې څه شوي؟ له دې وضاحتونو پرته او یوازې د دې روایت له مخې به هر څوك داسې انګېري چې دا برید بې موجبه او ناڅاپي وو؛ د دښمن ټول جنګيالي وژل شوي؛ او ټول ماشومان او مېرمنې ئې د تل لپاره اسیران او وینځې او غلامان شوي؛ او ګواکې جویریه هم په دغه ورځ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په برخه شوې!!! دا روایت که په همدې بڼې او له وضاحت پرته د دښمن لاس ته ورشي نو د شدیدو تبلیغاتو وسیله به ترې جوړوي او که د بې علمه جګړه مارو لاس ته ورشي نو په هر مخالف به د برید او تالان مجوز او مستمسك ترې جوړوي؛ د هغه فیسبوکې مفتي لپاره به د هوسې فتوی بنسټ ترې جوړېږي چې ویل ئې: که د کافر سل مېرمنې په لاس درغلې؛ دوی وینځې دي او له نکاح پرته ورسره نژدېکت او کورواله کولی شې!! او له ډېر غرور ئې سترګې او لاسونه هم داسې خوځول لکه چې لوی او نادر کشف ئې کړی او ستر حقیقت ئې موندلی او له کوم مداهنت پرته ئې خلکو ته بیانوي!!

خو حقیقت بیا داسې دئ: د دې قبیلې مشر له قریشو سره توافق کړی وو چې له مسلمانانو سره په جنګ کې به د دوی مرسته کوي؛ د جنګ لپاره ئې تیاری پیل کړی وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطلاع ورسېده؛ بُرَيْدَة بن الحُصَيْبِ ئې د معلومات تر لاسه کولو لپاره

سيمي ته ولېږلو؛ هغه د خبر صحت تأييد کړ؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم له ۷۰۰ غازيانو سره هغه لوري ته د احتمالي خطر د مخنيوي لپاره وخوزېدو؛ د مُرَيسيع خوا ته ورسېدو؛ دا د دې قبيلې اوبه خور وو؛ همدلته نښته پيل شوه؛ شاوخوا لس تنه ئې ووژل شول؛ د قبيلې مشر حارث بن ابي ضرار له خپلو جنگياليو سره وتښتېدو؛ سيمه، ټوله قبيله او ځاروي ئې د مسلمانانو په لاس کې پرېوتل؛ اسيران مدينې ته انتقال شول؛ جويريه رضي الله عنها د اسيرانو په ډلې کې وه؛ دا د بني المصطلق د قبېلې د مشرحارث بن ابي ضرار لور وه؛ خاوند ئې په جنگ کې وژل شوی وو؛ د ثابت بن قيس لاس ته ورغلې وه؛ هغه حاضر شوی وو چي له دې سره مکاتبه وکړي؛ د آزادېدو په بدل کې څه ترې واخلي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغله چي په دې معامله کې ئې مرسته وکړي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورسره مرسته وکړه؛ او له اسارت ئې آزاده کړه؛ نه يوازي دا آزاده شوه بلکې د دې له کبله د قوم ټول اسيران ئې هم له فديې پرته آزاد شول؛ پلار ئې چي له نورو جنگياليو سره تښتېدلی وو؛ د خپلې لور او نورو د آزادولو لپاره مدينې ته راغی؛ او د فديې اوښان ئې هم له ځان سره راوستي وو؛ خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم او مسلمانانو له ښه او عالي سلوک دومره متأثره شو چي دی او لور ئې مسلمان شي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم جويريه آزاده او بيا ئې په نکاح کړه او مسلمانانو د هغې لپاره خپل ټول اسيران له فديې پرته آزاد کړل. په دې بريد کې د دې قبيلې شاوخوا لس تنه وژل شوي او د اسيرانو شمېر ئې ځينو سل او ځينو نژدې دوه سوه ښودلی؛ چي ټول له فديې پرته آزاد شول؛ په ځينو رواياتو کې دا هم راغلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم جويريه د هغې پلار ته وسپارله؛ دې او پلار ئې دواړو ايمان راوړ؛ او له دې وروسته له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د هغې نکاح شوې.

د بخاري روايت په صحيح مسلم او سنن الکبری للنسائي کې هم له

همدې سند؛ خو په متن کې له معمولي توپیر سره راغلی؛ په سنن الکبری للنسائي کې له روایت سره متصل یوه ښکلې شرح مومو چې د غزواتو په اړه د اسلام لارښووني زموږ مخې ته ږدي:

٨٥٣٢-عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا بَعَثَ أَمِيرًا عَلَى قَوْمٍ أَمْرَهُ بِتَقْوَى اللهِ فِى خَاصَّةِ نَفْسِهِ وَلأَصْحَابِهِ بِعَامَّةٍ وَقَالَ: اغْزُوا بِسْمِ اللهِ وَفِى سَبِيلِ اللهِ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ، وَلاَ تَغْلُوا، وَلاَ تَغْدِرُوا، وَلاَ تُمَثِّلُوا، وَلاَ تَقْتُلُوا وَلِيدًا، وَإِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَادْعُهُمْ إِلَى إِحْدَى ثَلاَثٍ إِلَى الإِسْلاَمِ، فَإِنْ دَخَلُوا فِى الإِسْلاَمِ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ وَإِلَى الْهِجْرَةِ، فَإِنْ دَخَلُوا فِى الْهِجْرَةِ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكَفَّ عَنْهُمْ، وَإِنِ اخْتَارُوا الإِسْلاَمَ وَأَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْ دِيَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ كَانُوا كَأَعْرَابِ الْمُؤْمِنِينَ يَجْرِى عَلَيْهِمْ مَا يَجْرِى عَلَى أَعْرَابِ الْمُؤْمِنِينَ، وَلَيْسَ لَهُمْ مِنَ الْفَىْءِ وَالْغَنِيمَةِ شَىْءٌ إِلاَّ أَنْ يُجَاهِدُوا فِى سَبِيلِ اللهِ، فَإِنْ أَبَوْا الإِسْلاَمَ فَادْعُهُمْ إِلَى إِعْطَاءِ الْجِزْيَةِ، وَاقْبلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ، فَإِنْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَقَاتِلْهُمْ ...

له بریده روایت دئ چې وایي: کله چې به رسول الله صلی الله علیه و سلم کوم امیر پر کوم ټولې ټاکلو نو هغه ته به ئې له الله تعالی د تقوی درلودو امر کولو؛ د خپل ځان په اړه په خاصه توګه او د خپلو یارانو په اړه په عامه توګه؛ او فرمایل به ئې: د الله تعالی په نامه او د الله تعالی په لار کې غزا وکړئ؛ له هغه چا سره وجنګېږئ چې په الله کافر شوی؛ تېری مه کوئ، غدر مه کوئ، مړي مه مثله کوئ، ماشومان مه وژنئ، کله چې له خپل مشرك دښمن سره مخامخ شې نو له دریو ئې یوه ته راوبله: اسلام ته؛ که په اسلام کې داخل شول نو ترې وئې منه؛ او لاس ترې راټم کړه؛ او هجرت ته ئې وبله؛ که په هجرت کې داخل شول نو ترې وئې منه؛ او لاس ترې راټم کړه؛ که ئې اسلام قبول کړ؛ خو له دې ئې ډډه

وکړه چي له خپلي سيمي د هجرت دار ته راشي؛ داسي به وي لکه د مؤمنانو بانډه وال؛ له دوی سره به همغه څه کېږي چي له مؤمنو بانډه والو سره کېږي؛ په غنيمت او فيء کي به هيڅ برخه نه لري؛ مګر دا چي د الله تعالی په لار کي جهاد وکړي؛ که ئې له اسلام ډډه وکړه؛ نو د جزيې ورکړي ته ئې وبله؛ ترې وئې منه؛ او لاس ترې راټم کړه؛ که ئې له دې ډډه وکړه نو بيا له الله تعالی مرسته وغواړه او ورسره وجنګېږه؛ ....

راشئ د اسيرانو په اړه د قرآن لارښوونو ته هم ځير شو؛ الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ...﴾ ﴿٤﴾ محمد

نو کله چي له کافرانو سره مخامخ شئ نو د غاړو وهل دي (دنده مو)، تر هغه چي ښه ئې ووژنئ، بيا (ئې د تړلو لپاره) بندونه کلك کړئ، بيا يا احسان پرې کول دي او يا فديه (ترې منل)؛ تر هغه چي جګړه خپل اوزار کېږدي...

په دې مبارك آيت کي هغه اساسي او مهم مطالب څېړل شوي چي د اسلام په جنګي تګلاري کي ټاکونکې لارښووني ګڼل کېږي؛ په دې توګه:

- کله چي مؤمنان له کافرانو سره په کومي جګړي کي مخامخ شي نو د دوی لومړۍ او اساسي دنده دا ده چي خپله ټوله توجه د دښمن ځپلو ته واړوي، تر هغه چي ښه ئې ووژني او له پښو ئې وغورځوي، د دښمن له ماتولو وروسته دي بې وسلې شوي او نيول شوي جنګيالي د جنګي اسيرانو په توګه ونيسي، د دوی د تړلو لپاره دي مضبوط بندونه او بشپړ احتياط وکاروي، بيا دي يا له دې اسيرانو سره احسان وکړي او له کومي معاوضي او بدلې پرته دي دوی آزاد کړي او يا دي د فديې په بدل کي دوی خوشي کړي.
- دا لړۍ بايد تر هغه دوام وکړي چي جګړه خپل اوزار او جګړه ماران

خپله وسله پر زمکه کېږدي او د جګړې امکانات پای ته ورسېږي.

- هو؛ هغه چې د الله د لارې خنډ شي، د مؤمنانو په ضد د دې لپاره خپلې تورې له تېکو راباسي او پر دوی برید کوي چې له الله تعالی پرته بل چا ته سر نه ټیټوي، له حق او عدالت دفاع کوي، ظالم ته وايي له ظلم لاس واخله، مظلوم ته وايي ظلم ته مه تسلیمېږه، کله چې له داسې مغرورو ځواکونو سره مخامخ شئ نو ستاسو دنده دا ده چې کېرجن سرونه ئې غوڅ کړئ، غرور ئې مات کړئ او له پښو ئې وغورځوئ.

له هغه وروسته چې دښمن ته مو ماته ورکړه، د هغه صفوف مو متلاشي کړل او د جنګ د دوام توان ئې له لاسه ورکړ؛ بیا د جنګي اسیرانو نیولو ته مخه کړئ، د دښمن د هغو جنګیالیو نیولو ته توجه وکړئ چې د جګړې په میدان کې په لاس درځي؛ له دې وروسته دا ستاسو رأيي او خوښي ته پرېښودل شوې چې احسان ورسره کوئ او له کومې معاوضې پرته ئې آزادول د اسلام په ګټه ګڼئ او یا ئې د فدیې په بدل کې خوشې کوئ، خو باید پوه وئ چې ستاسو لومړۍ وجیبه (ضرب الرقاب: د غاړو وهل) ده او دوهمه د اسیرانو نیول.

په دې لارښوونې کې د اسیرانو په اړه دوه بدیلونه د مؤمنانو مخې ته ایښودل شوي: احسان او فدیه؛ یعني چې الله تعالی احسان خوښوي؛ نو ځکه ئې اول د احسان یادونه کړې؛ او بیا د فدیې؛ په فدیه کې هم د اسیرانو تبادله راځي او هم د کومې بلې معاوضې په مقابل کې ئې آزادول.

د قرآن دا لارښوونه هم باید په پام کې ولرو چې مسلمان له چا سره جنګ کولی شي؛ قرآن فرمایي:

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ البقرة

او د الله په لار کې له هغو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګېږي او تېری او زیاتی مه کوئ، یقیناً چې الله تېری کوونکي نه خوښوي.

له هغو کسانو سره د جګړې اجازه درکړی شوې چې له تاسو سره جنګیږي، خو په جنګ کې به هم د اسلام د اصولو مراعات کوئ، له تېرې او زیاتې به ځان ساتئ، له دې تېرې به هم ډډه کوئ چې څوك له تاسو سره نه جنګېدلی او نه جنګیږي؛ تاسو ورسره وجنګیږئ؛ ښځې، ماشومان او بوډاګان به نه وژنئ؛ ځکه هغوی نه له تاسو سره جنګېدلي او نه جنګېدی شي؛ ونو او فصلونو ته به اور نه اچوئ، د دښمن مړي به نه مُثله کوئ، له زخمیانو او اسیرانو سره به زیاتی نه کوئ او له خپلو ژمنو به عدول نه کوئ.

په مخکیني درس کې مو د بني المصطلق د غزوې په ارتباط تفصیلي بحث درلود؛ له دې غزوې د راستنېدو په دوران کې؛ پر عائشه رضي الله عنها؛ د منافقینو له لوري د دروغجن تور قضیه رامنځته شوې؛ او په همدې ارتباط او د عائشې رضي الله عنها له شخصیت او پاك لمنۍ د دفاع لپاره د النور مهمه سوره نازله شوې؛ چې په هغې کې د دې دفاع تر څنګ؛ د مېرمنو په اړه مهمې لارښوونې شوې چې په ضمن کې ئې د حجاب موضوع هم څېړل شوې؛ دغو مسائلو د بني المصطلق غزوې ته خاص اهمیت ورکړی؛ نو ځکه باید وګورو چې د غزوې شا لید، عوامل او نتائج څه وو:

دا غزوه د احد له ماتې وروسته او د احزاب له جګړې مخکې رامنځته شوې؛ د احد په جګړې کې مسلمانانو ته درانه تلفات ورسېدل؛ او د هغوی لپاره لومړۍ درنه ماته وه؛ لکه څنګه چې په جګړو کې ماتې له یوې خوا کورنۍ ستونزې زېږوي، د منافقینو د جسارت او زړه ورتوب باعث کېږي، د فتنو راولاړولو او له دښمن سره د خپلو پټو اړیکو مزید ټینګولو او په ګډه لا زیاتو خطرناکو توطئو ته ئې هڅوي، همدا راز بهرني دښمنان زړه ور کوي، پټ دښمنان او هغه چې تر دې وړاندې ئې خپله دښمني پټه ساتله؛ دې ته هڅوي چې خپله دښمني څرګنده کړي او له څرګند دښمن سره لاس یو کړي، د احد له ماتې وروسته هم دې ته

ورته فضاء رامنځته شوه، کورني او بهرني دښمنان زړه ور شول، کورنيو دښمنانو؛ منافقينو او په مدينه کې مېشت يهودانو قريشو ته بلنه ورکوله چې که پر مدينه بريد وکړي نو دوی به ئې کلکه ملګرتيا او مرسته کوي، د عربو ډېرې مشرکې قبيلې چې تر دې وړاندې ئې د مسلمانانو په ضد د قريشو ملګرتيا او ملاتړ نه کولو او د مسلمانانو په ضد جګړو کې ئې برخه نه اخيستله؛ د احد له ماتې وروسته زړه ور شول، ځينو قريشو ته اطمئنان ورکولو چې په راتلونکو جګړو کې به د دوی ملګرتيا کوي، ځينو په خپله پر مدينه د بريد تيارى نيولو، ځينو د دوکې او خدعې له لارې مسلمانانو ته د ضرر او تاوان رسولو توطئې جوړولې، په همدې لړ کې د احد له جګړې دوه مياشتې لا نه وې تېرې شوې چې د بني اسد قبيلې پر مدينې د حملې تيارى وکړ؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې بريد د مخنيوي په موخه د ابو سلمه سريه ولېږله، وروسته د څلورم هجري کال د صفر په مياشت کې د (عَضَل او قَارَّه) قبيلو له رسول الله صلی الله عليه و سلم وغوښتل چې د خلکو د دعوت او لارښوونې په موخه څو مبلغين ورولېږي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د اصحابو يو شپږ کسيز ټولی ورسره ولېږو، خو هغوی دوکه وکړه او د دوی د وژلو لپاره ئې د هُذَيل له قبيلې سره مرسته وکړه، چې په بريد کې څلور تنه شهيدان شول او دوه ئې له ځان سره بوتلل او د څو پيسو په بدل کې ئې پر قريشو وپلورل؛ که څه هم په دې اړه بل روايت داسې دئ چې ګواکې رسول الله صلی الله عليه و سلم دا ټولی د استطلاع په موخه لېږلی وو، د ټولي د شمېر په اړه هم روايات مختلف دي ځيني ئې شپږ او ځيني ئې لس بولي؛ وروسته په همدې مياشت کې رسول الله صلی الله عليه و سلم د بني عامر د قبيلې د يوه مشر په غوښتنه يو بل تبليغي وفد چې څلوېښت يا اويا کسان ول د نجد په لوري ولېږل، له دوی سره هم غداري وشوه، د بني سُلَيم درې قبيلو: عُصَيَّه، رِعل او ذَکْوان؛ دوی ته کمين ونيو او په ناڅاپي توګه ئې پر دوی بريد وکړ او ټول ئې شهيدان

کړل. په همدې دوران کې د مديني يوې يهودي قبيلې بني نضير د همدې کال په ربيع الاول کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د شهيدولو توطئه جوړه کړه چي بريالي نشول، ورپسې د همدې کال په جمادي الاولی کې د بني غطفان دوو قبيلو: بنو ثعلبه او بنو محارب پر مديني د بريد لپاره چمتو شول چي د دوی د ځپلو لپاره رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله د يوه لښکر په ملګرتيا هلته ولاړ.

همدا راز کله چي بني اسد پر مدينې د بريد تياری شروع کړ، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د ده د خواخوږو له لوري اطلاع ورکړل شوه، تر دې وړاندي چي دښمن پر مدينې بريد وکړي د ابو سلمه رضی الله عنه تر مشرۍ لاندي ئې شاوخوا يو نيم سل سرتېري ورولېږل، د دوی ناڅاپي بريد دښمن داسي وارخطاء کړ چي يوې بلي خوا ته وتښتېدل او هر څه ئې تر شا پرېښودل او ټولي شتمني ئې مسلمانانو غنيمت کړې.

کله چي د بني نضير يهودي قبيلې توطئه افشاء شوه او رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه وو ته جوته شوه چي دوی د رسول الله صلی الله عليه و سلم د قتل منصوبه جوړه کړې وه، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم په همغه ورځ دوی ته اعلان کړه چي تر لسو ورځو به له مدينې وځي او له دې ټاکلې مودې وروسته چي د دوی هر څوك پاته وي هغه به وژل کېږي، د منافقينو سالار عبدالله بن ابی بن سلول هغوی هڅول چي د دې ګواښ پروا ونه کړي، له مدينې ونه وځي، دی تيار دئ له دوو زرو جنګياليو سره د دوی مرسته وکړي، د بني قريظه يهودي قبيله او د بني غطفان قبيله به د دوی مرسته کوي؛ دغو دروغجنو ډاډېينو ته په پام سره هغوی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ځواب ورکړ چي وتلو ته چمتو نه يو؛ څه چي کولی شې وئې کړه!! رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغه لس ورځني مهلت په پای کې د دوی سيمه محاصره کړه؛ هيڅا دا جسارت ونه کړ چي د دوی مرستي ته

راوړاندي شي، د محاصرې په پای کې بني نضیر دې ته چمتو شول چې له مدینې ووځي او هغه هم په دې شرط چې هر درې تنه یو اوښ او دومره سامان له ځان سره وړی شي چې دا اوښ ئې وړلی شي.

بیا ئې د بني غطفان لوري ته مخه کړه چې پر مدینې د برید لپاره ئې تیاری نیولی وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم له څلورو سوو جنګیالیو سره د دوی په لور وخوځېدو؛ د مسلمانانو ناڅاپي برید داسي وارخطاء کړل چې له جګړې پرته ئې خپل کورونه او هر څه پرېښودل او یوې بلې خوا ته خواره شول.

دغو پېښو ټول دښمنان دې ته متوجه کړل چې د عربو هیڅ قبیله د قریشو په شمول په یوازې توګه او د نورو له مرستې او ملګرتیا پرته د مسلمانانو مقابله نشي کولی، له دې پرته بله چاره نه لري چې ټول په ګډه او د یوه ستر برید له لارې د مسلمانانو له دې ورځ په ورځ زیاتېدونکي ګواښ ځان د تل لپاره وژغوري. دښمنانو د یوه ګډ لوی برید ضرورت هغه مهال لا زیات احساس کړ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د حجاز او شام تر منځ پرتې سیمې دُومَة الجَندَل کې د مېشت شوکه مارو هغه ډله وځپله چې دلته به ئې تجارتي قافلې لوټلې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د پنځم هجري کال د ربیع الاول په میاشت کې له زرو مجاهدینو سره د دې لوټمارو د تأدیب لپاره په هغه لوري وخوځېدو، هغوی خپله سیمه پرېښوده او وتښتېدل؛ د مسلمانانو دغې ستري بریا دښمنان لا زیات هیبت وهلي کړل او د دوی د خیرنو زړونو کینه ئې لا زیاته تشدید کړه؛ همدا د احزاب د تاریخي جګړې شالید او محرکات ول.

د بني المصطلق د غزوې په اړه اکثر روایات وایي چې دا په پنځم هجري کال کې رامنځته شوې؛ یو روایت ئې د څلورم هجري کال پېښه ګڼي او بل روایت ئې د شپږم هجري کال. دا تعارض او اختلاف د یوې مهمي مسئلې په ارتباط د فقهاءو تر منځ د جدي اختلاف باعث شوی؛

د ښځو د حجاب د څرنګوالي په اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف له دغو متعارضو روایاتو راولاړ شوی؛ د حجاب او ستر په اړه په دوو سورتونو کې لارښوونې شوې؛ د النور او الاحزاب سورتونه؛ د إفك پېښه؛ پر عائشې رضي الله عنها؛ دروغجن او کرکجن تور؛ د همدې المصطلق غزوې په دوران کې د منافقینو له لوري وارد شوی؛ او بیا د دې افتراء او دروغجن تور د رد او غندلو لپاره؛ د قرآن یوه بشپړه سوره؛ د النور سوره؛ نازله شوې؛ چې نه یوازې دا تور ئې غندلی؛ او د عائشې رضي الله عنها برائت ئې څرګند کړی؛ بلکې په همدې ارتباط ئې ګڼ شمېر جامع او رغنده لارښوونې؛ د مسلمانانو مخې ته ایښې دي. د مېرمنو د حجاب او شرعي لباس په اړه چې متعارضو روایاتو کومه ستونزه راولاړه کړې؛ ځیني ئې له همدې غزوې سره تړاو لري؛ یو ئې عائشې رضي الله عنها ته دا خبره منسوبوي چې ګواکې هغې ویلي: ما خپل مخ پټ کړ؛ ځکه چې د حجاب آیت نازل شوی وو؛ په داسې حال کې چې د حجاب یادونه د احزاب په سوره کې شوې؛ او دا سوره تر دې غزوې او د النور سورې له نزول وروسته؛ او هغه مهال نازله شوې چې د احزاب جګړه هم پای ته رسېدلې وه؛ او په همدې سورې کې د احزاب جګړې په اړه تفصیلي بحث شوی؛ او دا ښیي چې دغه روایات هیڅ اعتبار او وزن نه لري چې وایي: د احزاب سوره د بني المصطلق تر غزوې وړاندې نازله شوې.

په څو دلائلو ویلی شو چې د النور سوره تر الاحزاب وړاندې نازله شوې:

١. له دوو روایاتو پرته نور ټول روایات همدا خبره کوي.

٢. د النور په سوره کې په عامه توګه ویل شوي چې کورونو ته د ننوتلو په مهال له هستوګنو اجازه وغواړئ او سلام پرې واچوئ او د الاحزاب په سوره کې ویل شوي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم کور ته له اجازې پرته مه ننوځئ؛ هغه لارښوونه عامه او دا خاصه ده؛ معمولاً عامه لارښوونه تر خاصي وړاندې وي.

۳. د الاحزاب په سورې کې ويل شوي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له وفات وروسته به د هغه مېرمني داسي ګڼئ لکه خپلې ميندي او له هغوی سره به نکاح نه کوئ. دا لارښوونه ښيي چې د الاحزاب سوره د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت لږ وړاندي نازله شوې، په همداسي وخت کې داسي لارښوونې ته ضرورت وو نه تر دې ډېر وړاندي.

٤. کوم روايت چې وايي د الاحزاب سوره تر النور وړاندي نازله شوې په هغه کې داسي خبري تر سترګو کېږي چې د روايت اعتبار ته کلکه صدمه رسوي، لکه دا چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغه چا په جومات کې او د مسلمانانو په وړاندي شکايت وکړ چې دا افتراء ئې جوړه کړې وه، په ځواب کې ئې سعد بن معاذ رضى الله عنه وويل: يا رسول الله! که دا د اوس له قبيلې وي نو موږ به ئې سر غوڅ کړو او که د خزرج د قبيلې وي نو هغه څه به ورسره کوو چې ته ئې امر وکړې. دا په داسي حال کې چې سعد بن معاذ رضى الله عنه د الاحزاب په غزوې کې ټپي شوی وو او د همدې ټپ له کبله لږ وروسته وفات شو!! که سعد بن معاذ رضى الله عنه دا خبره کړې وي نو معنى ئې دا ده چې دا غزوه تر الاحزاب او د سعد بن معاذ رضى الله عنه تر وفات وړاندي وه. د دې اختلاف او د دې رواياتو تفصيل د احزاب سورې په تفسير کې وګورئ.

ځيني د ابن شهاب زهري په هغه روايت استناد کوي چې د افك د قضيې په ارتباط راغلی او په هغه کې عائشې رضى الله عنها ته دا وينا منسوب شوې چې د حجاب آيت نازل شوی وو نو ځکه ما خپل مخ په ټکري پټ کړ. په داسي حال کې چې د الاحزاب سوره او په هغې کې د حجاب آيت د بني المصطلق له غزوې او د افك له پېښې وروسته نازله شوې!! او له دې معلومېږي چې هغه روايت اعتبار نه لري چې وايي: عائشې رضي الله عنها وويل: ما خپل مخ پټ کړ؛ او دا ځکه چې د حجاب آيت نازل شوی وو؛ په داسي حال کې چې د حجاب آيت ډېر

وروسته نازل شوی؛ په روایت کې د سعد بن معاذ رضی الله عنه د هغې د وینا یادونه شوې چې وئې ویل: که دا افتراء د اوس قبیلې کوم کس کړې وي نو موږ به ئې سر غوڅ کړو؛ او له دې معلومېږي چې بني المصطلق غزوه د احزاب تر جګړې وړاندې وه؛ ځکه چې سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په غزوې کې ټپي شوی او لږ وروسته له همدې ټپ وفات شوی!!

همدا راز عائشې رضی الله عنها ته دا وینا منسوبول چې د حجاب آیت ته په پام سره ئې خپل مخ پټ کړی، صحیح انتساب نه دئ؛ ځکه د حجاب د آیت موضوع د مخ پټول نه بلکې له امهات المؤمنین د پردې له شا څه غوښتل دي؛ که په ټکري سره د مخ پټولو یادونه ئې کړې وی نو د احزاب د سورې ۵۹ آیت ته به ئې اشاره کوله چې وایي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ۵۹ : اې پیغمبره! خپلو مېرمنو؛ او خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووایه چې خپل پړوني ورباندې راتاو کړي، همدا دې ته نژدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ.

خلاصه دا چې د افك په ارتباط هغه روایات ارجح دي چې د احزاب د سورې د حجاب اړوند آیت خبره نه کوي، ځکه دا سوره تر دې غزوې وروسته نازله شوې او هغه مهال سعد بن معاذ رضی الله عنه ژوندی وو.

۱۱۴۶ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: مَا زِلْتُ أُحِبُّ بَنِى تَمِيمٍ مُنْذُ ثَلاثٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِيهِمْ، سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِى عَلَى الدَّجَّالِ» قَالَ: وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذِهِ صَدَقَاتُ قَوْمِنَا» وَكَانَتْ سَبِيَّةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَ: «أَعْتِقِيهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ». (بخاری: ۲۵۴۳)

١١٤٦ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له بني تميم سره له هغي ورځي مينه لرم چي د دوی په اړه مي له رسول الله صلی الله عليه و سلم درې خبري اورېدلې دي؛ له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: ((دوی (بني تميم) د دجال لپاره زما د امت تر ټولو سخت او شديد خلک دي))؛ ابو هريره رضي الله عنه وايي: کله چي د بني تميم زکاتونه راغلل؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((دا زموږ د قوم صدقې دي))؛ او د همدې قبيلې يوه وينځه له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا سره وه؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وفرمايل: ((دا وينځه دي آزاده کړه؛ ځکه هغه د اسماعيل له اولادې ده)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٣ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: عُمَارَة بْنِ القَعْقَاع، أَبو زُرْعَةَ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ مهم کتاب کې نه دئ راغلی.

## ٨ باب: د مريي په اړه د تکبر کراهيت

١١٤٧ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لا يَقُلْ أَحَدُكُمْ: أَطْعِمْ رَبَّكَ، وَضِّئْ رَبَّكَ، اسْقِ رَبَّكَ، وَلْيَقُلْ: سَيِّدِى، مَوْلاىَ، وَلا يَقُلْ أَحَدُكُمْ: عَبْدِى، أَمَتِى، وَلْيَقُلْ: فَتَاىَ، وَفَتَاتِى، وَغُلامِى». (بخاری: ٢٥٥٢)

١١٤٧ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((ستاسو هيڅوک دي داسي نه وايي: خپل رب (پالونکي) ته خواړه ورکړه، خپل پالونکي ته د اوداسه اوبه ورکړه، خپل پالونکي ته د څښاك اوبه ورکړه؛ او داسي دي وايي: زما مشر، زما خاوند او مالك؛ او هيڅوک دي داسي نه وايي: زما غلام او مريی، زما وينځه؛ بلکي ودي وايي: زما بچی، زما بچۍ او زما ځوانکی)).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دیٔ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بن رافع، عَبْدُ الرَّزَّاقِ، مَعْمَر، هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّه او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ پر بخاري علاوه په صحیح مسلم کې هم له همدې متن او سند سره راغلی. خو په مسند احمد کې دا فقره اضافي راغلې: وَلَا يَقُلْ أَحَدُكُمْ: رَبِّي، وَلْيَقُلْ: سَيِّدِي وَمَوْلَايَ؛ چې د روایت مطلب ئې مزید واضح کړی.

د روایت مراد دا دیٔ: د هر انسان کرامت ته درناوی ولریٔ، د شتمن او نېستمن تر منځ توپیر مه کویٔ؛ مه غلام تر خپل مالك ټیټ ګڼیٔ؛ او مه مالك په داسي القابو او نومونو یادویٔ چې د انسان تر شأن او حیثیت لوړ وي، د مشر او مالك په څېر نومونه ورته وکارویٔ؛ مریي هم د غلام او نوکر په نومونو مه یادویٔ؛ د زوی، بچی، ځوانکی، زلمی؛ په څېر نومونو ئې یاد کړیٔ. هیچا ته په ټیټه سترګه مه ګوریٔ؛ خادم او مریي ستا ورور دیٔ؛ له ده سره ستا په چلن کې باید دا وروري او برابري احساس شي.

ښایي له ځینو سره به دا پوښتنه راولاړه شي چې آیا د دې روایت لپاره هم په قرآن کې کومه منشأ موندلی شو؟ ځواب ئې دا دیٔ: هو؛ قرآن غلام د فتی (ځوانکی) او وینځې د فتیات (پېغلوټې) په نامه یاد کړي.

دا خبره هم وضاحت ایجابوي چې یوسف علیه السلام ولې زنداني ملګري ته وویل: خپل (رب) ته دي زما یادونه وکړه؟ له الله تعالی پرته خو بل ته رب ویل جائز نه دي؛ دوه توجیه درلودی شو: ۱- زنداني ملګري ئې ملك په همدې نامه یادولو؛ یوسف علیه السلام د هغه خبره کړې؛ نه دا چې له دې توصیف او ستاینې سره موافق وو؛ دا داسي ده لکه چې د کوم مشرك نوم عبدالشمس (د لمر بنده) وي؛ او ته ئې په همدې نامه یاد کړې. ۲- د رب ظاهري معنی ئې مراد وه؛ چې پالونکی دیٔ. لومړۍ توجیه او تعبیر غوره دیٔ.

## ۹ باب: چاته چي خپل غلام خواړه راوړي

۱۱٤۸ ـ عن أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَتَى أَحَدَكُمْ خَادِمُهُ بِطَعَامِهِ فَإِنْ لَمْ يُجْلِسْهُ مَعَهُ فَلْيُنَاوِلْهُ لُقْمَةً أَوْ لُقْمَتَيْنِ؛ او أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ، فَإِنَّهُ وَلِىَ عِلاجَهُ». (بخارى: ۲۵۵۷)

۱۱٤۸ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((كه چا ته د ده خادم د ده خواړه ورته راوړل؛ نو كه ئې له ځان سره نه كښېنوي؛ يوه مړى، دوه مړى يا يو خوراک، دوه خوراكه دي پرې وخوري؛ ځكه چي همدا ده ئې د جوړولو او برابرولو انتظام كړى)).

دا روايت په بخاري كې يو ځل راغلى؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو كې يو يو راوي لري چي دا دي: حَجَّاج بْن مِنْهَال، شُعْبَة، مُحَمَّد بْن زِيَاد او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسند احمد پرته په بل كتاب كې نه دئ راغلى؛ امام بخاري ته له حَجَّاج بْن مِنْهَال رسېدلى او امام احمد ته له محمد بن جعفر.

## ۱۰ باب: كه ئې غلام وهلو نو پر مخ دې نه وهي

۱۱٤۹ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ». (بخارى ۲۵۵۹)

۱۱٤۹ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((كه ستاسو كوم يو جګړه كوي؛ نو پر مخ له وهلو دې ډډه كوي)).

دا روايت په بخاري كې يو ځل راغلى؛ په صحابه وو كې دوه راويان لري چي انس او ابو هريره دي؛ امام بخاري ته له دوو سلسلو رسېدلى؛ د دواړو إسناد ئې ښودلي. خو روايت له باب سره مناسبت نه لري؛ باب دا دئ: كه ئې غلام وهلو نو پر مخ دې نه وهي؛ خو روايت وايي: كه

ستاسو کوم یو جګړه کوي؛ نو پر مخ له وهلو دې؛ ډډه کوي!! یعني پر مخ وهل جائز نه دي؛ نه په تعزیر کې او نه په تأدیب کې؛ یعني قاضي هم دا حق نه لري او مور، پلار او استاد هم؛ د دوو مسلمانانو تر منځ جنګ کې هم باید له دې ډډه وشي.

په سنن ابي داؤد او مسند احمد کې په دې صیغه راغلی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ، وَلا يَقُلْ قَبَّحَ اللَّهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ؛ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ»

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: که چا بل څوك وهلو نو باید پر مخ ئې ونه وهي او داسي ونه وایي چي الله تعالی دي ستا مخ تور کړي؛ او د هر هغه چا مخ چي تا ته ئې مخ ورته وي؛ ځکه الله تعالی؛ آدم علیه السلام د ده په بڼه او شکل پیدا کړ.

د روایت دا برخه: « فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ"؛ الله تعالی آدم علیه السلام د هغه په صورت پیدا کړ؛ لږ دقت او غور ایجابوي؛ ځکه دا پوښتنه رامنځته کوي چي د چا په صورت ئې پیدا کړ؟ په دې کې ځینو مغالطه کړې؛ قصداً یا اشتباهاً؛ داسي ئې توجیه کړې چي ګواکې الله تعالی آدم علیه السلام؛ د خپل ځان په څېر پیدا کړی؛ په داسي حال کې چي دلته بحث أصلاً د الله تعالی د ذات په ارتباط نه دئ؛ بلکې بحث د دوه کسانو تر منځ د شخړې او نزاع دئ چي باید یو بل پر مخ ونه وهي او داسي ونه وایي چي الله تعالی دي ستا مخ تور کړي؛ او د هر هغه چا مخ چي تا ته ئې مخ ورته وي؛ ځکه الله تعالی؛ آدم علیه السلام د ده په بڼه او شکل پیدا کړ. ځکه دا خو په حقیقت کې د خپل نیکه او جد مخ ته بد رد ویل دي؛ ستا د نیکه؛ آدم علیه السلام مخ هم دغه کس ته ورته دئ چي ته ئې په څېره وهې او بد رد ورته وایي.

حميدي يو له هغو مهمو شخصيتونو او محدثينو دئ چي له تبع الأتباع ئې روايات تر لاسه کړي. له ده دغو محدثينو روايات اخيستي: بخاري، مسلم، أبو داود، ترمذي، نسائي او ابن ماجه. اما امام بخاري له خپل دغه استاد؛ پورتنی روايت نه دئ نقل کړی. خو اهل ظاهر په همدې روايت استناد کوي او دا ترې راباسي چي الله تعالی مخ لري او مخ ئې آدم عليه السلام ته ورته دئ!!! او دا يقيناً چي قبيح مغالطه ده؛ له ځان سره او له نورو سره. نه په روايت کې داسي څه مومو چي دا مطلب ترې راوايستل شي او نه قرآن موږ ته دا اجازه راکوي چي الله تعالی له کوم مخلوق سره په ذات او صفاتو کې تشبيه کړو.

## ١١ باب: د مکاتَب روا شروط

## او څوك چي داسي شرط وضع کړي چي د الله په کتاب کې نه وي

١١٥٠ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ بَرِيرَةَ جَاءَتْ تَسْتَعِينُهَا فِى كِتَابَتِهَا وَلَمْ تَكُنْ قَضَتْ مِنْ كِتَابَتِهَا شَيْئًا، قَالَتْ لَهَا عَائِشَةُ: ارْجِعِى إِلَى أَهْلِكِ فَإِنْ أَحَبُّوا أَنْ أَقْضِىَ عَنْكِ كِتَابَتَكِ وَيَكُونَ وَلاؤُكِ لِى فَعَلْتُ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ بَرِيرَةُ لأَهْلِهَا فَأَبَوْا، وَقَالُوا: إِنْ شَاءَتْ أَنْ تَحْتَسِبَ عَلَيْكِ فَلْتَفْعَلْ وَيَكُونَ وَلاؤُكِ لَنَا، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ابْتَاعِى فَأَعْتِقِى، فَإِنَّمَا الْوَلاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ». قَالَ: ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَا بَالُ أُنَاسٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِى كِتَابِ اللَّهِ، مَنِ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَيْسَ فِى كِتَابِ اللَّهِ فَلَيْسَ لَهُ وَإِنْ شَرَطَ مِائَةَ مَرَّةٍ، شَرْطُ اللَّهِ أَحَقُّ وَأَوْثَقُ». (بخارى: ٢٥٦١)

١١٥٠ – له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي: بَرِيْرَه رضي الله عنها ورته راغله او د خپل ځان د مکاتبې (د پيسو په بدل کي د آزادي تر لاسه کولو معاهده) په اړه ئې مرسته ترې وغوښته او دغه وخت بريره

د خپل مکاتبت له پیسو هیڅ نه وو اداء کړي؛ نو عائشې رضي الله عنها ورته وویل: ولاړه شه خپل اهل (مالك) ته ورشه که د هغوی رضاء وي چي زه دي پیسې اداء کړم او ولاء (د تناصر او وراثت حق) دي له ما سره وي؛ نو پیسې به دي ورکړم؛ بریره دا خبره خپلو مالکانو ته وکړه؛ خو هغوی ونه منله او وئې ویل: که عائشه رضي الله عنها غواړي چي دا پیسې د ثواب لپاره درکړي؛ نو ښه ده او ولاء به دي له موږ سره وي. عائشې رضي الله عنها دا خبره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وکړه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمایل: ((هغه په بیه واخله، بیا ئې آزاده کړه او ولاء د هغه چا حق دئ چي آزاد ئې کړي))؛ راوي وايي: بیا رسول الله صلى الله عليه و سلم پاڅېد او وئې فرمایل: ((په خلکو څه شوي چي داسي شروط ږدي چي د الله په کتاب (قرآن) کي نه شته؛ څوک که داسي شرط کښېږدي چي د الله تعالى په کتاب کي نه وي؛ هغه شرط ئې باطل او لغوه دئ که څه هم سل ځله ئې شرط کړي؛ د الله تعالى شرط له ټولو زیات په حقه او مضبوط دئ)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: قُتَيْبَة، لَيْث، ابْنِ شِهَاب، عُرْوَة او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ په روایت کي درې خبري مزید توجه ایجابوي:

لوستونکی دا انتباه ترې اخلي چي ګواکي عائشې رضي الله عنها د بریرې د میراث تر لاسه کولو په موخه دا شرط ایښی چي ولاء به دي زما وي(زه به دي وارثه وم)؛ حاشا و کلا چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر تربیت لاندي روزل شوی شخصیت به داسي وي؛ له دې وینځي سره به څه وو چي دې ئې طمع کړې وی؟! عائشې د هغې د آزادولو اراده کړې او د قیمت پرې کولو ته چمتو شوې؛ که له وینځي سره څه وی نو خپله آزادي به ئې اخستې وه.

په راویانو کي ئې ابن شهاب دئ چي د اموي حکامو کلك پلوي وو؛

په رسمي او حکومتي سطح د احاديثو ليکلو او په يوه کتاب کې د راغونډولو کار هم؛ ده د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په امر پيل کړی؛ په ډېرو داسي غريب رواياتو کې چي دی ئې په راويانو کې شامل وي؛ وبه ګورئ چي د عائشې، ابو بکر او نورو شخصيتونو په اړه همداسي څرګندوني شوې وي؛ په مخکينيو درسونو کې مو همداسي روايات له نظره تېر شوي. نه وايو چي دا روايات به ده په خپله جوړ کړي وي؛ بلکې د نورو له ويناوو او رواياتو ئې همدا غوره کړي.

په دې روايت کې ګورو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: "څوک که داسي شرط کنښېږدي چي د الله تعالی په کتاب (قرآن) کي نه وي؛ دا شرط ئې باطل او لغوه دئ که څه هم سل ځله ئې شرط کړي"؛ او له دې په څرګنده او پرېکنده توګه معلومېږي چي د الله کتاب يوازينۍ او وروستۍ مرجع ده؛ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم ټول ارشادات له قرآن اخستل شوي.

## ٤٨ کتاب: سوغات او فضيلت ئې

### ۱باب: د سوغات فضيلت

۱۱۵۱ ـ عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ». (بخاری: ۲۵٦٦)

۱۱۵۱ – له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلی الله عليه و سلم فرمايلی: ((اې مسلمانو مېرمنو! هيڅ ګاونډۍ دي د خپلي ګاونډۍ هديه (ډالۍ) کمه نه ګڼي؛ که څه هم د پسه د پښې ښنګری وي.

مراد ئې دا دئ چي هديه بايد په ورين تندي ومنل شي؛ که هر

ځومره کم ارزښته شی وي؛ باید په سپکه سترګه ورته ونه کتل شي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: المَقْبُرِي، پلار ئې او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري علاوه په مسلم، مسند احمد او مسند ابي داؤد الطيالسي کې هم راغلی چې په دریو طبقو کې ئې راویان همدا دي او د متن له پلوه ځیني توپیرونه لري؛ په مسند ابي داؤد الطيالسي کې په دې صيغه راغلی:

٢٤٥٣ – حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مَعْشَرٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَهَادَوْا، فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ وَغَرَ الصَّدْرِ، لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ نِصْفَ فِرْسِنِ شَاةٍ»

له ابو هريره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: یو بل ته هدیه ورکړئ؛ چې هدیه د سینې کینه له منځه وړي؛ هیڅ ګاونډۍ دې د خپلې ګاونډۍ هدیه (ډالۍ) کمه نه ګڼي؛ که څه هم د پسه د ښنګري نیمایي وي.

١١٥٢ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ لِعُرْوَةَ: يا ابْنَ أُخْتِي إِنْ كُنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى الْهِلالِ ثُمَّ الْهِلالِ ثَلاثَةَ أَهِلَّةٍ فِي شَهْرَيْنِ وَمَا أُوقِدَتْ فِي أَبْيَاتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَارٌ فَقُلْتُ: يَا خَالَةُ مَا كَانَ يُعِيشُكُمْ؟ قَالَتِ: الأَسْوَدَانِ: التَّمْرُ وَالْمَاءُ، إِلَّا أَنَّهُ قَدْ كَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِيرَانٌ مِنَ الأَنْصَارِ كَانَتْ لَهُمْ مَنَائِحُ وَكَانُوا يَمْنَحُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَلْبَانِهِمْ فَيَسْقِينَا. (بخاری: ٢٥٦٧)

١١٥٢ له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې عُروَة ته ئې وویل: اې خورېي! باور وکړه موږ به سپوږمۍ ته کتل؛ وروسته بلې سپوږمۍ ته؛ په دوو میاشتو کې درې رابره کېدا ئې؛ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په کورونو کې اور نه بلېدو؛ ومې وویل: ترورې! نو په څه به مو

ژوند کولو؟ وئې ویل: دوه تور؛ خرما او اوبه؛ مګر دا چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم انصار ګاونډیان وو؛ چې شیدې ورکوونکي څاروي ئې درلودل؛ (یا بل چا د شیدو لپاره ورکړي وو)؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې د هغوی شیدې ډالۍ کولې او پر موږ به ئې څښلې.

منائح؛ د مِنحَه جمع؛ په اصل کې هغې مېږې او اوښې ته ویل کېږي چې څوك ئې بل ته د دې لپاره ورکړي چې له شیدو ئې استفاده وکړي؛ تر هغه چې شیدې ورکوي؛ بیا ئې بېرته خپل خاوند ته سپاري؛ خو وروسته وروسته د هرې عطیه او هبه لپاره ئې کارول عام شو.

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۵٦۷ - ٦٤٥۹ - غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عَبْدُ العَزِيزِ بْن عَبْد اللَّهِ الأُوَيْسِي، ابْن أَبِي حَازِم، پلار ئې، يَزِيد بْنِ رُومَانَ، عُرْوَة او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛

په مسند احمد او سنن ابن ماجه کې ئې هم له عائشې وروسته راویان توپیر لري او هم ئې په متن کې توپیر لیدل کېږي؛ په دواړو کې په دې صیغه راغلی:

۲٥٤٩١ – عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «لَقَدْ كَانَ يَأْتِي عَلَى آلِ مُحَمَّدٍ الشَّهْرُ، مَا يُرَى فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِهِ الدُّخَانُ» قُلْتُ: يَا أُمَّهْ، وَمَا كَانَ طَعَامُهُمْ؟ قَالَتْ: «الْأَسْوَدَانِ، التَّمْرُ وَالْمَاءُ، غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ لَهُ جِيرَانُ صِدْقٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، وَكَانَ لَهُمْ رَبَائِبُ، فَكَانُوا يَبْعَثُونَ إِلَيْهِ مِنْ أَلْبَانِهَا»

له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چې وئې ویل: یقیناً چې د محمد علیه السلام په ټبر به داسې میاشت راتله چې په کور کې به ئې هیڅ دود نه لیدل کېدو؛ ومې ویل: اې مورې! نو خوراك به ئې څه وو؟ وئې ویل: دوه تور؛ خرما او اوبه؛ مګر دا چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم رښتیني انصار ګاونډیان وو؛ په کور کې ساتل شوې مېږې ئې درلودلې؛ او

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې د هغوی شیدې لېږلې.

پوښتنه دا ده: د دواړو روایاتو موضوع یوه ده؛ لومړی راوي ئې هم عائشه رضي الله عنها؛ خو په متن کې ئې دا توپیر دئ: یو ئې وايي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ټبر به داسي میاشت راتله چي په کور کې به ئې هیڅ دود نه لیدل کېدو؛ په بل کې ویل شوي: په دوو میاشتو کې به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په کورونو کي اور نه بلېدو؛ یو به ئې صحیح وي؛ خو نه په بخاري کې د دې ځواب مومو او نه په نورو کتابونو کې.

١١٥٣ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ دُعِيتُ إِلَى ذِرَاعٍ أَوْ كُرَاعٍ، لأَجَبْتُ، وَلَوْ أُهْدِىَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ أَوْ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ». (بخاری: ٢٥٦٨)

١١٥٣ - له ابو هریرة رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((که د پسه د لاس او یا د پنډۍ (د پښې له زنګون لاندي برخي) خوړلو ته وبلل شم؛ نو دا بلنه به منم او که د پسه لاس یا پښه په سوغات کې راکړل شي؛ نو قبلوم ئې)).

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی؛ ۲۵۶۸ - ۵۱۷۸ - غریب دئ؛ په ۲ طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: أَبو حَازِم او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په متن کې ئې دا توپیر دئ چي په یوه کې ئې یوازي دا راغلي: لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ، وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ»؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی.

## ٢ باب: د ښکاري هدیه د قبول وړ ده

١١٥٤ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ فَسَعَى الْقَوْمُ فَلَغَبُوا فَأَدْرَكْتُهَا فَأَخَذْتُهَا فَأَتَيْتُ بِهَا أَبَا طَلْحَةَ فَذَبَحَهَا وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَرِكِهَا أَوْ فَخِذَيْهَا فَقَبِلَهُ قُلْتُ وَأَكَلَ مِنْهُ، قال و

اكل منه ثم قال بعد قبله. (بخارى: ٢٥٧٢)

١١٥٤ - له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په مَرَّ الظَهْرَان کي موږ يو سوی و لټاوو؛ خلک ورپسي وځغلېدل؛ خو ستړي شول؛ نو ومي موندلو او ومي نيولو؛ او ابو طلحه ته مي وروړ؛ هغه ذبح کړ او د ورنو برنۍ برخه يا ورنونه ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورولېږل؛ چي قبول ئې کړل؛ ومې ويل: آيا وئې خوړل؟ وئې ويل: وئې خوړل؛ بيا ئې وويل: هغه هديه ئې قبوله کړه.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی؛ ٢٥٧٢ - ٥٤٨٩؛ غريب دئ؛ په ۳ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: شُعْبَة، هِشَامِ بْنِ زَيْد او أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځينو نورو کتابونو کي هم؛ له همدې سند او متن سره راغلی.

## ۳ باب: د سوغات قبلول

١١٥٥ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: أَهْدَتْ أُمُّ حُفَيْدٍ خَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِطًا وَسَمْنًا وَأَضُبًّا فَأَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الأَقِطِ وَالسَّمْنِ، وَتَرَكَ الضَّبَّ تَقَذُّرًا، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَأُكِلَ عَلَى مَائِدَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ كَانَ حَرَامًا مَا أُكِلَ عَلَى مَائِدَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ٢٥٧٥)

١١٥٥ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د ابن عباس رضي الله عنه خاله ام حُفَيد؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لږ څه کورت، غوړي او څه سمساره؛ د هديې په توګه ورکړل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم کورت او غوړي و خوړل او سمساره ئې پرېښوده؛ د کراهت او بد ايسېدو له کبله؛ ابن عباس رضي الله عنهما وويل: خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر دسترخان وخوړل شو؛ (نورو وخوړ)؛ که حرام وی؛ نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر دسترخان به نه

خوړل کېدو.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: آدَم، شُعْبَة، جَعْفَر بْن إِيَاس، سَعِيد بْن جُبَيْر او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ په سنن نسائي او شعب الإيمان للبيهقي کې هم له دغه سند او متن سره راغلی.

په دې اړه روايات متعارض دي؛ ځيني ئې د نهي خبره او ځيني ئې د جواز خبره کوي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم نه دئ خوړلی؛ د احنافو له نظره د نهي روايات وروستني او معتبر دي.

١١٥٦ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ سَأَلَ عَنْهُ: أَهَدِيَّةٌ أَمْ صَدَقَةٌ فَإِنْ قِيلَ: صَدَقَةٌ قَالَ لأَصْحَابِهِ: «كُلُوا» وَلَمْ يَأْكُلْ، وَإِنْ قِيلَ: هَدِيَّةٌ ضَرَبَ بِيَدِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ مَعَهُمْ. (بخارى: ٢٥٧٦)

١١٥٦ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته به چې خواړه راوړل شول؛ پوښتنه به ئې کوله چې دا صدقه ده که سوغات؟ که به وويل شول صدقه ده؛ نو اصحابو رضي الله عنهم ته به ئې وفرمايل: ((تاسو ئې وخورئ)) او ده به نه خوړله؛ او که به وويل شول: سوغات يا هديه ده؛ نو لاس به ئې ور اوږد کړ او له دوی سره به ئې په ګډه خوړل.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: إِبْرَاهِيم بْن مُنْذِر، مَعْن، إِبْرَاهِيم بْن طَهْمَان، مُحَمَّد بْنِ زِيَاد او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په مسند احمد کې په دې صيغه راغلی:

٢٠٠٥٤ – حَدَّثَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِالشَّيْءِ سَأَلَ عَنْهُ: «أَهَدِيَّةٌ أَمْ

صَدَقَةٌ؟»؛ فَإِنْ قَالُوا: هَدِيَّةٌ، بَسَطَ يَدَهُ، وَإِنْ قَالُوا: صَدَقَةٌ، قَالَ لِأَصْحَابِهِ: «خُذُوا» مسند احمد

لکه چې ګورئ دلته (بسط يده: لاس به ئې اوږد کړ) راغلي؛ خو د بخاري په روايت کې (ضَرَبَ بِيَدِهِ: په خپل لاس به ئې ووهلو) راغلي؛ مناسب ئې د مسند احمد فقره ده. په مسند اسحاق بن راهويه کې په دې صيغه راغلی:

۵۰۸ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: " كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِ سَأَلَ عَنْهُ أَهَدِيَّةٌ أَمْ صَدَقَةٌ؟ فَإِنْ قِيلَ: صَدَقَةٌ لَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ، وَأَكَلَ أَصْحَابُهُ، وَإِنْ قِيلَ هَدِيَّةٌ أَكَلَ مِنْهَا ". مسند اسحاق بن راهويه

دا روايت تر مخکينيو دواړو زيات واضح دئ؛ ځکه دلته ويل شوي: که به رسول الله صلی الله عليه و سلم ته له خپلې کورنۍ پرته له بل ځای خواړه راوړل شول نو وبه ئې پوښتل: صدقه ده که هديه؟ که به وويل شول: صدقه ده نو نه به ئې خوړل او يارانو به ئې خوړل او که به وويل شول چې هديه ده نو خوړل به ئې.

۱۱۵۷ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَقِيلَ: تُصُدِّقَ عَلَى بَرِيرَةَ قَالَ: «هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ». (بخاری: ۲۵۷۷)

۱۱۵۷ – له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې وايې: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته څه اندازه غوښه راوړل شوه؛ او وويل شول: دا غوښه بَرِيْرَه ته په خيرات کې ورکړل شوې ده؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم و فرمايل: ((دا غوښه د بريرة لپاره زکات (صدقه) ده او زموږ لپاره هديه)).

له دې روايت معلومېږي چې عائشې رضي الله عنها بريره رضي الله عنها اخستې او آزاده کړې وه.

## ٤ باب: څوك چې خپل ملګري ته هديه ورکړي

## او دې ته انتظار کوي چې د خاصې مېرمنې په کور کې ئې ورکړي

١١٥٨ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ نِسَاءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ حِزْبَيْنِ، فَحِزْبٌ فِيهِ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ وَصَفِيَّةُ وَسَوْدَةُ، وَالحِزْبُ الآخَرُ أُمُّ سَلَمَةَ وَسَائِرُ نِسَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ المُسْلِمُونَ قَدْ عَلِمُوا حُبَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَائِشَةَ، فَإِذَا كَانَتْ عِنْدَ أَحَدِهِمْ هَدِيَّةٌ يُرِيدُ أَنْ يُهْدِيَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَخَّرَهَا حَتَّى إِذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى بَيْتِ عَائِشَةَ، بَعَثَ صَاحِبُ الهَدِيَّةِ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى بَيْتِ عَائِشَةَ، فَكَلَّمَ حِزْبُ أُمِّ سَلَمَةَ فَقُلْنَ لَهَا: كَلِّمِى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَلِّمُ النَّاسَ، فَيَقُولُ: مَنْ أَرَادَ أَنْ يُهْدِىَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدِيَّةً، فَلْيُهْدِهِ إِلَيْهِ حَيْثُ كَانَ مِنْ بُيُوتِ نِسَائِهِ، فَكَلَّمَتْهُ أُمُّ سَلَمَةَ بِمَا قُلْنَ، فَلَمْ يَقُلْ لَهَا شَيْئًا، فَسَأَلْنَهَا، فَقَالَتْ: مَا قَالَ لِى شَيْئًا، فَقُلْنَ لَهَا، فَكَلِّمِيهِ قَالَتْ: فَكَلَّمَتْهُ حِينَ دَارَ إِلَيْهَا أَيْضًا، فَلَمْ يَقُلْ لَهَا شَيْئًا، فَسَأَلْنَهَا، فَقَالَتْ: مَا قَالَ لِى شَيْئًا، فَقُلْنَ لَهَا: كَلِّمِيهِ حَتَّى يُكَلِّمَكِ، فَدَارَ إِلَيْهَا فَكَلَّمَتْهُ، فَقَالَ لَهَا: «لاَ تُؤْذِينِى فِى عَائِشَةَ فَإِنَّ الوَحْىَ لَمْ يَأْتِنِى وَأَنَا فِى ثَوْبِ امْرَأَةٍ، إِلَّا عَائِشَةَ»، قَالَتْ: فَقَالَتْ: أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مِنْ أَذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، ثُمَّ إِنَّهُنَّ دَعَوْنَ فَاطِمَةَ بِنْتَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ:

إِنَّ نِسَاءَكَ يَنْشُدْنَكَ اللَّهَ العَدْلَ فِي بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ: «يَا بُنَيَّةُ أَلاَ تُحِبِّينَ مَا أُحِبُّ؟»، قَالَتْ: بَلَى، فَرَجَعَتْ إِلَيْهِنَّ، فَأَخْبَرَتْهُنَّ، فَقُلْنَ: ارْجِعِي إِلَيْهِ، فَأَبَتْ أَنْ تَرْجِعَ، فَأَرْسَلْنَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ، فَأَتَتْهُ، فَأَغْلَظَتْ، وَقَالَتْ: إِنَّ نِسَاءَكَ يَنْشُدْنَكَ اللَّهَ العَدْلَ فِي بِنْتِ ابْنِ أَبِي قُحَافَةَ، فَرَفَعَتْ صَوْتَهَا حَتَّى تَنَاوَلَتْ عَائِشَةَ وَهِيَ قَاعِدَةٌ فَسَبَّتْهَا، حَتَّى إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَنْظُرُ إِلَى عَائِشَةَ، هَلْ تَكَلَّمُ، قَالَ: فَتَكَلَّمَتْ عَائِشَةُ تَرُدُّ عَلَى زَيْنَبَ حَتَّى أَسْكَتَتْهَا، قَالَتْ: فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَائِشَةَ، وَقَالَ: «إِنَّهَا بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ»، (بخاری: ٢٥٨١)

١١٥٨ - له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني دوې ډلي وې؛ په يوه ډله كي عائشه،حَفْصَة، صَفِيَّة او سَوْدَه (رضي الله عنهن) وې او په بله كي ام سلمه او د رسول الله صلى الله عليه و سلم نوري مېرمني؛ مسلمانان له عائشې رضي الله عنها سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم له ځانګړي محبت خبر وو؛ كه به له كوم صحابي سره څه سوغات وو او غوښتل به ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وركړي؛ نو تر هغه به ئې ځنډولو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د عائشې رضي الله عنها په كور كي وو؛ نو د هديې خاوند به خپله هديه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هغه مهال لېږله چي د عائشې په كور كي به وو؛ د ام سلمه ډلي په خپل منځ كي خبري وكړې او هغې ته ئې وويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره خبره وكړه چي خلكو ته ووايي: كه څوك غواړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هديه وركړي؛ نو چي د خپلو مېرمنو په هر كور كي وي هملته دي هديه وركړي؛ نو ام سلمه هغه خبره ورسره وكړه چي دوى ويلې وه؛ خو څه ئې ورته ونه ويل؛ ترې ومو پوښتل: وئې ويل: ما ته ئې څه ونه ويل؛ هغې ته ومو ويل: بيا ورسره خبره وكړه؛ نو هغه

مهال ئې ورسره خبره وکړه چې د دې په کور کې وو؛ بیا ئې هم څه ورته ونه ویل؛ پوښتنه مو ترې وکړه؛ وئې ویل: ما ته ئې څه ونه ویل؛ بیا مو ورته وویل: تر هغه خبرې ورسره وکړه چې خبره درته وکړي؛ بیا چې د دې کور کې وو؛ نو خبره ئې ورته وکړه؛ نو ورته وئې فرمایل: ((د عائشې په اړه مې مه ځوروه؛ دا ځکه چې د هیڅ مېرمنې په بستر کې پر ما وحی نه ده نازله شوې؛ له عائشې پرته))؛ نو وئې ویل: یا رسول الله! ستا له ځورولو الله ته توبه کوم؛ بیا دوی د رسول الله صلی الله علیه و سلم لور فاطمه رضي الله عنها وروبلله او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې ولېږله؛ چې ووایي: مېرمنې دې د الله په نامه د ابو بکر د لور په اړه عدل غواړي؛ هغې دا خبره ورسره وکړه؛ وئې فرمایل: ((لورې! آیا هغه څه نه خوښوې چې زه ئې خوښوم؟))؛ وئې ویل: ولې نه؛ نو دوی ته ورستنه شوه او ترې خبرې ئې کړلې؛ نو دوی وویل: بیا ورشه؛ خو له دې ئې ډډه وکړه چې بیا ورشي؛ نو هغوی زینب بنت جحش ورولېږله؛ هغه ورغله او ستوغه ژبه ئې وکاروله او وئې ویل: ستا مېرمنې د الله په نامه د ابن قُحافه (ابوبکر) د لور په اړه عدل غواړي؛ خپل غږ ئې لوړ کړ؛ حتی په عائشې ولګېده په داسې حال کې چې هغه هلته ناسته وه؛ او وئې ښکنځله؛ دومره چې رسول الله صلی الله علیه و سلم عائشې ته کتل چې آیا څه به ووایي؟ راوي وایي: نو عائشې خبرې وکړې؛ د زینب ځواب ئې ویلو؛ تر هغه چې خاموشه ئې کړه؛ وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم عائشې ته وکتل او وئې فرمایل: (دا خو د ابو بکر لور ده)!!

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٦ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: إِسْمَاعِیل بن أبي أویس؛ ورور ئې أَبُو بکر عبد الحمید، سُلَیْمَان بن بِلَال، هِشَام بْنِ عُرْوَة، پلار ئې او عَائِشَه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دئ راغلی؛ د بخاري د استادانو او شاګردانو د کتابونو په شمول!!!

د دې روايت په اړه دا مطالب بايد په پام کې ولرو:

• له هيڅ پلوه د اعتبار وړ نه دئ؛ نه ئې راويان شاهد لري او نه ئې متن.

• په روايت کې ډېر اضطراب تر سترګو کېږي؛ په داسي حال کې چي راوي ئې عائشه ښودل شوې خو د روايت له متن داسي برېښي لکه چي راوي بل څوك وي؛ او دا بل څوك هم داسي چي هم د يوه لوري په غونډې کې حاضر دئ او هم د عائشې په کور کې!!!

• په دې کې داسي څه د رسول الله صلى الله عليه و سلم درنو مېرمنو ته منسوب شوي چي د دوى له لوړ شأن ډېر لري او ټيټ دي.

• رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د خپلو مېرمنو تر منځ عدم عدالت منسوب شوی؛ چي د حقيقت خلاف او قطعاً د منلو نه دئ؛ بده ئې لا دا چي د بې عدالتي تور؛ د مېرمنو له لوري لګول شوی!!!

• څنګه ومنو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا ټولي خبري اورېدلې دي خو نه ئې هيڅ ځواب ويلی او نه ئې مېرمنو ته لارښوونه کړې؛ فقط له عائشې ئې دفاع کړې!!!

• د داسي غريب او د متن او سند له پلوه معلول او مجروح روايت راوړلو ګټه او ضرورت څه دئ؟ ولې دښمنانو ته دا تبليغاتي مواد په لاس ورکوو چي ووايي: دا ئې د مسلمانانو د پيغمبر او د ده د مېرمنو حال چي د سوغاتونو په اړه په شخړو لګيا وې؛ يوې بلې ته ښکنځلې کولې او پيغمبر ئې له قانع کولو عاجز وو. په کار خو دا وه چي د راويانو هغه لړۍ د معتمد او معتبرو راويانو له فهرست ايستل شوي وی چي داسي ضعيف او مردود روايتونه نقل کوي.

• د دې روايت په راويانو کې هشام بن عروه دئ؛ که څه هم هغه لوی شخصيت او معتبر تابعي دئ؛ خو د ده په اړه علماء رجال وايي: د عمر په پای کې ئې حافظه ضعيفه شوې وه او مطالب ترې خلط او ګډ وډ کېدل. که هشام دا خبره کړې وی نو د ده شاګرد امام مالك به په خپل

کتاب موطأ کې حتماً دا روایت راوړی وو؛ خو په موطأ کې نه شته!! هشام د عائشې رضي الله عنها د خور لمسی دئ.

د دې روایت دا برخه هم بحث ایجابوي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مېرمنو دوه ډلې د حزبین (دوه حزبونه) په نامه یادې شوې!! له دې معلومېږي چې حزب په اصل کې د یوه شي یوې برخې ته ویل کېږي؛ اطلاق ئې د یوه ولس په یوې قبیلې، د یوه ملت په یوه جماعت او ټولې، د یوه واړه ټولې په څو کسانو او حتی د یوه کتاب په یوې برخې هم کېدی شي؛ د قرآن د هر جزء نیمایي ته د حزب نوم ورکړی شوی؛ چې په دې سره ټول قرآن ٦٠ حزبه ګڼل شوی.

یعني چې موږ کولی شو هر څو کسیز ټولی؛ د حزب په نامه یاد کړو؛ که دا فکري او اعتقادی ټولی وي، یا سیاسي، یا صنفي، یا قومي؛ د یوه شخص حامیان هم د یوه حزب په نامه یادولی شو او د هغه همفکر او همعقیده هم؛ قرآن هغه جنګ د احزاب په نامه یاد کړی چې د عربو ټول قبائل د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خلاف یو ځای شول او پر مدینې ئې برید وکړ؛ د دې جنګ په اړه نازله شوې سوره هم د احزاب په نامه یاده شوې.

په دې ورځو کې له ځینو ادرسونو اورېدل کېږي چې وایي: په اسلام کې احزاب نه شته، احزاب د تفرقې باعث کېږي، احزاب باید منحل شي؛ ځیني د احزابو ضد ډېره کچه او پرېوتې بازاري ژبه کاروي او داسي ښکنځلي کوي چې مسلمان خو پرېږدئ هیڅ شریف انسان ئې د ویلو جسارت نه کوي؛ او له شرافت او انسانیت ئې لري ګڼي؛ دا تبلیغات د هغو له خوا کېږي چې په خپله د یوه ګوند او حزب غړي دي؛ له اوسني حکومت د دفاع په موخه دا تبلیغات او ښکنځلي کوي. په دې اړه څو خبري ضروري ګڼو:

آیا په اسلام کې حزب او جواز ئې شته؟ ځواب ئې دا دئ چې هو؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم امت یو حزب دئ چې مشر او مؤسس

ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم دئ؛ همدا راز د هر پيغمبر امت يو حزب وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي:

عن الحارث الاشعرى أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللَّهُ أَمَرَنِي بِهِنَّ: الْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قَيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلا أَنْ يَرْجِعَ، وَمَنْ دَعَا دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ"، قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى؟ قَالَ: « نعم وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى، فَادْعُوا بِدَعْوَةِ اللَّهِ الَّذِي سَمَّاكُمْ بِهَا الْمُسْلِمِينَ الْمُؤْمِنِينَ عبادَ اللَّهِ » مسند احمد و الترمذى

له الحارث الاشعري روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: په هغو پنځو خبرو مو ګمارم چې الله تعالی زه پرې ګمارلی يم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد؛ نو څوك چې له جماعت د يوې لوېشتې په اندازه ووت؛ يقيناً چې د اسلام کړۍ ئې له خپلې غاړې وايسته؛ مګر دا چې بېرته راوګرځي؛ او څوك چې د جاهليت په بلنې بلنه کوي؛ هغه به د دوزخ خس او خاشاك وي؛ يوه سړي وويل: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې فرمايل: هو؛ که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي؛ نو د الله په هغې بلنې سره بلنه وکړئ چې تاسو ئې پرې مؤمنان، د الله بندګان مسلمانان نوموني يئ.

دا روايت چې د احاديثو په ټولو کتابونو کې له همدې الفاظو سره يا په لږ تغيير سره راغلی او صحيح ئې ګڼلی؛ په جماعت کې ژوند، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد؛ دومره مهم بولي چې له دې پرته د چا لمونځ او روژه هم د منلو وړ نه ګڼي!!

دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا په واحد امت کې بېل بېل حزبونه جواز لري؟ ځواب دا دئ؛ د حرمت لپاره ئې هيڅ دليل او نص نه مومو؛ البته

د دې حرمت مومو چي که مسلمانان متحد وي؛ په خپله خوښه ئې يو امير غوره کړی او بيعت ئې ورسره کړی وي؛ بل پاڅي؛ په بغاوت لاس پوري کړي؛ د زور او جنګ لار غوره کړي. متأسفانه ځيني هغه روايات چي په اصل کي يوازي د وسله والو بغاوتګرانو په اړه دي؛ په غلطه او ناسمه توګه؛ د هغو په اړه کاروي چي داعيان، آمرين بالمعروف او ناهين عن المنکر دي او د حکومت په سياستونو او اجراءاتو شرعي اعتراضات لري؛ سرکاري مفتيان دا کار کوي. موږ په خير القرون کي داسي امامان لرو چي هر يوه ئې د امت د لويي برخي قيادت او مشري په غاړه درلوده؛ دا هر امام او پلويان ئې يو حزب وو. سره له دې چي مطلق العنان؛ اموي او عباسي حکامو دا امامان ګواښلي، زنداني کړي، تعذيب کړي او په دوی کي امام ابو حنيفه رحمة الله عليه؛ په زندان کي وفات شوی؛ خو ونه توانېدل دا مذهبي خوځښت او حزبونه وځپي او محبوبيت ئې په امت کي راکم کړي.

آيا په اسلامي نظام کي د حزبونو شتون حرام دئ؟ آيا د حرمت لپاره ئې صريح نص شته؟ آيا داسي آيت او حديث شته چي له مخي ئې څوك د حرمت پرېکړه وکړي؟ د جواز او عدم جواز پرېکړه به ئې څوك کوي؟ دا هغه پوښتني دي چي بايد ځواب شي؛ په تېر درس کي مو په دې اړه لازم ابتدائي بحث کړی؛ په دوام کي ئې دا عرائض لرم:

- په اسلام کي حلال او حرام واضح دي؛ الله تعالی او د هغه رسول موږ ته ښودلي، الله تعالی د حلال او حرام په اړه حکم او پرېکړي کي هيڅوك له ځان سره نه شريکوي؛ او فرمايي: (إن الحکم إلا لله)؛ مفتي، قاضي او حاکم؛ يوازي د الله تعالی د حکم او لارښووني مطابق فتوی ورکوي، قضاوت کوي او حکم صادروي؛ د دوی دنده فقط بيانول او تطبيقول دي. يوازي هغه څوك د هر حلال او حرام؛ جائز او ناجائز په اړه د څه ويلو حق لري چي په واقعي معنی د فتوی ورکولو وړتيا ولري؛ له قرآن، حديث او فقه خبر وي او مسلمانان ئې د صادق او امين مفتي په توګه

پېژني؛ هغه هم باید د خپلي فتوی لپاره صریح او څرګند نص (د قرآن آیت او د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحیح حدیث) ولري.

- په اسلام کي امر بالمعروف او نهي عن المنکر؛ د هر مؤمن؛ الهي وجيبه او فریضه ګڼل شوې؛ دا هم یوه فردي وجيبه ده، هم اجتماعي وجيبه؛ او د امت په سطح د ټولو ګډه وجيبه او د نظام دنده او مسئولیت دئ؛ که حکومت خپله دنده په سمه توګه اداء کړي؛ د ټولو ذمه اداء شوې؛ او که ئې اداء نه کړي؛ او په خپله په منکر او فساد کي ښکېل وي؛ نو دا د فرد فرد دنده او وجيبه ده چي مخه ئې ونیسي؛ هغه قوم او ولس په الهي عذاب ګواښل شوی چي دا وجيبه ترك کړي؛ قرآن فرمايي:

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾ آل عمران

او له تاسو دي داسي یوه ډله (جوړه شوې) وي چي د خیر په لوري بلنه ورکوي، په معروف امر کوي او له منکر مخنیوی کوي او همدا دوی بریالي دي.

قرآن وايي: دین ستاسو د یووالي ضامن دئ او له دین د انحراف په نتیجه کي له بدو پایلو، شدید اختلاف او له داخلي جګړو سره مخامخ کېږئ؛ وطن به درته د اور کنده شي؛ او خپلوان او ورور به دي دښمن شي؛ که غواړئ له داسي تور برخلیك سره مخ نه شئ؛ نو په کار ده؛ ټول په ګډه داسي یوه ډله شئ چي کار ئې د خیر په لوري بلنه، په معروف او غوره کارونو ګمارنه او له کرکجنو او منکرو کارونو مخنیوی وي؛ فلاح او بریا به د دغسي ډلي او امت په برخه کېږي.

دې ته مو پام وي چي دلته د امر بالمعرف او نهي عن المنکر صیغې کارول شوې؛ نه د انتقاد او اعتراض صیغې؛ دا یوازي انتقاد او اعتراض نه دئ، عملاً د ناراوو مخنیوی او حق ته اړ کول افاده کوي، دا له مجرد انتقاد او اعتراض ډېر فرق لري؛ ظالم او مفسد به له لاسه نیسئ، له ظلم

او فساد به ئې مخنيوی کوئ؛ د حقپالونکو مرسته او ملګرتيا به کوئ؛ همدا د حقپال او عدالت غوښتونکي جماعت او حزب د جوړولو بنسټ دئ چې الله تعالی او د هغه رسول؛ مؤمنان پرې ګمارلي.

له دې او تر دې وروسته آيتونو معلومېږي چې د امر بالمعرف او نهی عن المنکر په مهمي وجيبې کې اهمال او غفلت؛ په اختلاف منتج کېږي، که مسلمانانو دا دنده تر سره نه کړه، د ظالم لاس ئې ونه نيولو، د فساد مقابله ئې ونکړه، د بدکارانو او مفسدينو مخنيوی ئې ونه کړ، د نېکانو او صالحينو په څنګ کې ونه درېدل، د حق پالونکو ملګرتيا ئې ونکړه، ښېګڼو ته د ودې ورکولو په لار کې ئې خپل وخت او وس ونه لګاوو؛ د خلکو تر منځ وحدت او يووالی به له منځه ځي، ټولنه به متفرق کېږي، په خلکو کې به شديد اختلافات راولاړېږي او د الله عذاب به پر ټولو راپرېوځي؛ او د قيامت په ورځ خو به حالت داسي وي چې ځيني مخونه به سپين وي او ځيني تور؛ تور مخي به هغه وي چې يا په خپله په ګناه ککړ وو او يا ئې د دغو ککړو ملګرتيا کړې وه؛ د دوی له ګناه ئې کرکه نه درلوده او مخنيوی ئې نه کاوو، دوی ته به ويل کېږي: آيا له خپل ايمان وروسته کافر شوئ؟ نو دا عذاب د دې لپاره وڅکئ چي کافر کېدئ.

په آيت کې له (منکم امة) ټول امت مراد دئ نه په امت کې يوه برخه او يوه خاصه ډله؛ دا د امت د فرد فرد وظيفه ده. په وروستي آيت کې هم خطاب ټولو ته متوجه دئ او په۱۱۰ آيت کې هم ويل شوي چي تاسو ټول غوره امت ياست، چي په معروف امر کوئ او له منکر مخنيوی کوئ. له دې دواړو هم معلومېږي چي له (ولتکن منکم امة) مراد ټول امت دئ. په دې اړه د احاديثو له سختو تأکيداتو هم دغه خبره معلومېږي:

وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه

وسلم: "مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ؛ وفي رواية " وَلَيْسَ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ الْإِيمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ ".

له أَبو سَعِيد خُدْرِيّ رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له تاسو چي چا كوم منكر وليد نو په خپل لاس دې بدل كړي، كه نه توانېدو نو په خپلي ژبي سره او كه نه توانېدو نو په خپل زړه سره او دا تر ټولو ضعيف ايمان دئ. او په بل روايت كي دا هم راغلي چي له دې آخوا د مشنگ د دانې په اندازه ايمان هم نه شته.

وَعَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رضى اللَّه عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى اللَّهُ عليه وسلم: " وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ، لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ الْمُنْكَرِ، أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ، ثُمَّ تَدْعُونَهُ فلَا يَسْتَجِيبُ لَكُمْ " رواه الترمذى وابن ماجه

له حذيفة بن اليمان روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په هغه ذات قسم چي زما ژوند ئې په واك كي دئ؛ يا به هرو مرو په معروف امر كوئ او له منكر به مخنيوى كوئ او يا به الله تعالى له خپل لوري داسي عذاب دربandي راولېږي چي بيا به دعاء ورته كوئ خو هغه به ئې نه قبلوي.

په دې آيت كي د بني اسرائيلو په اړه ويل شوي:

فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنْجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ الأعراف

خو كله چي دوى هغه څه هېر كړل چي پند پرې وركېدو؛ هغه مو وژغورل چي له بدو كړنو ئې مخنيوى كاوو او ظالمان مو د دې لپاره په بد عذاب اخته كړل چي فسق ئې كاوو.

یعني د دوی ځینو به نورو ته نصیحت کاوو او له گناه ئې منع کول، ځینو نورو به نه یوازي د دوی ممانعت نه کولو بلکې نصیحت کوونکي به ئې ترټل چي ولي خپل وخت ضائع کوئ؟ د څه لپاره ځان له دوی سره په لانجه کې غورځوئ؟ پرېږدئ چي الله تعالی په خپله سزا ورکړي؛ یا ئې هلاك کړي یا عذاب پرې راولېږي؛ کار ئې دې ځای ته ورسېدو چي د ټولني اکثریت دین ته شا کړه؛ الله تعالی هغه خلك وژغورل چي له بدو کړنو ئې مخنیوی کاوو او ظالمان ئې د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چي فسق ئې کاوو.

څوك چي وایي په اسلام کې احزاب نه شته؛ هغوی اصلاً نه له اسلام خبر دي او نه د حزب په معنی پوهېږي!! مسلمانان په خپله یو حزب دي او الله تعالی په قرآن کې د حزب الله په نامه یاد کړي؛ د مسلمانانو هر حق مذهب یو حزب دئ او امام ئې د دې حزب مشر او قائد؛ که څوك د مذهبونو تعدد جائز گڼي؛ په حقیقت کې هغه د حزبونو تعدد جائز گڼي؛ ځیني د ناپوهي او غرض او مرض له کبله داسي وي چي جائز کار ته به ناجائز وایي او ناجائز ته جائز؛ او ځیني بیا د قرآن د دې وینا مصداق دي: (... يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا ....٣٧) التوبة: یو کال ئې حلال گڼي او بل کال ئې تحریموي...؛ پرون ئې له گڼ شمېر گوندونو سره بیعتونه کړي؛ او دا کار ئې په څلورو مذهبونو جائز گڼلو؛ خو نن خپل پرونی کار حرام گڼي او هغو حزبونو ته پوچي ښکنځلي کوي چي دی ئې مأمور وو!!

خو حقیقت دا دئ: د عمر رضي الله عنه له لوري چي کوم شپږ معروف او منلي شخصیتونه د إمارت لپاره نومول شوي وو؛ هر یوه ئې په مسلمانانو کې داسي حامیان او پلویان درلودل چي دی ئې د إمارت لپاره وړ او اهل گڼلو؛ دوی یوازي وړ شخصیتونه نه وو؛ بلکې هر یو ئې د یوه حزب او ډلي مشر او زعیم وو؛ د دوی توافق په اصل کې د ټولو مسلمانانو توافق گڼل کېدو؛ له شپږو درې تنه د دریو په نفع تېر شول؛

دربیم په دې شرط تېر شو چې ده ته به دا واك ورکوي چې د مدینې له خلکو وپوښتي چې له دغو دوو تنو څوك د إمارت لپاره اهل ګڼي؛ عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته دا اختيار ورکړی شو چې د عثمان او علي رضي الله عنهما په اړه د مدینې د موجود خلکو رأيه معلومه کړي؛ دا دواړه هم د إمارت لپاره اهل او وړ شخصيتونه وو؛ او هم ئې پلويان تر نورو زيات وو؛ ابن عوف؛ درې شپې ورځې له خلکو پوښتني وکړي؛ بيا ئې په جومات کې؛ د ټولو خلکو په وړاندې وويل: ما خپل ټول وس کارولی؛ خوب مي نه دئ کړی مگر ډېر لږ؛ له مقيم او مسافر، له نارينه او ښځې مي پوښتني کړې؛ اکثريت مي داسي وموندل چې د عثمان رضي الله عنه په إمارت راضي دي؛ حاضرينو؛ د علي رضي الله عنه په شمول موافقه کړې؛ له عثمان رضي الله عنه سره بيعت تر سره شوی او له دې بيعت وروسته هغه د مسلمانانو امير شوی. په حقيقت کې دا د شپږو حزبونو تر منځ انتخابات وو؛ چې په پای کې ئې شمېر دوو ته راکوز شوی؛ او د دوی تر منځ عامه استفتاء (رأی معلومونه يعني انتخابات) شوي او هغه څوك د امير په توګه غوره شوی چې د مسلمانانو اکثريت د هغه په إمارت رضايت څرګند کړی او دجومات په علني او عامي غونډې کې له هغه سره بيعت شوی؛ او همدغه بيعت د هغه إمارت ته مشروعيت بخښلی؛ بيعت تر إمارت وړاندې وي؛ نه وروسته؛ د مسلمانانو امير هغه وي چې مسلمانان په خپله خوښه ورسره بيعت وکړي او دا شرط هم وضع کړي: په هغه صورت کې ستا اطاعت کوو چې ته د الله تعالی او رسول الله اطاعت کوې. هغه شپږ شخصيتونه دا وو: عثمان بن عفان، علي بن أبي طالب، طلحة بن عبيد الله، زبير بن العوام، سعد بن أبي وقاص، عبد الرحمن بن عوف؛ رضي الله عنهم؛ دوی ټول په عشره مبشره کې شامل وو؛ چې پاته څلور ئې دا وو: أبو بكر الصديق، عمر بن الخطاب، أبو عبيده بن الجراح او سعيد بن زيد رضي الله عنهم. باور مي دا دئ چې که أبو عبيده بن الجراح ژوندی وی نو عمر رضي

الله عنه به دی هم حتماً پر نوموړو شپږو اضافه کړی وو؛ دیٔ د عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کي له خپل لښکر سره د أردن په سیمي کي وو؛ هلته طاعون خور شوی وو؛ په همدې دوران کي او د طاعون له کبله وفات او هملته دفن شو. عمر رضي الله عنه خپل زوی هم په دغي ډلي کي په دې شرط شامل کړی وو چي دی د امیر کېدو حق نه لري؛ د عمر له کورنۍ همدا زه کافي وم؛ خو د ده په شاملولو کي لوی حکمت او مصلحت مضمر وو؛ په دې سره د عمر رضي الله عنه خاص پلویانو او حامیانو ته دا پیغام لېږل شوی چي د دې اوه کسیزي مجموعې پرېکړي ته به درناوی لري؛ ځکه چي د دوی استازی هم په تصمیم کي شریك دیٔ.

د حزبونو او د إمارت د مشروعیت په اړه د قرآن او حدیث لارښوونه او د صحابه وو منهج همدا دیٔ؛ ځوك چي له دې پرته بل څه وایي او بل تعبیر او تأویل لري؛ ادعاء ئې بې بنسټه ده؛ نه د شریعت په تله برابره ده او نه د عقل په تله.

د احزابو نشتون؛ یعني د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دندي کي د مسلمانانو اهمال او غفلت او خپله وجیبه نه اداء کول؛ دا له یوې خوا په دیکتاتوري او استبداد منتج کېږي؛ د حکومت او حکامو د مهارولو او محاسبې ته چمتو کولو امکانات له منځه ځي؛ له بلي خوا کودتاګانو او وسله وال پاڅون ته لار آواروي؛ تاریخ شهادت ورکوي؛ کله چي امارتونه اموي او عباسي شول؛ قبیلوي رنګ ئې غوره کړ؛ د امیر انتخاب له جوماتونو قصرونو ته انتقال شو؛ ځای ناستي ټاکل او د هغوی لپاره په زور بیعتونه تر لاسه کول رائج شو؛ په همدې سره د خونړیو جګړو لړۍ پیل شوه؛ د افغانستان نژدې او د تېرې یوې پېړۍ پېښي ئې ځرګند ثبوت دیٔ؛ د ظاهر خان خلاف د سردار داؤد کودتا؛ د ده خلاف د ده د کمونستو ملګرو کودتا، د ترکي خلاف د ده د شاګرد امین کودتا، د امین خلاف د ببرك هغه کودتا چي روسي قطعاتو تر سره کړه او امین

ئې په قصر کې لومړی مسموم کړ او بیا ئې ووژلو؛ د ببرك خلاف د ده د شاګرد؛ نجیب کودتا، ببرك روسي افسرانو؛ د تورو شیشو موټر کې له ارګ وایستلو؛ کابینه او مرکزي کمیټه خبره نه وه چې څه پرې شوي او ولې لادرك دئ؛ نجیب ئې ځای ناستی شو، د نجیب خلاف د تڼي او بیا د دوستم او نبي عظیمي کودتا؛ د رباني ترور د هغه چا په لاس چې د حزب اسلامي خلاف ئې ائتلافي ملګري وو؛ په دې موده کې څومره جنازې له قصرونو ووتلې؟! او تر دې وړاندې څومره وتلې دي؟ نادر خان وژل شوی؛ شهزاده امان خپل پلار وژلی؛ د احمد شاه بابا زامنو او لمسیانو یو بل وژلي؛ یوه د انګریزانو په زور او بل د روسانو په زور، یو د پېښور له لاري راغلی او بل د بخارا له لاري.... دا د استبداد او مطلق العنان رژیمونو محتومه پایله ده؛ د مخنیوی چاره ئې یوازې دا ده چې د حکامو او واکمنو د مهارولو لپاره لازم تدابیر ونیول شي؛ د ملت په خوښه راشي او ولاړ شي؛ هم ئې تګ راتګ د قانون مطابق وي او هم ئې صلاحیتونه او مسئولیتونه د قانون له مخې ټاکل شوي وي؛ د ملت په وړاندې مسئول وي؛ قانون ته تمکین ولري او د ملت ممثله شوری د تصمیم وروستۍ مرجع ومني؛ په تعویض کې ئې نه وسله وکارول شي؛ نه وینه توی شي او نه کودتاګانی تر سره شي.

دا هم باید ووایو چې د حزبونو تر څنګ؛ صنفي اتحادیې؛ لکه د دهقانانو، ډاکټرانو، انجنیرانو، کسبه کارانو .... اتحادیې؛ نه یوازې جائز او مشروع دي؛ بلکې له خپلو حقوقو د دفاع لپاره ضروري او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت سره موافق کار دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه مهال چې د مسلمانانو شمېر زیات شو او له ټولو سره مخامخ مشوره؛ ګرانه شوه؛ نو بېلو بېلو قبیلو ته ئې وویل: ما ته خپل عُرَفاء معرفي کړئ؛ (عرفاء هغه استازي وو چې د خپل قوم له غوښتنو او رأی واقف ول او په مشورو کې به ئې د هغوی استازیتوب کولو). بدریان هم په مهمو مسائلو کې د رسول الله صلی الله علیه و

سلم د شورى غړي وو او هم د څلورو خلفاءو؛ هر فکري تحریك بدریان لري؛ چي تحریك د هغوی د اخلاص او قربانیو په نتیجه کي پیل کیږي او بریا ته رسیږي؛ دوی باید په ټولو پریکړو کي شریك وي؛ دا هم د دین تقاضى ده او هم د عقل او عدل؛ هیڅ عقلي او عدلي منطق دا نه مني چي د آزادۍ په سخت او اوږده جنگ کي دي سنگرونه د مؤمنو او مخلصو مجاهدینو په وینو سره وي؛ خو له آزادۍ وروسته دي؛ هغه څوك د اقتدار پر گدۍ کښېني چي نه ئې یوه شېبه په سنگر کي تېره کړې؛ نه ئې یو څاڅکی خوله او وینه د الله په لار کي توی شوی!! رسول الله صلى الله علیه و سلم او راشدینو خلفاءو په همدې دلیل بدریان نازول او په ټولو تصامیمو کي ئې شریکول؛ خو که به موضوع ډېره عامه او په ټولو مسلمانانو پوري تړلې وه؛ لکه جنگ او صلح؛ له ټولو سره به ئې په عامه غونډې کي مشوره کوله؛ د بدر؛ احد او خندق په جنگونو کي ئې همداسي وکړل؛ د احد په جنگ کي له خپلي رأى تېر شو او د هغو ځوانانو رأى ئې ومنله چي غوښتل ئې له مدینې بهر د قریشو مقابله وکړي. او د دې سنت معنى او تقاضى دا ده چي د اسلامي ټولني ټولې چاري به په مشوره وي؛ همغسي چي قرآن فرمایي (وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ: او امور ئې په خپلو منځونو کي په مشوره وي)؛ په مهمو او ټولو هغو مسائلو کي چي په ملت پوري مربوط وي؛ داسي شورى به وروستۍ پریکړه کوي چي په واقعي معنى د ملت ممثله شورى وي؛ همدا به د تصمیم وروستۍ او نهائي مرجع وي؛ د امیر په شمول؛ فرد فرد به ئې پریکړو ته التزام او تمکین لري.

عجیبه ده چي څوك دا ټول حقائق او واقعیتونه له پامه غورځوي؛ د استبداد، شاهي رژیمونو، کودتایي حکومتونو، بهرني اشغال، د شوروي او ناټو یرغلونو پېره پر سیاسي او حتى جهادي احزابو اچوي!! کاش دوی بې دینه پردیپال گوندونه؛ هغه چي په بهر کي او د پردیو په لاس جوړ شوي؛ هغه چي له ناټو سره یو ځای راغلل او یو ځای ووتل؛ محکوملی؛

متأسفانه دوی خپلي تېرې او سپېرې او په ګنده الفاظو لړلې ژبې؛ د هغو خلاف کاروي چي په دواړو سپېڅلو جهادونو کي مخکښ ول؛ چا چي وروسته د ناټو خلاف جهاد ته ملا تړلې؛ یا په خپله د مخکښو مؤمنو مجاهدینو ملګری وو او یا ئې پلار او مشر ورور د هغوی همسنګر؛ مګر کوم شریف او عاقل انسان به له دې حقیقت انکار کوي؛ چي که د جوانان مسلمان ټولی نه وی رامنځته شوی؛ نه به د کمونیزم او شوروی خلاف جهاد شوی وو او نه د ناټو خلاف؛ جهاد له جماعت او حزب پرته؛ نه ممکن دئ او نه په تاریخ کي بېلګه او مثال لري؛ که حزب اسلامي د شوروي خلاف جهاد کي مخکښ او د مجاهدینو د ملا تیر وو؛ او د ناټو خلاف جهاد هم د همدې حزب مؤمنو مجاهدینو پیل کړ؛ که دوی حزب نه درلودی؛ دا سعادت ئې نه شو په برخه کېدی؛ که طالبان په یوه ګوند کي نه وي راغونډ شوي؛ نو په پېښو کي به ئې هیڅ ونډه نه وه؛ امریکایان په دوحه کي له یوه حزب او ګوند سره مذاکرات او بیا یوه معاهده لاسلیك کړې؛ نه له اشخاصو او افرادو سره؛ څوك چي له دغو څرګندو حقائقو انکار کوي؛ او د جهادي ګوندونو خلاف؛ بلا استثناء؛ او د سیکولرانو او کمونستانو په څېر ناروا او د شرافت او انسانیت ضد تبلیغات کوي؛ څومره دوکه شوي؟!

آیا په یاد مو دي چي د حزب اسلامي پر مجاهدینو څومره سختي ورځي راغلې؛ د نهضت له پیل بیا تر ننه؛ په دې نیمه پېړۍ اوږدې مبارزې کي؛ د مفسدو حکومتونو او دوو سترو یرغلګرو ځواکونو؛ له لوري؛ د دې حزب په لسګونو زره غړي یا شهیدان شوي؛ یا زنداني شوي، د ګوانتانامو تر جهنمي زندان پوري انتقال شوي؛ وروستی زنداني چي له ګوانتانامو آزاد شوی؛ د حزب اسلامي مجاهد وو؛ د حزب اسلامي او د مشرانو نومونه ئې اوس هم د امریکا په تور لیست کي دي؛ زما د کورنۍ شپږ غړي؛ د امریکایي اشغال په دوران کي د ډرون په هدفي بریدونو کي وژل شوي؛ د ډرون لومړی برید پر ما شوی؛ پلار او دوه

ورونه مي د جلاد داؤد په وخت کې نيول شوي او د کمونستانو په لاس شهيدان شوي؛ همدا د حزب اسلامي د ډېرو غړو حال دئ؛ چې له ما سره داسي شوي له نورو حزبيانو سره به څه او څومره ظلمونه شوي وي؛ د نورو گوندونو مشران او خپلوان ئې؛ له خطرونو او تلفاتو؛ تر ډېره خوندي پاته وي؛ خو الحمد لله د حزب اسلامي مجاهدين له دې ټولو سختو ورځو او سختو آزموينو بريالي او سرلوړي وتلي؛ د حزب اسلامي هر دښمن له ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوی؛ څوك د خپلو دوستانو او ملگرو په لاس وژل شوي او څوك د خپلو بهرنيو بادارانو په لاس؛ چا چې د قدرت پر گدۍ کښېنولي وو؛ همغو پر مخ څپېړه ورکړې، يوازي ئې پرېښی او په ټيټ سر له ارگ د وتلو او تېښتي ټماشا ئې کړې. إن شاء الله له دې وروسته به هم همداسي کېږي.

طالبان مو هم وليدل چې له همداسي سختو آزموينو سره مخامخ شول؛ لومړی ځل په ٦ د ميزان ١٣٧٥ کابل ته ننوتل؛ له همدې ورځې بيا تر هغي ورځي؛ له پراخ او خونړي جنگ سره مخامخ وو؛ چې ناټو او په سر کې ئې امريکا پر افغانستان بريد وکړ؛ دا بريد د ١٣٨٠ کال د ميزان په ١٥ پيل شو؛ او طالبان څه باندي يوه مياشت وروسته؛ د عقرب په ٢٠ د کندهار پرېښودو ته اړ شول؛ څوك چې پاکستان ته ولاړل؛ د پرويز مشرف حکومت د دوی په سلگونو مشران ونيول او امريکا ته ئې وسپارل؛ او څوك چې ايران ته ولاړل؛ د خاتمي حکومت دې ته ورته معامله ورسره وکړه؛ له موږ سره هم؛ په دواړو هېوادو که دې ته ورته چلن شوی؛ د خاتمي حکومت له امريکا سره ژمنه کړې وه چې ما به ورسپاري؛ د پرويز مشرف حکومت؛ زما د محافظينو مسئول؛ او زما د زوم په شمول؛ د حزب غړي ونيول؛ او امريکا ته ئې وسپارل؛ زه له ايران په داسي حال کي وتلی يم چې امريکايان زما د نيولو لپاره؛ د ايران سرحد ته څېرمه؛ په هغه ځای کې منتظر وو چې ايرانيانو به زه هملته رسوم؛ د امريکا مهم او معروف ديپلومات او سفير؛ رايان کراکر؛ له افغانستان

انټرنیشنل سره په خپلې مرکې کې په همدې توطئې اعتراف وکړ. موږ په ټولې نړۍ کې له الله تعالی پرته نه هیڅ حامي درلود او نه هیڅ پناه ځی؛ زه د امریکایي اشغال په دوران کې چې تر شدید تعقیب لاندې وم؛ له پاسه سپوږمکۍ او ډرون ګرځېدل او لاندې امریکایي کوماندو؛ ٤٥ ځله اړ شوی یم چې د اوسېدو ځای بدل کړم؛ خو په همدغه سخت حالت کې چې الله تعالی ما ته د څه کولو توفیق او سعادت راپه برخه کړی؛ که دا فکري او فرهنګي مبارزه وه او که نظامي مبارزه؛ د خپل مهربان رب له پېرزوینو دومره ممنون یم؛ چې د شکر له اداء کولو ئې ځان عاجز ګڼم؛ الحمد لله دا ټولې آزموینې او سختې ورځې تېرې شوې؛ او زموږ ستر ستر آرمانونه تر سره شول؛ همدا اوس زه نه یوازې له خپل رحمان رب راضي یم بلکې داسې انګېرم چې خپلو ټولو سترو سترو آرمانونو ته رسېدلی یم؛ او پاته ته ئې له ډاډ سره منتظر.

## ٥ باب: کوم ډول هدیه نه مستردېږي؟

١١٥٩ ـ عن أَنَس رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لا يَرُدُّ الطِّيبَ.(بخاری: ٢٥٨٢)

١١٥٩ - له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به (د سوغات په توګه ورکړل شوي) عطر نه مستردول.

دا روایت په بخاري کې ٢ ځلې په دغو شمېرو راغلی؛ ٢٥٨٢ - ٥٩٢٩؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: أَبُو مَعْمَر، عَبْدُ الوَارِث، عَزْرَة بْن ثَابِت الأَنْصَارِي، ثُمَامَة بْن عَبْدِ اللَّه او أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ پر بخاري علاوه؛ دغو کتابونو کې هم له همدې سند او متن سره راغلی: ترمذي، مسند احمد او شعب الإیمان.

له ځینو سره به دا اندېښنه راولاړېږي چې د بخاري اکثر روایات غریب دي؛ نو له غریب روایت سره به څه کوو؟ ځواب دا دئ: همغه څه به کوو چې درنو محدثینو او فقهاءو کړي؛ دوی موږ ته ستونزه حل

کړې؛ دا ئې راښودلي چې د راويانو د شمېر له پلوه کوم روايات غريب، عزيز، مشهور او متواتر دي؛ او د راويانو د حالت له پلوه کوم روايات ضعيف، حسن او صحيح دي؛ هغه روايات ئې د منلو وړ گڼلي چې نه ئې په سند کې ستونزه وي او نه په متن کې؛ متن ئې د قرآن په رڼا کې څېړلی؛ هغه ئې منلی چې له قرآن سره مطابقت لري؛ او هغه چې په قرآن کې ئې کوم شاهد نه دئ ورته موندلی؛ نه د مطابقت دليل او نه د مخالفت نښه؛ له نورو صحيح رواياتو سره ئې مقايسه کړی؛ او که په دې هم نه دي موفق شوي؛ د عقل په تله ئې تللی؛ او د صحت او عدم صحت په اړه ئې پرېکړه کړې؛ همدا د حديث او فقه د ائمه وو اسلوب وو او همدا بايد د هر مؤمن اسلوب وي. رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د يوې خبرې په منسوبولو کې بايد ډېر محتاط وو؛ يو له هغو رواياتو چې ويل کېږي په صحابه وو کې نژدې اويا راويان لري؛ هغه دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: څوك چې ما ته داسې څه منسوب کړي چې ما نه وي ويلي خپل ځای دې په دوزخ کې ولټوي. نو د هر روايت؛ مخصوصاً د غريب روايت په منلو او بل ته په ويلو کې بايد کافي احتياط وکړو؛ او يوازې په هغه صورت کې ئې ومنو چې له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل او علم خلاف خبره په کې نه وي.

## ٦ باب: د سوغات بدله

١١٦٠ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا. (بخاری: ٢٥٨٥)

١١٦٠ - له عائشه رضي الله عنها روايت دي چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به هديه قبلوله او ترې زياته به ئې په بدل کې ورکوله.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عِيسَى بْن يُونُس، هِشَام، پلار ئې عروه او عَائِشَة

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ په سنن ابي داؤد، سنن ترمذي او مسند احمد کې هم راغلی؛ متن او په څلورو طبقو کې راویان ئې سره ورته دي.

دا نه یوازي د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ؛ بلکې حکامو ته د وړیا هدیو اخستل حرام دي؛ زموږ ځیني درانه ائمه؛ د اموي، عباسي او نورو مفسدو او ظالمو حکامو له لوري؛ له دې کبله زنداني شوي او تعذیب شوي چې ویل ئې: امراءو ته د تحفو او هدیو اخستل جائز نه دي؛ دا هدیې باید بیت المال ته وسپارل شي.

په دې روایت کې د جائز هدیې څرنګوالی راښودل شوی؛ هدیه هغه ډالۍ ده چې اصولاً به ئې بدله ورکول کېږي؛ تر ورکول شوې هدیې زیاته ښه بدله؛ یا لږ تر لږه هغې ته ورته؛ دا بې بدلې سوغات نه ده؛ دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم شخصي او ذاتي اخلاق نه بلکې د قرآن واضح لارښوونه ده چې هر مسلمان پرې مکلف دئ؛ قرآن فرمایي:

وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ النساء

او که کله په کوم ښه سلام او درود؛ پر تاسو سلام او درود وویل شو نو یا تر دې غوره ئې ووایئ او یا همغه وروګرځوئ؛ بې شکه چې الله په هر څه ښه حساب کوونکی دئ.

یعني د سلام، ښه راغلاست او ژوندی دي وې؛ ځواب به یا تر دې په غوره کلماتو ورکوئ او یا به همدغه کلمات په ځواب کې وایئ؛ په دې پوه شئ چې الله تعالی حسیب دئ؛ له بنده سره په هر څه کې حساب کوي. هدیه، تحفه او ډالۍ باید په همدې قیاس شي.

## ۷ باب: د هدیې شاهد

۱۱۶۱ ـ عَنْ النُّعْمَان بْنَ بَشِيرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْه قال: أَعْطَانِي أَبِي عَطِيَّةً، فَقَالَتْ عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ: لا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي أَعْطَيْتُ ابْنِي مِنْ عَمْرَةَ بِنْتِ رَوَاحَةَ عَطِيَّةً، فَأَمَرَتْنِي أَنْ أُشْهِدَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «أَعْطَيْتَ سَائِرَ وَلَدِكَ مِثْلَ هَذَا»؟ قَالَ: لا قَالَ: «فَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلادِكُمْ» قَالَ: فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِيَّتَهُ. (بخاری: ٢٥٨٧)

١١٦١ - له نُعْمَان بن بشير رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: پلار مي يوه هِبه يا ډالۍ راکړه؛ مور مي عَمْرَه بنت رواحه وويل: تر هغه نه پرې راضي کېږم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې شاهد ونه گرځوې؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغی او وئې ويل: يا رسول الله! ما مي زوی ته چي مور ئې عَمْرَه بنت رواحه ده؛ څه عطيه ورکړه؛ مور ئې راته وويل: چي تا پرې شاهد ونيسم؛ وئې فرمايل ((آيا نورو اولادونو ته دي هم داسي څه ورکړي؟ هغه وويل: نه؛ وئې فرمايل: ((له الله تعالی ووېرېږئ او د اولادونو تر منځ عدل کوئ))؛ نعمان وايي: پلار مي راستون شو او خپله عطيه ئې بېرته واخستله.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: حَامِد بْن عُمَر، أَبُو عَوَانَة، حُصَيْن، عَامِر او نُعْمَان بْن بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري پرته يوازي په مُصَنَّف ابن ابي شيبه کي راغلی چي په دريو طبقو کي ئې راويان د بخاري له روايت سره ورته دي.

دلته څو وضاحتونه ضروري برېښي: ١- په روايت کي دا نه دي ويل شوي چي نعمان بن بشير ته د خپل پلار له لوري څه ورکړل شوي؛ په نورو رواياتو کي ويل شوي چي يو غلام ورکړی شوی وو. ٢- د شاهد نيول يوازي په دغسي مواردو کي ضروري دي نه د هري تحفې په ارتباط. ٣- د غريب روايت په اړه بايد زموږ تعامل همداسي وي.

## ٨ باب: مېرمني ته د خاوند او خاوند ته د مېرمني سوغات

١١٦٢ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَقِيءُ ثُمَّ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ». (بخارى: ٢٥٨٩)

١١٦٢ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((خپل سوغات بېرته اخستونکی د هغه سپي په څېر دئ چي خپل قي بېرته خوري)).

دا روايت په بخاري كي ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۸۸- ۲۵۸۹ - ۲۶۲۱ - ۳۰۰۳ - ۶۹۷۵ - غريب دئ؛ په صحابه وو كي يو راوي لري چي ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما دئ. په صحيح مسلم، مسند احمد، سنن ابن ماجه، سنن ابي داؤد، سنن ترمذي، مسند البزار كي هم راغلی.

خو روايت له باب سره هيڅ مناسبت نه لري؛ باب داسي دئ: مېرمني ته د خاوند او خاوند ته د مېرمني سوغات؛ په روايت كي دا نه شته.

دا هم بايد وګورو چي آيا د دې روايت لپاره په قرآن كي كوم شاهد او منشأ مومو؛ هو؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا﴿٢٠﴾ النساء

او كه مو يوه مېرمن په بلي مېرمني بدلول وغوښتل او د دوی كومي يوې ته مو ډېر مال سپارلی وي؛ نو هيڅ څه ترې بېرته مه اخلئ؛ آيا په بهتان او ښرګندي ګناه سره ئې بېرته اخلئ؟!

د دې آيت لارښووني دا دي: كه ښځه صالحه وي؛ داسي څه ئې نه وي كړي چي د پرېښودو او طلاق وړ وي؛ خو مېړه ئې د خپل شوق پوره كولو لپاره غواړي دې ته طلاق وركړي او پر ځای ئې بله ښځه وكړي؛ نو په دې صورت كي د مهر د بېرته اخيستو حق نه لري. اخيستل ئې ښرګنده ګناه ده. مبادا د مهر او نورو وركړو شيانو د بېرته اخيستو لپاره

خپله مېرمن په گناه او غلطۍ متهمه کړئ، د طلاق لپاره کوم ناروا مجوز برابر کړئ او د مهر بېرته اخیستل ځان ته جائز کړئ.

دلته هم گورئ چي موږ د دې غریب روایت په اړه دوه کارونه وکړل: د قرآن په تله مو وتللو او له بخاري علاوه په نورو کتابونو کي مو ولټولو؛ او نتیجه ئې دا چي همدا غریب روایت د منلو وړ دئ.

## ٩ باب: که ښځه غلام آزاد کړي

١١٦٣ ـ عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتَ الْحَارِثِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً وَلَمْ تَسْتَأْذِنِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُهَا الَّذِى يَدُورُ عَلَيْهَا فِيهِ، قَالَتْ: أَشَعَرْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنِّى أَعْتَقْتُ وَلِيدَتِى، قَالَ: «أَوَفَعَلْتِ؟» قَالَتْ: نَعَمْ. قَالَ: «أَمَا إِنَّكِ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لأَجْرِكِ».

١١٦٣ – له ام المؤمنین میمونة بنت حارث رضي الله عنها روایت دئ چي د نبي صلی الله علیه و سلم له اجازې پرته مي یوه وینځه آزاده کړه؛ او بیا په هغه ورځ چي د دې کره ورغلی؛ وئې ویل:: یا رسول الله! آیا خبر شوې چي ما خپله وینځه آزاده کړه؟ وئې فرمایل: ((آیا همداسي دي وکړل؟)) وئې ویل: هو؛ وئې فرمایل: ((که دي هغه خپلو ماما خېلو ته ورکړې وی؛ نو تر دې به دي اجر او ثواب ستر وو)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٦ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ، لَيْث، يَزِيدَ، بُكَيْر، كُرَيْب او مَيْمُونَة رضي الله عنها.

په سنن الکبری للنسائي کي هم راغلی؛ خو هم ئې له میمونه رضي الله عنها وروسته راویان توپیر لري او هم متن؛ په متن کي ئې ویل شوي: أَنَّهَا سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَادِمًا فَأَعْطَاهَا خَادِمًا فَأَعْتَقَتْهَا، فَقَالَ: «مَا فَعَلْتِ الْخَادِمِ؟» قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ أَعْتَقْتُهَا: میمونې یوه خادمه له رسول الله صلی الله علیه و سلم وغوښتله؛ ورئې کړه؛ او هغې

آزاده کړه؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې وپوښتل: له خادمي سره دي څه وکړل؛ وئې ويل: يا رسول الله! آزاده مي کړه.

په صحيح ابن خزيمه کې ئې سند د نسائي سند ته ورته دئ؛ او دا ئې هم ويلي چې روايت غريب دئ.

دا پوښتنه هم راولاړېږي چې آيا د مريې تر آزادولو؛ خپلوانو ته ئې ورکول ډېر ثواب او اجر لري؟ په دې کې شك نه شته چې د آزادولو ثواب زيات دئ؛ خو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د وينځې او د ميمونې رضي الله عنها د خپلوانو حالت ته په پام سره؛ دا استثنائي وينا کړې وي. يو غلام بايد هغه مهال آزاد شي چې آزاد ژوند ورته مقدور او مفيد وي؛ خاصتاً که هغه مېرمن وي. دا پوښتنه هم راولاړېږي چې آيا په قرآن کې د دغې موضوع لپاره کوم شاهد مومو؛ چې د غلام د آزادولو په وخت کې ئې بايد مراعات کړو؟ هو؛ په دې اړه څرگنده لارښوونه مومو: قرآن فرمايي:

... وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِى آتَاكُمْ ...﴿٣٣﴾ النور

... او ستاسو په لاس کې هغه (مريان او وينځې) چې د مکاتبت غوښتنه کوي نو مکاتبت ورسره وکړئ که کومه ښېگڼه په کې وگورئ، او د الله له هغه مال څه ورکړئ چې تاسو ته ئې درکړی....

دلته هم گورئ چې مونږ دا غريب روايت په نورو کتابونو کې هم لټولی؛ د ابهاماتو د رفع کولو هڅه مو کړې؛ د قرآن په رڼا کې مو څېړلی؛ د هغه لپاره مو څرگند او واضح شاهد موندلی او د همدې شاهد له مخې مو د روايت په اړه پرېکړه کړې.

١١٦٤ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ،

وَكَانَ يَقْسِمُ لِكُلِّ امْرَأَةٍ مِنْهُنَّ يَوْمَهَا وَلَيْلَتَهَا غَيْرَ أَنَّ سَوْدَةَ بِنْتَ زَمْعَةَ وَهَبَتْ يَوْمَهَا وَلَيْلَتَهَا لِعَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبْتَغِي بِذَلِكَ رِضَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

١١٦٤ - له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چي کله به ئې د سفر اراده وکړه؛ نو د خپلو مېرمنو تر منځ به ئې پچه اچوله؛ د هري يوې په گټه چي به وختله؛ همغه به ئې په سفر ورسره بووله؛ او د دوی د هري مېرمني لپاره ئې یوه ورځ او شپه ئې؛ جلا کړې وه؛ له سوده بنت زمعه پرته؛ چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د خوشحالۍ لپاره ئې خپله ورځ او شپه ئې؛ عائشې رضي الله عنها ته بخښلې وه.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۹۳ - ۲۶۸۸ - غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: عَبْد اللَّهِ، يُونُس، زُّهْرِيِّ، عُرْوَة او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ په ځينو نورو کتابونو کي هم له همدې متن او سند سره راغلی.

## ۱۰ باب: غلام او متاع خنگه تر لاسه کېدی شي

١١٦٥ ـ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبِيَةً وَلَمْ يُعْطِ مَخْرَمَةَ مِنْهَا شَيْئًا، فَقَالَ مَخْرَمَةُ: يَا بُنَيِّ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ، فَقَالَ: ادْخُلْ فَادْعُهُ لِي، قَالَ: فَدَعَوْتُهُ لَهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ وَعَلَيْهِ قَبَاءٌ مِنْهَا، فَقَالَ: «خَبَأْنَا هَذَا لَكَ». قَالَ: فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ: «رَضِىَ مَخْرَمَةُ». (بخاری: ۲۵۹۹)

١١٦٥ - له مِسْوَر بن مَخْرَمه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم پر اصحابو (رضي الله عنهم) قباءگاني (چپني) ووېشلې، او له دې ئې مخرمه ته څه ورنه کړل؛ مخرمه وويل: زويه! ما

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وروله؛ ورسره روان شوم؛ وئې وويل: ورننوځه او ما ته ئې راوغواړه. نو ما ورته راوغوښت؛ نو په داسې حال کې ورته راووت چې له دغو ئې يوه قباء اغوستې وه؛ وئې فرمايل: ((دا مو ستا لپاره ساتلې وه)) راوي وايي: مخرمه! ورته وکتل او رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: ((مخرمه خوشحاله شو؟)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: قُتَيْبَة بْن سَعِيد، لَيْث، ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ او مِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راغلی.

نو دا روايت هم غريب دئ، هم شاذ دئ او له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راغلی او هم په قرآن کې هيڅ شاهد ورته نه مومو؛ نو نه ئې منل څه ثواب لري او نه ئې نه منل څه گناه؛ او نه ئې بل چا ته په ويلو کې څه گټه او نه ويلو کې څه تاوان.

## ١١ باب: داسې سوغات چې اغوستل ئې مکروه وي

١١٦٦ ـ ٢٦١٣ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتَ فَاطِمَةَ، فَلَمْ يَدْخُلْ عَلَيْهَا، وَجَاءَ عَلِيٌّ، فَذَكَرَتْ لَهُ ذَلِكَ، فَذَكَرَهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنِّي رَأَيْتُ عَلَى بَابِهَا سِتْرًا مَوْشِيًّا»، فَقَالَ: «مَا لِي وَلِلدُّنْيَا» فَأَتَاهَا عَلِيٌّ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهَا، فَقَالَتْ: لِيَأْمُرْنِي فِيهِ بِمَا شَاءَ، قَالَ: «تُرْسِلُ بِهِ إِلَى فُلاَنٍ، أَهْلِ بَيْتٍ بِهِمْ حَاجَةٌ» (بخارى: ٢٦١٣)

١١٦٦ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: يو ځل رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلې لور فاطمې رضي الله عنها کور ته ورغی؛ خو کور ته داخل نه شو؛ او کله چې علي رضي الله عنه راغی؛ دا خبره ئې ورته وکړه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې ياده کړه؛ وئې فرمايل: ((ما ئې د کور پر دروازه نقاشي شوې پرده وليده؛ زما ئې

له دنیایي ښکلاوو سره څه)) بیا علي ورغی او دا خبره ئې وکړه؛ هغې وویل: په دې اړه چي څه غواړي ما ته دي امر وکړي؛ وئې فرمایل: ((فلاني ته بر ته دې ولېږي؛ هغوی محتاج دي)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن جَعْفَر، ابْن فُضَيْل، پلار ئې، نَافِع او ابْنِ عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

په دې روایت کي کافي ابهامات او ستونزي دي؛ نه یوازي دا چي غریب او شاذ دئ؛ نه ئې راوي په هیڅ طبقه کي له ځان سره شاهد لري؛ نه له بخاري پرته په بل کتاب کي راغلی، نه دا وضاحت شوی چي په پرده باندي د څه نقش وو؛ ولي فاطمې رضي الله عنها ته جائز نه وو او بل چا ته جائز؟ لوستونکی په دې نه پوهېږي چي د دې مبهم روایت د راوړو ګټه او موخه څه ده؟

١١٦٧ ـ عَنْ عَلِيٍّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَهْدَى إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةَ سِيَرَاءَ، فَلَبِسْتُهَا فَرَأَيْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ فَشَقَقْتُهَا بَيْنَ نِسَائِي. (بخاری: ٢٦١٤)

١١٦٧ - له علي رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د وریښمیني جامې یوه داسي جوړه هدیه راکړه؛ چي ګاري په کي وې؛ نو ما واغوستله؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په مخ کي مي د غصې نښي ولیدې؛ نو هغه مي ټوټې ټوټې کړه او پر خپلو مېرمنو مي ووېشله.

دا روایت په بخاري کي ٧ ځلي په دغو شمېرو راغلی؛ ٨٨٦ - ٢٦١٢ - ٢٦١٤ - ٥٣٦٦ - ٥٨٤٠ - ٥٨٤١ - ٥٩٨١ ؛ درې ځلي د علي رضي الله عنه په ارتباط او څلور ځلي د عمر رضي الله عنه په ارتباط؛ د علي رضي الله عنه مربوط روایت غریب دئ؛ په ٤ طبقو کي یو یو راوي لري چي

دا دي: شُعْبَة، عَبْدُ المَلِكِ بْن مَيْسَرَة، زَيْد بْن وَهْب او عَلِيّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ د عمر رضي الله عنه مربوط روایت هم غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مَالِك، نَافِع او عَبْد اللَّهِ بْنِ عُمَرَ: رضي الله عنهما؛ د ځینو په سند کې د مالك پر ځای د جویریه نوم راغلی. د عمر رضي الله عنه په اړه راغلی روایت دا دئ:

٨٨٦ – عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ، رَأَى حُلَّةً سِيَرَاءَ عِنْدَ بَابِ المَسْجِدِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوِ اشْتَرَيْتَ هَذِهِ، فَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الجُمُعَةِ وَلِلْوَفْدِ إِذَا قَدِمُوا عَلَيْكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ فِي الآخِرَةِ» ثُمَّ جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا حُلَلٌ، فَأَعْطَى عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، مِنْهَا حُلَّةً، فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَسَوْتَنِيهَا وَقَدْ قُلْتَ فِي حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَا قُلْتَ؟ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنِّي لَمْ أَكْسُكَهَا لِتَلْبَسَهَا» فَكَسَاهَا عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَخًا لَهُ بِمَكَّةَ مُشْرِكًا.

له عبد الله بن عمر روایت دئ چې عمر بن الخطاب؛ د جومات په دروازه کې د وربښمیني جامې یوه داسي جوړه ولیده چې ګاري په کې وې؛ وئې ویل: یا رسول الله! کاش دا وپېرې؛ نو د جمعې ورځې یا وفدونو لپاره چې تا ته راځي واېي غوندې؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: دا هغه څوك اغوندي چې په آخرت کې به ئې هیڅ برخه نه وي؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته همداسي جامې راوړل شوې؛ عمر بن الخطاب ته ئې له هغوی یوه جوړه ورکړه؛ نو عمر وویل: یا رسول الله! دا راباندي اغوندې؛ په داسي حال کې چې د عُطَارد جامو په اړه دي هغه څه ویلي وو چې ودي ویل؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ما نه ده درکړې چې واېي غوندې؛ نو عمر رضي الله عنه په مکه کې خپل مشرك ورور ته ولېږله.

## ١٢ باب: د مشركينو سوغات قبلول

١١٦٨ ـ عَنْ عَبْدِالرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رضى الله عنهما قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاثِينَ وَمِائَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ مَعَ أَحَدٍ مِنْكُمْ طَعَامٌ»؟ فَإِذَا مَعَ رَجُلٍ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ؛ او نَحْوُهُ فَعُجِنَ ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ مُشْرِكٌ مُشْعَانٌّ طَوِيلٌ بِغَنَمٍ يَسُوقُهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَيْعًا أَمْ عَطِيَّةً؟» أَوْ قَالَ: «أَمْ هِبَةً» قَالَ: لا بَلْ بَيْعٌ، فَاشْتَرَى مِنْهُ شَاةً فَصُنِعَتْ، وَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَوَادِ الْبَطْنِ أَنْ يُشْوَى وَايْمُ اللَّهِ مَا فِي الثَّلاثِينَ وَالْمِائَةِ إِلَّا قَدْ حَزَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ حُزَّةً مِنْ سَوَادِ بَطْنِهَا، إِنْ كَانَ شَاهِدًا أَعْطَاهَا إِيَّاهُ وَإِنْ كَانَ غَائِبًا خَبَأَ لَهُ، فَجَعَلَ مِنْهَا قَصْعَتَيْنِ فَأَكَلُوا أَجْمَعُونَ وَشَبِعْنَا، فَفَضَلَتِ الْقَصْعَتَانِ فَحَمَلْنَاهُ عَلَى الْبَعِيرِ أَوْ كَمَا قَالَ. (بخارى: ٢٦١٨)

١١٦٨ – له عبدالرحمن بن ابي بكر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په يوه سفر کي موږ يوسل او ديرش تنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګري وو، نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((آيا له کوم يوه سره څه خواړه شته؟))؛ له يوه سړي سره نژدې يوه صاع اوړه وو چي خيشته شول؛ بيا يو لوړ؛ ببر سرى مشرک سړى له مېږو سره راغى چي پوولې ئې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((د پلورلو دي که د بخښلو؟؛ يا ئې وويل((هديه))؛ وئې ويل: نه؛ د پلورلو دي؛ نو يو پسه ئې ترې واخست؛ ذبح او تيار کړى شو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم امر وکړ چي زړه، ينه او څه چي په خيټه کي وي؛ کباب شي؛ قسم په الله چي له دغو يو سل دېرشو يو هم داسي نه وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دي له دې کباب؛ څه ټوټه غوښه نه وي ورکړې؛ که حاضر وو ورئې کړه او که غائب وو ورته وئې ساتله؛ بيا ئې غوښه

په دوو لويو كاسو كې واچوله؛ ټولو وخوړه او ماړه شوو؛ خو په كاسو كې لا غوښه پاته وه چې پر اوښانو مو را سره بار كړه؛ يا خو دې ته ورته څه ئې وويل.

دا روايت په بخاري كې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۲٦۱۸ - ۵۳۸۲ - غريب دئ؛ په ۵ طبقو كې يو يو راوي لري چې دا دي: أَبُو النُّعْمَانِ، الْمُعْتَمِر بْن سُلَيْمَان، پلار ئې سليمان، أَبو عُثْمَان او عَبْد الرَّحْمَن بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ يوازې په دريو معروفو كتابونو؛ بخاري، مسلم او مسند احمد كې راغلى. مراد ئې دا دئ چې الله تعالى په دې لړ خواړه كې دومره بركت واچولو چې ټول پرې ماړه شوو او لا يوه برخه پاته وه چې له ځان سره مو انتقال كړه.

روايت تر دې باب لاندې راغلى: د مشركينو سوغات قبلول؛ خو په روايت كې دا مطلب نه شته؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازې پوښتنه كړې چې ((د پلورلو دي كه د بخښلو؟؛ يا ئې وويل (هديه؟))؛ له دې وينا د مشرك د هديې قبلول نه معلومېږي.

د داسې بركت لپاره په قرآن كې څرگند شاهد لرو؛

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾ النحل

او الله د هغه كلي مثال بيان كړ چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځاى تازه او پرېمانه ورته راتو؛ خو دوى د الله د نعمتونو ناشكري وكړه؛ نو الله د لوږې او وېرې په جامو د پټېدو خوند وروڅاكو؛ د هغه څه په سبب چې دوى كول.

تاسو ته د خپلو سترگو ليدلى يو حالت هم وايم؛ د داؤد د واكمنۍ په ورځو كې له ځو مجاهدينو سره؛ له پېښور كنړ ته تللى وم؛ څو شپې مو د مرحوم مولوى صاحب صالح محمد سره وكړې؛ ټول توان ئې دومره

وو چې ماښامني او پېشلمي ته ئې يو دوه مشقابه سابه او وچه مړۍ او شړومبې برابرولې شو؛ موړ ښايي پنځه شپږ تنه وو؛ دا خواړه د يوه پهلوان لپاره هم کافي نه وو؛ خو موړ به پرې ماړه شوو؛ له ستنبدو وروسته مو خپلو منځونو کې پرې خبره کوله؛ ټولو ويل چې په پيل کې به حيران وو چې په دې لږ خواړه به څنگه گوزاره کوو؛ خو په پای کې به ماړه وو. نه پوهېږم له هغو ورونو اوس څوك ژوندی پاته دئ.

## ۱۳ باب: مشرک ته سوغات ورکول

۱۱٦۹ ـ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُ أُمِّي قَالَ: «نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ». (بخاری: ۲٦۲۰)

۱۱٦۹ - له اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه کې مې مور په داسې حال کې راته راغله چې مشرکه وه؛ له رسول الله صلی الله عليه و سلم مې فتوی او رأی وغوښتله او ومې ويل: هغه له رغبت سره راغلې؛ آيا د خپلوي اړيکې ورسره وپالم؟ وئې فرمايل: ((هو له خپلې مور سره د خپلوي اړيکې وپاله)).

دا روايت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲٦۲۰ - ۳۱۸۳ - غريب دئ؛ په ۳ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: هِشَام، پلار ئې عروه او أَسْمَاء بِنْتِ أَبِي بَكْر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ په ۳۱۸۳ روايت کې دا وضاحت هم شوی چې مور ئې قتيله له خپل پلار حارث سره په گډه او هغه مهال ورته راغلې چې له قريشو سره د حديبيې معاهده لاسليك شوې وه؛ که څه هم په روايت کې دا نه دي ويل شوي د (هي راغبة) معنی څه ده؛ په ځينو رواياتو کې د (راغمة او راهبة) صيغې هم راغلې؛

ځینو شارحینو ویلي چي مراد ئې له خپلي لور سره د میني څرګندولو رغبت دئ، ځینو ویلي چي له هدایاوو سره راغلې وه خو دا وېره ورسره وه چي ښایي اسماء به ئې کور ته پرېنږدي او ځینو ویلي چي مراد ئې له اسلام سره عدم رغبت او په خپل شرك کي پاته کېدا ده؛ نو ځکه اسماء رضي الله عنها له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتلي چي آیا سره له دې چي مور ئې مشرکه ده؛ له هغې سره خپلوي وپالم؟ په روایت کي د تحفې او هدیې یادونه نه ده شوې؛ نه د مور له لوري لور ته او نه د لور له لوري مور ته؛ خو تر دې باب لاندي راوړل شوی: مشرک ته سوغات ورکول!!

د دې روایت موضوع په (ولاء او براء) پوري تړلې یوه مهمه موضوع ده؛ قرآن موږ ته ویلي چي له چا سره به دوستي پالو او د چا له دوستي به ځان ساتو؛ د قرآن دې آیت ته لږ ځیر شئ:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الإِيمَانِ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴿٢٣﴾ التوبة

اې هغو چي ایمان ئې راوړی! که مو پلرونو او وروڼو کفر تر ایمان غوره وګڼلو نو هغوی خپل دوستان مه نیسئ؛ او له تاسو چی هر چا له دوی سره دوستي وکړه، نو هغوی ظالمان دي.

دا مبارك آیت څو لارښووني زموږ مخي ته ږدي:

- له خپلوانو سره به په هغه صورت کي دوستي نه پالئ چي کفر ته پر ایمان ترجیح ورکوي؛ که څه هم ستاسو پلرونه او وروڼه وي.
- څوك چي د خپلوۍ له کبله له داسي کافرانو سره دوستي پالي؛ ظالم دئ، پر خپل ځان ظلم کوي، له خپل دین او ایمان سره جفا کوي؛ او له خپل رب سره ئې چلن ظالمانه دئ؛ ځکه د خدای له دښمن سره دوستي کوي.

خو په روایت کي راغلي چي اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما ته

رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلوي (صله رَحِم) پاللو اجازه ورکړه؛ دا دواړه به څنګه تلفیق او دا توپیر به څنګه توجیه کوو؟

ځیني په دې اړه دوکه شوي او له مغالطې سره مخ دي؛ تکفیري ډلې تر نورو زیات په مغالطې کې پرېوتي؛ لکه په نورو قضایاوو کې دلته هم په یوه آیت عمل کوي خو په بل نه؛

دا روایت له مشرکینو سره د صحابه وو چلن په ښه او واضح توګه زموږ په وړاندې انځوروي؛ یوه لور له خپلې مور سره له لیدلو ډډه کوي؛ په داسې حال کې چې له اوږدې مودې وروسته؛ له لرې واټن او د ډېرو شپو ورځو له اوږده مزل وروسته؛ د دې لیدلو ته ورغلې؛ دا ځکه چې وېرېږي دا لیدنه له کافر او مشرك سره د موالات په ضمن کې رانه شي چې الله تعالی ترې منع کړې؛ له هغه وروسته ورسره ګوري چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلوۍ پاللو اجازه ورکړه!!

د قرآن ګڼ شمېر آیتونه مؤمنانو ته په جدي او قاطع الفاظو لارښوونه کوي چې له کافرانو سره له موالات ډډه وکړي؛ لکه چې فرمایي:

وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾ هود

او د ظالمانو په لوري تمایل مه کوئ که نه نو په اور به اخته شئ؛ په داسې حال کې چې له الله پرته به هیڅ اولیاء نه لرئ؛ بیا به مو هیڅوك مرسته ونه کړی شي.

د دې آیت لارښوونه دا ده چې د ظالمانو په لوري له تمایل به هم ډډه کوو او پر دوی له اتکاء هم؛ که نه نو د دوزخ اور به مو په برخه شي، د الله تعالی له تأیید او ملاتړ به محروم شئ او داسې څوك به ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي. یعني د ظالمانو ملګرتیا او له دوی سره دوستي پالل خو پرېږدئ؛ حتی د دوی په لوري له میلان او پر دوی

له باور او اعتماد به هم ځان لري ساتئ؛ په ظالمانو کې هم کافران او مشرکان شامل دي او هم هر ظالم؛ له هر ظالم سره له ملګرتیا ځان ساتل مراد دي. دا حدیث ئې هم تأییدوي:

عن أَوْسِ بْنِ شُرَحْبِيل: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ مَشَى مَعَ ظَالِمٍ لِيُعِينَهُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ ظَالِمٌ، فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْإِسْلَامِ» المعجم الکبیر للطبراني:

له أوس بن شُرَحْبِیل روایت دئ چې ده له رسول الله صلی الله علیه و سلم اوریدلي چې فرمایل ئې: څوك چې له کوم ظالم سره درومي؛ په دې موخه چې مرسته ئې وکړي؛ په داسې حال کې چې پوهیږي هغه ظالم دئ؛ نو یقیناً چې هغه له اسلام ووت.

د دې آیت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومیږي چې مسلمانان له کافرانو سره له داسې (موالات) منع شوي چې د اتکاء او تناصر په معنی وي؛ الله تعالی د نهي په صیغه فرمایي چې پر ظالمانو اتکاء مه کوئ او هغوی ځان ته تکیه او رکن مه جوړوي که نه نو د الله تعالی له تأیید او نصرت به محروم شئ؛ همدا راز فرمایي:

لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِى شَىْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُوا۟ مِنْهُمْ تُقَىٰةً ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾ آل عمران

مؤمنان دې له مؤمنانو علاوه کافران په دوستۍ نه نیسي او څوك چې دا کار وکړي نو په هیڅ څه کې له الله سره نه دئ؛ مګر دا چې له دوی څه ویره ولرئ او الله خو تاسو له خپل ځان په حذر کوي او ورګرځېدا خو د الله په لوري ده.

یعني مؤمنان به یوازې له مؤمنانو سره دوستي کوي؛ له دوی پرته به نور خلك دوستان نه ګڼي، له کافرانو سره به دوستي نه کوي؛ هر

څوك چي له كافرانو سره دوستي وكړي نو خپلي ټولي اړيكي ئې له الله سره شلولې دي، د الله له حزب وتلى دئ، نه د الله د دين په حلقه كې دئ او نه ئې له الله سره كوم تعلق پاته دئ؛ مگر دا چي د كافرانو په لاس كې پرېوتى وي، له كوم سخت خطر سره مخامخ وي، هغوى ئې په مرگ تهديدوي، د دوى له وېري دې ته اړ شوى وي چي د دوستي الفاظ ورته ووايي، داسي څه ورته ووايي چي هغوى ئې خپل دوست وگڼي او په دې سره د دوى له شر ځان وژغوري؛ په داسي اضطراري حالت كې تاسو ته د داسي الفاظو د ويلو اجازه او رخصت دركړى شوى، حتى د كفر د كلمې په ويلو او له اسلام د انكار په كولو هم تاسو نه نيسي. خو په دې حالت كې هم څو خبري په پام كې ولرئ:

- له دښمن د وېري پر ځاى له الله ووېرېږئ، كه په خپل دين د ټينگار په نتيجه كې وژل كېږئ؛ نو څه پروا لري؛ مرگ خو هسي هم راځي؛ هسي به هم خپل رب ته ورگرځئ؛ آيا دا غوره نه ده چي دا مرگ مو د شهادت مرگ وي؟
- له دوى ستاسو وېره بايد هومره نه وي چي ستاسو له هغي وېري هم زياته وي چي بايد له الله ئې ولرئ؛ او په تاسو داسي څه وكړي چي الله تعالى ئې اجازه نه ده دركړې؛ مبادا د كوم مسلمان د وژلو او يا اسلام او مسلمانانو ته تاوان رسولو په بيه دا كار وكړئ.

دا مبارك آيت كه له يوې خوا موږ ته لارښوونه كوي چي له كافرانو سره به له دوستي ډډه كوو؛ له بلي خوا د وېري په حالت كې او هلته چي يو مسلمان د كافرانو په لاس كې پرېوتى وي او په مرگ ئې گواښي؛ دا اجازه وركوي چي دښمن ته د دوستي او ملگرتيا خبره وكړي؛ خو په دې شرط چي په دې كار سره به اسلام او مسلمانانو ته تاوان نه رسوي، يوازي د ځان ژغورلو لپاره به كومه چاره او حيله لټوي؛ دا رخصت د ده د ضعف، ناتوانۍ او مجبوريت له مخي وركړى شوى؛ د عزيمت او قوي ايمان تقاضى دا ده چي په دې حالت كې هم د ثبات او استقامت لار

غوره کړي، په خپل ایمان ټینګ پاته شي، د دښمن پر ځای یوازي له الله تعالی وېره ولري او دا ئې په پام کې وي چي مرګ د ده د ژوندون پای نه دئ بلکي د بل ژوندون مقدمه ده، په دې مرګ سره هغه د خپل رب په لور درومي.

له دې مبارك آیت په څرګنده توګه معلومېږي چي د اسلام له نظره له کافر سره دوستي د ایمان منافي او داسي خطرناك عمل دئ چي د ایمان نفي کوي.

خو د دې تر څنګ په قرآن کې داسي لارښووني هم مومو چي ځیني کافران ترې مستثنی شوي؛ لکه دا:

لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٨﴾ إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩﴾ الممتحنه

الله تاسو له هغو نه منع کوي چي له تاسو سره نه دي جنګېدلي او تاسو ئې له خپلو مېنو نه یئ ایستلي؛ له دې چي ښېګڼه ورسره وکړئ او عادلانه چلن ورسره وکړئ؛ یقیناً چي الله داسي مقسطین خوښوي. یقیناً چي الله یوازي له هغو سره له موالات منع کړي یئ چي د دین له کبله له تاسو سره جنګېدلي، تاسو ئې له خپل ټاټوبي ایستلي یئ او ستاسو په ایستلو کې ئې د (دښمن) ملتیا کړې؛ او څوك چي له هغوی سره موالات وکړي همدا دوی ظالمان دي.

په دې آیتونو کې کافران په دوو ډلو وېشل شوي او د هري ډلې په وړاندي د مسلمانانو دریځ په دې توګه توضیح شوی:

- هغه چي نه په خپله له مسلمانانو سره جنګېدلي، نه ئې د بل مرسته

کړې، نه ئې په خپله مسلمانان له خپل کور کلي ایستلي او نه ئې د دوی په ایستلو کې د بل مرسته او ملگرتیا کړې. د دوی په اړه مسلمانانو ته ویل شوي: الله تعالی تاسو له دغو سره؛ نه له (بر: ښېگڼې) منع کړي یئ او نه له (قسط: انصاف او عدالت)؛ نه یوازې نه یئ منع شوي بلکې الله تعالی دا خوښوي چې له دوی سره په خپل چلن کې عدالت او قسط مراعات کړئ.

- هغه چې له مسلمانانو سره جنگېدلي، مسلمانان ئې له خپل وطن او استوگنځیو ایستلي او له نورو سره ئې د مسلمانانو په ایستلو کې مرسته کړې؛ د دوی په اړه مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې له دې محارب دښمن سره به له موالات ډډه کوئ. موالات هغې دوستي ته وايي چې په متقابلې دفاع ولاړه وي؛ داسې دوستي له محاربو دښمنانو او د دوی له ملاتړو سره ناروا ده.

قرآن موږ ته ځینې نور هم راښیي چې که څه هم د دښمن په خوا کې او د هغه تر سلطې لاندې اوسېږي خو موږ د هغوی په ضد له جگړې منع شوي یو؛ دې مبارك آیت ته ځیر شئ:

إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ صُدُورُهُمۡ أَن يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلٗا ﴿٩٠﴾ النساء

له هغو پرته چې له کوم داسې قوم سره پیوست کېږي چې ستاسو او د دوی تر منځ کومه معاهده او تړون وي او یا تاسو ته په داسې حال کې راشي چې سینې ئې له دې تنگې شوې وي چې له تاسو سره وجنگېږي او یا له خپل قوم سره وجنگېږي او که الله غوښتی نو دوی به ئې درباندې مسلط کړي وو او بیا به حتماً درسره جنگېدل؛ نو که درنه یوې

خوا ته شول او درسره ونه جنګېدل او روغه جوړه ئې دروړاندي کړه؛ نو بيا الله تاسو ته پر دوی (د تېري) کومه لار ګودر نه دئ ټاکلی.

د دې آيت لارښوونه دا ده: په دوو صورتونو کې د هغو خلکو له نيولو او وژلو ډډه وکړئ چي د کافرانو تر سلطې لاندي اوسي:

الف: له داسي قوم سره ئې خپل پيوستون اعلان کړی وي چي تاسو ورسره د عدم تعرض معاهده لرئ.

ب: تاسو ته په داسي حال کې راشي چي له جګړو کرکه څرګندوي، ستومانه دي، نه له تاسو سره جنګېدل غواړي او نه له خپل قوم سره.

يعني دا چي کله يوه ډله ستاسو په خلاف له جګړي لاس اخلي؛ دا د الله يوه پېرزوينه وګڼئ، فوراً مثبت ځواب ورکړئ، غوښتنه ئې ومنئ او د دوی په خلاف له جګړي ډډه وکړئ. که دوی يوې خوا ته شول، درسره ونه جنګېدل او روغه جوړه ئې دروړاندي کړه؛ نو بيا پر دوی باندي د تعرض هيڅ حق نه لرئ؛ الله تعالی د دې اجازه نه ده درکړې چي د دوی په خلاف وسله استعمال کړئ. يعني د داسي خلکو په خلاف د جنګ لپاره د الله تعالی په دين کې هيڅ مجوز نه شته.

متأسفانه ځيني داسي دي چي موالات، مودة او ميثاق په يوه معنی تعبيروي، د ميثاق د لفظ په رد کې پر داسي آيتونو استناد کوي چي له محاربو کافرانو سره د موالات او مودة په اړه راغلي!! دوی پرته له دې چي لومړی د دغو قرآني مفاهيمو په معنی ځان پوه کړي، بيا د هغو آيتونو تفسير ولولي چي دغه مفاهيم په کې راغلي، بيا په خپل خپل ځای او مورد کې هغوی وکاروي او استناد پرې وکړي، په دې ځان پوه کړي چي د ميثاق معنی (تړون) ده؛ تړون هم له محارب دښمن سره کېدی شي او هم له بل هر لوري سره؛ البته له خپلو شرائطو سره سم؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم تر بعثت وړاندي د قريشو هغه ميثاق ستايلی چي د حلف الفضول په نامه ياد شوی او هدف ئې له مظلومانو دفاع وه؛ او تر بعثت وروسته ئې له يهودو سره داسي ميثاق رامنځته کړ چي

کولی شو هغه ته د مدينې اساسي قانون نوم ورکړو؛ موالات د متقابلې دفاع تړون ته وايي چې له محارب دښمن سره ئې نه مجال شته او نه جواز؛ مودة دوستي او محبت ته وايي چې له محارب دښمن سره حرام او له خپلوانو کافرانو سره جائز دئ؛ متأسفانه دوی د قرآن بېل بېل آيتونه سره خلط کړي!! کله له محارب دښمن سره د موالات د نهي آيت باندي استناد کوي او نور له پامه غورځوي او د هر کافر وژل جائز او حتی فرض ګڼي؛ او کله له غير محارب کافر سره د بِر او ښېګڼي اړوند آيت باندي استناد کوي او له محارب دښمن سره موالات هم جائز انګېري!! خو قرآن له يوې خوا د هغو (کچه او له چتې وتلي انقلابيونو) پر غلط تصور د بطلان کرښه کاږي چې د کافرانو تر سلطې لاندي هر استوګن واجب القتل ګڼي!! او له بلې خوا د هغو منافقينو دريځ په کلکه ردوي چې له محارب دښمن سره موالات هم روا ګڼي.

په دې مبارکو آيتونو د لاښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

د الممتحنه سورې د اوم آيت له فحوی معلومېږي چې له کفارو سره موالات او دوستي پالل؛ د هغه چا کار دئ چې د جګړي له دوام ستړي شوي، په جنګ کې له بري مأيوس شوي، ګمان نه کوي چې له دښمن سره به د مسلمانانو ستونزه د مقاومت د دوام له لاري حل شي؛ دوی ته ويل شوي: ښايي الله به ستاسو او د دوی د هغو وګړو تر منځ مودة (دوستي) راپيدا کړي چې دښمني مو ورسره کړې، الله قدير دئ او الله مهربان بخښونکی دئ.

يعني داسي مه انګېرئ چې له محارب دښمن سره د عدم موالات او شرائطو ته ئې له غاړي اېښودو پرته به د صلحي او روغي جوړي احتمال او د نښتو پای ته رسولو امکان د تل لپاره له منځه ولاړ شي؛ او تاسو به د خپلې بريا او اسلام ته د خلکو رابللو امکانات له لاسه ورکړئ؛ بر عکس بايد مطمئن اوسئ چې پر همدې تګلاري د ټينګار او له مشروطي روغي جوړي د اجتناب په نتيجه کې به الله تعالی دا (جګړه) ستاسو په ګټه پای

ته ورسوي او د اسلام او مسلمانانو بریا به محققه کړي؛ باید عجله او تلوار ونه کړئ او داسي حل ته غاړه مه ږدئ چي له خپلو اصولو او اهدافو د تنازل په معنی وي، باید صبر وکړئ، مقاومت ته دوام ورکړئ، تر هغه چي د دښمن د بشپړي ماتي په نتیجه کي ستونزه د تل لپاره حل شي او ډاډمنه صلح تأمین شي.

حقیقت دا دئ چي هیڅ اسلامي نهضت د دښمن د تشدد، د مؤمنو او وفادارو دعوتگرانو او مبارزینو په نیولو، تړلو او وژلو سره نه مري؛ بلکي د دښمن په وړاندي د دعوتگرانو او مبارزانو د انعطاف او تنازل او له خپلي اصلي تگلاري او اهدافو د انحراف، په نیمي لاري کي ستړیا او د مبارزې له دوام ناهیلي کېدا ئې وژني؛ په هره پیمانه چي دعوتگر په خپل دریځ او مورچلي کي صابر، ثابت او استوار وي، د ستونزو او کړاوونو له گاللو سره سره له خپلو سپېڅلو اهدافو تنازل نه کوي، د ایمان له کرښي شي او کیڼ لوري ته نه کږېږي؛ او د دښمن په وړاندي انعطاف نه کوي؛ په همدې پیمانه د خپل دعوت حقانیت خلکو ته ثابتوي، خپل مخاطبین اقناع کوي او د خپلي مبارزې د بریا لار آواروي.

ورپسې په اتم آیت کي هغه کسان ښودل شوي چي له دې مقاطعې مستثنی شوي او له دوی سره د ښېگڼي او قسط سپارښتنه شوې. باید متوجه وو چي ځیني دا څرگند آیت غلط تعبیروي او له محارب دښمن سره د موالات د جواز په اړه پرې استناد کوي؛ حال دا چي د دې آیت لارښووني دا دي:

الف: دا استثناء د هغو په اړه ده چي له اسلام او مسلمانانو سره د زمکي په هیڅ گوټ کي په جگړي کي مخامخ یا بالواسطه ښکېل نه وي، هیڅ مسلمان ئې له خپل ټاټوبي نه وي ایستلی، نه په خپله د مسلمانانو په ضد جگړي او د دوی په اخراج کي ښکېل وي او نه له بل سره په دې تېري کي ملگرتیا کوي.

ب: له داسي خلکو سره له (بر) او (قسط) نه يئ منع شوي، (بر) د

ښېګڼې، مواسات، حسن معاشرت او نېك چلن په معنی دئ او په هیڅ توګه د (موالات)، (استعانت) او (تناصر) معنی نه افاده کوي؛ معنی ئې یا دا ده چې دا غیر محارب خلك د دعوت مخاطبین دي چې باید د اسلام لوري ته د دوی د بلنې په موخه او له دې کبله چې دوی له اسلام او مسلمانانو سره له دښمنۍ ډډه کړې؛ نېك او ښه چلن ورسره وشي؛ او یا په دې سره شخصي او انفرادي مواسات ته اشاره شوې؛ په دې معنی چې که څه هم د دوی له عقیدې او عمل کرکه لرئ؛ خو د شخصي تعلقاتو او خپلوۍ په حد کې له هغوی سره احسان او ښه چلن وکړئ. د (قسط) له صیغې هم دوه مطلبه تر لاسه کېدی شي؛ لومړی دا چې تاسو د قسط او عدالت په مراعات مکلف یئ، د دې مکلفیت تقاضی دا ده چې له هغه چا سره ونه جنګېږئ چې له تاسو سره نه جنګېږي؛ او هغه څوك له خپل ټاټوبي ونه باسئ چې ستاسو په ایستلو کې ئې څه برخه نه وه؛ دوهم دا چې دا سپارښتنه د مسلمانانو د غلبې په پړاو پوري مربوطه ده او معنی ئې دا ده چې کله تاسو غالب او غیر محارب کفار مغلوب وي؛ نو ستاسو مسئولیت دا دئ چې د ټولو په اړه به قسط او عدل مراعاتوئ؛ داسې نه چې په خپلو تعلقاتو او تصرفاتو کې د قسط له پولو تجاوز وکړئ، د عقیدې او مذهب د اختلاف له کبله کوم انسان له خپلو انساني حقوقو محروم کړئ؛ له محارب دښمن سره د (موالات) تحریم باید داسې تعبیر نه کړئ چې د دوی په اړه د قسط او عدل له مراعات هم منع شوي یئ!!

د الممتحنه سورې په نهم آیت کې په دې اړه مزید وضاحت شوی او ویل شوي: له هغو سره له (بر) او (قسط) نه یئ منع شوي چې له تاسو سره نه دي جنګېدلي؛ بلکې له هغو سره له (موالات) منع شوي یئ چې له تاسو سره د دین له کبله جنګېدلي او ستاسو په ایستلو کې ئې لاس درلود؛ څوك چې له دوی سره موالات وکړي ظالم دئ، له دین سره ئې ظلم کړی او له هغو مؤمنانو سره ئې ظلم کړی چې د دغو کافرانو له

لوري پرې ظلم شوی او له خپل استوګنځي ایستل شوي؛ او د دین له دښمنانو سره ئې د معادات پر ځای موالات کړي.

نامناسبه ئې مه ګڼئ که په دې اړه څه وضاحت وکړم چي دا د صحابه وو له نامه سره ولي رضي الله عنهم وایو؛ دې پوښتني ته د ځواب ضرورت مي ځکه احساس کړ چي د اهل حدیث یوه فیسبوکي مبلغ زما په یوې وینا اعتراض کړی وو؛ اعتراض ئې ډېر بې ځایه او ناسم؛ هم د محتوی له پلوه او هم د بیان د اسلوب له پلوه؛ ما د زوم په یوې مجازي جلسې کې د ابو هریره رضي الله عنه په یوه روایت استناد کړی وو؛ ده له تحقیق پرته ویلي وو: ابو هریره ته د دې روایت انتساب غلط دئ؛ د حزب اسلامي ټولو غړو او علماءو ته تحدي ورکوم چي ثابته دي کړي چي دا روایت د ابو هریره له لوري ویل شوی؛ ډېرو ورته ولیکل چي دا روایت نه یوازي ابو هریره بلکي ابو سعید خدري هم نقل کړی؛ او معنی ئې په ډېرو نورو روایاتو کې هم راغلې؛ زید بن ثابت هم د دوی له جمعي دئ؛ روایت داسي وو:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا قُعُودًا نَكْتُبُ مَا نَسْمَعُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: «مَا هَذَا تَكْتُبُونَ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ مِنْكَ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ مَعَ كِتَابِ اللَّهِ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ غَيْرُ كِتَابَ اللَّهِ؟ امْحِضُوا كِتَابَ اللَّهِ وَأَخْلِصُوهُ» قَالَ: فَجَمَعْنَا مَا كَتَبْنَا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ؛ ثُمَّ أَحْرَقْنَاهُ بِالنَّارِ.... مسند احمد

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وئې ویل: ناست وو او هغه څه مو لیکل چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مو اورېدل؛ وئې فرمایل: دا څه دي چي لیکئ ئې؟ ومو ویل: هغه څه چي له تا ئې اورو؛ وئې فرمایل: آیا د الله د کتاب خوا ته بل کتاب؟ ومو ویل: فقط هغه څه چي موږ ئې اورو (هیڅ څه له ځانه نه پرې زیاتوو)؛ وئې فرمایل: مګر د الله له کتاب پرته بل کتاب؟ د الله کتاب خالص او منفرد ونیسئ.

ابو هريره وويل: څه چي مو ليکلي وو ټول مو راغونډ کړل او په اور کې مو وسوزول.

هغه دا هم ويلي وو چي ولي ئې له ابو هريره سره متصل رضي الله عنه ونه ويل؟ په دې اړه لږ وضاحت ضروري دئ:

١. موږ هڅه کړې چي تل د هر صحابي له نامه سره رضي الله عنه هم ووايو او وليکو.

٢. خو دا نه فرض دئ، نه واجب او سنت؛ يوه مستحبه دعاء ده؛ په نه ويلو او نه ليکلو سره ئې څوك گنهگار نه شو گڼلی.

٣. د بخاري په لومړنيو چاپ شوو کتابونو کې به تاسو ډېر لږ وموئ چي د صحابه وو د نامه تر څنگ رضي الله عنهم هم ليکل شوي وي.

٤. تر اسلام وړاندي د ابو هريره اصلي نوم عبد الشمس وو؛ بيا عبد الله يا عبد الرحمن ته واوښت؛ خو په ابو هريره دومره مشهور شو چي اصلي نوم ئې هېر شو.

٥. په عربو کې کنيه د احترام او درناوي په معنی ده؛ څوك چي په کنيه ياد شي همدا د هغه د درناوي لپاره کافي دئ. ښايي د همدې لپاره امام بخاري اکثراً په ابو هريره اکتفاء کړې.

٦. دې مبلغ؛ په ډېر زور شور سره دا هم وويل چي سيدنا ابو هريره بايد وويل شي!! هغه ته وايو: د حديث په هيڅ کتاب کې د بخاري او مسلم په شمول؛ د هيڅ صحابي په ارتباط د سيدنا صيغه نه ده کارول شوې؛ حتی د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ارتباط له لږو مواردو پرته دا لفظ نه مومو؛ او ښايي وجه ئې دا وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله د دې ممانعت کړی؛ په روايت کې راغلي چي يوه ډله ئې ليدو ته راغله؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې د سيدنا خطاب وکړ او هغه فرمايل: سيد مو الله تعالی دئ؛ زما په ستاينې کې غلو او افراط مه کوئ؛ کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د سعد بن معاذ رضي الله عنه په ارتباط وويل: قومو لسيدکم؛ عمر رضي الله

عنه وویل: سَيِّدُنَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: سید مو الله تعالی دئ.

متأسفانه له موږ سره یا هغه مخالفت کوي چي له دین خبر نه دي؛ او یا هغه چي د غرض، مرض او ناروا تعصب؛ حسادت او رقابت له کبله د مخالفت او غلطو تبلیغاتو لار غوره کوي.

## ١٤ باب

١١٧٠ ـ عن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ شَهِدَ عِنْدَ مَرْوَانُ لبَنِي صُهَيْبٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَى صُهَيْبًا بَيْتَيْنِ وَحُجْرَةً، فَقَضَى مَرْوَانُ بِشَهَادَتِهِ لَهُمْ. (بخاری: ٢٦٢٤)

١١٧٠- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي د مروان په وړاندي ئې د صهیب د اولادې لپاره دا شاهدي ویلې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم صهیب ته دوه کورونه او یوه خونه ورکړې وه؛ نو مروان د همدې گواهي مطابق فیصله وکړه.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: إِبْرَاهِيم بْن مُوسَى، هِشَام بْن يُوسُف، ابْن جُرَيْج او عَبْدُ اللَّهِ بْن عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ؛ له بخاري علاوه یوازي په مصنف عبدالرزاق کي له همدې متن او سند سره راغلی.

دا روایت په دې موخه راوړل شوی چي گواکي د یوه کس شهادت هم کفایت کوي!! که د دې روایت په اړه لازم وضاحت ونه شي نو ځیني به د همدې په استناد؛ هر غریب روایت رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبوي، له هر چا به غواړي چي هغه ورسره ومني!! او منکر به ئې د حدیث منکر گڼي!! متأسفانه ځیني داسي دي چي بېل بېل مسائل سره خلط کړي؛ د یوې خاصي قضیې اړوند حکم په متباینو، متفاوتو او جلا قضیو تطبیقوي؛ په دې روایت کي نه کوم مذهبي او فکري اختلاف مطرح دئ او نه کومه دعوی او مدعي او مدعی علیه؛

ابن عمر د مروان په وړاندي دا شهادت ورکړی چي رسول الله صلی الله علیه و سلم صهیب ته دوه کورونه او یوه خونه ورکړې وه؛ مروان همدې شهادت ته اعتبار ورکړی؛ که چا په دې زمکي دعوی درلودی نو مروان له دوو شاهدانو پرته د دې پرېکړي حق نه درلود؛ اسلام د مدعي او مدعی علیه تر منځ د پرېکړي لپاره شاهدان او قسم شرط کړي؛ د اتهام او افتراء لپاره ئې څلور شاهدان، څلور ځله قسم او بو ځل پر دروغجن لعنت او د متهم اعتراف شرط کړي او د مذهبي او اعتقادي اختلاف د حل و فصل لپاره ئې د الله تعالی کتاب (قرآن) ته راجع کول شرط کړي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د کومي وینا او کړني انتساب لپاره هم د راوي تر څنګ شاهد ته ضرورت دئ او هم په قرآن کي د روایت لپاره شاهد ته.

## ۱۵ باب: عُمْرَىٰ او رُقْبَىٰ (په عمري توګه څه ورکول یا تر مرګ پوري)

۱۱۷۱ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَى أَنَّهَا لِمَنْ وُهِبَتْ لَهُ. (بخاری: ۲٦۲۵)

۱۱۷۱ - له جابر رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د (عُمْرَی) په اړه فیصله کړې چي دا د هغه چا ده چي وربخښل شوې.

عُمْرَی هغه څه ته وایي چي اصلي خاوند ئې بل چا ته په عمري توګه وسپاري؛ او ورته ووایي: دا د ټول عمر لپاره ستا شو. او رقبی هغه څه ته وایي چي د یوه لوري تر مرګ پوري ورکړی شوی وي؛ داسي چي که مال ورکوونکی ومري نو د تل لپاره د بل شو او که دا مخکي ومري مال به اصلي خاوند ته مسترد کېږي.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو نُعَيْمٍ، شَيْبَان، يَحْيَى، أَبِي سَلَمَةَ او جَابِر رَضِيَ

اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ معروف کتاب کې نه دئ راغلی.

## ١٦ باب: د ناوې لپاره جامې په عاريت اخستل

١١٧٢ ـ عَنْ أَيْمَن قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، وَعَلَيْهَا دِرْعُ قِطْرٍ، ثَمَنُ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ، فَقَالَتْ: «ارْفَعْ بَصَرَكَ إِلَى جَارِيَتِي انْظُرْ إِلَيْهَا، فَإِنَّهَا تُزْهَى أَنْ تَلْبَسَهُ فِي البَيْتِ، وَقَدْ كَانَ لِي مِنْهُنَّ دِرْعٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ تُقَيَّنُ بِالْمَدِينَةِ إِلَّا أَرْسَلَتْ إِلَيَّ تَسْتَعِيرُهُ» (بخاری: ٢٦٢٨)

١١٧٢ - له ايمن روايت دئ چې وئې ويل: عائشه رضي الله عنها ته په داسې حال کې ورغلم چې د مالوچو زيړ سوربخون کميس ئې اغوستی وو چې بيه ئې پنځه درهمه وه؛ وئې ويل: سترګې دې پورته کړه او زما دې وينځې ته وګوره چې د داسې کميس په اغوستو سره د کور دننه نخرې کوي؛ په داسې حال کې چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کې ما همداسې کميس درلود؛ په مدينه کې داسې ښځه نه وه چې د واده په شپه ځان سينګارولو لپاره ئې څوك ما ته د عاريت اخستلو لپاره نه وي رالېږلی.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٣ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: أَبُو نُعَيْمٍ، عَبْدُ الوَاحِدِ بْن أَيْمَن او پلار ئې ايمن؛ له بخاري پرته په بل هيڅ معروف کتاب کې نه دئ راغلی.

له دې روايت څو خبرې معلومېږي: ١- د واده لپاره د ناوې ځان سنګارول او حتی کميس او د واده جامه له بل چا په عاريت اخستل؛ اوږده سابقه لري؛ ځان سنګارول د مېرمنو يوه فطري ځانګړتيا ده. ٢- اوس د واده کميسونه په کرايه ورکول کېږي؛ په دې کې څه شرعي مانع نه شته؛ مشروط په دې چې شرعي حدود په کې مراعات شي او اسراف ونه شي؛ او غوره صورت ئې دا دئ چې شتمنې مېرمنې ئې نورو ته

عاريت ورکړي. ٣- دا د هغه وخت پېښه ده چي د مسلمانانو اقتصادي وضعيت دومره ښه شوی وو چي وينځو به داسي کميسونه په کور کي اغوستل؛ ٤- په همداسي حالت کي عائشې رضي الله عنها د مالوچو زيږ كميس؛ (كرباسي)؛ اغوستی وو چي بيه ئې پنځه درهمه وه؛ ٥- سنګار او داسي كميسونه اغوستل د كور دننه جائز دي؛ نه بهر او د پرديو په وړاندي.

## ١٧ باب: د مُنِيحَه فضيلت

١١٧٣ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْمَدِينَةَ مِنْ مَكَّةَ وَلَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ يَعْنِي شَيْئًا وَكَانَتِ الأَنْصَارُ أَهْلَ الأَرْضِ وَالْعَقَارِ فَقَاسَمَهُمُ الأَنْصَارُ عَلَى أَنْ يُعْطُوهُمْ ثِمَارَ أَمْوَالِهِمْ كُلَّ عَامٍ وَيَكْفُوهُمُ الْعَمَلَ وَالْمَئُونَةَ وَكَانَتْ أُمُّهُ أُمُّ أَنَسٍ أُمُّ سُلَيْمٍ كَانَتْ أُمَّ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ أَبِى طَلْحَةَ، فَكَانَتْ أَعْطَتْ أُمُّ أَنَسٍ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِذَاقًا فَأَعْطَاهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّ أَيْمَنَ مَوْلاتَهُ أُمَّ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: لَمَّا فَرَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَتْلِ أَهْلِ خَيْبَرَ فَانْصَرَفَ إِلَى الْمَدِينَةِ رَدَّ الْمُهَاجِرُونَ إِلَى الأَنْصَارِ مَنَائِحَهُمِ الَّتِي كَانُوا مَنَحُوهُمْ مِنْ ثِمَارِهِمْ فَرَدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُمِّهِ عِذَاقَهَا وَأَعْطَى رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّ أَيْمَنَ مَكَانَهُنَّ مِنْ حَائِطِهِ. (بخاری: ٢٦٣٠)

١١٧٣ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي مهاجرين له مکې؛ مديني ته راغلل؛ څه ئې په لاس کي نه ول؛ او انصار د زمکو او عَقَار (کورونو او باغونو) خاوندان وو؛ نو انصارو دوی په دې توګه ورسره شريک کړل چي هر کال به د خپلو شتمنيو (زمکو او باغونو) د حاصل څه برخه ورکوي؛ په کار او مصارفو کي به هم د دوی مرسته کوي؛ د انس مور؛ ام سُلَيم وه؛ چي د عبدالله بن ابي طلحه مور هم وه؛

د خرما ځو وني چي مېوې ئې درلودې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورکړې؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه خپلي آزادي کړې (مولاة)؛ ام ایمن؛ د اسامه بن زید مور ته ورکړې. انس بن مالک وایي: کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خیبر له غزا مدینې ته ستون شو؛ مهاجرینو د انصارو هغه منائح (بخښل شوې) وني او زمکي بېرته ورکړې چي حاصلات او مېوې ئې دوی ته بخښلې وې؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم هم هغه د خرما رسېدلې وني بېرته زما مور ته ورکړې او په بدل کي ئې ام ایمن ته له خپل باغ ځو وني ورکړې.

عَقَار (کورونه، باغونه او هغه ځه چي پر زمکي اعمار شوي او ورسره وصل وي)

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: عَبْدُ اللَّهِ بْن يُوسُف، ابْن وَهْب، يُونُس، ابْنِ شِهَاب او أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ پر بخاري علاوه یوازي صحیح مسلم کي له همدې سند او متن سره راغلی.

دا باید واضح شي چي ام ایمن د رسول الله صلی الله علیه و سلم د والد عبد الله وینځه وه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې په اړه ویلي: ام ایمن زما د مور له وفات وروسته زما مور ده؛ له خدیجې رضي الله عنها سره له واده وروسته ئې آزاده کړه؛ خو سره له آزادي د ژوند تر پای ورسره وه.

١١٧٤ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنَ عَمْرٍو رضی الله عنهما يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرْبَعُونَ خَصْلَةً أَعْلاهُنَّ مَنِيحَةُ الْعَنْزِ، مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهَا الْجَنَّةَ».

(بخاری: ٢٦٣١)

١١٧٤ - له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((ځلوېښت خصلتونه دي؛ تر ټولو

غوره ئې د يوې وزې مَنِيحَه (د شيدو لپاره چا ته په عاريت ورکول) دي؛ هر عمل کوونکی چې له دغو خصلتونو په يوه ئې عمل وکړي؛ د ثواب په هيله او پر اجر ئې باور سره؛ الله تعالی به ئې جنت ته داخل کړي)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُسَدَّد، عِيسَى بْن يُونُس، الأَوْزَاعِي، حَسَّان بْنِ عَطِيَّة، أَبو كَبْشَةَ السَّلُولِي او عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په سنن ابي داؤد، مسند احمد، سنن الکبری للبيهقي کې هم له همدې متن او سند سره راغلی.

د بخاري د روايت په پای کې دا هم راغلي: قَالَ حَسَّانُ: فَعَدَدْنَا مَا دُونَ مَنِيحَةِ العَنْزِ، مِنْ رَدِّ السَّلاَمِ، وَتَشْمِيتِ العَاطِسِ، وَإِمَاطَةِ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَنَحْوِهِ فَمَا اسْتَطَعْنَا أَنْ نَبْلُغَ خَمْسَ عَشْرَةَ خَصْلَةً: حَسَّان ويلي: له منيحة العنز لاندي خصلتونه؛ لکه د سلام ځواب، عطسه وهونکي ته يرحمك الله ويل، له لاري ضرري شيان لري کول؛ او ورته ئې وشمېرل؛ خو پنځلسو ته ونه رسېدو. دې پوښتنو ته به څه ځواب وايو: آيا تر ټولو خصلتونو غوره خصلت همدا دئ؟ که د ځينو خاصو خصلتونو په ضمن کې دا تر ټولو غوره دئ؟ د لومړۍ پوښتني ځواب خو کاملاً جوت دئ؛ دا نه له زکات سره برابر دئ، نه له نورو فرائضو سره؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم جهاد تر ټولو افضل او غوره عمل ګڼلی؛ د دوهمي پوښتني ځواب په ناقصه توګه د بخاري د روايت د پای به تبصرې کې ويل شوی؛ حَسَّان ويلي: له منيحة العنز لاندي خصلتونه؛ لکه د سلام ځواب، عطسه وهونکي ته يرحمك الله ويل، له لاري ضرري شيان لري کول؛ او ورته ئې وشمېرل؛ خو پنځلسو ته ونه رسېدو. خو که داسي اعمال وشمېرو نو تر څلوېښتو هم زياتېږي؛ لکه سلام اچول، د مريض عيادت، د مسلمان ورور ليدو ته ورتګ او نور؛ نو څه به کوو؟ آسان ځواب دا دئ: ١- رسول الله صلی الله عليه و سلم نه دي ښودلي؛ لټول ئې هم ضروري نه دي. ٢- احتمالاً د روايت په انتقال کې اشتباه شوې او په سمه

او بشپړه توګه نه دئ انتقال شوی.

## ٤٩ کتاب: شهادت (ګواهي)

### ۱ باب: ناروا او ظالمانه شاهدي جواز نه لري

۱۱۷۵ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ مَسْعُودٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم قَالَ: «خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَجِيءُ أَقْوَامٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ». (بخاری: ۲۶۵۲)

۱۱۷۵ – له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((تر ټولو غوره خلک زما د پیړۍ خلک دي بیا هغه چي ورپسې راځي بیا هغه چي ورپسې راځي؛ بیا به داسي خلک راشي چي د یوه شهادت به تر قسم مخکي او قسم به ئې تر شهادت وړاندي وي)).

دا روایت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۶۵۲ - ۳٦٥١ - ٦٤٢٩ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: مَنْصُور، إِبْرَاهِيم، عُبِيدَة او عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ تر منځ ئې دا توپیر دئ چي په دوو کي دا راغلي «وَكَانُوا يَضْرِبُونَنَا عَلَى الشَّهَادَةِ، وَالعَهْدِ»: موږ به ئې د دروغجن شهادت او عهد له کبله وهلو؛ او په یوه کي دا نه دي راغلي؛ مطلب ئې دا دئ چي په ماشومتوب کي به ئې په دې باندي په وهلو ګواښلو؛ چي دا مو عادت نه شي؛ البته په متن کي د ماشومتوب یادونه نه ده شوې. په بل روایت کي ویل شوي: وَنَحْنُ صِغَارٌ؛ په مسند البزار کي هم راغلی خو په پای کي ئې ویلي: وَهَذَا الْحَدِيثُ لَا نَعْلَمُ لَهُ طَرِيقًا عَنْ عَبْدِ اللَّهِ إِلَّا هَذَا الطَّرِيقَ: دې حدیث ته چي له عبد الله بن مسعود روایت شوی؛ له همدې لړۍ پرته بله نه مومو. خو په

بخاري کې دا وضاحت نه دئ شوی. په صحیح مسلم، صحیح ابن حبان، سنن ترمذي، مسند احمد، سنن الکبری للنسائي، المعجم الکبیر للطبراني کې هم راغلی؛ له ځینو توپیرونو سره او په داسي حال کې چي په سند کې ئې هم توپیرونه شته؛ او لومړي راویان ئې بېل دي.

دا روایت څو وضاحتونه ایجابوي: ١- رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره په مستقله توګه کړې که پر یوې خاصې موضوع د بحث په دوران کې؟ د روایت له پای داسي معلومېږي چي د ګواهي او عهد په اړه ئې خبري کولې او په همدې ضمن کې ئې فرمایلي: ((تر ټولو غوره خلک زما د پېړۍ خلک دي؛ بیا هغه چي ورپسې راځي او بیا هغه چي ورپسې راځي؛ او په پای کې ئې فرمایلي: ((بیا به داسي خلک راشي چي د یوه شهادت به تر قسم مخکې او قسم به ئې تر شهادت وړاندي وي)). او د دې مراد دا دئ چي ډېر قسمونه به خوري، ګواهي به ئې دروغجنه وي او پرته له دې چي څوك ترې ګواهي وغواړي؛ ګواهي به ورکوي؛ خدای به پر خپل نېك نیتي او صداقت شاهد نیسي؛ او وایي به: خدای شاهد دئ چي زه صادق او مخلص یم. ٢- دلته د (الناس) صیغه کارول شوې چي معنی ئې عام خلك دي؛ نو آیا معنی ئې دا ده چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د زمانې ټول خلك ترې مراد دي؛ که یوازي صحابه، تابعین او تبع تابعین؟ لومړی تعبیر صحیح نه دئ؛ ځکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په مکي دور کې د مؤمنان شمېر ډېر لږ وو، په مدینه کې لږ زیات شو؛ خو تر دریو پېړیو پوري هم د نړۍ د ټولو انسانانو په پرتله ئې شمېر یو سلنه هم نه وو؛ او د دوهم تعبیر لپاره په روایت کې دا الفاظ نه مومو: اصحاب، تابعین او تبع تابعین؛ دا تعبیر په هغه صورت کې صحیح ګڼلی شو چي له (الناس) مراد یوازي مسلمانان ونیسو؛ او د بحث موضوع هم ګواهي او عهد.

د روایاتو په ارتباط هر لوستونکی له دې ستونزي سره مخامخ کېږي چي نه پوهېږي د روایت مطلب کله او د کومي موضوع په اړه د بحث

په ضمن کې ويل شوی؛ په يوه وينا کې د يوې برخې په اصلي مطلب هغه مهال سم پوهېدی شو چې له مخکې او وروسته مطالبو هم خبر شو. د آيتونو ځانګړتيا دا ده چې هر يو ئې د يوې رکوع او بشپړې سورې يوه برخه ده؛ له مخکې او وروسته سره ژور او دقيق تړاو لري؛ په مرسته ئې په معنی پوهېدل آسان شي؛ خو روايات بيا داسي نه دي؛ اکثراً د رسول الله صلی الله عليه و سلم د يوې خطبې او وينا يوازې يوه وړه برخه زموږ مخې ته راځي؛ نو ځکه ئې په اصلي معنی پوهېدل لږ ګران وي؛ لکه دغه روايت.

## ۲ باب: د دروغو شاهدي

١١٧٦ـ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم : «أَلا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ»؟ ثَلاثًا. قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ» وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ: «أَلا وَقَوْلُ الزُّورِ» قَالَ: فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ. (بخارى: ٢٦٥٤)

١١٧٦ - له ابو بکره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((آيا خوښه مو نه ده چې د لويو ګناهونو ستر ستر دروښيم؟))؛ درې ځلي ئې تکرار کړه؛ صحابه وو وويل: ولې نه؛ يا رسول الله! وئې فرمايل: ((له الله تعالی سره شريک نيول او د مور او پلار ځورول))؛ په دې مهال رسول الله صلی الله عليه و سلم چې مخکې ئې تکيه وهلې وه کښېناست او وئې فرمايل: پام چې (بله لويه ګناه)؛ دروغ ويل دي))؛ راوي وايي: دا خبره ئې دومره تکراروله چې مونږ وويل: کاش ساکت شي.

دا روايت په بخاري کې ۷ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٦٥٣ - ٢٦٥٤ -٥٩٧٦ - ٦٢٧٣ - ٦٦٧٥ - ٦٨٧٠ - ٦٩١٩ – د ځينو لومړی راوي انس رضي الله عنه دئ او په دوو بعدي طبقو کې ئې راويان دا دي: شُعْبَة،

عُبَيْد اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَس؛ او د ځينو عَبْد اللَّه بْن عَمْرو رضي الله عنه چي بعدي راويان ئې دا دي: مُحَمَّد بْن مُقَاتِل، النَّضْر، شُعْبَة، فِرَاس او الشَّعْبِي. په ځينو كې دا گناهونه هم ياد شوي: وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَاليَمِينُ الغَمُوسُ: د انسان وژنه او دروغجن قسم.

## ٣ باب: د ړانده شاهدي او نور تصرفات

١١٧٧ - عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلا يَقْرَأُ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: «رَحِمَهُ اللَّهُ، لَقَدْ أَذْكَرَنِي كَذَا وَكَذَا آيَةً أَسْقَطْتُهُنَّ مِنْ سُورَةِ كَذَا وَكَذَا». (بخارى: ٢٦٥٥)

١١٧٧ – له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوه سړي آواز واورېد چي په جومات كي ئې د قرآن تلاوت كولو، نو وئې فرمايل: ((الله دي رحم پرې وكړي؛ د فلاني او فلاني سورت فلانی او فلانی آيت ئې راياد كړ چي له ما هېر شوي وو)).

دا روايت په بخاري كې ٥ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٦٥٥ - ٥٠٣٧ - ٥٠٣٨ - ٥٠٤٢ - ٦٣٣٥ - غريب دئ؛ په ٣ طبقو كې يو يو راوي لري چي دا دي: هِشَام، پلار ئې عروه او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ په ٢٦٥٥ روايت كې د عَبَّاد بْن عَبْدِ اللَّهِ په حواله داسي راغلی:

١١٧٨ – عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها: قَالَتْ: تَهَجَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي، فَسَمِعَ صَوْتَ عَبَّادٍ يُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ أَصَوْتُ عَبَّادٍ هَذَا»؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْحَمْ عَبَّادًا». (بخارى: ٢٦٥٥)

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم زما په كور كې د تهجد لمونځ وكړ؛ د عَبَّاد غږ ئې واورېدو چي په جومات كې ئې لمونځ كولو؛ وئې فرمايل: اې عائشې! آيا دا د عباد غږ دئ؟ ومي ويل: هو؛ وئې فرمايل: خدايه پر عباد رحم وكړه.

دا روايت له يوې خوا غريب دئ او له بلي خوا له بخاري پرته په بل

هیڅ کتاب کې نه دي راوړل شوي؛ له باب سره هم هیڅ مناسبت نه لري؛ اصلاً په روایاتو کې نه د کوم ړوند یادونه شوې او نه ئې د شهادت؛ چا چي په تکلف سره؛ هڅه کړې؛ د باب او روایاتو تر منځ په دې توګه کوم مناسبت راپیدا کړي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا کس نه دئ لیدلی؛ یوازي د هغه قرائت ئې اورېدلی؛ او ځیني آیتونه ئې ورپه یاد کړي؛ نو نه خو په تیاره کې او له دېوال آخوا د چا نه لیدنه د ړانده په معنی اخستل صحیح دي او نه له لري د چا قرائت اورېدنه؛ د شهادت په معنی اخستل؛ د دې روایاتو لپاره مناسب باب دا وو: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم موقتاً کوم آیت هېر کړی؟ دغه روایات به ئې ځواب وو؛ هو؛ موقتاً ترې هېر شوی؛ خو لکه څنګه چي الله تعالی ئې د عدم دائمي نسیان او هېرولو وعده ورسره کړې؛ دا دئ په نیمه شپه کې ئې څوك خوا ته راوست؛ او هغه ته ئې هېر شوي آیتونه ورپه یاد کړل. الهي وعده داسي ده: (سَنُقْرِئُكَ فَلا تَنْسَى) الأعلى ٦: ژر به ئې پر تا لولو؛ داسي چي هېر ئې نه کړې.

له روایت دا هم معلومېږي چي یوازي لمونځ کوونکی کولی شي خپل لمونځ په لوړ غږ اداء کړي.

## ٤ باب: ښځي او یوه د بلي تزکیه

تر دې باب لاندي د بخاري ٢٦٦١ روایت راغلی؛ ډېر اوږد دئ؛ نژدې پنځه صفحې کېږي؛ په اصل کې دا روایت له بېلو بېلو راویانو اورېدل شوو ویناوو جوړ شوی؛ دا کار د ابن شهاب زهري له لوري شوی؛ دی په خپله وایي چي د روایت بېلې بېلې برخي مي له یوه بل اورېدلې؛ هغوی ګمان کولو چي عائشې همداسي ویلي!! یعني چي راویان ئې هم متیقن نه وو؛ بلکې ګمان ئې کولو؛ تاسو به وګورئ چي دا روایت له نورو سره دومره ژور توپیرونه لري چي ناچار یوازي یو ترې غوره کولی شو؛ ښه خو دا وه چي دا په کوم تاریخي کتاب کې د تاریخي داستان په توګه

راغلی وی؛ نه د حدیث په کتاب کې؛ په مجمله توګه تاسو ته ویلی شم چي په دې روایت کې دومره ستونزې دي چي هیڅ اعتبار ورته نه پرېږدي. زهري نه یوازې دلته بلکي په ځینو نورو مواردو کې هم مرجوح او مشبوه روایات راوړي؛ د مثال په توګه: ویل شوي چي هغه به د عاشوراء د ورځي روژه په سفر کې هم ضروري ګڼله؛ چا ترې پوښتلي وو: فرضي روژه په سفر کې نه نیسو او دا نفلي روژه به نیسو؟! په ځواب کې ئې ویلي: إن الله تعالی قال في رمضان: (...فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ...)؛ ولیس ذلك لعاشوراء: الله تعالی د رمضان په اړه ویلي: بیا ئې له نورو ورځو شمېر پوره کول دي؛ او دا د عاشوراء په اړه نه ده!!! دا له یوې خوا سخت کمزوری او بې بنسټه استدلال دئ؛ له بلي خوا د عاشوراء د لمانځني او روژې په اړه ټول روایات یو د بل خلاف او سخت متعارض دي؛ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه؛ چي د حدیث په مشهورو راویانو کې تر ټولو مشر دئ؛ هغه نه په مکه کې دا روژه نیولې او نه په مدینه کې؛ او نه ئې نورو ته د دې روژې نیولو وینا کړې. په دې روایت کې به تاسو وګورئ چي درې ځلي ئې عائشې رضي الله عنها ته دا منسوب کړي چي هغه کم عمره نجلۍ وه؛ په داسي حال کې چي د هغې عمر دا مهال تر ۲۲ کلونو اوښتی وو؛ د عائشې رضي الله عنها د غاړکۍ د ورکېدو په اړه ئې هغه څه ویلي چي نور راوایات ئې خلاف دي. ابن بطال د یوې فقهي موضوع په ارتباط وايي: ټول فقهاء د زهري د رأی خلاف دي: قال ابن بطال: الفقهاء علی خلاف قول الزهري.

د زهري دا کمزوری او له ستونزو ډك روایت دا دئ:

١١٧٩ـ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ أَزْوَاجِهِ، فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ، فَأَقْرَعَ بَيْنَنَا فِي غَزَاةٍ غَزَاهَا، فَخَرَجَ سَهْمِي، فَخَرَجْتُ مَعَهُ بَعْدَ مَا أُنْزِلَ الْحِجَابُ، فَأَنَا أُحْمَلُ فِي هَوْدَجٍ وَأُنْزَلُ فِيهِ، فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا فَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَتِهِ تِلْكَ وَقَفَلَ وَدَنَوْنَا مِنَ الْمَدِينَةِ آذَنَ لَيْلَةً بِالرَّحِيلِ. فَقُمْتُ حِينَ آذَنُوا بِالرَّحِيلِ فَمَشَيْتُ حَتَّى جَاوَزْتُ الْجَيْشَ، فَلَمَّا قَضَيْتُ شَأْنِي أَقْبَلْتُ إِلَى الرَّحْلِ فَلَمَسْتُ صَدْرِي فَإِذَا عِقْدٌ لِي مِنْ جَزْعِ أَظْفَارٍ قَدِ انْقَطَعَ، فَرَجَعْتُ فَالْتَمَسْتُ عِقْدِي فَحَبَسَنِي ابْتِغَاؤُهُ، فَأَقْبَلَ الَّذِينَ يَرْحَلُونَ لِي فَاحْتَمَلُوا هَوْدَجِي فَرَحَلُوهُ عَلَى بَعِيرِي الَّذِي كُنْتُ أَرْكَبُ وَهُمْ يَحْسِبُونَ أَنِّي فِيهِ وَكَانَ النِّسَاءُ إِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ يَثْقُلْنَ وَلَمْ يَغْشَهُنَّ اللَّحْمُ وَإِنَّمَا يَأْكُلْنَ الْعُلْقَةَ مِنَ الطَّعَامِ فَلَمْ يَسْتَنْكِرِ الْقَوْمُ حِينَ رَفَعُوهُ ثِقَلَ الْهَوْدَجِ فَاحْتَمَلُوهُ وَكُنْتُ جَارِيَةً حَدِيثَةَ السِّنِّ فَبَعَثُوا الْجَمَلَ وَسَارُوا. فَوَجَدْتُ عِقْدِي بَعْدَ مَا اسْتَمَرَّ الْجَيْشُ، فَجِئْتُ مَنْزِلَهُمْ وَلَيْسَ فِيهِ أَحَدٌ، فَأَمَمْتُ مَنْزِلِي الَّذِي كُنْتُ بِهِ، فَظَنَنْتُ أَنَّهُمْ سَيَفْقِدُونَنِي فَيَرْجِعُونَ إِلَيَّ. فَبَيْنَا أَنَا جَالِسَةٌ غَلَبَتْنِي عَيْنَايَ فَنِمْتُ وَكَانَ صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِيُّ ثُمَّ الذَّكْوَانِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْجَيْشِ فَأَصْبَحَ عِنْدَ مَنْزِلِي فَرَأَى سَوَادَ إِنْسَانٍ نَائِمٍ، فَأَتَانِي وَكَانَ يَرَانِي قَبْلَ الْحِجَابِ، فَاسْتَيْقَظْتُ بِاسْتِرْجَاعِهِ حِينَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ فَوَطِئَ يَدَهَا فَرَكِبْتُهَا، فَانْطَلَقَ يَقُودُ بِي الرَّاحِلَةَ حَتَّى أَتَيْنَا الْجَيْشَ بَعْدَ مَا نَزَلُوا مُعَرِّسِينَ فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ. فَهَلَكَ مَنْ هَلَكَ وَكَانَ الَّذِي تَوَلَّى الإِفْكَ عَبْدُاللَّهِ بْنُ أُبَيِّ بْنُ سَلُولَ، فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ فَاشْتَكَيْتُ بِهَا شَهْرًا وَالنَّاسُ يُفِيضُونَ مِنْ قَوْلِ أَصْحَابِ الإِفْكِ وَيَرِيبُنِي فِي وَجَعِي أَنِّي لا أَرَى مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللُّطْفَ الَّذِي كُنْتُ أَرَى مِنْهُ حِينَ أَمْرَضُ، إِنَّمَا يَدْخُلُ فَيُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُولُ: «كَيْفَ تِيكُمْ»؟ لا أَشْعُرُ بِشَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ حَتَّى نَقَهْتُ، فَخَرَجْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ الْمَنَاصِعِ مُتَبَرَّزُنَا لا نَخْرُجُ إِلاَّ لَيْلاً إِلَى لَيْلٍ، وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ نَتَّخِذَ الْكُنُفَ

قَرِيبًا مِنْ بُيُوتِنَا وَأَمْرُنَا أَمْرُ الْعَرَبِ الأُوَلِ فِى الْبَرِّيَّةِ أَوْ فِى التَّنَزُّهِ. فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَأُمُّ مِسْطَحٍ بِنْتُ أَبِى رُهْمٍ نَمْشِى، فَعَثَرَتْ فِى مِرْطِهَا فَقَالَتْ: تَعِسَ مِسْطَحٌ، فَقُلْتُ لَهَا: بِئْسَ مَا قُلْتِ، أَتَسُبِّينَ رَجُلاً شَهِدَ بَدْرًا؟ فَقَالَتْ: يَا هَنْتَاهْ، أَلَمْ تَسْمَعِى مَا قَالُوا؟ فَأَخْبَرَتْنِى بِقَوْلِ أَهْلِ الإِفْكِ، فَازْدَدْتُ مَرَضًا عَلَى مَرَضِى، فَلَمَّا رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِى دَخَلَ عَلَىَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ، فَقَالَ: «كَيْفَ تِيكُمْ»؟ فَقُلْتُ: ائْذَنْ لِى إِلَى أَبَوَىَّ، قَالَتْ: وَأَنَا حِينَئِذٍ أُرِيدُ أَنْ أَسْتَيْقِنَ الْخَبَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا، فَأَذِنَ لِى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم، فَأَتَيْتُ أَبَوَىَّ فَقُلْتُ لأُمِّى مَا يَتَحَدَّثُ بِهِ النَّاسُ. فَقَالَتْ: يَا بُنَيَّةُ هَوِّنِى عَلَى نَفْسِكِ الشَّأْنَ فَوَاللَّهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ قَطُّ وَضِيئَةٌ عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا وَلَهَا ضَرَائِرُ إِلاَّ أَكْثَرْنَ عَلَيْهَا، فَقُلْتُ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَلَقَدْ يَتَحَدَّثُ النَّاسُ بِهَذَا. قَالَتْ: فَبِتُّ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَصْبَحْتُ لا يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ، وَلا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ، ثُمَّ أَصْبَحْتُ، فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِىَّ بْنَ أَبِى طَالِبٍ، وَأُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، حِينَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْىُ يَسْتَشِيرُهُمَا فِى فِرَاقِ أَهْلِهِ، فَأَمَّا أُسَامَةُ فَأَشَارَ عَلَيْهِ بِالَّذِى يَعْلَمُ فِى نَفْسِهِ مِنَ الْوُدِّ لَهُمْ، فَقَالَ أُسَامَةُ: أَهْلُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلا نَعْلَمُ وَاللَّهِ إِلاَّ خَيْرًا، وَأَمَّا عَلِىُّ بْنُ أَبِى طَالِبٍ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَمْ يُضَيِّقِ اللَّهُ عَلَيْكَ، وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيرٌ، وَسَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ. فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِيرَةَ فَقَالَ: «يَا بَرِيرَةُ هَلْ رَأَيْتِ فِيهَا شَيْئًا يَرِيبُكِ»؟ فَقَالَتْ بَرِيرَةُ: لا وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، إِنْ رَأَيْتُ مِنْهَا أَمْرًا أَغْمِصُهُ عَلَيْهَا قَطُّ، أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنِ الْعَجِينِ، فَتَأْتِى الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ. فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَوْمِهِ فَاسْتَعْذَرَ مِنْ

عَبْدِاللَّهِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ سَلُولَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «مَنْ يَعْذُرُنِى مِنْ رَجُلٍ بَلَغَنِى أَذَاهُ فِى أَهْلِى، فَوَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِى إِلاَّ خَيْرًا، وَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلاً مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلاَّ خَيْرًا، وَمَا كَانَ يَدْخُلُ عَلَى أَهْلِى إِلاَّ مَعِى». فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَا وَاللَّهِ أَعْذُرُكَ مِنْهُ، إِنْ كَانَ مِنَ الأَوْسِ ضَرَبْنَا عُنُقَهُ، وَإِنْ كَانَ مِنْ إِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ، أَمَرْتَنَا فَفَعَلْنَا فِيهِ أَمْرَكَ، فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهُوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ وَكَانَ قَبْلَ ذَلِكَ رَجُلاً صَالِحًا وَلَكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ: كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللَّهِ لا تَقْتُلُهُ وَلا تَقْدِرُ عَلَى ذَلِكَ. فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ فَقَالَ: كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللَّهِ، وَاللَّهِ لَنَقْتُلَنَّهُ، فَإِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِينَ، فَثَارَ الْحَيَّانِ الأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ، حَتَّى هَمُّوا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَنَزَلَ فَخَفَّضَهُمْ، حَتَّى سَكَتُوا، وَسَكَتَ، وَبَكَيْتُ يَوْمِى لا يَرْقَأُ لِى دَمْعٌ وَلا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ، فَأَصْبَحَ عِنْدِى أَبَوَاىَ، وَقَدْ بَكَيْتُ لَيْلَتَيْنِ وَيَوْمًا، حَتَّى أَظُنُّ أَنَّ الْبُكَاءَ فَالِقٌ كَبِدِى. قَالَتْ: فَبَيْنَا هُمَا جَالِسَانِ عِنْدِى وَأَنَا أَبْكِى، إِذِ اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَأَذِنْتُ لَهَا، فَجَلَسَتْ تَبْكِى مَعِى، فَبَيْنَا نَحْنُ كَذَلِكَ إِذْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَلَسَ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِى مِنْ يَوْمِ قِيلَ فِىَّ مَا قِيلَ قَبْلَهَا، وَقَدْ مَكَثَ شَهْرًا لا يُوحَى إِلَيْهِ فِى شَأْنِى شَىْءٌ، قَالَتْ: فَتَشَهَّدَ ثُمَّ، قَالَ: «يَا عَائِشَةُ، فَإِنَّهُ بَلَغَنِى عَنْكِ كَذَا وَكَذَا، فَإِنْ كُنْتِ بَرِيئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللَّهُ، وَإِنْ كُنْتِ أَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ، فَاسْتَغْفِرِى اللَّهَ، وَتُوبِى إِلَيْهِ، فَإِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ بِذَنْبِهِ ثُمَّ تَابَ، تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ». فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَالَتَهُ قَلَصَ دَمْعِى حَتَّى مَا أُحِسُّ مِنْهُ قَطْرَةً، وَقُلْتُ لأَبِى: أَجِبْ عَنِّى رَسُولَ اللَّهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ: وَاللَّهِ مَا أَدْرِى مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم، فَقُلْتُ لأُمِّى: أَجِيبِى عَنِّى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا قَالَ. قَالَتْ: وَاللَّهِ مَا أَدْرِى مَا أَقُولُ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم، قَالَتْ: وَأَنَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ لا أَقْرَأُ كَثِيرًا مِنَ الْقُرْآنِ، فَقُلْتُ: إِنِّى وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُ أَنَّكُمْ سَمِعْتُمْ مَا يَتَحَدَّثُ بِهِ النَّاسُ، وَوَقَرَ فِى أَنْفُسِكُمْ وَصَدَّقْتُمْ بِهِ، وَلَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّى بَرِيئَةٌ، وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنِّى لَبَرِيئَةٌ، لا تُصَدِّقُونِى بِذَلِكَ، وَلَئِنِ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِأَمْرٍ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّى بَرِيئَةٌ لَتُصَدِّقُنِّى، وَاللَّهِ مَا أَجِدُ لِى وَلَكُمْ مَثَلاً إِلاَّ أَبَا يُوسُفَ إِذْ قَالَ: ﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ﴾ ثُمَّ تَحَوَّلْتُ عَلَى فِرَاشِى، وَأَنَا أَرْجُو أَنْ يُبَرِّئَنِى اللَّهُ، وَلَكِنْ وَاللَّهِ مَا ظَنَنْتُ أَنْ يُنْزِلَ فِى شَأْنِى وَحْيًا وَلأَنَا أَحْقَرُ فِى نَفْسِى مِنْ أَنْ يُتَكَلَّمَ بِالْقُرْآنِ فِى أَمْرِى، وَلَكِنِّى كُنْتُ أَرْجُو أَنْ يَرَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى النَّوْمِ رُؤْيَا يُبَرِّئُنِى اللَّهُ، فَوَاللَّهِ مَا رَامَ مَجْلِسَهُ وَلا خَرَجَ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْبَيْتِ حَتَّى أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْىُ، فَأَخَذَهُ مَا كَانَ يَأْخُذُهُ مِنَ الْبُرَحَاءِ، حَتَّى إِنَّهُ لَيَتَحَدَّرُ مِنْهُ مِثْلُ الْجُمَانِ مِنَ الْعَرَقِ فِى يَوْمٍ شَاتٍ، فَلَمَّا سُرِّىَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَضْحَكُ، فَكَانَ أَوَّلَ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا أَنْ قَالَ لِى: «يَا عَائِشَةُ، احْمَدِى اللَّهَ، فَقَدْ بَرَّأَكِ اللَّهُ». فَقَالَتْ لِى أُمِّى: «قُومِى إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُلْتُ: لا وَاللَّهِ لا أَقُومُ إِلَيْهِ، وَلا أَحْمَدُ إِلاَّ اللَّهَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ﴾ الآيَاتِ. فَلَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ هَذَا فِى بَرَاءَتِى قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رضى الله عنه وَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ لِقَرَابَتِهِ مِنْهُ: وَاللَّهِ لا أُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحٍ شَيْئًا أَبَدًا بَعْدَ مَا قَالَ لِعَائِشَةَ،

فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿وَلا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا﴾ إِلَى قَوْلِهِ ﴿غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: بَلَى وَاللَّهِ إِنِّي لأُحِبُّ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لِي، فَرَجَعَ إِلَى مِسْطَحٍ الَّذِى كَانَ يُجْرِى عَلَيْهِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ عَنْ أَمْرِى فَقَالَ: «يَا زَيْنَبُ، مَا عَلِمْتِ مَا رَأَيْتِ»؟ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحْمِى سَمْعِى وَبَصَرِى، وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا إِلاَّ خَيْرًا، قَالَتْ: وَهِىَ الَّتِى كَانَتْ تُسَامِينِى، فَعَصَمَهَا اللَّهُ بِالْوَرَعِ. (بخاری: ۲٦٦۱)

عائشه رضی الله عنها وايي: د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت دا وو چي کله به ئې د سفر اراده وکړه نو د خپلو مېرمنو تر منځ به ئې پچه واچوله او د چا په نامه چي به پچه وختله هغه به ئې ورسره بېوله؛ په يوې غزا (بني المصطلق بل نوم ئې المُرَيسِيع) کي ئې زموږ تر منځ پچه واچوله چي زما په نامه وختله نو زه ورسره ولاړم؛ دا له هغه وروسته وو چي د حجاب حکم نازل شوی وو؛ زه په کجاوه کي وړل کېدلم او بيا به ئې له همدې کجاوې سره کوزولم؛ نو ولاړو تر هغه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له دې غزا فارغ او بېرته ستون شو او مدينې ته نژدې شوو؛ يوه شپه ئې د کاروان د حرکت ږغ وکړ؛ زه د دوی له اعلان سره سم پاڅېدم او له لښکر آخوا تېره شوم؛ د حاجت له تر سره کولو وروسته خپلې کجاوې ته ستنه شوم، متوجه شوم چي زما هار چي د يماني مرغلرو وو شلېدلی (لوېدلی) دئ؛ نو د خپل هار په لټه کي شوم؛ د هار لټې وځنډولم؛ هغه ډله چي زما کجاوه به ئې پورته کوله راغلې او هغه ئې پورته کړې او زما پر اوښ ئې بار کړې او گمان ئې کړی چي زه په کجاوه کي يم؛ (که عائشه رضي الله عنها راستنه شوې او بېرته د هار په لټه کي گرځېدلې وي نو بيا خو به ټولو دا ليدلې وي چي راغله او بېرته ستنه شوه؛ ولي به ئې تشه کجاوه پر اوښ ايښودله)؛ هغه وخت به د ښځو وزن کم وو؛ غوښې به درنې کړې نه وې؛ لږ خواړه به ئې خوړل؛ نو کله چي ئې کجاوه پورته کړې د هغې سپکوالي ته نه دي

متوجه شوي، هغه مهال ډېره کمعمره وم، دوی اوښ پاڅولی او خوځېدلي، ما خپل آمیل له هغه وروسته وموند چي لښکر روان شوی وو، د کاروان مېني ته راغلم خو هلته نه غږ کوونکی وو او نه ځواب ورکوونکی؛ نو خپل مخکیني ځای ته راغلم، گمان مي کاوو چي دوی به ژر زما په نشتوالي پوه شي او زما لوري ته به راستانه شي؛ نو په داسي حال کي چي ناسته وم سترگي مي ورغلې او ویده شوم، صفوان بن معطل السلمي ذکواني په لښکر پسي له شا راروان وو (رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې دندي گمارلی وو) او سهار زما ځای ته رارسېدلی وو؛ د ویده انسان سیوری ئې تر سترگو شوی وو، زما خوا ته راغلی، زه ئې پېژندلې یم، ځکه د حجاب تر حکم وړاندي ئې زه لیدلې وم، زما په لیدو سره ئې استرجاع وکړه (إنا لله و إنا إلیه راجعون ئې وویل) او په همدې سره زه راویښه شوم؛ ما په خپل جلباب (پړوني) مخ پټ کړ؛ په الله قسم چي نه ئې له ما سره خبره کړې او نه مي له استرجاع پرته له ده بله کلمه اورېدلې؛ تر هغه چي خپل اوښ ئې راوست او په مخکینۍ پښو ئې چو کړ او زه پرې سپره شوم؛ روان شوو، اوښ ئې تر پړي نیولی وو او ترې مخکي روان وو؛ تر هغه چي لښکر ته ورسېدو چي په ټکنده غرمه کي ئې اړولي وو، (همدلته فتنه شروع شوه)؛ څوک چي تباه کېدو هغه تباه شو او چا چي د دې دروغجن تور ذمه په غاړه واخیستله عبدالله بن ابي بن سلول وو، مدینې ته ورسېدو، له رسېدو وروسته زه یوه میاشت ناروغه شوم او خلک د تور لگوونکو په خبري کي بوخت ول، زه له دې ټولو بې خبره وم، خو د خپل مرض په حال کي دې خبري په شک کي اچولم چي دا ځل له رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه لطف او مهرباني نه وینم چي تر دې وړاندي به ئې د مرض په حال کي راباندي درلوده؛ کله چي به راغی سلام به ئې واچاوو او وبه ئې فرمایل: دا څنگه ده؟ بیا به ولاړ؛ دغي خبري په شك کي اچولم؛ خو له افک (دروغجن تور) تر هغه نه وم خبره چي جوړه شوم او راووتم؛ ام مِسْطَح

راسره یو ځای کنډوالو ته ووتلو، دا مو صحرا ته د وتلو ځای وو، موږ به صرف یوه شپه بله شپه وتلو، دا تر هغه د وړاندي وخت خبره ده چي موږ کورونو ته نژدې تشنابونه جوړ کړل؛ صحرا ته تېرېدو کي زموږ حال همغسي وو لکه د پخوانیو بانډه چیانو، موږ به له دې ځورېدو چي کورونو ته نژدې دا کار وکړو، نو زه او ام مسطح سره رواني شوو، (هغه د ابو رهم بن عبد مناف لور او مور ئې د صَخْرِ بْنِ عَامِر لور او د ابو بکر صدیق رضی الله عنه خاله وه، زوی ئې مِسْطَح بن اثاثه وو)، زه او ام مسطح له صحرا بېرته د کور په لوري رارواني شوو، د ام مسطح پښه په خپل ټکري کي بنده شوه او ولوېده او وئې ویل: مسطح دي خوار شي؛ ما ورته وویل: ناوړه خبره دي وکړه، آیا داسي چا ته ښکنځلي کوې چي د بدر غزا کي ئې شرکت کړی؟ هغې راته وویل: اې خواره کۍ! آیا اورېدلي دي نه دي چي څه ئې ویلي؟ وائي: ورته ومي ویل: څه ئې ویلي؟ بیا ئې د افک د خاوندانو خبره راته وکړه، پدې سره مي مرض تر وړاندي زیات شو، نو کله چي کور ته ستنه شوم او رسول الله صلی الله علیه و سلم راغی، سلام ئې راکړ او وئې فرمایل: دا څنګه ده؟ ما ورته وویل: آیا اجازه راکوې چي د مور پلار کره مي ولاړه شم؟ وایي: دغه وخت زما نیت دا وو چي د دې خبري حقیقت له دوی دواړو معلوم کړم، رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه راکړه او زه د پلار کره ولاړم، مور ته مي وویل: مورې! دا خلک څه وایي؟ مور مي وویل: لورې! غم مه کوه؛ په الله تعالی قسم داسي ګلالۍ ښځه به کمه پیدا شي چي خاوند ته هم ګرانه وي او بني هم ولري او بیا دا ډول خبري ورپسي ونه شي، ما وویل: سبحان الله! آیا خلکو داسي خبري کړې دي؟

عائشه رضی الله عنها وایي: هغه شپه مي سهار کړه؛ پرته له دې چي اوښکي مي تم شي او خوب مي سترګو ته راشي، تر هغه چي سهار شو او ما ژړل؛ چي وحي وځنډېده نو رسول الله صلی الله علیه و سلم علي بن ابي طالب رضی الله عنه او اسامه بن زید رضی الله عنه وروغوښتل

او له دوی دواړو سره ئې له خپلې مېرمنې د بېلتون په اړه مشوره کوله، اسامه رضی الله عنه د هغې پوهې له مخې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د اهل د برائت په اړه ئې درلوده او د هغه محبت له کبله چې په خپل زړه کې ئې ورسره درلود؛ وویل: یا رسول الله! هغه (عائشه) رضی الله عنها ستا مېرمن ده، قسم په الله چې موږ له ښېګڼې پرته بل څه ندي ترې لیدلي؛ خو علي بن ابي طالب رضی الله عنه وویل: یا رسول الله! الله تعالی درباندې تنګي نه ده راوستې او له دې پرته نوري ښځې هم ډېرې دي؛ او پدې اړه له وینځې پوښتنه وکړه هغه به رښتیا درته ووايي. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم بریره رضی الله عنها راوغوښته او ورته وئې فرمایل: آیا تا له عائشې رضی الله عنها داسې څه لیدلي چې په شک کې دې واچوي؟ بریره رضی الله عنها وویل: قسم په هغه ذات چې ته ئې په حقه رالېږلی یې ما هیڅ د شک وړ څه ندي ترې لیدلي، له دې پرته مې بل داسې کار نه دئ ترې لیدلی چې هغه کشره نجلۍ ده، د خپلې کورنۍ لامده وړه به پر ځای پرېږدي، ویده به شي، کورنۍ پسه به راشي او هغه به وخوري. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې ورځ پاڅېد او د عبدالله بن ابي بن سلول په اړه ئې شکایت وکړ او په داسې حال کې چې پر منبر وو وئې فرمایل: اې مسلمانانو! د هغه سړي په وړاندې به څوک ما معذور وګڼئ (که په خلاف ئې څه وکړم) چې ما ته ئې زما د کورنۍ په اړه اذیت رارسېدلی؟ قسم په الله تعالی چې ما له خپلې مېرمنې له نېکۍ پرته بل څه ندي لیدلي او دې خلکو په داسې یوه سړي تور لګولی چې ما له خیر پرته بل څه نه دي ترې لیدلي او هغه هیڅکله له ما پرته زما کور ته نه دئ ننوتی.

نو سعد بن معاذ انصاري رضی الله عنه پاڅېد او وئې ویل! یا رسول الله! زه دې له دې سړي بې غمه کوم، که هغه د اوس د قبیلې وي نو سر به ئې غوڅ کړو او که زموږ د ورونو خزرج له قبیلې وي نو هغه څه به ورسره وکړو چې ته ئې د کولو امر راته وکړې؛ پدې خبرو پسې سعد

بن عباده رضی الله عنه چي د خزرج قبیلې سردار او تر دې وړاندې صالح انسان وو خو دلته قومي تعصب پرې غالب شو؛ پاڅېد او سعد بن معاذ رضی الله عنه ته ئې په خطاب کې وویل: دروغ وایې: قسم په الله که ئې ووژنې او داسي کولی هم نه شې؛ دلته اُسید بن حُضیر رضی الله عنه (د سعد بن معاذ د تره زوی) پاڅېد او سعد بن عُباده رضی الله عنه ته ئې وویل: قسم په الله چي ته دروغ وایې؛ په والله چي وژنو به ئې؛ ته منافق یې او د منافقانو ملاتړ کوې؛ په دې سره دواړه قبیلې (اوس او خزرج) سره ببري شوې، نژدې وه چي لاس سره واچوي؛ په داسي حال کي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم پر منبر ولاړ وو، د دوی د آرامولو هڅه ئې کوله؛ تر هغه چي ټول چوپ شول؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هم چوپ شو. ما دا ورځ هم داسي تېره کړه چي نه مي اوښکي ودرېدې او نه مي خوب سترګو ته راغی؛ سهار مي مور او پلار راته راغلل په داسي حال کي چي ما دوې شپې او یوه ورځ ژړلي وو؛ نه مي اوښکي ودرېدلې وې او نه مي خوب سترګو ته راغلی وو؛ داسي مي انګېرله چي له ژړا به مي زړه وچوي. عائشه رضی الله عنها وایي: په داسي حال کي چي مور او پلار مي را سره ناست وو او ما ژړل؛ یوې انصاري مېرمني د ننوتو اجازه وغوښته، ما اجازه ورکړه، هغه راغله او کښېناسته او له ما سره ئې ژړا پیل کړه؛ په همدې حالت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم راغی او کښېناست، له هغي ورځي رادېخوا نه وو راسره کښېنستی چي دا خبري شوې وې، په داسي حال کي چي یوه میاشت تېره شوې وه او زما په اړه کومه وحي نه وه ورته شوې؛ وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له کښېناستو سره سم تشهد ووایو بیا ئې وویل: اې عائشې! ستا په اړه ما ته داسي داسي خبري رارسېدلې دي؛ که چېري ته برئ او بې ګناه یې نو الله تعالی به حتماً تا ته برائت درکړي او که په رښتیا ګناه درنه شوې وي نو له الله تعالی مغفرت وغواړه، توبه وباسه، ځکه بنده چي په ګناه اعتراف وکړي او توبه وباسي الله تعالی ئې

توبه قبلوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم چي خبري خلاصي کړې؛ ناڅاپي مي اوښکي وچي شوې؛ داسي چي یو څاڅکی مي هم نه احساسولو؛ پلار ته مي وویل: زما له خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هغه د وینا ځواب ورکړه! پلار مي وویل: قسم په الله چي زه نه پوهېږم رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څه ووایم؛ بیا مي مور ته وویل: ته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ځواب ورکړه؛ هغې هم وویل: و الله که پوهېږم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څه ووایم؛ عائشه رضی الله عنها زیاتوي: زه لا کشره وم او قرآنکریم مي هم ډېر نه وو لوستی؛ خو عرض مي وکړ: قسم په الله تعالی چي زه دومره پوهېدلې یم چي تاسو هغه خبري اورېدلې دي چي خلک ئې لاندي باندي کوي او همغه خبره ستاسو زړه ته لوېدلې او رښتیا ئې بولئ؛ نو که زه درته ووایم چي زه برئ او بې ګناه یم او خدای عالم دئ چي زه برئ یم؛ خو تاسو به زما دا خبره نه منئ او که په داسي څه اعتراف درته وکړم چي الله شاهد دئ زه ترې پاکه او برئ یم؛ تاسو به ئې منئ؛ قسم په الله تعالی چي زما او ستاسو مثال د یوسف علیه السلام د پلار دئ چي ویلي ئې وو: ((... فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ): نو ښکلی صبر به کوم او له الله په هغه څه کې مرسته غوښتل کېږي چي تاسو ئې بیانوئ) (یوسف:١٨). بیا مي مخ واړاوو او پر خپل بستر پر اړخ پرېوتم او زه ښه پوهېدم چي بې ګناه یم او الله تعالی به مي د برائت او پاکۍ تصدیق کوي؛ خو په الله قسم دا ګمان مي نه کولو چي الله تعالی به زما په اړه داسي وحي (په قرآن کې) نازله کړي چي تل به ئې تلاوت کېږي، ځان تر دې ډېر ووړ راته معلومېدو چي الله تعالی به زما په اړه داسي څه وایي چي تلاوت به ئې کېږي؛ خو دا هیله مي وه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به په خوب کې داسي رؤیا ویني چي الله تعالی به په هغې سره زما د برائت تصدیق وکړي؛ وایي: په الله قسم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم لا له خپل ځای نه وو

خوځېدلی او لا له خوني هيڅوک نه وو وتلی چي پر رسول الله صلی الله عليه و سلم وحي نازله شوه او د تکليف همغه حالت پرې راغی چي د وحي د نزول په مهال به پرې راتلو؛ داسي چي په سړې ورځ کي به داسي خولې پرې راغلې چي د مرغلرو په څېر به څڅېدې؛ د هغې وحي د دروندوالی له کبله چي پر ده به نازلېده؛ او کله چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه حالت لري شو؛ په داسي حال کي ترې لري شو چي خندل ئې او دا ئې لومړنۍ وينا وه: "اې عائشې! الله تعالی برائت درکړ"، مور مي راته وويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ودرېږه؛ ما وويل: قسم په الله که ورته ولتېږم او له الله تعالی پرته د بل هيچا شکر نه کوم، او الله تعالی دا آيتونه نازل کړل: (إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لا تَحْسَبُوهُ ....) ټول لس آيتونه؛ نو کله چي الله تعالی زما د برائت په اړه دا آيتونه نازل کړل؛ پلار مي ابو بکر رضی الله عنه چي تر دې وخته ئې له مسطح بن اثاثه سره د خپلوۍ او د ده د فقر له کبله مرسته کوله؛ وويل: قسم په الله چي له دې وروسته به مسطح ته هيڅ څه نه ورکوم؛ د ده د هغې خبري له کبله چي د عائشې رضی الله عنها په اړه ئې کړې وه؛ نو الله تعالی دا آيت نازل کړ:

"وَلاَ يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ الله ....

او ستاسو فضلمن او وسمن دي له دې لوړه نه کوي چي خپلوانو، مسکينانو او د الله د لاري مهاجرينو ته څه ورکړي؛ او حتماً دي عفو وکړي او مخ دي واړوي (سترګي دي پرې پټي کړي)؛ آيا دا نه خوښوئ چي الله تاسو ته بخښنه وکړي؟ او الله مهربان بخښونکی دئ. النور: ٢٢

نو ابو بکر رضی الله عنه وويل: ولي نه؛ قسم په الله چي دا خوښوم چي الله تعالی مغفرت راته وکړي؛ نو له مسطح سره ئې همغه مرسته بېرته پيل کړه چي تر دې وړاندي ئې ورسره کوله او وئې ويل: و الله

چي هيڅکله به ئې ترې ونه سپموم.

عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له زینب بنت جحش رضی الله عنها هم زما په اړه پوښتنه وکړه او ورته وئې فرمايل: اې زينب! ته له څه خبره يې او څه دي ليدلي دي؟؛ هغې ورته وويل: يا رسول الله! خپل غوږ او سترګي ساتم، ما له نېکي او خير پرته بل څه نه دي ليدلي؛ عائشه رضی الله عنها وايي: او دا همغه مېرمن وه چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په مېرمنو کي ئې له ما سره سيالي او بنتوب کاوو؛ خو الله تعالی هغه د خپلي تقوی له برکته وساتله او خور ئې حمنه چي د دې لپاره جنګېده د هغه څه له کبله تباه شوه چي تور لګوونکي ئې له کبله تباه شول.

دا روايت په بخاري کي اولس (١٧) ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٢٥٩٣، ٢٦٣٧، ٢٦٦١، ٢٦٨٨، ٢٨٧٩، ٤٠٢٥، ٤١٤١، ٤٦٩٠، ٤٧٤٩، ٤٧٥٧، ٥٢١٢، ٦٦٦٢، ٦٦٧٩، ٧٣٦٩، ٧٣٧٠، ٧٥٠٠، ٧٥٤٥

د پورتني روايت په اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

- په دې روايت کي ويل شوي چي ګواکي عائشې رضي الله عنها د صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِي په ليدو سره خپل مخ په جلباب پټ کړی؛ او دا ځکه چي ګواکي تر دې وړاندي د احزاب سوره کي د حجاب حکم نازل شوی وو؛ دلته څو پوښتني راولاړېږي:

الف- د ډېرو محققينو له نظره د بني المصطلق غزوه چي دا پېښه په کي رامنځته شوې؛ د احزاب تر غزوې وړاندي په پنځم هجري کال د شعبان په مياشت کي وه؛ او ځيني ئې په څلورم هجري کال کي بولي؛ د احزاب جګړه د پنځم هجري کال د شوال په مياشت کي وه؛ د احزاب سوره تر دواړو غزواتو وروسته نازله شوې؛ او د حجاب اړوند آيت هم په دغي سوري کي راغلی؛ نو دا ادعاء سمه نه ده چي عائشې رضي الله عنها د حجاب حکم ته په پام سره خپل مخ پټ کړی.

ب- د حجاب په اړوند آيت کي اصلاً د مخ پټولو په اړه هيڅ څه نه مومو؛

حکم مېرمنو ته نه بلکې نارینه وو ته متوجه دیٔ او هغوی ته ویل شوي چې کله د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو څه غواړئ نو د حجاب له شا ئې وغواړئ؛ او دلته د حجاب معنی دقیقاً او فقط دروازه، د دروازې پر سر پرده او دېوال دیٔ نه کومه جامه، ټیکری یا پړونی.

• دا روایت له شپږمې طبقې وروسته راویانو نقل شوی؛ سمه نه ده چې وواېو؛ عائشې رضي الله عنها ویلي؛ محتاطانه وینا دا ده چې وواېو: په شپږمې، اومې، اتمې او نهمې طبقې کې راویانو د دې روایت بېلې بېلې برخې عائشې رضي الله عنها ته منسوب کړې؛ زهري چې دا روایت ئې تنظیم کړی په خپله وایي: راویانو ما ته ویلي: گمان کوو چې عائشې رضي الله عنها به همداسي ویلي وي!!! په راویانو کې ئې داسي هم شته چې علماء رجال ئې یا ضعیف گڼي او یا وایي: غلطېدو. روایات هم داسي چې تر منځ ئې کافي توپیرونه او تعارضات گورو. پر نورو سربېره یو جدي توپیر ئې دا دیٔ چې په ځینو کې د سعد بن معاذ پر ځای د اسید بن حضیر نوم اخیستل شوی او په ځینو کې د دواړو نومونه. دا موضوع له دې کبله د پام وړ ده چې سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په جگړې کې ټپي شوی وو او د بني قریظه په اړه له حکمیت وروسته له همدې ټپ وفات شو؛ که څوك ادعاء کوي چې د بني المصطلق غزوه د احزاب له غزوې وروسته وه؛ ادعاء ئې ځکه ناسمه ده چې دا مهال سعد بن معاذ ژوندی نه وو؛ نو د روایت دا خبره سمه نه ده چې هغه په جومات کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: که تور لگوونکی د اوس له قبیلې وي نو سر به ئې غوڅ کړو.

• په روایت کې ویل شوي چې دا پېښه د حجاب د حکم له نازلېدو وروسته رامنځته شوې، دا خبره ښیي چې گواکې دا پېښه به د احزاب له جگړې وروسته وي؛ حال دا چې بل لوري ته په روایت کې د سعد بن معاذ یادونه شوې چې ښیي پېښه د احزاب تر جنگ وړاندې او هغه مهال وه چې دی لا ژوندی وو!! یعني د دې روایت یوه برخه بله برخه

په بشپړه توګه ردوي؛ او دې ادعاء ته هيڅ مجال نه پرېږدي چې عائشې رضي الله عنها دې د احزاب سورې د کوم آيت له مخې خپل مخ پټ کړی وي.

- د دې روايت ستره ستونزه دا ده چې عائشې رضي الله عنها ته داسې وينا منسوبوي چې د هغې له بل مشهور روايت سره ژور تناقض لري؛ هغه روايت چې د دې د خور اسماء رضي الله عنها په اړه په کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويل: ښځو ته روا نه ده چې له پېلغتوب وروسته ئې له مخ او رغوو پرته د بدن بله برخه ښکاره شي. اصولاً له متناقضو ويناوو او رواياتو يوازې يو غوره کولی شو؛ هغه چې هم د إسنادو له پلوه تر بل غوره وي او هم د متن له پلوه اصح او ارجح؛ دا روايت د هغه په وړاندې هيڅ وزن نه لري؛ د مخ پټولو وينا لپاره نه په قرآن کې ښکاره شاهد مومو او نه تلويحي اشاره؛ اما د قرآن وينا په دې اړه صريح ده چې د مېرمنو مخ په عوراتو کې نه راځي.
- دا هم بايد په پام کې ولرو چې د غاړکۍ شلېدو او ورکېدو په اړه؛ نورو رواياتو کې داسې څه راغلي چې له دې روايت سره ژور توپيرونه لري؛ هلته ويل شوي چې غاړکۍ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په محضر کې ورکه شوې؛ صحابه ئې ګمارلي چې هغه ولټوي؛ کاروان د همدې لپاره ځنډېدلی؛ خلکو ابو بکر رضي الله عنه ته شکايت کړی چې ستا لور په داسې ځای کې وځنډولو چې اوبه نه شته؛ غاړکۍ تر اوښ لاندې پيدا شوې؛ او همدلته د تيمم آيت نازل شوی. (سبب نزول فرض التيمم هو ما وقع لعائشة رضي الله عنها في غزوة بني المصطلق (المريسيع) حينما أضاعت عقدها، وحان وقت الصلاة وليس معهم ماء، فنزلت آية التيمم).

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا اسْتَعَارَتْ مِنْ أَسْمَاءَ قِلَادَةً فَهَلَكَتْ، «فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي طَلَبِهَا، فَأَدْرَكَتْهُمُ الصَّلَاةُ، فَصَلَّوْا بِغَيْرِ وُضُوءٍ، فَلَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَكَوْا ذَلِكَ إِلَيْهِ، فَنَزَلَتْ

آيَةُ التَّيَمُّمِ» فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ: «جَزَاكِ اللهُ خَيْرًا، فَوَاللهِ مَا نَزَلَ بِكِ أَمْرٌ قَطُّ، إِلَّا جَعَلَ اللهُ لَكِ مِنْهُ مَخْرَجًا وَجَعَلَ لِلْمُسْلِمِينَ فِيهِ بَرَكَةً» (مسلم : ٣٦٧)

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي له اسماء ئې يوه غاړکۍ په عاريت واخستله؛ چي ورکه شوه؛ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له خپلو يارانو څو تنه ولېږل چي وئې لټوي؛ د لمانځه وخت پرې راغی؛ له اوداسه پرته ئې لمونځ وکړ؛ کله چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلل د دې شکايت ئې وکړ؛ نو د تيمم اړوند آيت نازل شو؛ نو اسيد بن حضير وويل: الله دي تا ته اې عائشې خير درکړي؛ هيڅ څه نه دي دربانديې راغلي مگر دا چي الله درته د وتلو لار پرانستې او مسلمانانو ته ئې په کي برکت ايښی. بيا عائشې وويل: کله چي مو هغه اوښ پاڅولو چي زه پرې سپره وم؛ غاړکۍ مو ترې لاندي وموندله: فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ فَوَجَدْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ.

دا روايت د بخاري او مسلم په شمول په ټولو کتابونو کي راغلی؛ له هر پلوه د زهري تر روايت دقيق او معتبر دئ.

دا هم يوه مهمه پوښتنه ده چي ځواب ايجابوي: اودس کله فرض شوی؟ په مدينه که په مکه کي؛ او د لمانځه له فرضېدو سره يو ځای؟ دوه ځوابونه درلودی شو: ۱- له لمانځه سره سم اودس هم فرض شوی؛ لمونځ د مکي دور په پيل کي فرض شوی؛ اودس هم ورسره متصل؛ نو اړوند آيت به ئې هم هغه مهال نازل شوی وي؛ خو د المائده سورې له نازلېدو وروسته؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د وحي کاتبانو ته ويلي چي دا آيت د سورې په کوم ځای کي کښېږدي. ۲- لمونځ او اودس د ابراهيم عليه السلام له زمانې فرض وو؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل جد په متابعت کي عمل پرې کړی؛ د آيتونو په نازلېدو سره ئې تفصيلات بيان شوي. بيهقي روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د

اوداسه اوبه وغوښتلې؛ نو يو يو ځل ئې د اوداسه غړي ومينځل او وئې فرمايل: دا هغه اودس دئ چي له هغه پرته الله تعالى لمونځ نه قبلوي؛ بيا ئې دوه دوه ځلي ومينځل او وئې فرمايل: دا د هغه چا اودس دئ چي دوه ځلي به اجر ورکړی شي؛ بيا ئې درې درې ځلي ومينځل او وئې فرمايل: دا زما او تر ما وړاندي انبياءو اودس دئ.

عَن عَبدِ اللهِ بن عُمَرَ، قَالَ: دَعَا النَّبِيُّ صَلى الله عَلَيهِ وَسَلمَ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَاحِدَةً وَاحِدَةً فَقَالَ: هَذَا وُضوءٌ لاَ يَقْبَلُ اللهُ الصَّلاَةَ إِلاَّ بِهِ. ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، فَقَالَ: هَذَا وُضوءُ مَنْ يُؤْتَى أَجْرَهُ مَرَّتَيْنِ. ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ، فَتَوَضَّأَ ثَلاَثًا ثَلاَثًا فَقَالَ: هَذَا وُضُوئِي وَوُضُوءُ الأَنْبِيَاءِ قَبْلِي. سنن الكبرى للبيهقى.

ما ته لومړی رأی غوره برېښي؛ ځکه قرآن د لمانځه په څنګ کې د اودس او غسل يادونه په دې توګه کوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُباً فَاطَّهَّرُوا... ﴿٦﴾ المائده

اې مؤمنانو! کله چي لمانځه ته پاڅئ؛ نو مخونه او دواړه لاسونه مو تر څنګلو ومينځئ او پر خپل سر مسح وکړئ او پښې مو هم تر ښېديو؛ او که جنب وئ نو ښه ځان پاك کړئ...

د آيت دا برخه به د لمانځه له فرضېدو سره متصل نازله شوې وي؛ او د تيمم برخه ئې د المائده سورې په ضمن کې او د بني المصطلق غزوې په دوران کې؛ دا همغسې ده لکه د تهجد په اړه چي د المزمل په سوره کې ئې يادونه شوې: او ويل شوي: دوه ثلثه د شپې، نيمائي او درېيمه ئې ورته مختص کړئ؛ د مزمل سوره د مکي دور په لومړيو کې نازله شوې؛

خو په مدينه کې او د جهاد له فرضېدو وروسته په تهجد کې تخفيف راغی؛ اړوند آيت ئې دغه مهال نازل شو؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: دا آيت د مزمل په سوره کې شامل کړئ. د اودس له اړوند آيت سره هم؛ همداسي شوي.

د بخاري دا درې روايات د زهري له روايت سره په بشپړه توګه تعارض لري:

٣٣٤ - عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِذَاتِ الجَيْشِ انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، فَأَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى التِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، فَقَالُوا: أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ؟ أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسِ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ، فَقَالَ: حَبَسْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسَ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ: مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، فَلاَ يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي، «فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا»، فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الحُضَيْرِ: مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: فَبَعَثْنَا البَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ، فَأَصَبْنَا العِقْدَ تَحْتَهُ. البخاری: ٣٣٤

٣٦٧٢ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ»، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ، أَوْ بِذَاتِ الجَيْشِ، انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، فَأَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى التِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَأَتَى النَّاسُ أَبَا بَكْرٍ فَقَالُوا: أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ؟ أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِالنَّاسِ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ؟ فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ «وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ»، فَقَالَ: حَبَسْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسَ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، قَالَتْ: فَعَاتَبَنِي، وَقَالَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، «فَلاَ يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا» فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الحُضَيْرِ: مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ، فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَبَعَثْنَا البَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ، فَوَجَدْنَا العِقْدَ تَحْتَهُ.

بخاری: ٣٦٧٢

٤٦٠٧ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ، أَوْ بِذَاتِ الجَيْشِ، انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، فَأَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى التِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَأَتَى [ص:٥١] النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، فَقَالُوا: أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ، أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِالنَّاسِ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ؟ فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ

رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ، فَقَالَ: حَبَسْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسَ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ: مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، وَلاَ يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ «فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا» فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ: مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: فَبَعَثْنَا البَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ فَإِذَا العِقْدُ تَحْتَهُ. بخاری: ٤٦٠٧

او د مسلم روایت دا دئ:

١٠٨ - (٣٦٧) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ - أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ - انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، «فَأَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْتِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ»، فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالُوا: أَلَا تَرَى إِلَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ؟ «أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِالنَّاسِ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ»، فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ " وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ، فَقَالَ: حَبَسْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسَ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ «، قَالَتْ فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعُنُ بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي،» فَلَا يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي، فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى

أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ، فَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا " فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الْحُضَيْرِ: - وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ - «مَا هِىَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِى بَكْرٍ» فَقَالَتْ عَائِشَةُ: «فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِى كُنْتُ عَلَيْهِ فَوَجَدْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ»

له دې رواياتو په څرګنده توګه معلومېږي چې د زهري روايت هيڅ اعتبار نه لري؛ خو متأسفانه امام بخاري رحمه الله دواړه متعارض روايات راوړي پرته له دې چې ووايي کوم يو ئې د سند او متن له پلوه ارجح او اصح دئ.

## ٥ باب: د يوه تن لپاره د يوه سړي تزکيه کافي ده

١١٨٠ـ عَنْ أَبِى بَكْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: أَثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، فَقَالَ: «وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ، قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ» مِرَارًا ثُمَّ قَالَ: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا أَخَاهُ لا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ: أَحْسِبُ فُلانًا وَاللَّهُ حَسِيبُهُ، وَلا أُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا، أَحْسِبُهُ كَذَا وَكَذَا إِنْ كَانَ يَعْلَمُ ذَلِكَ مِنْهُ». (بخارى: ٢٦٦٢)

١١٨٠ – له ابو بكرة رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: يوه سړي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په وړاندې د بل سړي ستاينه وکړه؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ((افسوس پر تا؛ د خپل ورور غاړه دې غوڅه کړه؛ د خپل ورور غاړه دې غوڅه کړه))؛ څو ځله ئې وويل؛ بيا ئې وفرمايل: ((که له تاسو څوک حتمي غواړي د خپل ورور ستاينه وکړي؛ نو ودې وايي: زه ئې داسې ګڼم؛ الله تعالی ورته کافي دئ؛ محاسبه کوونکی خو ئې الله تعالی دئ؛ او زه د الله تعالی په وړاندې د هيچا تزکيه نه کوم؛ زه ئې داسې او داسې انګېرم؛ که پوهېږي چې همدا په کې شته)).

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلې په دغو شمېرو راغلی؛ غريب دئ؛ په

٣ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: خَالِد الحَذَّاء، عَبْد الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَکْرَة او پلار ئې ابي بکرة؛ یوازې په بخاري، مسلم او شُعَب الایمان کې له همدې متن او سند سره راغلی. د باب او روایت تر منځ مناسبت هم واضح نه دئ؛ که تزکیه د شهادت په معنی هم ونیسو؛ نو په روایت کې دا نه مومو چې د یوه کس تزکیه کافي ده. په صحیح مسلم که دا روایت تر دې باب لاندې راوړل شوی: بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْمَدْحِ، إِذَا كَانَ فِيهِ إِفْرَاطٌ وَخِيفَ مِنْهُ فِتْنَةٌ عَلَى الْمَمْدُوحِ: له مدح اَو ستاینې نهي؛ که په هغې که افراط وي او دا ویره چې د ستایل شوي لپاره به فتنه شي؛ یعنې د کبر او غرور باعث به ئې شي. دا مناسب باب دئ.

## ٦ باب: د ماشومانو بلوغ او شاهدي ئې

١١٨١ـ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَلَمْ يُجِزْنِي، ثُمَّ عَرَضَنِي يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَنِي. (بخارى: ٢٦٦٤)

١١٨١ – له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د احد په ورځ چې څوارلس کلن وم؛ وکتلم او اجازه ئې رانه کړه؛ بیا ئې د خندق په ورځ چې پنځلس کلن وم؛ وکتلم او اجازه ئې راکړه)).

یعنې د احد غزوې په ورځ زه څوارلس کلن وم او رسول الله صلی الله علیه و سلم ما ته په جنګ کې د ګډون اجازه رانګړه؛ خو د خندق په جنګ کې پنځلس کلن وم نو په جګړه کې ئې د ګډون اجازه راکړه. خو دا مطلب توجه او دقت ایجابوي چې د احد او خندق جګړو تر منځ یو کال نه بلکې دوه کاله توپیر وو؛ د احد غزوه په درییم هجري کال د شوال میاشتې په اومه وه او د خندق جګړه د پنځم هجري کال په شوال کې وه؛ نو ابن عمر به دا مهال ١٦ کلن وو.

دا روایت په بخاري کې ٢ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ٢٦٦٤ - ٤٠٩٧ – غریب دئ؛ په ٣ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عُبَيْدُ اللَّهِ، نَافِع او ابْن عُمَر

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: په ځينو نورو کتابونو لکه سنن ابي داؤد او مسند احمد کې هم له همدې سند او متن سره راغلی.

په روایت کې دا لارښوونه شوې چې د مؤمنانو مشران باید جنګ ته د تګ په مهال خپل مجاهدين له نظره تېر کړي او کم عمر ماشومان پرېښږدي جنګ کې برخه واخلي.

## ۷ باب: په قسم کي يو له بله وړاندي کېدل

۱۱۸۲ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَ عَلَى قَوْمٍ الْيَمِينَ فَأَسْرَعُوا، فَأَمَرَ أَنْ يُسْهَمَ بَيْنَهُمْ فِي الْيَمِينِ أَيُّهُمْ يَحْلِفُ. (بخارى: ٢٦٧٤).

۱۱۸۲ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه قوم ته د لوړي کولو وينا وکړه؛ نو په تلوار سره چمتو شول؛ بيا ئې امر وکړ چي په خپل منځ کې د قسم په اړه پچه واچوي چي کوم يو به ئې کوي).

دا د روایت دقيقه ژباړه ده؛ خو باور لرم چي نه تاسو واضح مطلب ترې اخستی شئ او نه بل څوك. يوازي له ځينو تقديرونو او د څه مطالبو له علاوه کولو وروسته پرې پوهېدی شئ؛ دلته له قوم مراد دوه تنه دي؛ دوی په خپلو منځونو کې د داسي شي په اړه شخړه کړې وه چي د دريېم کس په واك کې وه؛ هر يوه ئې د ځان ګڼله؛ يوه ئې هم شاهد نه درلود؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ترې غوښتي چي لوړه وکړي؛ دواړه لوړي ته چمتو شوي؛ نو بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم دواړو ته ويلي چي اوس به بچه اچوئ؛ د چا په نامه چي پچه وختله؛ هغه به لوړه کوي؛ دوهم به شاهد وړاندي کوي؛ که نه نو دا مال به د هغه بل وي.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو

يو راوي لري چي دا دي: إِسْحَاق بْن نَصْر، عَبْدُ الرَّزَّاق، مَعْمَر، هَمَّام او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري پرته په بل كتاب كې نه دئ راغلی.

دې ته ورته بل روايت داسي دئ:

١٤٢٧- وعَنْ أَبِى مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رضى الله تعالى عنه: أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَابَّةٍ، ولَيْسَ لِوَاحِدٍ مِنْهُ بَيِّنَةٌ، فَقَضَى بِهَا رَسُولُ اللّهِ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وأَبُو دَاوُدَ، والنَّسَائِيُّ، وهَذَا لَفْظُهُ، وقَالَ: إِسْنَادُهُ جَيِّدٌ.

له ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت دئ چي دوو سړيو د يوه ځاروي په اړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته خپله شخړه وړاندي كړه؛ په داسي حال كې چي له يوه سره ئې هم شاهد نه وو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د دوی تر منځ د نيمايي نيمايي پرېكړه وكړه.

د دغو دواړو رواياتو تر منځ تعارض ګورو؛ په يوه كې دواړو ته قسم راجع شوی؛ پچه اچول شوې؛ مال هغه چا ته وركړی شوی چي لوړه ئې كړې؛ خو په بل كې اوښ د دواړو تر منځ نيمايي شوی. بخاري يوه ته ترجيح وركړې او احمد، ابو داؤد او نسائي بل ته.

كه مال د يوه لاس كې وي او مدعي شاهد ونه لري؛ د همغه چا حق ګڼل كېږي چي مال ئې په واك كې دئ.

## ٨ باب: د قسم څرنګوالی

١١٨٣ـ عَنْ عَبْدِاللّهِ بنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللّهِ أَوْ لِيَصْمُتْ». (بخارى: ٢٦٧٩)

١١٨٣- له ابن عمر ( رضي الله عنهما ) روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((كه څوک غواړي قسم وخوري؛ نو په الله تعالى دي قسم يادوي او يا دي چوپ اوسي)).

دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۲۶۷۹ - ٦٦٤٦ - غریب دئ؛ په ۲ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: نَافِع او عَبْدِ اللَّهِ بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما؛ توپیر ئې دا دئ چې په دوهم کې دا هم راغلي: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَدْرَكَ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ، وَهُوَ يَسِيرُ فِي رَكْبٍ، يَحْلِفُ بِأَبِيهِ، فَقَالَ: «أَلاَ إِنَّ اللَّهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ: رسول الله صلی الله علیه و سلم عمر بن الخطاب په داسې حال کې وموند چې په کاروان کې روان وو؛ د خپل پلار په نامه ئې لوړه کوله؛ وئې فرمایل: پام چې یقیناً الله تعالی تاسو پر خپلو پلرونو له لوړې منع کړي يئ.

## ۹ باب: هغه دروغجن نه دئ چې د خلکو تر منځ سوله کوي

١١٨٤ـ عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ رضى الله عنها: أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِى يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِى خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا» (بخارى: ٢٦٩٢)

١١٨٤ – له ام کُلثوم بنت عُقبه رضي الله عنها روایت دئ چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې اورېدلي چې فرمایل ئې: ((هغه دروغجن نه دئ چې د خلکو تر منځ سوله کوي؛ نو خیر رسوي یا د خیر خبره کوي)).

یعني که څوك د روغې جوړې په موخه؛ دروغ ووایي؛ کوم د خیر کار وکړي یا د خیر خبره؛ نو دروغجن نه ګڼل کېږي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: ابْنِ شِهَاب، حُمَيْد بْن عَبْدِ الرَّحْمَنِ، او مور ئې أُم كُلْثُوم بِنْت عُقْبَة؛ د مسلم په شمول په ځینو نورو کتابونو کې هم له همدې متن او سند سره راغلی.

## ۱۰ باب: د امام وینا خپلو یارانو ته چي موږ بوځئ سوله وکړو

۱۱۸۵ـ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رضی الله عنه: أَنَّ أَهْلَ قُبَاءٍ اقْتَتَلُوا حَتَّى تَرَامَوْا بِالْحِجَارَةِ، فَأُخْبِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ، فَقَالَ: «اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ بَيْنَهُمْ». (بخاری: ۲۶۹۳)

۱۱۸۵ - له سهل بن سعد رضي الله عنه روایت دئ چي د قُباء اوسیدونکو جګړه وکړه؛ تر دې چي یو بل ئې په تیږو وویشتل؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې اطلاع ورکړی شوه؛ نو وئې فرمایل: ((موږ بوځئ چي تر منځ ئې صلحه وکړو)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۳ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن جَعْفَر، أَبو حَازِم او سَهْلِ بْنِ سَعْد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري پرته په بل کتاب کي نه دئ راوړل شوی.

## ۱۱ باب: څنګه به لیکل کیږي؛ دا هغه څه دي چي فلاني د فلاني زوی پرې صلح کړې.

تر دې باب لاندي د حدیبیې صلحي اړوند یو روایت راوړل شوی؛ خو په باب کي دا مهمه موضوع نه مومو؛ مناسب باب دا وو: د حدیبیې د سولي تړون څنګه وو؟

۱۱۸۶ـ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضی الله عنه قَالَ: اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِی الْقَعْدَةِ، فَأَبَى أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يَدَعُوهُ يَدْخُلُ مَكَّةَ حَتَّى قَاضَاهُمْ عَلَى أَنْ يُقِيمَ بِهَا ثَلاثَةَ أَيَّامٍ، فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا: هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، فَقَالُوا: لا نُقِرُّ بِهَا فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ، لَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ، قَالَ: «أَنَا رَسُولُ اللَّهِ، وَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ». ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ: «امْحُ: رَسُولُ اللَّهِ» قَالَ: لا وَاللَّهِ، لا أَمْحُوكَ أَبَدًا.

فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِتَابَ، فَكَتَبَ: «هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ لا يَدْخُلُ مَكَّةَ سِلاحٌ إِلَّا فِي الْقِرَابِ، وَأَنْ لا يَخْرُجَ مِنْ أَهْلِهَا بِأَحَدٍ، إِنْ أَرَادَ أَنْ يَتَّبِعَهُ، وَأَنْ لا يَمْنَعَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِهِ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ بِهَا». فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الأَجَلُ أَتَوْا عَلِيًّا فَقَالُوا: قُلْ لِصَاحِبِكَ اخْرُجْ عَنَّا فَقَدْ مَضَى الأَجَلُ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبِعَتْهُمُ ابْنَةُ حَمْزَةَ: يَا عَمِّ يَا عَمِّ، فَتَنَاوَلَهَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رضى الله عنه فَأَخَذَ بِيَدِهَا وَقَالَ لِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلام: دُونَكِ ابْنَةَ عَمِّكِ، حَمَلَتْهَا فَاخْتَصَمَ فِيهَا عَلِيٌّ وَزَيْدٌ وَجَعْفَرٌ، فَقَالَ عَلِيٌّ: أَنَا أَحَقُّ بِهَا وَهِيَ ابْنَةُ عَمِّي، وَقَالَ جَعْفَرٌ: ابْنَةُ عَمِّي وَخَالَتُهَا تَحْتِي، وَقَالَ زَيْدٌ: ابْنَةُ أَخِي، فَقَضَى بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَالَتِهَا وَقَالَ: «الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الأُمِّ» وَقَالَ لِعَلِيٍّ: «أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْكَ» وَقَالَ لِجَعْفَرٍ: «أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي» وَقَالَ لِزَيْدٍ: «أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلانَا». (بخارى: ۲۷۰۰)

۱۱۸۶ – له براء بن عازب رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په ذي القعده کي د عمرې نیت وکړ؛ خو د مکې اوسیدونکو اجازه ورنه کړه چي مکې ته داخل شي؛ تر هغه چي پرېکړه ئې ورسره وکړه؛ درې ورځي به په کي پاته کېږي؛ کله چي ئې د صلح تړون ولیکلو؛ داسي ئې ولیکلو: دا هغه تړون دئ چي محمد رسول الله پرې موافقه وکړه؛ مشرکینو وویل: موږ پرې اقرار نه کوو؛ که موږ پوهېدی چي ته د الله رسول یې؛ نو بیا خو مو نه منع کولې؛ خو ته محمد د عبد الله زوی یې؛ وئې فرمایل: ((زه د الله رسول یم او زه محمد بن عبدالله یم؛)) بیا ئې علي ته وویل: ((رسول الله؛ حذف کړه)) علی وویل: نه؛ والله چي هیڅکله به تا حذف نه کړم؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم لیک واخیست او وئې لیکل: «دا هغه څه دي چي

محمد بن عبد الله پرې موافقه کړې؛ مکې ته هيڅ وسله نه داخلېږي مگر دا چې په تېکي کې به وي؛ او د مکې له اوسېدونکو به هيڅوك له ځان سره نه باسي؛ که ئې غوښتل چې د ده متابعت وکړي او ورسره ووځي؛ او دا چې د خپلو يارانو د هيچا ممانعت به نه کوي که ئې غوښتل په مکه کې پاته شي؛ کله چې مکې ته داخل شول او نېټه بشپړه شوه؛ علي ته ورغلل او وئې ويل: ملگري ته دي ووايه چې له موږ ووځي؛ موده پوره شوه؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم ووتلو؛ بيا د حمزه لور ورپسې شوه او ويل ئې: اې تره! اې تره! نو علي بن ابي طالب؛ ومونډله؛ تر لاس ئې ونيوله؛ او فاطمې (عليها السلام) ته ئې وويل: د تره لور دي درسره پورته کړه؛ نو سپره ئې کړه؛ راوي وايي: بيا د علي، زيد او جعفر رضي الله عنهم؛ تر منځ د دې په اړه اختلاف راولاړ شو؛ علي وويل: زه ئې زيات مستحق يم؛ ځکه زما د تره لور ده؛ جعفر وويل: زما د تره لور ده او خاله ئې زما مېرمن ده؛ او زيد وويل: زما وربېره ده؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم د نجلۍ په اړه فيصله وکړه چې له ترور سره دې وي او وئې فرمايل: «خاله د مور په شان وي» او علي ته ئې وفرمايل: ((ته زما او زه ستا يم))؛ جعفر ته ئې وفرمايل: ((ته په صورت او جوړښت کې او په اخلاقو او سيرت کې له ما سره شباهت لرې)) او زيد ته ئې وفرمايل: ((ته زموږ ورور او زموږ سالار يې))؛ زيد له حمزه رضي الله عنه سره د ورورۍ تړون درلود.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عُبَيْد اللَّهِ بْن مُوسَى، اِسْرَائِيل، أَبو إِسْحَاق او بَرَاءِ بْنِ عَازِب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري پرته په بل کتاب کې نه دئ راغلی؛ ښايي وجه ئې دا وي چې د روايت په متن کې ځيني برخي داسي دي چې نورو محدثينو همدې ته په پام سره؛ په خپلو کتابونو کې نه دئ راوړی؛ لکه دا:

په روايت کې ويل شوی؛ کله چې علی رضي الله عنه د (رسول الله)

له حذفولو ډډه وکړه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم لیك واخست او په خپله ئې هغه حذف کړ او بیا ئې ولیکل...؛ له دې داسې معلومېږي چې پاته ټول متن ده په خپله لیکلی؛ په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ژوند تر پایه هیڅکله لیکنه نه ده کړې؛ قرآن په دې اړه فرمایي:

وَمَا كُنْتَ تَتْلُو مِنْ قَبْلِهِ مِنْ كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لَارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ﴿٤٨﴾ العنکبوت

او ته داسې نه وې چې تر دې وړاندې دې کوم کتاب لوستلو او نه دې هغه په خپل ښي لاس لیکلو، په هغه صورت کې به باطلپال په شك کې پرېوتي ول، بلکې دا د هغو په سینو کې د څرګندو آیتونو مجموعه ده چې علم ورکړی شوی؛ او زما له آیتونو یوازې ظالمان انکار کوي.

دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې ته تر دې وړاندې په لیك لوست نه پوهېدې، که په لیك لوست پوهېدی نو د باطل پلویان به په شك کې لوېدلي وو او دا ادعاء به ئې کوله چې دا قرآن تا په خپله لیکلی، خو ستا د ټولني فرد فرد ته معلومه ده چې تا نه تر دې وړاندې کوم کتاب لوستی او نه دې په خپل لاس کوم لیك لیکلی، خو سره له دې دې داسې کتاب وړاندې کړی چې نه له علمي پلوه د نړۍ کوم دیني یا غیر دیني کتاب له هغه سره سیالي کولی شي او نه له ادبي پلوه، د علم او پوهې خاوندان دا کتاب له څرګندو نښو، واضح لارښوونو او معجزو ډك کتاب ګڼي او له همدې کبله پر تا د یوه پیغمبر په توګه او پر دې کتاب د یوه الهي کتاب په توګه ایمان راوړي. یوازې هغه څوك به له دې حقیقت انکار کوي چې ډېر ظالم وي. یعني نه د حقیقي علم خاوند له دې قرآن انکار کولی شي او نه د انصاف خاوند، یوازي ناپوه او په خپلو قضاوتونو کې ډېر ظالم انسان به قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب نه ګڼي او له څرګندو آیتونو به ئې انکار کوي.

ځینو نورو د دې څرګند او صریح آیت په خلاف دا هڅه کړې چي ثابته کړي رسول الله صلی الله علیه و سلم په لیك لوست پوهېدو، دا په داسي حال کې چي نه یوازي دا آیت بلکې د قرآن نور آیتونه هم د دې شهادت ورکوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم امي وو او په لیك لوست نه پوهېدو؛ او همدا د ده د رسالت د اثبات یوه بله ستره نښه ګڼل کېږي. عجیبه ده؛ ځیني چي په ړانده تعصب اخته دي او په هیڅ توګه نه تري تېرېږي؛ دا څرګند آیتونه له پامه غورځوي او د دې په مقابل کې د بخاري یوه غریب روایت ته ترجیح ورکوي. راشئ وګورو چي د بخاري دا روایت څومره وزن لري او د اعتناء او اعتبار وړ ګڼل کېدی شي؟! په دې اړه د بخاري بل روایت چي همدا خبره کوي؛ داسي دئ:

عن الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رضی الله عنهما قَالَ لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِيٌّ بَيْنَهُمْ كِتَابًا فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لاَ تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، لَوْ كُنْتَ رَسُولاً لَمْ نُقَاتِلْكَ . فَقَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُهُ »؛ فَقَالَ عَلِيٌّ مَا أَنَا بِالَّذِى أَمْحَاهُ . فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، وَصَالَحَهُمْ عَلَى أَنْ يَدْخُلَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، وَلاَ يَدْخُلُوهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ، فَسَأَلُوهُ مَا جُلُبَّانُ السِّلاَحِ فَقَالَ الْقِرَابُ بِمَا فِيهِ . البخاری

له براء بن عازب رضی الله عنهما روایت دئ چي وایي: کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له حدیبیه والو سره مصالحه وکړه نو علي رضی الله عنه د دوی تر منځ (د معاهدې سند) ولیکلو، په هغه کې ئې محمد رسول الله ولیکل، نو قریشو وویل: محمد رسول الله مه لیکه، که ته کوم پیغمبر وی نو موږ به نه وو درسره جنګېدلي، نو علي رضی الله عنه ته ئې وویل: حذف ئې کړه، علي رضی الله عنه وویل: زه ئې حذفوونکی نه یم، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل لاس هغه

حذف كړ، بيا ئې پر دې ورسره روغه جوړه وكړه چې دى او ياران به ئې د دريو ورځو لپاره (مكې) ته ننوځي؛ او نه به ننوځي مگر داسې چې د وسلې له جلبان سره به وي، پوښتنه ترې وشوه چې د وسلې جلبان څه دي؟ وئې ويل: تېكي او څه چې په هغه كې وي (يعني توري له تېكو سره).

دا روايت چې په بخاري كې شپږ ځلي نور هم په دغو شمېرو ١٧٨١، ١٨٤٤، ٢٦٩٩، ٢٧٠٠، ٣١٨٤، ٤٢٥١. راغلى، د سند له مخې مطلق غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو كې يو يو راوي لري، د متن له مخې څو ستونزي لري: لومړۍ ستونزه ئې دا ده چې د روايت له الفاظو داسې معلومېږي لكه چې قريشو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په همدې سفر كې مكې ته د ننوتلو او عمرې اجازه وركړې وي؛ حال دا چې په معاهده كې راغلي وو چې په راتلونكي كال كې به د عمرې لپاره راځي، بله ستونزه ئې دا ده چې د مصالحې بل لورى د حديبيه والو په نامه ياد شوي، حال دا چې دوى مكه وال وو نه حديبيه وال، ستره ستونزه ئې دا ده چې د بخاري له نورو رواياتو سره جدي توپيرونه لري، توپيرونه دا دي: په يوه كې لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِيٌّ بَيْنَهُمْ كِتَابًا فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم راغلي خو په بل كې فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم، په بل كې صَالَحَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلاَثَةِ أَشْيَاءَ په بل كې فَأَخَذَ يَكْتُبُ الشَّرْطَ بَيْنَهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ او په بل كې فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا، هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ راغلي، په يوه كې فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لاَ تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، لَوْ كُنْتَ رَسُولاً لَمْ نُقَاتِلْكَ په بل كې فَقَالُوا لاَ نُقِرُّ بِهَا، فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ لَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ په بل كې فَقَالُوا لَوْ عَلِمْنَا أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ لَمْ نَمْنَعْكَ وَلَبَايَعْنَاكَ په بل كې قَالُوا لاَ نُقِرُّ بِهَذَا، لَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ

اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ شَيْئًا، وَلَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ په يوه کې فَقَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُهُ »، فَقَالَ عَلِيٌّ مَا أَنَا بِالَّذِى أَمْحَاهُ . فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ په بل کې ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُ رَسُولُ اللَّهِ » . قَالَ لاَ، وَاللَّهِ لاَ أَمْحُوكَ أَبَدًا، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِتَابَ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، په بل کې فَقَالَ لِعَلِيٍّ «امْحُ رَسُولَ اللَّهِ » . فَقَالَ عَلِيٌّ وَاللَّهِ لاَ أَمْحَاهُ أَبَدًا . قَالَ « فَأَرِنِيهِ » . قَالَ فَأَرَاهُ إِيَّاهُ، فَمَحَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، په بل کې ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُ رَسُولَ اللَّهِ » . قَالَ عَلِيٌّ لاَ وَاللَّهِ لاَ أَمْحُوكَ أَبَدًا . فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِتَابَ، وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ راغلي. دا دئ گورئ چي په بخاري کې د يوې پېښې په ارتباط اوه روايات راغلي چي تر منځ ئې دومره توپيرونه دي چي له ځينو داسي برېښي لکه چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يو تکړه ليکوال وو، نه يوازي دا چي د معاهدې له متنه ئې د (رسول الله) فقره حذف کړې بلکي بيا ئې خپل نوم ليکلی او د معاهدې متن ئې بشپړ کړی؛ او له ځينو ئې داسي برېښي لکه چي يوازي دا الفاظ ئې حذف کړي او هغه هم علي رضی الله عنه يا بل چا ورښودلي!! آيا صحيح ده چي په داسي غريب روايت استناد وشي او هغه خبره ترې راووځي چي د قرآن له ګڼ شمېر واضح آيتونو سره تعارض لري؟! مستشرقين په همداسي کمزورو رواياتو د خپلو دروغجنو ادعاءګانو د اثبات لپاره استناد کوي او وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په ليك لوست پوهېدو او د قرآن مطالب ئې له مخکينيو کتابونو اقتباس کړي!! عجيبه ده چي زموږ ځيني په خپله د دوی تبر ته لاستي برابروي او د بې علمو خلکو د غولولو مجال په لاس ورکوي!!

په روايت کې دا هم يوه متنازع فيه موضوع ده چي د فاطمې له نامه سره عليها السلام ليکل شوي؛ اهل سنت په مجموع کې د صحابي لپاره رضي الله عنه او د پيغمبر لپاره عليه السلام ليکي؛ د قرآن آيتونو ته

په پام سره دا کار کوي؛ قرآن د مهاجرينو او انصارو په اړه فرمايي:

وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾ التوبة

او د مهاجرينو او انصارو لومړني سبقت کوونکي او هغه چې په غوره توګه ئې د دوی متابعت کړی؛ الله ترې راضي شوی او دوی ترې راضي شوي او داسي جنتونه ئې ورته تيار کړي چې ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، همدا ستره بريا ده.

د پيغمبرانو په اړه فرمايي:

وَسَلامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ الصافات

او سلام پر پيغمبرانو

سلام على نوح، سلام على ابراهيم، سلام على موسى و هارون، سلام على ال ياسين

د رسول الله په اړه فرمايي:

إِنَّ اللَّهَ وَمَلائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾ الأحزاب

يقيناً چې الله او فرشتې ئې پر نبي درود وايئ؛ اې مؤمنانو! پر هغه درود ووايئ او په خاص سلام سره پرې سلام وايئ.

## ١٢ باب: حسن رضي الله عنه ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا قول چې ((إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ))

١١٨٧ـ عَن أَبِي بَكْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ إِلَى جَنْبِهِ وَهُوَ يُقْبِلُ عَلَى النَّاسِ مَرَّةً وَعَلَيْهِ

أُخْرَى وَيَقُولُ: «إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ وَلَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ». (بخاری: ۲۷۰٤)

١١٨٧ - له ابو بکره رضي الله عنه روایت دئ چي وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم مي پر منبر لیدلی چي حسن رضي الله عنه هم خوا کي ورسره وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم به یو ځل خلکو او بیا حسن رضي الله عنه ته کتل او فرمایل ئې: ((زما دا زوی سید دئ؛ هیله لرم چي الله تعالی به په ده سره د دوو لویو اسلامي ډلو تر منځ صلح راولي)).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۲ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: الحَسَن او أَبو بَكْرَةَ؛ بخاري نور راویان نه دي یاد کړي؛ پر بخاري علاوه یوازي په مسند احمد کي راغلی؛ په شپږو طبقو کي ئې راویان یو یو او دا دي: إِبْرَاهِيم بْن عَبْدِ اللَّهِ، إِبْرَاهِيم بْن بَشَّار الرَّمَادِي، سُفْيَان، أَبو مُوسَى، حَسَن او أَبو بَكْرَةَ.

د متن په اړه ئې دوه ملاحظې مخي ته راځي: ۱- د حسن بن علي رضي الله عنهما په اړه د سید لفظ راغلی؛ په داسي حال کي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د انسان لپاره د دې صفت له کارولو ممانعت کړی. او فرمایلي دي: سید مو الله تعالی دئ. ۲- د روایت دا برخه (لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ)؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه په غیب د پوهېدا شائبه رامنځته کوي؛ په داسي حال کي چي قرآن په تأکید او تکرار سره وایي چي له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي. په غریب روایت؛ د عقائدو او احکامو په اړه استناد نه شي کېدی؛ مګر دا چي په قرآن کي شاهد ولري.

## ۱۳ باب: آیا امام د صلحي لوري ته اشاره کولی شي؟

١١٨٨ـ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها تَقُولُ: سَمِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ صَوْتَ خُصُومٍ بِالْبَابِ عَالِيَةٍ أَصْوَاتُهُمَا، وَإِذَا أَحَدُهُمَا يَسْتَوْضِعُ الآخَرَ، وَيَسْتَرْفِقُهُ فِي شَيْءٍ وَهُوَ يَقُولُ: وَاللَّهِ لا أَفْعَلُ، فَخَرَجَ عَلَيْهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَيْنَ الْمُتَأَلِّي عَلَى اللَّهِ لا يَفْعَلُ الْمَعْرُوفَ»؟ فَقَالَ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَهُ أَيُّ ذَلِكَ أَحَبَّ. (بخاری: ٢٧٠٥)

١١٨٨ - له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلې دروازې سره د دوه شخړه کوونکو غږ واورېد چي غږ ئې لوړ وو؛ یوه ئې له بل غوښتل چي څه ترې راکم کړي؛ او ترې غواړي چي نرمي ورسره وکړي؛ خو هغه بل ورته وايي: والله که داسي وکړم؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ور ووت او وئې فرمایل: ((هغه چېري دئ چي د نېکي نه کولو لپاره په الله کلکه لوړه کوي؟)) هغه وویل: زه یم یا رسول الله! چي کوم یو ئې خوښ وي همغه د ده شو.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: إِسْمَاعِيل بْن أَبِي أُوَيْسٍ، ورور ئې، سُلَيْمَان بْن بِلاَل، يَحْيَى بْنِ سَعِيد، أَبو الرِّجَالِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، مور ئې عَمْرَة بِنْت عَبْدِ الرَّحْمَنِ او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ له بخاري او مسلم پرته نورو کتابونو کي نه دئ راغلی.

دا روایت تر دې باب لاندي راغلی: آیا امام د صلحي لوري ته اشاره کولی شي؟ خو مناسب عنوان دا دئ: د نیکي نه کولو قسم؛ څکه د روایت اصلي او مهمه موضوع همدا ده؛ نه دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له کومي واضح سپارښتني پرته؛ اشارتاً د هغه سړي په قسم خپله نارضایتي ښودلې.

# ۵۰ کتاب: شروط

## (۱)باب: د نکاح په عهد کې د مَهر شروط

۱۱۸۹- عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم: «أَحَقُّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ». (بخاری: ۲۷۲۱)

۱۱۸۹- له عُقبه بن عامر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: «تر ټولو زیات احق شرط چې باید وفا پرې وکړئ؛ هغه دئ چې له امله ئې تاسو له مېرمنو سره نژدېکت ځانته حلال کړی.

یعني د نکاح شروط تر ټولو زیات مهم او د وفا کولو وړ دي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن يُوسُف، اللَّيْث، يَزِيد بْن أَبِي حَبِيب، أَبو الخَيْرِ او عُقْبَة بْنِ عَامِر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په نورو مهمو کتابونو کې هم راغلی؛ په مسلم کې ئې متن داسې دئ: إِنَّ أَحَقَّ الشَّرْطِ أَنْ يُوفَى بِهِ؛ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ او په ۳ طبقو کې ئې راویان همغه د بخاري راویان دي: يَزِيد بْنِ أَبِي حَبِيب، مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْيَزَنِيّ(ابو الخیر) او عُقْبَة بْنِ عَامِر؛ په نورو کې ورسره موافق نه دئ.

د نکاح شروط نه دي واضح شوي؛ مهم شروط ئې دا دي: ایجاب او قبول، مهر او شاهدان.

## (۲)باب: هغه شروط چې په حدودو کې صحيح نه دي

۱۱۹۰ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رضى الله عنها أَنَّهُمَا قَالا: إِنَّ رَجُلاً مِنَ الأَعْرَابِ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنْشُدُكَ اللَّهَ إِلاَّ قَضَيْتَ لِي بِكِتَابِ اللَّهِ، فَقَالَ الْخَصْمُ الآخَرُ ـ وَهُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ ـ نَعَمْ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ، وَأْذَنْ لِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «قُلْ». قَالَ: إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هَذَا، فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ، وَإِنِّي أُخْبِرْتُ أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ، فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَوَلِيدَةٍ، فَسَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّمَا عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ، وَأَنَّ عَلَى امْرَأَةِ هَذَا الرَّجْمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللَّهِ، الْوَلِيدَةُ وَالْغَنَمُ رَدٌّ، وَعَلَى ابْنِكَ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ، اغْدُ يَا أُنَيْسُ إِلَى امْرَأَةِ هَذَا، فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا». قَالَ: فَغَدَا عَلَيْهَا، فَاعْتَرَفَتْ، فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَتْ. (بخارى: ۲۷۲۵)

۱۱۹۰ - له ابوهريره او زيد بن خالد رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: د پوندوو يو سړی رسول صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! د الله په نامه درته سوال کوم چې زما په حق کې د کتاب الله له مخې فيصله وکړه؛ د شخړې بل تن چې تر ده پوه وو؛ وويل: هو؛ زموږ تر منځ د کتاب الله له مخې قضاوت وکړه؛ او اجازه راکړه چې زه خبرې وکړم؛ نو رسول صلى الله عليه و سلم وفرمايل: «ووايه». وئې ويل: زما زوی له دې سره اجير او مزدور وو؛ له مېرمنې سره ئې زنا وکړه؛ زه خبر کړی شوم چې پر زوی مې د رجم سزا ده؛ ما ده ته سل پسونه او يوه وينځه فديه ورکړه؛ بيا مې له علماءو وپوښتل؛ هغوی خبر کړم چې پر زوی مې سل دُرې او يو کال تبعيد راځي؛ او دا چې دا مېرمن بايد رجم شي؛ نو رسول صلى الله عليه و سلم وفرمايل:

«قسم په هغه ذات چي زما سا ئې په واک کي ده؛ ستاسو تر منځ به د کتاب الله مطابق فيصله کوم؛ وينځه او پسونه دي مسترد شي؛ (د زوی پلار ته ئې اشاره وکړه او وئې ويل:) پر زوی دي سل دُرې او يو کال تبعيد دئ»؛ «اې أُنَيسه! سبا سهار دغي مېرمني ته ورشه؛ که ئې اعتراف وکړ؛ نو رجم ئې کړه». راوي وايي: انيس هغې ته ورغی او هغې اعتراف وکړ؛ نو رسول صلی الله عليه و سلم امر وکړ او رجم کړی شوه.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کي دوه او په ورستيو ٤ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: قُتَيْبَة بْن سَعِيد، لَيْث، ابْنِ شِهَاب، عُبَيْد اللَّه بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ، أَبو هُرَيْرَةَ او زَيْدِ بْنِ خَالِد الجُهَنِيّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛

لکه چي گورئ له ډېرو روَاياتو وروسته؛ يو روايت داسي مومو چي په صحابه وو کي دوه راويان لري. له بخاري علاوه په صحيح مسلم او صحيح ابن حِبان کي هم راغلی. په صحيح مسلم کي د (حد الزنا) تر باب لاندي راغلی او په بخاري کي تر دې باب لاندي: هغه شروط چي په حدودو کي صحيح نه دي؛ د باب او متن تر منځ مناسبت نه شته؛ د عمدة القارئ مُصَنِّف وايي: وَهنا بَين التَّرْجَمَة، والْحَدِيث بعد لَا يخفى: او دلته د باب او روايت تر منځ دومره واټن دئ چي له هيچا پټ نه دئ.

د صحيح بخاري ۹۹ سلنه روايات آحاد دي؛ متواتر ئې ښايي د گوتو په شمېر وي؛ هسي هم د متواتر رواياتو شمېر له ٤ تر څه باندي ۱۰۰ پوري ښودل شوي؛ ما لا په دقيقه توگه د بخاري مشهور، عزيز او غريب روايات نه دي شمېرلي؛ خو تخميني او غير دقيقه محاسبه مي دا ده چي ښايي ۱۵ سلنه ئې مشهور او عزيز وي او پاته ئې ټول غريب؛ او په دې غريب کي ۲۰ سلنه ئې غريب او پاته به ئې مطلق غريب وي.

پورتنی روايت که څه هم په صحابه وو کي دوه راويان لري؛ خو له دې کبله غريب گڼل شوی چي په نورو طبقو کي ئې راويان يو يو دي.

د آحادو په اړه ویل شوي: دا که هر څومره قوي او مضبوط وي؛ لکه مشهور ئې؛ هغه یقیني علم نه افاده کوي؛ چې د عقائدو په اړه پرې اعتماد وشي؛ بلکې داسې ظن او گمان افاده کوي چې په فروعي مسائلو کې د عمل کولو لپاره کافي وي؛ دا په ډېرو مراجعو کې راغلي؛ او امام نووي د صحیح مسلم په شرحي کې پرې صراحت کړی؛ (۱ جلد ۲۰ صفحه)؛ فأحاديث الآحاد مهما بلغت قوتها كالمشهور منها لا تفيد العلم اليقيني الذي يعتمد عليه في العقائد، بل تفيد الظن الذي يكفي في وجوب العمل بها في الفروع، جاء ذلك في كثير من المراجع، وصرح به النووي في شرح صحيح مسلم "ج۱ ص ۲۰"

په روایت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «قسم په هغه ذات چې زما سا ئې په واک کې ده؛ ستاسو تر منځ به د کتاب الله مطابق فیصله کوم؛ او بیا ئې د مېرمني د رجم فیصله وکړه؛ داپه داسې حال کې چې په قرآن کې د رجم حکم په څرگنده توگه نه مومو؛ اهل ظاهر ادعاء کوي چې د رجم حکم په قرآن کې اصلاً نه شته؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د مستقلی وحې له مخې د رجم حکم عملي کړی!! او گواکې دا ښیي چې قرآن د احکامو یوازینۍ مرجع نه ده؛ بلکې حدیث هم بله مستقله مرجع ده؛ د دې خبرې معنی دا ده چې قرآن د الهي احکامو بشپړه مرجع نه ده؛ ځیني مسائل ترې پاته دي او په حدیث سره بشپړ شوی!! تر دې هم وړاندې درومي او وايي: که د آیت او حدیث تر منځ تعارض رامنځته شو او تطبیق ئې ممکن نه وو نو روایت به د آیت ناسخ گڼو؛ لکه دا چې قرآن په مکرره او مؤکده توگه وايي چې پېریان نه لیدل کېږي؛ نه چا ته ضرر رسولی شي، نه پر انسان څه سلطه لري او نه له وسوسې پرته بل څه له انسان سره کولی شي. خو په بخاري کې داسې روایات راغلي چې وايي: پېریان لیدل شوي؛ خپل شکل بدلولی شي، غلا هم کولی شي؛ اهل ظاهر د قرآن دا آیتونه له پامه غورځوي او همدا د سند له پلوه غریب او د متن له پلوه له قرآن

سره متعارض روایات مني!! دوی ته وایو:

- تاسو وایئ چي په قرآن کي د رجم آیت نه شته؛ اما د بخاري دا روایت وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: په الله تعالی قسم چي د کتاب الله له مخي ستاسو تر منځ فیصله کوم؛ او د رجم فیصله ئې وکړه؛ او د دې معنی دا ده چي د رجم حکم په قرآن کي شته!! دا ئې نه دي ویلي چي د حدیث له مخي فیصله کوم؛ نو تاسو ولي نه وایئ چي د رجم حکم شته خو موږ نه پرې پوهېږو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم رښتیا ویلي او د قرآن له مخي ئې دا فیصله کړې؟! حقیقت همدا دئ؛ په قرآن کي د غیر متأهل زاني سزا سل درې ټاکل شوې؛ نو د متأهل به حتماً تر دې زیاته وي؛ او زیاته ئې همغه د تورات او انجیل سزا (رجم) ده؛ قرآن د مخکینیو الهي کتابونو دا سزا نه ده منسوخ کړې؛ نو ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم د رجم حکم جاري کړی او هغه هم د قرآن له مخي.

## (٣)باب: په کرهنیزو چارو کي شرط ایښودل

## داسي شرط چي کله وغواړم تا ترې ایستلی شم

١١٩١ـ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما قَالَ: لَمَّا فَدَعَ أَهْلُ خَيْبَرَ عَبْدَاللَّهِ بْنَ عُمَرَ، قَامَ عُمَرُ خَطِيبًا فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَامَلَ يَهُودَ خَيْبَرَ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَقَالَ: «نُقِرُّكُمْ مَا أَقَرَّكُمُ اللَّهُ» وَإِنَّ عَبْدَاللَّهِ بْنَ عُمَرَ خَرَجَ إِلَى مَالِهِ هُنَاكَ فَعُدِيَ عَلَيْهِ مِنَ اللَّيْلِ، فَفُدِعَتْ يَدَاهُ وَرِجْلاهُ، وَلَيْسَ لَنَا هُنَاكَ عَدُوٌّ غَيْرَهُمْ، هُمْ عَدُوُّنَا وَتُهْمَتُنَا وَقَدْ رَأَيْتُ إِجْلاءَهُمْ، فَلَمَّا أَجْمَعَ عُمَرُ عَلَى ذَلِكَ أَتَاهُ أَحَدُ بَنِي أَبِي الْحُقَيْقِ، فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، أَتُخْرِجُنَا وَقَدْ أَقَرَّنَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَامَلَنَا عَلَى الأَمْوَالِ وَشَرَطَ ذَلِكَ لَنَا؟ فَقَالَ عُمَرُ: أَظَنَنْتَ أَنِّي نَسِيتُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه و

سلم: «كَيْفَ بِكَ إِذَا أُخْرِجْتَ مِنْ خَيْبَرَ تَعْدُو بِكَ قَلُوصُكَ لَيْلَةً بَعْدَ لَيْلَةٍ»؟ فَقَالَ: كَانَتْ هَذِهِ هُزَيْلَةً مِنْ أَبِي الْقَاسِمِ، قَالَ: كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللَّهِ، فَأَجْلاهُمْ عُمَرُ وَأَعْطَاهُمْ قِيمَةَ مَا كَانَ لَهُمْ مِنَ الثَّمَرِ مَالاً وَإِبِلاً وَعُرُوضًا مِنْ أَقْتَابٍ وَحِبَالٍ وَغَيْرِ ذَلِكَ. (بخاری: ۲۷۳۰)

۱۱۹۱: له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: کله چي د خيبر اوسېدونکو د عبدالله بن عمر لاس او پښې مات يا خوږ کړل؛ عمر بن خطاب د وينا لپاره پاڅېد او وئې ويل: رسول صلی الله عليه و سلم د خيبر يهودان پر خپلو اموالو (زمکو او باغونو) پرېښودل چي کار په کي وکړي؛ (د حاصل د څه برخي په بدل کي)؛ او وئې فرمايل: «تر هغه مو په کي پرېږدو چي الله تعالی مو په کي پرېږدي»؛ او عبدالله بن عمر په خيبر کي د خپل مال لپاره خيبر ته ولاړ؛ هلته د شپې له لوري تېری پرې وشو او دواړه لاسونه او پښې ئې خوږ او وختلې؛ موږ هلته له دوی پرته هيڅ دښمن نه لرو؛ دوی مو دښمنان او د پېښي تورن دي؛ نو زما رأی دا ده چي دوی تبعيد شي؛ ابن عمر وايي: کله چي عمر رضي الله عنه په دې اړه اجماع رامنځته کړه؛ د بني ابو الحُقَيْق يو تن ورته راغی او وئې ويل: يا امير المؤمنين! آيا موږ باسې؛ په داسي حال کي چي محمد صلی الله عليه و سلم پرېښودلو؛ او پر خپلو اموالو (زمکو او باغونو) ئې وگمارلو چي کار په کي وکړو؛ او دا شرط ئې موږ ته وټاکلو؟ عمر وويل: گمان کوې چي ما د رسول الله صلی الله عليه و سلم وينا هېره کړې: (چي تا ته ئې وويل:) «هغه مهال به څنگه وې چي له خيبر وايستل شې؛ او اوښ دي شپه په شپه په بيړه وړي؟!» هغه وويل: دا د ابوالقاسم يوه ټوکه وه؛ وئې ويل: دروغ وايې د خدای دښمنه!!؛ نو عمر رضي الله عنه تبعيد کړل او د هغوی د مېوو په بدل کي ئې څه مال، اوښان، د اوښانو کتي، رسۍ او نور شيان ورکړل.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو

يو راوي لري چي دا دي: أَبُو أَحْمَد مَرَّار بْن حَمُّويَهْ، مُحَمَّد بْن يَحْيَى أَبُو غَسَّانَ الكِنَانِي، مَالِك، نَافِع او ابْنِ عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. له بخاري پرته په بل معروف كتاب كې نه دئ راغلی. د باب او روايت تر منځ واضح مناسبت نه تر سترګو كېږي؛ باب دا دئ: داسي شرط چي كله وغواړم تا ترې ايستلی شم؛ او روايت د خيبر د فتحي او هلته له فتحي وروسته د سيمي يهودان پر خپلو زمكو او باغونو د يوې معاهدې مطابق پرېښودل دي؛ ډېر مناسب عنوان ورته دا دئ: د خيبر له فتحي وروسته د سيمي له يهودانو سره څه وشول؟

د خيبر له يهودانو او ترې وړاندي له نورو سره چي رسول الله صلی الله عليه و سلم كومه معامله كړې؛ يقيناً چي مثال به ئې په تاريخ كې لږ وموندل شي؛ دوی ستر ستر خيانتونه كړي؛ خپلي ژمني او معاهدې ئې نقض كړې؛ له دښمنانو سره ئې لاس يو كړی؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د وژلو توطئه ئې جوړه كړې؛ په ټولو بريدونو او جګړو كې ئې لاس وو او د بريدګرو ملاتړ او ملګرتيا ئې كړې؛ د خندق په جنګ كې ئې؛ هغه مهال چي مدينه د دښمن له لوري كلكه محاصره وه؛ دوی ئې ملګرتيا وكړه؛ ... دوی په مدينه كې له مسلمانانو سره همغه څه كړي چي د كمونستانو او منافقينو شمالي ائتلاف؛ د افغانستان له مؤمنو مجاهدينو سره كړي؛ چي د هر يرغلګر په خوا كې ودرېدل او د ملت خلاف وجنګېدل. خو رسول الله صلی الله عليه و سلم همدغه يهودان پر خپلو زمكو او باغونو پرېښودل؛ او د عمر رضي الله عنه تر خلافت پوري په خيبر كې پاته وو؛ راشئ وګورو چي د مسيحيانو ستر مذهبي كتاب بايبل؛ له اسيرانو سره د يهودانو چلن څنګه انځور كړی؛ بايبل د اعداد سرليك لاندي ليكي: خدای موسی ته وويل: له مديانيانو په دې خاطر انتقام واخلئ چي قوم ئې بت لمانځلو ته وهڅاوو، بيا به ته مرې... موسی له هري قبيلې زر جنګيالي وغوښتل، دولس زره جنګيالي ئې جنګ ته ولېږل،... د مديانيانو ټول سړي ووژل شول، له پنځو پاچايانو او بلعام

سره.. د اسرائيليانو فوځ ټولي ښځي او ماشومان ئې اسيران کړل، رمې او مالونه ئې تالان، ښارونه، کلي او کلاګاني ئې وران کړل، اسيران او غنايم ئې د موسى خوا ته راوړل، موسى د فوځ په افسرانو غصه شو چي ولي مو د دوى ښځي ژوندۍ پرېښې؛ دوى خو همغه خلك دي چي د بلعام نصيحتونه ئې ومنل چي قوم ئې بت لمانځلو ته تيار کړ او زموږ خلك ئې په بلا او مصيبت اخته کړل؛ نو ټول زامن او مېړوښي ښځي ووژنئ او يوازي پېغلي د ځان لپاره ژوندۍ پرېږدئ!! دا د اسيرانو په اړه د اوسني غرب د مذهبي کتاب بايبل وينا ده؛ وګورئ يهودانو له خپلو اسيرانو سره څه کول او رسول الله صلى الله عليه و سلم د يهودانو له اسيرانو سره څه کړي.

## (٤)باب: په جهاد او سوله کي شروط

## له حربي دښمن سره او د شروطو ليكل

١١٩٢ـ ٢٧٣١ - ٢٧٣١ - عَنِ المِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ، يُصَدِّقُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حَدِيثَ صَاحِبِهِ، قَالاَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الحُدَيْبِيَةِ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ خَالِدَ بْنَ الوَلِيدِ بِالْغَمِيمِ فِي خَيْلٍ لِقُرَيْشٍ طَلِيعَةٌ، فَخُذُوا ذَاتَ اليَمِينِ» فَوَاللَّهِ مَا شَعَرَ بِهِمْ خَالِدٌ حَتَّى إِذَا هُمْ بِقَتَرَةِ الجَيْشِ، فَانْطَلَقَ يَرْكُضُ نَذِيرًا لِقُرَيْشٍ، وَسَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالثَّنِيَّةِ الَّتِي يُهْبَطُ عَلَيْهِمْ مِنْهَا بَرَكَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ، فَقَالَ النَّاسُ: حَلْ حَلْ فَأَلَحَّتْ، فَقَالُوا: خَلَأَتْ القَصْوَاءُ، خَلَأَتْ القَصْوَاءُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا خَلَأَتْ القَصْوَاءُ، وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ، وَلَكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الفِيلِ»، ثُمَّ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لاَ يَسْأَلُونِي خُطَّةً يُعَظِّمُونَ فِيهَا حُرُمَاتِ اللَّهِ إِلَّا أَعْطَيْتُهُمْ

إِيَّاهَا»، ثُمَّ زَجَرَهَا فَوَثَبَتْ، قَالَ: فَعَدَلَ عَنْهُمْ حَتَّى نَزَلَ بِأَقْصَى الحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَمَدٍ قَلِيلِ المَاءِ، يَتَبَرَّضُهُ النَّاسُ تَبَرُّضًا، فَلَمْ يُلَبِّثْهُ النَّاسُ حَتَّى نَزَحُوهُ وَشُكِيَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ العَطَشُ، فَانْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ، ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهُ فِيهِ، فَوَاللَّهِ مَا زَالَ يَجِيشُ لَهُمْ بِالرِّيِّ حَتَّى صَدَرُوا عَنْهُ، فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ جَاءَ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ الخُزَاعِيُّ فِي نَفَرٍ مِنْ قَوْمِهِ مِنْ خُزَاعَةَ، وَكَانُوا عَيْبَةَ نُصْحِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ تِهَامَةَ، فَقَالَ: إِنِّي تَرَكْتُ كَعْبَ بْنَ لُؤَيٍّ، وَعَامِرَ بْنَ لُؤَيٍّ نَزَلُوا أَعْدَادَ مِيَاهِ الحُدَيْبِيَةِ، وَمَعَهُمُ العُوذُ المَطَافِيلُ، وَهُمْ مُقَاتِلُوكَ وَصَادُّوكَ عَنِ البَيْتِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّا لَمْ نَجِئْ لِقِتَالِ أَحَدٍ، وَلَكِنَّا جِئْنَا مُعْتَمِرِينَ، وَإِنَّ قُرَيْشًا قَدْ نَهِكَتْهُمُ الحَرْبُ، وَأَضَرَّتْ بِهِمْ، فَإِنْ شَاءُوا مَادَدْتُهُمْ مُدَّةً، وَيُخَلُّوا بَيْنِي وَبَيْنَ النَّاسِ، فَإِنْ أَظْهَرْ: فَإِنْ شَاءُوا أَنْ يَدْخُلُوا فِيمَا دَخَلَ فِيهِ النَّاسُ فَعَلُوا، وَإِلَّا فَقَدْ جَمُّوا، وَإِنْ هُمْ أَبَوْا، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأُقَاتِلَنَّهُمْ عَلَى أَمْرِي هَذَا حَتَّى تَنْفَرِدَ سَالِفَتِي، وَلَيُنْفِذَنَّ اللَّهُ أَمْرَهُ "، فَقَالَ بُدَيْلٌ: سَأُبَلِّغُهُمْ مَا تَقُولُ، قَالَ: فَانْطَلَقَ حَتَّى أَتَى قُرَيْشًا، قَالَ: إِنَّا قَدْ جِئْنَاكُمْ مِنْ هَذَا الرَّجُلِ وَسَمِعْنَاهُ يَقُولُ قَوْلًا، فَإِنْ شِئْتُمْ أَنْ نَعْرِضَهُ عَلَيْكُمْ فَعَلْنَا، فَقَالَ سُفَهَاؤُهُمْ: لاَ حَاجَةَ لَنَا أَنْ تُخْبِرَنَا عَنْهُ بِشَيْءٍ، وَقَالَ ذَوُو الرَّأْيِ مِنْهُمْ: هَاتِ مَا سَمِعْتَهُ يَقُولُ، قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا، فَحَدَّثَهُمْ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ: أَيْ قَوْمِ، أَلَسْتُمْ بِالوَالِدِ؟ قَالُوا: بَلَى، قَالَ: أَوَلَسْتُ بِالوَلَدِ؟ قَالُوا: بَلَى، قَالَ: فَهَلْ تَتَّهِمُونِي؟ قَالُوا: لاَ، قَالَ: أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي اسْتَنْفَرْتُ أَهْلَ عُكَاظَ، فَلَمَّا بَلَّحُوا عَلَيَّ جِئْتُكُمْ بِأَهْلِي وَوَلَدِي وَمَنْ

أَطَاعَنِى؟ قَالُوا: بَلَى، قَالَ: فَإِنَّ هَذَا قَدْ عَرَضَ لَكُمْ خُطَّةَ رُشْدٍ، اقْبَلُوهَا وَدَعُونِى آتِيهِ، قَالُوا: ائْتِهِ، فَأَتَاهُ، فَجَعَلَ يُكَلِّمُ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِنْ قَوْلِهِ لِبُدَيْلٍ، فَقَالَ عُرْوَةُ عِنْدَ ذَلِكَ: أَىْ مُحَمَّدُ أَرَأَيْتَ إِنِ اسْتَأْصَلْتَ أَمْرَ قَوْمِكَ، هَلْ سَمِعْتَ بِأَحَدٍ مِنَ العَرَبِ اجْتَاحَ أَهْلَهُ قَبْلَكَ، وَإِنْ تَكُنِ الأُخْرَى، فَإِنِّى وَاللَّهِ لَأَرَى وُجُوهًا، وَإِنِّى لَأَرَى أَوْشَابًا مِنَ النَّاسِ خَلِيقًا أَنْ يَفِرُّوا وَيَدَعُوكَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ: امْصُصْ بِبَظْرِ اللَّاتِ، أَنَحْنُ نَفِرُّ عَنْهُ وَنَدَعُهُ؟ فَقَالَ: مَنْ ذَا؟ قَالُوا: أَبُو بَكْرٍ، قَالَ: أَمَا وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ، لَوْلاَ يَدٌ كَانَتْ لَكَ عِنْدِى لَمْ أَجْزِكَ بِهَا لَأَجَبْتُكَ، قَالَ: وَجَعَلَ يُكَلِّمُ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكُلَّمَا تَكَلَّمَ أَخَذَ بِلِحْيَتِهِ، وَالمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَهُ السَّيْفُ وَعَلَيْهِ المِغْفَرُ، فَكُلَّمَا أَهْوَى عُرْوَةُ بِيَدِهِ إِلَى لِحْيَةِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ يَدَهُ بِنَعْلِ السَّيْفِ، وَقَالَ لَهُ: أَخِّرْ يَدَكَ عَنْ لِحْيَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَفَعَ عُرْوَةُ رَأْسَهُ، فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: المُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ، فَقَالَ: أَىْ غُدَرُ، أَلَسْتُ أَسْعَى فِى غَدْرَتِكَ؟ وَكَانَ المُغِيرَةُ صَحِبَ قَوْمًا فِى الجَاهِلِيَّةِ فَقَتَلَهُمْ، وَأَخَذَ أَمْوَالَهُمْ، ثُمَّ جَاءَ فَأَسْلَمَ، فَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَّا الإِسْلاَمَ فَأَقْبَلُ، وَأَمَّا المَالَ فَلَسْتُ مِنْهُ فِى شَىْءٍ»، ثُمَّ إِنَّ عُرْوَةَ جَعَلَ يَرْمُقُ أَصْحَابَ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَيْنَيْهِ، قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا تَنَخَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُخَامَةً إِلَّا وَقَعَتْ فِى كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ، فَدَلَكَ بِهَا وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ، وَإِذَا أَمَرَهُمُ ابْتَدَرُوا أَمْرَهُ، وَإِذَا تَوَضَّأَ كَادُوا يَقْتَتِلُونَ عَلَى وَضُوئِهِ، وَإِذَا تَكَلَّمَ خَفَضُوا أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَهُ، وَمَا يُحِدُّونَ إِلَيْهِ النَّظَرَ تَعْظِيمًا لَهُ، فَرَجَعَ

عُرْوَةُ إِلَى أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: أَیْ قَوْمِ، وَاللَّهِ لَقَدْ وَفَدْتُ عَلَى الْمُلُوكِ، وَوَفَدْتُ عَلَى قَيْصَرَ، وَكِسْرَى، وَالنَّجَاشِيِّ، وَاللَّهِ إِنْ رَأَيْتُ مَلِكًا قَطُّ يُعَظِّمُهُ أَصْحَابُهُ مَا يُعَظِّمُ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحَمَّدًا، وَاللَّهِ إِنْ تَنَخَّمَ نُخَامَةً إِلَّا وَقَعَتْ فِي كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ، فَدَلَكَ بِهَا وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ، وَإِذَا أَمَرَهُمْ ابْتَدَرُوا أَمْرَهُ، وَإِذَا تَوَضَّأَ كَادُوا يَقْتَتِلُونَ عَلَى وَضُوئِهِ، وَإِذَا تَكَلَّمَ خَفَضُوا أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَهُ، وَمَا يُحِدُّونَ إِلَيْهِ النَّظَرَ تَعْظِيمًا لَهُ، وَإِنَّهُ قَدْ عَرَضَ عَلَيْكُمْ خُطَّةَ رُشْدٍ فَاقْبَلُوهَا، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي كِنَانَةَ: دَعُونِي آتِيهِ، فَقَالُوا: ائْتِهِ، فَلَمَّا أَشْرَفَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذَا فُلاَنٌ، وَهُوَ مِنْ قَوْمٍ يُعَظِّمُونَ البُدْنَ، فَابْعَثُوهَا لَهُ» فَبُعِثَتْ لَهُ، وَاسْتَقْبَلَهُ النَّاسُ يُلَبُّونَ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، مَا يَنْبَغِي لِهَؤُلاَءِ أَنْ يُصَدُّوا عَنِ البَيْتِ، فَلَمَّا رَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ، قَالَ: رَأَيْتُ البُدْنَ قَدْ قُلِّدَتْ وَأُشْعِرَتْ، فَمَا أَرَى أَنْ يُصَدُّوا عَنِ البَيْتِ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهُ مِكْرَزُ بْنُ حَفْصٍ، فَقَالَ: دَعُونِي آتِيهِ، فَقَالُوا: ائْتِهِ، فَلَمَّا أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذَا مِكْرَزٌ، وَهُوَ رَجُلٌ فَاجِرٌ»، فَجَعَلَ يُكَلِّمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَيْنَمَا هُوَ يُكَلِّمُهُ إِذْ جَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ مَعْمَرٌ: فَأَخْبَرَنِي أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّهُ لَمَّا جَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ سَهُلَ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ» قَالَ مَعْمَرٌ: قَالَ الزُّهْرِيُّ فِي حَدِيثِهِ: فَجَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فَقَالَ: هَاتِ اكْتُبْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ كِتَابًا فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الكَاتِبَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ»، قَالَ سُهَيْلٌ: أَمَّا الرَّحْمَنُ، فَوَاللَّهِ مَا أَدْرِي مَا هُوَ

وَلَكِنِ اكْتُبْ بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ كَمَا كُنْتَ تَكْتُبُ، فَقَالَ المُسْلِمُونَ: وَاللَّهِ لاَ نَكْتُبُهَا إِلَّا بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اكْتُبْ بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ» ثُمَّ قَالَ: «هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ»، فَقَالَ سُهَيْلٌ: وَاللَّهِ لَوْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا صَدَدْنَاكَ عَنِ البَيْتِ، وَلاَ قَاتَلْنَاكَ، وَلَكِنِ اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللَّهِ إِنِّي لَرَسُولُ اللَّهِ، وَإِنْ كَذَّبْتُمُونِي، اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ» - قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَذَلِكَ لِقَوْلِهِ: «لاَ يَسْأَلُونِي خُطَّةً يُعَظِّمُونَ فِيهَا حُرُمَاتِ اللَّهِ إِلَّا أَعْطَيْتُهُمْ إِيَّاهَا» - فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَى أَنْ تُخَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ البَيْتِ، فَنَطُوفَ بِهِ»، فَقَالَ سُهَيْلٌ: وَاللَّهِ لاَ تَتَحَدَّثُ العَرَبُ أَنَّا أُخِذْنَا ضُغْطَةً، وَلَكِنْ ذَلِكَ مِنَ العَامِ المُقْبِلِ، فَكَتَبَ، فَقَالَ سُهَيْلٌ: وَعَلَى أَنَّهُ لاَ يَأْتِيكَ مِنَّا رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ إِلَّا رَدَدْتَهُ إِلَيْنَا، قَالَ المُسْلِمُونَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، كَيْفَ يُرَدُّ إِلَى المُشْرِكِينَ وَقَدْ جَاءَ مُسْلِمًا؟ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ دَخَلَ أَبُو جَنْدَلِ بْنُ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو يَرْسُفُ فِي قُيُودِهِ، وَقَدْ خَرَجَ مِنْ أَسْفَلِ مَكَّةَ حَتَّى رَمَى بِنَفْسِهِ بَيْنَ أَظْهُرِ المُسْلِمِينَ، فَقَالَ سُهَيْلٌ: هَذَا يَا مُحَمَّدُ أَوَّلُ مَا أُقَاضِيكَ عَلَيْهِ أَنْ تَرُدَّهُ إِلَيَّ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّا لَمْ نَقْضِ الكِتَابَ بَعْدُ»، قَالَ: فَوَاللَّهِ إِذًا لَمْ أُصَالِحْكَ عَلَى شَيْءٍ أَبَدًا، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَأَجِزْهُ لِي»، قَالَ: مَا أَنَا بِمُجِيزِهِ لَكَ، قَالَ: «بَلَى فَافْعَلْ»، قَالَ: مَا أَنَا بِفَاعِلٍ، قَالَ مِكْرَزٌ: بَلْ قَدْ أَجَزْنَاهُ لَكَ، قَالَ أَبُو جَنْدَلٍ: أَيْ مَعْشَرَ المُسْلِمِينَ، أُرَدُّ إِلَى المُشْرِكِينَ وَقَدْ جِئْتُ مُسْلِمًا، أَلاَ تَرَوْنَ مَا قَدْ لَقِيتُ؟ وَكَانَ قَدْ عُذِّبَ عَذَابًا شَدِيدًا فِي اللَّهِ، قَالَ: فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ: فَأَتَيْتُ

نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: أَلَسْتَ نَبِيَّ اللَّهِ حَقًّا، قَالَ: «بَلَى»، قُلْتُ: أَلَسْنَا عَلَى الحَقِّ، وَعَدُوُّنَا عَلَى البَاطِلِ، قَالَ: «بَلَى»، قُلْتُ: فَلِمَ نُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِينِنَا إِذًا؟ قَالَ: «إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ، وَلَسْتُ أَعْصِيهِ، وَهُوَ نَاصِرِي»، قُلْتُ: أَوَلَيْسَ كُنْتَ تُحَدِّثُنَا أَنَّا سَنَأْتِي البَيْتَ فَنَطُوفُ بِهِ؟ قَالَ: «بَلَى، فَأَخْبَرْتُكَ أَنَّا نَأْتِيهِ العَامَ»، قَالَ: قُلْتُ: لاَ، قَالَ: «فَإِنَّكَ آتِيهِ وَمُطَّوِّفٌ بِهِ»، قَالَ: فَأَتَيْتُ أَبَا بَكْرٍ فَقُلْتُ: يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَيْسَ هَذَا نَبِيَّ اللَّهِ حَقًّا؟ قَالَ: بَلَى، قُلْتُ: أَلَسْنَا عَلَى الحَقِّ وَعَدُوُّنَا عَلَى البَاطِلِ؟ قَالَ: بَلَى، قُلْتُ: فَلِمَ نُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِينِنَا إِذًا؟ قَالَ: أَيُّهَا الرَّجُلُ إِنَّهُ لَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَيْسَ يَعْصِي رَبَّهُ، وَهُوَ نَاصِرُهُ، فَاسْتَمْسِكْ بِغَرْزِهِ، فَوَاللَّهِ إِنَّهُ عَلَى الحَقِّ، قُلْتُ: أَلَيْسَ كَانَ يُحَدِّثُنَا أَنَّا سَنَأْتِي البَيْتَ وَنَطُوفُ بِهِ؟ قَالَ: بَلَى، أَفَأَخْبَرَكَ أَنَّكَ تَأْتِيهِ العَامَ؟ قُلْتُ: لاَ، قَالَ: فَإِنَّكَ آتِيهِ وَمُطَّوِّفٌ بِهِ، - قَالَ الزُّهْرِيُّ: قَالَ عُمَرُ -: فَعَمِلْتُ لِذَلِكَ أَعْمَالًا، قَالَ: فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قَضِيَّةِ الكِتَابِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: «قُومُوا فَانْحَرُوا ثُمَّ احْلِقُوا»، قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا قَامَ مِنْهُمْ رَجُلٌ حَتَّى قَالَ ذَلِكَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَلَمَّا لَمْ يَقُمْ مِنْهُمْ أَحَدٌ دَخَلَ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ، فَذَكَرَ لَهَا مَا لَقِيَ مِنَ النَّاسِ، فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، أَتُحِبُّ ذَلِكَ، اخْرُجْ ثُمَّ لاَ تُكَلِّمْ أَحَدًا مِنْهُمْ كَلِمَةً، حَتَّى تَنْحَرَ بُدْنَكَ، وَتَدْعُوَ حَالِقَكَ فَيَحْلِقَكَ، فَخَرَجَ فَلَمْ يُكَلِّمْ أَحَدًا مِنْهُمْ حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ نَحَرَ بُدْنَهُ، وَدَعَا حَالِقَهُ فَحَلَقَهُ، فَلَمَّا رَأَوْا ذَلِكَ قَامُوا، فَنَحَرُوا وَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَحْلِقُ بَعْضًا حَتَّى كَادَ بَعْضُهُمْ يَقْتُلُ بَعْضًا غَمًّا، ثُمَّ جَاءَهُ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ المُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ} [الممتحنة: ١٠] حَتَّى

بَلَغَ بِعِصَمِ الكَوَافِرِ فَطَلَّقَ عُمَرُ يَوْمَئِذٍ امْرَأَتَيْنِ، كَانَتَا لَهُ فِي الشِّرْكِ فَتَزَوَّجَ إِحْدَاهُمَا مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ، وَالأُخْرَى صَفْوَانُ بْنُ أُمَيَّةَ، ثُمَّ رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى المَدِينَةِ، فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ وَهُوَ مُسْلِمٌ، فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ رَجُلَيْنِ، فَقَالُوا: العَهْدَ الَّذِي جَعَلْتَ لَنَا، فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ، فَخَرَجَا بِهِ حَتَّى بَلَغَا ذَا الحُلَيْفَةِ، فَنَزَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْ تَمْرٍ لَهُمْ، فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ لِأَحَدِ الرَّجُلَيْنِ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَى سَيْفَكَ هَذَا يَا فُلاَنُ جَيِّدًا، فَاسْتَلَّهُ الآخَرُ، فَقَالَ: أَجَلْ، وَاللَّهِ إِنَّهُ لَجَيِّدٌ، لَقَدْ جَرَّبْتُ بِهِ، ثُمَّ جَرَّبْتُ، فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ: أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْهِ، فَأَمْكَنَهُ مِنْهُ، فَضَرَبَهُ حَتَّى بَرَدَ، وَفَرَّ الآخَرُ حَتَّى أَتَى المَدِينَةَ، فَدَخَلَ المَسْجِدَ يَعْدُو، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ رَآهُ: «لَقَدْ رَأَى هَذَا ذُعْرًا» فَلَمَّا انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قُتِلَ وَاللَّهِ صَاحِبِي وَإِنِّي لَمَقْتُولٌ، فَجَاءَ أَبُو بَصِيرٍ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، قَدْ وَاللَّهِ أَوْفَى اللَّهُ ذِمَّتَكَ، قَدْ رَدَدْتَنِي إِلَيْهِمْ، ثُمَّ أَنْجَانِي اللَّهُ مِنْهُمْ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْلُ أُمِّهِ مِسْعَرَ حَرْبٍ، لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ» فَلَمَّا سَمِعَ ذَلِكَ عَرَفَ أَنَّهُ سَيَرُدُّهُ إِلَيْهِمْ، فَخَرَجَ حَتَّى أَتَى سِيفَ البَحْرِ قَالَ: وَيَنْفَلِتُ مِنْهُمْ أَبُو جَنْدَلِ بْنُ سُهَيْلٍ، فَلَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ، فَجَعَلَ لاَ يَخْرُجُ مِنْ قُرَيْشٍ رَجُلٌ قَدْ أَسْلَمَ إِلَّا لَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ، حَتَّى اجْتَمَعَتْ مِنْهُمْ عِصَابَةٌ، فَوَاللَّهِ مَا يَسْمَعُونَ بِعِيرٍ خَرَجَتْ لِقُرَيْشٍ إِلَى الشَّأْمِ إِلَّا اعْتَرَضُوا لَهَا، فَقَتَلُوهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ، فَأَرْسَلَتْ قُرَيْشٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُنَاشِدُهُ بِاللَّهِ وَالرَّحِمِ، لَمَّا أَرْسَلَ، فَمَنْ أَتَاهُ فَهُوَ آمِنٌ، فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: {وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ

مِنْ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ} [الفتح: ٢٤] حَتَّى بَلَغَ {الحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الجَاهِلِيَّةِ} [الفتح: ٢٦] وَكَانَتْ حَمِيَّتُهُمْ أَنَّهُمْ لَمْ يُقِرُّوا أَنَّهُ نَبِيُّ اللَّهِ، وَلَمْ يُقِرُّوا بِبِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، وَحَالُوا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ البَيْتِ،

مسور بن مخرمه او مروان رضي الله عنهما په داسي حال کي چي يوه د بل خبره تصديقوله؛ داسي ويلي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديبيې په کال وخوځېد، کله چي د لاري په يوې برخي کې وو؛ وئې فرمايل: «خالد بن وليد؛ د قريشو له يو شمېر سپرو سره چي د دوی د لښکر مخکښ اطلاعاتي ټولی وو؛ په غميم کې ځای په ځای شوي؛ نو تاسو ښی لوری غوره کړئ؛ په خدای قسم چي خالد تر هغه پرې خبر نه شو چي د لښکر دوړي ئې تر سترگو شوې؛ نو په بيړه ئې وځغاستل چي قريش له گواښ خبر کړي. رسول صلی الله عليه و سلم همداسي مخکې ولاړ تر هغه چي پر قريشو د ورشېوه کېدو تر ژۍ پوري ورسېدو؛ هملته ئې اوښه چو شوه. نو خلکو: اوښي ته حل حل کړل چي پاځي؛ خو اوښي په نه پاڅېدو ټينگار وکړ؛ نو خلکو وويل: قصواء په ټپه ودرېده؛ قصواء په ټپه ودرېده؛ نو نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: «قصواء نه درېږي؛ دا ئې خوی هم نه دئ؛ خو د فيلانو ټموونکي ذات تم کړې ده». بيا ئې وفرمايل: «قسم په هغه ذات چي زما سا ئې په واک کي ده؛ که هر مهم کار له ما وغواړي چي د الهي حرماتو درناوی په کې کېږي؛ زه به ئې ورسره ومنم». بيا ئې اوښه وهڅوله نو پاڅېده.

راوي وايي: بيا له قريشو په څنگ شو؛ تر هغه چي د حديبيې وروستۍ برخي کي ئې د داسي کډي خوا ته واړول چي لږ اوبه ئې درلودې؛ خلکو لږ لږ اوبه ترې اخستلې، خو خلکو تر هغه پرېنښود چي وچ ئې کړ؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته له تندي شکايت وشو؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ د غشو له شخول يا تېلۍ)؛ يو غشی راويست او امر ئې ورته وکړ چي په اوبو کي ئې کښېږدي؛ والله چي تر

هغه اوبه ترې خوټېدې چې ترې ولاړل؛ په داسې حال کې چې دوی همداسې ول؛ بُدَيل بن وَرقَاء خُزاعي؛ د خپلې قبيلې خُزاعه له څو تنو سره چې د تِهامه په اوسېدونکو کې؛ د رسول صلی الله علیه و سلم خواخوږي وو؛ راغی او وئې ویل: زه همدا اوس د کعب بن لُؤَيْ او عامر بن لُؤَيْ له خوا راغلم چې په ډېر شمېر کې؛ له خپلو لنګو اوښو (مېرمنو او ماشومانو) سره ئې د حديبيې چینو ترځنګ اړولې دي؛ غواړي له تاسو سره وجنګېږي او بيت الله ته له ورتګ دې منع کړي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: «موږ له هيچا سره د جګړې لپاره نه يو راغلي؛ بلکې د عمرې اداء کوونکو په توګه راغلي يو؛ جنګونو؛ قريش ستړي او کمزوري کړي او زيانونه ئې وراړولي دي؛ که ئې خوښه وي يوه موده به فرصت ورکړم؛ ما او نور کفار دې سره پرېږدي؛ که زه برلاسی شوم؛ او د دوی خوښه وه؛ په هغه څه کې دې داخل شي چې نور خلک په کې داخل شوي؛ او که نه نو په خپل عهد دې کلك پاته شي؛ که له دې ئې ډډه وکړه؛ نو قسم په هغه ذات چې زما د ژوند واک ورسره دئ؛ نو د خپل دغه کار او دعوت په اړه به تر هغه ورسره جنګېږم چې غاړه مې غوڅه شي؛ الله به حتماً خپل کار بشپړ او ترسره کوي؛

نو بُدَيل وويل: څه چې وايې هغه به حتماً ورورسوم. راوي وايي: نو روان شو تر هغه چې قريشو ته ورغی؛ وئې ويل: موږ له دې سړي څه درته راوړي؛ او څه مو ترې اورېدلي چې ويل ئې؛ که غواړئ چې درته وئې وايو؛ وبه ئې وايو؛ نو جاهلانو ئې وويل: هيڅ اړتيا نه لرو د ده له کوم څه مو خبر کړي؛ او د رأى خاوندانو ئې وويل: څه چې دې اورېدلي؛ راته وئې وايه؛ وئې ويل: له هغه مې واورېدل چې دا او دا ئې ويل؛ نو هغه څه ئې ورته وويل چې نبي صلی الله علیه و سلم ويلي وو. بيا عروه بن مسعود وويل: اې زما قومه! آيا تاسو زما د پلار غوندې نه ياست؟ وئې وويل: هو؛ ولې نه؛ بيا ئې وويل: آيا زه مو د زوی په ځای

نه يم؟ (ځكه مور مي ستاسو له قبيلې ده). وئې ويل: هو؛ ولي نه؛ وئې ويل: آيا په كوم تور مي تورنوئ؟ وئې ويل: نه؛ ده وويل: آيا نه پوهېږئ چي د عكاظ خلک مي ستاسو د مرستي لپاره عام پاڅون ته هڅولي وو او كله چي ئې زما خبره ونه منله؛ نو زه له خپل اهل و عيال او هغو سره چي زما اطاعت ئې كولو؛ تاسو ته راغلم؟ دوی وويل: هو؛ ولي نه؛ وئې ويل: دې شخص ښه وړانديز درته كړی؛ وئې منئ او پرېږدئ چي ورشم. دوی وويل: ورشه؛ نو ورغی او نبي صلی الله عليه و سلم ته ئې خبري پيل كړې؛ او رسول االله صلی الله عليه و سلم همغه خبري ورته وكړې چي بديل ته ئې كړې وې. نو دلته عروه وويل: يا محمد! آيا دې ته دي پام دئ كه د خپل قوم جرړي وباسې؛ آيا په عربو کي دي د داسي چا نوم اورېدلی چي تر تا وړاندي ئې خپل قوم تباه او له منځه وړی وي؟! او كه خبره په بل ډول شي؛ (قريش غالب شي)؛ نو قسم په خدای چي زه داسي څېرې وينم؛ او داسي ګډ وډ خلك ګورم چي تښتي به او تا به يوازي پرېږدي. نو ابوبكر صديق ورته وويل: څه؛ د لات (د مشركينو ستر بت چي د مېرمني مجسمه وه)؛ د ورنو منځ وڅټه؛ آيا موږ به ترې تښتو او يوازي به ئې پرېږدو؟! عروه وويل: دا څوک دئ؟؛ خلكو ورته وويل: ابوبكر دئ؛ عروه وويل: قسم په هغه ذات چي زما د ژوند واک ورسره دئ؛ كه هغه احسان دي نه وی چي لا تر اوسه مې بدله نه ده دركړې؛ حتما به مي ځواب دركړی وو.

راوي وايي: عروه له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره خبرو ته دوام وركړ؛ كله چي به ئې خبره كوله نو غوښتل به ئې ږيري ته ئې لاس كړي؛ او مغيره بن شعبه د رسول الله صلی الله عليه و سلم سر ته ولاړ وو؛ خول ئې پر سر او توره ئې په لاس كي وه؛ كله چي به عروه غوښتل د رسول اكرم صلی الله عليه و سلم ږيري ته لاس اوږد كړي؛ د هغه لاس به ئې د توري په لاستي وواهو او ورته ويل به ئې: لاس دي د رسول اكرم صلی الله عليه و سلم له ږيرې درشا ته كړه؛ نو عروه سر پورته كړ

او وئې ويل: دا څوک دیٔ؟ خلکو ورته وويل: دا مغيره بن شعبه دیٔ؛ عروه وويل: اې غداره! آيا زه هغه نه يم چي ستا د غدر تاوان او فديه ورکوم؟! مغيره (چي د ده وراره وو)؛ د جاهليت په دوران کي؛ له يوې ډلي سره په سفر کي ملگرى شوى وو؛ هغوى ئې وژلي وو او مالونه ئې ترې اخستي وو؛ بيا راغى او مسلمان شو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويل: اسلام دي قبولوم خو له مال سره مي هيڅ كار نه شته؛

راوي وايي: بيا عروه په دواړو سترگو د رسول الله صلى الله عليه و سلم اصحاب تر نظر لاندي نيولي وو؛ او له ځان سره ئې ويل: قسم په خداى هر ځل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ توکاڼي او خراشکي تو کړي؛ نو د دوى د يو چا په ورغوي کي لوېږي او پر خپل مخ او بدن ئې موښي؛ او هر کله چي هغوى ته امر وکړي فوراً ئې پلي کوي؛ او کله چي اودس وکړي؛ نژدې وي چي د اوداسه په مستعمل اوبو ئې يو له بل سره لاس واچوي؛ کله چي خبري کوي نو د هغه په وړاندي خپل غږ ټيټوي؛ او له ډېر احترام هغه ته هسک نه گوري؛ بيا عروه خپلو ملگرو ته ورستون شو او وئې ويل: اې خلکو! والله چي زه پاچايانو ته ورغلى يم؛ قيصر، کسرى او نجاشي ته ورغلى يم؛ والله چي هيڅ پاچا مي داسي نه دیٔ ليدلى چي پلويانو ئې د هغه دومره درناوى او تعظيم کړى وي لکه د محمد ياران چي د ده درناوى کوي. قسم په خداى که هغه توکاڼي او خراشکي تو کړي؛ نو د دوى د يو چا په ورغوي کي لوېږي او پر خپل مخ او بدن ئې موښي؛ هر کله چي هغوى ته امر وکړي فوراً ئې پلي کوي؛ کله چي اودس وکړي؛ نژدې وي چي د اوداسه په اوبو ئې يو له بل سره لاس واچوي؛ (راوي نه دي ويلي چي دا خبري ئې له چا اورېدلي دي؛ دى خو هلته نه وو)؛ کله چي به ئې خبري کولې نو د هغه په وړاندي به ئې خپل غږ ټيټولو؛ او له ډېر احترام به ئې هغه ته هسک نه کتل؛ او هغه تاسو ته سم او گټور وړانديز کړى؛ وئې منئ؛ نو د بني کنانه قبيلې يوه سړي وويل: ما پرېږدیٔ چي ده ته ورشم؛ دوى ورته

وویل: ورشه؛ کله چي هغه رسول الله صلی الله علیه و سلم او ملګرو ته ئې ورلنډ شو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «دا فلانی او د هغي قبیلې دئ چي د هدی (شکرانې اوښانو) څانګړی درناوی کوي؛ نو د هغه مخي ته ئې وروليئ»؛ نو ورولېږل شول؛ او خلکو ئې په داسي حال کي هرکلی وکړ چي ټولو تلبیه ویله؛ کله چي ئې دا حالت ولید؛ وئې ویل: سبحان الله؛ نه ښایي دا خلک د بیت الله له زیارت منع شي؛ نو کله چي خپلو ملګرو ته ستون شو؛ وئې ویل: داسي اوښان مي ولیدل چي غاړکۍ ئې په غاړو کي او په نښه شوي وو؛ نو زه مناسب نه ګڼم چي دا خلک؛ د بیت الله له زیارت منع شي.

بیا د دوی له منځه یو تن چي مِكْرَز بْن حَفْص یادېدو؛ پاڅېد او وئې ویل: ما پرېږدئ چي ده ته ورشم؛ دوی ورته وویل: ورشه؛ کله چي دوی ته ورنژدې شو؛ نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «دا مکرز دئ؛ چي فاسق سړی دئ». نو مِكْرَز له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره خبري پیل کړې؛ کله چي ده خبري کولې ناڅاپي سهیل بن عمرو راغی؛ (معمر د ایوب او هغه د عکرمه له قوله وایي: کله چي سهیل بن عمرو راغی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «ستاسو کار آسان شو».

معمر وایي: زهري په خپل حدیث کي ویلي: (له دې معلومېږي چي د دې روایت مرجع همدا ابن شهاب زهري دئ؛ توصیه مي دا ده چي د ده له روایاتو سره احتیاط کوئ؛ دلته ده ویلي:)؛ سهیل بن عمرو راغی او وئې ویل: راځئ چي زموږ او ستاسو تر منځ تړون ولیکو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم کاتب راوغوښت او ورته وئې فرمایل:«بسم الله الرحمن الرحیم» سهیل وویل: قسم په خدای چي رحمان نه پیژنم؛ نو ولیکه باسمک اللهم، لکه چي تر دې وړاندي به دي لیکل؛ مسلمانانو وویل: والله چي بسم الله الرحمن الرحیم به لیکو؛ خو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «باسمک اللهم ولیکه». بیا ئې وفرمایل: «دا د محمد رسول الله تړون دئ». سهیل وویل: په خدای قسم که په دې

مي باور درلودی چي ته د الله تعالی رسول يې؛ نو د بيت الله له زيارت به مو نه وې منع کړی او نه به درسره جنګيدلي وو؛ نو وليکه محمد بن عبدالله؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: «په خدای قسم چي زه د الله تعالی رسول يم که څه هم تاسو مي تکذيبوئ. وليکه: محمد بن عبدالله»

زهري وايي: دا د ده د هغي خبري له کبله وو چي فرمايلي ئې وو: «قسم په هغه ذات چي زما سا ئې په واک کي ده؛ که هر مهم کار له ما وغواړي چي د الهي حرماتو درناوی په کي کېږي؛ زه به ئې ورسره ومنم».

رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وفرمايل: «په دې شرط چي بيت الله ته د تګ لار مو خوشې کړئ چي طواف ئې وکړو؛ سهيل وويل: والله چي نه پرېږدو عربان ووايي: موږ په مجبوريت کي ونيول شو؛ خو دا به په راتلونکي کال کي وي؛ نو همداسي ئې وليکل. سهيل وويل: او دا چي که له موږ څوک ستا خوا ته درشي؛ که څه هم ستا دين ئې منلی وي؛ بېرته به ئې موږ ته سپارې؛ مسلمانانو وويل: سبحان الله؛ څنګه به مشرکينو ته سپارل کېږي په داسي حال کي چي د مسلمان په توګه به راغلی وي؟! دوی په همدې خبرو کي وو چي ابو جندل؛ د سهيل بن عمرو زوی؛ په داسي حال کي راغی چي په لاسونو او پښو کي ئې زنځيرونه پراته وو او له کبله ئې ورو ورو او په زحمت سره ګام اخستلو؛ د مکې له لاندينۍ برخي راوتلی وو او ځان ئې د مسلمانانو په منځ کي وغورځاوو. نو سهيل وويل: يا محمد! دا لومړنی شرط دئ چي له تا ئې عملي کول غواړم؛ چي هغه راوسپارې؛ نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: «موږ لا تړون نه دئ بشپړ کړی». سهيل وويل: نو قسم په خدای چي هيڅکله به په هيڅ څه کي له تا سره مصالحه ونه کړم؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: «دا يو سړی زما لپاره استثناءً پرېږده»؛ سهيل وويل: زه ئې ستا لپاره پرېښودونکی نه يم. وئې فرمايل:

ولي نه؛ دا وکړه؛ وئې ویل: نه ئې کوم. مِکْرَز وویل: هغه مي ستا لپاره پرېښود؛ ابو جندل وویل: اې مسلمانانو! آیا مشرکینو ته سپارل کېږم؛ په داسي حال کي چي زه مسلمان راغلی یم؟! نه گورئ چي له څه حال سره مخ شوی یم؟؟ او هغه د الله لپاره سخت تعذیب شوی وو.

راوي (زهري) وایي: نو عمر بن خطاب وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلم او ومي ویل: آیا ته په حقه د الله تعالی رسول نه یې؟ وئې فرمایل: «هو؛ ولي نه»؛ ومي ویل: آیا موږ په حقه او دښمن مو په باطل نه دئ؟ وئې فرمایل: «هو؛ ولي نه؛»؛ ومي ویل: نو ولي په دین کي ذلت ومنو؟! وئې فرمایل: «زه د الله تعالی رسول یم؛ هیڅکله سرغړاوی نه ترې کوم؛ او هغه مي مرستندوی دئ»؛ ومي ویل: آیا تا نه وو راته ویلي چي بیت الله ته به ځو او طواف به ئې کوو؟ وئې فرمایل: «هو؛ ولي نه؛ خو آیا دا مي ویلي وو چي سږ کال به دا کار کوو؟» ومي ویل: نه؛ وئې فرمایل: «حتماً به کعبې ته ځې او طواف به ئې کوې». وئې ویل: بیا ابو بکر ته ورغلم او ومي ویل: یا ابو بکر! آیا دی په حقه د الله رسول نه دئ؟! وئې ویل: ولي نه؛ ومي ویل: آیا موږ په حقه او دښمن مو په باطل نه دئ؟! وئې ویل: هو؛ ولي نه؛ ومي ویل: نو ولي په دین کي ذلت ومنو؟ ابو بکر وویل: اې سړیه! هغه د الله رسول دئ؛ له خپل رب سرغړاوی نه کوي؛ او هغه ئې مرستندوی دئ؛ امر ئې منه؛ او خوا ته ئې کلک ودرېږه؛ په خدای قسم هغه په حقه دئ. ومي ویل: آیا موږ ته ئې دا نه وو ویلي چي کعبې ته به ځو او طواف به ئې کوو؟ وئې ویل: هو؛ ولي نه؛ خو آیا دا ئې درته ویلي وو چي سږ کال به کعبې ته ځې؟ ومي ویل: نه؛ ابو بکر وویل: نو ته به حتماً ورشې او طواف به ئې وکړې. عمر وایي: وروسته مي د دې خبرو د جبران لپاره ډېر کارونه وکړل.

راوي وایي: کله چي د تړون له لیکلو فارغ شو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو اصحابو ته وفرمایل: «پاځئ؛ خپل د هدیي څاروي

ذبح او سرونه مو وخرېئ». راوي وايي: په خدای قسم چي يو تن هم ترې پورته نه شو؛ حتی دا خبره ئې درې ځلي وکړه؛ خو چي هيڅوک پورته نه شو؛ (دا هم مبالغه ده او هم د حقيقت خلاف؛ په همدې روايت کې راغلي چي ابوبکر رضي الله عنه نه يوازي له دې پرېکړي سره موافق او پرې راضي وو بلکي عمر رضي الله عنه ته ئې هم قناعت ورکړ)؛ نو د ام سلمه خيمې ته ننوت او څه چي ئې له خلکو ليدلي وو هغې ته ئې وويل؛ ام سلمه رضي الله عنها وويل: يا رسول الله! آيا دا خوښوې: ووځه؛ له هيچا سره يوه کلمه خبره هم مه کوه؛ تر هغه چي خپل اوښ ذبح کړې؛ سر خرېيونکی دي دروغواړه چي وېښتان دي وخرېيي؟؛ نو د باندي ووت او پرته له دې چي له چا سره خبري وکړي؛ خپل اوښ ئې ذبح کړ او سر خرېيونکی ئې راوغوښت او وېښتان ئې وخرېيل؛ اصحابو چي دا حال وليدو؛ پاځېدل؛ خپل اوښان ئې ذبح کړل او لګيا شول يوه د بل سر خرېيو؛ له ډېري اندېښنې ئې حال داسي وو چي نژدې وه ځيني يو بل ووژني.

بيا ځيني مؤمني مېرمني راغلې؛ نو الله تعالی دا آيتونه نازل کړل: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ...) الممتحنة: ۱۰؛ تر دې ځای پوري: بِعِصَمِ الكَوَافِرِ (اې مؤمنانو! که مؤمني مېرمني تاسو ته راغلې؛ نو امتحان ئې کړئ...) تر دې قوله چي فرمايي: (کافري ښځې په خپلي نکاح کي مه ساتئ). د دې آيتونو له نزول سره؛ عمر خپلې دوې مېرمني چي مشرکاني وې طلاقې کړې؛ چي يوه ئې معاويه بن ابي سفيان او بله ئې صفوان بن اميه په نکاح کړه. (خو حقيقت د دې خلاف دئ؛ دا آيتونه تر دې پېښي ډېر وروسته نازل شوي؛ دلته نه مېرمني راغلې او نه دا آيتونه نازل شوي؛ او نه عمر رضي الله عنه خپلي مېرمني طلاق کړې؛ يوازي ابو جندل راغلی؛ هغه هم په زنځېرونو کې؛ له دې کبله هم دا خبره صحيح نه ده چي د مېرمنو راتګ او منل ئې له معاهدې مخالفت دئ؛ د ابو جندل او بيا ابو بصير رضي

الله عنهما بېرته سپارل ښيي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم تر پايه د معاهدې درناوی کړی)!!

بیا نبي صلی الله علیه و سلم مدينې ته ستون شو؛ د قريشو يو سړی چي ابو بصیر نومېدو او مسلمان شوی وو؛ ورته راغی؛ قريشو دوه تنه ورپسي راولېږل او وئې ويل: له موږ سره په شوي تړون وفا وکړه؛ نو هغه ئې دوی دواړو ته وسپارو؛ هغوی له ځان سره روان کړ؛ کله چي ذوالحليفه ته ورسېدل؛ نو کوز شول او د خپلو کجورو په خوړلو لګيا شول؛ ابو بصیر له دوی دواړو يوه ته وويل: اې فلانيه! والله چي ستا توره ډېره ښه راته برېښي؛ هغه خپله توره له تيکي راوايستله او ورغبرګه ئې کړه: هو په رښتيا چي ښه توره ده او څو ځله مي آزمويلې ده. ابو بصیر وويل: راوئې ښيه چي وئې ګورم؛ هغه سړي خپله توره ورکړه؛ ابو بصیر پاڅېدو او هغه سړی ئې وواهو؛ دومره چي مړ شو؛ دويم ئې د مدينې په لور وتښتېدو او په تلوار سره نبوي مسجد ته ننوت؛ کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وليد؛ وئې فرمايل: «دا سړی ډار شوی». کله چي هغه سړی نبي صلی الله علیه و سلم ته ورسېد؛ وئې ويل: والله چي ملګری مي ووژل شو؛ او زه هم وژل کېږم؛ په همدې وخت کي ابو بصیر هم راورسېد او وئې ويل: يا رسول الله! تا په خپل عهد وفا وکړه؛ زه دي وروسپارلم، خو خدای تعالی ترې وژغورلم؛ نبي صلی الله علیه و سلم وفرمايل: «مور ئې پرې بوره شه؛ د جنګ بلوونکی دئ؛ خو که څوک ولري (کاش څوک ولري چي پوه ئې کړي؛ دا کار ئې د جګړي اور بلول دي)». کله چي ابو بصیر دا واورېدل؛ پوه شو چي هغوی ته به ورسپارل شي؛ نو ښار ئې پرېښود او د سيند غاړې ته ولاړ.

بیا ابو جندل بن سهيل هم له قريشو وتښتېدو او له ابو بصیر سره يو ځای شو؛ نو له قريشو چي به څوك مسلمانېدو او ترې تښتېدو به؛ نو له ابو بصیر سره به يو ځای کېدو؛ تر هغه چي له دوی يو لوی ټولی جوړ شو؛ نو والله چي د قريشو له هر کاروان چي شام ته به تللو؛ ترې

خبرېدل به او برید به ئې پرې کولو؛ وژل به ئې او مالونه به ئې اخستل؛ نو قریشو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پلاوی ولېږو او د الله او خپلوۍ په پار ئې ترې وغوښتل چې د دوی مخه ونیسي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته پیغام ولېږلو؛ قریشو دا هم ویلي وو چې ځوك له قریشو محمد علیه السلام ته ورشي؛ هغه زموږ له لوري په امن کې دیٔ؛ نو الله تعالی دا آیتونه راولېږل:

وَهُوَ الَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ... الفتح: ﴿٢٤﴾ حَتَّى بَلَغَ (الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ ﴿٢٦﴾ الفتح

او الله هغه ذات دیٔ چې په مکه کې ئې د کفارو لاسونه له تاسو او ستاسو لاسونه له هغوی؛ تم کړل؛ له هغه وروسته چې تاسو ئې پرې برلاسي کړیٔ؛ ... تر دې آیت پورې: (هغه مهال چې کافرانو په خپلو زړونو کې جاهلانه حمیت (ننگ) وپارولو.

راوي وایي: او د دوی جاهلانه غیرت او ننگ دا وو چې؛ وئې نه منل محمد علیه السلام د الله نبي دیٔ؛ بسم الله الرحمن الرحیم ئې ونه منلو او بیت الله ته د مسلمانانو له تگ ئې مخنیوی وکړ؛ (بخاری: ۲۷۳۱ - ۲۷۳۲)؛ (دا آیتونه هم قطعاً د ابو بصیر د ډلې په ارتباط نه دي نازل شوي؛ بلکې په حدیبیه که د قریشو د شرارتي بریدونو په ارتباط نازل شوي؛ په دې آیتونو ناسم استناد سخت حیران کړم؛ ځوك چې په سطحي توگه هم دا آیتونه له نظره تېر کړي؛ نو پوهېږي چې دا د ابو بصیر له ډلې او د دوی له بریدونو سره هیڅ مناسبت او تړاو نه لري؛ تفصیلات به ئې وروسته وگوریٔ).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دیٔ؛ په ۷ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عَبْدُ اللَّهِ بْن مُحَمَّد، عَبْدُ الرَّزَّاقِ، مَعْمَر، زُهْرِي، عُرْوَة بْن الزُّبَيْرِ له مَرْوَان بن الحكم او مِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ. له بخاري پرته

یوازي په مسند احمد کې راغلی؛ یعني چې د بخاري راویانو؛ له دې آدرس تر لاسه کړی. روایت تر دې باب لاندې راوړل شوی: په جهاد او سوله کې شروط؛ په داسې حال کې چې په روایت کې دا مطلب نه مومو؛ مناسب عنوان ورته (د حدیبیې معاهده) ده؛ ځکه په روایت کې یوازې همدا مطلب راغلی.

روایت مرسل دئ؛ مروان تابعي دئ، مسور بن مخرمه په ۲ هجری کال کې پیدا شوی؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رحلت په کال ۸ کلن وو؛ نو د حدیبیه په کال به ٤ کلن وو؛ ده باید هغه صحابي ښودلی وی چې دا روایت ئې ترې اورېدلی؛ ولې نه دئ ښودل شوی؟! محققینو ځکه دا روایت مرسل ګڼلی چې په صحابي او تابعي پای ته رسېدلی؛ له دې علاوه د حدیبیې په سفر کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره نژدې ۱٤۰۰ تنه وو؛ په دوی کې د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما په څېر مهم شخصیتونه هم وو او د ابو هریره او انس رضي الله عنهما په څېر معروف راویان هم؛ له مهمو شخصیتو یوازې عثمان رضي الله عنه حاضر نه وو؛ دا مهال هغه په مکه کې وو؛ او په غالب ګمان رسول الله صلی الله علیه و سلم د قریشو له مشرانو سره د مذاکراتو لپاره لېږل وو؛ او له مشهورو راویانو یوازې ابن عباس نه وو؛ او دا ځکه چې هغه له خپل پلار سره د مکې له فتحې وروسته مدینې ته تللی؛ نو له دغه لوی لښکر؛ هیڅا دغه خبري نه دي کړې چې د بخاري په دې روایت کې راغلې؟! یوازې د مسور نوم اخستل شوی چې نه یوازې په دې سفر کې نه وو؛ بلکې دا مهال نژدې څلور کلن وو!! نه یوازې د روایت په سند کې دا ستونزې دي چې د صحت شرائط په کې قطعاً نه دي مراعات شوي؛ بلکې په متن کې ئې هم ډېرې جدي ستونزې دي؛ ځینې ئې دا دي:

۱. د روایت په پای کې د الفتح سورې په دریو آیتونو استناد شوی چې سم استناد نه دئ؛ په دې آیتونو کې تر معاهدې وړاندې حالت ته اشاره شوې؛ نه د ابو بصیر رضي الله عنه د ټولې تر جوړېدو وروسته حالت ته؛

آيتونه دا دي:

وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْهَدْىَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا۟ لَعَذَّبْنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾

او الله هغه ذات دئ چي د مکې دننه (حديبيه کې) ئې د دوی لاسونه له تاسو تم کړل او ستاسو لاسونه له دوی؛ له هغه وروسته چي تاسو ئې پرې برلاسي کړئ؛ او الله د هغه څه ښه ليدونکی وو چي تاسو کول. دوی همغه دي چي کفر ئې وکړ او له مسجد الحرام ئې تاسو منع کړئ؛ په داسي حال کې چي د قربانۍ څاروي هم د حلالېدو خپل ځای ته له رسېدو منع کړی شوي وو؛ او که هغه مؤمنان نارينه او مؤمني مېرمني نه وی چي تاسو نه پېژندل؛ داسي نه چي په ناپوهۍ سره ئې تر پښو لاندي کړئ او د دوی له کبله به تاسو ته په ناخبرۍ کې پېغور متوجه شي؛ د دې لپاره چي الله هغه څوك په خپل رحمت کې داخل کړي چي دی ئې غواړي، که (ترې) بېل شوي وی نو د دوی هغه به مو په دردناك عذاب اخته کړي وو چي کفر ئې کړی.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

• الله تعالی د دې سفر په دوران کې د قريشو او مسلمانانو تر منځ د نښتي مخنيوی وکړ؛ دا په داسي حال کې چي د قريشو شريرو جنگياليو په وار وار د دې هڅه کوله چي مسلمانان وپاروي او نښته رامنځته کړي؛ څو ځلي ئې غلچکي بريدونه وکړل؛ هر ځل ونيول شول او رسول الله صلی الله عليه و سلم بېرته پرېښودل؛ يو ځل د دوی څلوېښتو پنځوسو

کسانو د شپې له لوري د مسلمانانو پنډغالي ته ډبري او غشي وار کړل؛ ټول د صحابه وو له لوري ونیول شول خو رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول خوشي کړل؛ بل ځل اتیا کسانو د ګهیځ لمانځه پر مهال ناڅاپي برید وکړ؛ دوی هم ونیول شول او رسول الله صلی الله علیه و سلم پرېښودل؛ په دې توګه د قریشو هره هڅه شنډه شوه. په دې آیتونو کې دغو پېښو ته اشاره شوې او ویل شوي: دا خو الله تعالی وو چې د مکې دننه ئې د دوی لاسونه له تاسو راتم کړل او ستاسو لاسونه له دوی؛ له هغه وروسته چې تاسو ئې پرې برلاسي کړئ؛ په دي آیتونو کې همدغو بریدونو او پر دښمن د مسلمانانو برلاسي ته اشاره شوې؛ له دې پرته بیا د مکې تر فتحې هیڅ نښتي نه دي شوې.

- دلته ویل شوي چې الله تعالی د مکې منځ کې ستاسو او قریشو تر منځ له جنګ مخنیوی وکړ؛ او دا په څرګنده توګه ښیي چې د ابو بصیر له بریدونو سره هیڅ تړاو نه لري؛ ځکه ابو بصیر له مکې بهر د سمندر غاړي ته نژدې او د شام او مکې تر منځ لاري کې سنګر نیولی وو؛ نه د مکې منځ کې!! عجیبه ده چې ځوك دې ته له پام پرته دا آیتونه د ابو بصیر له بریدونو سره تړي!!
- که څه هم تېری او تجاوز د قریشو له لوري شوی، دوی د کفر لار غوره کړه، مسجدالحرام ته ئې ستاسو د تګ مخنیوی وکړ، د قربانۍ څاروي ئې هم پرې نښودل چې خپل ټاکلي ځای ته ورسېږي؛ خو الله تعالی د یوه خاص مصلحت له مخي د نښتي مخنیوی وکړ او هغه دا چي په مکه کې داسي مؤمن نارینه او مؤمني مېرمني وې چي مسلمانانو نه پېژندل، د نښتي په صورت کې به دوی هم تر پښو لاندي کېدل، الله تعالی نه غوښتل دوی ته صدمه ورسېږي او مسلمانانو ته دا پېغور متوجه شي چي د ډېرو بې وزلو مؤمنانو په وینو ئې لاسونه سره شول.
- همدا راز الله تعالی غوښتل د مکې ډېر استوګن د ایمان له سعادت برخمن شي؛ که هغه مؤمنان او دغه چي د ایمان سعادت به ئې په

راتلونکي کې په برخه کېدو؛ له قريشو بېل شوي وی نو د قريشو کافران به ئې په دردناك عذاب اخته کړي وو.

• دې ته مو پام بايد وي چې دا لارښووني يوازې د هغه حالت په توضيح پورې محدود نه دي بلکې له دښمن سره د نښتو په اړه يوه الهي لارښوونه زموږ په وړاندې ږدي؛ د دې او دې ته ورته قرآني لارښوونو له مخې مسلمانان مکلف دي چې له دښمن سره د نښتو په دوران کې دې ټکي ته په کلکه توجه وکړي چې بې وزلي مسلمانان په ناپوهۍ کې تر پښو لاندې نه شي او صدمه ورونه رسېږي؛ نه يوازې د داسې مسلمانانو په اړه بايد جدي اهتمام وکړي بلکې د هغو په اړه هم بايد اندېښمن وي چې کېدی شي په راتلونکي کې ايمان راوړي؛ البته دا لارښوونه د داسې حالت اړوند لارښوونه ده چې د جګړې ابتکار د مسلمانانو په لاس کې وي، د بريد وخت او ځرنګوالی د دوی له لوري ټاکل کېږي، بريد يا دفاع ته اړ شوي نه وي، ځنډول ئې دوی ته کوم تاوان نه رسوي او د دښمن په ګټه نه منتج کېږي.

متأسفانه اوس داسې بد مغز مفتيان هم راټوکېدلي چې د دې ځرګندو قرآني لارښوونو خلاف؛ بې شعورو او لېون سرو جنګياليو ته په جوماتونو او مدرسو کې د چاودنو د جواز غلطې فتواګانې ورکوي؛ دا هم جائز ګڼي چې په جومات کې او د جَمعې لمانځه پر مهال د خپل رقيب يا دښمن د وژلو لپاره چاودني يا ړندې ډزې وکړي؛ د دې پروا هم نه کوي چې بې ګناه لمونځ کوونکي به ووژل شي!!

إِذۡ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ ٱلتَّقۡوَىٰ وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا وَأَهۡلَهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ۝٢٦

هغه مهال چې کافرانو په خپلو زړونو کې جاهلانه حميت (ننګ) راولاړ کړ؛ نو الله پر خپل پيغمبر او پر مؤمنانو خپله سکينه نازله کړه او د

تقوی په وینا ئې مقید کړل؛ په داسي حال کي چي د همدې مستحق او وړ ول؛ او الله په هر څه ښه پوه دئ.

په دې مبارك آیت کي هغه حالت توضیح شوی چي قریشو د جاهلانه ننګ او حمیت له کبله مؤمنانو ته د عمرې اجازه ورنه کړه؛ دا ئې ځان ته پېغور ګڼلو چي د هغو مسلمانانو لوی شمېر مکې ته ننوځي چي تر پرون پوري دوی ورسره جنګېدل؛ هغه چي دوی له مکې هجرت ته مجبور کړي ول، د یاغیانو او باغیانو په سترګه ئې ورته کتل، د دوی په اړه ئې ویل چي له خپل پلرني حق دین وتلي او د وژلو وړ دي؛ د دوی د دې جاهلانه اقدام په وړاندي الله تعالی پر خپل پیغمبر او پر مؤمنانو خپله سکینه نازله کړه؛ داسي چي د دښمن د شرارتونو په وړاندي نه جذباتي شول، نه ئې د حکمت او پوهي خلاف کوم ګام اوچت کړ، د تقوی او صبر لمن ئې کلکه ونیوله، د همدې مستحق او وړ ول، داسي روزل شوي ول چي د همدې انتظار تري کېدی شو؛ نه د بل څه؛ د همدې وړ او مستحق ول چي (سکینه) او (تقوی) ئې په برخه شي.

خو په بخاري کي دا آیتونه د ابو بصیر د ټولي له جوړېدو وروسته حالت پوري مربوط ګڼل شوي او ګواکي د قریشو د هیئت مطالبې ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مثبت ځواب له ویلو وروسته نازل شوي؛ په داسي حال کي چي دا آیتونه د الفتح سورې دي او دا سوره له حدیبیې د راستنېدو په دوران کي نازله شوې.

• همدا راز په روایت کي ویل شوي چي له معاهدې وروسته او هملته په حدیبیه کي ځیني مؤمني مېرمني راغلې؛ او ګواکي د دوی په اړه دا آیتونه نازل شول:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ...﴿١٠﴾

الممتحنة

اې هغو چي ایمان ئې راوړی! کله چي مؤمني ښځي د مهاجرو په توګه

درشي نو هغوی وآزمویئ....

خو د الممتحنه سوره؛ د حديبيې له پېښي ډېر وروسته نازله شوې؛ د سورې له دوو برخو معلومېږي چي د حديبيې له معاهدې وروسته او د مکې تر فتحي وړاندي نازله شوې؛ لومړی آيت ئې دښمن ته د سري پيغامونو لېږلو ته اشاره کوي او ښيي چي د دې سورې د نزول په شپو ورځو کي داسي کومه پېښه رامنځته شوې؛ روايات وايي چي په دې سره د حاطب بن ابي بلتعه هغه ليك ته گوته نيول شوې چي ده قريشو ته لېږلی وو او په هغه کي ئې دوی ته ليکلي وو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم پر دوی د بريد لپاره تيارى نيسي. د سورې په لسم آيت کي د هغو مېرمنو په اړه لارښوونه شوې چي مؤمنانو ته پناه راوړي؛ دا لړۍ هم په وروستيو کلونو کي پيل شوه او د حديبيې له معاهدې وروسته دا پوښتنه راولاړه شوه چي که داسي مېرمني مسلمانانو ته پناه راوړي نو څه به ورسره کوي؛ د معاهدې هغه بند به د دوی په اړه څنگه تعبيروي چي د قريشو د فراريانو د بېرته ستنولو په اړه دئ.

لکه چي گورئ په دې روايت کي راغلي آيتونه؛ د حديبيې له پېښو سره هيڅ تعلق نه لري او وروسته نازل شوي؛ احتمالاً دا آيتونه وروسته ابن شهاب زهري چي يو له راويانو دئ؛ له ځانه علاوه کړي.

- په روايت کي ويل شوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په وچ ډنډ کي د ده د يوه غشي ايښودلو امر وکړ او په همدې غشي سره دومره اوبه راوخوټېدې چي له هغه ځای د دوی تر وتلو پوري راخوټېدلې؛ په دې اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو: ۱- که داسي خارق العاده کار شوی وی نو ډېرو صحابه وو به حتماً روايت کړی وو؛ مشرکينو او کفارو ته به هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا نادره معجزه رسېدلې وه؛ خو له ابن شهاب زهري پرته بل چا دا خبره نه ده کړې؛ او هغه هم دا خبره داسي چا ته منسوب کړې چي هغه مهال ٤ کلن وو. ۲- قرآن په مکرره او مؤکده توگه فرمايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته

داسي معجزې نه وې ورکړی شوې؛ مشرکینو به ویل چي ولې ده ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چي مخکینیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې؛ په خاصه توګه دا ئې ویلې: ولې نه شي کولی له زمکې یوه چینه راوخوټوي:

وَقَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الأَرْضِ يَنْبُوعًا۝ الإسراء

او وئې ویل: تر هغه درباندي ایمان نه راوړو چي له زمکې کومه چینه راته ونه بهوې؛

قرآن له دې وروسته د هغو نورو معجزو یادونه هم کړې ده چي مخالفینو ترې غوښتي؛ خو الله تعالی د دوی د غوښتنو په پای کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمایلي:

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا....

ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟! (څنګه له ما داسي معجزې غواړئ؟!)

د دې مبارکې سورې په ۵۹ آیت کې د دوی د داسي غوښتنو په اړه ویل شوي: له دې پرته بل څه موږ د معجزو له لېږلو منع نه کړو چي مخکینیو هغه تکذیب کړې؛ دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چي د دوی د دغو غوښتنو په ځواب کې ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه رسول او استازي پرته بل څه یم؟! یعني دا چي الله تعالی؛ محمد علیه السلام ته داسي معجزې نه وې ورکړې؛ که نه نو قریشو ته به ئې حتماً ورښودلې وه. د یوه روایت د عدم صحت لپاره فقط همدا کافي ده چي له قرآن سره تعارض ولري.

• په روایت کې ابو بکر او عمر رضي الله عنهما ته داسي څه منسوب شوي چي د دوی له لوړ شأن سره قطعاً نه ښایي؛ او ښیي چي له شك پرته د دوی د مخالفینو له لوري جوړ شوي تورونه دي؛ ابو بکر رضي الله عنه ته د لات په اړه نا مناسبه وینا منسوب شوې او عمر رضي الله عنه ته د حدیبیې له معاهدې سره مخالفت او له رسول الله صلی الله

عليه و سلم نامناسبي پوښتني او اعتراضات؛ اوس چي ما ته دا حقائق معلوم شول؛ نو له خپل رب مي د دې بخښنه وغوښتله چي د عدم معلومات له کبله مي کله کله په ويناوو کې د روايت دا نسبتونه د عمر رضي الله عنه په اړه ويلي وو. هيله ده تاسو او ټول هغه چي اوس د دې روايت په ماهيت پوه شوي؛ هم معافي وغواړئ.

• په روايت کې د خالد په مشرۍ د قريشو د ټولي کمين ته په داسي توگه اشاره شوې چي لوستونکی گمان کوي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم به په غيب د پوهېدو له امله صحابه وو ته ويلي وي: په غميم کې خالد مستقر شوی؛ خپله لار بدله او ښي لوري ته واوړئ؛ حال دا چي په بل روايت کې راغلي چي د مسلمانانو يوه خواخوږي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د دې ټولي د کمين په اړه معلومات ورکړي وو؛ نوم ئې بسر بن سُفْيَان الكعبي دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې وويل: يَا رَسُول الله هَذِه قُرَيْش قد سَمِعت بمسيرك فَخَرجُوا وَقد نزلُوا بِذِي طوى. وَهَذَا خَالِد بن الْوَلِيد فِي خيلهم قدموها إِلَى كرَاع الغميم: يا رسول الله! قريش ستا له مسير خبر شوي؛ نو وتلي او په ذي طوی کې ئې اړولي؛ او دا خالد بن وليد ئې له خپلو سپرو سره غميم ته وړاندي لېږلی. له دې معلومېږي چي د عروه، مِكْرَز بْن حَفْص او سهيل بن عمرو په اړه هم همداسي شوي.

• د روايت دا ادعاء له يوې خوا مبالغه ده او له بلي خوا د روايت له بلي برخي سره تعارض لري؛ وايي: کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم صحابه وو ته وويل: پاځئ او له احرام ووځئ؛ درې ځلي ئې دا خبره تکرار کړه؛ خو هيڅوك ونه پاځېدو او له احرام ونه ووت!! په داسي حال کې چي ترې مخکې ئې ويلي: ابوبکر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه له مخالفت منع کړی؛ که دا ومنو چي بل څوك به نه وي پاځېدلی؛ چي يقيناً منل ئې ډېر گران دي؛ هغه هم د مطلق غريب روايت له مخي؛ نو د ابوبکر رضي الله عنه په اړه به ئې څنگه منو؛ هغه خو په همدې

روايت کې هم مستثنی شوی!!

- د انسان خراشکي او توکاڼې؛ د نورو مضرو توکیو په څېر دي؛ چې بدن ئې بهر باسي؛ لږ تر لږه مکروه دي؛ د اوداسه مستعمل اوبه هم د بل اوداسه لپاره پاکې نه ګڼل کېږي؛ څنګه ومنو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به صحابه وو ته اجازه ورکړې وي چې د ده توکاڼې په لپه کې واخلي او پر مخ او ځان ئې وموښي؟ هغه هم د داسي مطلق غريب روايت له مخې چې نه ئې سند اعتبار لري او نه ئې متن په قرآن کې کوم شاهد؛ او په داسي حال کې چې قرآن فرمايي: د پيغمبرانو دنده دا ده چې خلك په معروف وګماري، له منکر ئې منع کړي؛ پاکيزه شيان ورته حلال کړي او ناپاك او خبيث شيان ورته حرام کړي:

... يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ ... ﴿١٥٧﴾ الأعراف

- همدا راز په روايت کې د زهري له تبصرو داسي معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د قريشو له ورانديزونو سره له دې امله توافق کړی وي چې د لاري نيمايي کې قصواء (د رسول الله اوښه)؛ ناڅاپي او د خپل عادت خلاف چو شوه؛ او له لتېدو ئې ډډه کوله؛ او ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: قصواء؛ (د فيلانو ټموونکي ذات تم کړې ده)؛ او همدې ته په پام سره ئې وفرمايل: «قسم په هغه ذات چې زما سا ئې په واک کې ده؛ که هر مهم کار له ما وغواړي چې د الهي حرماتو درناوی په کې کېږي؛ زه به ئې ورسره ومنم». بيا ئې اوښه وهڅوله نو پاڅېده؛ که د اوښې چو کېدا دا ښودلی چې الله تعالی غوښتل دلته تم شي او له مخکې تګ ډډه وکړي؛ نو پاڅېدا او روانېدا خو ئې بايد داسي تعبير شوې وی چې الله تعالی اوس مخکې تګ خوښوي!! په دې سرېېره که دا عجيب کار شوی وی؛ نو بيا خو به؛ ۱- هيڅا د معاهدې په هيڅ بند اعتراض نه کولو او دا به ئې د الله تعالی له لوري د وحي

مطابق ګڼله؛ نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم خپله رأی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم به معترضينو ته؛ د عمر رضي الله عنه په شمول ويلي وو: هغه ذات چي دلته ئې اوښه تم کړه؛ ما ته ئې د قريشو د ټولو شرائطو منلو وحي هم وکړه؛ هيڅا به دا جسارت نه کولو چي د معاهدې مخالفت وکړي!! ۲- له دې ۱۴۰۰ صحابه وو خو به ډېرو دا نادره او عجيبه پېښه هر دوست او دښمن ته کړې وه او په سلګونو راويان به ئې درلودل؛ ولي يو راوي هم نه لري؛ او روايت داسي چا ته منسوب شوی چي د دې پېښي په وخت کي څلور کلن وو!! آيا عجيبه نه ده چي د سند له پلوه داسي عجيب او غريب روايت او د متن له پلوه د قرآن، عقل او واقعيتونو خلاف روايت ته د صحيح نوم ورکوي؟!

## (۵)باب: جائز شرطونه او په اقرار کي جائز استثناءات

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلاَّ وَاحِدًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ». (بخارى: ۲۷۳۶).

۱۱۹۳: له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: «الله تعالى (۹۹) نه نوي يا يو کم سل نومونه لري؛ هر چا چي ياد کړل جنت ته به ننوځي».

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۷۳۶ - ۷۳۹۲ ؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: أَبُو اليَمَانِ، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَادِ، الأَعْرَجِ او أَبو هُرَيْره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ روايت تر دې باب لاندي راغلی: (جائز شروط او په اقرار کي جائز استثناءات)؛ په روايت کي نه کوم جائز شرط مومو او نه په شرط کي استثناء؛ داسي معلومېږي چي يو کم سل استثناء ګڼل شوي؛ په داسي حال کي چي يو کم سل؛ د ۹۹ مترادف نوم دئ؛ نه کومه استثناء؛ مناسب باب ورته دا وو: (د الله تعالى ۹۹ نومونه)؛ دا روايت په نورو کتابونو کي هم راغلی؛ خو په سند

او متن کې له ځینو توپیرونو سره؛ په سنن ابن ماجه او سنن الترمذي کې دا ۹۹ نومونه ښودل شوي؛ او ترې معلومېږي دا همغه صفات دي چې په قرآن کې ئې یا صراحتاً یادونه شوې؛ یا اشارتاً؛ خو په بخاري کې نه دي ښودل شوي؛ د دوی روایت دا دئ:

۳۸۶۱ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا، مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، إِنَّهُ وِتْرٌ، يُحِبُّ الْوِتْرَ، مَنْ حَفِظَهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ: له ابو هریره روایت دئ چې رسول الله صلى الله علیه و سلم فرمایلي: د الله تعالی (۹۹)؛ یو کم سل؛ نومونه دي؛ الله تعالی طاق (بې جوړې) دئ او طاق خوښوي؛ چا چې حفظ کړل؛ جنت ته به داخل شي: وَهِيَ: او هغه دا دي: اللَّهُ- خدای، الْوَاحِدُ- یوازینی، الصَّمَدُ- بشپړ، الْأَوَّلُ- لومړنی، الْآخِرُ- وروستنی، الظَّاهِرُ- ښکاره، الْبَاطِنُ- ناڅرګند، الْخَالِقُ؛ پنځوونکی، الْبَارِئُ- له نشت هستوونکی، الْمُصَوِّرُ- انځورګر، الْمَلِكُ- پاچا، الْحَقُّ- حق، السَّلَامُ- رغوونکی او له عیب منزه، الْمُؤْمِنُ- امان ورکوونکی، الْمُهَيْمِنُ- چاپېروونکی، الْعَزِيزُ- عزتمن، الْجَبَّارُ- جبیره کوونکی، الْمُتَكَبِّرُ- لویي کوونکی، الرَّحْمَنُ- ډېر زیات مهربان، الرَّحِيمُ- ډېر مهربان، اللَّطِيفُ- د لطف او نرمښت خاوند، الْخَبِيرُ- ښه باخبر، السَّمِيعُ- اورېدونکی، الْبَصِيرُ- لیدونکی، الْعَلِيمُ- پوه، الْعَظِيمُ- ستر، الْبَارُّ- ښېګڼه کوونکی، الْمُتْعَالِ- لوړ، الْجَلِيلُ- د جلال او پت خاوند، الْجَمِيلُ- ښایسته، الْحَيُّ- ژوندی، الْقَيُّومُ- استوار او قائموونکی، الْقَادِرُ- توانا، الْقَاهِرُ- برلاسی، الْعَلِيُّ- بر او لوړ، الْحَكِيمُ-د حکمت خاوند، الْقَرِيبُ- نژدې، الْمُجِيبُ- منونکی، الْغَنِيُّ- بې نیاز شتمن، الْوَهَّابُ- ډېر ورکوونکی، الْوَدُودُ- مینه ناك، الشَّكُورُ- شکر کوونکی، الْمَاجِدُ- پرتمین، الْوَاجِدُ-پیدا کوونکی، الْوَالِي- چارواکی، الرَّاشِدُ-لارښود، الْعَفُوُّ- عفو کوونکی، الْغَفُورُ- بخښونکی، الْحَلِيمُ- صبرناك پوه، الْكَرِيمُ-د پېرزویني خاوند، التَّوَّابُ- توبه منونکی، الرَّبُّ - پالونکی، الْمَجِيدُ- پرتمین، الْوَلِيُّ- دوست او یاور، الشَّهِيدُ-ګواه او لیدونکی، الْمُبِينُ- څرګند او څرګندونکی، الْبُرْهَانُ-حجت او دلیل، الرَّءُوفُ- زړه سواند، الرَّحِيمُ- ډېر مهربان (تکرار راغلی)، الْمُبْدِئُ- پیلوونکی، الْمُعِيدُ-

بیا پیدا کوونکی، الْبَاعِثُ- هڅوونکی او پاڅوونکی، الْوَارِثُ- وارث، الْقَوِيُّ- ځواکمن، الشَّدِيدُ- کلك، الضَّارُّ- زیان رسوونکی، النَّافِعُ- گټه رسوونکی، الْبَاقِي- تلپاته، الْوَاقِي- ساتونکی او ژغورونکی، الْخَافِضُ- ټیټوونکی، الرَّافِعُ- لوړوونکی، الْقَابِضُ-قبضوونکی، الْبَاسِطُ- پراخوونکی، الْمُعِزُّ- عزت ورکوونکی، الْمُذِلُّ- سپکوونکی، الْمُقْسِطُ-عدالت کوونکی، الرَّزَّاقُ- روزي ورکوونکی، ذُو الْقُوَّةِ- د ځواك خاوند، الْمَتِينُ- استوار او د ثبات خاوند، الْقَائِمُ- (القیوم-د امورو مدبر په خپل ذات بسیا )، الدَّائِمُ- تلپاته، الْحَافِظُ- ساتونکی، الْوَكِيلُ- هغه چي پرې توکل کېږي، الْفَاطِرُ- چاودوونکی، السَّامِعُ- اورېدونکی، الْمُعْطِي-ورکوونکی، الْمُحْيِي-ژوند بخښونکی، الْمُمِيتُ-مړوونکی، الْمَانِعُ- منع کوونکی، الْجَامِعُ- راغونډوونکی، الْهَادِي- لارښود، الْكَافِي-بسېدونکی، الْأَبَدُ- تلپاته، الْعَالِمُ-پوه، الصَّادِقُ-رښتینی، النُّورُ-رڼا، الْمُنِيرُ-رڼا بخښونکی، التَّامُّ- بشپړ، الْقَدِيمُ- مخکینی، الْوِتْرُ- بې جوړې او طاق، الْأَحَدُ- یوازینی، الصَّمَدُ- پر ځان بسیا او له بل بې نیاز، الَّذِي لَمْ يَلِدْ- هغه چي څه نه ترې زېږي، وَلَمْ يُولَدْ- هغه چي له بل نه دئ زېږېدلی، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ- او هغه چي سیال ئې نه شته"
قَالَ زُهَيْرٌ: فَبَلَغَنَا مِنْ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّ أَوَّلَهَا يُفْتَحُ بِقَوْلِ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى» اهل علم ویلي: پیل ئې له دې دئ: له الله پرته بل معبود و إله نه شته؛ یوازینی دئ شریك ئې نه شته؛ واکمني د ده ده او ستاینې ده ته مختص دي؛ خیر د ده واك او لاس کي دئ؛ او دی په هر څه توانمن دئ؛ له الله پرته بل معبود او إله نه شته؛ او د ده ښکلي او نېك نومونه دي. سنن ابن ماجه، سنن الکبری للبیهقي، سنن الترمذي

لکه چي گورئ په ټولو دغو ٩٩ نومونو کي د الله تعالی صفتونه بیان شوي؛ هیڅ یوه ئې د الله تعالی د ذات څرنگوالی نه دئ څېړلی؛ په هیڅ یوه کي ئې الله تعالی ته د غړو او اعضاءو انتساب نه مومو؛ هیله ده دې روایاتو ته ښه ځیر شئ؛ او وگورئ چي آیا په کوم یوه کي صراحتاً یا اشارتاً؛ د عین (سترگه)، أذن (غوږ)، ید (لاس)، رِجل (پښه)، ساق (پونډۍ)، قدم

(پښه او پل)، اصابع (ګوتې)، وجه (مخ)، رداء (څادر)، إزار (لونګ)، نعلين (کپې)؛ يادونه مومئ؟ که اهل ظاهر ئې ومې مومي مور ته دې راوښيي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ د الله تعالی ټول اسماء او صفات په دغو ۹۹ کې خلاصه کړي؛ او په دې کې يو صفت هم هغه نه دئ چې اهل ظاهر ئې الله تعالی ته منسوبوي!! دوی هغه څه ورته منسوبوي چې نه په قرآن کې راغلي؛ نه په خير القرون کې چا الله تعالی ته منسوب کړي؛ عجيبه ده؛ دوی څنګه جسارت کوي او الله تعالی ته اعضاء او جوارح او جامه او نعلين منسوبوي؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي: د الله د ذات په اړه له فکر کولو هم ډډه وکړئ؛ په ټول قرآن کې يو مورد هم نه مومو چې د الله تعالی د ذات څرنګوالي په اړه څه په کې ويل شوي وي. دا بل روايت هم وګورئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا، مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، إِنَّهُ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ، هُوَ اللَّهُ الَّذِى لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، الرَّحْمَنُ، الرَّحِيمُ، الْمَلِكُ، الْقُدُّوسُ، السَّلَامُ، الْمُؤْمِنُ، الْمُهَيْمِنُ، الْعَزِيزُ، الْجَبَّارُ، الْمُتَكَبِّرُ، الْخَالِقُ، الْبَارِئُ، الْمُصَوِّرُ، الْغَفَّارُ، الْقَهَّارُ، الْوَهَّابُ، الرَّزَّاقُ، الْفَتَّاحُ، الْعَلِيمُ، الْقَابِضُ، الْبَاسِطُ، الْخَافِضُ، الرَّافِعُ، الْمُعِزُّ، الْمُذِلُّ، السَّمِيعُ، الْبَصِيرُ، الْحَكَمُ، الْعَدْلُ، اللَّطِيفُ، الْخَبِيرُ، الْحَلِيمُ، الْعَظِيمُ، الْغَفُورُ، الشَّكُورُ، الْعَلِيُّ، الْكَبِيرُ، الْحَفِيظُ، الْمُقِيتُ، الْحَسِيبُ، الْجَلِيلُ، الْكَرِيمُ، الرَّقِيبُ، الْمُجِيبُ، الْوَاسِعُ، الْحَكِيمُ، الْوَدُودُ، الْمَجِيدُ، الْبَاعِثُ، الشَّهِيدُ، الْحَقُّ، الْوَكِيلُ، الْقَوِيُّ، الْمَتِينُ، الْوَلِيُّ، الْحَمِيدُ، الْمُحْصِى، الْمُبْدِئُ، الْمُعِيدُ، الْمُحْيِي، الْمُمِيتُ، الْحَيُّ، الْقَيُّومُ، الْوَاجِدُ، الْمَاجِدُ، الْوَاحِدُ، الصَّمَدُ، الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ، الْمُقَدِّمُ، الْمُؤَخِّرُ، الْأَوَّلُ، الْآخِرُ، الظَّاهِرُ، الْبَاطِنُ، الْوَالِي، الْمُتعَالِ، الْبَرُّ، التَّوَّابُ، الْمُنْتَقِمُ، الْعَفُوُّ، الرَّءُوفُ، مَالِكُ الْمُلْكِ، ذُو

الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، الْمُقْسِطُ، الْجَامِعُ، الْغَنِيُّ، الْمُغْنِي، الْمَانِعُ، الضَّارُّ، النَّافِعُ، النُّورُ، الْهَادِي، الْبَدِيعُ، الْبَاقِي، الْوَارِثُ، الرَّشِيدُ، الصَّبُورُ. الاعتقاد للبيهقی

په دې نومونو او صفاتو کې تاسو داسي صفت نه مومئ چې د الله تعالی د ذات څرنګوالي په اړه وي؛ د يوه شي ذات يعني: جسم، جسد، اجزاء، اعضاء، لاسونه، پښې، سترګي، غوږونه، وزن، حجم، شكل، تركيب، كوزېدا؛ لوړېدا؛ له يوه ځای بل ته تګ؛ دا ټول د مخلوق صفات دي؛ قرآن موږ ته وايي: الله تعالی د مخلوق له صفاتو منزه دئ؛ پام چې الله تعالی له هيڅ مخلوق سره په هيڅ څه کې تشبيه نه کړئ.

که قرآن او دې رواياتو ته ځير شئ؛ د الله تعالی دا صفات هم مومئ: ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ؛ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ...؛ خو ولې ذو اليد، ذو الايدي، ذو الابصار، ذو الرجل، ذو العين، ذو الأذن او... نه دي راغلي؟! هغه چې الله تعالی ته مخ، اعضاء، غړي، سترګي، لاسونه، پښې، ساق (پونډۍ)، رداء، إزار، نعلين؛... ثابتولو هڅه کوي او همدا ئې د مذهب او مسلك مهم او اساسي بنسټ دئ؛ د بل د ايمان په اړه هم د دې له مخي قضاوت کوي؛ يوازي هغه مؤمن ګڼي چې همدغه له دوی سره ومني!!! دوی ته وايو: ولې په قرآن او دغو او نورو رواياتو کې؛ د خپلي واهي ادعاء او باطل مذهب د اثبات لپاره هيڅ نښه او اشاره هم نه مومئ؛ ولې او د کوم مجبوريت په سبب؛ د داسي رأيي د اثبات؛ ناكامه هڅه او لټه کوئ چې نه په ټول قرآن کې کوم مستمسك ورته مومئ او نه په حديث کې؟! تمسك او استناد مو؛ يا پر متشابه آيتونو دئ او يا پر استعارو؛ د قرآن د هغو لارښوونو خلاف تمسك؛ چې د متشابه آيتونو او استعارو په اړه ئې لري؛ د متشابه آيتونو د تأويل هڅه ناجائز ګڼي او دا د فتنه ګرو كار بولي؛ او استعارې ئې داسي چې هيڅوك حق نه لري؛ الفاظ ئې په ظاهري معنی ونيسي. لکه (بين يديه) يوه استعاره ده؛ معنی ئې (په واك کې) يا (ترې وړاندې) ده؛ په دې آيت کې د قرآن په اړه ويل شوي:

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ۝٣ آل عمران

پر تا ئې دا کتاب (قرآن) نازل کړ؛ د هغو تصدیقوونکی چي ترې وړاندي وو؛ او تورات او انجیل ئې لیږلي.

دلته د قرآن په اړه ویل شوي (مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ)؛ که دا د اهل ظاهر د اسلوب له مخي تعبیر او وژباړو؛ نو داسي به وي: تصدیقوونکی د هغه څه چي د قرآن دواړو لاسونو منځ کي دي!! یعني قرآن دوه لاسونه لري؛ تورات، انجیل او نور کتابونه ئې په خپلو دواړو لاسونو کي نیولي او تصدیقوي ئې!!! هر د عقل خاوند په داسي ناسم او غلط تعبیر او ژباړې؛ هم خاندي او هم ژاړي؛ او د ژباړونکي او تعبیروونکي په بدفهمي؛ تعجب او تأسف کوي؛ نو داسي مسخره تعبیر به د الله تعالی په اړه څنگه د ویلو او منلو وړ وي؟! دوی د الله تعالی په اړه دا استعاره (بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ)؛ داسي تعبیروي چي الله تعالی دوه لاسونه لري)؛ په داسي حال کي چي له (يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ) مراد په پراخ لاس انفاق دئ؛ د همدې فقرې وروسته او متصل ئې فرمايي (يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ: څنگه چي غواړي انفاق کوي)؛ راغلي؛ دلته د بحث موضوع بخل او سخاوت دئ؛ یهودان الله تعالی ته په دې صیغه بخل منسوبوي (يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ: د الله لاس تړلی دئ)؛ الله تعالی په دې صیغه ځواب ورکوي: (بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ)؛ د یهودانو وینا د بخل په اړه یوه استعاره ده او د قرآن وینا د انفاق په اړه استعاره؛ نه د یهودانو د استعارې معنی دا ده چي الله تعالی یو لاس لري او هغه هم په پړي یا زنځیر تړل شوی؛ او نه د قرآن استعاره په دې معنی ده چي الله تعالی داسي دوه پرانستي لاسونه لري چي تل پرانستي وي!! په قرآني استعارو کي د الله تعالی په اړه (ید)؛ په مفرد، تثنیه او جمع صیغو؛ یو لاس، دوه لاسونه او ډیر لاسونه؛ راغلي؛ په هیڅ مورد کي ئې مراد یو لاس، دوه لاسونه او ډیر

لاسونه نه دي؛ الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ چي غوړي ولري؛ قرآن موږ ته په مکرره توګه ويلي چي الله تعالی په ټول عالم کي له هيڅ مخلوق سره په هيڅ ذاتي صفت کي ورته نه دئ او هيڅ مخلوق له ده سره ورته نه دئ؛ له هيڅ څه سره ئې مه تشبيه کوئ. په ټولو استعارو کي لاس د داسي څه په اړه نه دئ کارول شوی چي تمليك ئې د لاس په نامه غوړی ايجابوي؛ لکه بيده الملك؛ ملك (پاچايي) کوم جسم او جسد نه دئ چي څوك ئې د توپ په څېر په خپل لاس کي ونيسي؛ مراد ئې فقط دا دئ چي الله تعالی د عالم مالك دئ او واك ئې له ده سره دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## فهرست

عنوان صفحه


مقدمه ---------------------------------------------------------------١

آيا رسول الله عليه السلام د حديث د ليکلو اجازه ورکړې وه؟ --------٢٤

٣٣ کتاب: البيوع (پېر پلور) ----------------------------------- ٤٦

١ باب: د الله تعالی دا قول: ((فاذا قُضيت الصلاة. . . )) --------------٤٦

٢ باب: حلال او حرام ښکاره دي او تر منځ ئې شکي شيان دي-------٤٩

٣ باب: د مشبهاتو بيان ------------------------------------------------٥١

٤ باب: څوک چي وسوسې مشبهات نه بولي -------------------------٥٣

٥ باب: څوک چي د دې پروا نه کوي؛ شتمني له کومه مومي---------٥٤

٦ باب: په وچه کي سوداګري -----------------------------------------٥٥

٧ باب: د تجارت لپاره سفر ---------------------------------------------٥٥

٨ باب: د روزي د پراخي هيله -------------------------------------------٦٧

٩ باب: د رسول الله صلی الله عليه و سلم له خوا په قرض پېرل ------٧٦

١٠ باب: د لاس ګټه او کار کول ---------------------------------------٧٧

١١ باب: په پېر پلور کي آساني -----------------------------------------٨٢

١٢ باب: د وس خاوند ته مهلت ----------------------------------------٨٢

١٣ باب: د مال عيب دي ښکاروي ---------------------------------------٨٣

١٤- باب: د ګډو کجورو بيع -------------------------------------------٨٥

١٥ باب: سود ورکوونکی ---------------------------------------------٨٦

١٦ باب: قسم برکت له منځه وړي -------------------------------------٩٢

١٧ باب: د آهنګرۍ کسب ---------------------------------------------٩٣

١٨ باب: د خياطۍ کسب ---------------------------------------------٩٦

۱۹ باب: د څارویو اخستل ---------------------------------------۹۸
۲۰ باب: د رنځور اوښ اخستل ----------------------------------------- ۱۰۰
۲۱ باب: د ویني ایستونکي یادونه ------------------------------ ۱۱۸
۲۲ باب: د هغو شیانو تجارت چي اغوستل ئې د نارینه او ښځو لپاره نارو وي ---------------------------- ------------------------------ ۱۱۹
۲۳ باب: اخستل شوی څیز بل ته هدیه کول ----------------------- ۱۲۱
۲۴ باب: هغه څه چي په پېر پلور کي کرکجن دي ----------------- ۱۲۲
۲۵ باب: د بازارونو په اړه ------------------------------------------ ۱۲۵
۲۶ باب: په بازار کي د غالمغال کراهیت -------------------------- ۱۳۰
۲۷ باب: د تللو (وزن کولو) مزدوري په خرڅونکي ده--------------- ۱۳۵
۲۸ باب: تلل مستحب دي ------------------------------------------ ۱۴۱
۲۹ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د (صاع) او (مد) برکت ۱۴۱
۳۰ باب: د غلې دانې د پلورلو او احتکار یادونه --------------------- ۱۴۲
۳۱ باب: د مسلمان په بیع داو لګول جواز نه لري ------------------ ۱۴۶
۳۲ باب: د مزایده بیع --------------------------------------------- ۱۴۸
۳۳ باب: د غرر او حَبَلِ الحَبَلَة بیع (د جنس نه شتون کي او د حیوان نه زېږېدلي بچي بیع) --------------------------------------------- ۱۵۰
۳۴ باب: د خرڅلاو په خاطر د څاروي په غولانځه کي شیدې جمع کول جواز نه لري ------------------------------------------------ ۱۵۱
۳۵ باب: د زنا کار غلام خرڅول ---------------------------------- ۱۵۲
۳۶ باب: آیا ښاري د کلیوال مال پلورلی شي؟---------------------- ۱۵۳
۳۷ باب: د تجارتي کاروانونو مخي ته نه ورتګ ---------------------- ۱۵۳
۳۸ باب: ممیز په ممیز او خواړه په خوړو پلورل ------------------- ۱۵۴
۳۹ باب: وربشي په وربشو پلورل ---------------------------------- ۱۵۴
۴۰ باب: سره زر په سرو زرو پلورل -------------------------------- ۱۵۵

٤١ باب: سپین زر په سپینو زرو پلورل ---------------------------- ١٥٦
٤٢ باب: دینار په دینار په قرض خرڅول ------------------------- ١٥٦
٤٣ باب: سپین زر په سرو زرو په قرض پلورل --------------------- ١٥٧
٤٤ باب: د مزابنه بیع --------------------------------------- ١٥٨
٤٥ باب: مېوه په ونو کي په سرو او سپینو زرو خرڅول ------------ ١٥٩
٤٦ باب: مېوه تر پخېدو مخکي پلورل ---------------------------- ١٥٩
٤٧ باب: که مېوه له رسېدو مخکي وپلورل شوه ------------------- ١٦١
٤٨ باب: که څوک وغواړي خرما په غوره خرما وپلوري ------------ ١٦١
٤٩ باب: د خامي مېوې خرڅول -------------------------------- ١٦٣
٥٠ باب: په پېر او پلور کي د خلکو عادات ---------------------- ١٦٣
٥١ باب: له شریک سره سودا ---------------------------------- ١٦٤
٥٢ باب: له حربي کافر د غلام پېرل ----------------------------- ١٦٥
د وحي په اړه وضاحت ------------------------------------- ١٧٥
٥٣ باب: د خنزیر وژل --------------------------------------- ٢١٠
٥٤ باب: د هغو شیانو د تصویرونو خرڅول چي روح نه لري ------- ٢١٥
٥٥ باب: د آزاد انسان خرڅولو گناه ---------------------------- ٢١٦
٥٦ باب: د مردار شوي څارویو او بتانو خرڅول ------------------- ٢١٧
٥٧ باب: د سپي بیه ----------------------------------------- ٢١٨
**٣٤ کتاب: سَلَم ------------------------------------------- ٢١٩**
١ باب: د ټاکلي پیمانې سلم ---------------------------------- ٢١٩
٢ باب: له هغه چا سره سلم چي اصل مال نه وي ورسره ----------- ٢٢٠
**٣٥کتاب: شُفْعَه ------------------------------------------ ٢٢١**
١ باب: له بیعي مخکي د شفعې حق ---------------------------- ٢٢١
٢ باب: کوم گاونډی ډېر نژدې بلل کېږي؟ ----------------------- ٢٢٢

٣٥كتاب: اجاره ---------------------------------------------------------- ٢٢٢
١ باب: د صالح سړي مزدوروول ---------------------------------------------- ٢٢٢
٢ باب: د رمې پيوول ------------------------------------------------- ٢٢٤
٣ باب: له مازديګره تر شپې مزدوري -------------------------------------- ٢٢٤
٤ باب: كه مزدور خپله اجوره وانخلي -------------------------------------- ٢٢٦
٥ باب: هغه څه چي د دم، دعاء په بدل كي وركول كېږي ---------- ٢٢٩
٦ باب: د مينده ښاروي د پرېښودو اجوره -------------------------------- ٢٣٣
٣٧كتاب: حواله ----------------------------------------------------------- ٢٣٥
١ باب: كه قرض شتمن ته حواله شي؛ بايد رد ئې نه كړي------------ ٢٣٥
٢ باب: د مړي قرض كه ژوندي ته حواله شي ------------------------------ ٢٣٦
٣ باب: د الله تعالى دا قول: (وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ) النساء ٣٣ ---- ٢٣٨
٤ باب: څوك كه د مړي د قرض ذمه واخلي -------------------------------- ٢٣٩
٣٨كتاب: وكالت ----------------------------------------------------------- ٢٤١
١ باب: د شريک وكالت ---------------------------------------------------- ٢٤١
٢ باب: كه شپون يا وكيل پوه شي چي كوم پسه مري -------------- ٢٤٤
٣ باب: وكيل يا استازي ته هِبَه جواز لري ------------------------------ ٢٤٥
٤ باب: موكل د وكيل د خبري منظوري وركولى شي ------------------ ٢٤٧
٥ باب: د وكيل فاسده بيع مردوده ده ------------------------------ ٢٥٤
٦ باب: په حدودو كي وكالت ------------------------------------------ ٢٥٥
٣٩كتاب: مزارعت --------------------------------------------------------- ٢٥٦
١ باب: د كښت او ونو ايښودلو فضيلت ---------------------------------- ٢٥٦
٢ باب: په زراعتي وسائلو له حده زيات مشغولتيا ---------------- ٢٥٧
٣ باب: د كښت او زراعت د ساتلو لپاره د سپي ساتل--------------- ٢٦٠
٤ باب: په كركيله كي د غويي استعمال ---------------------------- ٢٦٢

۵ باب: د کار په بدله کي د مېوې برخه -------------------------- ۲۶۷
٦ باب: په نیمايي حاصل یا یوې برخي مزارعه -------------------- ۲۶۹
۷ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم اصحابو اوقاف ---------- ۲۷۰
۸ باب: څوک چي شاړه زمکه آباده کړي -------------------------- ۲۷۱
۹ باب: په کرکیله کي د اصحابو خپل منځي مرسته ----------------- ۲۷٤
۱۰ باب: ------------------------------------------------------- ۲۷٦

٤۰ کتاب: مساقات یا خړوبول --------------------------- ۲۷۹

او د الله دا قول: ------------------------------------------- ۲۷۹
۱ باب: خړوبول او د اوبو وېش ---------------------------------- ۲۷۹
۲ باب: لومړی حق د اوبو د مالک دئ ---------------------------- ۲۸۱
۳ باب: د څاه په سر دعوی او په اړه ئې فیصله --------------------- ۲۸۲
٤ باب: له اوبو د مسافر منع کولو ګناه ---------------------------- ۲۸٤
۵ باب: د اوبو ورکولو فضیلت ------------------------------------ ۲۸۸
٦ باب: د اوبو مالک پخپلو اوبو کي لومړی حقدار دئ ------------- ۲۸۹
۷ باب: هیڅ حِمَی (ایسار شوی ځای) نه شته مګر الله او د هغه رسول ته. ------------------------------------------------------------ ۳۰۱
۸ باب: د ویالو اوبه څښل؛ د خلکو او حیواناتو له لوري ---------- ۳۰۲
۹ باب: د لرګیو، خسو او وښو خرڅول ------------------------------ ۳۰۵
۱۰ باب: نورو ته د زمکو ورکول ---------------------------------- ۳۰۸
۱۱ باب: د چا لار او ویاله چي د بل په باغ کي وي ----------------- ۳۰۹

٤۱ کتاب: قرض (پور) ------------------------------------------ ۳۱۰

۱ باب: قرض اخستل د بېرته اداء کولو او یا تلف کولو په نیت ----- ۳۱۰
۲ باب: د قرض اداء کول ----------------------------------------- ۳۱۰
۳ باب: په غوره طریقې سره د قرض اداء کول -------------------- ۳۱۳

٤ باب: د پوروړي جنازه ---------------------------------------- ٣١٣
٥ باب: د مال ضايع کول منع دي ------------------------------- ٣١٥
## ٤٢ کتاب: خصومات (شخړي او منازعات) -------------------- ٣١٧
١ باب: د مسلمان او يهودي دعوی ------------------------------ ٣١٧
٢ باب: د مدعيانو يو د بل خلاف خبري -------------------------- ٣٢٣
## ٤٣ کتاب: لُقْطَه (موندل شوی شی) ------------------------- ٣٢٤
١ باب: که د موندل شوی شي خاوند؛ نښه ووايي بايد ورکړی شي -- ٣٢٤
٢ باب: په لار کي د خرما موندل ------------------------------ ٣٢٥
## ٤٤ کتاب: مظالم او غصب ------------------------------------ ٣٢٦
١ باب: د مظالمو سزا ------------------------------------------ ٣٢٧
٢ باب: د الله تعالی دا قول (أَلا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ) ------------ ٣٢٨
٣ باب: مسلمان پر مسلمان ظلم نه کوي ------------------------ ٣٢٩
٤ باب: له خپل ورور سره مرسته کوه؛ که ظالم وي که مظلوم ------ ٣٣٠
٥ باب: ظلم به د قيامت په ورځ د تيارو سبب کيږي -------------- ٣٣١
٦ باب: که مظلوم، ظالم وبخښي ------------------------------- ٣٣٢
٧ باب: د هغه چا گناه چي څه زمکي په اړه ظلم وکړي ------------ ٣٣٣
٨ باب: که يو انسان بل ته د څه اجازه ورکړي؛ نو جائز کيږي ------ ٣٣٤
٩ باب: د الله تعالی دا قول: (وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ) البقرة ٢٠٤ --------- ٣٣٥
١٠ باب: د هغه چا گناه چي په پوهي سره باطله دعوی کوي ------ ٣٣٦
١١ باب: له ظالم د مظلوم بدله؛ کله چي د هغه مال ومومي------- ٣٣٧
١٢ باب: د گاونډي په ديوال کي ميخ ټکوهل --------------------- ٣٣٨
١٣ باب: د کورونو په صحن کي او د لارو خوا ته ناسته------------ ٣٣٩
١٤ باب: که ئې د عمومي لارو په اړه اختلاف وکړ ----------------- ٣٤٠
١٥ باب: له چور او مُثلې نهي ------------------------------------ ٣٤١

١٦ باب: څوك چي له خپل مال د دفاع لپاره جنگېږي ------------- ٣٤٢
١٧ باب: څوک چي د بل چا کاسه یا بل څه مات کړي ------------ ٣٤٢
٤٥ کتاب: شراکت ------------------------------------------- ٣٤٥
١ باب: په خوړو او نورو شیانو کي شراکت ----------------------- ٣٤٥
٢ باب: د پسونو وېشل -------------------------------------- ٣٤٧
٣ باب: د شریک مال مناسبه بیه ------------------------------- ٣٥١
٤ باب: آیا په وېش او د سهم ټاکلو کي پچه اچول کېدی شي؟------ ٣٥٢
٥ باب: په خوړو او نورو شیانو کي شراکت ----------------------- ٣٥٣
٤٦ کتاب: رهن (گروي) ------------------------------------- ٣٥٥
١ باب: د گرو شوي څاروي له سپرلۍ او شیدو استفاده ------------ ٣٦٥
٢ باب: د گروي اخستونکي او گروي ورکوونکي اختلاف ------------ ٣٦٧
٤٧ کتاب: د غلامانو آزادول --------------------------------- ٣٦٨
١-باب: د غلام آزادول او فضیلت ئې ---------------------------- ٣٦٨
٢ باب: د کوم ډول غلام آزادول غوره دي؟ ------------------------ ٣٦٩
٣ باب: د شریک غلام آزادول ---------------------------------- ٣٧٠
٤ باب: په هېره طلاق او د غلام آزادول ---------------------------- ٣٧١
٥ باب: د غلام آزادولو لپاره د شاهد نیول ------------------------ ٣٧٢
٦ باب: د مشرک غلام آزادول ---------------------------------- ٣٧٣
٧ باب: که څوک د عربي غلام مالک شي -------------------------- ٣٧٤
٨ باب: د مريي په اړه د تکبر کراهیت ---------------------------- ٣٨٧
٩ باب: چاته چي خپل غلام خواړه راوړي --------------------------- ٣٨٩
١٠ باب: که ئې غلام وهلو نو پر مخ دې نه وهي -------------------- ٣٨٩
١١ باب: د مکاتَب روا شروط ----------------------------------- ٣٩١
او څوك چي داسي شرط وضع کړي چي د الله په کتاب کي نه وي -- ٣٩١

٤٨ كتاب: سوغات او فضيلت ئې ------------------------------٣٩٣
١باب: د سوغات فضيلت ------------------------------------------ ٣٩٣
٢ باب: د ښكاري هديه د قبول وړ ده ------------------------------ ٣٩٦
٣ باب: د سوغات قبلول ------------------------------------------- ٣٩٧
٤ باب: څوك چي خپل ملگري ته هديه وركړي --------------------- ٤٠٠
او دې ته انتظار كوي چي د خاصي مېرمني په كور كي ئې وركړي -- ٤٠٠
٥ باب: كوم ډول هديه نه مستردېږي؟ ----------------------------- ٤١٧
٦ باب: د سوغات بدله ---------------------------------------------- ٤١٨
٧ باب: د هديې شاهد ---------------------------------------------- ٤١٩
٨ باب: مېرمني ته د خاوند او خاوند ته د مېرمني سوغات--------- ٤٢١
٩ باب: كه ښځه غلام آزاد كړي ------------------------------------ ٤٢٢
١٠ باب: غلام او متاع څنگه تر لاسه كېدی شي ------------------- ٤٢٤
١١ باب: داسي سوغات چي اغوستل ئې مكروه وي ----------------- ٤٢٥
١٢ باب: د مشركينو سوغات قبلول --------------------------------- ٤٢٨
١٣ باب: مشرک ته سوغات وركول --------------------------------- ٤٣٠
١٤ باب --------------------------------------------------------------- ٤٤٣
١٥ باب: عُمْرَىٰ او رُقْبَىٰ (په عمري توگه څه وركول يا تر مرگ پوري) ٤٤٤
١٦ باب: د ناوې لپاره جامې په عاريت اخستل --------------------- ٤٤٥
١٧ باب: د مُنِيحَه فضيلت ------------------------------------------- ٤٤٦
٤٩ كتاب: شهادت (گواهي) ---------------------------------------٤٤٩
١ باب: ناروا او ظالمانه شاهدي جواز نه لري ---------------------- ٤٤٩
٢ باب: د دروغو شاهدي ------------------------------------------- ٤٥١
٣ باب: د ړانده شاهدي او نور تصرفات --------------------------- ٤٥٢
٤ باب: ښځي او يوه د بلي تزكيه --------------------------------- ٤٥٣

۵ باب: د یوه تن لپاره د یوه سړي تزکیه کافي ده------------------- ٤٧٤
٦ باب: د ماشومانو بلوغ او شاهدي ئې ------------------------- ٤٧٥
٧ باب: په قسم کي یو له بله وړاندي کېدل --------------------- ٤٧٦
٨ باب: د قسم څرنګوالی ---------------------------------------- ٤٧٧
٩ باب: هغه دروغجن نه دئ چي د خلکو تر منځ سوله کوي ------ ٤٧٨
١٠ باب: د امام وینا خپلو یارانو ته چي موږ بوځئ سوله وکړو----- ٤٧٩
١١ باب: څنګه به لیکل کېږي؛ دا هغه څه دي چي فلاني د فلاني زوی پرې صلح کړې. ------------------------------------------------- ٤٧٩
١٢ باب: حسن رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا قول چي ((إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ)) ---------------------------------------- ٤٨٦
١٣ باب: آیا امام د صلحي لوري ته اشاره کولی شي؟--------------- ٤٨٧
**۵٠ کتاب: شروط** -----------------------------------------٤٨٩
(١)باب: د نکاح په عهد کي د مَهر شروط ---------------------- ٤٨٩
(٢)باب: هغه شروط چي په حدودو کي صحیح نه دي ----------- ٤٩٠
(٣)باب: په کرهنیزو چارو کي شرط ایښودل --------------------- ٤٩٣
داسي شرط چي کله وغواړم تا ترې ایستلی شم -------------------- ٤٩٣
(٤)باب: په جهاد او سوله کي شروط -------------------------- ٤٩٦
له حربي دښمن سره او د شروطو لیکل -------------------------- ٤٩٦
(۵)باب: جائز شرطونه او په اقرار کي جائز استثناءات ------------ ۵٢٢
**فهرست** -----------------------------------------------۵٢٩

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷